شپږم جلد

# د قرآن پلوشې

حکمتیار

## د کتاب پېژندنه:

نوم: د قرآن پلوشې شپږم جلد

لیکوال: حکمتیار

دوهمه طبع: ثور ۱٤۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قیمت: ۱٦۰ افغانۍ



**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**



د میثاق ایثار نشراتي اداره

پشاور ـ نصرت مینه

Tel: ۰۹۱ ۲۳۲۵۵۳٦

شپږم جلد

# د قرآن پلوشې

حکمتیار

د حزب اسلامي افغانستان امیر

# فهرست


| عنوان | صفحه |
|---|---|
| الصٰفٰت | ۱ |
| ص | ٤٤ |
| الزمر | ۸۵ |
| المؤمن | ۱۱۸ |
| فصلت | ۱۵۲ |
| الشوری | ۱۷۵ |
| الزخرف | ۲۲٤ |
| الدخان | ۲۵۵ |
| الجاثیه | ۲۷۳ |
| الأحقاف | ۲۸٦ |
| محمد | ۳۰٦ |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيْمِ

# الصٰفٰت

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الصٰفٰت) دئ، د سورې له لومړي آيت اخيستل شوی، ١٨٢آيتونه لري، د لومړيو څلورو آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت (صفاً) ته ورته دي، له پنځم آيت تر يولسم آيت پورې (مشارق) ته ورته دي، له دې وروسته د ټولو نورو آيتونو فواصل ئې د دولسم آيت (يسخرون)؛ او د پنځلسم آيت (مبين) ته ورته دي، آيتونه ئې لنډ لنډ او هغو سورتونو ته ورته دي چې د مکې دور په لومړيو کې نازل شوي.

د سورې له متن معلومېږي چې دا سوره د مکې دور په لومړيو کې او هغه مهال نازله شوې چې د مسلمانانو او قريشو تر منځ د جدي بحثونو لړۍ پيل شوې وه خو خبره د مسلمانانو ګواښلو او تعذيب ته نه وه رسېدلې او د مسلمانانو او قريشو د ناستي ولاړې لړۍ هم پای ته نه وه رسېدلې، د سورې په يوې برخې کې د هغه جنتي يادونه شوې چې له يوه دوزخي سره ئې په دنيا کې ناسته ولاړه درلوده، په جنت کې به دا لټه وکړي چې د هغه له برخليك او حال خبر شي، د دوزخ په تل کې به ئې ومومي او ورته وبه وايي: قسم په خدای چې نژدې وه ما په دوزخ کې وغورځوې؛ او که زما د رب فضل او پېرزوينه نه وی نو زه به هم په دوزخ کې له حاضر کړی شوو سره وم. له دې معلومېږي چې دا سوره په دغسې يوه ماحول کې نازله شوې.

که د سورې مضامينو ته ځير شو نو ډېر ژر به راته جوته شي چې ټول اساسي مطالب ئې د سورې په آخري اوو آيتونو کې راغلي؛ آيتونه دا دي:

أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٧٦﴾ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿١٧٧﴾ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿١٧٨﴾ وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿١٧٩﴾ سُبْحَـٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَـٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾

نو آيا زموږ د عذاب په اړه تلوار کوي، خو کله چې د دوی پر سيمې پرېوځي هغه مهال به د دغو ګواښل شوو سباوون ډېر بدغونی وي، نو تر يوه وخته مخ ترې واړوه؛ او وئې ګوره چې دوی به هم ډېر ژر وګوري، سپېڅلتيا ستا رب ته ده، د عزت خاوند رب، له هغه څه چې دوی ئې بيانوي؛ او پر پيغمبرانو دې سلام وي په داسې حال کې چې ستاينې ټولې د

عالمونو رب ته دي.

تاسو به وګورئ چې دا وروستي اُوه آيتونه داسي دي چې د سورې د ټولو اساسي مطالبو خلاصه زموږ په وړاندي ږدي، پر الله تعالی ايمان، پر آخرت باور او په دې اړه د پيغمبرانو عليهم السلام دعوت او د دې دعوت پايلي د سورې د بحث اساسي موضوعات دي چې خلاصه ئې په همدغو آخري اوو آيتونو کې راغلي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا ﴿١﴾ فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجۡرٗا ﴿٢﴾ فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ﴿٣﴾ إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ﴿٤﴾ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَرَبُّ ٱلۡمَشَٰرِقِ ﴿٥﴾

په يوه صف کې ليکه کېدونکو قسم، بيا په ځانګړي ژغلو سره رټونکو قسم، بيا د ذکر لپاره په پر له پسې راتلونکو قسم، بې شکه چې ستاسو رب يو دئ، هماغه د آسمانونو، زمکي او د هرهغه څه رب چې د دوی دواړو تر منځ دي او د ټولو ختيځونو رب.

(١-٥)- د دې مبارکو آيتونو په معنی د ښه پوهېدو لپاره بايد دا مطالب په پام کې ولرو:

- دلته د (مقسم به: هغه څه چې لوړه پرې شوې) درې صفات ذکر شوي: الصافات: صف تړونکي، الزاجرات: رټونکي او التاليات: پر له پسې راتلونکي. د دې الفاظو اطلاق په ډېرو شيانو کېدی شي، خو په دې پوهېدل چې دلته د هر يوه دقيقه معنی څه ده او د څه لپاره کارول شوی، دا بايد د لغت په کتابونو کې نه بلکي په خپله په قرآن کې، په دغو آيتونو او په همدې سوره کې ولټوو.
- د دوو وروستنيو آيتونو په سر کې د (فاء) توري دا مطلب په ګوته کوي چې دا دواړه له مخکيني سره تړلي دي او په ټولو کې د يوه شي په اړه خبره روانه ده، يعني الصافات، الزاجرات او التاليات د يوه شي درې حالتونه او صفات دي.
- دا شيان بايد د قرآن د نورو قسمونو په څېر هر مخاطب ته څرګند شيان وي او دا ادعاء ثابته کړي چې ستاسو رب يو دئ، د آسمانونو، زمکي او پدوی کې د هرڅه رب دئ.
- د قرآن په څو آيتونو کې ستوري د رټونکو په نامه ياد شوي.
- په قرآن کې د سپوږمۍ په اړه ويل شوي چې داورپسې راتلونکې ده، په شپه کې د لمر له پرېوتو وروسته راڅرګنده شي، ستوري هم د سپوږمۍ په څېر په شپه کې ورو ورو او يو په بل پسي راڅرګندېږي.
- د ستورو په ليدو سره انسان د دې عالم په عظمت او ستروالي پوهېږي، د ورځې لخوا

انسان یوازې خپله زمکه او په آسمان کې لمر ګوري، خو چې شپه شي او ستوري راڅرګند شي نو هلته په دې پوه شي چې دا عالم څومره ستر او خور دئ، همدا ستوري ده ته خپل رب ورپه یاد کړي، په حقیقت کې ستوري د الله تعالی د یادولو سبب کېږي. د المرسلات په سوره کې بادونه د (الملقیات ذکراً) په صیغه سره د الله تعالی د ذکر القاء کوونکي ګڼل شوي او دلته ستوري د الله تعالی د ذکر موجب.

- که په دې عالم کې سترګې وغړوو او دا ولټوو چې په یوه لیکه کې لیکه کېدونکي، رڼونکي او پر له پسې راتلونکي به څه وي، نو ستوري مو مخې ته ودرېږي، له ستورو پرته داسې شی نه شو موندلی چې د دغو صفاتو مصداق وي، د شپې لخوا په آسمان کې یوه لویه لیکه ګورو چې د ستورو او ستور لیکو (کهکشانونو) مجموعه ده او د آسمان ټول ستوري په حقیقت کې د همدې لویې لیکې اجزاء دي، زمونږ زمکه، لمر او شمسي نظام هم د دغې لیکې اجزاء دي. همدا راز د آسمان په یوه او بله ګوښه کې د شهاب ثاقب په واسطه د رڼلو صحنې ګورو؛ او دا هم ګورو چې ستوري ورو ورو رابرسېره کېږي، ځیني د تیارې له زیاتېدو سره سم راڅرګندېږي او ځیني نور د شپې په سر کې نه وي وروسته راپورته شي.
- له قسمونو او ځواب وروسته دوه آیتونه داسې راغلي چې په ډېر وضاحت سره ښیي چې په لومړنیو آیتونو کې ستورو ته اشاره شوې: آیتونه دا دي:

إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِزِينَةٍ ٱلْكَوَاكِبِ ۝٦ وَحِفْظًا مِّن كُلِّ شَيْطَٰنٍ مَّارِدٍ ۝٧

دا مونږ یو چې د دنیا آسمان مو په ستورو ښایسته کړی او له هر متمرد شیطان د ساتنې په توګه (مو ګمارلي).

په آیت کې د رب المشارق فقره هم ښیي چې دلته د ټولو ستورو مشارقو ته اشاره شوې، ټول له شرق طلوع کوي او په غرب کې پرېوځي.

له دغو ټولو خبرو په ډاګه معلومېږي چې په لومړیو دریو آیتونو کې د ستورو دریو صفاتو ته اشاره شوې.

دغه د آسمان بې شمېره ستوري چې په یوې عظیمې لیکې کې تنظیم شوي، هر یو ئې په خپل مدار او فلك کې په منظم طور خوځي، طلوع او غروب ئې منظم، نه یوه شېبه وروسته مخکې کېږي او نه یو له بل سره تصادم کوي، دا شهادت ورکوي چې د زمکې او آسمانونو رب یو دئ. دا استدلال قرآن په بل ځای کې هم کوي او وایي: که په زمکه او آسمان کې له یوه الله پرته متعدد خدایان وی نو حتماً دواړه تباه کېدل او دا موجود نظم متلاشي کېدو او تباهي خورېده. نظم، یووالی، له تصادم او ټکر مخنیوی، هرڅه په خپل خپل ځای کې ساتل او خپل خپل کار ترې اخیستل دا ثابتوي چې دا هرڅه د واحد ځواکمن ذات په اداره کې دي.

د ستورو په اړه د قرآن دا بیان نه یوازې د عالم یو دقیق انځور زمونږ په وړاندې ږدي بلکې د قرآن یو ستر علمي اعجاز څرګندوي، ستور پېژاندي له ډېرو دقیقو او علمي څېړنو

وروسته او د قوي ټلسکوپونو په مرسته دې نتيجې ته ورسېدل چې د عالم ټول ستوري او ستور ليکې په يوې ستري ليکې کې د يوه صف په څېر واقع شوي، دا د ستورو همغه صف او ليکه ده چې د شپې له لوري تته او د دوړو يوې ليکې ته ورته تر سترګو کېږي، دا دوړې په حقيقت کې ستوري او ستور ليکې دي چې د لرې والي له کبله د سپينو دوړو په توګه معلومېږي. د عالم ټول اجرام او ستوري په همدې ليکې کې راغونډ شوي، موږ ته چې له ليکې بهر کوم ستوري ښکاري دا زموږ د ستور ليکې اړوند ستوري دي چې تر نورو موږ ته رانژدې دي او له همدې کبله موږ ته له هغې لويې ليکې بهر برېښي، په حقيقت کې دا هم د همدې ليکې اړوند ستوري دي. آيا دا د قرآن يو ستر علمي اعجاز نه دئ چې ټول ستوري په يوه صف کې په ليکه شوي ګڼي؟!! همغسې لکه چې د دې سورې په لومړي آيت کې راغلي: وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا په يوه صف کې ليکه کېدونکو قسم!!!

بايد متوجه وو چې په تفسيرونو کې د دغو قسمونو په اړه د ډېرو مختلفو آراوو شاهد يو، دومره چې که ئې ټول وڅېړو نو د لوستونکو حوصله به ورته تنګه شي، ډېرې آراء داسې دي چې يا په يادولو نه ارزي يا د هغه په تأييد کې نه له قرآن کوم شاهد وړاندې شوی او نه له صحيح الاسنادو رواياتو، که څه هم اختلاف په خپله پدې دلالت کوي چې پدې اړه موثق روايت نشته، خو په ځينو تفسيرونو کې پداسې رواياتو استناد ګورو چې نورو هغه ضعيف ګڼلي. د اختلاف يوه وجه دا ده چې ځينو (التاليات) د تلاوت کوونکو په معنی تعبير کړې، حال دا چې دلته د (پر له پسې راتلونکو) معنی افاده کوي، لکه څنګه چې د الشمس د سورې په دوهم آيت کې وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا: قسم په دې سپوږمۍ چې ورپسې شي، د (تلا) لفظ تر شا راتګ افاده کوي. ځينو (الصافات، الزاجرات او التاليات) د فرشتو بېل بېل ټولګي ګڼلي!! دا تعبير له يوې خوا د قسمونو په اړه د قرآن له عام اسلوب سره تعارض لري، ځکه قرآن تل په مشهود او ځرګندو شيانو استشهاد کوي او د خپلې مدعی د اثبات لپاره ئې د شاهد په توګه وړاندې کوي، ملائکې د استشهاد لپاره نشي وړاندې کېدی، آيا څوك کولی شي يو غائب شی د بل غائب شي او د خپلې داسې مدعی د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندې کړي چې مخاطب ئې نه مني او دليل ترې غواړي؟!! له بلې خوا قرآن وايي چې فرشتې ښځينه او نارينه نه لري، د دوی لپاره معمولاً د تذکير صيغې کاروي، لکه دا آيت:

وَتَرَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنۡ حَوۡلِ ٱلۡعَرۡشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡۚ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّۚ وَقِيلَ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧٥ الزمر

په دې آيت کې د ملائکو لپاره د (حافات) پر ځای د (حافين) صيغه راغلې چې د جمع مذکر صيغه ده. حال دا چې الصافات، الزاجرات او التاليات د جمع مؤنث صيغې دي، په فرشتو ئې اطلاق نه شي کېدی، په عربي کې په (الف) او (تاء) سره يا حقيقي مؤنث جمع

کېږي او یا د غیرذوی العقول صفت، نو په یقین سره ویلی شو چې د الصافات د سورې قسمونه او دې ته ورته قسمونه په ملائکو نه شو حمل کولی.

که د دې قسمونو په اړه دا ټول مختلف آراء او تعبیرونه یو د بل څنګ ته کښېږدئ او قضاوت وکړئ نو دا به ډېر ژر او په آسانۍ درته جوته شي چې تر ټولو دقیق او په قرآن مستند تفسیر همدا پورتنی تفسیر دئ.

---

إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِزِينَةٍ ٱلۡكَوَاكِبِ ۝٦ وَحِفۡظٗا مِّن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ مَّارِدٖ ۝٧ لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰ وَيُقۡذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٖ ۝٨ دُحُورٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ وَاصِبٌ ۝٩ إِلَّا مَنۡ خَطِفَ ٱلۡخَطۡفَةَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ ثَاقِبٞ ۝١٠

یقیناً چې دا مونږ یو چې د دنیا آسمان مو په ستورو ښایسته کړی او له هر متمرد شیطان د ساتنې په توګه (مو ګمارلي). ملاء اعلی ته غوږ نشي نیولی؛ او له هر لوري ویشتل کېږي، د شړلو په موخه، په داسې حال کې چې دوی ته دائمي عذاب دئ، خو که کوم څه اختطاف کړي نو شهاب ثاقب (تېزه شعله) ورپسې شي.

---

(٦-١٠)- په دې مبارکو آیتونو کې دا لارښووني ځلېږي:

- زمکې ته نژدې آسمان په ستورو ښایسته کړی شوی، له دې وینا جوته کېږي چې ټول ستوري تر لاندني او زمکې ته نژدې آسمان لاندې دي.
- شیطانان نشي کولی لوړ پوړو فرشتو ته نژدې شي او د دوی خبرو ته غوږ ونیسي، ستوري د دوی د بر تللو مخنیوی کوي، که د بر تللو او غوږ نیولو هڅه وکړي نو له هر لوري ویشتل کېږي، په دې سره څو اساسي مطالبو ته اشاره شوې: د کاهنانو او نجومیانو دا ادعاء له بنسټه رد شوې چې وایي: د پېریانو له لاري د غیب خبري تر لاسه کوي، ګواکې هغوی د آسمان په لوري لوړ درومي، د فرشتو خپلمنځي خبري اوري، له راتلونکو پېښو خبرېږي؛ او خپلو ملګرو کاهنانو ته اطلاع ورکوي، نو څکه دوی توانېدی شي چې خلك په خپل برخلیك خبر کړي او ورته ووایي چې له کومو پېښو سره به مخامخ شي، که شکرانې او نذرانې ورکړي نو له خطر او ضرر به د خوندي پاته کېدو مرسته ورسره وکړي!! په دې وینا سره د دوی دغه غولوونکې ادعاءګانې او دروغجنې خبري رد شوې. دلته ویل شوي چې دا ستوري د هر متمرد شیطان رټونکي دي او د دوی د بر تللو مخنیوی کوي، نو څکه ملاء اعلی ته غوږ نشي نیولی؛ او که احیاناً کوم یو ئې بر ولاړ شي او کوم څه اختطاف کړي نو ځلانده سوزوونکې لمبه ورپسې شي.

دې ته مو باید پام وي چې نن ساینسپوهان او ستور پېژاندي د فضاء په اړه همدغه خبره کوي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې کړې او وایي: آسمان ته د بر تللو په وړاندې

تر ټولو ستر خنډ هغه شهاب ثاقب دي چې له هر لوري راپرېوځي، سرعت او حرارت ئې دومره زيات وي چې هر څه ايرې کوي، په طبيعت کې داسي ماده نشته چې د هغوی په وړاندي مقاومت وکولی شي.

فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ أَهُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَم مَّنۡ خَلَقۡنَآۚ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّن طِينٖ لَّازِبِۭ ﴿١١﴾ بَلۡ
عَجِبۡتَ وَيَسۡخَرُونَ ﴿١٢﴾ وَإِذَا ذُكِّرُواْ لَا يَذۡكُرُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا رَأَوۡاْ ءَايَةٗ
يَسۡتَسۡخِرُونَ ﴿١٤﴾ وَقَالُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا
وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ﴿١٦﴾ أَوَ ءَابَآؤُنَا ٱلۡأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾ قُلۡ نَعَمۡ وَأَنتُمۡ دَٰخِرُونَ ﴿١٨﴾
فَإِنَّمَا هِيَ زَجۡرَةٞ وَٰحِدَةٞ فَإِذَا هُمۡ يَنظُرُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا هَٰذَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ﴿٢٠﴾
هَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢١﴾

نو وئې پوښته چې آيا دوی د پيدايښت له پلوه مضبوط دي او که هغه څه چې موږ پيدا کړي، موږ خو دوی له سرښناکي ختې پيدا کړي. نه؛ بلکې ته حيرانتيا ښيې او دوی ټمسخر کوي؛ او کله چې پند ورکړی شي پند نه اخلي؛ او که کومه څرگنده نښه وگوري نو مسخرې پرې کوي؛ او وايي: دا خو له څرگند جادو پرته بل څه نه دئ، آيا کله چې ومرو او خاوري او هډوکي شو آيا بيا به هم موږ بېرته راپاڅول کېږو؟ او زموږ لومړني پلرونه هم؟! ووايه: هو؛ او په داسي حال کي چې تاسو به سرکوزي او ذليل وئ، يقيناً چې دا به يوازي يوه تونده چيغه وي چې بيا به دوی هغه مهال (هر څه) گوري؛ او وايي به: افسوس پر موږ! دا همغه د جزاء ورځ ده، دا همغه د پرېکړي ورځ ده چې تاسو تکذيبوله.

(١١-٢٠)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې مخالفين وپوښته: آيا دوی د پيدايښت له پلوه مضبوط دي او که هغه څه چې موږ پيدا کړي، موږ خو دوی له سرښناکي ختې پيدا کړي. يعني هغه وگړي چې له الله تعالى او له بياژوندون انکار کوي ودي وايي چې د دوی پيدايښت د دې پراخ عالم د پيدايښت په پرتله څنگه تعبيروي، د کوم يوه پيدايښت شديد، مضبوط او پيدا کوونکي ته ئې گران ښکي، د ټول عالم پيدايښت که د انسان بيا پيدايښت، د هغه انسان پيدايښت چې الله تعالى له سرښناکي ختې پيدا کړی؟!!
- نه؛ له شك پرته چې خبره هغسي نه ده چې دوی ئې انگېري، بلکې حقيقت دا دئ چې

ته د خپل رب د عظمت او قدرت او د هغه عالم او مخلوقاتو د پراخوالي په اړه حيرانتيا ښيې چې ستا رب پيدا کړي؛ خو دوی ټمسخر کوي؛ او کله چې پند ورکړی شي پند نه اخلي؛ او که کومه څرگنده نښه وگوري نو مسخرې پرې کوي؛ او وايي: دا خو له څرگند جادو پرته بل څه نه دئ، آيا کله چې ومرو او خاوري او هډوکي شو آيا بيا به هم موږ بېرته راپاڅول کېږو؟ او زموږ لومړني پلرونه هم؟!

- دوی ته ووايه: هو؛ تاسو به هم بيا راژوندي کېږئ او ستاسو پلرونه هم، په داسي حال کي چي تاسو به سرکوزي او ذليل وئ.
- د دوی بياراژوندي کول به داسي په آسانۍ تر سره شي چي يوازي په يوې توندي چيغي سره به دا لړۍ پيل شي او په همدې سره به له قبرونو راپاڅي او هغه مهال به دوی هر څه د خپلو غلطو انگېرنو خلاف وگوري، هغه مهال به وايي: افسوس پر موږ! دا همغه د جزاء ورځ ده، دوی به په خپله هم يو بل ته وايي او له هري لوري به هم ورته ويل کېږي: دا همغه د پرېکړي ورځ ده چي تاسو تکذيبوله.
- په يوې توندي چيغي سره د دوی راژوندي کول به داسي وي لکه په دنيا کي چي د تالندي په توندي چيغي سره له زمکي د بوټو د راټوکېدا لړۍ پيل کېږي، تالنده د باران راتگ اعلان کړي او په همدې باران سره د مړې زمکي بياژوندۍ کېدا پيل شي او ډول ډول ژوندي بوټي راټوکېږي.

---

مِن دُونِ ٱللَّهِ فَٱهۡدُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوهُمۡۖ إِنَّهُم مَّسۡـُٔولُونَ ﴿٢٤﴾
مَا لَكُمۡ لَا تَنَاصَرُونَ ﴿٢٥﴾ بَلۡ هُمُ ٱلۡيَوۡمَ مُسۡتَسۡلِمُونَ ﴿٢٦﴾ وَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ
بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٢٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَأۡتُونَنَا عَنِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٢٨﴾ قَالُواْ بَل لَّمۡ
تَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنِۭۖ بَلۡ كُنتُمۡ قَوۡمٗا طَٰغِينَ
﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيۡنَا قَوۡلُ رَبِّنَآۖ إِنَّا لَذَآئِقُونَ ﴿٣١﴾ فَأَغۡوَيۡنَٰكُمۡ إِنَّا كُنَّا غَٰوِينَ ﴿٣٢﴾

هغه راغونډ کړئ چي ظلم ئې کړی وو او د دوی جوړې هم او هغه هم چي دوی له الله پرته لمانځل؛ او د دوزخ لاري ته ئې سم کړئ؛ او وئې دروئ چي پوښتل کېدونکي دي، څه دربانديشوي چي يو د بل مرسته نه شئ کولی؟ نه؛ بلکي دوی به دغه ورځ د تسليمولو غوښتونکي وي؛ او ځيني به ځينو نورو ته مخ اړوي په داسي حال کي چي يو به بل پوښتي؛ وايي به: دا تاسو وئ چي موږ ته به له ښي‌نه راتلئ، وبه وايي: نه؛ بلکي تاسو په خپله ايمان راوړونکي نه وئ؛ او موږ پر تاسو کومه سلطه نه درلوده، بلکي تاسو په خپله سرکښ وگړي وئ، نو ځکه پر موږ (ټولو) د خپل رب وينا

محققه شوه، يقيناً چې موږ ئې هرو مرو (د خوند) څکونکي يو، يقيناً چې موږ همغسې بې لارې کړئ چې په خپله بې لارې شوي وو.

(٢٣-٣٢)- دا مبارك آيتونه د قيامت په ورځ د دوزخيانو حالت داسې انځوروي:

- الله تعالی به د دوی په اړه امر وکړي چې: ټول هغه وګړي راغونډ کړئ چې ظلم ئې کړی وو؛ له خپلو جوړو او هغو سره چې دوی له الله پرته لمانځل؛ له جوړو يا د دوی مېرمني مراد دي، يا ئې ملګري او يا هغه چې د دوی په څېر ول.
- بيا به امر وکړي چې د دوزخ لارې ته ئې سم کړئ، د لارې په اوږدو کې به د دوی د ودرولو امر وکړي او وبه فرمايي: وئې دروئ چې پوښتل کېدونکي دي، دا پوښتنه به ترې وشي چې ولې يو د بل مرسته نه شئ کولی، دوی به نه يوازې يو د بل مرسته نشي کولی بلکې هر يو به د بل تسليمول غواړي، ځيني به ځينو نورو ته په داسې حال کې مخ اړوي چې ترې پوښتي به او ورته وايي به: آيا دا تاسو نه وئ چې تل به موږ ته له ښينه راتلئ، د ښين ښېلو ښېلو معانيو ته په پام سره به د دوی مطلب يا دا وي چې تاسو ځواکمن او زورور وئ، د زور او ځواك له اړخه به راتلئ او موږ به مو په غلطو لارو تلو ته اړ کولو، يا دا چې موږ ته به راتلئ او قسمونه به مو خوړل چې ستاسو وينا سمه ده، يا دا چې له دې لورې به راتلئ چې ګواکې زموږ خير او ښېګڼه غواړئ او زموږ خواخوږي يئ او سمه لار را ښيئ، يا دا چې له ښي لورې به موږ ته په وار وار راتلئ او په غلطو لارو تلو ته به مو هڅولو. مشران به ئې ورته وايي: داسې نه وه؛ بلکې تاسو په خپله ايمان راوړونکي نه وئ، موږ پر تاسو کومه سلطه نه درلوده، بلکې تاسو په خپله سرکښ وګړي وئ، نو ځکه نن پر موږ ټولو د خپل رب وينا محققه شوه، موږ د الله تعالی له پرېکړې سره سم د عذاب وړ وګڼل شوو نو اوس به ئې هرو مرو د خوند څکونکي يو، هو؛ موږ همغسې بې لارې کړئ چې په خپله بې لارې شوي وو. داسې خو نه وه چې موږ په يوه لار روان وو او تاسو مو په بله سر کړي يئ، نه؛ تاسو مو په هغې لار بېولي يئ چې په خپله پرې روان وو.

فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهُمْ
كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ
ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ ﴿٣٦﴾ بَلْ جَآءَ بِٱلْحَقِّ وَصَدَّقَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٣٧﴾ إِنَّكُمْ
لَذَآئِقُواْ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٩﴾

نو دوی به په دغه ورځ په عذاب کې سره ګډ وي، يقنياً چې موږ له مجرمينو سره همداسې کوو، دوی داسې ول چې کله به ورته وويل شو: له الله پرته بل معبود

نشته؛ نو تکبر به ئې کولو؛ او ويل به ئې: آيا موږ د يوه مجنون شاعر لپاره د خپلو معبودانو پرېښودونکي شو، داسي نه ده؛ بلکي حق ئې وروړ او ټول پيغمبران ئې تصديق کړل، يقيناً چي تاسو د دردناك عذاب څکونکي يئ؛ او له هغه پرته چي کول مو د بل څه سزا نه درکول کېږي.

---

(٢٣-٢٩)- دا مبارك آيتونه وايي:

- د دوزخيانو مشران او کشران به په دغه ورځ په عذاب کي سره ګډ وي.
- له مجرمينو سره د الله تعالی معامله همداسي ده.
- دوی په دنيا کي داسي ول چي کله به ورته وويل شو: له الله پرته بل معبود نشته؛ نو تکبر به ئې کولو؛ او ويل به ئې: آيا کېدی شي موږ د يوه مجنون شاعر لپاره د خپلو معبودانو پرېښودونکي شو؟!!
- داسي نه ده؛ بلکي رسول الله صلی الله عليه و سلم دوی ته حق وروړ او ټول پيغمبران ئې تصديق کړل، خو دوی له حق سره نه پخلا کېدونکې دښمني درلوده او له ټولو پيغمبرانو سره ئې د مخالفت لار غوره کړې وه نو څکه ئې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په ضد دا دريځ غوره کړی وو.
- يقيناً چي اوس او د الله تعالی د محاسبې له مخي تاسو د دردناك عذاب مستحق يئ، اوس به ئې خوند وڅکئ.
- د خپلو کړنو مطابق سزا به درکول کېږي.

---

إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤١﴾ فَوَٰكِهُ وَهُم مُّكْرَمُونَ ﴿٤٢﴾ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٤٣﴾ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٤﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿٤٥﴾ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ عِينٌ ﴿٤٨﴾ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴿٤٩﴾

مګر د الله مخلص بندګان، دوی ته به ټاکلی غوره رزق وي؛ مېوې؛ او دوی به عزتمن کړی شوي وي، له نعمتونو ډکو جنتونو کي، پر تختونو يو بل ته مخامخ، پر دوی به د څانګړې چينې د شرابو جامونه راچورلي، تك سپين او ښښونکو ته خوندور، نه به په هغه کي کوم خرابوالی وي او نه به تري بې سده کېږي، خوا ته به ئې داسي د نظر لنډوونکي د (ښکلو) غټو غټو سترګو والي وي لکه چي پوښلي هګۍ وي.

---

(٤٠-٤٩)- دلته د جنتيانو حالت د دوزخيانو په پرتله داسي انځور شوی:

- د الله مخلص بندګان به له هغه څه خوندي وي چې دوزخيان به ورسره مخامخ وي.
- د الله تعالی له لوري غوره شوی معلوم رزق به ئې په برخه وي، دا به د جنت مېوې وي.
- د عزتمنو په توګه به ئې درناوی کېږي.
- له نعمتونو ډکو جنتونو کې به اوسي.
- پر تختونو به يو بل ته مخامخ ناست وي.
- د ځانګړې چينې له شرابو ډك جامونه به ئې شاوخوا چورلي، تك سپين او څښونكو ته خوندور، نه به په هغه کې کوم خرابوالی وي او نه به ترې بې سده کېږي، نه به ئې په بوی او خوند کې د دنيا د شرابو په څېر كومه ستونزه وي، نه به كوم تاوان اړوي او نه به په بې سده کېدا منتج کېږي.
- خوا ته به ئې د نظر لنډوونكې د (ښکلو) غټو غټو سترګو والې وي، داسې ښکلې لكه چې پوښلې هګۍ وي. دلته د جنتيانو دا جوړې په دې صفتونو يادې شوې: سترګې ئې ښكلې غټې غټې، د نظر لنډوونكې يعنې حياناكې او له خپل مېړه پرته بل ته له كتلو ډډه كوونكې، داسې لكه بيض مكنون: پوښلې هګۍ، په دې اړه څو وضاحتونه ضروري برېښي: ۱- آيا په بيض مكنون سره د دوی د سترګو ګاټې (بيضه) او د هغوی لوی والی تشبيه شوی كه دوی په خپله؟ په دې اړه بېل بېل تعبيرونه شوي خو غوره تعبير دا دئ چې د سترګو ګاټې ئې او په ځانګړې توګه د ګاټې سپينه برخه ورسره تشبيه شوې، د سترګو ګاټې وړې سپينې هګۍ ته ورته وي، موږ ئې د بيضه په نامه يادوو، د انسان په مخ کې تر ټولو ښايسته عضو همدا سترګې دي، د سترګو اندازه، د سپين او تور تر منځ ئې دقيق تناسب، باڼوګان او وروځې؛ او د سترګې حركات په مجموع کې د ښايست له پلوه داسې امتيازي مقام لري چې هيڅ عضو ورسره برابري نشي كولی. د تشبيه له پلوه د (بيض) او (مكنون) اطلاق يوازې په سترګې كېدی شي، ځكه د سترګې سپين ګاټې داسې دي چې په باڼوګانو او د سترګو په پورتنۍ او لاندينۍ پردو کې پټ وي، دا دواړه د بدن په اړه صدق نه كوي، نه د بدن رنګ هګۍ ته ورته وي او نه ئې پټېدا، ۲- آيا دا جوړې د جنتيانو انساني مېرمنې دي كه كوم بل مخلوق؟ ځواب دا دئ چې دا به د دوی خپلې مېرمنې وي، ځكه تر دې وړاندې د دوزخيانو د مېرمنو يادونه شوې چې له دوی سره به يو ځای په دوزخ کې وي.

فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّى كَانَ لِى قَرِينٌ ﴿٥١﴾ يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿٥٣﴾ قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾ فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِى سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَٱللَّهِ

إِن كِدتَّ لَتُرۡدِينِ ۝٥٦ وَلَوۡلَا نِعۡمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ۝٥٧ أَفَمَا نَحۡنُ
بِمَيِّتِينَ ۝٥٨ إِلَّا مَوۡتَتَنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ۝٥٩ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡفَوۡزُ
ٱلۡعَظِيمُ ۝٦٠ لِمِثۡلِ هَٰذَا فَلۡيَعۡمَلِ ٱلۡعَٰمِلُونَ ۝٦١

نو ځيني (جنتيان) به ځينو نورو ته مخ کړي په داسي حال کي چي يو به بل پوښتي، د دوی يو ويونکی به ووايي: زه خو داسي وم چي يو ملگری مي وو، ويل به ئې: آيا ته له باور کوونکو يې؟، آيا کله چي ومرو او خاوري او هډوکي شو آيا موږ به محاسبه او مجازات کېدونکي يو، وبه وايي: آيا تاسو اطلاع موندونکي يئ، نو نظر به واچوي او د دوزخ په منځ کي به ئې وگوري، وبه وايي: قسم په خدای چي نژدې وه ما (په دوزخ کي) وغورځوې؛ او که زما د رب فضل او پېرزوينه نه وی نو زه به هم (په دوزخ کي) له حاضر کړی شوو سره وم. نو آيا داسي نه ده چي اوس مړه کېدونکي نه يو، مگر زموږ همغه لومړنۍ مړينه؟ آيا موږ عذاب کېدونکي يو؟ يقيناً چي همدا ستره بريا ده، نو عمل کوونکي دي د داسي بريا لپاره عمل وکړي چي دې ته ورته وي.

---

(۵۰-۶۱)- دلته د جنتيانو د دوو ډلو تر منځ د يوې ليدني او د يوه له لوري نورو ته د يوه دوزخي ملگري په اړه د وينا په ارتباط داسي راغلي: ځيني جنتيان به ځينو نورو ته په داسي حال کي مخ کړي چي يو به بل پوښتي، يو به ئې ووايي: زه په دنيا کي داسي وم چي يو ملگری مي وو او ما ته به ئې ويل: آيا ته له باور کوونکو يې؟، آيا کله چي ومرو او خاوري او هډوکي شو بېرته به راژوندي کېږو او د خپلو کړنو له کبله به محاسبه او مجازات کېږو؟، وبه وايي: آيا غواړئ چي د هغه له حالت خبر شئ او وگورئ چي چېري دئ؟ نو نظر به واچوي او د دوزخ په تل کي به ئې ومومي، دا جنتي به هغه ته ووايي: قسم په خدای چي نژدې وه ما هم د ځان په څېر په دوزخ کي وغورځوې، که زما د رب فضل او پېرزوينه نه وی نو زه به هم اوس له نورو دوزخيانو سره يوځای په دوزخ کي حاضر کړی شوی وم، نو آيا اوس له همغه لومړنۍ مړيني پرته بيا مړه کېدونکي يو؟ آيا له کوم عذاب او کړاو سره مخامخېدونکي يو؟ يقيناً چي همدا ستره بريا ده، نو عمل کوونکي دي د داسي بريا لپاره عمل وکړي چي دې ته ورته وي.

په دې اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- دا کس به د جنتيانو د دوهمي کچي له ډلي وي، داسي کس چي په دنيا کي ئې له داسي خلکو سره هم څه نا څه روابط او ناسته ولاړه وه چي خپلو باورونو او کړنو دوزخ ته رسولي.
- له دې معلومېږي چي دا سوره هغه مهال نازله شوې چي د مسلمانو او کافرانو تر

منځ اړيکي لا په بشپړه توګه نه وې شلېدلې او خبره څرګندي دښمنۍ او مخالفت ته نه وه رسېدلې. د دې مضمون په ترځ کې مسلمانانو ته ويل شوي چې له داسي ملګرو همدا اوس ځان لري وساتئ که نه نو کېدی شي له ځان سره مو دوزخ ته بوځي.

- دا جنتي به خپل يو ملګری په جنت کې ونه مومي، نورو جنتيانو ته به ووايي: راشئ هغه ولټوو، ډېر ژر به ئې د دوزخ په تل کې ومومي، دلته لږ توقف په کار دئ، بايد په دې خبري غور وکړو چې يو جنتي به څنګه په دې توانېږي چې يو دوزخي د ملياردونو انسانانو په منځ کې تشخيص کړي، د دوزخ په تل کې ئې ومومي او بيا له هغه سره خبري پيل کړي، سره له هغه لري واټن چې د دوی دواړو په منځ کې به وي او سره له دې چې د دوی له بېلوالي بيا تر هغه نېټې چې يو جنت ته او بل دوزخ ته تللی اوږده موده تېره شوې؟!! دا داسي وګڼئ لکه څوك چې نن خپل کوم ملګری زموږ په شمسي نظام يا ستورليکي کې ولټوي او د سترګو په رپ کې ئې په يوه لري ستوري کې ومومي!! او د زمکي له سر له هغه سره داسي خبري وکړي چې هم ئې غږ اوري او هم ئې شکل ګوري!! له دې معلومېږي چې هلته به د انسان حواس د نن په څېر محدود او کمزوري نه وي بلکي داسي به وي لکه چې په دغو آيتونو کې انځور شوي.

له دې او دې ته ورته آيتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې په جنت کې به نه د انسان حواس اوسني حواس وي او نه ئې د درك ساحه دومره محدوده لکه نن، هم به ئې لري ليد ډېر پراخ وي او هم حواس دومره حساس چې له داسي جنت سره ښايي، قرآن د دغه حقيقت د بيانولو لپاره د هغه جنتي مکالمه له هغه دوزخي سره زموږ په وړاندي ږدي، هغه په دنيا کې له يوه دوزخي سره پېژندل، هغه ئې د غولولو هڅه کوله خو دی د الله تعالی په فضل تري خوندي پاته شوی وو، په جنت کې به ورپه ياد شي، زړه به ئې وغواړي چې له حاله ئې خبر شي، خپلو ملګرو ته به ووايي زما داسي يو دوست وو، راشئ وګورو چې هغه چېري دئ، په يوه نظر سره به هغه د ټولو دوزخيانو له منځه د دوزخ په يوې کندي کې ومومي او له جنته به پرې غږ کړي، که لږ ځير شو او دا په پام کې ولرو چې د آدم عليه السلام له پيدايښت بيا د قيامت تر ورځي به څومره انسانان په زمکي کې پيدا شوي وي؟ آيا دا اوس چې موږ پر زمکه ګرځو، هر قدم چې اخلو د څو انسانانو پر خاوره شوو ککرو به پښه ږدو، تر قيامت پوري به د دوی شمېر څومره شوی وي، څومره به په جنت کې وي او څومره په دوزخ کې، د دوزخونو او جنتونو تر منځ به واټن څومره وي؟ يو انسان څنګه توانېږي له دومره واټن د دومره کسانو تر منځ يو ملګری په يوه نظر پيدا کړي؟!! آيا پوهېږئ چې په داسي خبرو به يو مهال د اسلام مخالفينو څومره ملنډې وهلې وي او هغه به ئې دروغجني او د حقيقت خلاف او له مبالغو ډکي ګڼلې وي؟!! خو دا دئ نن د افغانستان له يوه لري پراته کلي يو کس د يوه وړوکي مبايل په مرسته د نړۍ په لري ګوټ کې له خپل دوست سره داسي خبري کوي چې هم ئې غږ اوري او هم ئې مخ ګوري!!

دا نن د يوه قوي او ستر تېلسکوپ خوا ته ناست ستور پېژاندی د ستور ليکي په لري اړخ کې يو ستوری ګوري او وايي: دا ستوری زموږ له زمکې په دومره واټن کې پروت دئ، حجم ئې زموږ د زمکې په پرتله دومره ځله زيات دئ!! آيا د قرآن دا وينا داسي نه ده چي د ساينس د نني معيارونو له مستوی هم وړاندي ده؟!! آيا دا د قرآن يو ستر علمي اعجاز نه دئ؟!!

أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَـٰهَا فِتْنَةً لِّلظَّـٰلِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِىٓ أَصْلِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَـٰطِينِ ﴿٦٥﴾ فَإِنَّهُمْ لَـَٔاكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا ٱلْبُطُونَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٦٧﴾ ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى ٱلْجَحِيمِ ﴿٦٨﴾ إِنَّهُمْ أَلْفَوْا۟ ءَابَآءَهُمْ ضَآلِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلَىٰٓ ءَاثَـٰرِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾

آيا دا د مېلمستيا په توګه غوره دئ که د زقوم ونه، يقيناً چي هغه مو د ظالمانو لپاره فتنه ګرځولې، دا داسي ونه ده چي د دوزخ په تل کې راټوکېږي، وږي ئې داسي دي لکه د شيطانانو سرونه، نو دوی به ترې خوراك کوي؛ او له همدې به د (خپلو) خېټو ډکوونکي وي، بيا به حتماً دوی ته پر هغې د تودو اوبو ګډونه وي، بيا به ئې ګرځېدا حتماً د دوزخ د اور کندي په لوري وي، يقيناً چي دوی خپل پلرونه تېروتي موندلي ول، نو د هغوی پر پلونو ځغلېدونکي ول؛ او يقيناً چي تر دوی وړاندي ډېری لومړني بې لاري شوي ول.

(٦٢-٧١)- دلته قرآن د خپل مخاطب په وړاندي دا پوښتنه ږدي: په دغو دواړو کې کوم حالت غوره دئ، د جنتيانو که د دوزخيانو، هغه چي په جنت کې به د مېلمنو په توګه اوسي او که هغه چي خوراك به ئې د زقوم له زهرجني او ترخې ونې وي؟! هغه چي الله تعالى د ظالمانو لپاره د فتنې او آزمويني سبب او د عذاب وسيله ګرځولې، دا داسي ونه ده چي د دوزخ په تل کې راټوکېږي، وږي ئې داسي دي لکه د شيطانانو سرونه، نو دوی به ترې خوراك کوي؛ او له همدې به خپلي خېټې ډکوي، کله چي تږي او ځنباك ته اړ شي نو ايشېدلې اوبه به ئې په برخه شي، همدا به له زقوم سره ګډوي، بېرته به د اور کندي ته ستنېږي. له دې بد برخليك سره د مخامخېدو ستره وجه دا وه چي دوی خپل پلرونه تېروتي موندلي ول خو سره له دې ئې نه يوازي په پټو سترګو د هغوی تقليد کولو بلکې د هغوی پر پلونو ځغلېدل، دا په داسي حال کې چي تر دوی وړاندي ډېری لومړني بې لاري شوي ول.

دلته دوه پوښتني بايد ځواب شي: د زقوم ونه څنګه د دوزخيانو لپاره فتنه ده؟ د

دوزخ په تل کې، هلته چې ډېرې او انسانان په کې سوزي د زقوم بوټی او ونه څنګه راټوکېږي؟ د دې دواړو پوښتنو ځوابونه دا دي: په قرآن کې کله فتنه د آزموينې په معنی راځي او کله د عذاب په معنی، د زقوم ونه له يوې خوا د دوزخيانو لپاره د تعذيب وسيله ده؛ او له بله پلوه يوه آزموينه، په دنيا کې آزموينه او په آخرت کې عذاب، په آخرت کې د عذاب اړخ ئې کاملاً واضح دئ خو په دنيا کې د آزموينې اړخ ئې لږ وضاحت غواړي، قرآن په خپله د دې وضاحت کوي، کله چې د زقوم د ونې او د دوزخ په تل کې د هغې د راټوکېدا يادونه وشوه نو مخالفينو ستره غوغا جوړه کړه او په هر مجلس کې ئې په ټوکو ټوکو او مسخرو سره ويل: دا محمد (عليه السلام) ادعاء کوي چې د زقوم ونه به د دوزخ په سره اور کې راټوکېږي!! په اور کې خو بوټي او ونې سوزي؛ څنګه ومنو چې د دوزخ په څېر تېز او سخت اور کې به ونې راټوکېږي؟!! د قرآن د وينا له مخې دوی د رسول الله صلی الله عليه و سلم په څو ويناوو تر ټولو زيات تبليغات وکړل چې په قرآن کې ئې په دې توګه يادونه شوې:

وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلْنَا ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِىٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلْمَلْعُونَةَ فِى ٱلْقُرْءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا ﴿٦٠﴾ الإسراء

او کله چې مو درته وويل: يقيناً چې ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې؛ او هغه رؤيا (خوب) چې تا ته مو دروښود؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره يوه آزموينه ګرځولې؛ او په قرآن کې (ياده شوې) هغه لعنت شوې ونه او وېروو ئې، نو (دغو خبرو) يوازې د دوی ستر طغيان لا زيات کړ.

د دې آيت په څلورو فقرو کې داسې څلورو خبرو ته ګوته نيول شوې چې د مخالفينو عناد، دښمني او طغيان ئې لا زيات کړ.

لومړۍ خبره ئې د قرآن دا وينا وه چې الله تعالی پر خلکو احاطه کړې، داسې څه نشي کولی چې الله تعالی ئې د کولو توان او توفيق ورنه کړي، مخالفينو ويل: موږ خو په خپلې شاوخوا کې داسې څوك نه ګورو چې موږ ئې احاطه کړي يو!! موږ خو ډېر داسې څه کوو چې ته وايې الله تعالی ئې نه خوښوي، ستا د رب احاطه چېرې ده؟

دوهمه خبره د رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه رؤيا وه چې د اسراء او معراج په نامه ياده شوه، خلکو ته دا رؤيا يوه آزموينه وه، ځينو ته ئې منل ګران وو، ځينو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وګڼله، ځينو د تبليغاتو لپاره وکاروله او ويل به ئې دا دئ دا پيغمبر اوس ادعاء کوي چې په يوه شپه کې تر مسجدالاقصی پورې تللی، د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام امامت ئې کړی، تر اوم آسمان پورې رسېدلی، په هر آسمان کې ئې يو يو پيغمبر ليدلی، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترګو ليدلي او...

درېيمه خبره د قرآن دا وينا وه چې د دوزخيانو خوراك به د زقوم هغه تريخ بوټی وي

چي د دوزخ په تل کې به راټوکېږي؛ او کافرانو وويل: آيا د اور په منځ کې هغه هم د دوزخ د تېز اور په منځ کې؛ ونه راشنه کېدی شي؟!!

څلورمه خبره د قرآن دا وينا وه چي الله تعالی به ستا د دښمنانو د تنبيه لپاره داسي څه وکړي چي دوی پرې ووېروي، مخالفينو وويل: دا تنبيه او تهديد ولي خندېدلی، ولي د دومره کلونو له تېرېدو وروسته هم دا گواښونه تر سره نه شول؟

د زقوم په اړه د دوی د اعتراض ساده او لنډ ځواب دا دئ: په دوزخ کې به دوزخيان هم سوزي او هم به ژوندي وي، خو نه به ئې ژوند داسي وي لکه د دنيا ژوند او نه به ئې سوزېدا داسي وي لکه په دنيا کې سوزېدا، د دوزخ اور د دنيا له اور سره مه تشبيه کوئ، په هغه اور کې به هم انسان سوزی او هم به ژوندی پاته کېږي، په کوم اور کې چي انسان ژوندی پاته کېدی شي بوټي هم راټوکېدی شي. دا خبره که د قرآن لومړنيو مخاطبينو ته د ملنډو او خندا وړ برېښېده، خو نن نه يوازي ساينسپوهان ورسره موافق دي بلکې عادي خلك ئې هم ببلگې په خپلو سترگو گوري، ما نژدې پنځه ويشت کاله وړاندي او هغه مهال چي د ليزر او مايکرو ويو په څېر وړانگو د پخولو او سوزولو په موخه کار اخيستل پيل شوي وو؛ په کويټ کې د يوه شيخ په پخلنځي کې د پخلي داسي لوښی وليد چي له رابېر جوړ شوی وو، په څو دقيقو کې ئې غوښه پخولی شوه، په داسي حال کې چي نه د اور لمبه تر سترگو کېده او نه به لوښی تودېدو!! که داسي اور شته چي غوښه پخوي خو د پخلي رابړي لوښی نه سوزوي، نو ولي د دوزخ د داسي اور په اړه شك کوې او هغه د نه منلو وړ گڼې چي د انسان پوستکی به سوزوي خو د ده په مړيني او وژلو به نه منتج کېږي، ډېري به په کې سوزي خو زقوم به په کې راټوکېږي!! ستا ئې خوښه؛ خو موږ د قرآن دې وينا ته د يوه ستر علمي اعجاز په سترگه گورو، يقيناً که د قرآن دا وينا د شلمي پېړۍ يوه منصف ساينسپوه په وړاندي کښېږدو او ترې وپوښتو: آيا داسي اور هم شته چي يو شی سوزوي او پخوي او د هغه لوښی روغ رمټ پرېږدي؟! نو پوهېږې چي ځواب به ئې څه وي؟ ځواب به ئې دا وي: هو؛ داسي اور شته او موږ اوس په ډېرو مواردو کې ترې استفاده کوو!! د هغو ئې خوښه چي عالم او اسرارو ته ئې د يوه کمعقله ماشوم په سترگه گوري او پر داسي ژورو ويناوو ئې سر نه خلاصېږي او ملنډې پرې وهي، موږ په دې باور يو چي د دوزخ اور نه يوازي دغه پورتنی ځانگړتيا لري بلکې هغه به دوزخيان له څېرې او په نوم پېژني، د ځان لوري ته به ئې بلي، کله چي انسانان د هغه خوا ته تېرېږي نو د سوزېدو وړ دوزخيان به له نورو راباسي او په خپلو سرو منگولو کې به ئې نيسي!! او دا هغه څه دي چي قرآن ويلي!!

دې ته مو هم بايد پام وي چي د دې آيتونو له فحوی په وضاحت سره معلومېږي چي کله دوزخيان وږي او تږي شي نو د زقوم خوړلو او ايشېدلو اوبو د څښلو لپاره به د دوزخ ځانگړي ځای ته بېول کېږي او له خوراك څښاك وروسته به بېرته خپل خپل ځای ته

ستنبږي، (ثُمَّ إِنَّ مَرۡجِعَهُمۡ لَإِلَى ٱلۡجَحِيمِ: بیا به ئې ګرځېدا حتماً د دوزخ د اور کندې په لوري وي) له دې په وضاحت سره معلومېږي چې په دوزخ کې به د دوی د اوسېدا ځای بېل وي او د زقوم د راټوکېدا ځای بېل.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٧٤﴾

او يقيناً چې په دوی کې مو ګواښونکي (انبياء) ولېږل، نو وګوره چې د انذار شوو پايله څنګه وه، د الله د مخلصو بندګانو په استثناء.

(٧٢-٧٤)- دا مبارك آيتونه وايي: الله تعالی له خپل لوري خلکو ته داسې خبرداری ورکوونکي او ګواښونکي لېږلي چې دوی د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو ووېروي، د تاريخ پاڼې واړوه او وګوره چې له هغو خلکو سره څه شوي چې پيغمبران ورغلي، چا چې د دوی انذار ته اعتناء نه ده کړې له څنګه برخليك سره مخامخ شوی او له مخلصو او صالح بندګانو سره څه شوي. په راتلونکو آيتونو کې د دې وينا څو عملي تاريخي بېلګې زموږ په وړاندې ځلېږي.

وَلَقَدۡ نَادَىٰنَا نُوحٞ فَلَنِعۡمَ ٱلۡمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلۡبَاقِينَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٧٨﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٖ فِي ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٨٢﴾

او يقيناً چې نوح موږ ته غږ کړ په داسې حال کې چې غوره اجابت کوونکي يو؛ او دی او د ده اهل مو له ستر کړاو وژغورل؛ او د ده اولاد مو باقي پاتې شوي وګرځول؛ او د ده په اړه مو په وروستنيو کې (دا وينا) پرېښوده چې په ټولو عالمونو کې دې پر نوح سلامونه وي، يقيناً چې موږ نېکانو ته همداسې بدله ورکوو، يقيناً چې هغه زما د مؤمنو بندګانو له ډلې وو، بيا مو هغه نور غرق کړل.

(٧٥-٨٠)- لومړی بېلګه ئې نوح عليه السلام او د ده ټبر او ملګري دي، دوی د خپل قوم له کلك مخالفت سره مخامخ ول، دعوت او مبارزه ئې اوږده شوه، د ستونزمنې اوږدې مبارزې په نتيجه کې د ګوتو په شمېر کسانو ايمان راوړ، دې ته اړ شو چې خپل رب ته دعاء

وکړي او پر خپل عجز، بې وسي او ناکامي اعتراف وکړي او له الله تعالی وغواړي چي د ده او قوم تر منځ وروستۍ پرېکړه وکړي، الله تعالی د ده دعاء قبوله کړه، همغسي لکه چي په دې آیتونو کې راغلي: نوح موږ ته غږ کړ په داسي حال کې چي غوره اجابت کوونکي یو؛ او دی او د ده اهل مو له ستر کړاو وژغورل؛ او د ده اولاد مو باقي پاتي شوي وګرځول؛ او د ده په اړه مو په وروستنیو کې (دا وینا) پرېښوده چي په ټولو عالمونو کې دې پر نوح سلامونه وي، یقیناً چي موږ نېکانو ته همداسي بدله ورکوو. یقیناً چي هغه زما د مؤمنو بندګانو له ډلي وو، بیا مو هغه نور غرق کړل. یعني دی او اهل ئې (ټبر او پلویان ئې) له هغه ستر کړاو وژغورل شول، مخالفین ئې د ستر طوفان په څپو کې غرق شول، له دوی پرته نه بل څوك په هغې سیمي او د ده په قوم کې ژوندی پاته شو او نه ئې نسل، د هغوی جرړې وختې او ټغر ئې د تل لپاره ټول شو. که څه هم ځینو درنو مفسرینو داسي انګېرلې چي ګواکې له نوح علیه السلام وروسته یوازې د ده اولاد پاته شوی، خو دا تعبیر د قرآن له نورو ویناوو سره تعارض لري، قرآن د نوح علیه السلام د قصې په ترڅ کې وایي چي له ده سره پر خپل ټبر سربېره نور مؤمنان هم په کشتۍ کې سپاره شوي او په نورو ځایونو کې دا وضاحت هم کوي چي د ده پر قوم علاوه نور خلك هم په زمکې کې اوسېدل، لکه د هود د سورې ٤٨ آیت چي وایي:

قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن مَّعَكَۚ وَأُمَمٞ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٤٨﴾ هود

وویل شول: اې نوح! زما له لوري له سلامتیا او هغو برکتونو سره کوز شه چي پر تا او هغه ډلو (نازل شوی) دئ چي له تاسره دي. او ځیني ډلي داسي دي چي (د دنیا له متاع به ئې) برخمن کړو بیا به زموږ په دردوونکي عذاب اخته شي.

هغه طوفان داسي نه وو چي د زمکې د سر ټول ولسونه او ژوي ئې له منځه وړي، دا د بایبل غلطه ادعاء ده، تفصیل ئې د هود سورې د څلوېښتم آیت او تر هغه وړاندي څو آیتونو په تفسیر کې وګورئ.

دلته ویل شوي چي الله تعالی نه یوازې نوح علیه السلام او د ده ملګري وژغورل او د دوی نسل ئې باقي پرېښود بلکي دا پرېکړه ئې وکړه چي له دوی وروسته به په ټول عالم کې پر ده سلامونه لېږل کېږي، یعني نېك نوم به ترې پاته شي او خلك به دعاګاني ورته کوي. دا د الله تعالی دائمي او نه بدلېدونکی سنت دئ، د دې سنت له مخي نېکانو ته تل همداسي بدله ورکوي. یقیناً چي هغه زما د مؤمنو بندګانو له ډلي وو، له مؤمنانو سره د الله تعالی وعده همداسي ده، هغوی به حتماً ژغوري؛ او د دوی له مخالفینو سره به همغه څه کوي چي د نوح علیه السلام له مخالفینو سره ئې وکړل، الله تعالی د هغوی په اړه فرمایي: بیا مو هغه نور غرق کړل.

وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِۦ لَإِبْرَٰهِيمَ ﴿٨٣﴾ إِذْ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ
وَقَوْمِهِۦ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾ أَئِفْكًا ءَالِهَةً دُونَ ٱللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾ فَمَا ظَنُّكُم
بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِى ٱلنُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّى سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا۟ عَنْهُ
مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾ فَرَاغَ إِلَىٰٓ ءَالِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ
﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًۢا بِٱلْيَمِينِ ﴿٩٣﴾ فَأَقْبَلُوٓا۟ إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾ قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا
تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

او يقيناً چي ابراهيم حتماً د ده د تابعانو له ډلي وو، هغه مهال چي خپل رب ته له روغ زړه سره راغی، هغه مهال چي خپل پلار او خپل قوم ته ئې وويل: دا څه دي چي تاسو ئې لمانځئ، آيا له الله پرته جعلي او دروغجن معبودان غواړئ؟ نو د رب العالمين په اړه مو څه گمان دئ؟ بيا ئې په ستورو کې په يوه نظر سره وکتل، بيا ئې وويل: يقيناً چي زه ناروغ يم، نو په داسي حال کې ئې مخونه ترې واړول چي تر شا کېدونکي ول، نو د دوی معبودانو ته پټ پټ ورغی او (ورته) وئې ويل: آيا (څه) نه خورئ؟!! څه درباندي شوي چي خبري نه کوئ؟! نو د ښي لاس په گوزار سره ئې مضبوط گوزار پرې وکړ، نو په منډه منډه ئې د ده لوري ته مخه کړه، وئې ويل: آيا هغه څه لمانځئ چي په خپله مو تراشلي؟ په داسي حال کې چي الله هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه څه چي تاسو ئې جوړوئ.

(٨٣-٩٦)- د دې مبارکو آيتونو په معنی د ښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام کې ولرئ:

دلته ابراهيم عليه السلام د خپل جد نوح عليه السلام په لار د تلونکو په توگه ياد شوی، داسي لکه چي دی په خپله او د ده دعوت د نوح عليه السلام د دعوت د اغېزو او تسلسل يوه بېلگه وي، په ځانگړې توگه په دوو مواردو کې: ١- هغه مهال چي خپل رب ته له روغ زړه سره راغی، ٢- او هغه مهال چي خپل پلار او خپل قوم ته ئې وويل: دا څه دي چي تاسو ئې لمانځئ؟ آيا له الله پرته جعلي او دروغجن معبودان غواړئ؟ نو د رب العالمين په اړه مو څه گمان دئ؟

وروسته ويل شوي چي ابراهيم عليه السلام ستورو ته ځير شو او وئې ويل: يقيناً چي زه ناروغ يم، دلته بايد لږ توقف وکړو او وگورو چي ستورو ته د کتلو او د دې وينا تر منځ څه تړاو دئ چي زه ناروغ يم؟! متأسفانه ځينو داسي انگېرلې چي گواکې ابراهيم عليه السلام ستورو ته په کتلو سره خلکو ته داسي ښودلې چي د ستورو له وضعيت راته جوته

شوه چي زه ناروغ يم!! عجيبه ده! ډېره عجيبه! څنگه د ابراهيم عليه السلام په څېر ستر موحد ته داسي غلطه خبره منسوبوي، د ستورو ئې د انسان له روغتيا، ناروغۍ، مرگ، ژوند او برخليك سره څه؟!! آيا هغه دې ته اړ وو چي د ستورو د حالت په استناد خلك پر خپلي ناروغۍ باوري کړي چي مېلې ته له تلو ئې معذور وگڼي؟! آيا څوك د خپلي ناروغۍ د اثبات لپاره داسي وينا کوي؟! حقيقت دا دئ چي د دې دواړو خبرو تر منځ هيڅ داسي تړاو نشته چي دوى ئې انگېري، ستورو ته نظر کول کاملاً مستقله موضوع ده او تفصيل ئې په قرآن کې راغلى، قرآن وايي چي هغه ستورو، سپوږمۍ او لمر ته وکتل او خلکو ته ئې د هر يوه په اړه وويل: آيا دا او دا زما رب کېدى شي، حال دا چي پرېوځي، زه پرېوتونکي د رب په توگه نه منم. او د مريضي عذر وړاندي کول په بشپړه توگه بېله موضوع ده. د قرآن له وينا معلومېږي چي ابراهيم عليه السلام د ستورو په اړه له خپل استدلال او د پلار له لوري په شړلو او رجم کولو د ده له گواښلو وروسته پرېکړه کړې چي دا بُتان به نسکوروي، دا کار به هغه ورځ کوي چي خلك د کلني جشن لپاره له ښار بهر وځي او معبد تش پاته کېږي، د پاته کېدو لپاره به دا بهانه وړاندي کوي چي ناروغ دئ، بهانه ئې هم د حقيقت خلاف او دروغجنه نه وه، څه ناروغي ئې درلوده، همداسي ئې وکړل، د ناروغۍ او ستورو ته د کتلو تر منځ تړاو دغسي دئ نه هغسي چي دوى انگېرلې. هغه چي گمان کوي دا دواړه آيتونه فَنَظَرَ نَظۡرَةٗ فِي ٱلنُّجُومِ ٨٨ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٞ ٨٩ د فاء په توري سره وصل شوي نو ځکه ستورو ته د کتلو او ناروغتيا تر منځ دا تړاو دئ چي نجوميانو به همداسي کول او د ستورو له مخي به ئې خلکو ته د دوى د ناروغتيا خبر ورکولو، دوى يقيناً چي ستره اشتباه کوي، د آيتونو دقيقه ژباړه دا ده: بيا ئې په ستورو کې په يوه نظر سره وکتل، بيا ئې وويل: يقيناً چي زه ناروغ يم.

که د سورې د آيتونو ترکيب ته لږ ځير شئ نو ډېر ژر به درته جوته شي چي دلته موضوعات په ډېر مجمل طور وړاندي شوي، هره وړه فقره د يوه بشپړ تفصيلي مضمون پر ځاى راغلې، د اجمال او اختصار په خاطر د آيتونو او فقرو تر منځ ډېر څه پرېښودل شوي. دا هم ډېره عجيبه خبره ده چي ځينو د يوه داسي ډېر ضعيف او بې اعتباره روايت په استناد ويلي چي گواکې ابراهيم عليه السلام په خپل ژوند کې درې درواغ ويلي چي يو ئې د ده همدا وينا وه چي قوم ته ئې وويل: زه ناروغ يم، گواکې دى اصلاً ناروغ نه وو، په دروغو ئې خلکو ته دا خبره کړې، په دې سره ئې غوښتل خلك قانع کړي چي مېلې ته له تلو ئې معذور وگڼي!! نه پوهېږم چا دوى ته ويلي چي ابراهيم عليه السلام هغه مهال هيڅ بيماري نه درلوده او خبره ئې په بشپړه توگه د حقيقت خلاف وه؟!! ولې د يوه داسي بې اعتباره او کمزوري روايت له کبله چي له سر ترپايه غلط دئ؛ د ابراهيم عليه السلام په څېر صادق او رښتيني پيغمبر ته د دروغ ويلو نسبت کوي؟!! که ده دروغ ويلى نو هغه مهال به ئې د بتانو له ماتولو انکار کړى وو چي ټول قوم د ده د وژلو او په اور کې د

اچولو پرېکړه کوله!! ده خو د انکار پر ځای دوی سخت وغندل چې ولې د داسې څه عبادت کوې چې نه ګټه وررسولی شي او نه تاوان درته دفع کولی شي، دا دئ له خپل ځان ئې دفاع ونه کړی شوه، ماتوونکی نشي درښودلی، که نه منئ وئې پوښتئ چې چا مات کړئ!! د دې تفصيل په حكمة البارئ او د الانبياء د سورې د ٦٣ آيت په تفسير کې وګورئ.

خلك ترې ولاړل، معبد تخليه شو، ابراهيم عليه السلام ته مناسب فرصت په لاس ورغی، معبد ته ننوت، د بتانو خوا ته په داسې حال کې ورغی چې هيڅوا ونه ليد، د دوی دروغجنو معبودانو ته ئې مخ کړ او د اهانت په توګه ئې ورته وويل: ولې څه نه خورئ؟!! معلومېږي چې خلکو د بتانو خوا ته رنګ رنګ خواړه د شکرانو او نذرانو په توګه اېښې وو، پوښتنه ترې کوي: څه درباندې شوي چې خبرې نه کوئ؟! نو د ښي لاس په ګوزار سره ئې مضبوط ګوزار پرې وکړ، ټول ئې مات مات کړل، تبر ئې د لوی بت په غاړې کې ځوړند کړ او له معبد ووت.

دلته دا برخه پرېښودل شوې چې خلك له مېلې راستانه شول، معبد ته ننوتل، بتان ئې نسکور او مات مات وموندل، پوښتنه ئې وکړه چې دا کار چا کړی، ځواب ورکړی شو چې د ابراهيم په نامه يو ځوان دوی په بد نامه يادوي، دا کار به حتماً هغه کړی وي، نو ځکه په منډه منډه د ده لوري ته ورغلل، بيا د قصې ډېره برخه پرېښودل شوې او د ابراهيم عليه السلام دا وينا راغلې چې خلکو ته ئې وويل: آيا هغه څه لمانځئ چې په خپله مو تراشلي؟ په داسې حال کې چې الله هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه څه چې تاسو ئې جوړوئ. د ابراهيم عليه السلام دا وروستۍ وينا په حقيقت کې د ده د هغې مخکينۍ وينا شرح ده چې خپل پلار او خپل قوم ته ئې وويل: دا څه دي چې تاسو ئې لمانځئ، آيا له الله پرته جعلي او دروغجن معبودان غواړئ؟ نو د رب العالمين په اړه مو څه ګمان دئ؟ دلته ئې همغه خبره په دې الفاظو کړې: قَالَ أَتَعۡبُدُونَ مَا تَنۡحِتُونَ ٩٥ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ٩٦، په دې دواړو آيتونو کې د بتانو يادونه په دوو صيغو شوې: په لومړي کې په (ما تنحتون) سره او په دوهم کې په (ما تعملون) سره، يعني هغه بُتان چې تاسو ئې په خپل لاس تراشئ او هغه بُتان چې تاسو ئې په خپل لاس جوړوئ.

دې ته مو پام وي چې د دې مبارکې سورې دغه آيت او د التکوير د سورې آخري آيت وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٩ هغه دوه آيتونه دي چې هم په تفسيرونو کې د هغوی رنګ رنګ تأويلونه شوي او هم د بېلو بېلو مذهبي فرقو له لوري د هغوی په اړه له شخړو او منازعاتو ډك ښه ډېر لانجمن بحثونه، حتی ويلی شو چې ځينو مذهبي فرقو دغه آيتونه د خپل اعتقادي مشرب او مسلك بنسټ ګرځولی، قدريه، جبريه، ماتريديه، معتزله، اشاعره، شيعه او اهل سنت و جماعت ... د دې آيتونو په اړه ځانته ځانته تعبيرونه او تأويلونه لري، هري ډلې د دې آيتونو په استناد او په رڼا کې دې پوښتنو ته د ځواب موندلو هڅه کړې چې آيا انسان د اختيار خاوند دئ که مجبور، د انسان د (افعالو)

خالق الله تعالی دئ که په خپله انسان؟ دی د خپلو عملونو موجد او اصلي باعث دئ که یوازي مکتسب؟ آیا له دوو لارو د یوې د انتخاب او پر هغې د تلو واك او اختیار ورکړی شوی او که په داسي لار تلو ته اړ دئ چي له وړاندي ورته ترسیم شوې؟ آیا د ده په مقدراتو کې ټول هغه عملونه چي دی ئې سرته رسوي له وړاندي او د ده تر پیدایښت مخکي درج شوي او که کولی شي په خپله خوښه عمل وکړي؟ که د خپل تقدیر په وړاندي په بشپړه توګه محکوم او مقهور وي او هیڅ څه په خپله خوښه او اراده نشي کولی ولې د خپلو کړنو له کبله مجازات کېږي؟ په دې اړه څو عرائض لرم:

- دا بحث له دې مبارك آیت سره هیڅ تړاو نه لري، له دې آیت او په دې ځای کې دا موضوع راایستل په حقیقت کې د بحث له اصلي موضوع انحراف او په غلط لوري تګ سره مترادف کار دئ، دا آیت په دې ارتباط راغلی چي ولې هغه بُتان لمانځئ چي په خپل لاس مو تراشلي، ولې د رب العالمین پر ځای هغه څه لمانځئ چي تاسو په خپل لاس جوړ کړي، نه یوازي ستاسو په پیدایښت کې څه ونډه نه لري بلکي تاسو دوی پیدا کړي او جوړ کړي؟!!

د بحث موضوع دا نه ده چي انسان په خپلو کړو وړو کې څومره اغېز او استقلال لري.

- له چا سره چي د قرآن د ځلاندي رڼا یوه تته شمع هم وي او د قرآن له لارښوونو ئې لږ څه هم په برخه شوې وي په دې پوهېږي چي د قرآن له نظره انسان محکوم او مجبور نه دئ پیدا شوی، بلکي د خپلي لاري په انتخاب کې آزاد دئ، له کفر او ایمان یو په خپله خوښه انتخابوي، انتخاب د ده له لوري دئ او إذن او توفیق د الله له لوري.
- انسان د خپل فعل فاعل، د خپل کسب کاسب او د خپل عمل عامل دئ، د فعل او عمل لپاره د فاعل، کاسب او عامل په ځای د خالق یا موجد لفظ کارول له هیڅ پلوه د توجیه وړ نه دئ، فعل او عمل (شی) نه دئ چي د خلق اطلاق پرې وشي او موجد ورته په ګوته شي، چا چي په لومړي ځل دا بحث پیل کړی او د (فعل او عمل) لپاره ئې د (خلق) لفظ کارولی همدا د الصافات د سورې له دغه ۹٦ مبارك آیت ئې غلطه انتباه اخیستې، آیت وایي: وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ * دوی دا آیت داسي ژباړي: او الله هم تاسو پیدا کړي یئ او هم ستاسو عملونه! یعني دا تاسو نه یئ چي خپل عملونه تر سره کوئ بلکي ستاسو عملونه هم د الله تعالی له لوري پیدا کېږي!! د خپلو عملونو پرېکړه تاسو نه کوئ؛ الله تعالی ئې کوي!!

د دغي ژباړي او استدلال په اړه باید ووایو:

دا ژباړه ناسمه او د آیت د مراد او مقصد خلاف ده. راشئ د دې آیت الفاظو ته لږ ځیر شو او وګورو چي د آیت دقیقه او سمه ترجمه کومه ده؟ دا په اصل کې د ابراهیم علیه السلام د هغي جامع وینا یوه برخه ده چي خپل مشرك قوم ته ئې کړې، په صحیح ترجمې او معنی ئې په هغه صورت کې سم پوهېدی شو چي دا آیت او ترې مخکینی یو ځای په پام کې ونیسو، د دواړو آیتونو ترتیب داسي دئ:

قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ الصافات

وئې ویل: آیا د هغه څه عبادت کوئ چې تاسو ئې (په خپله) تراشئ؟ حال دا چې الله تعالی هم تاسو پیدا کړي یئ او هم هغه څه چې تاسو ئې جوړوئ.

په مخکیني آیت کې د دوی بُتان د ماتنحتون په نامه یاد شوي او په وروستني آیت کې همدا (ماتنحتون) د (ماتعملون) په صیغه راغلي، یعني الله تعالی هم تاسو پیدا کړي یئ او هم هغه بتان چې تاسو په خپل لاس جوړ کړي.

دلته (ما تعملون) داسي دئ لکه په لاندنیو آیتونو کې چې راغلي:

أَوَ لَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَٰمًا فَهُمْ لَهَا مَٰلِكُونَ ﴿٧١﴾ یس

آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې موږ هغه څاروي ورته پیدا کړل چې زموږ لاسونو جوړ کړي او اوس ئې دوی خاوندان دي.

او یا دا آیت:

لِيَأْكُلُوا۟ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٥﴾ یس

د دې لپاره چې مېوه او هغه څه ئې وخوري چې دوی په خپلو لاسونو جوړ کړي، نو آیا شکر نه کوي؟!

نو د دې آیت (وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ) دا الفاظ (وَمَا تَعْمَلُونَ ) داسي تعبیرول چې الله تعالی د انسان عملونه پیدا کوي، غلط تعبیر دئ، له دې آیت دا انتباه اخیستل چې انسان په خپل عمل کې هیڅ راز استقلال نه لري ډېره بې بنسټه انتباه ده.

---

قَالُوا۟ ٱبْنُوا۟ لَهُۥ بُنْيَٰنًا فَأَلْقُوهُ فِى ٱلْجَحِيمِ ﴿٩٧﴾ فَأَرَادُوا۟ بِهِۦ كَيْدًا فَجَعَلْنَٰهُمُ
ٱلْأَسْفَلِينَ ﴿٩٨﴾ وَقَالَ إِنِّى ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾ رَبِّ هَبْ لِى مِنَ
ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠٠﴾ فَبَشَّرْنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعْىَ قَالَ يَٰبُنَىَّ إِنِّىٓ
أَرَىٰ فِى ٱلْمَنَامِ أَنِّىٓ أَذْبَحُكَ فَٱنظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ
سَتَجِدُنِىٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٠٢﴾ فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾
وَنَٰدَيْنَٰهُ أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾
إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْبَلَٰٓؤُا۟ ٱلْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾ وَفَدَيْنَٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى
ٱلْءَاخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١١٠﴾ إِنَّهُۥ مِنْ

عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١١﴾

وئې ویل: یو بنیان ورته جوړ کړئ او د لمبه ناك اور په کندي کې ئې وغورځوئ، نو د ده په اړه ئې د یوه تدبیر اراده وکړه خو موږ دوی په خپله لاندي شوي کړل. او وئې ویل: زه خو د خپل رب په لوري تلونکی یم، یقین لرم چې هغه به حتماً لار راوښیي، اې زما ربه! د صالحینو له ډلي ئې راپه برخه کړې، نو د یوه صبرناك زلمي زېری مو ورکړ، نو چې کله له ده سره د سعي (عمر) ته ورسېدو، وئې ویل: اې گرانه زویه! په خوب کې وینم چې تا ذبح کوم، وگوره چې ستا رأیه څه ده؟ هغه وویل: پلار جانه! په کوم کار چې گمارل شوی یې هغه تر سره کړه، که خدای کول ما به د صبر کوونکو له ډلي ومومې، کله چې دواړه (خپل رب ته) تسلیم شول او هغه ئې پړمخي پرې ایست او غږ مو ورته وکړ چې اې ابراهیمه! بې شکه چې تا خپل خوب رښتیا کړ، موږ خو نېکانو ته داسي بدله ورکوو، یقیناً چې دا څرگنده ابتلاء او آزموینه وه او لویه قرباني مو په بدل کې ورکړه او د ده په اړه مو په وروستنیو کې دا (خبره) پرېښوده چې پر ابراهیم دي سلامونه وي، همدا راز نېکانو ته بدله ورکوو، یقیناً چې هغه زموږ د مؤمنو بندگانو له ډلي دئ.

---

(۹۷-۱۱۱)- په دې مبارکو آیتونو کې د ابراهیم علیه السلام د قصې دا برخي مومو:

- قوم د ده د وژلو او په سره اور کې د اچولو پرېکړه وکړه، غوښتل ئې د ده د تعذیب وېروونکې صحنه ټول خلك په خپلو سترگو وگوري او په دې سره ټول هغه خلك ووېروي چې د نمرود او نمرودیانو له دین د بغاوت لار غوره کوي او د ابراهیم علیه السلام په لار د تلو هوډ کوي، د لمبه ناك اور ژوره کنده ئې ورته جوړه کړه، خلکو ته ئې وویل چې د کندي په کیندلو او د اور لپاره د لرگیو د راغونډولو په سپېڅلي کار کې برخه واخلئ؛ او په دې توگه د خپلو معبودانو رضاء تر لاسه کړئ، د آیت له فحوی معلومېږي چې د ابراهیم علیه السلام د سوزولو لپاره هم کوم بنیان جوړ شوی او هم جحیم یعني د سره اور کنده، ښایي له بنیان به مراد داسي ځلی وي چې ابراهیم علیه السلام به ئې د هغه له سر د منجنیق په وسیله په اور کې اچولی وي. ځکه دا آیت وایي: وئې ویل: یو بنیان ورته جوړ کړئ او د اور په کندي کې ئې وغورځوئ، یعني بنیان بېل ځای وو او جحیم بېل ځای، د دوی تدبیر معکوسه نتیجه ورکړه، خپل مراد ته په رسېدو کې پاتي راغلل، ابراهیم علیه السلام له هغه اور روغ رمټ ووت، په دې سره ټولو خلکو ته د ابراهیم علیه السلام د لاري حقانیت او د نمرودیانو د مذهب بطلان ثابت شو.
- ابراهیم علیه السلام له عراق د هجرت پرېکړه وکړه او وئې ویل: زه خو د خپل رب په لوري تلونکی یم، یقین لرم چې هغه به حتماً لار راوښیي.

- ډېر کلونه وروسته او هغه مهال چې ابراهيم عليه السلام سپين ږيرى شوى وو؛ د زوى درلودو هيله ئې په زړه کې راوټوکېده او په دې اړه ئې خپل رب ته په دې الفاظو دعاء وکړه: اې زما ربه! د صالحينو له ډلې ئې راپه برخه کړې، يعني يو صالح زوى راکړې، الله تعالى د ده دعاء اجابت کړه او د يوه صبرناك زلمي زېرى ئې ورکړ.
- هغه مهال چې زوى ئې له ده سره د يو ځاى ګرځېدو شو او تنکى ځوان ترې جوړ شو؛ داسې خوب ئې وليد چې تعبير ئې د الله تعالى لپاره د خپل زوى ذبح کول وو، نو خپل يوازينى زوى اسمعيل عليه السلام ته ئې وويل: ګرانه زويه! په خوب کې وينم چې تا ذبح کوم، وګوره چې ستا رأيه څه ده؟ هغه له ځنډ او تأمل پرته ورته وويل: پلار جانه! په کوم کار چې ګمارل شوى يې هغه تر سره کړه، که خداى کول ما به د صبر کوونکو له ډلې ومومې. کله چې دواړه د خپل رب پرېکړې ته تسليم شول، پلار د خپل يوازيني زوى قربانۍ ته او زوى د الله تعالى لپاره شهادت ته چمتو شول؛ او هغه ئې د ذبح کولو لپاره پړمخې پرې ايست؛ دغه مهال د الله تعالى له لوري پرې غږ شو چې اې ابراهيمه! بې شکه چې تا خپل خوب رښتيا کړ، موږ خو نېکانو ته داسې بدله ورکوو، کومه بدله؟ په يوه ستر امتحان کې د بريا توفيق، يقيناً چې دا څرګنده ابتلاء او آزموينه وه او په هغې کې بريا د الله تعالى له لوري ستره بدله، پر دې سربېره مو لويه قرباني په بدل کې ورکړه او د ده په اړه مو په وروستنيو کې دا خبره پرېښوده چې پر ابراهيم دې سلامونه وي، همدا راز نېکانو ته بدله ورکوو، يقيناً چې هغه زما د مؤمنو بندګانو له ډلې وو. دلته د بدلې څو نور موارد هم ښودل شوي چې يوه ئې لويه قرباني ده، چې مراد ئې يا هغه پسه دئ چې الله تعالى د اسمعيل عليه السلام پر ځاى د ده تر چاړې لاندې کړ او يا هغه قرباني چې د قيامت تر ورځې پورې به ئې هر کال په لکونو مؤمنان په همدې ورځ او په همغه ځاى کې چې اسمعيل عليه السلام قرباني کېدو وړاندې کوي، دلته دوهم تعبير له دې کبله دقيق برېښي چې په ورپسې آيت کې ويل شوي: او د ده په اړه مو په وروستنيو کې دا خبره پرېښوده چې پر ابراهيم دې سلامونه وي. په وروستنيو کې د قربانۍ هغه دود هم د ابراهيم عليه السلام په سنت عمل کول دي.

---

وَبَشَّرۡنَٰهُ بِإِسۡحَٰقَ نَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٢﴾ وَبَٰرَكۡنَا عَلَيۡهِ وَعَلَىٰٓ إِسۡحَٰقَۚ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحۡسِنٞ وَظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ مُبِينٞ ﴿١١٣﴾

او د اسحاق زېرى مو ورکړ؛ د صالحينو له ډلې يو نبي؛ او پر ده او اسحاق مو برکت نازل کړ، په داسې حال کې چې له اولاد ئې څوك نېك او څوك په څرګنده توګه پر خپل ځان ظلم کوونکى.

---

(١١٢-١١٣)- په دې مبارکو آيتونو کې ابراهيم عليه السلام ته د نېکې بدلې څو نورو مواردو

ته اشاره شوې: ۱- د الله تعالی له لوري پر مخکيني حليم زوی (اسمعيل عليه السلام) سربېره د بل زوی اسحاق عليه السلام زېری ورکړ شو؛ چې هغه هم د صالحينو له ډلې يو نبي وو، ۲- ده او اسحاق عليهما السلام ته برکتونه ورپه برخه شول، ۳- الله تعالی ډېر اولادونه ورکړل، په اولاد کې ئې ګڼ شمېر پيغمبران مبعوث شول، په داسي حال کې چې له اولاد ئې ځيني نېك او ځيني په څرګنده توګه پر خپل ځان ظلم کوونکي ول.

د اسحاق عليه السلام په اړه د قرآن وينا ډېره واضح ده او په دې اړه بشپړ صراحت لري چې هغه تر مخکيني زوی (اسمعيل عليه السلام) وروسته پيدا شوی، لومړی ئې د اسمعيل عليه السلام يادونه په دې الفاظو کړې: فَبَشَّرۡنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٖ ۱۰۱ : نو د يوه صبرناك زلمي زېری مو ورکړ، يعني په ځوانۍ کې د حلم (صبر او درايت) خاوند، د قربانۍ يادونه هم د دغه صبرناك زوی په اړه کوي، بيا د اسحاق عليه السلام يادونه په دې الفاظو سره کوي: وَبَشَّرۡنَٰهُ بِإِسۡحَٰقَ نَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ۱۱۲ : او د اسحاق زېری مو ورکړ؛ د صالحينو له ډلې يو نبي، د قرآن دا وينا په بشپړ صراحت سره ښيي چې لومړی د يوه حليم زوی زېری ورکړی شوی او بيا د قربانۍ له پېښې وروسته د دوهم زوی چې اسحاق نومېدو او صالح نبي وو زېری ورکړی شوی. که څه هم دلته د لومړي زوی نوم نه دئ اخيستل شوی او يوازې په څو ځانګړتياوو سره توصيف او معرفي شوی، په ځوانۍ کې حليم وو، له پلار سره ئې وعده وکړه چې ذبح کېدو ته چمتو دئ او خپله وعده ئې رښتينې کړه، خو قرآن په نور ځايونو کې وضاحت کړی چې دا حليم زلمی اسمعيل عليه السلام وو، تل ئې هغه مهال د ده نوم تر اسحاق عليه السلام وړاندې ياد کړی چې د ابراهيم عليه السلام د اولاد يادونه کوي، په يوه آيت کې ئې دی د صابر په صفت ستايلی او يو ځای ئې د صادق الوعد په صفت؛ او دا په ډېر صراحت سره ښيي چې دا حليم زلمی اسمعيل عليه السلام وو.

او دا هغه خبره ده چې يهودان او د دوی سپېڅلي کتابونه ئې نه مني، د دوی د مذهب بنسټ پر دې غلطي عقيدې اېښودل شوی چې اسحاق عليه السلام د ابراهيم عليه السلام يوازينی اصلي مشر زوی دئ، د نبوت مقام له ده دغه مشر زوی ته په مېراث رسېدلی. دوی د هاجر رضی الله عنها په اړه کرکجنه ژبه کاروي، ګواکې ابراهيم عليه السلام هغه د سارا رضی الله عنها په وينا له کوره شړلې وه، د هاجر رضی الله عنها په اړه د دوی کرکجن اظهارات سړي ته د شيعه وو هغه اظهارات ورپه يادوي چې دوی د عائشې رضی الله عنها په اړه کړي!! راشئ وګورو چې بايبل په دې اړه څه وايي.

بايبل ادعاء کوي چې اسحاق عليه السلام د ابراهيم عليه السلام هغه زوی دئ چې د قربانۍ لپاره غوره شوی وو، د قربانۍ ځای ئې په فلسطين کې ګڼي، دا مني چې اسمعيل عليه السلام د ده مشر زوی وو خو دا نه مني چې هغه د قربانۍ لپاره غوره شوی وو!! دا په داسي حال کې چې په خپله اعتراف کوی چې ده ته ويل شوي وو: خپل يوازينی زوی دي قرباني کړه، د يوازيني زوی اطلاق فقط په مشر زوی کېدی شي نه په کشر زوی؛ او هغه

هم تر هغه چې بل ورور ئې پيدا شي، د دې خبرې معنی خو دا ده چې دا يوازينی زوی اسمعيل عليه السلام وو؛ او اسحاق عليه السلام هغه مهال پيدا شوی چې د اسمعيل عليه السلام د قربانۍ پېښه نژدې ديارلس څوارلس کاله وړاندې تېره شوې وه!! يعني هغه نژدې ديارلس کاله تر ده مشر وو.

بايبل په دې اړه له داسي يوه څرگند حقيقت انکار کوي چې د لمر په څېر روښانه دئ، د ابراهيم عليه السلام له زمانې او له هغې ورځې چې مبارکه کعبه د ده او اسمعيل عليهما السلام په لاسونو جوړه شوه، تر نن پورې په تېرو نژدې څلورو زرو کلونو کې په سلگونو مليونو خلکو د دغې کعبې طواف کړی او دا لړۍ تر اوسه روانه ده، هر کال په مليونونو خلك د صفا او مروې تر منځ د هاجر سعي راپادوي، د اسمعيل عليه السلام د ذبحې په ځای کې الله تعالی ته قرباني وړاندې کوي، د اسمعيل عليه السلام اولاد بني اسمعيل په مکې مکرمې او د هغې شاوخوا سيمو کې مېشت دي، بايبل دا ټول تاريخي شواهد له پامه غورځولي او داسي بې بنسټه ادعاء ئې کړې چې د ثبوت لپاره ئې هيڅ دليل نه شي وړاندې کولی، که ابراهيم عليه السلام په بل ځای کې کوم معبد جوړ کړی وی او د خپل زوی د قرباني کولو مظاهره ئې په کوم بل ځای کې کړې وی نو نن به خلك هغه معبد ته تلل او په هغه ځای کې به ئې قرباني وړاندې کوله!!

بايبل تر دې عنوان (د ابراهيم امتحان) لاندې ليکلي: (څه وخت تېر شو، خدای وغوښتل چې ابراهيم امتحان کړي، نو هغه ته ئې غږ کړ: اې ابراهيمه! خپل يوازينی زوی يعني اسحاق چې ډېر درباندې گران دئ، درسره روان کړه او د موريا سيمې ته ولاړ شه او هلته ئې د هغه غره پر سر د سوزېدونکې هديې په توگه قرباني کړه، چې زه به ئې دروښيم، ابراهيم سحر وختي پاڅېدو، څه د سوند لرگي ئې د قربانۍ سوزولو لپاره په خره بار کړل، زوی او دوه نوکران ئې له ځان سره په همغه لوري روان کړل او درې ورځې وروسته ئې هغه ځای له لرې وليد، نوکرانو ته ئې وويل: تاسو له خره سره دلته پاتې شئ، زه او زوی مې ځو چې هلته د خدای عبادت وکړو ... لرگي ئې اسحاق ته ورپه شا کړل او په خپله ئې چاړه او هغه څه واخيستل چې د قربانۍ لرگي به پرې بلوي، ... اسحاق پوښتنه ترې وکړه: موږ لرگي او اور راسره لرو خو د قربانۍ وری چېرې دئ؟ ځواب ئې ورکړ چې خدای به د ورې بندوبست وکړي!! ... کله چې هغه ځای ته ورسېدل، لرگي ئې پرې کېښودل او اسحاق ئې وتاړو او پر لرگو ئې پرې باسو، ... چاړه ئې اوچته کړه چې اسحاق قرباني کړي، په همدې وخت کې د خدای فرشتې له آسمانه پرې غږ کړ: ابراهيمه ابراهيمه! چاړه پر زمکه کښېږده او زوی ته دې تاوان مه رسوه، اوس پوه شوم چې د خدای مطيع بنده يې، دا ځکه چې يوازينی زوی دې ترې ونه سپماوو!! )

دلته څو اعتراضات لرو:

- په دې وخت کې اسحاق عليه السلام د ابراهيم عليه السلام يوازينی زوی نه وو، د

بايبل د اعتراف له مخې اسمعيل عليه السلام تر ده وړاندې پيدا شوی وو. که فرشتې ورته ويلي وي چې يوازينی زوی دې له خدايه ونه سپماوو نو دا بايد اسحاق نه بلکې اسمعيل عليه السلام وي. ځکه د يوازيني زوی صيغه يوازې پر اسمعيل عليه السلام صدق کولی شي. د مشر زوی په شته والي کې کشر زوی ته يوازينی زوی نه شي ويل کېدی.

- د بايبل وينا داسې ده چې ګواکې ابراهيم عليه السلام خپلو نوکرانو ته رښتيا خبره ونه کړه، د دې په ځای چې ووايي زوی مې قرباني کوم ورته وئې ويل: موږ عبادت کوو او بېرته راځو!! اسحاق عليه السلام ئې هم په حقيقت نه وو پوه کړی. معلومه نه ده چې هلته ئې په زور راځملولی او که په خپله خوښه قربانۍ ته چمتو شوی، د بايبل له الفاظو خو داسې معلومېږي چې هغه ئې په زور تړلی او د لرګيو له پاسه ئې څملولی!!

قرآن د بايبل دا ادعاګانې ردوي، د اسمعيل عليه السلام د قرباني کولو خبره کوي، خو داسې چې ابراهيم عليه السلام د خپل خوب او د ده د قرباني کولو خبره ورته کړې او هغه په ځواب کې ورته ويلي: مهربانه پلاره! په څه چې الله تعالی مأموره کړی يې هغه تر سره کړه، إن شاء الله ما به صابر ومومې، اسمعيل ئې له ځان سره روان کړی، د قربانۍ لپاره ئې پرمخې څملولی، چاړه ئې په غاړه ورته اېښې، خو چې سترګې ئې پرانيستې د اسمعيل پر ځای ئې پسه تر خپلې چاړې لاندې موندلی!!

بايبل د ټولو تاريخي شواهدو خلاف او د ابراهيم عليه السلام په اړه د يوه ناروا او ظالمانه تور په توګه ليکي چې ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن هاجر د ساره په وينا له کوره وشړله او هغه په بېر شبع کې ځای په ځای شوه: (يوه ورځ ساره متوجه شوه چې د مصري هاجر زوی اسمعيل اسحاق ځوروي، نو ابراهيم ته ئې وويل: دا وينځه او زوی ئې له کوره وباسه، ځکه اسمعيل به زما د زوی اسحاق تر څنګ ستا وارث نه وي!! دې خبرې ابراهيم سخت وځوراوو، ځکه چې اسمعيل هم د ده زوی وو، خو خدای ورته وفرمايل: د خپل زوی او وينځې په اړه اندېښنه مه کوه، څه چې ساره ويلي همغسې وکړه!! نو ابراهيم سحر وختي پاڅېدو، ډوډۍ او د اوبو ډك ژی ئې د هاجر پر اوږو کېښود او له زوی سره ئې يو ځای له کوره وايسته، هاجر په بېر شبع کې لالهانده ګرځېده... کله چې د مشك اوبه تمامې شوې، خپل زوی ئې د بوټو لاندې پرېښود او دا سل ګزه لرې کښېناسته او له ځان سره ئې وويل: نه غواړم د خپل زوی مرګ په خپلو سترګو وګورم او په زوره زوره ئې وژړل، دغه وخت خدای د ماشوم چيغو ته متوجه شو او د خدای فرشتې هاجر ته غږ کړ: اې هاجر! څه شوي، مه ژاړه! ځکه خدای ستا د ماشوم چيغې اورېدلې دي، ورشه هغه درواخله او په خپلې غېږ کې ئې ونيسه... بيا خدای د هاجر سترګې پرانستلې او هغې په خپلې خوا کې چينه وليده، مشك ئې ترې ډك کړ او خپل زوی ته ئې اوبه ورکړې، خدای له اسمعيل سره وو، هغه د فاران په دشتې کې ستر شو او مور ئې يوه مصرۍ نجلۍ ورته وکړه...)

دلته ډېري داسي خبري تر سترګو کېږي چي د حقيقت خلاف او د يوه ستر پيغمبر په اړه ستر تور او اتهام ګڼل کېږي:

- بايبل له يوې خوا ليکي چي دغه مهال اسمعيل عليه السلام دومره وړوکی ماشوم وو چي مور په غېږ کي ګرځاوو، د يوه بوټي سيوري لاندي ئې څملاوو، خو له بلي خوا ليکي چي ساره متوجه شوه اسمعيل اسحاق ځوروي!! پوښتنه کوو: آيا يو تی خور وړوکی ماشوم هم کولی شي بل ماشوم هومره وځوروي چي د ساره په څېر صبرناکه مور ئې ونه شي زغملی او له ابراهيم عليه السلام وغواړي چي دا او مور ئې له دې کوره وشړه؟!!
- ټول تاريخي شواهد په دې شهادت ورکوي چي ابراهيم عليه السلام؛ د الله تعالی په حکم؛ خپله مېرمن هاجر رضي الله عنها او خپل زوی اسمعيل عليه السلام د مکې په وادي کي پرېښي. دلته د اسمعيل عليه السلام تر پښو لاندي د زمزم چينه راخوټېدلې او همدلته د ده له نسله د بني اسمعيل لويه قبيله جوړه شوې.
- نه ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن له کوره شړلې ده او نه دا په بئر شبع کي ځای په ځای شوې او نه هغه چينه په بئر شبع کي راخوټېدلې، په دې اړه د بايبل ادعاء په بشپړه توګه بې بنسټه او د تاريخي حقائقو خلاف ده. که دا کار شوی وی نو اوس به خلکو د زمزم د چينې په ځای د بئر شبع چينې ته مخه کوله او هغې ته به ئې دومره په درنه سترګه کتل چي زمزم ته ګوري!!
- څنګه به د ابراهيم عليه السلام په څېر يو ستر شخصيت، د ګڼ شمېر پيغمبرانو پلار او نيکه، داسي د عدالت او عاطفې خلاف کار کوي چي خپله يوه مېرمن د بلي د خوشحالولو لپاره په داسي حال کي له کوره وشړي چي تی خور ماشوم ئې په غېږ کي دئ؟!!
- قرآن دا خبره له بنسټه ردوي او وايي چي ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې اسمعيل عليه السلام د مکې په بېديا کي هغه مهال پرېښودل چي هغه ناو سپېره ډاګ وو او هېڅ بوټی په کي نه راټوکېدو.
- دا کار ئې د الله تعالی په امر او په دې موخه کړی وو چي دلته به څو کاله وروسته د الله تعالی محترم کور (بيت الله) جوړوي.
- د دوی لپاره ئې د رزق او د دوی په لوري ئې د خلکو د زړونو د راماتېدو دعاء وکړه. دا ځکه چي په هغي وچي بېديا کي نه بل انسان اوسېدو او نه بوټي، وني او اوبه وې.
- مطمئن وو چي الله تعالی به دا دعاء داسي قبلوي لکه ده ته چي ئې په زړښت کي اولاد ورکړ. د دعاء له الفاظو معلومېږي چي اسمعيل تر اسحق مشر وو.
- د دعاء په الفاظو کي د ده قوي عاطفه او د مېرمني او زوی په نسبت د ده ژور زړه سوی او قوي مينه د ځپانده سيند په څېر انځور شوې. د دې دعاء په اورېدو سره به د هر مهربان پلار له سترګو اوښکي بهېږي.

که څه هم د بايبل ليکوال هڅه کړې چي اسحاق يوازينی زوی او د اسمعيل عليه

السلام همزولی معرفي کړي خو داسي الفاظ ئې کارولي چي له ده سره ئې د دې ادعاء په اثبات کې مرسته نه ده کړې، برعکس د ده له اظهاراتو هم معلومېږي چي اسمعیل تر اسحاق مشر وو، هغه الفاظ دا دي: کله چي هاجر حامله شوه ... ساره د دې چلند ونه شو زغملی، ابراهیم علیه السلام ته ئې شکایت وکړ. اسمعیل اسحاق څوراوو نو څکه ساره له ابراهیم علیه السلام وغوښتل چي دا له کوره وشړي. له دې الفاظو خو معلومېږي چي اسمعیل علیه السلام تر اسحاق علیه السلام مشر وو او د یوازیني زوی خطاب خو پر ده صدق کوي نه پر اسحاق علیه السلام.

دې ته مو هم پام وي چي په مسلمانانو کې هم داسي اشخاص شته او حتی په مفسرینو کې!! چي د بایبل د غلطو اظهاراتو او ادعاءگانو تر اغېز لاندي او د قرآن د صریح وینا خلاف دا خبره کوي چي گواکې اسحاق علیه السلام ذبیح دئ نه اسمعیل علیه السلام!! حتی ځینو صحابه وو او تابعینو ته دا رأیه منسوب کړي!! زه نه پوهېږم پر دغو خلکو څه مصیبت نازل شوی، څنگه دقرآن صریح آیتونه له پامه غورځوي، ولي دا هڅه کوي چي د محرف بایبل غلطي ویناوي توجیه کړي که څه هم د دې توجیه لپاره قرآن داسي تأویل کړي چي څرگند تحریف ته ورته وي!! قرآن تل د اسمعیل علیه السلام نوم تر اسحاق علیه السلام وړاندي او د صابر او صادق الوعد په نامه ئې یادوي (إِنَّهُ كانَ صادِقَ الْوَعْدِ)، (وَ إِسمَعِيلَ وَ إِدْرِيس وَ ذَا الْكِفْلِ كلٌّ مِّنَ الصبرِينَ)؛ او په دې سره هغي وعدې ته اشاره کوي چي له خپل پلار سره ئې کړې وه او وفا ئې پرې وکړه، هغه وعده چي پلار ته ئې ویلي وو: پلار جانه هغه څه تر سره کړه چي د الله تعالی له لوري پرې گمارل شوی یې إن شاء الله ما به صابر ومومې!! دې ته مو هم باید پام وي چي د قربانۍ دا ستره آزموینه هغه مهال لا زیاته گرانه کېږي او تر سره کول ئې لوی زړه او ستر ایمان غواړي چي څوك د یوازیني زوی قرباني کولو ته وبلل شي، ابراهیم علیه السلام په دغي ستري آزمویني آزمویل شوی وو، تر هغه ئې بل زوی نه درلود چي دا آزموینه تر سره شوه، الله تعالی له دې وروسته د اسحاق علیه السلام او په هغه پسي د یعقوب علیه السلام زیری ورکړ.

دا پوښتنه راولاړېږي چي الله تعالی ولي او د کوم حکمت له مخي ابراهیم علیه السلام د یوازینی او مشر زوی په ذبح کولو مأمور کړ او هغه هم نه د ویښې په حالت کې په کومي وحي سره بلکي د یوې رؤیا له لاري؟ د دې ځواب دا دئ: په دې سره مؤمنانو ته لارښوونه شوې چي ستاسو جد ابراهیم علیه السلام د الله تعالی د یوه داسي حکم د تعمیل لپاره د خپل زوی ذبح کولو ته چمتو شو چي د رؤیا او خوب له لاري ورته شوی، زوی ئې اسمعیل علیه السلام د خپل پلار د دغي رؤیا له کبله دې ته چمتو شو چي پر غاړه ئې چاړه کېښودی شي او ذبح شي، خو الله تعالی تاسو ته په خپل کتاب قرآن کې په صریحو الفاظو حکم کړی چي د الله په لار کې د سر او مال قربانۍ ته چمتو اوسئ، دا به عجیبه وي چي تاسو ځان ابراهیم علیه السلام ته منسوبوئ، هغه د خپل ملت او مشرب جد

ګنئ، د هغه په لار د تلو دعوی کوئ خو کله چې د الله دين له تاسو د قربانۍ غوښتنه وکړي ډېره کوئ!! ځيني مو بهانې وړاندې کوي، ځيني مو حيلې جوړوي او ځيني مو تأويلونه کوي، موخه ئې دا وي چې له دې قربانۍ وژغورل شئ!!

وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١١٤﴾ وَنَجَّيۡنَٰهُمَا وَقَوۡمَهُمَا مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ
﴿١١٥﴾ وَنَصَرۡنَٰهُمۡ فَكَانُواْ هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿١١٦﴾ وَءَاتَيۡنَٰهُمَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلۡمُسۡتَبِينَ ﴿١١٧﴾
وَهَدَيۡنَٰهُمَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿١١٨﴾ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِمَا فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿١١٩﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰ
مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٢١﴾ إِنَّهُمَا مِنۡ عِبَادِنَا
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٢٢﴾

او يقيناً چې پر موسی او هارون مو لورېينه وکړه او دوی دواړه او د دوی قوم مو له ستر کړاو وژغورل؛ او د دوی ملاتړ مو وکړ چې له کبله ئې همدا دوی غالب ول؛ او دوی دواړو ته مو همغه ښه بيانوونکی کتاب ورکړ؛ او دواړو ته مو سمه لار وښوده؛ او د دواړو په اړه مو په وروستنيو کې (دا وينا) پرېښوده چې پر موسی او هارون دې سلام وي، يقيناً چې موږ نېکانو ته همداسې بدله ورکوو، يقيناً چې دواړه زموږ د مؤمنو بندګانو له ډلې ول.

(١١٤-١٢٢)- د برياليو بله بېلګه موسی او هارون عليهما السلام دي چې دلته د دوی په اړه ويل شوي:

- الله تعالی پر موسی او هارون عليهما السلام لويه لورېينه وکړه، دوی دواړه او د دوی قوم ئې له ستر کړاو وژغورل، د دښمن په وړاندې ئې د دوی ملاتړ وکړ چې له کبله ئې همدا دوی بريالي او برلاسي شول.
- دوی ته ئې د تورات په څېر داسې کتاب ورکړ چې هر څه په کې بيان شوي وو، الله تعالی په سمې لار د تلو توفيق ورکړ.
- د دواړو په اړه ئې په وروستنيو کې دا وينا پرېښوده چې پر موسی او هارون عليهما السلام دې سلامونه وي.
- الله تعالی ټولو نېکانو ته همداسې بدله ورکوي، څه چې ئې له دوی سره کړې همداسې له هر نېك بنده سره کوي.
- دواړه د الله تعالی د مؤمنو بندګانو له ډلې ول.

وَإِنَّ إِلۡيَاسَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ أَتَدۡعُونَ بَعۡلٗا
وَتَذَرُونَ أَحۡسَنَ ٱلۡخَٰلِقِينَ ﴿١٢٥﴾ ٱللَّهَ رَبَّكُمۡ وَرَبَّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٢٦﴾
فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمۡ لَمُحۡضَرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿١٢٨﴾ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي
ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿١٢٩﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلۡ يَاسِينَ ﴿١٣٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٣١﴾ إِنَّهُۥ
مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٣٢﴾

او بې شکه چې الياس هم د دغو مرسلينو له ډلې وو، کله چې ئې خپل قوم ته وويل: آيا ځان ساتنه نه کوئ، آيا بعل لمانځئ (مرسته ترې غواړئ) او تر ټولو غوره خالق پرېږدئ، هغه الله چې هم ستاسو رب دئ او هم ستاسو د لومړنيو پلرونو رب؟! نو هغه ئې تکذيب کړ چې له کبله به ئې حتماً احضار شوي وي، مګر د الله مخلص بندګان؛ او د ده په اړه مو په وروستنيو کې (دا وينا) پرېښوده چې پر الياس دې سلام وي، يقيناً چې موږ نېکانو ته همداسې بدله ورکوو، يقيناً چې هغه زموږ د مؤمنو بندګانو له ډلې وو.

---

(۱۲۳-۱۳۲)- دلته د برياليو په ډله کې د الياس عليه السلام يادونه په دې توګه شوې:

- يقيناً چې الياس هم د دغو مرسلينو له ډلې وو، هغه مهال چې خپل قوم ته ئې وويل: آيا ځان ساتنه نه کوئ، آيا بعل لمانځئ او مرسته ترې غواړئ او تر ټولو غوره خالق پرېږدئ، هغه الله تعالی چې هم ستاسو رب دئ او هم ستاسو د لومړنيو پلرونو رب؟!
- نو هغه ئې تکذيب کړ چې له کبله به ئې حتماً احضار شوي وي.
- له دې بد برخليك هغه ژغورل شوي چې د الله مخلص بندګان ول.
- الله تعالی د ده په اړه په وروستنيو کې دا وينا پرېښوده چې پر الياس دې سلام وي.
- دا د الله تعالی ثابت او دائمي سنت دئ چې نېکانو ته همداسې بدله ورکوي.
- يقيناً چې هغه د الله تعالی د مؤمنو بندګانو له ډلې وو.

---

وَإِنَّ لُوطٗا لَّمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٣٣﴾ إِذۡ نَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ﴿١٣٤﴾ إِلَّا عَجُوزٗا فِي
ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿١٣٥﴾ ثُمَّ دَمَّرۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿١٣٦﴾ وَإِنَّكُمۡ لَتَمُرُّونَ عَلَيۡهِم مُّصۡبِحِينَ ﴿١٣٧﴾
وَبِٱلَّيۡلِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٣٨﴾

او بې شکه چې لوط هم له دغو مرسلينو وو، هغه مهال چې دی او د ده ټول اهل

مو وژغورل، په وروسته پاتو کې له یوې بوډۍ پرته، بیا مو نور ویجاړ کړل؛ او یقیناً چې تاسو سبا سبا او په شپه کې پرې تېرېږئ، نو آیا تعقل نه کوئ؟!

(۱۳۳-۱۳۸)- دلته د بریالیو او ژغورل شوو بل مثال لوط علیه السلام او د ده ټبر دئ چې په اړه ئې داسي ویل شوي:

- بې شکه چې لوط هم له دغو مرسلینو وو، هغه مهال چې دی او د ده ټول اهل مو وژغورل، په وروسته پاتو کې له یوې بوډۍ پرته. یوازې د ده هغه مېرمن له دې ژغورنې او بریا محرومه شوه چې د ده له ملګرتیا ئې ډډه وکړه او په وروسته پاتو کې پاتې شوه او د هغوی په برخلیك اخته شوه.
- بیا الله تعالی پر نورو هر څه رانسکور کړل او د دوی ورانه سیمه ئې د هر لیدونکي لپاره د پند او عبرت وسیله وګرځوله، قریش به د خپلو سفرونو په لړ کې د دې ورانې سیمي خوا ته سبا او ماښام تېرېدل.
- دوی ته ویل شوي: آیا تعقل نه کوئ؟!

وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٣٩﴾ إِذۡ أَبَقَ إِلَى ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ ٱلۡمُدۡحَضِينَ ﴿١٤١﴾ فَٱلۡتَقَمَهُ ٱلۡحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٞ ﴿١٤٢﴾ فَلَوۡلَآ أَنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ فِي بَطۡنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿١٤٤﴾ فَنَبَذۡنَٰهُ بِٱلۡعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيمٞ ﴿١٤٥﴾ وَأَنۢبَتۡنَا عَلَيۡهِ شَجَرَةٗ مِّن يَقۡطِينٖ ﴿١٤٦﴾ وَأَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ مِاْئَةِ أَلۡفٍ أَوۡ يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾ فَـَٔامَنُواْ فَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ ﴿١٤٨﴾

او یقیناً چې یونس هم له دغو پیغمبرانو وو، کله چې د ډکې کشتۍ په لور وتښتېدو. پچه ئې ورسره واچوله او دی پړ وخوت. نو لوی کب په داسي حال کې په خولې کې ګوله کړ چې (د خپل ځان) ملامتوونکی وو، که له تسبیح ویونکو نه وی نو تر هغې ورځې به د هغه په نس کې پاته وو چې (خلك) بیا راپاڅول کېږي. نو په داسي حال کې مو په لوڅ ډاګ وغورځاوو چې ناروغ وو؛ او د کدو بوټی مو پرې راشین کړ. او سلو زرو یا تر دې څه زیاتو (خلکو) ته مو استازی لېږلی وو، نو ایمان ئې پرې راوړ او تر یوه وخته مو مهلت ورکړ.

(۱۳۹-۱٤۸)- په دې مبارکو آیتونو کې د یونس علیه السلام په اړه ویل شوي:

- یونس هم له دغو پیغمبرانو وو چې بریا ئې په برخه شوې او له کړاوونو ژغورل شوي.

• هغه مهال چي د ډکي کشتۍ په لور وتښتېدو، د قوم له مخالفتونو ستومانه شو، خپل مأموريت ئې نيمگړی پرېښود، د تېښتي لار ئې غوره کړه او په کشتۍ کي سپور شو.

• کشتۍ په ناڅاپي توگه له حادثې سره مخامخ شوه، خبره د سورليو تر منځ پڅي ته ورسېده، انگېرنه ئې دا وه چي په سورليو کي کوم کس داسي گناه کړې چي له کبله ئې دا پېښه رامنځته شوې، بايد د قرعې له لاري دا کس معلوم شي او له کشتۍ لاندي وغورځول شي، په نتيجه کي ئې دی پر وخوت او سمندر ته وغورځول شو. يا ښايي سورليو به داسي انگېرلې وي چي د کشتۍ بار زيات دئ، که يو کس ترې کم نشي نو ټول به د طوفان له کبله غرقېږي، پرېکړه ئې کړې چي دا کس د قرعې له لاري غوره شي، په قرعه کي د يونس عليه السلام نوم راختلی.

• يوه کب په داسي حال کي په خولې کي گوله کړ چي ده خپل ځان ملامتولو، خپلي اشتباه ته متوجه شوی او پرې نادم وو.

• په همدې حالت کي ئې د خپل رب تسبيح ويله، که د تسبيح ويونکو له ډلي نه وی نو د قيامت تر ورځي او تر هغه به د کب په نس کي پاته وو چي خلك بيا راپاڅول کېږي.

• د همدې تسبيح او ندامت له کبله الله تعالی وژغورو؛ او په داسي حال کي ئې د سمندر ساحل کي په لوڅ ډاگ وغورځاوو چي د کب په خوله کي د پاته کېدو له کبله ناروغ وو.

• سيوري ته اړ وو، الله تعالی د کدو د بوټي سيوری ورپه برخه کړ.
• دی سلو زرو يا تر دې څه زياتو خلکو ته د پيغمبر په توگه لېږل شوی وو.
• خپل قوم ته له ستنېدو وروسته هغوی ايمان پرې راوړ او الله تعالی پر دوی نازلېدونکی عذاب تم کړ او تر يوه وخته ئې مهلت ورکړ.

لکه چي گورئ د يونس عليه السلام په قصې کي د الله د لاري مجاهدينو او دعوتگرانو ته يو ستر درس او لارښوونه پرته ده، دوی ته وايي: پام کوئ چي له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو په سبب خپله مبارزه نيمگړې پرېنږدئ، د خلکو مخالفتونه بايد تاسو مأيوس نه کړي، د خپل دعوت له پايلو او نتائجو مه مأيوسه کېږئ، سنگر مه پرېږدئ، دا گمان مه کوئ چي د سنگر په پرېښودو سره ستاسو ستونزي حل کېدی شي!! وگورئ يونس عليه السلام مخکي له وخته خپل سنگر پرېښود، له ولس او د دوی له ايمان راوړلو مأيوس شو، بلي سيمي ته ئې د تلو پرېکړه وکړه، نتيجه ئې دا شوه چي د کب په کومي کي پرېوځي!! خو کله چي ده په خپلي اشتباه اعتراف وکړ نو له هغه سخت مصيبت وژغورل شو، له مؤمنانو سره د الله تعالی معامله همداسي وي!!

څوك چي د يونس عليه السلام دا قصه لولي نو څو پوښتني ئې ذهن تخنوي:

١- دلته ولې په استثنايي توگه د يونس عليه السلام د قوم شمېر په گوته شوی حال دا چي په ټول قرآن کي د بل هيڅ پيغمبر د قوم شمېر نه دئ راغلی؟

۲- د کدو د بوټي د يادولو حکمت څه دئ؟
۳- ماهي تېر کړی که ئې په خپلې خولې کې ساتلی؟
په تفسيرونو کې به د دې پوښتنو ګڼ شمېر ځوابونه ومومئ، خو دقيق ځواب به هغه مهال ومومئ چې د يونس عليه السلام قصه په بايبل کې ولولئ، هغه مهال به پوه شئ چې قرآن په دې سره د بايبل غلطي ادعاءګاني تصحيح کړې!! راشئ دا قصه ولولو:
بايبل د (يونس) په نامه يو باب لري، د دې باب په مقدمه کې داسي راغلي: يونس نبي د خدای له لوري په دې وګمارل شو چې د آشور پلازمېني نينوا ته ولاړ شي، ... او خلك خدای ته راوبلي، خو يونس له دې ډډه کوي، دا ځکه چې د هغه ځای اوسېدونکي د اسرائيليانو دښمنان ول او د يونس هيله دا وه چې خدای دوی مجازات کړي!!! نو ځکه يونس نينوا ته د تلو په ځای ترشيش ته روان شو، ... خو د دې سفر په دوران کې خدای داسي څه وکړل چې دی نينوا ته په تلو مجبور شو!! د نينوا خلکو د خدای د کلام په اورېدو سره توبه وکړه او خدای ته ئې رجوع وکړه، يونس له دې کار خفه شو او خدای ته ئې شکايت وکړ، خو خدای ده ته وويل: بايد هغو خلکو ته ارزښت ورکړې چې ما پيدا کړي، ځکه خدای په خلکو کې توپير نه کوي!!!
دغه مقدمه کافي ده چې د دې کتاب په ماهيت پوه شو او ووايو چې له ځانه جوړ شوی جعلي کتاب دئ، څنګه ممکن ده چې الله تعالی يو څوك د پيغمبر په توګه غوره کړي او يوه قوم ته ئې په تلو مأمور کړي، دی انکار وکړي او په بل لوري روان شي؟! د بايبل د وينا معنی دا ده چې د ده خدای په خپل انتخاب کې کمزوری دئ، نه پوهېږي څوك د رسالت لپاره غوره کړي!! په داسي چا لاس ږدي چې د ده خبره نه مني او د رسالت وړتيا او اهليت په کې نشته!! د بايبل له منونکو پوښتنه کوم: تاسو نن او د موسی او عيسی عليهما السلام له بعثت څو زره کاله وروسته د تورات او انجيل له احکامو په دې خاطر سرغړاوی نه کوئ چې دا احکام د خدای له لوري دي، نو هغه پيغمبر به څنګه د خدای له حکم سرغړاوی کوي چې خدای په خپله غوره کړی او وحي ئې ورته کړې؟!!
بايبل ليکي: خدای يونس ته دا پيغام ولېږو: د نينوا لوی ښار ته ولاړ شه او اوسېدونکو ته ئې ووايه چې خدای داسي فرمايي: زه ستاسو له شرارتونو غافل نه يم، ډېر ژر به مو هلاك کړم!!
که پر الله تعالی د ايمان په رڼا کې دې خبرو ته ځير شو نو پوهېږو چې دا نه الهي پيغام کېدی شي او نه د يوه پيغمبر رسالت، داسي پيغامونه يوازي هغه څوك لېږي چې له يوه قوم سره د جنګ اراده لري، داسي پيغامونه د هيټلر او موسوليني په څېر جلادانو ته منسوبول صحيح دي خو الله تعالی ته ئې انتساب لوی ظلم او ستر جسارت دئ، الله تعالی د خپل رحمت او پېرزويني په سبب او د خلکو د هدايت لپاره پيغمبران لېږي، د عذاب پرېکړه هغه وخت کوي چې د خلکو د هدايت ټولې هڅې ناکامي شي، ولس خپل پيغمبر

ته د رد ځواب ورکړي، اتمام حجت وشي، نه د زړه سواندو پیغمبرانو علیهم السلام مسلسل دعوت څه نتیجه ورکړي او نه ئې معجزې، په دې وخت کې خلك په الهي عذاب گواښل هم معقول کار دئ او هم عادلانه، خو تر دې وړاندې گواښل له مهربان رب سره نه ښايي!!

تاسو گورئ چې بایبل او یهودي پلویان ئې حتی دا نه خوښوي چې د دوی خدای نورو قومونو ته پیغمبران ولېږي، یونس علیه السلام داسې معرفي کوي چې بل قوم ته ئې د هدایت په ځای د هلاکت تلوسه درلوده، د خپل خدای له امره ئې له دې کبله سرغړاوی وکړ چې غوښتل ئې بابل وران شي او په اوسېدونکو ئې د خدای عذاب نازل شي، د خدای دا خبره ئې هم ونه منله چې زه د ټولو انسانانو خدای یم، په دوی کې توپیر نه کوم، زما بندگانو ته ارزښت ورکړه!!

بایبل ورپسې لیکي: یونس چې نه ئې غوښتل نینوا ته ولاړ شي، فیصله ئې وکړه چې له خدای ترشیش ته وتښتي!!... په کشتۍ کې سور شو... طوفان راغی، نژدې وه کشتۍ غرقه شي... د دې لپاره پچه واچول شوه چې معلومه شي چا خدای غصه کړی... پچه د یونس په نامه وختله، یونس ئې سیند ته وغورځاوو... ماهي له کومي تېر کړ، درې ورځې د ماهي په نس کې پاته شو، یونس اوږده دعاء وکړه، خدای ماهي ته امر وکړ چې یونس په ساحل کې وغورځوه او ماهي همداسې وکړل!! خدای بیا یونس ته وویل: نینوا ته ولاړ شه او هغوی ته ووایه چې بد برخلیك درته منتظر دئ!! یونس اطاعت وکړ، نینوا ته ولاړ، چې لوی ښار وو، له یوه سر تر بل سر ئې رسېدل درې ورځې مزل غوښت، موعظه ئې پیل کړه، وئې ویل چې له څلوېښتو ورځو وروسته به ښار وران شي!! پاچا او ټول خلك ووېرېدل، توبه ئې وکړه... خدای هم پر دوی رحم وکړ او هغه بلا ئې دفع کړه!! خو یونس په دې کار سخت ناراضه او غصه شو!! ... خدای ته ئې وویل: ما ووژنه! تر دې ژوند مرگ راته غوره دئ!! خدای ورته وویل: آیا دا سم کار دئ چې ته د دې خلکو په ژغورنې غصه شوی یې؟ یونس له ښاره ووت چې وگوري څه پرې راځي، ناست وو چې ناڅاپې خدای یو بوټی راشین کړ، په ده ئې خپلې پاڼې وغوړولې، له سیوري ئې خوښ شو، خو سبا دا بوټی وچ شو، یونس په دې کار ډېر خفه شو...خدای ورته وویل: آیا د دې بوټي په وچېدو خفه شوې؟ ده ځواب ورکړ: هو!... خدای ورته وویل: ته د هغه بوټي لپاره خفه کېږې چې په یوه شپه کې راپیدا شو او په بله شپه کې له منځه ولاړ، سره له دې چې تا ئې په راپیدا کېدو کې هیڅ زحمت نه وو ایستلی، نو آیا زما زړه دې د نینوا لپاره ونه سوزېږي چې په هغه کې یوسل شل زره بې گناه ماشومان او ډېر حیوانات اوسېږي؟!!

په دې اړه څو عرائض لرم:

د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوم: دلته چې تا خدای ته کومه وینا منسوب کړې، یونس ته ئې ځواب ورکړی او هغه ته ئې ویلي: ته د هغه بوټي لپاره خفه کېږې چې په یوه شپه

کې راپیدا شو او په بله شپه کې له منځه ولاړ، سره له دې چې تا ئې په راپیدا کېدو کې هیڅ زحمت نه وو ایستلی، نو آیا زما زړه دې د نینوا لپاره ونه سوزېږي چې په هغه کې یوسل شل زره بې ګناه ماشومان او ډېر حیوانات اوسېږي؟!! دا ولې دلته خدای د یونس غوښتنه نه مني، د بابل خلکو ته د سزا په ورکولو کې تلوار نه کوي، د دوی توبه ئې قبوله کړه او عذاب ئې تم کړ؟ سره له دې چې دوی اسرائیلیان نه دي او ستا په وینا د خدای زامن نه دي!! دا وینا ستا د ټولو مخکینیو ویناوو خلاف ده او په ټولو تېرو کتابونو کې دا لومړی او یوازینی وار دئ چې ته خپل خدای ته دا صفت منسوبوې، تر دې د مخه خو تا خپل خدای داسي انځور کړی چې د عذابونو له نازلولو خوند اخلي، له اسرائیلیانو پرته د نورو قومونو په وژلو، شړلو او د دوی د کورونو په ورانولو خوشحاله کېږي، هغه پاچایان ئې نه دي بخښلي چې پر نورو قومونو ئې رحم کړی او د دوی د اسیرانو په وژلو کې ئې لټي کړې؟!! د الله تعالی په اړه ستا دا وینا سمه ده که مخکینۍ؟ دا ولې دلته خدای د یوه مهربان ذات په توګه معرفي کوې او نبي د یوه سخت زړي انسان په توګه، خو تر دې د مخه دې خدای سخت زړی او غضبناك معرفي کاوو او نبي زړه سواند؟ فقط یوه وجه په نظر راځي او هغه دا چې نبي باید داسي انځور شي چې د خپل قوم په اړه تعصب لري، که خدای د اسرائیلیانو په ضد د عذاب پرېکړه وکړي نو نبي ئې باید مخنیوی وکړي او که د اسرائیلیانو د دښمنانو په اړه د کومي پېرزویني پرېکړه کوي نو نبي باید داسي شدید اعتراض وکړي چې خدای ته ووايي: د دې حالت تر لیدو خو دا راته غوره ده چې زه مړ شم!!

که د بایبل دا کتاب د پیغمبر علیه السلام له بعثت وروسته لیکل شوی وي نو په یقین سره ویلی شو چې دا قصه ئې له قرآن اخیستې او په هغې کې ئې کرکجن تصرف او تحریف کړی او که تر دې د مخه لیکل شوی وي نو قرآن د هغې تصحیح کوي او حقیقت ئې په ګوته کوي. د بایبل د تدوین او په اوسنۍ بڼې کې د هغه د خپرولو واضح او یقیني تاریخ نه دئ معلوم، محققین وايي چې احتمالاً له شپږمي تر لسمي میلادي پېړۍ کې دا کار شوی.

قرآن فرمايي چې یونس علیه السلام په داسي سیمي کې مبعوث شوی وو چې د اوسېدونکو شمېر ئې سل زره یا څه زیات وو. دا یوازینی مورد دئ چې قرآن د یوه قوم د شمېر خبره کوي او هغه هم په دې توګه چې سل زره او یا څه ترې زیات او دا د دې لپاره چې قرآن د تاریخ او احصائیې کتاب نه دئ، قانون او لارښود دئ او ښايي دا هم د دې لپاره چې د بایبل د ادعاء پوچ والی په ګوته کړي، د بایبل خبره له مبالغې ډکه ده، دومره ښار چې اوږدوالی یا سور ئې د دریو ورځو مزل په اندازه وي، یعني نژدې پنځوس کیلومتره، دا باید د اوسني بغداد، تهران او حتی د کراچۍ په اندازه پراخ وي او نفوس به ئې هم نژدې لس ملیونه او د ماشومانو شمېر به ئې یو سل شل زره نه بلکې نژدې څلور ملیونه وو، په داسي ښار کې به د یوه مسافر خبره څنګه په یوه ورځ کې د ټولو ښاریانو

حتى د پاچا غوږ ته رسېږي؟ هلته خو نه راډيو وه او نه ټلويزيون!! څنګه به خلك د يوه ناآشنا مسافر دا خبره مني چې په څلوېښتو ورځو کې به دا ښار وران شي او بيا به ټول د پاچا په شمول توبه کوي؟!! عجيبه ده چې ځينو درنو مفسرينو د قرآن اسلوب او په دې اړه وضاحتونو ته پام نه دئ کړی او د قوم د شمېر په اړه ئې ارقام ورکړي، چا يو لك شل زره، چا يولك دېرش زره او چا تر دې څه کم يا څه زيات ښودلی!! او ځيني بيا د بايبل تر اغېز لاندې تللي او نينوا ئې د يونس عليه السلام د دعوت سيمه ښودلې!! حال دا چې په کار ده د قرآن په الفاظو اکتفاء وکړو او داسي څه له خپل لوري ونه وايو چې قرآن نه دي ويلي او نه ئې خوښوي. قرآن دا نه خوښوي چې مخاطب ئې د شمېرو او ارقامو په بې ګټې بحثونو کې مصروف شي.

قرآن فرمايي چې يونس عليه السلام په قوم کې مېشت وو، ډېره موده ئې خلك د الله تعالی لوري ته وبلل، هغوی پرې ايمان رانه ووړ، ستومانه او غصه شو، خپل مأموريت ئې نيمګړی پرېښود او له وخته مخکې له سنګر راکوز شو او د تيښتې لار ئې غوره کړه، الله تعالی د دغې تېښتې په سبب د سيند څپو ته وسپارو او د کب نس ته تېر شو، خو سيند ته د لوېدو په مهال ئې په خپلې اشتباه اعتراف وکړ او په دې الفاظو سره ئې ندامت وښود:

وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبٗا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝٨٧ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٨٨ الانبياء

او هغه کب وال در په ياد کړه چې کله په غصې روان شو او ګمان ئې وکړ چې موږ به هيڅکله تنګي پرې رانه ولو، نو په تيارو کې ئې غږ کړ: له تا پرته بل معبود نشته، سپېڅلتيا تا ته ده، يقيناً چې زه له ظالمانو يم!! نو د ده دعاء مو قبوله کړه او له غمه مو وژغورو او مؤمنان همداسي ژغورو.

يعني يوازينی معبود ته يې، زما په اړه ستا پرېکړه عادلانه ده، زه پرې قانع يم او اعتراض نه لرم، اعتراف کوم چې له ما تېری شوی!!

الله تعالی عفو ورته وکړه، د کب له نسه روغ رمټ ووت، خپل قوم ته ستون شو، هغوی الهي عذاب د نازلېدو په حال کې ليدلی وو، ايمان ئې راووړ او الله تعالی هغه عذاب تم کړ او قرآن فرمايي چې دا يوازينی قوم دئ چې د عذاب پرېکړه ئې معطله او مسترده شوه او دا ځکه چې پيغمبر خپل مأموريت نه وو بشپړ کړی او اتمام حجت نه وو شوی، که نه نو د الله تعالی پرېکړې نه بدلېږي، دا پرېکړې هغسي نه دي لکه چې بايبل ئې د ژر ژر بدلېدو ادعاء کوي!!

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ ءَامَنَتْ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُواْ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْيِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٩٨﴾ یونس

د یونس له قوم پرته بل داسي کلی نه دئ لیدل شوی چي د عذاب له پرېکړي وروسته ئې ایمان راوړلو ګټه وررسولې وي، خو کله چي دې قوم ایمان راووړ نو د سپکاوي عذاب مو په دنیوي ژوند کي ترې لرې کړ او تر یوه وخته مو له خپلو پېرزوینو برخمن کړل.

بابیل وایي چي کب یونس له کومي تېر کړ او درې ورځي ئې په ګېډه کي پاته شو؛ قرآن له یوې خوا دا نه وایي چي د پاته کېدو موده ئې څومره وه، له بلي خوا د بابیل دا ادعاء تکذیبوي چي ماهي له ستوني تېر کړی؛ د (ابتلاع: له ستوني تېرول) پر ځای وایي: فَٱلْتَقَمَهُ ٱلْحُوتُ: ماهي په خولې کي ګوله کړ (په خولې کي ئې ومنډلو) کارولي؛ په دې اړه ډاکټر زغلول نجار په زړه پوري تحقیق کړی؛ هغه وایي: یو ستر کب (نهنګ) اوږدوالی ئې نژدې ۳۰ متره او وزن ئې تر ۱۷۰ ټُنه پوري رسېږي، غاښونه نه لري، خوراك ئې واړه ماهیان دي چي روغ ئې تېروي، د ژبي او تالو تر منځ ئې فاصله د یوه انسان تر قد زیاته ده، تر وړو ماهیانو ستر شیان له کومي نه شي تېرولی، او علمي نوم ئې ( Balaenoptera musculus) دئ، د قرآن له وینا معلومېږي چي همداسي نهنګ یونس علیه السلام په خوله منډلی پرته له دې چي له ستوني ئې تېر کړي، او بیا ئې له خولې د سمندر ژۍ کي غورځولی؛ همدا راز قرآن د بابیل دا ادعاء هم ردوي چي وایي: پر یونس (علیه السلام) د انګورو ونې سیوری غوړولی وو؛ په داسي حال کي چي قرآن وایي: وَأَنۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّن يَقْطِينٍ: الله تعالی د کدو بوټی پرې راشین کړ. ډاکټر زغلول دا هم وایي چي تحقیقات ښیي د کدو ستې، څانګي، پاڼي او میوه د ژوندیو حشراتو ضد موادو ډکه وي، پاڼي ئې تر ټولو ستري، نو هم ئې سیوری پرې کړی او هم ئې له حشراتو او جراثیمو ساتلی.

---

فَٱسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ ٱلْبَنَاتُ وَلَهُمُ ٱلْبَنُونَ ﴿١٤٩﴾ أَمْ خَلَقْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ إِنَٰثًا وَهُمْ شَٰهِدُونَ ﴿١٥٠﴾ أَلَآ إِنَّهُم مِّنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَدَ ٱللَّهُ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٥٢﴾ أَصْطَفَى ٱلْبَنَاتِ عَلَى ٱلْبَنِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿١٥٤﴾ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٥﴾ أَمْ لَكُمْ سُلْطَٰنٌ مُّبِينٌ ﴿١٥٦﴾ فَأْتُواْ بِكِتَٰبِكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٥٧﴾

نو وئې پوښته چي آیا ستا د رب به لوڼي وي او د دوی زامن؟ او آیا فرښتې مو ښځینه پیدا کړې په داسي حال کي چي دوی شاهد ول؟ پام چي دا د دوی یو درواغ دي چي وایي: الله زېږول کړي او بې شکه چي دوی حتماً دروغجن دي، آیا لوڼو ته ئې پر زامنو غوره والی ورکړی؟ څه دربانديي شوي؛ څنګه قضاوت کوئ؟ نو آیا پند نه

اخلئ؟ او آیا کوم څرګند برهان درسره شته؟ نو خپل کتاب راوړئ که رښتيني يئ.

(١٤٩-١٥٧)- په دې مبارکو آیتونو کې د الله تعالی په اړه د مشرکينو ځينو غلطو باورونو او انګېرنو ته اشاره شوې، لکه دا چې ځينو فرشتې د الله تعالی لوڼې ګڼلې، چا يو او چا بل انسان د هغه زوی او ځای ناستی ګڼلی، يهودو عزير عليه السلام ته او مسيحيانو عيسی عليه السلام ته د خدای د زوی په سترګه وکتل، ځينو پېريان په نسب او خپلوۍ کې خدای ته منسوب کړل!! د دغو غلطو عقائدو ترديد د داسې پوښتنو په ترڅ کې شوی چې له حيرت سره توأم دي، فرمايي: نو وئې پوښته چې آيا ستا د رب به لوڼې وي او د دوی زامن؟! آيا عجيبه نه ده چې تاسو ځان ته زامن خوښوئ او الله تعالی ته لوڼې؟!! آيا هغه مهال چې الله تعالی فرشتې پيدا کولې تاسو د صحنې شاهد وئ او په خپلو سترګو مو ليدلې چې دوی مو ښځينه پيدا کړې؟! پام چې دا د دوی يو دروغ دي چې وايي: الله زېږول کړي او بې شکه چې دوی حتماً دروغجن دي، دوی ښه پوهېږي چې دا يوه دروغجنه ادعاء ده او هيڅ حقيقت نه لري خو عمداً دروغ وايي، الله تعالی نه اولاد لري او نه ځای ناستي. آيا لوڼو ته ئې پر زامنو غوره والی ورکړی؟ څه درباندې شوي؟ څنګه قضاوت کوئ؟ نو آيا پند نه اخلئ؟ او آيا کوم څرګند برهان درسره شته؟ نو خپل کتاب راوړئ که رښتيني يئ، آيا په کوم الهي کتاب کې مو داسې کوم دليل موندلی چې ستاسو دا ادعاءګانې تأييد کړي؟ يعني د دې غلطو ادعاءګانو لپاره نه کوم عقلي دليل لرئ او نه کوم علمي او نقلي دليل.

وَجَعَلُواْ بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًاۚ وَلَقَدْ عَلِمَتِ ٱلْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٠﴾ فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿١٦١﴾ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ بِفَٰتِنِينَ ﴿١٦٢﴾ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٦٣﴾

او د ده او پېريانو تر منځ ئې يوه نَسَبي اړيکه رامنځته کړه، حال دا چې دا پېريان پوه شوي چې دوی به حتماً احضار کړی شوي وي، الله ته له هغه څه سپېڅلتيا ده چې دوی ئې بيانوي، مګر د الله مخلص بندګان، نو يقيناً چې تاسو او هغه څه چې تاسو ئې لمانځئ د ده په اړه په فتنه کې اچوونکي نه يئ مګر د هغه چا چې دوزخ ته ننوتونکی وي.

(١٥٨-١٦٣)- دلته د هغو مشرکينو د وينا يادونه او ترديد شوی چې پېريان الله تعالی ته په خپلوۍ او قرابت منسوبوي، په دې اړه ويل شوي:

- دوی وايي: د الله تعالی او پېريانو تر منځ يوه نَسَبي اړيکه شته!! حال دا چې دا

پېریان په خپله پوهېږي چې نه یوازې له الله تعالی سره کومه نسبي اړیکه نه لري بلکې د هغو محکومو مخلوقاتو په ډلې کې دي چې د الله تعالی په وړاندې به د محاسبې او مجازات لپاره احضار کړی شي. د دوی د دغې وینا دوه تعبیرونه شوي: یو دا چې دوی وایي: د عالم چارې د دوو سیالو ذواتو له لوري سمبالېږي، یو ئې د خیر کارونه کوي او بل ئې د شر، یو ئې یزدان او بل ئې اهریمن دئ، یو ئې خدای او بل ئې شیطان دئ، دواړه له نسبي پلوه سره ورته دي، عالم او چارې ئې په خپلو منځونو کې سره وېشلې دي!! بل تعبیر ئې دا دئ چې دوی وایي: د خدای زامنو د انسانانو له لوڼو سره جنسي نژدېکت کړی او له دې داسې نسل رامنځته شوی چې دېوانو ته ورته وو، همغه څه چې په بایبل کې راغلي، بایبل (د نوح طوفان) تر عنوان لاندې لیکي:

(په دې وخت کې چې د زمکې پر سر د انسانانو شمېر په زیاتېدو وو، د خدای زامن د انسانانو د ښایسته لوڼو مجذوب شول (پرې مین شول) او هره یوه ئې چې خوښه شوه خپله مېرمن ئې کړه، په دې وخت کې خدای وفرمایل: زما روح به د تل لپاره په انسانانو کې نه پاتې کېږي، ځکه هغه فاني کېدونکی او نفساني مخلوق دئ، نو یو سل شل کاله فرصت ورکوم، چې ځان اصلاح کړي، نو کله چې د خدای زامنو د انسانانو له لوڼو سره نژدېکت وکړ، د دېوانو په څېر دنگ دنگ سړي ترې پیدا شول، دا د مخکینۍ زمانې نومیالي او معروف باتوران دي، کله چې خدای ولیدل چې انسانان په گناهونو کې غرق دي او تل د بدو کارونو په لوري درومي د انسانانو په پیدا کولو پښېمان او ناراض شو.)

د بایبل د دې مسخره خبرو په اړه څو عرائض لرم:

داسې معلومېږي چې د بایبل لیکوال غوښتل د هغو افسانوي شخصیتونو د پیدایښت د څرنگوالي لپاره یوه توجیه جوړه کړي چې د بوډیو په نکلونو کې یاد شوي، د دېوانو په څېر ستر ستر او دنگ دنگ چې فیل به ئې په یوې گوتې پورته کاوو او د بحر له تله به ئې نهنگ په لاس راایستو، دا دئ بایبل دې پوښتنې ته ځواب ورکوي چې دا دېوانو ته ورته معروف شخصیتونه څنگه پیدا شول؛ د خدای زامنو د انسانانو ښایسته ښایسته لوڼې خپلې مېرمنې کړې، د دوی له نژدېکته دا معروف پهلوانان پیدا شول. ډېره عجیبه ده چې کوم انسان د داسې خبرې کولو جسارت کوي او تر دې هم ډېره د حیرانتیا خبره دا ده چې کوم انسان داسې خوشې او مسخره خبره مني.

د بایبل ځینو مفسرینو بې ځایه هڅه کړې چې دا الفاظ توجیه کړي او د خدای له زامنو د شیث علیه السلام صالح زامن جوړ کړي، په حاشیه کې ئې لیکي: (ښایي د خدای له زامنو مراد د شیث خدای پالونکي زامن وي، دا ځکه چې د خدای د زامنو اطلاق په خدای پالونکو انسانانو هم کېږي، خو ځیني نور مفسرین په دې باور دي چې له دې هغه فرشتې مراد دي چې د خدای له امره ئې سرغړونه وکړه) خو هر څوك پوهېږي چې دا خوشې خبرې او بې ځایه هڅه ده، د بایبل لیکوال په ډېر صراحت سره ویلي چې دا د خدای زامن

وو نه انسانان وو او نه هم فرشتې، وايي: د خدای زامنو د انسانانو لوڼي نكاح كړې، د دوی له وصلته نوی نسل پيدا شو، جسد ئې دېوانو ته ورته خو روح ئې د خدای روح!! خو خدای وفرمايل: زما روح به د تل لپاره په انسانانو كې نه پاتې كېږي، دا ځكه چې انسان فاني او نفساني دئ، يعني د انسانانو دا خدايي نسل د تل لپاره دوام نه كوي، د خدای روح به د تل لپاره په انسانانو كې نه پاتې كېږي!! د همدې لپاره اوس هغه دېوانو ته ورته مخكيني انسانان نشته، كه څوك پوښتنه كوي چې اوس ولې داسي دېو صفته او دېو هيكله انسانان نشته، د بايبل ليكوال ورته لنډ او آسانه ځواب وركړی!! خدای ويلي وو چې زما روح به د تل لپاره په انسانانو كې نه پاتې كېږي!!

نه پوهېږو د دې جملې (نو يو سل شل كاله فرصت وركوم، چې ځان اصلاح كړي) له مخكينيو سره څه ارتباط دئ؟!! موږ ته ووايه: د بايبل خدای د خپلو زامنو په كوم كار غصه شوی، د انسانانو د لوڼو په نكاح كولو كه د دېو هيكله انسانانو په پيدا كېدو؟ او ولې پوره يو سل شل كاله فرصت؟

تاسو ګورئ چې د بايبل خدای په دې نه پوهېدو هغه انسان چې دی ئې پيدا كوي څنګه مخلوق به وي، ښه كارونه به كوي كه بد، ګناه ته به ئې ميلان زيات وي كه نېكو كارونو ته؟ خو كله چې خدای وليدل چې انسانان په ګناهونو كې غرق دي او تل د بدو كارونو په لوري درومي، د انسانانو په پيدا كولو پښېمان او ناراض شو. د بايبل جاهل او ظالم ليكونكی د دې پروا هم نه لري چې د الله تعالی په اړه داسي غلطي خبري وليكي!! بايبل د دې عنوان په اومې جملې كې داسي ليكي: نو خدای وفرمايل:زه هغه انسان د زمكې له سره محو كوم چې پيدا مي كړ، حتی حيوانات، مرغان او خزندې هم له منځه وړم، دا ځكه چې د دوی په پيداكولو متأسف يم!!

قرآن د دغو كچه او كركجنو خبرو په رد كې فرمايي:

- الله تعالی ته له ټولو هغو غلطو ويناوو بشپړه سپېڅلتيا ده چې دا مشركين ئې كوي، الله تعالی له هيڅ مخلوق سره نَسَبي اړيكي نه لري، هيڅ مخلوق ئې د زوی او ځای ناستي په توګه نه دئ نيولی.
- د الله مخلص بندګان د مشركينو له غلطو باورونو، ناسمو تګلارو او بد برخليك مستثنی او خوندي دي.
- دا مشركين او هغه څه چې دوی ئې لمانځي د الله تعالی په اړه هيڅوك په فتنه كې نشي اچولی او له سمي لاري ئې نشي منحرف كولی مګر هغه چې په خپله د خپلو غلطو باورونو او ناسمو كړنو له كبله دوزخ ته ننوتونكی وي.

---

وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٌ مَّعۡلُومٌ ﴿١٦٤﴾ وَإِنَّا لَنَحۡنُ ٱلصَّآفُّونَ ﴿١٦٥﴾ وَإِنَّا لَنَحۡنُ

ٱلْمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾

او زموږ هيڅ يو داسې نه دئ چې ټاکلی مقام دې ونه لري؛ او يقيناً چې موږ صف صف کېدونکي يو؛ او يقيناً چې موږ تسبيح ويونکي يو.

(١٦٤-١٦٦)- دلته د مشرکينو د غلطو ويناوو د ترديد لپاره د فرشتو له قوله ويل شوي:

- زموږ هر يو ټاکلی مقام لري، د هر يوه مقام او منزلت د الله تعالی له لوري ټاکل شوی.
- موږ د خپل رب په وړاندې د مطيع بندګانو په څېر صف صف ودرېږو.
- موږ د الله تعالی په تسبيح مشغول يو.

وَإِن كَانُوا۟ لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ أَنَّ عِندَنَا ذِكْرًا مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾ لَكُنَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُوا۟ بِهِۦ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿١٧٠﴾

او يقيناً چې دوی داسې ول چې ويل ئې: که له موږ سره د مخکينيو کوم ذکر وی نو موږ به حتماً د الله مخلص بندګان وو، خو بيا ئې د هغه په اړه کفر وکړ، نو حتماً به پوه شي.

(١٦٧-١٧٠)- دوی به د رسول الله صلی الله عليه و سلم تر بعثت او د قرآن تر نزول وړاندې ويل: که موږ ته د مخکينيو امتونو په څېر کوم کتاب او پيغمبر راغلی وی نو موږ به حتماً د الله مخلص بندګان شوي وو، خو کله چې دا د پند او ذکر کتاب د رسول الله صلی الله عليه و سلم په لاس ورته راغی د هغه په اړه ئې کفر وکړ، نو حتماً او ډېر ژر به پوه شي چې دا کفر ئې له کوم شوم برخليك سره مخامخ کوي!!

وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٧١﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ ﴿١٧٢﴾ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿١٧٣﴾

او يقيناً چې زموږ وينا لا دمخه زموږ انبياوو بندګانو په اړه تېره شوې چې يقيناً همدا دوی به بريالي وي او يقيناً چې همدا زموږ لښکر غالب دئ.

(١٧١-١٧٣)- دا مبارك آيتونه وايي: دا د انبياوو عليهم السلام په اړه د الله تعالی مخکينۍ ثابته او نه بدلېدونکې وينا او دائمي سنت دئ چې همدا دوی به بريالي وي او د الله د لارې د مؤمنو مجاهدينو لښکر به هرو مرو غالب او برلاسی وي.

فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ حِينٖ ١٧٤ وَأَبۡصِرۡهُمۡ فَسَوۡفَ يُبۡصِرُونَ ١٧٥ أَفَبِعَذَابِنَا
يَسۡتَعۡجِلُونَ ١٧٦ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمۡ فَسَآءَ صَبَاحُ ٱلۡمُنذَرِينَ ١٧٧ وَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ
حَتَّىٰ حِينٖ ١٧٨ وَأَبۡصِرۡ فَسَوۡفَ يُبۡصِرُونَ ١٧٩

نو تر يوه وخته مخ ترې واړوه؛ او وئې گوره چي دوی به هم ډېر ژر وگوري، نو آيا زموږ د عذاب په اړه تلوار کوي؟ خو کله چي د دوی پر سيمي پرېوځي هغه مهال به د گواښل شوو سباوون ډېر بدغونی وي، نو تر يوه وخته مخ ترې واړوه؛ او وئې گوره چي دوی به هم ډېر ژر وگوري.

(١٧٤-١٧٩)- دلته رسول الله صلی الله عليه و سلم ته دا لارښووني شوې:

- تر يوه وخته له دغو مخالفينو مخ واړوه، خاصه اعتناء مه ورته کوه او پر خپل حال ئې پرېږده.
- وگوره چي الله تعالی له دوی سره څه کوي او له کوم برخليك سره ئې مخامخ کوي.
- دوی به هم ډېر ژر وگوري چي د دوی د شرك او کفر پايله څه ده، په کوم لوري ئې بيايي او څه په لاس ورکوي. دلته هغه څه ته اشاره شوې چي دوی به په دنيا کې ورسره مخامخ شي.
- آيا په تلوار سره زموږ عذاب غواړي؟!؛ آيا وايي: هغه عذاب چېري دئ چي پيغمبر مو پرې گواښي، ولي تر اوسه رانه غی، د ده په خبر ډېرو نورو دې ته ورته گواښونه کړي ولي تر سره نه شول؟! خو کله چي د دوی پر غولي پرېوځي نو هغه ورځ به د دغو گواښل شوو سباوون ډېر بدغونی وي.
- مکرر ورته ويل شوي چي وگوره الله تعالی له دوی سره څه کوي او له کوم برخليك سره ئې مخامخ کوي. دوی به هم حتماً وگوري چي د دوی د شرك او کفر پايله څه ده او څه په لاس ورکوي. دلته په آخرت کې د دوی د کفر او شرك بدو پايلو ته اشاره شوې.

سُبۡحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ١٨٠ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٨١ وَٱلۡحَمۡدُ
لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٨٢

سپېڅلتيا ستا رب ته ده، د عزت خاوند رب، له هغه څه چي دوی ئې بيانوي؛ او پر پيغمبرانو دي سلام وي په داسي حال کې چي ستايني ټولي د عالمونو رب ته دي.

(١٨٠-١٨٢)- دا مبارك آيتونه چي د سورې د ټولو موضوعاتو لپاره يوه جامع او ښايسته

تتمه ده؛ وايي:

- سپېڅلتيا ستا رب ته ده، له هر عيب او نقص منزه او د عزت او عظمت خاوند رب ته، له ټولو هغو عيبونو منزه چې مشركان ئې الله تعالی ته منسوبوي.
- پر پيغمبرانو دې سلام وي په داسې حال كې چې ستاينې ټولې د عالمونو رب ته دي.

لكه چې ګورئ دا وروستۍ اُوه آيتونه داسې دي چې د سورې د ټولو اساسي مطالبو خلاصه زموږ په وړاندې ږدي، پر الله تعالی ايمان، پر آخرت باور او په دې اړه د پيغمبرانو عليهم السلام دعوت او د دې دعوت پايلې د سورې د بحث اساسي موضوعات دي چې خلاصه ئې په همدغو آخري اوو آيتونو كې راغلې.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# ص

## د سورې پېژندنه:

د دې مباركې سورې نوم (ص) دئ، د سورې لومړی حرف د سورې د نوم په توګه غوره شوی، ٨٨ آيتونه لري، د ډېری آيتونو فواصل ئې د لومړيو آيتونو شقاق، مناص او كذاب ته ورته دي، د ځينو ئې النار او فجار ته، د ځينو ئې معرضون او يختصمون ته او د ځينو ئې مبين او طين ته ورته دي، لومړی آيت ئې له دې پلوه له ټولو بېل برېښي خو كه غور وكړو دا آيت له دوهم سره داسې تړلی دئ لكه چې دواړه يو آيت وي او په شقاق پای ته رسېدلی، د آيتونو اوږدوالی ئې متوسط دئ او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مكې دور په منځنۍ دورې كې نازل شوي.

كه د سورې مضامينو ته ځير شو نو ډېر ژر به راته جوته شي چې د بحث اصلي موضوع ئې د قرآن دا اړخ څرګندول دي چې خپل مخاطب ته اغېزمن پند او نصيحت ډالۍ كوي، تاسو به وګورئ چې دا سوره هغو سورتونو ته ورته ده چې په يوه توري پيل شوې، لكه څنګه چې دا سوره په يوه توري پيل شوې د بحث اساسي مضمون او موضوع ئې هم يوه ده، كوم چې په لومړي آيت كې راغلی، همدا د سورې د مضامينو لپاره د عنوان حيثيت لري، دا آيت وايي: وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ: قسم پر دې د ذكر خاوند قرآن، يعنې قرآن خپل مخاطب ته اغېزمن پندونه لري، د دې پند بېلګې به د دغې سورې په ګڼ شمېر آيتونو كې وګورئ، لكه څنګه چې همدا لومړی آيت د دې سورې د مضامينو لپاره عنوان دئ همدا راز آخري دوه آيتونه ئې د ټولې سورې لپاره يوه جامع خلاصه او تتمه ده؛ او په هغوی كې هم د قرآن دغه اړخ ته ګوته نيول شوې، آخري آيتونه دا دي: إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٨٧ وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعۡدَ حِينِۢ ٨٨ : دا خو د ټولو عالميانو لپاره فقط يو اغېزمن پند

دئ او د ويناوو په حقيقت به ئې له لږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ. په دې اړه په نه ويشتم آيت کې هم راغلي: كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢٩ : داسې مبارك كتاب چې موږ ستا لورې ته لېږلی چې د هغه په آيتونو کې تدبر وکړي او عقلمن ترې پند واخلي.

په دې سوره کې د (ذكر) لفظ ديارلس ځلې راغلی او دا ښيي چې د دې سورې محوري موضوع همدا مطلب دئ چې قرآن د ذكر او پند كتاب دئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

صٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ ١ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي عِزَّةٖ وَشِقَاقٖ ٢ كَمۡ
أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ فَنَادَواْ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٖ ٣ وَعَجِبُوٓاْ أَن
جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡۖ وَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٞ كَذَّابٌ ٤ أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ
إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ ٥ وَٱنطَلَقَ ٱلۡمَلَأُ مِنۡهُمۡ أَنِ ٱمۡشُواْ
وَٱصۡبِرُواْ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٞ يُرَادُ ٦ مَا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِي ٱلۡمِلَّةِ
ٱلۡأٓخِرَةِ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا ٱخۡتِلَٰقٌ ٧ أَءُنزِلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ مِنۢ بَيۡنِنَاۚ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ
مِّن ذِكۡرِيۚ بَل لَّمَّا يَذُوقُواْ عَذَابِ ٨ أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَحۡمَةِ رَبِّكَ ٱلۡعَزِيزِ
ٱلۡوَهَّابِ ٩ أَمۡ لَهُم مُّلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ فَلۡيَرۡتَقُواْ فِي
ٱلۡأَسۡبَٰبِ ١٠ جُندٞ مَّا هُنَالِكَ مَهۡزُومٞ مِّنَ ٱلۡأَحۡزَابِ ١١

ص، قسم پر دې د ذکر خاوند قرآن، نه؛ بلکې هغه په (مزعوم) تکبر او اختلاف کې دي چې كفر ئې كړی، تر دوی وړاندې مو ځومره نسلونه هلاك كړل چې چيغې ئې وختې خو هغه مهال د تېښتې هيڅ مجال نه وو؛ او پر دې ئې تعجب وکړ چې د دوی له منځه يو خبرداری ورکوونکی ورغی او کافرانو وويل: دا خو ستر دروغجن کوډګر دئ، آيا ټول معبودان ئې يو معبود ګرځولی، دا خو حيرانوونکې خبره ده!! مشران او سرداران ئې روان شول او وئې ويل: ځئ او پرخپلو معبودانو صبر وکړئ، بې شکه چې همدا مطلوب کار دئ، دا مو په دې وروستني مذهب کې هم نه دي اورېدلي، دا له

كذب او افتراء پرته بل څه نه دي. آيا زموږ په منځ كې په همدا ده دا ذكر نازل شوى، نه؛ بلكې دوى زما د ذكر په اړه په شك كې دي، نه؛ بلكې تر اوسه ئې زما عذاب نه دئ څكلى، آيا ستا د ډېر عطا كوونكي عزتمن رب د پېرزوينې خزانې له دوى سره دي، آيا د آسمانونو او زمكې او هغه څه واك له دوى سره دئ چې په دواړو كې دي، (كه داسې وي) نو په دغو اسبابو كې دې لوړ ولاړ شي. د لويو ډلو په پرتله يو وړوكى شانته لښكر چې همدلته ماتېدونكى دئ.

---

(۱-۱۱)- د دې مباركو آيتونو په اړه دا خبرې په پام كې ولرئ:

- لكه څنگه چې دا سوره په يوه توري پيل شوې؛ د سورې اساسي مضمون هم يو دئ، كوم چې په لومړي آيت كې راغلى، همدا د سورې د مضامينو لپاره د عنوان حيثيت لري؛ دا آيت وايي: وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ: قسم پر دې ذكرمن قرآن؛ يعني قرآن خپل مخاطب ته اغېزمن پندونه لري، د دې پند ښېلگې به د دغې سورې په راتلونكو آيتونو كې وگورئ، كه څه هم ذي ذكر نومیالي او د شرف خاوند ته هم ويل كېږي خو د دې سورې نه ويشتم او اُوه اتيايم آيتونو ته په پام سره دلته ذي ذكر د پند خاوند په معنى راغلى. لكه څنگه چې همدا لومړى آيت د دې سورې د مضامينو لپاره عنوان دئ همدا راز آخري دوه آيتونه ئې د ټولې سورې لپاره يوه جامع خلاصه او تتمه ده، آخري آيتونه دا دي: إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٨٧ وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعۡدَ حِينِۭ ٨٨: دا خو د ټولو عالميانو لپاره فقط يو اغېزمن پند دئ او د وينااوو په حقيقت به ئې له ږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ. په دې اړه په نه ويشتم آيت كې هم راغلي: كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢٩: داسې مبارك كتاب چې موږ ستا لوري ته لېږلى چې په آيتونو كې ئې تدبر وكړي او عقلمن ترې پند واخلي.
- په دې سوره كې د (ذكر) لفظ دیارلس ځلې راغلى او دا ښيي چې د دې سورې محوري موضوع همدا مطلب دئ چې قرآن د ذكر او پند كتاب دئ.
- دلته قرآن يو ځل بيا د يٰس د سورې په څېر د شاهد په توگه وړاندې شوى خو وروسته او په لوړې پسې متصل دا نه دي ويل شوي چې دا قرآن د كومې مدعى د اثبات شهادت وركوي، د قرآن په نورو دا ډول قسمونو كې تل د قسم ځواب په قسم پسې متصل راځي او مخاطب پوهېږي چې د لوړې موخه څه ده او د كومې وينا د اثبات لپاره شوې، په دې اړه په تفسيرونو كې د پراخ اختلاف شاهد يو، گڼ شمېر تعبيرونه او تأويلونه شوي، ځيني وايي: همدا دوهم آيت (بل الذين كفروا في عزة و شقاق) د قسم ځواب دئ، ځيني دا (إِنْ كُلٌّ إِلا كَذَّبَ الرُّسُلَ) او ځيني (إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ) د قسمونو ځواب گڼي، حال دا چې دا فقرې له قسمونو ډېرې لرې واقع شوي او تر منځ ئې گڼ شمېر نور مطالب راغلي او په هيڅ توگه داسې نه برېښي چې د قسم ځواب دې وي، ځيني د قسم ځواب

محذوف بولي، غوره او دقيق تعبير دا دئ چي دلته قرآن مقسم به دئ او ذي الذكر ئې هم صفت دئ او هم د قسم ځواب، يعني قرآن په خپله شهادت ورکوي چي خپل مخاطب ته ئې اغېزمن او ګټور ذکر او پند په خپلې لمنې کې راوړی، له قرآن او د هغه له حامل سره د معاندينو د مخالفت وجه دا نه ده چي ګواکې قرآن د پند او ذکر له پلوه څه کمی، ابهام او ستونزه لري او د مخاطب د اقناع په اړه ئې کافي دلائل او څرګندې لارښوونې نه دي کړې، بلکې وجه ئې د مخالفينو تکبر او عناد دئ، دوی خپله لويي غواړي او قرآن ئې له کبر او لويي منع کوي او مساوات او عدالت ته ئې بلي، دوی له حق او حقيقت سره عناد او دښمني لري او ترې تښتي او قرآن ئې حق ته بلي. نو د دوی مزعوم تکبر او له حقيقت تېښته له قرآن او د هغه له حامل او د هغه له لارښوونو او ذکر سره د کافرانو د اختلاف اصلي وجه ده. د دې تعبير په تأييد کې څو مضبوط دلائل لرو: ١- دوهم آيت په (بل) سره پيل شوی او ښيي چي د قسم او دې آيت تر منځ داسې څه شته چي د قسم ځواب وي او هغه له کوم شك پرته فقط همدا د ذي الذكر صفت دئ چي د قسم لپاره مقسم له (هغه څه چي د اثبات لپاره ئې قسم خوړل شوی) دئ. ٢- ټوله سوره پر دې محور راڅرخي چي قرآن ذي الذكر کتاب دئ او مخاطب ته له پندونو او نصحيتونو ډکې لارښوونې لري، ٣- آخري دوه آيتونه ښيي چي په دې سوره کې په همدې موضوع بحث شوی چي قرآن ذي الذكر دئ، هغه آيتونه دا دي: إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ٨٧ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعْدَ حِينٍۭ ٨٨ : دا خو د ټولو عالميانو لپاره فقط يو اغېزمن پند دئ او د ويناوو په حقيقت به ئې له لږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ.

- دا يوازې دوی نه دي چي له الهي حق دين سره ئې د دښمنۍ لار غوره کړې، تر دوی وړاندې ډېرو نورو همداسې کړي او په سخت الهي عذاب اخته شوي، آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چي تر دوی وړاندې څومره نسلونه د خپل کفر او بغاوت له کبله هلاك شوي، کله چي الهي عذاب خپل وزر پرې غوړولی نو چيغې ئې اوچتې شوې او د تېښتې په لټه کې شوي خو نه ئې چيغې چا اورېدلې دي او نه ئې د تېښتې هيڅ مجال تر لاسه کړی.
- دوي پر دې تعجب کوي چي ولې د دوی له منځه يو خبرداری ورکوونکی ورغی او دغو کافرانو وويل: دا خو ستر دروغجن کوډګر دئ، ادعاء ئې دروغجنه ده چي د الله تعالی له لوري د پيغمبر په توګه لېږل شوی او قرآن د الله له لوري پرې نازل شوی، که د ده په ويناوو کې څه اغېز دئ او پر خلکو اثر کوي او د هغوی په شخصيت کې ژور بدلون راولي نو وجه ئې دا ده چي دی يو ماهر کوډګر دئ!!
- دوی ته تر ټولو زياته د قرآن دا وينا د منلو وړ نه برېښي چي وايي: له الله تعالی پرته بل معبود نشته، دوی وايي: آيا ټول معبودان ئې يو معبود ګرځولی، دا خو ډېره حيرانوونکې خبره ده!! آيا موږ به له پلار نيکه راپاتې ټول سپېڅلي معبودان پرېږدو او يوازې هغه معبود به منو چي دا ساحر موږ د هغه لمانځنې ته بلي؟!!

- لومړی مخالفت د دوی هغو قومي سردارانو او مذهبي مشرانو پیل کړ چې د دغو جعلي معبودانو په طفیل مشرۍ او سردارۍ ته رسېدلي ول، هغوی حق ته شا کړه او روان شول او خپلو خپلو پلویانو او تابعانو ته ئې وویل: ځئ او پرخپلو معبودانو او خپل مذهب صبر وکړئ، بې شکه چې همدا مطلوب او غوره کار دئ، هغه څه چې دا ساحر ئې ادعاء کوي په هیڅ مذهب کې ئې نه مومو، حتی په وروستي مذهب کې نه دي راغلي او د دې مذهب له پلویانو مو نه دي اورېدلي، مطلب ئې دا وو چې مسیحیان هم نه وایي چې یوازې یو الله ولمانځئ، هغوی هم د الله تعالی تر څنګ مسیح او مور ئې لمانځي!! د دې نوي دین داعي دروغجن دئ او ادعاء ئې له کذب او افتراء پرته بل څه نه ده.
- هغوی خلکو ته وویل: آیا زموږ په منځ کې په همدا ده دا ذکر نازل شوی، الله تعالی تر ده بل زیات مناسب کس او د پیغمبرۍ وړ شخصیت ونه موندو؟!! دا ستر مذهبي شیخان او د نوم او اعتبار خاوند قومي زعماء او مشران ئې پرېښي او د ده په څېر یو امي او بې نوم او نښان کس ئې غوره کړی.!!
- د دوی په ځواب کې ویل شوي: له پیغمبر سره د مخالفت وجه او دلیل دا نه دئ چې د هغه د شخصیت او اهلیت په اړه شکمن دي او د زعامت وړتیا په کې نه ګوري، نه؛ بلکې مخالفت ئې له قرآن او د هغه له لارښوونو سره دئ، دوی هغه څه نشي منلي چې قرآن ئې پرې ګماري، په شخصي او اجتماعي ژوند کې هغه حدود او مقررات نه شي منلی چې قرآن ئې ورته ترسیموي، د حق او باطل، عدل او ظلم، روا او ناروا په اړه هغه معیارونه نه قبلوي چې قرآن ئې د دوی په وړاندي ږدي.
- په خپلو غلطو عقائدو او ناسمو او ظالمانه تګلارو د دوی د ټینګار او له قرآن سره د دوی د مخالفت سبب دا دئ چې لا له هغه الهي عذاب سره نه دي مخامخ شوي چې د دوی د کفر، شرك، ظلم او فساد سزا ده، هغه مهال به ئې عقل سر ته راشي چې د الهي عذاب خوند وڅکي.
- آیا د الهي پېرزوینو وېش دوی ته سپارل شوی چې د خپلي خوښي په شخصیتونو ئې ووېشي او له هغه چا ئې وسپموي چې دوی ئې نه خوښوي؟!! آیا الله تعالی د خپلو پېرزوینو د خزانو کیلیاني دوی ته ورکړې او دا اختیار ئې دوی ته ورکړی چې ستا د هغه رب پېرزویني د خپلي خوښي مطابق ووېشي چې ډېر عطا کوونکی او عزتمن دئ، هغه رب چې هر څه په خپله عطا کوي او هر چا ته د هر څه په ورکولو قادر دئ؟! د خپلو خزانو واك خو هغه څوك بل ته سپاري چې د بل مرستي ته اړ وي او په یوازي توګه ئې له وېشلو او عطا کولو عاجز وي!! آیا دوی ستا (عزیز) او (وهاب) رب ته همدا عیب او نقص منسوبوي؟!!
- آیا د آسمانونو او زمکي او هغو شیانو واك له دوی سره دئ چې په دغو دواړو کې دي؟ آیا په آسمانونو او زمکي کې داسي څه ښودلی شي چې واك ئې د دوی په لاس کې وي، د لمر

په راختو او لوېدو کې، د شپې او ورځې په تلو او راتلو کې، د باران او واورې په ورېدو کې، د دانې او مېوې په راټوکېدو کې؛ او ... څه ونډه لري، په کوم څه کې له ټولواك رب العالمين سره شريك دي؟! که داسې وي نو بيا خو دي له خپلو وسائلو او ذرائعو استفاده وکړي او د لوړ تللو مظاهره دي وکړي او خپل توان او قدرت دي خلکو ته وښيي!!

• قريش هسې مغرور دي او ځان ورته ستر او ځواکمن برېښي، دوی په حقيقت کې د نورو لويو لويو ډلو په پرتله يوه هغه وړوکې شانته لښکر ته ورته دي چې ماته ئې حتمي ده، همدلته به ماته خوري.

گورئ چې پيغمبر د يوه معبود لوري ته بلنه ورکوي او نور ټول معبودان باطل او مردود گڼي، خلکو ته وايي: خدای يو دئ، د ټولو خدای دئ او تاسو ټول د هغه په وړاندې برابر ياست، هم د خدايانو تعدد مردود گڼي او هم له دې تعدد راولاړ شوی طبقاتي نظام، خو د شرك ځپلې ټولنې سرداران، چې د معبوانو تعدد دوی ته د ټولنې سرداري ورپه برخه کړې، د يوه معبود پر ځای د متعددو خدايانو په وجود ټينگارکوي، دوی له دين او مذهب هم د طبقاتي نظام د توجيه وسيله او د بقاء او دوام ذريعه جوړوي او خپلو پلويانو ته وايي: پرخپلو سابقه، له پلار نيکه راپاته معبوادانو صبر وکړئ! پيغمبر پر توحيد او د يوه معبود پر عبادت اصرار کوي، خو د شرك ځپلې ټولنې سرداران او سالاران د شرك او متعددو خدايانو شعار پورته کوي! پيغمبران عليهم السلام توحيد د خلکو د نجات وسيله گڼي خو د کفر مشران شرك د خپل قدرت د بقاء راز بولي.

د قرآنکريم له نظره د قريشو دا عقيده د شرك عقيده ده او دې ته ورته هره عقيده د شرك عقيده. له دې شرك سره نه د توحيد ادعاء د منلو وړ گڼي او نه پر خدای ايمان او اعتقاد د اعتبار وړ. قرآن خلکو ته وايي: الله يو دئ، داسې نده چې د څو خدايانو له جملې يو وي، بلکې احد او يوازينی دئ. هغه د ټولو رب دئ، ور ئې د ټولو په وړاندې برابر پرانيستی دئ، د ده او بنده تر منځ نه فاصله شته او نه واسطه او وسيله، هرڅوك مخامخ او له واسطې او وسيلې پرته هغه ته رجوع کولی شي، د هرچا دعاء اوري، هرچا ته د غاړې تر رگ زيات ورنژدې دئ، شريك نه لري، خپل ملك او واکمنې ئې په شريکانو نده وېشلې. ستا د توحيد معنی دا ده چې له واحد خدای پرته نه پر بل معبود باور ولرې او نه بل چا ته د دعاء او حاجت لاس اوږد کړې. که قرآنکريم ته رجوع وکړئ نو دا به درته څرگنده شي چې د پيغمبرانو عليهم السلام مبارزه اکثراً د شرك خلاف وه، نه د الحاد او له خدای د انکار په خلاف. د ملحدينو په نسبت ئې له مشرکينو سره زياته مقابله راغلې. د پيغمبرانو عليهم السلام اساسي او ستر مشکل يا له هغو ټگمارانو سره وو چې له دين ئې ځان ته دام او دکان جوړ کړی وو او يا له هغو دينداراانو سره چې غولېدلي ول او د دغو ټگمارانو په لومو کې نښتي ول، هغه چې شرك ئې له ايمان سره خلط کړی وو او دې ته تيار نه ول چې خپل جعلي معبودان پرېږدي. د پيغمبرانو عليهم السلام مخالفينو به د هغوی د

توحيد پر بلنه دا اعتراض کاوو چې: آيا دوی راغلي چې موږ له نورو ټولو خدايانو لاس واخلو او يوازې د يوه خدای عبادت وکړو؟!! د پلرونو او نيکونو خدايان پرېږدو، اصنام يا بتان چې الهي دربار ته زموږ د تقرب وسيله ده، پرېږدو؟!! قرآنکريم په پورتنيو آيتونو کې همدا حالت انځور کړی.

د دې آيتونو په اړه په ځينو تفسيرونو کې څو روايتونه مومو چې که څه هم په الفاظو کې ئې ځيني توپيرونه شته خو د ټولو خلاصه داسې ده: کله چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم تره ابوطالب له مړيني وړاندې ناروغ شو نو د قريشو مشرانو په يوې غونډې کې پرېکړه وکړه چې ده ته ورشي او ترې وغواړي چې د دوی او رسول الله صلی الله عليه و سلم تر منځ په دې روغه جوړه وکړي چې هغه دې زموږ پر دين او معبودانو نيوکې نه کوي او موږ به دی خپلې مخې ته پرېږدو چې خپل رب څنګه چې غواړي وئې لمانځي، داسې نه چې هغه ومري او بيا موږ له محمد (عليه السلام) سره داسې کوم سخت چلن ته اړ شو چې ټول عرب مو پرې ملامت کړي او ووايي: تر هغه چې ابوطالب ژوندی وو نو د هغه لپاره ئې د ده وراره ته څه نه ويل خو د ده له مړيني وروسته ئې زياتی ورسره وکړ، د دوی يو پنځه ويشت کسيز پلاوی ابوطالب ته ورغی، لومړی ئې د معمول په څېر له رسول الله صلی الله عليه و سلم خپل شکايتونه وکړل، بيا ئې وويل: موږ ستا په وړاندې د انصاف خبره کوو: ستا وراره دې موږ خپل دين ته پرېږدي، موږ به دی پر خپل دين پرېږدو، دی چې کوم معبود لمانځي موږ پرې اعتراض نه کوو، خو دی به زموږ د معبودانو مذمت نه کوي او دا هڅه به نه کوي چې موږ خپل معبودان پرېږدو، په همدې منصفانه شرط زموږ او ده تر منځ روغه جوړه وکړه، ابوطالب رسول الله صلی الله عليه و سلم وروغوښت او ورته وئې ويل: ستا د قوم دا مشران راغلي او دا وړانديز ئې کړی، رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه ته وويل: ګرانه تره! زه خو دوی داسې کلمې ته بلم چې که ئې ومني نو ټول عرب به ئې تابع شي او عجم به ورته تسليم، کله چې هغوی دا خبره واورېده نو وئې ويل: يوه نه بلکې لس کلمې به ووايو، ووايه چې هغه کلمه څه ده؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: لا إله إلا الله، د دې خبرې په اورېدو سره ټول له خپل خپل ځای پورته شول او هغه خبرې ئې وکړې او روان شول چې په پورتنيو له پنځم تر اتم آيتونو کې راغلې: آيا ټول معبودان ئې يو معبود ګرځولی، دا خو حيرانوونکې خبره ده!! مشران او سرداران ئې روان شول او وئې ويل: ځئ او پرخپلو معبودانو صبر وکړئ، بې شکه چې همدا مطلوب او غوره کار دئ، دا مو په دې وروستني مذهب کې هم نه دي اورېدلي، دا له کذب او افتراء پرته بل څه نه دي. آيا زموږ په منځ کې په همدا ده دا ذکر نازل شوی؟!

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو ٱلْأَوْتَادِ ﴿١٢﴾ وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ

وَأَصۡحَٰبُ لۡـَٔيۡكَةِۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَحۡزَابُ ﴿١٣﴾ إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿١٤﴾

تر دوی وړاندې د نوح قوم، عاد، د مېخونو خاوند فرعون، ثمود، د لوط قوم او ايکه والو (انبياء) تکذيب کړل، دوی همغه لويې لويې ډلې دې چې هرې يوې ئې له دې پرته بل څه نه دي کړي چې پيغمبران ئې تکذيب کړل چې په پايله کې ئې زما تعذيبونه تر سره شوه.

(١٢-١٤)- په دې مبارکو آيتونو کې مغرور قريش د هغو لويو قومونو تور برخليك ته متوجه کړی شوي چې تر دوی وړاندې تېر شوي، د دوی په څېر ئې پيغمبران تکذيب کړل او په الهي عذاب اخته شول: د نوح قوم، عاد، د مېخونو خاوند فرعون، ثمود، د لوط قوم او ايکه وال چې لويې لويې ډلې وې او د انبياوو د تکذيب له کبله الله تعالی مجازات کړل.

وَمَا يَنظُرُ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ مَّا لَهَا مِن فَوَاقٖ ﴿١٥﴾ وَقَالُواْ رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبۡلَ يَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿١٦﴾

او دا وګړي له يوې داسې توندې چيغې پرته بل څه ته انتظار نه کوي چې هيڅ ځنډېدل به ئې نه وي. دا په داسې حال کې چې دوی وايي: اې زموږ ربه! د حساب تر ورځې وړاندې زموږ برخه راکړه.

(١٥-١٦)- دلته د قريشو په اړه مزيد ويل شوي: دوی له يوې داسې توندې چيغې پرته بل څه ته انتظار نه کوي چې هيڅ ځنډېدل به ئې نه وي، هيڅوك او هيڅ څه به ئې نشي ځنډولی، دوی خو اوس وايي: که د قيامت او الهي محاسبې ادعاء رښتينې وي نو ولې موږ ته همدا نن د خپلو عملونو سزا نه راکول کېږي، پيغمبر ته وايي: ستا د رب هغه عذاب چېرې دئ چې موږ پرې ګواښې؟!! خو کله چې الهي عذاب خپل وزر پرې وغوړوي بيا به ئې د ځنډېدو هيله کوي خو هيله به ئې په هيڅ توګه نه تر سره کېږي.

ٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوُۥدَ ذَا ٱلۡأَيۡدِۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿١٧﴾ إِنَّا سَخَّرۡنَا ٱلۡجِبَالَ مَعَهُۥ يُسَبِّحۡنَ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِشۡرَاقِ ﴿١٨﴾ وَٱلطَّيۡرَ مَحۡشُورَةٗۖ كُلّٞ لَّهُۥٓ أَوَّابٞ ﴿١٩﴾ وَشَدَدۡنَا مُلۡكَهُۥ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحِكۡمَةَ وَفَصۡلَ ٱلۡخِطَابِ ﴿٢٠﴾ وَهَلۡ أَتَىٰكَ نَبَؤُاْ

ٱلۡخَصۡمِ إِذۡ تَسَوَّرُواْ ٱلۡمِحۡرَابَ ﴿٢١﴾ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَىٰ دَاوُۥدَ فَفَزِعَ مِنۡهُمۡۖ قَالُواْ لَا
تَخَفۡۖ خَصۡمَانِ بَغَىٰ بَعۡضُنَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فَٱحۡكُم بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَلَا تُشۡطِطۡ
وَٱهۡدِنَآ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلصِّرَٰطِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ هَٰذَآ أَخِي لَهُۥ تِسۡعٞ وَتِسۡعُونَ نَعۡجَةٗ وَلِيَ
نَعۡجَةٞ وَٰحِدَةٞ فَقَالَ أَكۡفِلۡنِيهَا وَعَزَّنِي فِي ٱلۡخِطَابِ ﴿٢٣﴾ قَالَ لَقَدۡ ظَلَمَكَ
بِسُؤَالِ نَعۡجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦۖ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡخُلَطَآءِ لَيَبۡغِي بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ
بَعۡضٍ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَقَلِيلٞ مَّا هُمۡۗ وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا
فَتَنَّٰهُ فَٱسۡتَغۡفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّۤ رَاكِعٗا وَأَنَابَ۩ ﴿٢٤﴾ فَغَفَرۡنَا لَهُۥ ذَٰلِكَۖ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا
لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٢٥﴾ يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم
بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ
يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢٦﴾

په هغه څه صبر وکړه چې دوی ئې وایي او زموږ بنده داؤد در په یاد کړه چې د (پیاوړو او هنرمندو) لاسونو خاوند وو، یقیناً چې هغه (خدای ته ډېر ډېر او بیا بیا) ورگرځېدونکی وو، یقیناً چې موږ غرونه ورسره رام کړي وو چې سهار او ماښام به ئې تسبیح ویله او مرغان ورته راغونډ کړی شوي، ټول ورته راگرځېدونکي، د ده پاچایي مو ورته مضبوطه کړه، حکمت او پرېکنده وینا مو ورپه برخه کړه؛ او آیا د هغو شخړه کوونکو خبر دررسېدلی چې له دېواله محراب (د عبادت ځای) ته واوښتل، کله چې د داؤد محضر ته داخل شول، دی ترې ووېرېدو، وئې ویل: مه وېرېږه! موږ دوه مدعیان یو چې یوه پر بل تېری کړی، نو زموږ تر منځ په حقه سره پرېکړه وکړه، ظلم مه کوه او د سمي لاري لارښوونه راته وکړه، دا زما ورور دئ چې نه نوي مېږې لري او زما یوه مېږه ده، نو ما ته ئې وویل: دا هم ما ته وسپاره او په خبرو کې ئې زور زیاتی راسره وکړ، وئې ویل: یقیناً چې په خپلو مېږو سربېره ستا د مېږې په غوښتلو سره ئې ظلم درباندې کړی او یقیناً چې ډېری شریکان یو پر بل تېری کوي پرته له هغو چې ایمان ئې راوړی او نېك عمله دي او دوی څومره لږ دي؛ او داؤد گمان وکړ چې موږ آزمویلی نو له خپل رب ئې بخښنه وغوښته، په سجده پرېوت او

خدای ته ئې مخه کړه، نو موږ دا ورته وبخښله او يقيناً چې ده ته زموږ تقرب حاصل وو او غوره پايله، اې داؤده! يقيناً چې ته مو په زمکې کې خليفه گمارلی يې، نو د خلکو تر منځ په حقه پرېکړه کوه، د هوی او هوس متابعت مه کوه چې د الله له لارې به دې تېرباسي، يقيناً هغه چې د الله له لارې منحرف شي په دې سبب دوی ته سخت عذاب (ټاکل شوی) دئ چې د حساب ورځ ئې هېره کړې.

(۱۷-۲۶)- د دغو مبارکو آيتونو مهمې مهمې لارښوونې دا دي:

- رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې د داؤد عليه السلام په څېر صبر وکړه، له دې معلومېږي چې د داؤد عليه السلام په ضد هم ناروا او ظالمانه تبليغات شوي، د دې کرکجنو تبليغاتو مفصل بابونه او د اتهاماتو اوږد فهرست په بايبل کې موندلی شئ.
- پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې ته هم د دښمنانو د تبليغاتو پروا مه کوه او د خپل ديني ورور داؤد عليه السلام په څېر صبر وکړه.
- داؤد عليه السلام د کمال خاوند وو، د زغرو جوړولو په صنعت کې پر ټولو برلاسی وو او د دې تر څنگ د الله تعالی منقاد او مطيع بنده وو.
- سبا او ماښام به د خدای په ذکر او د زبور په تلاوت مشغول وو او په خوږ غږ کې ئې دومره ستر اغېز وو چې غرونو او مارغانو ورسره زمزمه کاوو.
- مضبوط حکومت ئې وو، الله تعالی ورته پوهه او حکمت ورکړی وو او د پېچلو شخړو او منازعاتو د عادلانه او حکيمانه حل و فصل استعداد ئې ورپه برخه کړی وو.
- د دې عادلانه قضاوت يوه بېلگه ئې دا ده چې الله تعالی دوه فرشتې د دوو مدعيانو په بڼه کې ورولېږلې، له دېواله هغه ځای ته ورواوښتلې چې داؤد عليه السلام به په کې په تلاوت او عبادت مصروف وو، دی ووېرېدو، هغوی ورته وويل: مه وېرېږه، موږ د يوې شخړې د حل و فصل لپاره درته راغلي يو، يوه ئې وويل: دا نه نوي مېږې لري او زه يوه، په زور سره غواړي دا هم رانه واخلي، ته زموږ تر منځ عادلانه او سمه پرېکړه وکړه او سمه لار راوښيه، هغه له دې مخکې چې د دوهم کس دلائل واوري او بيا فيصله وکړي، د مدعي د دعوی له مخې ئې پرېکړه وکړه او وئې ويل: ده درباندې تيری کړی، خو د دغې خبرې له کولو سره سم او متصل متوجه شو چې غلطي ئې وکړه، د عادلانه قضاوت تقاضا دا وه چې د مدعی عليه دلائل مې هم اورېدلي وی او بيا مې قضاوت کړی وی، له الله تعالی ئې بخښنه وغوښته او په سجده پرېوت!!
- ورپسې ويل شوي چې الله تعالی د دې اشتباه په اړه بخښنه ورته وکړه، د الله تعالی مقرب بنده وو او غوره پايله ئې ورپه برخه کړه.
- هغه ته ئې وويل: اې داؤده! يقيناً چې ته مو په زمکې کې خليفه گمارلی يې، نو د خلکو

تر منځ په حقه پرېکړه کوه، د هوی او هوس متابعت مه کوه چې د الله له لارې به دې تېرباسي، یقیناً هغه چې د الله له لارې کاږه شي په دې سبب به ئې سخت عذاب په برخه شي چې د حساب ورځ ئې هېره کړې، یعنې د حساب ورځ ئې هېره کړې له همدې کبله له سمې لارې منحرف شوي او په الهي عذاب اخته شوي.

• قرآن په دې وینا سره نه یوازې د داؤد علیه السلام ستر شخصیت موږ ته معرفي کوي بلکې موږ ته د دې لارښوونه هم کوي چې عادل او له الله تعالی وېرېدونکی قاضي باید هغه وخت هم یوازې د مدعي د وینا له مخې پرېکړه ونه کړي چې په سلو کې نه نوي ځان په حقه ګڼي او بل ملامت او پړ ثابتوي، باید په سړه سینه د بل دلائل هم واوري او په پای کې قضاوت وکړي.

• دې ته مو باید پام چې د داؤد علیه السلام په اړه دا وینا په حقیقت کې د بایبل د هغې دروغجنې ادعاء په رد کې راغلې چې هغه ئې په دې تورن کړی چې ګواکې نه نوي مېرمنې ئې درلودې او سلمه ئې هم وکړه، خو دا سلمه د یوه مخلص جنګیالي مېرمن وه، ده د خپل قصر له بامه هغه د خپل کور په تشناب کې بربنډه لیدلې وه او زړه ئې پرې بایللی وو، دا جنګیالی ئې د جنګ داسې کرښې ته ولېږو چې ووژل شي او مېرمن ئې ده ته په لاس ورشي!! ښه به وي چې دا دروغجنه قصه په بایبل کې وګورو، بایبل تر دې عنوان (داؤد او بتشبع) لاندې د داؤد علیه السلام په اړه داسې لیکلي چې هغه د یوه دروند پیغمبر په توګه نه بلکې (نعوذ بالله) د یوه عیاش پاچا په څېر انځوروي او لیکي:

(یوه ورځ مازدیګر داؤد په خپل قصر کې د بام سر ته وخوت چې آزاده هوا تنفس کړي، قدم ئې واهو چې ناڅاپه ئې سترګې په یوې ښکلې ښځې ولګېدې چې لمبېده، داؤد یو څوك ولېږو چې پوښتنه وکړي دا ښځه څوك ده، معلومه شوه چې نوم ئې بتشبع او د اوریا مېرمن ده، نو داؤد څو کسان ورولېږل او دا ښځه ئې د ده قصر ته راوستله او داؤد ورسره څملاست... بتشبع ولمبېده... او کور ته ولاړه... څه وخت وروسته پوه شوه چې حامله ده، نو داؤد ته ئې د دې خبرې اطلاع ورکړه... داؤد د ښځې مېړه اوریا راوغوښت، (دی د جنګ له میدانه راستون شوی وو)، داؤد د جنګ د وضعیت په اړه څه پوښتنې ترې وکړې... بیا ئې رخصت کړ او د ده له تلو وروسته ئې څه تحفې هم کور ته ورولېږلې... اوریا شپه د قصر په خوله کې له ساتونکو سره تېره کړه... داؤد خبر شو او دی ئې راوغوښت او ترې وئې پوښتل: ولې دې شپه په کور کې تېره نه کړه؟ ... ده ورته وویل: فوځ د عهد له صندوق سره په بېدیا کې دئ زه څنګه کور ته ولاړ شم او شپه له خپلې مېرمنې سره تېره کړم!! داؤد ورته وویل: ډېر ښه! نن شپه دلته پاته شه او سبا بېرته د جنګ میدان ته ولاړ شه، داؤد دی ماښامنې ته وبالو، په شرابو ئې مست کړ، خو سره له دې کور ته د تلو په ځای همدلته پاته شو... سهار داؤد د یوآب په نامه خط ولیکو او د اوریا په لاس ئې ورولېږو...په خط کې ئې لیکلي وو: کله چې جګړه تونده شي اوریا لومړي

خط ته ولېږه او يوازې ئې پرېږده چې ووژل شي!!! يوآب همداسي وکړل او اوريا ووژل شو!! ... يوآب اطلاع ورکړه او ده په ځواب کې خبر ورولېږو چې ستا له کاره راضي يم!! بتشبع د ماتم ورځې تېرې کړې، بيا داؤد قصر ته راوسته او په نکاح ئې کړه...خدای په دې کار ناراضه شو او ناتان نبي ئې داؤد ته له دې پيغام سره ولېږو: په يوه ښار کې دوو کسانو ژوند کاوو، يو فقير وو او بل غني، شتمن ډېر څاروي درلودل او نېستمن يوازې يوه سېرلۍ درلوده... يوه ورځ د شتمن کور ته مېلمه راغی خو ده د دې په ځای چې خپل کوم څاروی ورته حلال کړي د فقير سېرلۍ ئې ورته حلاله کړه...داؤد وويل: په خدای قسم چا چې دا کار کړی وي بايد ووژل شي!! په دې وخت کې ناتان نبي ورته وويل: هغه شتمن ته يې!! ... تا اوريا وواژو او د ده مېرمن دې ځان ته نکاح کړه... نو زه به هم ستا په مېرمنو همداسي حالت راولم، د گاونډيو په لاس کې به پرېوځي او هغوی به په رڼا ورځ ورسره څملي... داؤد اعتراف وکړ... ناتان ورته وويل: خدای هم ته وبخښلې او د دې گناه په سبب به تا نه هلاکوي خو ستا دا زوی به ومري!! همداسي وشول... ماشوم مړ شو، خو بتشبع بيا حامله شوه، زوی ئې وزېږاوو او نوم ئې سليمان پرې کېښود...

بايبل د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام په اړه دې ته ورته تورونه لگولي، د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه د بايبل له دې تورونو او د هر يوه په ضد د داسي کرکجني ژبې له کارولو معلومېږي چې دا کار عمداً او په دې خاطر کوي چې د نورو پيغمبرانو عليهم السلام شخصيت داغجن کړي، د خلکو پام او توجه له هغوی راوگرځوي او په دې ئې قانع کړي چې يوازينی د منلو وړ شخصيت مسيح عليه السلام دئ!! له دې پرته د بايبل د دې عمدي تورونو او الزاماتو لپاره بله معقوله توجيه نه شو موندلی. دا نن چې په مسلمانانو کې يوه ډله د پيغمبر عليه السلام له نژدې يارانو او د ده په مبارکو لاسونو روزل شوو صحابه وو يوازې علي رضي الله عنه او د ده درې څلور ملگري تأييدوي او د نورو په اړه حتی د دې خبرې له کولو ډډه نه کوي چې وايي: هغوی ټول له اسلامه واوښتل او منافق شول!! دوی هم د بايبل د ليکونکي په بيمارۍ اخته شوي.

دلته د بايبل له ليکوال څو پوښتني لرو:

- د اوريا کور د داؤد عليه السلام له قصر په څومره واټن کې وو؟ طبيعي ده چې د يوه عادي عسکر کور بايد د پاچا له قصر ډېر لرې وي، که دا کور نژدې وی نو داؤد عليه السلام به حتماً پېژاندو او له نورو به ئې دا پوښتنه نه کوله چې دا څوك دئ؟ نو داؤد څنگه وتوانېدو چې د خپل قصر له بامه د اوريا د کور په حمام کې د ده ښځه د لمبېدو په حال کې داسي وگوري چې ښکلا ئې هم ورته معلومه شي؟ د يوه انسان ښکلا خو په سل گزه واټن کې هم نه شي تشخيصېدی، سل گزه خو به يوازې د قصر دېوالونه له دې بامه لرې وو!!
- د کوم پاچا چې عسکر دومره مذهبي جذبه لري چې د جنگ له ميدان راغلی خو خپل

کور ته له تلو او له خپلې مېرمنې سره د شپې له تېرولو په دې خاطر ډډه کوي چې د عهد صندوق د جنګ په میدان کې او د ده ملګري په سنګر کې د دښمن مقابله کوي!! نو د پاچا دیني او مذهبي جذبه به څنګه او څومره لوړه او قوي وي؟ په کار خو دا ده چې پاچا ئې لږ تر لږه د دغه عسکر په څېر وي!! موږ ته خو قرآن داؤد علیه السلام د یوه ستر عابد، ذاکر، مجاهد، خدای پالونکي، له الله تعالی وېرېدونکي او د بصیرت او کمال خاوند په توګه معرفي کوي او پیغمبر علیه السلام ته فرمایي چې د دښمنانو د ناروا تبلغیاتو په مقابل کې د داؤد علیه السلام په څېر صبر وکړه.

- د قرآن له وینا معلومېږي چې د داؤد علیه السلام په اړه په اصلي تورات کې همدا مطلب راغلی خو د بایبل ظالم او دروغجن لیکوال یوه کرکجنه، ناروا او غلطه قصه ترې جوړه کړې.

متأسفانه زموږ ځیني مفسرین هم د اسرائیلي روایاتو تر اغېز لاندې تللي او د قرآن د دغو مبارکو آیتونو په تفسیر کې ئې د بایبل دا دروغجنه او بې بنسټه قصه رانقل کړې؛ او حتی ځینو له همدې قصې داسي روایات جوړ کړي چې بې خبره خلك د حدیث په سترګه ورته ګوري، په داسي حال کې چې دلته په قضاوت کې د (عدالت) موضوع څېړل کېږي، فرشتې هم داؤد علیه السلام ته وایي چې زموږ تر منځ سم او عادلانه قضاوت وکړه او الله تعالی هم ورته فرمایي چې د قضاوت په دوران کې د خپل هوس متابعت مه کوه، د خپلو احساساتو په حکم قضاوت مه کوه، د مدعي او مدعی علیه تر منځ عدالت مراعات کړه، د یوه خبره دې واورېده بل ته هم موقع ورکړه چې خپله خبره وکړي، داسي نه چې عدالت تر پښو لاندې کړې، په قضاوت کې عجله وکړې او د شخړې د یوه لوري د وینا له مخې پرېکړه وکړې، دوی دا ټول صراحتونه له پامه غورځولي او د بایبل قصې ته ئې اعتبار ورکړی!! دا مفسرین هغه دي چې بایبل ئې په دقت سره نه دئ لوستلی او دې ته ئې توجه نه ده کړې چې قرآن د بایبل تأیید او تصدیق نه بلکې تردید او تصحیح کوي، بایبل هغه انجیل او تورات نه دئ چې قرآن ئې تصدیق کوي!! بایبل په تورات او انجیل کې ژور او نه بخښونکی تحریف کړی، په بایبل کې د دې الهي کتابونو ډېره لږه برخه هغه هم په کچه الفاظو کې تر سترګو کېږي، قرآن راغلی چې د دې محرف کتاب ټولي دروغجني خبري بربنډې او حقائق خلکو ته څرګند کړي، په بایبل استناد او د قرآن د آیتونو په تفسیر کې د هغه مطالب رانقلول او دا هڅه کول چې دواړه سره تلفیق شي لويه اشتباه ده!!

ما د بایبل هغه قصې په دقت سره لوستلې دي چې په قرآن کې هم د هغوی یادونه شوې، دې ته متوجه شوی یم چې قرآن د بایبل هغه قصې رانقل کړې چې تصحیح ئې ضروري وه، بایبل په غلطي بڼې کې راوړې او قرآن هغه تصحیح کړې؛ ما په ټول قرآن کې یوه داسي قصه ونه موندله چې له بایبل سره په بشپړه توګه ورته والی ولري او هغه ئې نه وي تصحیح کړې، قرآن د آدم علیه السلام، نوح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، لوط

عليه السلام، اسحاق عليه السلام، يعقوب عليه السلام، موسی عليه السلام، ايوب عليه السلام، يوسف عليه السلام، يونس عليه السلام، داؤد عليه السلام، سليمان عليه السلام او زکريا عليه السلام، قصې راوړې دي چې ټولې ئې د بايبل له قصو سره نه يوازې ژور توپيرونه لري بلکې د دوی په اړه ئې د بايبل قصې تصحيح کړې دي، د داؤد عليه السلام د قصې دغه برخه هم په قرآن کې په داسې توګه راغلې چې د ده په اړه د بايبل دروغجن تورونه ئې ترديد کړي، بايبل وايي چې ناتان نبي د ده قصر ته ورغی او د يوه مالدار او نيستمن قصه ئې ورته وکړه ... قرآن وايي: دوه فرښتې د مدعي او مدعی عليه په توګه له دېوال ورواوښتې، محراب ته ورغلې او د خپلې شخړې عادلانه پرېکړه ئې ترې وغوښتله، بايبل وايي: ده د اوريا په نامه يو مخلص جنګيالی د جنګ جبهې ته په دې موخه لېږلی وو چې ووژل شي او د ده مېرمن ځان ته نکاح کړي، قرآن وايي: ده د مدعي ادعاء واورېدله او وړاندې تر دې ئې پرېکړه وکړه چې د مدعی عليه دلائل هم واوري، ژر خپلې اشتباه ته متوجه شو او له الله تعالی ئې بخښنه وغوښته، هغه کمعلمه کسان چې محرف او له خرافاتو ډک بايبل ته د يوه سپېڅلي کتاب په سترګه ګوري همدا غلطې قصې رااخلي او د قرآن آيتونه د هغوی په تأييد کې په تکلف سره تأويلوي.

وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَٰطِلًاۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿٢٧﴾ أَمْ نَجْعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلْمُفْسِدِينَ فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ ٱلْمُتَّقِينَ كَٱلْفُجَّارِ ﴿٢٨﴾

او موږ آسمان او زمکه او څه چې په دوی کې دي خوشې او بېهوده نه دي پيدا کړي، دا هسې د هغو کسانو ګمان دئ چې کافران شوي، نو دغو کافرانو ته د اور لويه کنده ده. آيا هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي په زمکې کې د فساد کوونکو په څېر کړو، آيا متقين به د فاجرانو په څېر کړو.

(٢٧-٢٨)- پر الله تعالی، آخرت او الهي محاسبې عدم ايمان داسې دئ لکه چې څوك ووايي: آسمانونه او زمکه او څه چې په دوی کې دي خوشې او بېهوده پيدا شوي، د مؤمن او کافر؛ او متقي او فاجر تر منځ هيڅ توپير نشته، د انسان ځينو عملونو ته ښه او ځينو ته بد ويل، ځينې انسانان ښه او ځيني بد ګڼل صحيح نه دي!! خو دا داسې کچه وينا ده چې نه ئې د انسان عقل مني، نه علم ورسره توافق کوي او نه د عدل په تله صحيح خېژي، دا له وهم او ګمان راټوکېدلې وينا ده، دا د هغو کسانو ګمان دئ چې کافران شوي او له حقائقو انکار کوي، موږ په آسمان او زمکې کې خوشی او بېهوده توکی نه مومو، په دنيا کې د مجازات او مکافات څرګند مظاهر ګورو، موږ د خپل ضمير او وجدان په هنداري کې ځيني څېرې

ښکلې او ځلانده وینو او ځیني سپېرې او کرغېړني، ځیني انسانان راته ښه او ځیني راته بد برېښي، ځینو ته د متقي نوم ورکوو او ځیني د فاجر په نامه یادوو، یو ستایو او بل غندو، یو د مکافات وړ بولو او بل د مجازات، هغه رب چې موږ ته ئې دا وجدان راکړی او زموږ په ضمیر کې ئې دا معیارونه ایښي، آیا هغه به د انسان د کړنو په اړه قضاوت نه کوي؟!! آیا الله تعالی به هغه انسان چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي له هغو سره برابر ګڼي چې په زمکې کې فساد کوي؟! آیا هغه به متقین د فاجرانو په څېر ګڼي؟!! څومره ظالمانه او د عقل خلاف قضاوت؟ د عقل او عدل قضاوت خو دا دئ چې کافرانو ته د دوی د ظلمونو او فسادونو له کبله د دوزخ اور د سزا په بڼې کې ورکړی شي.

حقیقت دا دئ چې که په ټول عالم کې یو عیب او نقص تر سترګو شي او څوك په دې وتوانېږي چې په دې پراخ عالم کې کومه تشه او خلأ او کوم اضافي یا بېهوده شی په ګوته کړي او دا ثابته کړی شي چې واقعي دا شی بېهوده دئ نو له الله تعالی د انکار لپاره همدا کافي دئ!! د قرآن وینا دا ده چې په ټول عالم کې خوشی او بېهوده شی نشته، په مقابل کې ئې بایبل سلیمان علیه السلام ته داسي اقوال منسوبوي چې د عالم هر څه خوشي او بېهوده ګڼي، د داسي ناپړتو خبرو د کولو جسارت خو یوازې هغه څوك کولی شي چې نه په الله تعالی باور لري او نه دا عالم او په هغه کې بدلونونه د یوه علیم او حکیم خدای د تصرف نتیجه ګڼي!! چا چې د یونان هغه فلسفي افکار وړاندي کړل چې عالم بېهوده او بې هدفه ګڼي، هغه ملحد او د الله تعالی له شته والي منکر وو. خو دا دئ د بایبل بې عقله لیکونکی همدا الحادي افکار یوه پیغمبر ته منسوبوي او مذهبي رنګ ورکوي!! د عالم په اړه دغه انګېرنه چې بایبل ئې سلیمان علیه السلام ته منسوبوي یوازې د هغه چا انګېرنه کېدی شي چې یا خدای نه مني، یا دا عالم د ده ملك او دی ئې ټولواك نه ګڼي، یا په دې باور وي چې د عالم هر څه په خپل سر او له کومي خاصي منصوبې پرته د تصادف له مخي رامنځ ته شوي او ټولي پېښي ئې تصادفي دي!! او دا نه یوازې په الله تعالی باندي له ایمان سره سخت تصادم کوي بلکې د حقیقت خلاف او دروغجني خبري دي، هیڅوك نه شي کولی په دې پراخ عالم کې یو بېهوده، بې مقصده او خوشی شی په ګوته کړي!!

خدای منونکی انسان ټول موجودات د خپل رب د صفاتو او افعالو مظهر ګڼي او په دې عقیده وي چې هیڅ څه بېهوده او عبث نه دئ پیدا شوی، په دې خور عالم کې نه څه خلأ او تشه شته، نه څه کموالی او زیاتوالی، نه داسي کوم څه پاته دئ چې کموالی ئې احساس شي او نه داسي څه چې اضافي او غیرضروري وګڼل شي، هرڅه پوره او په خپله اندازه پیدا شوي. موحد ته د دې عالم هر څه ښایسته او ښشیر برېښي او هیڅ عیب په کې نه ګوري او که ئې کوم عیب تر سترګو شي نو دا یا د خپل لنډ او محدود فکر او نظر عیب ګڼي او یا ئې د خپلي نامناسبي معاملې او ناسمو کړو محصول عیب. تل د خدای ستاینه کوي، په هر حالت او هر صورت کې، دی د دې خور عالم په غېږ کې هره ښکلا، کمال او

جمال د همدې ښکلا، کمال او جمال د خالق ستاينې ته هڅوي، د هر بدلون او تحول تر شا حکمتونه او مصلحتونه ګوري، که له کوم نعمت برخمن شي هغه د خپل مهربان او منعم خدای ورکړه او عنايت ګڼي او که له کوم نقمت، کړاو او ستونزې سره مخ شي هغه د خپلو کړو عادلانه بدله او جزاء بولي. د ملحد او کافر انسان عيب دا دئ چې خپله غلطي او د ده له غلطو تصرفاتو راولاړې شوې ستونزې خدای ته راجع کوي، د دې پر ځای چې د ظلم او بې عدالتۍ په ليدو سره ظالم محکوم کړي خدای محکوموي، د دې پر ځای چې ووايي الله تعالی انسان ته د واك او اختيار په ورکولو سره خپله ستره پېرزوينه پر انسان کړې او په دې سره ئې انسان ته پر ټولو مخلوقاتو شرف او فضيلت ورکړی، خو انسان له دې واك او اختيار چې پر ټولو مخلوقاتو د ده د فضيلت نښه او امتياز دئ، غلطه استفاده کوي، برعکس خدای په هغه څه ملامتوي چې په کار ده د هغه په سبب ئې د الله تعالی ستاينه او مننه کولی!!

له هر ملحد هم او د بايبل له ليکونکي هم پوښتنه کوم: ستا د بدن کوم غړی بېهوده او بې فايدې دئ، سترګې، غوږونه، خوله، ژبه، غاښونه، لاس، پښه، ګوتې، نوکان... ؟ نور خو پرېږده دا د سترګو څو باڼوګان، چې ښايي تا ته بې فايدې وېښتان معلوم شي، پرې کړه او بيا په هينداري کې خپل مخ ته وګوره او قضاوت وکړه، وروځې دي بېهوده وګڼه او وئې خربيه ... که ستا په وجود کې څو وېښتان هم ضروري وي او هر يو ئې خاصه دنده لري او نشتوالی ئې هم ستا وجود او هم ستا ښايست ته تاوان رسوي، نو ته څنګه په ټول عالم د بېهوده حکم کوې؟ تا ته خو په کار وه چې سليمان عليه السلام ته دې داسي وينا منسوب کړې وی چې دا عالم موږ ته په جګ غږ وايي: دا هر څه يوه عليم او خبير ذات پيدا کړي، دلته هر څه سم پيدا شوي، دلته بېهوده شی نشته، هغه ذات چې دا عالم ئې پيدا کړی، د هغه ساتنه او پالنه کوي، په هر څه او ټولو برخو کې ئې د رب (پالونکي) په حيث تصرف کوي او د ربوبيت او پالنې او روزنې دا آثار او مظاهر هرې خوا ته په هرګام کې تر سترګو کېږي، بې شکه چې دا ذات د ټولو ستاينو وړ دئ، له هر عيب منزه، د ده په اړه دا خبره کول چې بېهوده او عبث شيان ئې پيدا کړي لوی ظلم او ستر جهالت دئ، دا عالم او په هغه کې دا بې شمېره توکي موږ دغه حقيقت ته هدايت کوي او په دغه اعتراف مو مجبوروي، دا هرې خوا ته تر سترګو کېدونکې ښکلا او ښايست، کمال او جمال، نظم او دقت او دا چې ګورئ هر څه سم پيدا شوي، هر څه د خاص مقصد لپاره پيدا شوي، سمه پالنه او روزنه ئې کېږي، هر يو ئې په ډېر دقت او ظرافت سره، په ډېره غوره او ښايسته بڼه کې پيدا شوی، هر يو ئې د يوه مشخص هدف او ځانګړې غايې د تحقق لپاره په کار ګمارل شوی، چې په منظم او پرله پسې توګه او په کامل انهماك سره په خپل خاص کار او د خپل ځانګړي مأموريت په تر سره کولو کې شپه ورځ لګيا دئ، په خپله او په خپل وجود سره ئې هم يوه تشه ډکه کړې او په هغه څه هم چې د ده په کار او هلو ځلو مرتب

کېږي هم يوه تشه ډکوي او يوې اړتيا ته ځواب وايي. په ټول خور وور عالم کې، خوشی، بې هدفه، له اړتياوو زيات او له ضرورت کم څه نه شئ موندلی، هغه ذات چې دا بې انتهاء پراخ عالم ئې له ټولو دغو ښکلاوو او ښېگڼو او له دې ژور او دقيق نظم سره پيدا کړی، د عالم پالنه او روزنه ئې په واك کې ده، هره ذره ئې ساتي او پالي، رشد ورکوي، کمال ته ئې رسوي، د کمال په لوري د خوځېدو توفيق ورکوي او له مخکې ټاکلې نتيجې ورباندې مرتب کوي، بې له شکه چې دا ذات د ټولو ښېگڼو واجد او د ټولو ستاينو وړ دئ. د دې هستۍ هري خوا ته چې مخ واړوم، گورم چې هر څه له هيڅ پيل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لوري وده ورکړی شي، د خپلې ارتقاء او کمال آخرى پوړي ته ورسولی شي، يو ضروري او لازم کار ورباندې تر سره شي، يو ضرورت ورباندې رفع کړی شي، يوه خلأ ورباندې ډکه کړی شي، بيا ئې زوال پيل شي، په زړښت او مرگ محکوم شي او ځای ئې بل نوي، ځواکمن او وده موندونکي توکي ته خالي کړی شي، هرڅه ښه پيدا شوي او د واضح هدف او مقصد لپاره پيدا شوي، په پيدايښت کې ئې د (علم)، (حکمت) او (قدرت) څرگند آثار گورو. د دې مظاهرو تر شا ما ته د ربوبيت او پالنې يو نامرئي او ناڅرگند لاس په نظر راځي، هماغه زما الله دئ او هماغه د دې هستي الله دئ. زه نه يوازې په دې عالم کې د روزنې او پالنې يو نامرئي لاس احساسوم، بلکې گورم چې د هرڅه پيدايښت، پالنه، روزنه او ساتنه په ډېر دقت سره تر سره کېږي. د دې عالم په هر جزء او د هرجزء په حرکت او خوځښت کې زه ښايست، ښکلا، کمال او هدفمني گورم. خوشی، بې مقصده، اضافي او غيرضروري شی په نظر نه راځي. زما هرې خوا ته خواره شيان، هر يو بېل بېل هم او ټول په گډه هم، د خاص مقصد لپاره په کار لگيا دي، د ټولو تر منځ د نظم، يووالي او ژور تنسيق شاهد يم. د دې عالم همدا ملموس او مشهود کيفيت، زما په ژبه د دې الفاظو د جاري کېدو لامل دئ چې: ټولې ستاينې د عالمونو رب الله لره دي. موږ د دې خور عالم په پراخې غېږ کې داسې شی نه شو موندلی چې پيدايښت ئې بې مقصده او بې هدفه وي، داسې شی نه شو په گوته کولی چې ځای ئې خالي وي، د دې عالم هرڅه د الله په شته والي شهادت ورکوي، په الله له ايمان پرته نه د دې ستر او خور عالم عظمت او په ډېر دقت سره د هغه ساتنه او پالنه تعبيرولی شو او نه په دې عالم کې نظم، ښايست او هدفمني تفسيرولی شو.

---

كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢٩

داسې مبارك کتاب چې موږ ستا لوري ته لېږلی چې د هغه په آيتونو کې تدبر وکړي او عقلمن ترې پند واخلي.

---

(۲۹)- په دې مبارك آيت کې له يوې خوا د قرآن دا ځانگړتياوې زموږ په وړاندې ځلېږي: ۱- له برکتونو ډك کتاب دئ، ۲- الله تعالی رالېږلی، ۳- آيتونه ئې له موږ د تدبر او غور

غوښتنه کوي، ٤- عقلمن انسانان به پند ترې اخلي، له بلې خوا ښيي چې د سورې محوري موضوع د دغه قرآن معرفي او پېژندل دي.

ګورئ چې دا کتاب د عقلمنو لپاره راغلی، چې په هغه کې تدبر وکړي او پند ترې واخلي، عقلمن ئې په اهميت پوهېږي او پند ترې اخلي، د عقلمنو عقل تخنوي او تدبر ته ئې اړ کوي، متأسفانه د هغه بې عقله معتقد ئې په جامو کې ونغاړي، په تاخچه کې ئې کښېږدي اوکله کله ئې د دې لپاره راکوز کړي چې قسم پرې ياد کړي او يا د رخصتولو په وخت کې د هغه له لاندې خپل زوی او ورور تېر کړي او ورته ووايي: دا قرآن دې حافظ او ناصر شه، دا قرآن دې وساته، خو دا آيتونه موږ ته وايي: دا کتاب د دې لپاره راغلی چې په هغه کې تدبر و کړې او د عقل خاوندان له هغه پند و اخلي، يعني د تفکر، تدبر او پند اخيستلو لپاره راغلی.

---

وَوَهَبْنَا لِدَاوُدَ سُلَيْمَٰنَۚ نِعْمَ ٱلْعَبْدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿٣٠﴾ إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِٱلْعَشِيِّ ٱلصَّٰفِنَٰتُ ٱلْجِيَادُ ﴿٣١﴾ فَقَالَ إِنِّىٓ أَحْبَبْتُ حُبَّ ٱلْخَيْرِ عَن ذِكْرِ رَبِّى حَتَّىٰ تَوَارَتْ بِٱلْحِجَابِ ﴿٣٢﴾ رُدُّوهَا عَلَىَّۖ فَطَفِقَ مَسْحًۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلْأَعْنَاقِ ﴿٣٣﴾

او پر داؤد مو سليمان ولوراوو، غوره بنده، يقيناً چې هغه (خپل رب ته) ډېر ستنېدونکی وو، هغه مهال چې مازديګر تېز ځغاستي ښه آسونه ور وړاندې کړی شول، نو وئې ويل: د خپل رب د ذکر په سبب مې د آسونو مينه غوره کړې، تر هغه چې (د دوړو) په حجاب کې پټ شول، (وئې ويل) بېرته ئې ما ته راوګرځوئ، نو (د دوی) پر پښو او غاړو ئې لاس راکاږو.

---

(۳۰-۳۳)- په دې مبارکو آيتونو کې پر داؤد عليه السلام يوه الهي پېرزوينه او له جهاد او د جهاد له آسونو سره د سليمان عليه السلام مينه داسې انځور شوې:

- پر داؤد مو سليمان ولوراوو، غوره بنده، يقيناً چې هغه خپل رب ته ډېر ستنېدونکی وو.
- د دې غوره والي او خپل رب ته د ستنېدو يوه څرګنده بېلګه دا ښودل شوې: هغه وخت درياد کړه چې سليمان عليه السلام ته مازديګر مهال تېز ځغاستي ښه آسونه ورووړاندې کړی شول، نو وئې ويل: د خپل رب د ذکر په سبب مې د آسونو مينه غوره کړې، تر هغه ئې دوی ته کتل چې لرې ولاړل او د خپلو دوړو په حجاب کې ترې پټ شول، نو وئې ويل: بېرته ئې ما ته راوګرځوئ، نو د دوی پر پښو او غاړو ئې لاس راکاږو. يعني هغه د الله تعالی غوره او نېك بنده وو، تل ئې خدای ته مخه وه، مجاهد وو او د الله

تعالى لپاره ئې له ښو او ګړندیو آسونو سره مینه وه، د دوی د ځغاستې ټماشا به ئې کوله، بیا بیا به ئې غوښتل چې د ده مخې ته تېر شي، د دوی په پښو او غاړو به ئې لاس راکاږو.

که څه هم د دې مبارکو آیتونو الفاظ ډېر واضح دي او هر څوك چې په شفاف ذهن او صفا زړه ورته وګوري نو همدا پورتنی مطلب به ترې اخلي، خو متأسفانه ځینو همدا څرګند آیتونه هم داسې غلط تعبیر کړي چې قبیح تحریف ته ورته دئ!! وايي: دلته د (توارت بالحجاب) معنی دا ده چې لمر په حجاب کې پټ شو، د (رُدُّوهَا عَلَيَّ) معنی دا ده چې لمر بېرته پر ما راوګرځوئ او د (فَطَفِقَ مَسحًا بِالسوقِ وَ الأَعْنَاقِ) معنی دا ده چې د آسونو پښې او غاړې ئې پرې کړې او د (إني احببت حب الخير عن ذكر ربي) معنی دا ده چې ما پر ذکر او لمانځه آسونو ته ترجیح ورکړه نو ځکه ئې غاړې او پښې ورقطع کوم!!! ډېره ډېره عجیبه او د حیرانتیا وړ ده!!

ما ته ووایئ: آیا ډېره عجیبه نه ده چې څوك په دې آیت کې (توارت بالحجاب) د لمر لوېدل ګڼې او (رُدُّوهَا عَلَيَّ) د لمر بېرته راګرځول!! او (فَطَفِقَ مَسحًا بِالسوقِ وَ الأَعْنَاقِ) د آسونو پښې او غاړې قطع کول؟!! په داسې حال کې چې دلته نه په خپله آیت کې او نه له هغه مخکې یا وروسته د لمر هیڅ ذکر نه دئ شوی او هر عادي انسان هم پوهېږي چې دا د (صافنات الجیاد) په اړه دي، همدا آسونه له سترګو پټ شوي، د دوی د بېرته راګرځولو امر ئې کړی او د دوی په غاړو او پونډیو ئې لاس راکش کړی، نه پوهېږو چا دوی ته ویلي چې سلیمان علیه السلام د مازدیګر لمونځ قضاء کړی؟ چا ورته ویلي چې پر سلیمان علیه السلام باندې د مازدیګر لمونځ داسې فرض وو لکه پر موږ؟ چا ورته ویلي چې د لمانځه د قضاء کېدو له کبله د آسونو پونډۍ او غاړې په توري وهل جائز دي او د سلیمان علیه السلام په څېر ستر مجاهد شخصیت داسې غلطي کړې؟!! آیا هغه رأیه، تعبیر، تفسیر او روایت د منلو وړ دئ چې د قرآن د دغه صریح آیت داسې غلط تفسیر او تعبیر په کې راغلی وي؟ متأسفانه د ځینو پر زړونو او ذهنونو جعلي او ضعیفو روایاتو خپل تور وزر داسې غوړولی چې نه د قرآن وینا ته د پام کولو فرصت ورکوي او نه د خپل عقل او ضمیر غږ اورېدو مجال، زه د تفسیر له یوه مبتدي لوستونکي پوښتنه کوم: آیا کله چې په لومړي ځل او د دغو مفسرینو د رأیې له اورېدو وړاندې تا دا آیتونه لوستلي؛ انتباه دې څه وه؟ آیا د زړه او ذهن په کومې ګوښې کې دې دا ګرځېدلي چې د دغو آیتونو تعبیر به هغسې وي لکه چې دا جنابان ئې ادعاء کوي؟!! آیا ستا عقل دا مني چې د الله تعالی یو ستر پیغمبر او صالح او متقي بنده او د جهاد مینه وال به داسې د عقل او عدل خلاف کار وکړي او د آسونو پونډۍ او غاړې به قطع کړي؟ پوهېږې چې د دې آفت جرړې چېرې دي؟ دا مصیبت له کومه راټوکېدلی چې ځیني د قرآن څرګند آیتونه داسې تعبیروي چې هم په خپله د قرآن له آیتونو سره جدي تعارض لري او هم له انساني عقل او فطرت سره؟!! آفت دا دئ چې ځیني په دې بیمارۍ اخته شوي چې روایت ته هم د قرآن پر آیت ترجیح

ورکوي او هم پر عقل او درايت، په روايت کې هم يوازې سند ته ګوري نه د روايت متن او محتوی ته، روايت ته د وروستي معيار په سترګه ګوري، که څه هم له قرآن سره تعارض ولري!! حال دا چې د يوه مؤمن انسان لپاره د الله تعالی کتاب وروستی معيار او ملاك دئ، يوازې هغه روايت مني چې په قرآن کې کوم شاهد ورته ومومي او يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري. راشئ وګورو چې په دې اړه په رواياتو که څه راغلي او دا روايات د سند او محتوی له پلوه څومره د اعتبار او اعتناء وړ دي.

عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّمْسَ لَمْ تُحْبَسْ لِبَشَرٍ إِلَّا لِيُوشَعَ لَيَالِيَ سَارَ إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ. مسند أحمد

له ابو هريره رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: لمر له يوشع پرته هيڅ انسان ته نه دئ ودرول شوی، څو شپې چې د بيت المقدس په لوري ولاړ.

دا روايت د سند له پلوه داسې دئ چې په څلورو طبقو (صحابه وو، تابعينو، تبع تابعينو او تبع تبع تابعينو) کې يو يو راوي لري، يعني د محدثينو په اصطلاح تر اغرب (ډېر غريب) هم اوښتی، پنځم راوي ئې هم يو کس په نامه د اسود بن عامر دئ، د متن له پلوه داسې دئ چې: ١- له قرآن او عقل سره هيڅ اړخ نه لګوي، ٢- په قرآن کې هيڅ شاهد ورته نه مومو، ٣- د بايبل له يوې داسې برخې اخيستل شوی برېښي چې وينا ئې سل په سلو کې غلطه ده. ٥- که پيغمبر عليه السلام دا خبره کړې وی نو حتماً به ډېرو صحابه وو اورېدلې وه، ډېرو نورو به هم ويلي وو چې موږ له رسول الله صلی الله عليه و سلم دا خبره واورېده. ٦- د لمر د درېدو په څېر يوه عجيبه او نادره خبره خو حتماً بايد ډېرو يوه بل ته کړې وی، ولې له ابوهريرة رضي الله عنه پرته بل چا دا خبره نه ده کړې؟

د دې روايت په اړه غالب ګمان دا دئ چې يا خو په بشپړه توګه موضوعي دئ او يا ابوهريرة رضي الله عنه د پيغمبر عليه السلام دا خبره کړې چې إن الشمس لم تحبس لبشر: لمر د هيڅ انسان لپاره نه دئ ودرول شوی، وروسته ئې د اهل کتاب دا خبره کړې چې هغوی وايي يوازې د يوشع لپاره ودرول شوی، اورېدونکي دا ګمان کړی چې دا هم د پيغمبر عليه السلام د قول ضميمه ده!!

راشئ په دې اړه د بايبل ادعاء هم واورو او په حقيقت ئې ځان پوه کړو، بايبل تر دې سرليك (لمر له حرکته ودرېږي) لاندې ليکي:

(د اورشليم پاچا ادوني صَدَق د عای او اريحا د سقوط او د دوی د پاچايانو له وژل کېدو خبر شو... دی او خلك ئې ډېر ووېرېدل... نو د شا و خوا پاچايانو ته ئې احوال ولېږو چې زما مرسته وکړئ چې جبعون ونيسم... ځکه چې خلکو ئې له اسرائيليانو سره روغه جوړه کړې... پنځو پاچايانو د ده مرسته وکړه...د جبعون مشران يوشع ته ورغلل او له ده ئې وغوښتل چې د دښمن په مقابل کې ئې مرسته وکړي... يوشع خپل فوځ هغې سيمې ته

وخوځاوو... په شپه کې ئې ځان دښمن ته ورساوو... دښمن وارخطا شو... اسرائيليانو د دوی ډېر کسان ووژل... او نور ئې پسي واخيستل...کله چي دښمن د بيت حورون ځوړي ته ورسېدو خدای له آسمانه درنهږلۍ پرې ووروله... دومره خلك دلته ووژل شول چي د اسرائيليانو په لاس تر وژل شوو ئې شمېر زيات وو...په همدې مهال يوشع خدای ته دعاء وکړه او وئې ويل: اې لمره! د جبعون پر سر او اې سپوږمۍ د ايلون پر سر له خوځېدو ودرېږه!!... لمر سپوږمۍ له حرکته ودرېدل چي اسرائيليان دښمن تباه کړي!! نو لمر ټوله ورځ د آسمان په نيمايي کې ولاړ وو... د دې پېښي نظير نه مخکي ليدل شوی او نه به وروسته وليدل شي!!... پنځه پاچايان په يوه غار کې پټ شول... يوشع خبر شو، امر ئې وکړ چي د غار خوله په لويي ډبري بنده کړئ او څو ساتونکي پرې وګمارئ.... تاسو دښمن تعقيب کړئ... له لږ کسانو پرته ټول ئې ووژل... بيا ئې دا پاچايان له غاره راوايستل... يوشع ټول اسرائيليان راغونډ کړل... بيا ئې د قوم مشرانو ته وويل: د دغو پاچايانو پر څټ پښه کښېږدئ او پرې تېر شئ... بيا ئې په خپلي توري ټول ووژل... او بيا ئې تر مازديګره پر دار ځوړند پرېښودل... او بيا ئې په هماغه غار کې کېښودل او خوله ئې وربنده کړه... او دا غار تراوسه هماغسي پاته دئ!!

د دې وينا څو برخو ته لږ ځير شئ:

- په ږلۍ دومره خلك ووژل شول چي په جنګ کې نه وو وژل شوي!! بايبل نه دي ليکلي چي په دې ږلۍ کې له اسرائيليانو څومره کسان ووژل شول، دوی خو ورنژدې او ورپسې ول، که ئې ليکلي وی چي ږلۍ به يوازې پر دښمن راپرېوته او اسرائيليان به ترې خوندي وو نو د بايبل منونکو ته به ئې قصه لا ډېره خونده وره او حيرانونکې وه!!
- يوشع لمر او سپوږمۍ ته وويل چي ځای پر ځای ودرېږئ او همداسي وشول او دا کار نه تر دې د مخه شوی او نه به وروسته وشي!! بايبل خپله دا خبره څو صفحې وروسته بېرته اخلي او د يوه بل نبي اليشع په اړه ليکي چي هغه هم د پاچا لپاره نه يوازې لمر ودرولو بلکي لس ساعته ئې شا ته بوت!! پوښتنه کوو چي د بايبل کومه خبره رښتيا ده؟ حقيقت دا دئ چي په دې دواړو کې ئې يوه هم رښتيا نه ده، نه په دې ورځ لمر ودريدلی نه تر دې د مخه او نه تر دې وروسته!! خدای د لمر او سپوږمۍ واګي چا ته نه سپاري او د داسي وړو خبرو لپاره د ستر عالم په نظم کې تبديلي نه راولي، د بايبل ليکونکی په دې نه پوهېږي چي که لمر او سپوږمۍ يوه ثانيه توقف وکړي نو د عالم ټول موجود نظم متلاشي کېږي!! د بايبل ليکونکی دې ته هم نه دئ متوجه چي سپوږمۍ په ټکنده غرمه کې په آسمان کې څه کول او ودرېدلو ئې اسرائيليانو ته څه ګټه رسوله؟!!
- دا پاچايان څنګه ټول په يوه غار کې يوازې راغونډ شوي وو، نه ورسره خپل فوځ وو او نه ساتونکي!! او څنګه ئې په رڼو رڼو سترګو د يوشع جنګياليو ته کتل چي د غار خوله بندوي!! آيا له بايبل پرته بل چا او د تاريخ کوم بل کتاب هم دا خبره کړې؟ کوم بې عقله

انسان به دا خبره ومني چي د پنځو ملکونو پاچایان له خپلو لښکرو لري په یوه غره کي راغونډ او په یوه غار کي پټ شي، پاچایان خو اکثراً په جنگونو کي له برخي اخیستلو ډډه کوي، که برخه اخلي نو د فوځ تر شا په داسي خوندي ځای کي ولاړ او د جنگ ننداشا کوي چي د ماتي په صورت کي په آسانۍ ځان وباسي!!

- ځنگه ومنو چي یوشع علیه السلام به له اسیرانو سره داسي له مروت او مهرباني لري سلوك کړی وي؟!!
- راشئ د لړ ودرېدو په اړه د بایبل بله خندوونکې قصه هم له نظره تېره کړو، بایبل تر دې عنوان (دوهم پاچایان) لاندي د څو پاچایانو شجرې او د دوی جنگونه بیانوي او په ضمن کي ئې د اشعیا نبي یادونه کوي او لیکي: په دې ورځو کي حزقیا پاچا بیمار وو، اشعیا نبي عیادت ته ورغی او د خدای له لوري ئې دا پیغام ورووړ: وصیت دي وکړه، عمر دي پای ته رسېدلی او له بیماری نه روغېږې! حزقیا خپل مخ دېوال ته واړاوو او دا دعاء ئې وکړه: خدایه! څومره ستا لپاره وفادار او امین وم او څنگه مي هڅه کړې چي ستا له خوښي سره سم عمل وکړم! ستونی ئې ونښت او ډېر ئې وژړل، مخکي له دې چي اشعیا له قصره ووځي خدای یو ځل بیا ورسره خبري وکړې او وئې فرمایل: حزقیا ته ورستون شه او ورته ووایه: ستا خدای، ستا د جد داؤد خدای، ستا دعاء واورېده، ستا اوښکي ئې ولېدې، هغه به شفا درکړي، درې ورځي وروسته به له بستره پاځې... او پنځلس کاله به ستا عمر دراوږد کړي!! بیا اشعیا نبي وویل: لړ انځر درواخلئ، وئې ټکوئ او د پاچا په دانو ئې کښېږدئ، همداسي ئې وکړل او هغه روغ شو!! خو حزقیا اشعیا ته وویل: یوه نښه راته وښیه چي ډاډه شم خدای روغتیا راکوي! هغه ورته وویل: دې ساعت ته چي د سیوري له مخي وخت ټاکي وگوره، آیا غواړې سیوری ئې لس درجې مخکي ولاړ شي که وروسته؟ (یعني لمر مخکي ولاړ شي که وروسته)، حزقیا ورته وویل: غوره به دا وي چي سیوری وروسته راشي، اشعیا له خدای وغوښتل چي سیوری شا ته کړي او همداسي وشول!!

بایبل له دې د مخه د الیشع په اړه لیکلي وو چي لمر او سپوږمۍ د ده لپاره ودرېدل او دا کار نه تر دې د مخه شوی او نه به وروسته وشي؛ خو خپله هغه خبره ئې هېره کړې او دلته ئې ویلي چي لمر د اشعیا په امر لس ساعته شا ته ولاړ!!

د بایبل د دې خبري معنی دا ده چي د خدای پرېکړي د انسانانو په څېر بدلېږي رابدلېږي، حتی پرېکنده او قاطع پرېکړي ئې هم، پاچا ته ئې پیغام ولېږو چي مرې، خو څو شېبې وروسته ئې بل پیغام ولېږو او ورته وئې ویل: نه یوازي دا چي روغ به شې بلکي پنځلس کاله نور هم ستا عمر زیاتوم!! او د ده د اندېښني ختمولو لپاره ئې لس ساعته لمر شا ته بوت، که د مازدیگر څلور بجې وې نو د سهار شپږ بجې ئې کړې!!! نو حزقیا ډاډه شو!!

د بایبل لیکوال په دې نه پوهېږي چي د الله تعالی پرېکړي قاطع او نه بدلېدونکې

دي او سنن ئې تغییر نه منونکي، نه اجل مخکې وروسته کېږي او نه مر او سپوږمۍ!! بایبل خدای په داسې انسان قیاس کړی چې هره شېبه ئې افکار او عزائم بدلېږي، په دې نه پوهېږي چې په انسان کې دا عیب د کم علمۍ په وجه دئ، دا شېبه یو کار ښه ورته معلوم شي او د هغې له مخې پرېکړه وکړي، خو څو شېبې وروسته یا په خپلې غلطۍ پوه شي، یا تر مخکینۍ پرېکړې غوره په نظر ورشي نو ځکه خپل تصمیم بدل کړي او له مخکینۍ پرېکړې په شا شي، دا یو نقص دئ، دا د علم د کم والي او د هوډ او عزم د سست والي نښه ده، الله تعالی له دې نقص او عیب مبراء دئ، هغه خدای خدای نه دئ چې علم ئې ناقص وي او پرېکړې ئې بدلېږي رابدلېږي، قرآن په دې اړه فرمایي:

قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي ضَرّٗا وَلَا نَفۡعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌۚ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ فَلَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ﴿٤٩﴾ یونس

ووایه: خپل ځان ته نه د ضرر (دفع کولو) واک لرم او نه د ګټې (رسولو واک)، پرته له هغه څه چې الله غوښتي، د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې، کله چې د دوی اجل راورسېږي نه یوه شېبه وروسته کېږي او نه مخکې کېږي.

ګورئ چې قرآن پیغمبر علیه السلام ته وایي: په خپله خوله خلکو ته ووایه چې د تاوان او ګټې پرېکړه زما په واك کې نه ده، نېټې نه شم بدلولی، د ګټې او تاوان پرېکړه الله تعالی کوي او د هر چا نه بدلېدونکی اجل هغه ټاکلی!!

دا مطلب په قرآن کې څو ځله تکرار شوی او دا د دې لپاره چې د بایبل د لیکونکي په څېر د هغو ټګمارانو مخه ونیسي چې خلکو ته وایي: راشئ په یوه دم او دعاء سره ستاسو تقدیر بدلولی شو، مرګ مو ځنډولی شو، عمر مو زیاتولی شو، تاوانونه دفع کولی شو، مرادونو ته د رسېدلو لارې درته پرانیستلی شو!!

قرآن همدا راز فرمایي: الهي سنن ثابت او نه بدلېدونکي دي، هیڅوك نه شي کولی د الله تعالی هغه ثابت سنن بدل کړي چې په دې عالم کې ئې وضع کړي او هر څه د هغوی مطابق تر سره کېږي:

سُنَّةَ ٱللَّهِ فِي ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ﴿٦٢﴾ الاحزاب

دا د الله هغه سنت دئ چې په مخکینیو کې تېر شوی او هیڅکله به د الله د سننو لپاره تغییر او تبدیلي ونه مومې.

ٱسۡتِكۡبَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَكۡرَ ٱلسَّيِّيِٕۚ وَلَا يَحِيقُ ٱلۡمَكۡرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهۡلِهِۦۚ فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلۡأَوَّلِينَۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗاۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحۡوِيلًا ﴿٤٣﴾

فاطر

آیا دوی د مخکینیو له سنت پرته بل څه ته انتظار لري؟ په داسې حال کې چې هیڅکله به د الله د سننو لپاره هیڅ تبدیلي ونه مومې او هېڅکله به د الله د سننو لپاره هیڅ بدلون ونه مومې.

د بابیل لیکونکی په دې نه پوهېږي چې الله تعالی د دې عالم نظم هومره دقیق جوړ کړی او هر څه ئې په خپل خپل ځای کې داسې مناسب پیدا کړي چې که په دې نظم کې معمولي تبدیلي راشي هر څه ئې یو له بل سره تصادم کوي، که لمر لس ساعته په شا کېدل خو پرېږده که لس ثانیې په خپل ځای ودرېږي دا عالم له منځه ځي!! قرآن په دې اړه فرمایي:

وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلْحَقُّ أَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ بَلْ أَتَيْنَٰهُم بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَن ذِكْرِهِم مُّعْرِضُونَ ﴿٧١﴾ المؤمنون

که حق د دوی د هوس تابع شي، نو آسمانونه او زمکه او هر هغه څه چې په دوی کې دي، تباه کېږي، ...

یعني که د عالم دا حقیقي نظام د انسان د هوس تابع کړی شي او ده ته د خپل هوس مطابق د تصرف موقع ورکړی شي، د دې عالم هر څه له تباهۍ سره مخامخ کېږي. د دې عالم نظم داسې وګڼئ لکه په یوه ډېر ستر هوائي میدان کې چې هره شېبه ګڼ شمېر جهازونه ترې الوزي او په کې کښېني او دا ټول د یوه حساس کمپیوټر په واسطه اداره کېږي، که د دې کمپیوټر سر انجنیر خپل نازولی ماشوم زوی له ځان سره د کمپیوټر خونې ته بوځي او اجازه ورکړي چې د کمپیوټر په هري بټني چې زړه ئې غواړي ګوته کښېږدي، د دې پایله به څه وي؟!! همدا راز که د دې عالم په نظم او اداره کې د انسان هوس دخالت وکړي، د تودوخي کم والی زیاتوالی، د ورځې او شپې اوږدوالی او لنډ والی، د لمر او سپوږمۍ د راختو او لوېدو اوقات د ده د خوښي مطابق بدل رابدل شي، دا عالم تباه کېږي!!

دا وضاحت هم ضروري دئ چې دغو اسرائیلي روایاتو پر مسلمانانو هم خپل اغېز کړی، په مسلمانانو کې هم داسې روایات خواره شوي چې ځیني ئې وایي: پیغمبر علیه السلام ته لمر ودرېدو، سلیمان علیه السلام ته لمر په شا راغی، علي رضي الله عنه ته لمر ودرېدو او یو روایت هم هغه دئ چې ابوهریرة رضي الله عنه ته منسوب شوی چې وایي: پیغمبر علیه السلام وفرمایل: إن الشمس لم تحبس لبشر إلا لیوشع ... لمر له یوشع پرته هیچا ته نه دئ ودرېدلی... د دې روایاتو په اړه څو خبرو ته پام په کار دئ:

ځیني محدثین د دې وروستي روایت اسناد صحیح ګڼي، خو نور ئې ضعیف او حتی موضوعي ګڼي.

دا روایت ټول هغه روایات ردوي چې د بل چا لپاره د لمر د ودرېدو خبره په کې راغلې،

یوازې یوشع ته د ﻟﻤﺮ د ودرېدو معنی دا ده چې دا نور روایات چې وایي د سلیمان علیه السلام، پیغمبر علیه السلام، علي رضي الله عنه... لپاره ﻟﻤﺮ ودرېدلی حقیقت نه لري، ډېره عجیبه ده چې ځوك دا حدیث هم مني او نور روایات هم!! زه هغه چا ته حیران یم چې د قرآن دا صریح او واضح آیت د دغو اسرائیلي روایاتو تر اغېز لاندې غلط تفسیروي.

وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَٰنَ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ كُرْسِيِّهِۦ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ ﴿٣٤﴾ قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى وَهَبْ لِى مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِى لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِىٓ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ ﴿٣٥﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ ٱلرِّيحَ تَجْرِى بِأَمْرِهِۦ رُخَآءً حَيْثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَٱلشَّيَٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَغَوَّاصٍ ﴿٣٧﴾ وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِى ٱلْأَصْفَادِ ﴿٣٨﴾ هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٩﴾ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَـَٔابٍ ﴿٤٠﴾

او یقیناً چې سلیمان مو وآزمویو او د ده پر کرسۍ مو یوه (هسې) جثه واچوله، بیا ئې انابت وکړ، وئې ویل: اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه، داسې پاچایي راپه برخه کړه چې له ما وروسته له هیچا سره نه ښایي، بې شکه چې ته ډېر لوروونکی یې، نو هغه باد مو ورته مسخر کړ چې د ده په امر به آرام آرام هغه لوري ته خوځېدو چې ده غوښتو او هغه پېریان چې ماڼۍ جوړوونکي او غوټه وهونکي وو او نور ئې تړلي په زنځیرونو کې، دا زموږ پېرزوینه ده، نو احسان کوه یا لاس راټموه؛ له (کوم) حساب پرته؛ او یقیناً چې ده ته زموږ په خوا کې تقرب او نژدېوالی دئ او غوره پایله.

(٣٤-٤٠)- په دې مبارکو آیتونو کې د سلیمان علیه السلام په اړه ویل شوي:

- سلیمان علیه السلام له یوې الهي آزموینې سره مخامخ شو، د دې آزموینې له کبله ئې پر کرسۍ یو کالبوت واچول شو، د دې الهي آزموینې له کبله ئې خپل رب ته انابت وکړ او وئې ویل: اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه، داسې پاچایي راپه برخه کړه چې له ما وروسته له هیچا سره نه ښایي، بې شکه چې ته ډېر لورووونکی یې، د ده دعاء قبوله شوه او له کبله ئې الله تعالی هغه ته داسې باد مسخر کړ چې د ده په امر به آرام آرام هغه لوري ته خوځېدو چې ده غوښتو او هغه پېریان ئې ورته مسخر کړل چې ماڼۍ به ئې ورته جوړولې او په سمندر کې به ئې غوټې وهلې، ځیني نور ئې د خپلو سرکشیو له کبله په زنځیرونو تړل شوي، دا د الله تعالی پېرزوینې وې چې د ده په برخه شوې وې، ده ته لارښوونه شوې وه چې د الله تعالی د دغو پېرزوینو په بدل کې له هغو سره احسان کوه چې د احسان وړ وي او د هغو په اړه له ورکړې او احسان لاس راټموه چې د احسان او

ښېگڼې وړ نه وي؛ دا يو الهي احسان وو چې له کومي محاسبې پرته ئې پر سليمان عليه السلام لوروڵی وو، د الله تعالی په وړاندي ئې نژدېوالی او غوره پايله په برخه وه.

• د آيت له الفاظو معلومېږي چې سليمان عليه السلام لومړی له يوې الهي آزمويني سره مخامخ شوی، د دغي آزمويني له کبله داسي زوی ورپه برخه شوی چې هسي تش کالبوت او له اوچتو انساني ارزښتونو خالي جسد وو، پر (کرسۍ) د يوه (کالبوت) د اچولو معنی همدا کېدی شي نه بل څه، خپلي اشتباه ته متوجه شوی او خپل رب ته ئې انابت او رجوع کړې، له دې وروسته ئې ويلي چې ما ته داسي پاچايي راپه برخه کړه چې له ما وروسته له هيچا سره نه ښايي!! يعني دا پاچايي ئې په خپل نااهل زوی نه لورېده، په يوه آيت کې او يوه په بلي پسي د دې دواړو خبرو ذکر همدا مطلب په گوته کوي. بايبل هم د ده زوی د رحبعام په نامه يادوي او همداسي نااهل ئې گڼي. خو دا چې د کومي اشتباه بخښنه ئې له الله تعالی غوښتې او ولي دلته د هغې يادونه شوې، د آيت له فحوی داسي معلومېږي چې سليمان عليه السلام د يوه زوی هيله کړې په دې موخه چې د ده وارث شي او پاچايي ئې له ده وروسته هغه ته انتقال شي، که څه هم د زوی او وارث هيله کول کومه گناه نه ده خو د الهي معيارونو له مخي دا صحيح هيله او هوډ نه دئ چې څوك زعامت او مشري ميراثي کړي او دا وغواړي چې اقتدار د ده اولاد ته په ميراث ورسېږي؛ او د همدې لپاره د زوی طمع کول هغه څه دي چې الله تعالی ئې نه خوښوي او له ديني اصولو سره اړخ نه لگوي، د الهي دين لارښوونه دا ده چې زعامت او امامت به صالح او اهل ته سپارل کېږي، سليمان عليه السلام د اقتدار په لومړيو کې زوی نه درلود، له خپل مجاهد پلار داؤد عليه السلام لوی خلافت ورته پاته شوی وو، د دې خلافت اهل او وړ وو، په مخکينيو آيتونو کې مو وليدل چې د ده په اړه ويل شوي: (او پر داؤد مو سليمان ولوراوو، غوره بنده، يقيناً چې هغه (خپل رب ته) ډېر ستنېدونکی وو، هغه مهال چې مازديگر تېز ځغاستي ښه آسونه ور وړاندي کړی شول، نو وئې ويل: د خپل رب د ذکر په سبب مي د آسونو مينه غوره کړې)، له دې وينا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دی د خپل پلار صالح او اهل وارث او مجاهد پيغمبر وو، د خپل ځای ناستي په اړه ئې يو له دغو بديلونو انتخابولی شو: ۱- د زوی هيله وکړي او بيا هغه خپل ځای ناستی وټاکي، ۲- له خپلو مجاهدو او صالحو يارانو يو کس ځای ناستی وټاکي، ۳- د هيچا په اړه سپارښتنه ونه کړي او د ځای ناستي ټاکل خپل امت او يارانو ته پرېږدي، د دغو آيتونو له فحوی معلومېږي چې هغه په سر کې د زوی درلودو هيله کړې او د ځای ناستي په توگه ئې د هغه د ټاکلو پرېکړه کړې، الله تعالی د ده پر دې هيلي او پرېکړي نه دئ راضي شوی، د ده د انتظار او زعم خلاف داسي زوی ورپه برخه شو چې هسي يو کالبوت او ډېر نااهل او بې کفايت وو، خو کله چې د خپل زوی بې کفايتۍ او نااهلۍ ته متوجه شوی نه يوازي له دې هوډ په شا شوی بلکې خپله مخکينۍ پرېکړه ئې اشتباه گڼلې او له الله تعالی ئې د هغې بخښنه

غوښتې؛ او دا پرېکړه ئې کړې چې د ځاى ناستي له ټاکلو به ډډه کوي، اسرائيلي روايت هم وايي چې سليمان عليه السلام په داسي حال کې وفات شو چې هيڅوک ئې د ځاى ناستي په توګه نه وو ټاکلى.

- قرآن موږ ته وايي چې الله تعالى د ابراهيم عليه السلام دا دعاء قبوله نه کړه چې زما اولاد هم امامان کړه! په ځواب کې ئې ورته فرمايلي وو: لا ينال عهدي الظالمين: ظالمان زما په ژمني کې شامل نه دي، يعني ستا هغه زامن زما د عهد مشمول نه دي او هغوى ته د امامت سپارلو ژمنه نه کوم چې ظالمان وي. کله چې سليمان عليه السلام د خپل زوى نااهلي ته متوجه شوى نو الله تعالى ته ئې رجوع کړې، له خپلي مخکينۍ رأيي په شا شوى او د خپلي اشتباه بخښنه ئې غوښتې ده او ويلي ئې دي: ما ته داسي پاچايي راپه برخه کړه چې له ما وروسته له هيچا سره نه ښايي!! دا پاچايي ئې په خپل نااهل زوى نه ده لورېدلې، الله تعالى د ده دا له معنويت ډك دريځ خوښ کړى او په بدل کې ئې ستره پاچايي ورکړه.
- د دغې رجوع او استغفار له کبله بادونه ورته مسخر شوي وو، يعني بادي کښتۍ تر ټولو وړاندي د ده له لوري جوړي شوې.
- الله تعالى پېريان ورته مسخر کړل چې بنائي کارونه ئې پرې کول او له سيندونو ئې مرجان او مرغلري پرې راايستلې.
- د الله تعالى په خوا کې ئې لوړ مقام وو او د غوره پايلي خاوند.

د دې آيتونو مطالب هم هغو خلکو ته ډېر واضح او له ابهام لري دي چې په صفا زړه او شفاف ذهن ورته ځير کېږي، خو متأسفانه له دې هم قصه خوښو داسي څه جوړ کړي چې د سالم فطرت خاوند ورته حيرانېږي.

ځيني وايي: له سليمان عليه السلام دا غلطي شوې وه چې په قصر کې ئې يوې مېرمني تر ځلوېښتو ورځو بُت لمانځلو او دى ترې خبر نه وو، يا دا چې څو ورځي په خپل کور کې ناست وو او د هيڅ مظلوم چيغه ئې نه اورېدله، چې له کبله ئې دا سزا ورکړى شوه چې هغه ګوتې شيطان ترې غلا کړه چې له کبله ئې دا ستره پاچايي د ده په برخه شوې وه او شيطانان ورته تابع ول، تر ځلوېښتو ورځو له پاچايي محروم شو او پر کرسۍ ئې شيطان کښېناست، ګواکې د ده پر کرسۍ د جسد اچولو معنى همدا ده!!! ځيني په خپلو خرافاتو کې دومره وړاندي تللي چې ويلي ئې دي: په دې مودې کې حتى د سليمان عليه السلام حرم او مېرمني هم د شيطان له تېري خوندي نه وې ځکه هغه د سليمان عليه السلام په بني او شکل کې ځرګند شوى او پر کرسۍ ئې ناست وو!! او ګواکې ځلوېښت ورځي وروسته د دربار ځيني مشران په شك کې پرېوتل او د شيطان په وړاندي ئې تورات پرانيستلو چې له کبله ئې هغه وتښتېدو او هغه سليماني ګوتې ئې سمندر ته واچوله او ببرته په دې توګه سليمان عليه السلام ته په لاس ورغله چې د يوه کب نس ئې د پاکولو او پخولو لپاره ځيري

کړ او ناځاپي ئې خپله ورکه شوې ګوتې په کې وموندله او په همدې سره ئې تللې پاچايي بېرته راستنه شوه او تبنتېدلي پېريان بېرته ورته تسليم شول!!! دا خندوونکې قصه له سر تر پای غلطه او له خرافاتو ډکه ده او هغو خلکو په مسلمانانو کې خوره کړې چې د تلمود په څېر د يهودو له کتابونو ئې اخيستې ده. نه د سليمان عليه السلام ستره پاچايي د يوې جادويي ګوتې له کبله وه، نه شيطان له چا څه تښتولی شي، نه شيطان د انسان او پيغمبر په بڼې کې څرګندېدی شي، د قرآن وينا په دې اړه ډېره صريح ده چې د سليمان عليه السلام ستره پاچايي د ده او د ده د مجاهد پلار د جهادونو نتيجه وه نه د جادويي ګوتې، دا ادعاء د قرآن له دغو آيتونو سره په بشپړه توګه تعارض لري ځکه دا آيتونه وايي چې سليمان عليه السلام ته پېريان له يوې ابتلاء او فتنې وروسته او له بخښنې غوښتلو او د ده له يوې دعاء وروسته مسخر کړی شول، حال دا چې دا خرافي قصه ادعاء کوي چې پېريان تر دې وړاندې ده ته د يوې ګوتې په طفيل مسخر ول!!

بله ډله وايي چې الله تعالی سليمان عليه السلام ته له شلو کلونو وروسته زوی ورکړ، پېريان ووېرېدل چې که دا زوی ئې ستر شي او د ده ځای ناستی شي نو دوی به د سليمان عليه السلام له وفات وروسته هم تر اوږدې مودې په اسارت او محکوميت کې پاتې شي، نو پرېکړه ئې وکړه چې هغه ووژني، سليمان عليه السلام پرې خبر شو، نو خپل زوی ئې په وريځو کې پټ کړ چې هم د دوی له شر خوندي وي او هم ئې هملته پالنه وشي، ګواکې همدا هغه فتنه وه چې ورسره مخامخ شوی وو، پر الله تعالی ئې د توکل پر ځای پر وريځو توکل وکړ!! چې په سزا کې ئې همدا زوی مړ شو او جسد ئې د ده پر کرسۍ راپرېوت!! د دې مسخره قصې د ترديد لپاره دا کافي ده چې ووايو: باد تر دغې فتنې وړاندې نه بلکې تر دې وروسته سليمان عليه السلام ته مسخر شوی؛ او د مسخر کېدو معنی ئې دا نه ده چې د ده زوی به د وريځو پر سر ورته ساتي بلکې معنی ئې دا ده چې بادي کشتۍ ئې جوړې کړې.

بله ډله ئې وايي: سليمان عليه السلام يوه ورځ لوړه وکړه چې نن شپه به له خپلو سلو مېرمنو سره مجامعت کوم چې له هرې يوې د الله د لارې يو مجاهد پيدا شي، خو إن شاء الله ئې ونه ويل، نو ځکه يوازې يوه مېرمن ئې حامله شوه او له هغې هم يو معيوب او ناقص الخلقة زوی پيدا شو او قابلې راوړ او د ده پر کرسۍ ئې واچاوو!! دوی په دې اړه پر يوه روايت هم استناد کوي چې ابوهريرة رضی الله عنه ته منسوب شوی، ښه به وي چې لومړی دغه روايت له نظره تېر کړو، روايت دا دئ:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ - عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ - لأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى مِائَةِ امْرَأَةٍ - أَوْ تِسْعٍ وَتِسْعِينَ - كُلُّهُنَّ يَأْتِى بِفَارِسٍ يُجَاهِدُ فِى سَبِيلِ اللَّهِ، فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ . فَلَمْ يَقُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ . فَلَمْ

يَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلاَّ امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ، جَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ، وَالَّذِى نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، لَجَاهَدُوا فِى سَبِيلِ اللَّهِ فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ » . رواه البخارى.

له ابو هريره رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: سليمان د داؤد زوى عليهما السلام وويل: حتماً به نن شپه په خپلو سلو يا نه نوي مېرمنو راگرځم، هره يوه به يو شهسوار زېږوي چي د الله په لار کې به جهاد کوي، نو ملگري ئې ورته وويل: إن شاء الله ووايه، خو ده إن شاء الله ونه ويل، نو له دوى ټولو يوازي يوه مېرمن حامله شوه چي ناقص الخلقه او نيمگړى زوى ئې وزېږولو، قسم په هغه ذات چي زما ژوند د ده په واك کې دئ چي که إن شاء الله ئې ويلي وى نو ټولو به د الله په لار کې د شهسوارو په توگه جهاد کړى وو.

دا روايت په بخاري کې شپږ ځلي په دغو شمېرو راغلى: ۲۸۱۹، ۳٤۲٤، ۵۲٤۲، ٦٦۳۹، ٦۷۲۰، ۷٤٦۹، د سند له پلوه غريب دئ او په صحابه وو کې يوازي يو راوي لري چي ابوهريره رضى الله عنه دئ او له بل هيڅ صحابي نه دئ روايت شوى. د متن له پلوه داسي دي چي تر منځ ئې جدي توپيرونه شته، په يوه کې لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى سَبْعِينَ امْرَأَةً راغلي، په بل کې لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ بِمِائَةِ امْرَأَةٍ أَوْ تِسْعٍ وَتِسْعِينَ، په بل کې لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى تِسْعِينَ امْرَأَةً او په بل کې كَانَ لَهُ سِتُّونَ امْرَأَةً فَقَالَ لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى نِسَائِى، په يوه کې فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ راغلي په بل کې فَقَالَ لَهُ الْمَلَكُ قُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ او په بل کې فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ - قَالَ سُفْيَانُ يَعْنِى الْمَلَكَ - قُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ.. په يوه کې ويل شوي چي إِنْ شَاءَ اللَّهُ ئې ونه ويل او په بل کې ويل شوي چي ترې هېر شو...

لکه چي گورئ ځيني ئې وايي چي د سليمان عليه السلام د مېرمنو شمېر شپېته وو، ځيني ئې اويا، ځيني ئې نوي، ځينې ئې نه نوي او ځيني ئې سل بولي، په ځينو کې ويل شوي چي يوه ملگري ئې ورته وويل: قُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، په بل کې ويل شوي چي يوې فرشتې دا خبره ورته وکړه او په بل کې د دې خبري هيڅ يادونه نه ده شوې، پوښتنه دا ده: په دغو رواياتو کې کوم ئې صحيح دئ؟ د سليمان عليه السلام د مېرمنو شمېر څومره وو؟ ملگري ئې ورته ويلي چي إن شاء الله ووايه که فرشتې؟ ولې په ټولو صحابه وو کې يوازي يوه کس دا خبره کړې؟ ولې يوه کس ته منسوب روايت کې دومره جدي او ژور توپيرونه تر سترگو کېږي؟ څنگه به داسي روايت د اعتبار وړ گڼو چي د سند او متن له پلوه دومره ضعفونه لري، له قرآن سره هيڅ اړخ نه لگوي، د عقل او فطرت خلاف خبره کوي؟! آيا په يوه شپه کې له سلو مېرمنو سره مجامعت ممکن دئ؟! دا کار خو نه د يوې شپې په دولسو ساعتونو کې ممکن دئ او نه د انسان جنسي طاقت ته مقدور او ممکن دئ!! د دې خبري معنى خو دا ده چي هغه شپه لږ تر لږه سل ساعته اوږده شوې، سپوږمۍ او لمر له حرکته لوېدلي چي په نتيجه کې ئې دا شپه دومره اوږده شوې چي سليمان عليه السلام توانېدلي له خپلو سلو مېرمنو سره جنسي نژدېکت وکړي!! په داسي حال کې چي بل روايت وايي: لمر له يوشع

عليه السلام پرته هيچا ته نه دئ ودربدلی!! آيا کوم عاقل انسان به دا خبره وکړي چي زه نن شپه له خپلو ټولو مېرمنو سره مجامعت کوم او له ټولو به هرو مرو توريالي او جنگيالي زامن پيدا شي؟!! آيا يوه پيغمبر ته دا د عقل او انساني فطرت خلاف خبري منسوبول لوی جسارت نه دئ؟!!

قرآن وايي: دا پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي چي چا ته اولاد ورکړي، کله ئې ورکړي، زوی ورکړي که لور، په آسمان او زمکي کي له الله تعالی پرته هيڅوك نه په دې اړه څه واك لري او نه پوهېږي چي کله به ئې څنگه اولاد په برخه شي، ابراهيم عليه السلام ته په زړښت کي د اولاد زېری ورکړی شو خو نه پوهېدو چي دا زوی به ئې څنگه او کله په برخه کېږي، زکريا عليه السلام ته هم په زړښت کي دا زېری ورکړی شو خو نه پوهېدو الله تعالی به څنگه او کله زوی ورکوي، د خپل زړه د ډاډ لپاره ئې د نښي غوښتنه وکړه او ورته وويل شو: نښه ئې دا ده هغه مهال به تر دريو ورځو خبري نه شې کولی!! سليمان عليه السلام تر ډېرو کلونو زوی نه درلود، پوښتنه دا ده چي په آخري عمر کي به هغه څنگه دا خبره کوله چي نن شپه به داسي کار کوم چي سل جنگيالي زامن مي په برخه شي؟!! هغه روايت به څنگه او ولي منو چي د قرآن او عقل خلاف وي او د سليمان عليه السلام په څېر ستر پيغمبر ته داسي غلطه وينا منسوب کړي؟!!

د دې کمزورو او متعارضو رواياتو په مقابل کي دا روايات هم په پام کي ولرئ چي وايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"وُلِدَ لِسُلَيْمَانَ بن دَاوُدَ ابْنٌ، فَقَالَ لِلشَّيَاطِينِ: أَيْنَ نُوَارِيهِ مِنَ الْمَوْتِ؟ فَقَالُوا: نَذْهَبُ بِهِ إِلَى الْمَشْرِقِ. قَالَ: يَصِلُ إِلَيْهِ الْمَوْتُ. قَالُوا: فَإِلَى الْمَغْرِبِ. قَالَ: يَصِلُ إِلَيْهِ الْمَوْتُ. قَالُوا: إِلَى الْبِحَارِ، قَالَ: يَصِلُ إِلَيْهِ، قَالُوا: نَضَعُهُ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، وَنَزَلَ عَلَيْهِ مَلَكُ الْمَوْتِ، فَقَالَ: يَابْنَ دَاوُدَ: إِنِّي أُمِرْتُ بِقَبْضِ نَسَمَةٍ طَلَبْتُهَا فِي الْمَشْرِقِ فَلَمْ أُصِبْهَا، فَطَلَبْتُهَا فِي الْمَغْرِبِ فَلَمْ أُصِبْهَا، وَطَلَبْتُهَا فِي الْبِحَارِ، وَطَلَبْتُهَا فِي تُخُومِ الأَرَضِينَ فَلَمْ أُصِبْهَا، فَبَيْنَا أَنَا أَصْعَدُ إِذْ أَصَبْتُهَا، فَقَبَضْتُهَا، وَجَاءَ جَسَدُهُ حَتَّى وَقَعَ عَلَى كُرْسِيِّهِ، فَهُوَ قَوْلُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا عَلَى كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ". المعجم الاوسط للطبرانی

له ابو هريره رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: د سليمان رضی الله عنه زوی وزېږېدو، شيطانانو ته ئې وويل: له مرگ ئې چېري پټ کړو؟ وئې ويل: مشرق ته ئې وړو، وئې ويل: مرگ وررسېدی شي، وئې ويل: مغرب ته ئې وړو، وئې ويل: مرگ وررسېدی شي، وئې ويل: سمندرونو ته ئې وړو، وئې ويل: وررسېدی شي،

وئې ویل: د آسمان او زمکې تر منځ ئې ږدو، ملك الموت ورته راغی او وئې ویل: اې د داؤد زویه! زه د یوه کس د روح په قبضولو وګمارل شوم، نو په ختیځ کې مې ولټولو خو پیدا مې نه کړ، بیا مې په لوېدیځ کې ولټولو پیدا مې نه کړ؛ او په سمندرونو او د زمکې چارچاپېر مې ولټولو پیدا مې نه کړ، خو کله چې د آسمان په لوري تلم نو ومې موندو او روح مې قبض کړه، دغه مهال د هغه جسد راغی او د ده پر کرسۍ پرېوت!! او همدا د الله تعالی د قول مصداق دئ چې فرمایي: " وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا عَلَى كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ".

څو پوښتني لرو: د ابوهریره رضی الله عنه دا روایت صحیح دئ او که هغه شپږ مخکیني چې په بشپړه توګه له دې سره تعارض لري؟!! آیا یو مؤمن انسان بیا یو پیغمبر به داسې کار وکړي چې خپل زوی له ملك الموت پټوي او په دې اړه له شیطان سره مشوره کوي او شیطانانو ته ئې سپاري چې په وریځو کې ئې له فرشتې پټ کړي؟!! آیا داسې مسخره روایات د دې وړ دي چې زموږ په کتابونو کې راشي؟!

دې بل روایت ته هم ځیر شئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: {وَأَلْقَيْنَا عَلَى كُرْسِيِّهِ جَسَدًا} قَالَ: " هُوَ الشَّيْطَانُ الَّذِي كَانَ عَلَى كُرْسِيِّهِ يَقْضِي بَيْنَ النَّاسِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، وَكَانَ لِسُلَيْمَانَ جَارِيَةٌ يُقَالَ لَهَا: جَرَادَةُ وَكَانَ بَيْنَ بَعْضِ أَهْلِهَا وَبَيْنَ قَوْمِهِ خُصُومَةٌ، فَقَضَى بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ إِلَّا أَنَّهُ وَدَّ أَنَّ الْحَقَّ لِأَهْلِهَا، فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ أَنَّهُ سَيُصِيبُكَ بَلَاءٌ، وَكَانَ لَا يَدْرِي يَأْتِيهِ مِنَ السَّمَاءِ أَوْ مِنَ الْأَرْضِ «هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ» المستدرك على الصحيحين للحاكم!!!

له ابن عباس رضی الله عنهما روایت دئ د الله تعالی د دې کلام په اړه: ( وألقينا على كرسيه جسدا) وئې ویل: دا شیطان وو چې د ده پر کرسۍ کښېنستی وو او څلوېښت ورځې ئې د خلکو تر منځ قضاوت کولو، د سلیمان یوه وینځه وه چې د جراده په نامه یادېدله، د دې د کورنۍ د ځینو غړو او د قوم تر منځ ئې یوه شخړه وه، نو سلیمان علیه السلام د دوی تر منځ سمه فیصله وکړه خو زړه ئې دا غوښتل چې د دې د قوم په ګټه پرېکړه وکړي، نو الله تعالی ورته وحي وکړه چې په یوه مصیبت به اخته شې، نه پوهېدو چې دا مصیبت به له آسمان راشي که له زمکې، (ګواکې مصیبت دا وو چې اقتدار ترې واخیستل شو او تر څلوېښتو ورځو د شیطان په لاس کې پرېوت او هغه به د ده له کرسۍ د خلکو تر منځ قضاوت کولو)!!

د دغو متعارضو او د قرآن، عقل، درایت او فطرت خلاف روایاتو په اړه څو خبرې کولی شو: یا خو دا په بشپړه توګه جعلي او موضوعي روایات دي، د اسلام دښمنانو جوړ کړي او لویو لویو شخصیتونو ته ئې منسوب کړي او یا دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم او

کوم صحابي له اهل کتاب نقل قول کړی او دا ئې د هغوی د ويناوو او رواياتو په ضمن کې ياده کړې خو اوربېدونکي دا انتباه اخيستې چې ګواکې دا په خپله د رسول الله صلی الله عليه و سلم يا د هغه صحابي خپله رأيه ده.

ښه به وي چې دلته د دې آيت په اړه د امام رازي رأيه هم له نظره تېره کړو، هغه ټول پورتني روايات بې اعتباره ګڼلي او آيت ئې داسې تعبير کړی: سليمان عليه السلام يا په يوې سختې ناروغۍ مبتلی شوی يا د کوم خطر له کبله دومره اندېښمن شوی وو چې ډېر ئې کمزوری او ضعيف کړ، دومره چې پر هډوکو ئې فقط پوستکی پاته شو، داسې شو لکه په يوه پوستکي کې پټ کالبوت؛ او ګواکې همدا د دې آيت (و القينا علی کرسيه جسداً) تفسير دئ. موږ په دې اړه ورسره موافق يو چې پورتني روايات او تعبيرونه ناسم دي خو په دې کې شك نشته چې د ده تعبير له ټول مضمون سره اړخ نه لګوي، په آيت کې ويل شوي: (... او د ده پر کرسۍ مو يوه (هسي) جثه واچوله، بيا ئې انابت وکړ، وئې ويل: اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه، ) له دې الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې له سليمان عليه السلام کومه اشتباه شوې، د اشتباه له کبله ئې مکرر انابت کړی او بخښنه ئې غوښتې.

دې ته مو پام وي چې د ټولو محققينو، فقهاءو او محدثينو دا اتفاقي رأيه ده چې د روايت د صحت اساسي شرائط دا دي: له قرآن سره به تعارض نه لري، د عقل او فطرت خلاف خبره به ئې نه وي کړې، له نورو صحيح رواياتو سره به تضاد او تعارض نه لري، راوي ته به داسې قول نه وي منسوب شوی چې هغه په هيڅ توګه ترې خبرېدی نشي، له دې اساسي شرائطو وروسته به دا ګورو چې سند ئې صحيح دئ که نه، متأسفانه ځينو يوازې سند ته اعتبار ورکړی او دغه اساسي شرائط ئې له پامه غورځولي او له همدې کبله ئې داسې روايات هم صحيح ګڼلي چې د دغو شرائطو له مخې قطعاً د اعتبار او اعتناء وړ نه دي. پورتني روايات ئې ځرګندې بېلګې دي.

وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِنُصۡبٖ وَعَذَابٍ ۝٤١
ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ ۝٤٢ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم
مَّعَهُمۡ رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ۝٤٣ وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثٗا فَٱضۡرِب بِّهِۦ
وَلَا تَحۡنَثۡۗ إِنَّا وَجَدۡنَٰهُ صَابِرٗاۚ نِّعۡمَ ٱلۡعَبۡدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٞ ۝٤٤

او زموږ بنده ايوب درياد کړه، کله چې ئې خپل رب ته غږ کړ: شيطان په کړاو او عذاب اخته کړی يم، (ورته ومو ويل): په خپلې پښې سره ئې ووهه، دا ئې د غسل سوړ ځای او څښاك؛ او ده ته مو د ده ټول ټبر او له هغوی سره ورته ئې ورپه برخه

کړل، زموږ له لوري يوه پېرزوينه او د عقلمنو لپاره يو پند؛ او په خپل لاس يوه ګېډۍ واخله او وهل پرې وکړه او لوړه دې مه ماتوه، يقيناً چې هغه مو صبرناك وموند، غوره بنده، يقيناً چې هغه ډېر رجوع کوونکی وو.

(٤١-٤٤)- دلته د ايوب عليه السلام په اړه ويل شوي:

- خپل رب ته ئې په دې الفاظو دعاء وکړه: شيطان په کړاو او عذاب اخته کړی يم، يعني د شيطان د کومي وسوسې له کبله مي داسي څه کړي چي د دې کړاو او عذاب وړ ګرځېدلی يم، معنی ئې دا ده چي شيطان او وسوسې ئې د کړاو او عذاب سبب شوي، نه دا چي شيطان په خپله مخامخ دی له کړاو او عذاب سره مخامخ کړی. شيطان نه شي کولی څوك په کړاو او عذاب اخته کړي خو کولی شي ګناه ته ئې وهڅوي او د ګناه له کبله له کړاو او عذاب سره مخامخ شي. د ايوب عليه السلام د وينا معنی دا ده چي په خپلي اشتباه ئې اعتراف کړی او له مزيد څه ويلو ئې ډډه کړې، د الانبياء د سورې په ٨٣ آيت کې د ده دا وينا په دغو الفاظو راغلې: وَأَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ٨٣ : او ايوب چي خپل رب ته ئې (د دعاء لپاره) غږ کړ چي يقيناً ما ته کړاو رارسېدلی او ته تر ټولو رحم کوونکو زيات مهربان يې، دلته هم په همدې اکتفاء کوي او مزيد څه نه وايي. که څه هم د دې آيت بل د پام وړ تعبير دا دئ: د شيطان وسوسو تر ناروغۍ هم زيات په کړاو او عذاب اخته کړی يم، خو لکه څنګه چي په مخکينيو قصو کې پر اشتباهاتو د اعتراف بېلګي تر سترګو کېږي او د ايوب عليه السلام اعتراف ته ورته اعترافات ګورو نو ځکه په يقين سره ويلی شو چي د ايوب عليه السلام د وينا صحيح تعبير همغه لومړنی تعبير دئ نه بل څه.

د دې اعتراف او دعاء په ځواب کې ورته ويل شوي: زمکه په خپلي پښې سره ووهه، په دې سره له زمکي چينه راخوټېدلې؛ او ورته ويل شوي: دا ئې ستا د غسل لپاره سوړ ځای او ستا د څښاك لپاره سړې اوبه، له الفاظو داسي معلومېږي چي همدا سړه چينه او اوبه ئې د ده کړاو ته علاج وو، په داسي ناروغۍ مبتلی شوی وو چي د دې چينې د اوبو په څښلو او په هغې کې د لامبلو له کبله ترې روغ شوی. په غالب ګمان سره هغه په کوم جلدي ناروغۍ مبتلی شوی وو، بايبل هم دې ته ورته وينا لري.

ورپسې ويل شوي: ده ته مو د ده ټول ټبر او له هغوی سره ورته ئې ورپه برخه کړل، له دې وينا په ډېر صراحت سره معلومېږي چي د دغې ناروغۍ له کبله د ده ټول ټبر ترې بېل شوی، له بل آيت معلومېږي چي يوازي مېرمن ئې تر پايه ورسره پاتې شوې او د ده خدمت ئې کړی. له روغېدو وروسته نه يوازي د خپلي کورنۍ ټول مخکيني غړي بېرته ورسره يوځای شوي بلکي همدومره نور ئې پر ټبر زيات شوي. نه يوازي مخکيني دوستان او خپلوان ئې بېرته پر شاوخوا راغونډ شول بلکي الله تعالی همدومره نور دوستان او خپلوان هم ورپه برخه کړل.

دا د ده په اړه د الله تعالی یوه پېرزوینه وه او د عقلمنو لپاره یو پند، الله تعالی د خپلې پېرزوینې له مخې دا احسان پرې وکړ او په همدې کې د الله تعالی د ټولو مخلصو بندګانو لپاره د پند او عبرت لوی درس دئ، دوی باید ډاډه او مطمئن وي چې که د آزموینو په وړاندې د صبر او استقامت لمن پرې نږدې، بې حوصلې نشي، د ایوب علیه السلام په څېر صبر وکړي او د مشکلاتو حل له خپل مهربان رب وغواړي نو الله تعالی به تر هر مهربان زیات مهربان وومومي.

ورته ویل شوي: په خپل لاس یوه ګېډۍ واخله او وهل پرې وکړه او لوړه دې مه ماتوه. د آیت له الفاظو معلومېږي چې ایوب علیه السلام لوړه کړې وه چې کوم کس به په لښتو وهي، خو دا نه دي ویل شوي چې څوك به وهي، ولې به ئې وهي او څو لښتې به ئې وهي، د آیت له الفاظو دومره معلومېږي چې د لښتو شمېر به د یوې ګېډۍ په اندازه وو، ځکه ده ته ویل شوي: لوړه دې تر سره کړه، همدومره شمېر لښتې یوه ګېډۍ کړه او هغه کس یو ځل پرې ووهه چې تا ئې د وهلو لوړه کړې وه، په روایاتو کې راځي چې دا کس د ده وفاداره مېرمن وه، په کوم څه پرې غصه شوی وو او لوړه ئې کړې وه چې هغه به وهي، خو وروسته متوجه شوی چې غصه ئې بې ځایه وه، کله چې روغ شو نو دا اندېښنه ورسره وه چې له خپلې لوړې سره څه وکړي، الله تعالی ئې لارښوونه وکړه چې خپله لوړه په دې توګه تر سره کړه.

د آیتونو په پای کې ویل شوي: هغه مو صبرناك ووموند، غوره بنده، یقیناً چې هغه ډېر رجوع کوونکی وو.

د دې تفصیل د الانبیاء د سورې د ٨٣-٨٤ آیتونو په تفسیر کې وګورئ. خو دلته دومره وضاحت په کار دئ چې ځینو داسې انګېرلې چې د ایوب علیه السلام ټوله کورنۍ له منځه تللې او ګواکې مړه شوې، په داسې حال کې چې د آیت له الفاظو قطعاً داسې نه معلومېږي، بلکې ښیې چې د کورنۍ غړي ترې بېل شوي او له روغېدو وروسته ټول د ده خوا ته راغونډ شوي، د دوی د مړینې وینا د بایبل ده خو په دې اړه د بایبل وینا دومره کچه او غلطه ده چې هیڅ عقلمن انسان ئې نشي منلی، ښه به وي چې تفصیل ئې د (بایبل د قرآن په رڼا کې) کتاب کې وګورئ.

په دې مبارك آیت کې ایوب علیه السلام ته د خپل قسم په ارتباط ویل شوي چې هغه مه ماتوه او تر سره ئې کړه، په دې اړه دوه پوښتنې راولاړېږي: یوه دا چې آیا کولی شو داسې څه وکړو لکه چې ایوب علیه السلام پرې ګمارل شوی وو؟ مثلاً یو کس د اتیا درو په وهلو محکوم شوی خو هغه دومره ضعیف او کمزوری دئ چې اتیا درې نشي تحمل کولی؛آیا کولی شو اتیا درې سره یو ځای کړو او یو ځل ئې پرې ووهو؟ بله دا چې آیا انسان په هغه قسم هم مکلف دئ چې په یوې ناسمې خبرې ئې کړی وي، لکه دلته چې ایوب علیه السلام ته له خپلې لوړې وروسته معلومه شوې چې د خپلې مېرمنې د وهلو په اړه د

ده لوړه ناسمه او بې ځایه وه؟ په دې اړه د فقهاءو تر منځ دوه رأیې زموږ مخې ته راځي: یوه رأیه دا چې د داسې قسم کفاره دا ده چې دا ناسم کار تر سره نشي او بله رأیه دا چې د ناسم کار پر ځای دې سم کار وکړي او د قسم کفاره به ورکوي. د احنافو رأیه دا ده چې د قسم کفاره به ورکوي او ایوب علیه السلام ته دا الهي لارښوونه عمومیت لري او تر ده محدوده او مختصه نه ده، د دوی رأیه نه یوازې د دې آیت مطابق ده بلکې په تأیید کې ئې دا روایت هم وړاندې کوي:

وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ كَانَ بَيْنَ أَبْيَاتِنَا رُوَيْجِلٌ ضَعِيفٌ فَخَبَثَ بِأَمَةٍ مِنْ إِمَائِهِمْ فَذَكَرَ ذَلِكَ سَعْدٌ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : اضْرِبُوهُ حَدَّهُ فَقَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُ أَضْعَفُ مِنْ ذَلِكَ قَالَ: خُذُوا عِثْكَالًا فِيهِ مِائَةُ شِمْرَاخٍ ثُمَّ اضْرِبُوهُ بِهِ ضَرْبَةً وَاحِدَةً فَفَعَلُوا . رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ

له سعید بن سعد بن عباده روایت دئ چې وئې ویل: زموږ په کورونو کې یو وړوکی کمزوری سړی وو، له یوې وینځې سره ئې زنا وکړه، سعد رضی الله عنه دا خبره رسول الله صلی الله علیه و سلم ته یاده کړه، وئې فرمایل: د زنا حد پرې جاري کړئ، وئې ویل: یا رسول الله! هغه تر دې ډېر ضعیف دئ (چې دا تحمل کړی شي) وئې فرمایل: د کجورې داسې لویه څانګه درواخلئ چې سل وړې څانګې لري او په همدې سره ئې یو ځل ووهئ، نو همداسې ئې وکړل.

---

وَٱذۡكُرۡ عِبَٰدَنَآ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ أُوْلِي ٱلۡأَيۡدِي وَٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴿٤٥﴾ إِنَّآ أَخۡلَصۡنَٰهُم بِخَالِصَةٖ ذِكۡرَى ٱلدَّارِ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّهُمۡ عِندَنَا لَمِنَ ٱلۡمُصۡطَفَيۡنَ ٱلۡأَخۡيَارِ ﴿٤٧﴾

او زموږ بندګان ابراهیم، اسحاق او یعقوب درياد کړه؛ د پیاوړو لاسونو خاوندان او سترګور، یقیناً چې دوی ته مو د آخرت یادولو خصلت سره ځانګړتیا ورکړې وه؛ او یقیناً چې دوی زموږ په وړاندې د غوره شوو نېکانو له ډلې ول.

---

(٤٥-٤٧)- دلته ابراهیم، اسحاق او یعقوب علیهم السلام د هغو شخصیتونو په توګه زموږ په وړاندې انځور شوي چې پند ترې واخلو او د هغوی خصلتونه غوره کړو، د دوی دا ځانګړتیاوې راښیي: د پیاوړو او هنرمنو لاسونو خاوندان او سترګور ول، تل ئې آخرت په یاد وو، د الله تعالی په وړاندې د غوره شوو نېکانو له ډلې ول.

وَٱذۡكُرۡ إِسۡمَٰعِيلَ وَٱلۡيَسَعَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِۖ وَكُلّٞ مِّنَ ٱلۡأَخۡيَارِ ﴿٤٨﴾ هَٰذَا ذِكۡرٞۚ وَإِنَّ
لِلۡمُتَّقِينَ لَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٤٩﴾ جَنَّٰتِ عَدۡنٖ مُّفَتَّحَةٗ لَّهُمُ ٱلۡأَبۡوَٰبُ ﴿٥٠﴾ مُتَّكِـِٔينَ
فِيهَا يَدۡعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ وَشَرَابٖ ﴿٥١﴾ وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ
أَتۡرَابٌ ﴿٥٢﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰذَا لَرِزۡقُنَا مَا لَهُۥ مِن
نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾

او اسمعیل، یسع او ذالکفل درياد کړه، چې هر يو ئې د نېکانو له ډلې وو، دا ذکر دئ؛ او يقيناً چې دغو متقيانو ته حتماً د ورگرځېدو ښکلی ځای دئ؛ داسې تلپاتی جنت چې دروازې به ئې ورته پرانيستې وي، په هغه کې داسې تکيه کوونکې چې ډېرې مېوې او څښاك به غواړي، خوا ته به ئې د نظر لنډوونکې همزولې وي، دا همغه څه دي چې د حساب د ورځې په اړه ئې وعده درسره کېده، يقيناً دا زموږ همغه رزق دئ چې پای ته رسېدل ئې نشته.

---

(٤٨-٥٤)- دلته له یوې خوا د نېکو شخصیتونو درې نوري بېلگي موږ ته معرفي شوې: اسمعیل، یسع او ذاکفل علیهم السلام؛ او له بلې خوا په جنت کې د ټولو متقینو د ورگرځېدو ښکلی ځای داسې انځور شوی: داسې تلپاتی جنت چې دروازې به ئې ورته پرانيستې وي، په تختونو به ئې تکيه وهلې وي، ډېرې مېوې او څښاك به ئې په برخه وي، خوا ته به ئې د نظر لنډوونکې همزولې وي، دوی ته به وويل شي: دا همغه څه دي چې الله تعالی ئې له تاسو سره په دنيا کې وعده کړې وه چې د حساب په ورځ به ستاسو په برخه شي، دا زموږ همغه رزق دئ چې پای ته رسېدل ئې نشته.

---

هَٰذَاۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ لَشَرَّ مَـَٔابٖ ﴿٥٥﴾ جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَا فَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هَٰذَا
فَلۡيَذُوقُوهُ حَمِيمٞ وَغَسَّاقٞ ﴿٥٧﴾ وَءَاخَرُ مِن شَكۡلِهِۦٓ أَزۡوَٰجٌ ﴿٥٨﴾ هَٰذَا فَوۡجٞ مُّقۡتَحِمٞ
مَّعَكُمۡ لَا مَرۡحَبَۢا بِهِمۡۚ إِنَّهُمۡ صَالُواْ ٱلنَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُواْ بَلۡ أَنتُمۡ لَا مَرۡحَبَۢا بِكُمۡۖ
أَنتُمۡ قَدَّمۡتُمُوهُ لَنَاۖ فَبِئۡسَ ٱلۡقَرَارُ ﴿٦٠﴾ قَالُواْ رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدۡهُ عَذَابٗا
ضِعۡفٗا فِي ٱلنَّارِ ﴿٦١﴾

همدا؛ او د سرکشانو لپاره حتماً د ورگرځېدو بد ځای دئ؛ داسې دوزخ چې دوی به

ورننوځي؛ ځومره بد استوګنځی؛ همدا؛ تودې اوبه او نو (زوي)؛ نو خوند دې وڅكي؛ او دې ته ورته نور ډول ډول عذابونه، دا داسي فوځ دئ چي له تاسو سره یو ځای ننوتونکی دئ، هیڅ هرکلي دي ورته نه وي، یقیناً چي دوی هرو مرو اور ته ننوتونکي دي. وبه وایي: نه؛ بلکي تاسو هغه یئ چي هیڅ هرکلی دي درته نه وي، تاسو دا راپه برخه کړی، نو د تمېدو ځومره بد ځای!! وبه وایي: اې زموږ ربه! چا چي دا راپه برخه کړ په اور کي ئې عذاب دوه برابره ورزیات کړه.

(۵۵-٦۱)- دلته د متقینو په مقابل کي د سرکشانو اخروي پایله داسي انځور شوې: د دوی لپاره د ورګرځېدو بد ځای تیار شوی، داسي دوزخ چي دوی به ورننوځي، ډېر بد استوګنځی، تودې اوبه او نو به ئې په برخه وي او ورته ویل کېږي به: خوند ئې وڅکئ، دې ته ورته ډول ډول نور عذابونه، یوه ډله به وړاندي او بله به ورپسې دوزخ ته ننوځي، یوې ته به د بلي په اړه ویل کېږي: دا فوځ به هم له تاسو سره یو ځای دوزخ ته ننوځي، هیڅ هرکلي دي ورته نه وي، هرو مرو به اور ته ننوځي، دا ننوتونکی فوځ به ووایي: نه؛ بلکي تاسو هغه یئ چي هیڅ هرکلی دي درته نه وي، تاسو له دې برخلیك سره مخامخ کړو، دا د تمېدو بد ځای به ئې په برخه وي!! د تابعانو دوزخي ډله به د خپلو مشرانو په اړه ووایي: اې زموږ ربه! چا چي دا راپه برخه کړ په اور کي ئې عذاب دوه برابره ورزیات کړه.

وَقَالُوا۟ مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ ٱلْأَشْرَارِ ﴿٦٢﴾ أَتَّخَذْنَـٰهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ ٱلْأَبْصَـٰرُ ﴿٦٣﴾ إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ ٱلنَّارِ ﴿٦٤﴾

او وبه وایي: څه راباندي شوي هغه سړي نه ګورو چي موږ به د اشرارو له ډلي ګڼل؟!، آیا موږ تر ملنډو لاندي نیولي ول که سترګي ترې کږې شوې، یقیناً چي د دوزخیانو دا شخړه یو حقیقت دئ.

(٦۲-٦٤)- دلته د دوزخیانو د هغه مهال حالت انځور شوی چي په دوزخ کي به یوې خوا بلي خوا ته سترګي وغړوي او هغه مؤمنان به ئې تر سترګو نشي چي دوی به د اشرارو په نامه یادول نو وبه وایي: ولي هغه سړي نه وینو چي موږ به د اشرارو له ډلي ګڼل، څه راباندي شوي، سترګي مو سم کار نه کوي که دا زموږ غلطي وه او پر هغوی مو ملنډې وهلې؟!! الله تعالی فرمایي چي د دوزخیانو دا شخړه یو حقیقت دئ او حتماً به تر سره کېږي.

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَـٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ

وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ﴿٦٦﴾ قُلۡ هُوَ نَبَؤٌاْ عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ أَنتُمۡ عَنۡهُ
مُعۡرِضُونَ ﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِيَ مِنۡ عِلۡمِۭ بِٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰٓ إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِن يُوحَىٰٓ
إِلَيَّ إِلَّآ أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿٧٠﴾

ووايه: خبره فقط دا ده چې زه يو منذر يم؛ او له يوازيني ډېر برلاسي الله پرته بل معبود نشته، همغه د آسمانونو، زمکې او هر هغه څه بخښونکی عزتمن رب چې په دوی دواړو کې دي، ووايه: دا ستره خبره ده، تاسو ترې ډډه کوئ، زه د ملأ اعلی د هغه مهال په اړه څه علم نه لرم چې دوی مناقشه کوي، ما ته له دې پرته بله وحي نه کېږي چې زه يو څرګند نذير يم.

---

(٦٥-٧٠)- دلته رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې خپلو مخاطبينو ته ووايي: زه فقط يو منذر (خبرداری ورکوونکی) يم، د کفر او شرك له بدو پايلو مو خبروم؛ او درته وايم چې له يوازيني ډېر برلاسي الله پرته بل معبود نشته، همغه بخښونکی عزتمن رب چې د آسمانونو، زمکې او هر هغه څه پالونکی دئ چې په دوی دواړو کې دي، ووايه: ستره خبره همدا ده خو تاسو ترې ډډه کوئ، زه په دې نه پوهېږم چې په ملأ اعلی کې هغه مهال څه تېر شوي چې د الله تعالی مقربو فرشتو مناقشه کوله، ما ته يوازې د هغه څه وحي کېږي چې له کبله ئې تاسو ته يو څرګند نذير يم، يعني زه په غيب نه پوهېږم، فقط يو څرګند نذير يم، تاسو ته ستاسو د خپلو تګلارو د بدو پايلو خبرداری درکوم او دا هم د هغې الهي وحي په رڼا کې چې ما ته د الله تعالی له لوري کېږي.

---

إِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرٗا مِّن طِينٖ ﴿٧١﴾ فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ
فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٧٢﴾ فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ﴿٧٣﴾ إِلَّآ
إِبۡلِيسَ ٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ
لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡعَالِينَ ﴿٧٥﴾ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ
خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ﴿٧٦﴾ قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ ﴿٧٧﴾
وَإِنَّ عَلَيۡكَ لَعۡنَتِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٧٨﴾

کله چې ستا رب فرشتو ته وويل: يقيناً زه له خټې د يوه انسان پيدا کوونکی يم، نو

کله چې مې هغه برابر کړ او خپله روح مې په کې پو کړه نو هغه ته په سجده شئ، نو ټولو فرشتو یو ځایې سجده وکړه مګر ابلیس چې د لویې لټه ئې وکړه او له کافرانو وو، وئې ویل: اې ابلیسه! څه شي هغه چا ته له سجدې کولو منع کړې چې ما په خپل لاس پیدا کړ؟ لویې دې وغوښته که ته له لوړو وې؟ وئې ویل: زه ترې ښه یم، زه دې له اور پیدا کړی یم او هغه دې له خټې پیدا کړی، وئې ویل: ترې ووځه چې ته له شك پرته رټل شوی یې؛ او یقیناً چې پر تا د قیامت تر ورځې زما لعنت دئ.

---

(۷۱-۷۸)- په دې مبارکو آیتونو کې د ملأ اعلی هغې مناقشې ته اشاره شوې چې الله تعالی په زمکې کې د بشر په نامه د یوه نوي مخلوق د پیدا کولو اراده وکړه، خپله پرېکړه ئې فرشتو ته ابلاغ کړه او وئې فرمایل: زه له ختې د یوه انسان پیدا کوونکی یم، نو کله چې مې هغه برابر کړ او خپله روح مې په کې پو کړه نو هغه ته په سجده شئ، ټولو فرشتو د الله تعالی له حکم سره سم سجده وکړه، یوازینی مخلوق چې له سجدې ئې ډډه وکړه ابلیس وو چې د لویې لټه ئې وکړه او له کافرانو وو، الله تعالی ورته وفرمایل: اې ابلیسه! څه د دې باعث شو چې هغه چا ته دې له سجدې ډډه وکړه چې ما په خپلو لاسونو پیدا کړی؟ لویې دې وغوښته که ته له لوړو وې؟ یعني غوښتل دې تر ده ستر او لوړ وګڼل شې او د هغه مقام او منزلت ستا په برخه شي او که حقیقتاً ته تر ده لوړ وې نو ځکه دې هغه ته سجده ونه کړه؟!! وئې ویل: زه ترې ښه یم، زه دې له اور پیدا کړی یم او هغه دې له ختې پیدا کړی، یعني زه له نَسَبي پلوه تر آدم علیه السلام غوره او ښه یم، زما د خلقت ماده تر ده ښه ده، اور تر خټې غوره دئ، زه دې له اور پیدا کړی یم او دی دې له ختې، کوم مقام چې تا ده ته ورکړی دا له ده سره نه ښایي؛ زه ئې مستحق یم!! الله تعالی وفرمایل: له هغه ځای ووځه چې ته او آدم علیه السلام په کې اوسئ، ته رټل شوی یې او د قیامت تر ورځې به پر تا زما لعنت وي. دلته څو مهمې مهمې لارښوونې شوې:

الله تعالی انسان ته دومره لوړ مقام ورکړی چې پر ټولو مخلوقاتو د فرشتو په شمول ئې هغه ته فضیلت ورکړی، فرشتې ئې پر دې وګمارلې چې د هغه په وړاندې مطیع وي او د هغه فضیلت ومني. د عالم په ټولو مخلوقاتو کې یوازینی مخلوق شیطان دئ چې د انسان فضیلت ئې ونه منلو، له سجدې ئې ډډه وکړه او ځان ئې تر هغه لوړ وګڼلو؛ او الله تعالی د همدې کبر او بغاوت له کبله ورټلو، یعني د زمکې پر سر لومړۍ ګناه کبر او له نَسَبي پلوه ځان پر بل غوره ګڼل دي، چا چې تر ټولو وړاندې او په لومړي ځل دا ګناه کړې الله تعالی هغه ته د ابلیس نوم ورکړ، ابلیس یعني د الله له رحمت ډېر ډېر مأیوس؛ او هغه ئې ورټلو او له مخکیني ځای او منزلت ئې هم کوز کړ او د لعنت وړ وګرځېدو؛ داسې لعنت چې د قیامت تر ورځې به دوام کوي!!

ځينو د آيت دې فقرې ته (فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ٧٣ إِلَّآ إِبۡلِيسَ ٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧٤ ...) ته په پام سره ويلي چي ښايي شيطان به له فرشتو سره يو ځای اوسېدو؛ او ځيني تر دې هم وړاندي تللي او ويلي ئې دي چي ښايي شيطان به د فرشتو له ډلې او حتی د هغوی استاد وو!! دا بې بنسټه واهمې دي او د قرآن له صريحو لارښوونو سره تعارض لري، نه شيطان په آسمان کې وو، نه آدم عليه السلام او نه د ده هغه لومړنی جنت، د قرآن د وينا له مخي شيطان آسمان ته لوړ نشي تللی، که د لوړ تللو هڅه وکړي په شهاب ثاقب ويشتل کېږي، د آدم عليه السلام په وړاندي د ټولو فرشتو انقياد او سجده په دې معنی ده چي د عالم هر څه انسان ته مسخر کړی شوي، د عالم له ټولو مخلوقاتو يوازي شيطان له دې الهي برېکړي سرغړاوی وکړ. د دې تفصيل د البقرة سورې د ۳۰-۳٤ او د الاعراف سورې د ۱۱-۱٦ آيتونو په تفسير کې وګورئ.

ځيني نور د ۷۵ آيت دغه فقره قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ: وئې ويل: اې ابليسه! څه شي هغه چا ته له سجدې کولو منع کړې چي ما په خپل لاس پيدا کړ؟ داسي تعبيروي چي دلته د آدم عليه السلام کوم ځانګړي خلقت ته اشاره شوې، ګواکي الله تعالی هغه په خپل لاس داسي جوړ کړی لکه چي انسان په خپل لاس کوم شی جوړوي!!

دوی د (خلقت بيدی) الفاظ د آدم عليه السلام په خاص او ځانګړي پيدايښت حمل کوي او وايي چي الله تعالی آدم عليه السلام په خپل لاس جوړ کړ!! حال دا چي په قرآن کي د نورو شيانو د خلقت په اړه هم دې ته ورته الفاظ راغلي لکه د يس د سورې ۷۱ آيت: أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَآ أَنۡعَٰمٗا فَهُمۡ لَهَا مَٰلِكُونَ ٧١ : آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی چي موږ دوی ته هغه څاروي راپيدا کړل چي په خپلو لاسونو مو جوړ کړي او دوی ئې خاوندان دي.

لکه څنګه چي په دې آيت کې (ما عملت ايدينا) عام خلقت افاده کوي نه کوم ځانګړی او خاص خلقت او له دې الفاظو هيڅوك دا غلطه معنی نه اخلي چي الله تعالی دغه شيان په خپلو لاسونو جوړوي، همدا راز له (خلقت بيدی) دا معنی اخيستل چي الله تعالی په خپل لاس د آدم عليه السلام مجسمه جوړه کړه، لويه او قبيح اشتباه ده. دا اشتباه به هغه څوك کوي چي الله تعالی نه پېژني، په پيدايښت کې د ده سننو ته پام نه کوي، دا هره ورځ چي الله تعالی په کوم ترتيب مخلوقات پيدا کوي دا له پامه غورځوي، الله تعالی له انسان سره تشبيه کوي او هغه هم له يوه کلال سره، په خپل کچه ذهن کې ئې کلال ته ورته کوم خدای انځور کړی او ګمان کوي چي هغه به آدم عليه السلام دغسي په خپل لاس جوړ کړی وي لکه کلال چي له خټي منګی جوړوي. ډېره ډېره عجيبه ده چي يو انسان هره ورځ په خپلو سترګو ګوري چي الله تعالی خپل مخلوقات څنګه او په څه ترتيب پيدا کوي، څنګه ئې جوړوي، څنګه ئې له يوه حالت بل ته بيايي، خو سره له دې

دومره ستره غلطي کوي او د آدم عليه السلام پيدايښت د الهي سننو خلاف او د يوه کلال له کار سره ورته ګڼي. په دې نه پوهېږي چې الله تعالى نه په ذات کې مِثل لري، نه په صفاتو کې او نه په افعالو کې، د پيدا کولو په فعل کې هم بايد الله تعالى له مخلوق سره تشبيه نه کړو، ځوك چې د الله تعالى د پيدا کولو فعل د انسان له فعل سره تشبيه کوي او لکه څنګه چې انسان په خپلو لاسونو يو کار تر سره کوي، خټه راواخلي، خښتي ترې جوړي کړي، سر پر سر ئې کښېږدي او دېوال ترې جوړ کړي، که څوك د الله تعالى په اړه همداسې ګمان وکړي هغه لويه اشتباه کړې او الله ئې له مخلوق سره تشبيه کړی. حال دا چې قرآن فرمايي: ليس کمثله شئ: الله ته ورته شی نشته.

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ﴿٨١﴾ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٨٢﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٨٣﴾ قَالَ فَٱلۡحَقُّ وَٱلۡحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٨٥﴾

وئې ويل: اې زما ربه! تر هغي ورځې مهلت را چې بياراپاڅول کېږي، وئې ويل: نو ته له مهلت ورکړی شوو يې، د يوه معلوم وخت تر ورځې، وئې ويل: ستا پر عزت قسم چې حتماً به دوی ټول تېرباسم، مګر د دوی له ډلې ستا مخلص بندګان، وئې ويل: نو همدا حق دئ او زه هم حق وايم، چې حتماً به دوزخ له تا او د دوی له هغو ټولو ډکوم چې ستا متابعت ئې کړی.

(٧٩-٨٥)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- شيطان وويل: اې زما ربه! د قيامت تر هغي ورځې مهلت را چې انسانان به له خپلو قبرونو بيا راپاڅول کېږي.
- الله تعالى وفرمايل: ستا د غوښتني له کبله ته له هغو شوې چې د قيامت تر معلومي ورځې مهلت ورکړی شوی.
- شيطان وويل: ستا پر عزت قسم چې حتماً به دوی ټول تېرباسم، مګر د دوی له ډلې ستا مخلص بندګان.
- الله تعالى وفرمايل: دا وينا دې حق ده چې زما مخلص بندګان تېرايستلی نشې؛ او زه هم حق وايم چې حتماً به دوزخ له تا او د دوی له هغو ټولو ډکوم چې ستا متابعت ئې کړی.

قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُتَكَلِّفِينَ ﴿٨٦﴾ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعۡدَ حِينِۭ ﴿٨٨﴾

ووايه: له تاسو کوم اجر نه پرې غواړم او نه زه له تکلف کوونکو یم، دا خو د ټولو عالمیانو لپاره فقط یو اغېزمن پند دئ او د ویناوو په حقیقت به ئې له لږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ.

---

(۸۶-۸۸)- په دې مبارکو آیتونو کې دا ځلانده لارښوونې مومو:

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: خپلو مخاطبینو ته ووایه: د خپل دعوت او مبارزې او د قرآن د تبلیغ په بدل کې له تاسو هیڅ ډول اجر او بدله نه غواړم، د هغو خلکو له ډلې نه یم چې په ډېر تکلف سره له ځانه څه جوړوي، ما د رب العالمین له لوري هغه پیغام تاسو ته راوړی چې د ټولو عالمیانو لپاره فقط یو اغېزمن پند دئ، د دې قرآن ټولې ویناوې حق دي، مصداق به ئې په خپلو سترګو او یو په بل پسې وګورئ؛ او د ویناوو په حقیقت به ئې له لږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ.

لکه چې ګورئ د سورې آخري دوه آیتونه د ټولې سورې لپاره یوه جامع خلاصه او تتمه ده، په دې سوره کې د (ذکر) لفظ دیارلس ځلې راغلی او دا ښیي چې د دې سورې محوري موضوع همدا مطلب دئ چې قرآن د ذکر او پند کتاب دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# الزمر

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الزمر) دئ، دا نوم د سورې په ۷۱ او ۷۳ آیتونو کې راغلی، ۷۵ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړ آیت (حکیم)، د درېیم آیت (کفار)، د شپږم آیت (تصرفون)، د اوم آیت (صدور) او د نهم آیت (الباب) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې تر متوسط زیات او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په وروستیو کې نازل شوي. د سورې له متن معلومېږي چې تر لومړي هجرت (حبشې ته هجرت) لږ وړاندې نازله شوې. د سورې دا آیت په دې اړه ډېر صراحت لري:

قُلۡ يَٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۗ وَأَرۡضُ ٱللَّهِ

وَٰسِعَةٌ ۗ إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾

که د سورې مضامينو ته ځير شو نو ډېر ژر به راته جوته شي چي په دې سورې کې د توحيد مهمه موضوع او د هغې پراخ ابعاد او د انسان پر ژوند او د هغه پر شخصيت د دې باور اغېز څېړل شوي، پر الله تعالی د ايمان معنی، د دې ايمان غوښتني او مقتضيات، د توحيد او خدای پالني مظاهر او مصداقونه، د الله تعالی په اړه کفر او شرك او د کفر او شرك مظاهر او په دنيا او آخرت کې د دې کفر او شرك بدي پايلي په دې مبارکې سورې کې په دقيقي او جامع توګه څېړل شوي.

د سورې په سر کې ويل شوي:

- قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چي باحکمت او عزتمن دئ، يعني په دې کتاب کې هم د الهي حکمت ژور او پراخ مظاهر مومئ او هم عزت ته د رسېدلو هغه لاري چي عزيز رب درښودلې، هغه عزيز رب چي وعدې او پرېکړې ئې هرو مرو تر سره کېږي او هيڅوك ئې مخنيوی نشي کولی.
- په دې کې هيڅ شك نشته چي دا کتاب د الله تعالی له لوري تا ته درلېږل شوی، هره وينا ئې حق ده او حق په همدې کتاب کې خلاصه شوی.
- په داسي حال کې د الله تعالی عبادت کوه چي خپل دين دي په بشپړه توګه ورته سوچه کړی وي، يوازي د الهي دين متابعت کوې او ستا د ژوند په هيڅ برخي کې له دې دين پرته بل دين خپل وزر نه وي غوړولی.
- دې ته دي تل پام وي چي د الله تعالی په وړاندي بشپړ اطاعت او انقياد او په کامله توګه په الهي دين کې ننوتل د الله تعالی مسلم حق دئ.
- څوك چي له الله تعالی پرته نور اولياء غوره کړي، د هغوی لمانځنه وکړي او حکم ته ئې غاړه کښېږدي؛ که څه هم ادعاء ئې دا وي چي غواړي له دې لاري د الله تعالی تقرب تر لاسه کړي او وايي: دا ذوات يوازي د دې لپاره لمانځو چي په ښه توګه مو الله تعالی ته ورنژدې کړي، دوی دروغ وايي، ادعاء ئې غلطه او بې بنسټه ده، الله تعالی به حتماً د دوی تر منځ په هغه څه کې پرېکړه کوي چي دوی په کې اختلاف کوي.
- د الهي معيارونو له مخي د دې وينا ويونکي او د دې ادعاء کوونکي هم کافران دي او هم دروغجن؛ او هم له الهي هدايت او لارښووني محروم، ځکه الله تعالی هغه څوك نه هدايتوي چي دروغجن کافر وي.

له الله تعالی پرته بل مولا نشته، بل څوك نه څه درکولی شي او نه ئې درنه اخيستلی شي، دا ځکه چي الله تعالی زوی او ځای ناستی نه لري، نه ئې د دې عالم د کومي برخي واك بل ته سپارلی او نه د عالم د چارو په سمبالولو کې کوم شريك او ځای ناستی لري، که الله تعالی شريك، زوی او ځای ناستی غوره کولی نو دا ځای ناستی او شريك به نه يوازي ټولو ته ځرګند وو بلکي هر چا به د هغه د واکمنۍ ښېلګي او مصداق په واضح توګه ليدلو،

خو خبره په بشپړه توګه د دې انګېرنې خلاف ده او د عالم په هیڅ برخې کې د داسې شریك نښه نه مومو.

الله تعالی له دې عیب منزه دئ، شریك او ځای ناستی نه لري، هغه یوازینی برلاسی الله دئ، حقیقت دا دئ چې آسمانونه او زمکه ده پیدا کړي، سم ئې پیدا کړي، دا دی دئ چې شپه پر ورځ راتاووي او ورځ پر شپې، لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي، هر یو ئې د ټاکلې نېټې مطابق درومي. ووایئ: آیا داسې څوك مومئ چې په دې چارو کې څه اغېز ولري او کوم واك او اختیار ورسره وي؟!!

دغه مطالب د سورې په لومړیو پنځو آیتونو کې راغلي، شرح او تفصیل ئې او په همدې اړه نور مطالب د سورې تر پایه زموږ په وړاندې ځلېږي. د سورې ژورو او جامع بحثونو ته په پام سره ویلی شو چې دا مبارکه سوره د قرآن د ټولو هغو آیتونو خلاصه د مخاطب په وړاندې ږدي چې د توحید او شرك په اړه بحث کوي.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿١﴾ إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿٢﴾ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ﴿٣﴾

د دې کتاب لېږنه د باحکمت عزتمن الله له لوري ده، یقیناً چې دا کتاب مو په رښتینې توګه ستا لوري ته لېږلی نو په داسې حال کې د الله عبادت کوه چې ده ته د دین سوچه کوونکی وې، پام چې سوچه دیانت (انقیاد) د الله حق دئ؛ او هغه چې له ده پرته ئې اولیاء غوره کړي (په داسې حال کې چې وایي:) له دې پرته ئې د بل څه لپاره نه لمانځو چې په ښه نژدېکت سره مو الله ته ورنژدې کړي، یقیناً چې الله به د دوی تر منځ په هغه څه کې پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کوي، یقیناً چې الله هغه څوك نه هدایتوي چې دروغجن کافر وي.

---

(۱-۳)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

• قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چې باحکمت او عزتمن دئ، یعني په دې کتاب کې هم د الهي حکمت ژور او پراخ مظاهر مومئ او هم عزت ته د رسېدلو هغه

لاري چې عزيز رب درښودلې، هغه عزيز رب چې وعدې او پرېکړې ئې هرو مرو تر سره کېږي او هيڅوك ئې مخنيوی نشي کولی.

• په دې کې هيڅ شك نشته چې دا کتاب د الله تعالی له لوري تا ته درلېږل شوی، هره وينا ئې حق ده او حق په همدې کتاب کې خلاصه شوی.

• په داسې حال کې د الله تعالی عبادت کوه چې خپل دين دې په بشپړه توگه ورته سوچه کړی وي، يوازې د الهي دين متابعت کوې او ستا د ژوند په هيڅ برخې کې له دې دين پرته بل دين خپل وزر نه وي غوړولی.

• دې ته دې تل، په هر گام کې او د ژوند په ټولو چارو کې کلك پام وي چې د الله تعالی په وړاندې بشپړ اطاعت او انقياد او په کامله توگه په الهي دين کې ننوتل د الله تعالی مسلم حق دئ.

• څوك چې له الله تعالی پرته نور اولياء غوره کړي، د هغوی لمانځنه وکړي او حکم ته ئې غاړه کښېږدي؛ که څه هم ادعاء ئې دا وي چې غواړي له دې لاري د الله تعالی تقرب تر لاسه کړي او وايي: دا ذوات يوازې د دې لپاره لمانځو چې په ښه توگه مو الله تعالی ته ورنژدې کړي، دوی دروغ وايي، ادعاء ئې غلطه او بې بنسټه ده، الله تعالی به حتماً د دوی تر منځ په هغه څه کې پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کوي.

• د الهي معيارونو له مخې د دې وينا ويونکي او د دې ادعاء کوونکي هم کافران دي او هم دروغجن؛ او هم له الهي هدايت او لارښوونې محروم، ځکه الله تعالی هغه څوك نه هدايتوي چې دروغجن کافر وي.

لَّوْ أَرَادَ ٱللَّهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا لَّٱصْطَفَىٰ مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ سُبْحَـٰنَهُۥ ۖ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٤﴾ خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۖ يُكَوِّرُ ٱلَّيْلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيْلِ ۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ أَلَا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفَّـٰرُ ﴿٥﴾

که الله غوښتی چې کوم زوی (او ځای ناستی) ونيسي نو له هغه څه به ئې کوم يو غوره کړی وو چې دی ئې پيدا کوي، سپېڅلتيا ده ته ده، هغه يوازينی برلاسی الله دئ، آسمانونه او زمکه ئې سم پيدا کړي، شپه پر ورځ راتاووي او ورځ پر شپې راتاووي؛ او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي، هر يو ئې د ټاکلې نېټې مطابق درومي، پام چې هغه بخښونکی عزتمن دئ.

(٤-٥)- دا مبارك آيتونه موږ ته وايي:

• له الله تعالی پرته بل مولا نشته، بل څوك نه څه درکولی شي او نه ئې درنه اخیستلی شي، دا ځکه چې الله تعالی زوی او ځای ناستی نه لري، نه ئې د دې عالم د کومې برخې واك بل ته سپارلی او نه د عالم د چارو په سمبالولو کې کوم شريك او ځای ناستی لري، که الله تعالی شريك، زوی او ځای ناستی غوره کولی نو دا ځای ناستی او شريك به نه یوازې ټولو ته څرګند وو بلکې هر چا به د هغه د واکمنۍ بېلګې او مصداق په واضح توګه لیدلو، خو خبره په بشپړه توګه د دې انګېرنې خلاف ده او د عالم په هیڅ برخې کې د داسې شريك نښه نه مومو.

• الله تعالی له دې عیب منزه دئ، شريك او ځای ناستی نه لري، هغه یوازینی برلاسی الله دئ، حقیقت دا دئ چې آسمانونه او زمکه ده پیدا کړي، سم ئې پیدا کړي، دا دی دئ چې شپه پر ورځ راتاووي او ورځ پر شپې راتاووي؛ او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي، هر یو ئې د ټاکلې نېټې مطابق درومي. ووایئ: آیا داسې څوك مومئ چې په دې چارو کې څه اغېز ولري او کوم واك او اختیار ورسره وي؟!!

• پام چې الله تعالی بخښونکی عزتمن دئ. چا چې له الله تعالی پرته بل مولا غوره کړی او د شرك په کږې لار تللی د خپل بخښونکي عزتمن رب لوري ته دې راوګرځي، توبه دې وکړي چې بخښونکی رب ئې وبخښي، که نه نو د عزيز رب له سختې نیونې سره به مخامخ شي.

په دې مبارك آيت کې د شپې او ورځې تلو راتلو لپاره د تکویر صیغه کارول شوې، تکویر داسې راتاوولو ته وايي چې یو شی پر کوم ګرد څه راتاو کړی شي، لکه پګړۍ پر سر تاوول، پوښتنه راولاړېږي چې قرآن ولې د شپې او ورځې تګ راتګ او د یوې پر ځای د بلې راتلو ته دا صیغه کارولې؟ آیا د دې پر ځای راکاږل، راوستل، راکشول، اچول، غوړول ... غوره نه وو او مطلب ئې په سمه توګه نه شوی تعبیرولی؟ ځواب دا دئ: د بیان په دې ترکیب کې د قرآن یو ستر علمي اعجاز مضمر دئ، نن خلك په دې پوهېږي چې زمکه ګرده ده، شپه او ورځ یوه په بلې پسې داسې پر زمکې راتاوېږي لکه سپینه او توره پګړۍ پر سر، د شپې توره پرده او د ورځې سپینه پرده ورو ورو د زمکې پر ګرد سر غوړېږي، کټ مټ داسې لکه توره او سپینه پګړۍ د انسان پر سر. د دې وینا پر اهمیت هغه څوك پوهېږي چې له فضاء د زمکې لوري ته ځیر شي او وګوري چې د شپې او ورځې تګ راتګ څنګه دئ او د دې حالت د دقیق تعبیرولو لپاره کوم الفاظ له څنګه ترکیب سره ډېر مناسب دي، یقیناً چې داسې حساس او پوه انسان به پر دې اعتراف کوي چې د قرآن دا بیان یو ستر علمي اعجاز دئ. دا بیان دقیقاً همغه مطلب افاده کوي چې زمکه ګرده ده او شپه او ورځ داسې پرې راتاوېږي لکه څوك چې خپله اوږده پګړۍ پر سر راتاووي.

لمر او سپوږمۍ خپلې مخې ته آزاد نه دي پرېښودل شوي چې په خپل سر او په کوم نامعلوم لوري خوځي، بلکې مسخر دي او په ثابت او ټاکل شوي مسیر او لوري درومي. هر یو د ټاکلې نېټې مطابق درومي؛ او دا هغه حقیقت دئ چې انسان ته اوس معلوم شوی،

اوس یوه شوی چې زمکه، سپوږمۍ، لمر او ټول ستوري خپل خپل مدار د ټاکلې نېټې مطابق بشپړوي.

خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ الْأَنْعَامِ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ ۚ يَخْلُقُكُمْ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ خَلْقًا مِّن بَعْدِ خَلْقٍ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿٦﴾

له یوه ژوي ئې پیدا کړئ، بیا ئې له هغه د ده جوړه پیدا کړه؛ او له څارویو ئې تاسو ته اته جوړې نازلې کړې، تاسو د خپلو میندو په بطن کې، په دریو تیارو کې، یو په بل پسې پیدایښت سره پیدا کوي، همدا ستاسو پالونکی رب دئ چې ټولواکي د ده ده او له ده پرته بل معبود نشته، نو کوم لوري ته اړول کېږئ؟!

(٦)- دلته د الله تعالی د ربوبیت څو څرګندو بېلګو ته اشاره شوې:

- انسان ئې له یوه ژوي او ساکښ پیدا کړ، بیا ئې له هغه د ده جوړه پیدا کړه.
- د څارویو اته جوړې (اوښان، غوایان، پسونه او وزې) ئې ورته پیدا کړې.
- تاسو د خپلو میندو د بطن په دریو تیارو کې د پیدایښت په داسې لړۍ کې پیدا کوي چې په پرله پسې توګه بدلېږي، د پیدایښت له یوه پړاو بل ته درومئ.
- د چا په اراده چې دا ستر ستر کارونه تر سره کېږي همدا ستاسو پالونکی رب دئ چې ټولواکي د ده ده او له ده پرته بل معبود نشته.
- نو کوم لوري ته اړول کېږئ، پر بل معبود د باور درلودو لپاره څه دلیل لرئ؟!

په دې مبارك آیت کې ویل شوي چې د انسان پیدایښت داسې دئ چې له یوه حالت بل ته اوړي، په بېلو بېلو مراحلو کې بېل بېل خلقت او جوړښت ورپه برخه کېږي، داسې نه دئ چې لومړنی جوړښت ئې ورو ورو وده کوي او تر پایه خپل لومړنی شکل او بڼه ساتي. او دا هغه ستر حقیقت دئ چې انسان اوس پرې پوه شوی.

علم ته له څوارلسو پېړیو وروسته دا خبره څرګنده شوه چې د انسان جوړښت د خاورې د اجزاوو له خلاصې دئ او د ده په وجود کې د خاورې ټول اجزاء را غونډ شوي او په دې هم پوه شوی چې په ماشوم باندې د مور په رحم کې همغه مراحل او پړاوونه یو په بل پسې راځي چې په پورتني آیت کې ذکر شوي، د نطفې په بڼه کې پیدا شي، ورو ورو دا نطفه په داسې څوړند توکي بدله شي چې ژوري ته ورته وي او بیا د داسې یوې ټوټې غوښې شکل غوره کړي چې ژوول شوې ته ورته وي، وروسته د ده هډوکي راپیدا شي او بیا دغو هډوکو ته غوښه وراغوستی شي او په پای کې د یوه مکمل ماشوم شکل غوره کړي او دنیا ته راشي.

علم ته داحقيقت هم جوت شوى چې د انسان نطفه د مور د بدن په دريو تيارو کې جوړېږي، د مور او پلار هغه نطفې چې له يو ځاى کېدو ئې د ماشوم لومړنۍ مختلطه نطفه جوړېږي د مور د بدن په يوې ځانګړې برخې کې سره يو ځاى کېږي، له هغه ځايه رحم ته درومي، هلته په يوه ځانګړي غلاف کې ساتل کېږي، په همدې غلاف کې دا لومړنۍ نطفه د تجزيې له لارې په دوو، څلورو، اتو، شپاړسو او ... بدلېږي، تر هغه چې په رحم پورې د ځوړند توکي بڼه غوره کړي، د تغيير او بدلون له مختلفو پړاوونو تېرېږي او له يوه حالت بل ته اوړي، ورو ورو وده کوي او په پاى کې د يوه بشپړ ماشوم هيئت غوره کړي.

د انسان د پيدايښت لومړۍ نطفه د مور په زيلنځ کې جوړه شي، د زيلنځ له منځه د هغه خولې ته انتقال شي او هلته د زيلنځ او رحم تر منځ د هغې لارې په خوا کې د لقاح لپاره منتظر او تم شي چې د رحم په لوري درومي، له لقاح وروسته د رحم په لوري وخوځېږي، هلته داسي کڅوړه ترې راتاو شي چې د مَلا (پېروان) په نامه يادېږي، دلته تر هغه پاته وي چې د زېږېدو نېټه ئې راورسېږي. نو د انسان لومړنۍ نطفه د مور په بدن کې دقيقاً په دريو تياره ځايونو (زيلنځ، د زيلنځ او رحم تر منځ او رحم) کې تم کېږي، په هر موقعيت کې د هغه جوړښت او خلقت تر بل توپير لري، دا درې بېل بېل موقعيتونه او په هر يوه کې د نطفې بېل بېل حالتونه هغه مهال انسان ته جوت شول چې د ډېرو پر مختللو وسائلو په مرسته وتوانېدو د نطفې د جوړښت مختلف مراحل وګوري، تر دې وړاندې ئې ګمان دا وو چې نطفه په رحم کې جوړېږي او همدلته وده کوي او بشپړ ماشوم ترې جوړېږي، زموږ مفسرينو هم دا آيت چې يقيناً د قرآن يو ستر علمي اعجاز ګڼل کېږي؛ داسي تعبيرولو چې ګواکې دا درې تيارې د نس، رحم او پېروان (ملا) جدارونه او د هغوى تر شا تيارې دي. خو د قرآن الفاظ داسي دي چې وايي: تاسو د خپلو ميندو په بطن کې په دريو تيارو کې، يو په بل پسې پيدايښت سره پيدا کوي،... يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖ او دا له شك پرته همغه علمي حقيقت ته اشاره کوي چې انسان اوس پرې پوه شوى.

---

إِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمۡۖ وَلَا يَرۡضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلۡكُفۡرَۖ وَإِن تَشۡكُرُواْ يَرۡضَهُ لَكُمۡۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرۡجِعُكُمۡ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٧

که کافر شئ نو يقيناً چې الله له تاسو بې نياز دئ؛ او خپلو بندګانو ته دا کفر نه خوښوي؛ او که شکر وکړئ نو درته خوښوي ئې؛ او هيڅ بار وړونکى د بل بار نه وړي، بيا مو د خپل رب په لوري بېرته ګرځېدا ده نو په هغه څه به مو پوه کړي چې تاسو کول، يقيناً چې هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ.

(۷)- دا مبارك آيت وايي: كه د الله تعالى په اړه كافر شئ او د الهي نعمتونو ناسپاسي وكړئ نو پوه شئ چي الله تعالى له تاسو او ستاسو له ځانځني، عبادت او شكر كولو بې نياز دئ، خپلو بندگانو ته دا كفر او ناسپاسي نه خوښوي؛ او كه شكر وكړئ نو درته خوښوي ئې. په دې هم پوه شئ چي هيڅ بار وړونكى د بل بار نه شي وړي، هيڅوك نه شي كولى د كوم مجرم د گناهونو او جرمونو پېټى سپك كړي او سزا ئې راكمه كړي، د ټولو بېرته گرځېدا د خپل رب په لوري ده، په هغه ځه به تاسو پوه كړي چي كول مو، الله تعالى نه يوازي ستاسو په پټو او ځرگندو عملونو پوه دئ بلكي ستاسو د سينو له اسرارو او ستاسو له عزائمو او موخو خبر دئ.

وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَا رَبَّهُۥ مُنِيبًا إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُۥ نِعۡمَةٗ مِّنۡهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدۡعُوٓاْ إِلَيۡهِ مِن قَبۡلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِۦۚ قُلۡ تَمَتَّعۡ بِكُفۡرِكَ قَلِيلًا إِنَّكَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ ۝٨

او كله چي انسان ته كوم كړاو ورسېږي نو خپل رب ته په داسي حال كې دعاء كوي چي ده ته په پر له پسې توگه انابت كوونكى وي، بيا كله چي له خپل لوري كوم نعمت پرې ولوروي نو هغه څه هېر كړي چي تر دې وړاندي ئې د هغه په اړه دعاء كوله او الله ته سيالان جوړ كړي چي نور د الله له لاري پرې تېرباسي، ووايه: په خپل كفر سره لږ شانته برخمن شه، يقيناً چي ته د اور له خاوندانو يې.

(۸)- په دې مبارك آيت كې ويل شوي: د الله تعالى ځانځنه او له هغه مرسته غوښتل د انسان د فطرت غوښتنه او د ده د ضمير غږ دئ، دا غوښتنه او غږ هغه مهال خپل ځان وښيي او راڅرگند شي چي انسان له كوم كړاو سره مخامخ شي، وايي: كله چي انسان ته كوم كړاو ورسېږي نو خپل رب ته په داسي حال كې دعاء كوي چي ده ته په پر له پسې توگه انابت كوونكى وي، د فطرت دا نداء د نعمتونو د وفرت له كبله خفه شي، سوكالي او د شتمنيو او امكاناتو وفرت د انسان پر زړه او ضمير تياره پرده وغوړوي، د نعمت قدر او ارزښت او د منعم قدرونه او پاس ترې هېر كړي، همغسي لكه چي دا آيت وايي: بيا كله چي له خپل لوري كوم نعمت پرې ولوروي نو هغه څه هېر كړي چي تر دې وړاندي ئې د هغه په اړه دعاء كوله، يعني د نعمتونو وفرت د ده فطري حالت اغېزمن كړي، اصلي منعم ترې هېر كړي، ناسپاس او ناشكر بنده ترې جوړ كړي، حتى كار ئې هغه ځاى ته ورسوي چي خپل حقيقي مولا او منعم رب ته سيالان جوړ كړي، نه يوازي بې لاري شي بلكي د نورو تېر ايستلو او بې لاري كولو ته ملا وتړي!! ده ته ويل شوي: په خپل كفر سره لږ شانته برخمن شه، يقيناً چي ته د اور له خاوندانو يې، پايله دې د دوزخ په اور كې

پرېوتل دي.

أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا يَحْذَرُ ٱلْءَاخِرَةَ وَيَرْجُواْ رَحْمَةَ رَبِّهِۦۗ قُلْ
هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ
﴿٩﴾ قُلْ يَٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمْۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُواْ فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا
حَسَنَةٌۗ وَأَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌۗ إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾

آیا هغه چي د شپې له لوري په داسي حال کې سجده کوونکی او قیام کوونکی وي چي (خپل رب ته) قانت (غاړه اېښودونکی) وي، له آخرت وېرېږي او د خپل رب د رحمت هیله لري، ووایه: آیا هغه چي پوهېږي او هغه چي نه پوهېږي سره برابر دي، یقیناً چي یوازي عقلمن وګړي پند اخلي، ووایه: اې زما هغو بندګانو چي ایمان ئې راوړی! له خپل رب ووېرېږئ، هغه چي ښېګنه ئې کړې په دنیا کې به ئې ښېګنه په برخه شي؛ او د الله زمکه پراخه ده، یقیناً چي صبرناکو ته د دوی پوره پوره اجر په بې حسابه توګه ورکول کېږي.

(۹-۱۰)- په دې مبارکو آیتونو کې له یوې خوا یوه داسي څرګنده پوښتنه زموږ په وړاندي ځلېږي چي ځواب ئې څرګند دئ او هغه دا: آیا هغه چي د شپې له لوري په داسي حال کې سجده کوونکی او قیام کوونکی وي چي خپل رب ته قانت او غاړه اېښودونکی وي، له آخرت وېرېږي او د خپل رب رحمت ته هیله لري؛ او هغه چي پوهېږي له هغو سره برابر دي چي نه پوهېږي او دا ځانګړتیاوي نه لري؟!! د دې پوښتني ځواب څرګند دئ، د هیڅ معیار له مخي دا دواړه نشي سره برابرېدی، دا دواړه ډلي نه د شخصیت له پلوه سره برابرېدی شي او نه د خپلو کړنو له پلوه، یو به هرو مرو نېك وي او له ګناه، ظلم او د بل پر حق له تېري به ډډه کوي او بل به له دغو ټولو ورتیاوو او ځانګړتیاو محروم وي، له بلي خوا ویل شوي چي یوازي عقلمن وګړي پند اخلي، له بلي خوا هر مؤمن ته د الله تعالی له لوري او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لاري دا ښکلې ډاډېینه ورکړی شوې: اې زما هغو بندګانو چي ایمان ئې راوړی! له خپل رب ووېرېږئ، هغه چي ښېګنه ئې کړې په دنیا کې به ئې ښېګڼه په برخه شي، که د ایمان او تقوی له کبله خپل وطن پرېږ تنګ او هجرت ته اړ شو نو د الله تعالی زمکه به پراخه وموي او په بلي سیمي کې به د ډاډمن ژوند او په ډاډه زړه د خپل رب د لمانځني امکانات تر لاسه کړي، الله تعالی له خپلو صبرناکو بندګانو سره دا وعده کړې چي د دوی بشپړ اجر به په دنیا او آخرت کې ورکوي، هغه هم داسي چي تر خپل ټاکلي حق به ډېر زیات او په بې حسابه توګه د خپلو عملونو

اجر تر لاسه کوي.

قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ
ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾ قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣﴾ قُلِ ٱللَّهَ
أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُۥ دِينِي ﴿١٤﴾ فَٱعْبُدُواْ مَا شِئْتُم مِّن دُونِهِۦۗ قُلْ إِنَّ ٱلْخَٰسِرِينَ
ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْخُسْرَانُ ٱلْمُبِينُ
﴿١٥﴾ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ
عِبَادَهُۥۚ يَٰعِبَادِ فَٱتَّقُونِ ﴿١٦﴾

ووایه: یقیناً چې زه الله په داسې حال کې لمانځم چې دیانت مې ورته سوچه کړی؛ او پر دې ګمارل شوی یم چې د مسلمانانو لومړی وم، ووایه: یقیناً چې زه د لویې ورځې له عذاب وېرېږم که د خپل رب سرغړاوی وکړم، ووایه: الله په داسې حال کې لمانځم چې خپل دین ورته سوچه کوونکی یم، نو تاسو هغه څه ولمانځئ چې له ده پرته مو (د هغه لمانځل) غوښتي، ووایه: یقیناً چې زیانمنان هغه دي چې خپل ځان او خپل اهل ته ئې د قیامت په ورځ زیان رسولی، پام چې همدا څرګند زیان دئ، دوی ته به له پاسه ئې هم د اور چترۍ وي او له لاندې ئې هم چترۍ، دا همغه څه دي چې الله خپل بندګان پرې وېروي، نو اې زما بندګانو! له ما ووېرېږئ.

---

(١١-١٦)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې خپلو مخاطبینو ته ووایې: زه الله تعالی په داسې حال کې لمانځم چې دیانت مې ورته سوچه کړی، په بشپړه توګه په الهي دین کې ننوتم یم، نه غواړم زما د ژوند په کومې برخې کې بل دین سیوری وغوړوي، له الله تعالی پرته بل چا ته سر ټیټ کړم او وئې لمانځم. زه د الله تعالی له لورې پر دې ګمارل شوی یم چې د الهي اوامرو په وړاندې لومړی مسلمان او غاړه ایښودونکی وم، په اطاعت او بندګۍ کې تر نورو وړاندې وم او تر هیچا شاته پاته نه شم. زه د قیامت د لویې ورځې له عذاب وېرېږم، په دې باور یم چې که د خپل رب له اوامرو سرغړاوی وکړم نو د قیامت د ورځې له ستر عذاب سره مخامخ کېږم. زه الله تعالی په داسې حال کې لمانځم چې خپل دین ورته سوچه کوونکی یم، نو تاسو هغه څه ولمانځئ چې له ده پرته ئې لمانځل غواړئ. یقیناً چې هغه خلك زیانمن دي چې خپل ځان او خپل اهل ته ئې د قیامت په ورځ زیان

رسولی، پام چې همدا څرګند زیان دئ، د قیامت په ورځ به د اور لمبو احاطه کړي وي، له پاسه او له لاندې به ئې د اور لمبې وي، الله تعالی خپل بندګان له داسې بد برخلیك وېروي او سپارښتنه ورته کوي چې د کفر او شرك له بدو پایلو ځان وساتئ او له خپل رب ووېرېږئ.

وَٱلَّذِينَ ٱجۡتَنَبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ أَن يَعۡبُدُوهَا وَأَنَابُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰۚ فَبَشِّرۡ
عِبَادِ ﴿١٧﴾ ٱلَّذِينَ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقَوۡلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحۡسَنَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ
ٱللَّهُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿١٨﴾

او هغه چې له طاغوت ئې له دې پلوه ځان لرې وساتو چې بندګي ئې وکړي او د الله لورې ته ئې انابت وکړ؛ دوی ته زېری دئ، نو زما هغو بندګانو ته زېری ورکړه چې وینا ته غوږ ږدي او تر ټولو د غوره خبرې متابعت کوي، دوی هغه خلك دي چې الله هدایت کړي او همدا دوی عقلمن دي.

(۱۷-۱۸)- په دې مبارکو آیتونو کې د هغو مؤمنانو څو ځانګړتیاوې انځور شوې چې د الله تعالی له لورې زېری ورکړی شوی:

- د طاغوت په وړاندې له سر ټیټولو ډډه کوي. د قرآن له نظره طاغوت هغه څوك دئ چې د لمانځنې او اطاعت له پلوه د الله تعالی سیال او ند وګڼل شي او د هغه سلطه او حاکمیت ومنل شي، پر سرکښ نفس، شیطان، بُت او هر هغه حاکم ئې اطلاق کېږي چې انسان هغه ته سر ټیټوي.
- تل او د ژوند په ټولو چارو کې د الله تعالی لورې ته انابت کوي.
- وینا ته غوږ ږدي او تر ټولو د غوره خبرې متابعت کوي.
- دوی هغه خلك دي چې الله هدایت کړي او همدا دوی عقلمن دي.

لکه چې ګورئ قرآن هغه څوك هدایت شوی او عقلمن ګڼي چې د نورو ځانګړتیاوو تر څنګ دا صفت هم لري چې د بل خبره په سړه سینه اوري او تر ټولو غوره او صحیح رأیه او خبره مني او متابعت ئې کوي. حقیقت دا دئ چې د یوې موضوع په اړه بېل بېل نظریات اورېدل او په شفاف ذهن سره تر ټولو صحیح وینا غوره کول د مؤمنو او عقلمنو انسانانو کار دئ، کمعقله او کمعلمه انسانان نه د بل رأیې اورېدلو حوصله لري او نه د غوره رأیې د تشخیص او پېژندلو او د هغې د متابعت اهلیت. حقیقت هغه وخت ښه څرګندېدلی شي چې د خپل معارض او ضد تر خوا کېښودل شي، د حق پلویان له مناقشې او له مخالفو نظریاتو وېره نه لري، بلکې دا یو ضرورت ګڼي او په پراخه تنده او سړه سینه ئې اوري، دا د باطل خاصیت دئ چې په تیاره کې او یوازې خوښ وي، د مقابلې او مناقشې

توان او جرأت نه لري، حقيقت خو د مؤمن ورکه متاع ده، مؤمن د هري خبري د اورېدو حوصله لري، مؤمن ټولي خبري اوري بيا ئې له منځه حق انتخابوي او هغه څه مني او متابعت ئې کوي چي حق وي.

أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِى ٱلنَّارِ ﴿١٩﴾

نو آيا هغه چي په اړه ئې د عذاب وينا محققه شوې نو آيا ته هغه څوك ژغورلی شې چي په اور کي (پرېوتی) دئ.

(۱۹)- دا مبارك آيت وايي: ځيني په گناه کي داسي غرق شي او د شرك او كفر په گنده ډنډ کي داسي ونښلي چي وتل ورته گران او الهي عذاب ئې محتوم برخليك شي، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چي ته نه شې توانېدی داسي خلك له خپل قطعي او محتوم برخليك وژغورې، د دوی په اړه ستا زړه سوی او د دوی د هدايت تلوسه گټه نه لري، مه خپل وخت پرې ضايع کوه او مه زياته اندېښنه لره.

لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّن فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ وَعْدَ ٱللَّهِ لَا يُخْلِفُ ٱللَّهُ ٱلْمِيعَادَ ﴿٢٠﴾

خو هغه چي له خپل رب وېرېدلي؛ دوی ته داسي ماڼۍ دي چي له پاسه ئې نوري جوړي شوې ماڼۍ دي، ترې لاندي ويالې بهېږي، د الله وعده، الله له وعدې تخلف نه کوي.

(۲۰)- د مخکينۍ ډلې په مقابل کي ځيني نور داسي دي چي له خپل رب وېرېږي، دغه وېره او تقوى به داسي جنتونه ورپه برخه کړي چي ماڼۍ به ئې يوه د بلي له پاسه وي، په ځانگړې بڼې او شکل کي جوړي شوې، ويالې به ترې لاندي بهېږي، دا د هغه الله تعالی له لوري حتمي تر سره کېدونکې ژمنه ده چي هيڅکله له خپلي وعدې تخلف نه کوي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ حُطَٰمًا ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢١﴾

آيا پام دي نه دئ کړی چي الله له آسمانه هغه اوبه ورولې چي په زمکي کي ئې د

چینو په توګه ننایستې، بیا په همدې سره هغه کښت راباسي چې رنګونه ئې ډول ډول دي، بیا وچ شي نو ته ئې زېړبخن ګورې، بیا ئې مات مات کړي، یقیناً چې په دې کې حتماً عقلمنو ته ځانګړی پند دئ.

(۲۱)- دلته د خلکو د هدایت او عدم هدایت په اړه د الله تعالی سنت له هغه باران سره تشبیه شوی چې د الله تعالی په حکم له آسمانه وربېږي، چینې ترې جوړې شي، په همدې سره له زمکې ډول ډول او رنګ رنګ بوټي راوټوکېږي، د وخت په تېرېدو سره وچ شي، مخکیني رنګونه ئې ستا له سترګو پټ شي او ټول ئې زېړبخن ګورې، بیا ئې مات مات کړي. د الله تعالی له لوري د خلکو د لارښوونې لپاره د کتاب لېږنه دې ته ورته ده، په شفافو سینو کې ځای ونیسي، مړه زړونه پرې ژوندي شي، په ټولني کې د سترو سترو شخصیتونو او ښېرازه څېرو د راټوکېدو باعث شي، یو دور او نسل پای ته ورسېږي او بل ئې ځای ونیسي، دا لړۍ همغسې ده لکه چې په طبیعت کې موسمونه بدلېږي، یو درومي بل ئې ځای نیسي، له ژمي وروسته پسرلی راشي او په باران سره له مړې زمکې ښېرازه بوټي راوټوکېږي. یقیناً چې په دې کې حتماً عقلمنو ته ځانګړی پند دئ.

أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٖ مِّن رَّبِّهِۦۚ فَوَيۡلٞ لِّلۡقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾ ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحۡسَنَ ٱلۡحَدِيثِ كِتَٰبٗا مُّتَشَٰبِهٗا مَّثَانِيَ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمۡ وَقُلُوبُهُمۡ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهۡدِي بِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٍ ﴿٢٣﴾

نو آیا هغه چې الله ئې د اسلام په لوري سینه ورته پرانیستې ده او هغه د خپل رب له رڼا برخمن دئ، نو افسوس د هغو پر حال چې زړونه ئې د الله د ذکر په اړه سخت دي، همدا دوی په څرګندې تېروتنې کې دي، الله هغه ذات دئ چې تر ټولو غوره وینا ئې د داسې کتاب په توګه لېږلې چې سره ورته بیا بیا راغلې، د هغو وګړو پوستکي ورته ځیږ کېږي چې له خپل رب وېرېږي، بیا ئې پوستکي او زړونه د الله د ذکر په لوري مایل او نرم شي، همدا هغه الهي هدایت دئ چې الله هغه څوك پرې هدایتوي چې دی ئې غواړي؛ او هغه چې الله ئې بې لارې کړي نو هیڅ لارښود ئې نشته.

(۲۲-۲۳)- دلته بله هغه ډله په ګوته شوې چې د هيڅ انساني معيار له پلوه د دوی مقابل لوری ورسره برابري نه شي کولی، هغه چې الله تعالی د هغوی د زړه دړه د اسلام په لوري پرانيستې ده او د خپل رب له لوري ئې رڼا په برخه شوې، د دوی مقابل لوری هغه سخت زړي دي چې د الله تعالی له ذکر د غفلت له کبله د دوی زړونه سخت شوي، د دوی بد حال، مړ ضمير او بې احساسه وجدان د افسوس وړ دئ، دوی په څرګنده توګه لار ورکې دي. د دغو لار ورکو او سخت زړو د عدم ايمان وجه دا نه ده چې د الله تعالی اغېزمن کتاب د پند، تأثير او اغېز له پلوه دومره ځواکمن او مؤثر نه دئ چې د دوی د سختو زړونو دړه پرانيزي، نه؛ د دوی د زړه زمکه داسي شوره او شګلنه ده چې د هيڅ بوټي د راټوکېدا وړتيا په کې نشته، د پسرلي ښکلی باران به دې شاړې زمکې ته څه ګټه ورسوي؟!!

الله تعالی داسي اغېزمن کلام لېږلی چې نه د محتوی له پلوه کومه وينا ورسره برابري کولی شي او نه د اغېزله پلوه، د داسي کتاب په بڼې کې چې ټول مضامين ئې د لوړي او په زړه پوري محتوی او اغېزمن اسلوب له پلوه سره ورته دي، نه څوك کوم اختلاف په کې موندلی شي او نه د شك کوم مورد، د خپلو مخاطبينو د استعدادونو او سليقو توپيرونو ته په پام سره ئې خپل مطالب کله په يوه صيغه او کله په بلې صيغې بيان کړي، د لوړو استعدادونو خاوندان د خپل لوړ ظرفيت په کچه ترې څروبېږي او د ټيټو استعداونو او ظرفيتونو خاوندان په خپله کچه، اغېزناك بيان ته ئې د هغو وګړو پوستکي ځيږ شي چې له خپل رب وېرېږي، خو همدا ځيږ شوي پوستکي او پوړېدونکي زړونه ئې د الله تعالی په همدې ذکر سره نرم، آرام او ډاډمن شي، همدا هغه الهي هدايت دئ چې د بختورو په برخه کېږي، هغه چې الله تعالی د هدايت وړ موندلي او دا سعادت ئې ورپه برخه کړی. او هغه چې د الهي معيارونو په تلې کې د هدايت وړ نه دي او د دوی سختو زړونو ته په پام سره الله تعالی له دې سعادت محروم کړي هيڅ لارښود نه شي موندلی او هيڅوك ئې نه شي هدايت کولی.

---

أَفَمَن يَتَّقِى بِوَجْهِهِۦ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۚ وَقِيلَ لِلظَّـٰلِمِينَ ذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٢٤﴾

نو آيا هغه چې د قيامت په ورځ به په خپل مخ سره له بد عذاب ځان ساتنه کوي، په داسي حال کې چې دغو ظالمانو ته به وويل شي: د هغه څه خوند وڅکئ چې تاسو تر لاسه کول.

---

(۲٤)- د ظالمانو هغه ډله به له جنتيانو او متقيانو سره څنګه برابره ګنل کېږي چې د قيامت په ورځ به ئې حالت داسي وي: د دوزخ لمبو به احاطه کړې وي، د لمبو دفع کولو لپاره به هيڅ څه په واك کې نه لري او له دې پرته به بل څه نشي کولی چې خپل مخ يوې

خوا بلې خوا ته واړوي، په همدې حالت کې به هغوی ته ویل کېږي: د هغه څه خوند وڅکئ چې تاسو کول.

كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٥﴾ فَأَذَاقَهُمُ ٱللَّهُ ٱلْخِزْيَ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

هغو هم تکذیب کړل چې تر دوی وړاندې ول چې له کبله ئې هغه عذاب په داسې توګه ورغی چې تصور ئې نه شو کولی، نو الله د دنیا سپك عذاب وروڅکلو او د آخرت عذاب حتماً تر هغه ستر دئ، کاش پوهېدی.

(٢٥-٢٦)- دا مبارك آیت وایي: تر دغو منکرینو وړاندې د دوی سلف هم د تکذیب او له حق سره د مخالفت لار غوره کړه، د دوی د تکذیب سزاء دا وه چې په الهي عذاب په داسې توګه اخته شول چې دوی ئې تصور هم نه شو کولی، په دنیا کې له سپکاوي سره مخامخ شول، عذاب ئې داسې وو چې ذلت او سپکاوی ئې ورپه برخه کړ او په آخرت کې به تر دې ستر عذاب سره مخامخ کېږي، کاش پوهېدی.

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾

او یقیناً چې خلکو ته مو په دې قرآن کې هر ډول مثال بیان کړی په دې موخه چې پند واخلي، داسې عربي قرآن چې هیڅ کوږوالی نه لري، ښایي ځان ساتنه وکړي.

(٢٧-٢٨)- دا مبارك آیت وایي: الله تعالی د خلکو د پوهاوي لپاره په قرآن کې ډول ډول مثالونه بیان کړي، په هغه قرآن کې چې هره وینا ئې شفافه، صفا او واضح ده، په هیڅ وینا کې ئې ابهام، اغماض او کوږوالی نه شته، د کتاب د لېږنې موخه دا ده چې خلك پند واخلي او له هغه څه ځان ساتنه وکړي چې له بدو پایلو سره ئې مخامخ کوي.

ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٩﴾

الله د داسې یوه سړي مثال بیان کړی چې په خپلو کې شخړه کوونکې شریکان (مالکان) ئې وي او د داسې سړي چې په بشپړه توګه د یوه کس وي؛ آیا دا دواړه د

مثال له پلوه سره برابر دي؟! ستاينې ټولي الله ته دي، خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

---

(۲۹)- په دې مبارك آيت کې د يوه مشرك او يوه موحد انسان حالت د دوو بېلو مثالونو په ترڅ کې بيان شوی، مشرك له هغه غلام سره تشبيه شوي چي مالکان ئې ډېر وي، ټول ئې بدخلق او په خپلو منځونو کې په شخړو بوخت، هر يو ئې دا غلام خپل اطاعت او خدمت ته بلي او دا نه خوښوي چي د بل مالك او آقا خدمت وکړي، طبيعي ده چي داسي غلام به تل لالهاند او په اضطراب او پرېشانۍ کې وي، د يوه کار او يوې موضوع په اړه به بېل بېل احکام تر لاسه کوي، يو به ئې په کولو ګماري او بل په نه کولو، يو به ئې جائز ګڼي او بل ئې ناجائز، يو به ئې په يوه لوري د تګ امر ورته کوي او بل ئې په بل لوري!! په مقابل کې ئې موحد او خداپپال انسان له هغه غلام سره تشبيه شوی چي په بشپړه توګه د يوه کس وي، دوهم مالك او آقا نه لري، طبيعي ده چي داسي انسان به له هغه اضطراب او پرېشانۍ خوندي وي چي مشرك انسان ورسره مخامخ وي، آيا دا دواړه د حالت او وضعيت له پلوه سره برابر دي؟! هيڅ علقمن انسان دا دواړه برابر نه شي ګڼلی. دې ته مو بايد پام وي چي د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دلته د (فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَكِسُونَ: په خپلو کې شخړه کوونکي شريکان (مالکان) ئې وي) معنی بُتان نه؛ بلکې د انسان په څېره کې هغه معبودان دي چي مشرك انسان ئې سپېڅلي ګڼي او د هغوی اطاعت کوي، ځکه بُتان نه په خپلو کې شخړې کوي او نه اوامر صادروي، قرآن هر هغه ځوك د جعلي معبود په نامه يادوي چي انسان ئې له الله تعالی پرته لمانځي او د هغه اطاعت کوي، که دا د ده نفس وي، که شيطان او که د ده په څېر کوم انسان.

په دې مثال کې چي کوم حقيقت ته اشاره شوې د قرآن په نورو ځايونو کې هم دا حقيقت څېړل شوی خو په بېلو بېلو الفاظو او بېل بېل اسلوب سره، دا مطلب د يوسف په سوره کې او خپلو زنداني ملګرو ته د يوسف عليه السلام د وينا په ترڅ کې داسي راغلی: ... موږ ته نه ښايي چي له الله سره کوم څه شريك کړو، دا پر موږ او پر ټولو خلکو د خدای يو فضل او پېرزوينه ده؛ خو اکثر خلك شکر نه کوي، (يعني دا د الله تعالی لويه پېرزوينه ده چي موږ ته ئې فرمايلي: له الله پرته بل چا ته سر مه ټيټوئ او بل ته لاس لمن مه اوږدوئ)، د زندان ملګرو! آيا ډول، ډول اربابان غوره دي او که يو غالب خدای چي (پر ټولو کائناتو) مسلط دئ؟ له ده پرته خو تاسو د داسي څه عبادت کوئ چي هسي څو نومونه دي چي تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، الله هيڅ دليل ورته نه دئ نازل کړی، حکم (صادرول) خو يوازي الله لره دئ، امر ئې کړی چي له ده پرته د هيچا عبادت مه کوئ، سم او سيده دين همدا دئ، خو ډېری خلك نه پوهېږي.

يعني يوسف عليه السلام خپلو ملګرو ته وايي: له ذلت او سپکاوي د خلاصون يوازينۍ لار دا ده چي له الله تعالی پرته بل چا ته سر ټيټ نه کړو، له شرك ډډه وکړو، يوازي په همدې سره د الله تعالی عنايت او فضل زموږ او د ټولو انسانانو په برخه کېدی

شي، الله تعالی په خپل دې پرېکنده او قاطع حکم او امر سره چې له ده پرته هیچا ته د بندګۍ سر ټیټ نه کړو او هیچا ته د احتیاج او نیازمندۍ لاس اوږد نه کړو، پر موږ لويه پیرزوینه کړې ده، خپل خاص احسان او فضل ئې زموږ په برخه کړی او زموږ سرلوړي او عزت ئي غوښتی دئ. خو ډېر انسانان د دې الهي احسان او ستر نعمت پاس نه ساتي، د شرك په ګنده ډنډ کې لوېږي او په همدې سره ئې ذلت او سپکاوی په برخه کېږي، څوك چې د زمکې او آسمانونو د یوازیني پالونکي رب له عبادته ډډه وکړي، د ډول ډول اربابانو او دروغجنو خدایانو د بندګۍ په دام کې پرېوځي، د هغه چا په څېر شي چې د کومې رسۍ په وسیله پورته تللی خو د لارې په نیمایي کې نابېره رسۍ شلېدلې، له بره سره ئې اړیکې غوځې شوې، راپرېوتی، یا د ښکاري مرغانو منګولو کې ګیر شوی او یا توندو سیلیو پر سر اخیستی او په کومې ژورې کندې کې ئې غورځولی، آیا نه وینئ چې زموږ پر دې شرك وهلې او له الله تعالی بې خبرې ټولنې څومره ډول ډول اربابان حکومت کوي؟!! آیا غوره نه ده چې د دوی له ظالمانه واکمنۍ د نجات او خلاصون لپاره یوه خدای ته پناه یوسو او یوازې د هغه عبادت وکړو؟ له الله تعالی پرته ټول معبودان او هر هغه څه چې تاسو ئې لمانځئ، مرسته ترې غواړئ او پناه وروړئ، تش په نامه معبودان دي، هسې خوشې نومونه دي، هیڅ حیثیت نه لري، هیڅ نه شي کولی، په حقیقت کې دا تاسو او ستاسو پلرونه دي چې دوی مو په خاصو نومونو او القابو نومولې، داسې کرامات، ځانګړتیاوې او خصوصیات مو ورته منسوب کړي چې په کې نشته، هسې ګومان کوئ چې ستاسو دعاءګانې اوري، ستاسې مرسته کولی شي، ستاسې حاجتونه پوره کوي او دعاءګانې مو قبلوي؛ په داسې حال کې چې نه د دې پراخې هستۍ په غېږکې داسې دلیل تر سترګو کېږي چې الله تعالی شريك لري او نه په کوم الهي کتاب کې ویل شوي چې له الله تعالی پرته د بل عبادت، هغه ته سر ټیټول او له هغه مرسته غوښتل جائز دي، هغه څوك چې دا ادعاء او ګمان ئې کړی چې د دې عالم کوم څيز یا کوم څوك په الوهیت او ربوبیت کې د الله تعالی سیال او شريك دئ او الله تعالی هغه د هستې په اداره او د چارو په سمبالولو کې له ځان سره شريك کړی، ادعاء ئې پوچه او ګمان ئې بې بنسټه دئ، داسې چې په ټولې هستۍ کې به د دې ادعاء د اثبات لپاره کوم دلیل وړاندې نه کړی شي!! هغه دین په دېوال ووهئ او هیڅکله د الهي دین په سترګه مه ورته ګورئ چې شرك ته بلنه ورکوي. الله تعالی ټولواك دئ، د عالم د ساتلو او پاللو واګې ئې په لاس کې دي، د هر کار پرېکړه د ده له لوري کېږي، حکم او فرمان صادرول ده لره مختص دئ، پر ټول عالم د ده جل جلاله حکم نافذ دئ، په دې واکمنۍ او حکومت کولو کې هیڅوك ورسره شريك نه دئ. الله تعالی د قانون جوړولو او پرېکړو کولو صلاحیت او اختیار هیچا ته نه دئ ورکړی، باید د ژوند په ټولو چارو کې له الله تعالی او د هغه له دین هدایت او لارښوونه تر لاسه کړو او د هغه له حکم او امر سره سم عمل وکړو. ستاسې د ټولنې مطلق العنانه حاکمان ظالمان دي، له خپل حد او حق ئې تېری کړی

او په خپلې دې ادعاء سره د شرك مرتكب شوي چې د قانون جوړول د دوی حق دئ. د الله تعالی دائمي او پرېكنده حكم دا دئ چې له ده پرته د بل څيز او بل چا عبادت مه كوئ، د بل چا له درشل او درباره وېره او طمع مه لرئ، له الله تعالی پرته هيچا ته د بندګۍ سر مه ټيټوئ او د فرمان او حكم اطاعت ئې مه كوئ، كوم مذهب او دين چې تا ته وايي: له غير الله مرسته غوښتل جائز دي؛ نو پوه شه چې دا دروغجن دين او كوږ اوږ مذهب دئ، داسې دين او مذهب چې فقط جاهل وګړي ئې په دام كې ښكار كېږي!!

دا مطلب د الحج د سورې په ۳۱ آيت كې په دې الفاظو راغلی:

حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِۦ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ أَوْ تَهْوِى بِهِ ٱلرِّيحُ فِى مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴿٣١﴾

الله ته مخه كوونكي په داسې حال كې چې د ده په اړه مشركين نه وي؛ او څوك چې د الله په اړه شرك وكړي نو دا داسې ده لكه چې له آسمانه راپرېوځي نو بيا ئې يا مارغان وتښتوي او يا ئې باد پر سر واخلي او په ژوري كندې كې ئې وغورځوي.

يعني څوك چې د الله په اړه شرك وكړي مثال ئې هغه چا ته ورته دئ چې د آسمان له لوړې لاندې راپرېوځي، نو يا ئې ښكاري مارغان وتښتوي او يا ئې باد پر سر واخلي او په ژوري كندې كې ئې وغورځوي. يعني يا د ټګمارو مذهبي مشرانو په منګولو كې پرېوځي، هم ئې دنيا تباه شي او هم ئې ايمان او يا د خرافاتو، جهل، سپكاوي او ذلت په ژورو كندو كې وغورځي.

د آيت په پای كې ويل شوي چې ستاينې ټولې الله ته دي، خو د دوی ډېری نه پوهېږي. پوښتنه راولاړېږي چې د دې برخې ارتباط له مخكينيو سره څنګه دئ؟ په دې اړه بېل بېل تعبيرونه مومو خو تر ټولو غوره تعبير دا دئ: الله تعالی انسان ته لارښوونه كړې چې له شرك ډډه وكړي او له بدو پايلو ئې ځان وساتي، د اغېزمنو مثالونو په ترڅ كې ئې هغه ته د كفر او شرك بدې پايلې ښودلې، توحيد ته ئې بللی او په دنيا او آخرت كې ئې د توحيد نېكې پايلې د ده په وړاندې انځور كړې او په دې سره ئې پر ده لويه پېرزوينه كړې، د دې پېرزويني تقاضا دا ده چې د خپل رب ستاينه وكړي او ووايي: الحمد لله: ستاينې ټولې الله ته دي، خو د دوی ډېری د دې ستر حقيقت له درك او پر هغه له اعتراف عاجز دي او نه پوهېږي.

---

إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿٣١﴾

يقيناً چې ته هم مرې او دوی هم مري، بيا به تاسو د قيامت په ورځ حتماً د خپل

رب په وړاندي په خپلو کې شخړه کوئ.

(۳۰-۳۱)- په دې مبارك آيت كې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې ستا او ستا د مخالفينو تر منځ روانه مناقشه دائمي نه ده، ډېر ژر به پای ته ورسېږي، ته هم مرې او دوی هم مري؛ او په دې سره دا لړۍ دلته او په دنيا کې پای ته رسي خو بيا به تاسو ټول د قيامت په ورځ حتماً د خپل رب په وړاندي ودرېږئ او هلته به د دې مناقشې آخري پړاو او د هغې پايلي په خپلو سترګو وګورئ.

فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى ٱللَّهِ وَكَذَّبَ بِٱلصِّدۡقِ إِذۡ جَآءَهُۥٓۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٢﴾ وَٱلَّذِي جَآءَ بِٱلصِّدۡقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ ﴿٣٣﴾ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمۡۚ ذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٣٤﴾ لِيُكَفِّرَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ وَيَجۡزِيَهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٣٥﴾

نو تر هغه چا به لوی ظالم څوك وي چې د الله په اړه ئې دروغ وويل؛ او رښتينې وينا ئې له هغه وروسته دروغ وګڼله چې ورته راغله، آيا د دغو کافرانو مېشت ځی به په دوزخ کې نه وي؟ او هغه چې رښتيا ئې راوړل او هغه ئې تصديق کړ همدا دوی متقيان دي، دوی ته د خپل رب په خوا کې هر هغه څه دي چې دوی ئې غواړي، همدا د نېکانو بدله ده، چې الله له دوی هغه بد بد عملونه محو کړي چې دوی کړي او د هغه غوره عمل په تناسب بدله ورکړي چې دوی کولو.

(۳۲-۳۵)- دلته بيا د يوه بل تقابل او مقايسې شاهد يو: يوې خوا ته تر ټولو ستر ظالم، هغه چې د الله په اړه دروغ وايي او هغه رښتينی او حق دين دروغ ګڼي چې د يوه رښتيني پيغمبر په لاس ورته راغلی، آيا له دغو کافرانو سره دوزخ نه ښايي او مناسب مېشت ځی به ئې په دوزخ کې نه وي؟ په مقابل کې ئې هغه چې رښتيا ئې راوړل او هغه ئې تصديق کړ، پيغمبر حق دين راوړ او مؤمنانو د ده په لاس راغلی حق دين تصديق کړ او ايمان ئې پرې راوړ، هغه چې متقيان دي، دوی ته به د خپل رب په خوا کې هر هغه څه وي چې دوی ئې غواړي، همدا د نېکانو بدله ده؛ او دا د دې لپاره چې الله تعالی غواړي د دوی له عملپاڼي هغه بد بد عملونه محو کړي چې دوی کړي او د هغه غوره عمل په پرتله بدله ورکړي چې دوی کولو. يعني ګناهونه به ئې معاف کړي او د دوی د هغه عمل له مخې به بدله ورکړي چې تر ټولو غوره وي.

أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُۥ ۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ
فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴿٣٦﴾ وَمَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّضِلٍّ ۗ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِعَزِيزٍ ذِى
ٱنتِقَامٍ ﴿٣٧﴾

آيا الله خپل بنده ته کافي نه دئ؟!! په داسي حال کې چي دوی دي له ده پرته په نورو سره وېروي؛ او الله چي څوك بې لاري کړي نو هيڅ لارښود ئې نشته؛ او الله چي څوك هدايت کړي نو هيڅ بې لاري کوونکی ئې نشته، آيا الله عزتمن غچ اخيستونکی نه دئ؟

(٣٦-٣٧)- دلته د مخکينيو مثالونو او بحثونو په ارتباط او د هغوی د يوې قطعي نتيجې په توګه پوښتنه شوې چي: آيا الله خپل بنده ته کافي نه دئ؟!! ستا مشرکو مخالفينو الله تعالی هېر کړی او تا په خپلو دروغجنو معبودانو سره وېروي، دوی لار ورکې دي، حالت ئې داسي دئ چي د هدايت وړتيا او استعداد ئې ځېل شوی، له همدې کبله الله تعالی د دوی د بې لاريتوب پرېکړه کړې؛ او الله تعالی چي څوك بې لاري کړي نو هيڅ لارښود ئې نشته؛ او الله تعالی چي څوك هدايت کړي نو هيڅ بې لاري کوونکی ئې نشته، آيا له حق دين او د الله تعالی له پيغمبر سره د دوی مخالفت له هغي غلطي انګېرني راولاړ شوی چي ګمان کوي الله تعالی له ظالمانو انتقام نه اخلي او سزا نه ورکوي؟ څومره غلطه انګېرنه او څومره کچه او ناسم ګمان!! په داسي حال کې چي الله تعالی عزتمن غچ اخيستونکی دئ.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَرَءَيْتُم مَّا
تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ إِنْ أَرَادَنِىَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ أَوْ
أَرَادَنِى بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَٰتُ رَحْمَتِهِۦ ۚ قُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ ۖ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ
ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٣٨﴾

او که ئې وپوښتې چي آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي؟ حتماً به ووايي: الله، ووايه: آيا پام مو نه دئ کړی چي که الله د کوم تاوان اراده راته وکړي هغه چي تاسو ئې (مرستي ته) دربلئ آيا دوی ئې د تاوان رفع کوونکي دي؟ او که د کومي پېرزويني اراده راته وکړي آيا دوی ئې د پېرزويني ټمونکي دي؟ ووايه: الله راته کافي دئ، توکل کوونکي پر ده توکل کوي.

(٣٨)- دلته له مشرکينو د يوې داسي پوښتني شاهد يو چي ځواب ئې ځرګند دئ او د دوی د غلطو باورونو په بشپړه توګه ترديد کوي، پوښتنه دا ده: آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي؟ د دوی ځواب به حتماً دا وي: الله!! آيا له دې پرته بل ځواب درلودی شي؟ که بل ځواب نه لري او په ټول عالم کي داسي څه نه شي په ګوته کولی چي له الله تعالی پرته بل چا پيدا کړی وي؛ نو دوی څنګه داسي څوک او څه لمانځي چي د آسمانونو او زمکي د هيڅ څه په پيدا کولو کي هيڅ ونډه نه لري؟!! همدا راز که ئې وپوښتې: که ما ته الله تعالی د کوم ضرر او تاوان اراده وکړي آيا هغه چي تاسو ئې لمانځئ او مرسته ترې غواړئ کولی شي د دې ضرر مخنيوی وکړي؟ او که د کومي پېرزويني اراده راته وکړي آيا دوی کولی شي دا الهي پېرزوينه تم کړي؟ د دې پوښتنو يوازينی ځواب له دې پرته بل څه نشي کېدی چي: الله تعالی راته کافي دئ، له ده پرته د اعتماد، طمعي او توکل بله مرجع نشته، څوک چي غواړي په کوم ذات توکل وکړي نو له الله تعالی پرته د معتمد توکل بله مرجع نشي موندلی.

قُلْ يَٰقَوْمِ ٱعْمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَٰمِلٌ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾ مَن يَأْتِيهِ
عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٤٠﴾

ووايه: اې زما قومه! پر خپل خپل ځای (او کړنلاري) عمل وکړئ؛ زه هم عمل کوونکی يم، نو ژر به پوه شئ چي چا ته به داسي عذاب ورسېږي چي سپك به ئې کړي او تلپاتی عذاب به پرې راپرېوځي، يقيناً چي موږ په رښتينې توګه دا کتاب د خلکو لپاره پر تا نازل کړی، نو څوک چي په سمي لاري روان شي نو د ځان لپاره ئې ده؛ او څوك چي بې لاري شي نو د ځان په ضرر بې لاري کېږي؛ او ته پرې ذمه وال نه يې

(٣٩-٤١)- په دې مبارکو آيتونو کي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چي خپلو معارضو مخاطبينو ته ووايي: تاسو د خپلي کړنلاري مطابق عمل وکړئ؛ زه د خپلي تګلاري مطابق عمل کوم، ژر به په دې حقيقت پوه شئ چي چا ته به داسي عذاب ورسېږي چي سپك به ئې کړي او تلپاتی عذاب به پرې راپرېوځي، د خپلي کړنلاري بدي پايلي به هم په دنيا کي په خپلو سترګو وګورئ او هم په آخرت کي، په دنيا کي سپکوونکی عذاب او په آخرت کي تلپاتی عذاب. رسول الله صلى الله عليه و سلم ته اطمئنان ورکړی شوی چي دا پر حقيقت مبني کتاب رښتينی الهي پيغام دئ چي د خلکو د لارښوونې لپاره پر تا نازل شوی، څوك چي دا کتاب ځان ته لارښود کړي او په رڼا کي ئې په سمي لاري روان شي نو د ځان په ګټه ئې کار کړی او څوك چي بې لاري شي او په کږو لارو سر شي د ځان په ضرر بې لاري کېږي، ته ئې د هدايت ذمه وال نه يې.

ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَٱلَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا ۖ فَيُمْسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيْهَا ٱلْمَوْتَ وَيُرْسِلُ ٱلْأُخْرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾

الله له ساه لرونکو د مرگ په وخت کې ساه اخلي او له هغو چې مړه شوي نه وي د خوب په وخت کې، نو د چا چې د مرگ پرېکړه شوې وي ساه ئې له ځان سره ساتي او بله تر ټاکلې نېټې بېرته لېږي، بې شکه چې پدې کې فکر کونکو ته ډېرې نښې دي.

---

(٤٢)- دلته د الله تعالی د ربوبیت یو بل ځرگند مظهر د انسان د مرگ په بڼې کې زموږ په وړاندې ځلېږي، لکه څنگه چې د ژوبو پیدایښت د یوه ژوندي خالق د شته والي ځرگنده نښه ده همدا راز د ژوبو مرگ د هغه ذات د شته والي نښه ده چې د مرگ پرېکړه د هغه له لوري کېږي، هر انسان د مرگ په لیدلو سره خپل عقل پوښتي: د مرگ پرېکړه د چا له لوري کېږي؟ ولې ټول ژوي د دې پرېکړې په وړاندې مقهور او محکوم دي او سرغړاوی نه شي کولی؟ دا ځواکمن ذات څوك دئ چې زما لاس پښې د مرگ په وړاندې تړي، له ما اختیار سلبوي او هڅې مې بې نتیجې گرځوي؟ په دې مبارك آیت کې دغو پوښتنو ته دا ځواب ویل شوی: الله تعالی هغه ذات دئ چې له ژوو د مرگ په وخت کې ساه اخلي او له هغو چې مړه شوي نه وي د خوب په وخت کې، نو د چا چې د مرگ پرېکړه شوې وي ساه ئې له ځان سره ساتي او بله تر ټاکلې نېټې بېرته لېږي، بې شکه چې پدې کې فکر کونکو ته ډېرې نښې دي.

په دې مبارك آیت کې څو مهمې لارښووني شوې:

- خوب د مرگ یوه بیلگه ده، د آیت الفاظ صراحت لري چې د خوب په حالت کې هم د انسان روح له بدن وځي، همغسې لکه د مرگ په حالت کې چې له بدن وځي، خو داسې چې رابطه ئې له بدن سره په کامله توگه نه شلېږي بلکې رابطه ئې ورسره وي او بېرته ورستنېږي، له مرگ سره ئې توپیر په دې کې دئ چې د مرگ په حالت کې ئې رابطه له بدن سره کاملاً شلېږي او بېرته نه ورستنېږي، د دې آیت له فحوی دا هم معلومېږي چې له مرگ وروسته د روح او بدن تر منځ رابطه قطع کېږي او الله تعالی د مړي روح د ده له بدن بېله له ځان سره ساتي. آیت وایي: خدای هم د مرگ په وخت کې د ساه لرونکو روح قبض کوي او هم د خوب په وخت کې، که ئې د مرگ پرېکړه شوې وي نو روح ئې ساتل کېږي او بل ته خپله روح تر ټاکلې نېټې بېرته ورگرځوي.
- د فکر خاوندان پدې خبرې کې د حقائقو ډېرې نښې گوري.

أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُفَعَآءَۚ قُلۡ أَوَلَوۡ كَانُواْ لَا يَمۡلِكُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَعۡقِلُونَ ۝٤٣ قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعٗاۖ لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ۝٤٤

آيا له الله پرته ئې شفاعت کوونکي غوره کړي؟ ووایه: که څه هم نه کوم شی په واك کې لري او نه تعقل کولی شي؟ ووایه: سپارښتنه په بشپړه توګه د الله (په واك کې) ده، د آسمانونو او زمکې واکمني د ده ده، بیا د ده لورې ته ستنول کېږئ.

(۴۳-۴۴)- په دې مبارکو آیتونو کې (توحید) او (شرك) له یوه بله اړخه څېړل شوي، مشرکین د الله تعالی تر څنګ په داسې مزعوم مخورو ذواتو باور لري چې ګمان کوي الله تعالی د هغوی سپارښتنو ته په پام سره پرېکړې کوي، که چا ته څه ورکوي نو د هغوی په سپارښتنه ئې ورکوي او که له چا څه سپموي نو د هغوی په سپارښتنه ئې سپموي، دوی د عالم د چارو په سمبالولو کې د رب العالمین شریکان دي، همغسې لکه پاچایان چې مشاورین، وزیران او والیان لري!!! په دې مبارك آیت کې د دې شرکي انګېرنې د تردید په اړه ډېر مضبوط او په زړه پورې استدلال شوی او ویل شوي: آیا له الله تعالی پرته ئې داسې شفاعت کوونکي غوره کړي چې یا خو د عالم هیڅ څه په واك کې نه لري او یا تعقل نشي کولی؟ یعنې ستاسو شریکان یا په قبرونو کې پراته ذوات دي چې نه څه په واك کې لري او نه څه کولی شي، یا داسې جعلي معبودان چې ستاسو د وهم زېږنده دي چې نه د عالم د چارو په سمبالولو کې څه ونډه لري او نه د څه ورکولو او سپمولو اختیار، یا هغه بُتان چې عقل او شعور هم نه لري!! بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې هغوی ته ووایې: سپارښتنه په بشپړه توګه د الله تعالی په واك کې ده، هیچا ته ئې د سپارښتنې واك او اختیار نه دئ ورکړی، دا پرېکړه یوازې د ده له لورې کېږي چې چا ته څه ورکړي او څه ترې وسپموي، هغه د آسمانونو او زمکې ټولواك دئ، هیڅ شریك نه لري، په پای کې د ده لورې ته ستنول کېږئ.

وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُ ٱشۡمَأَزَّتۡ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ۝٤٥

او کله چې الله په یوازې توګه یاد کړی شي نو د هغو زړونه کرکه ښیي چې پر آخرت ایمان نه لري؛ او کله چې هغه یاد شي چې له ده پرته دي نو ناڅاپه به هغوی خوښي کوي.

(۴۵)- دا مبارك آیت وایي: د دغو مشرکینو او په آخرت ایمان نه لرونکو حالت داسې دئ

چي کله الله تعالی د یوازیني معبود په توګه یاد شي نو د دوی زړونه له کرکې او نفرت ډك او د دې کرکې آثار د دوی په څېرو کې راڅرګند شي او کله چي د دوی هغه جعلي معبودان یاد کړی شي چي دوی ئې له الله تعالی پرته لمانځي نو شیطان د دوی پر زړونو چونډۍ لګوي او خوښي کولو ته ئې هڅوي!!

قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ عَٰلِمَ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ أَنتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِى مَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفْتَدَوْا۟ بِهِۦ مِن سُوٓءِ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ وَبَدَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا۟ يَحْتَسِبُونَ ﴿٤٧﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٤٨﴾

ووایه: اې د آسمانونو او زمکې پنځوونکیه! پر پټو او ښکاره وو پوه ذاته! دا ته ئې چي د خپلو بندګانو تر منځ په هغه څه کې پرېکړه کوې چي دوی په کې اختلاف کولو؛ او که دغو ظالمانو ته ټول هغه څه وي چي په زمکې کې دي او ورسره دې ته ورته نور هم نو حتماً به ئې د قیامت په ورځ د بد عذاب په بدل کې فدیه کړي؛ او د الله له لوري به هغه څه ورته جوت شي چي ګمان ئې نه کولو؛ او د خپلو لاسته راوړنو بدوالی به ورته جوت شي او هغه څه به پرې محقق شي چي ملنډې ئې پرې وهلې.

(٤٦-٤٨)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چي ووایي: اې د آسمانونو او زمکې پنځوونکیه! پر پټو او ښکاره وو پوه ذاته! دا یوازې ته ئې چي د خپلو بندګانو تر منځ به په ټولو هغو مواردو کې وروستۍ پرېکړه کوې چي دوی په کې اختلاف کولو.
- د قیامت په ورځ به د دغو ظالمانو حالت داسي وي چي که د زمکې هر څه د دوی په واك کې وي او ورسره دې ته ورته نور هم نو حتماً به ئې د قیامت د ورځي د بد عذاب په بدل کې فدیه کړي چي له عذاب وژغورل شي؛ خو ګټه به نه وررسوي.
- دوی ته به د الله تعالی له لوري ټول هغه څه جوت شي چي ګمان ئې نه کولو او هغه ئې محال ګڼل.
- دوی ته به د خپلو هغو لاسته راوړنو بدوالی هم جوت شي چي شیطان ورته ښایسته کړي وې.
- او هغه عذاب به ئې په برخه شي چي ملنډې ئې پرې وهلې او تش ګواښونه ئې ګڼل.

فَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلۡنَٰهُ نِعۡمَةٗ مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ
عِلۡمِۢۚ بَلۡ هِيَ فِتۡنَةٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٤٩﴾ قَدۡ قَالَهَا ٱلَّذِينَ مِن
قَبۡلِهِمۡ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٥٠﴾ فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْۚ
وَٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡ هَٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيبُهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْ وَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ
﴿٥١﴾ أَوَ لَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ
لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٢﴾

نو کله چي انسان ته کوم کړاو ورسېږي موږ بلي (دعاء راته کوي)، بيا کله چي له خپل لوري کوم نعمت ورپه برخه کړو وايي: دا خو يوازي د علم له مخي راکړى شوى، نه؛ بلکي دا خو يوه آزموينه ده خو د دوى ډېرى نه پوهېږي، يقيناً هغو هم دا خبره وکړه چي تر دوى وړاندي ول، نو هغو چي دوى تر لاسه کول کوم څه ترې دفع نه کړى شو، نو د هغه څه بدوالى وروړسېدو چي دوى تر لاسه کړي ول؛ او له دغو چي چا ظلم کړى حتماً به د هغه څه بدوالى وروړسېږي چي تر لاسه کړي ئې دي او دوى عاجزوونکي نه دي، آيا په دې نه دي پوه شوي چي الله هر چا ته چي دى ئې وغواړي رزق پراخوي او تنگوي، يقيناً چي په دې کې هغو وگړو ته ډېري نښي دي چي ايمان راوړي.

(٤٩-٥٢)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

دلته له يوې خوا د انسان يوه فطري ضعف او کمزورۍ ته اشاره شوې، له بلي خوا همدا ضعف او کمزوري د توحيد د يوې ځرگندي نښي په توگه وړاندي شوې؛ او هغه دا چي کله انسان ته کوم کړاو ورسېږي الله تعالى ته د دعاء لاسونه لوړ کړي او له کړاو د ژغورني هيله ترې کوي، بيا کله چي الله تعالى له خپل لوري کوم نعمت ورپه برخه کړي نو وايي: دا خو يوازي د علم له مخي راکړى شوى، د دې وينا يو تعبير دا دئ چي: الله تعالى زما په وړتياوو پوه دئ او زه ئې د دې نعمت وړ موندلى يم نو ځکه ئې دا نعمت راباندي پېرزو کړى، يعني خپله شتمني د خپلي وړتيا او ښه والي نښه گڼي؛ او بل تعبير ئې دا دئ چي دا نعمتونه خو زما د خپلي پوهي او هنر محصول دي نه د چا پېرزوينه او احسان!! دقيق تعبير همدا دوهم تعبير دئ، له وروستيو آيتونو هم معلومېږي چي مراد ئې همدا دئ. د ده دا انگېرنه غلطه گڼل شوې او په ځواب کې ورته ويل شوي: داسي نه ده، بلکي دا خو يوه آزموينه ده، دا ستا د اهليت او قابليت بدله نه ده، ته په خپلو سترگو گورې چي

دا نعمتونه هم د باغي او ظالم انسان په واك كې دي او هم د صالح او مؤمن انسان په واك كې، چا له روا لارو تر لاسه كړي او چا له نارواوو لارو، يو له مشروع او حلالو لارو دومره څه تر لاسه كوي چې خپله گوزاره پرې كوي او بل له نامشروع او حرامو لارو دومره څه تر لاسه كوي چې پرې مست شي او پر نورو ظلم او تېري ته ئې وهڅوي، څوك ئې د خير په چارو كې لگوي او څوك ئې د شر او فساد په چارو كې، دا ښيي چې دا نعمتونه د امتحان او آزمويني داسي وسيله ده چې الله تعالی خپل بندگان پرې آزمويي، خو د دوی ډېری نه پوهېږي، كله د انسانانو ظالمانه وېش الله تعالی ته منسوب كړي، كله د ظالم او مفسد په واك كې نعمتونه د هغه د ښه والي نښه وگڼي، كله له پراخو نعمتونو د صالح انسان محروميت د هغه د بدوالي او شقاوت نښه بولي او قضاوت ئې دا وي چې الله تعالی د خپلو نعمتونو وړ نه دئ موندلی نو ځكه ئې له محروميتونو سره مخامخ كړی، كه څه هم پر هغه به د بل انسان له لوري ظلم شوی وي او د ده حقوق به ئې غصب كړي وي!!

د الهي نعمتونو او پېرزوينو په اړه د مخكينيو مشركينو انگېرنه هم دې ته ورته وه، د هغوی وينا هم د دوی په څېر وه، الهي پېرزويني او نعمتونه ئې د خپل هنر، كمال او وړتياوو محصول گڼلو، خو لاسته راوړنو ئې كوم څه ترې دفع نه كړی شو، د خپلو لاس ته راوړنو بدې پايلې ئې ولېدې، كمال او هنر ئې دا مرسته ورسره ونه كړی شوه چې له بد برخليك ئې وژغوري. له دې آيت په څرگنده توگه معلومېږي چې په مخكينيو دوو تعبيرونو كې دوهم تعبير دقيق دئ او د بحث له موضوع سره زياته همغږي لري. ځكه دا آيت وايي چې د دوی كسب څه ترې دفع نه كړی شو، يعني دوی پر خپل هنر او كمال مغرور ول خو هيڅ گټه ئې ورونه رسوله، د دې معنی دا ده چې د دوی په واك كې نعمتونه د دوی د كمال او هنر محصول نه، بلكې د آزمويني په توگه وركړی شوي.

د رسول الله صلى الله عليه و سلم د مخاطبينو په ډلي كې به هم هغو ته چې ظلم ئې كړی حتماً د خپلو كړنو بدې پايلي ورسېږي، دوی نشي كولی د خپل زر او زور او مكر او تدبير په مټ د الهي عذاب مخنيوی وكړي.

آيا دوی ته دا حقيقت نه دئ جوت شوی چې د رزق د پراخوالي او تنگوالي پرېكړه د هغه رزاق رب له لوري كېږي چې د رزق ټولي خزانې د هغه په واك كې دي، باران د ده په امر له آسمانه ورېږي او دانه او مېوه د ده په حكم له زمكي راټوكېږي؟

له بلي خوا د انسان دا فطري حالت چې د كړاوونو پر مهال الله تعالی ته مخه كوي، د هغه په وړاندي د احتياج لاس لوړوي او له كړاوونو د وتلو په اړه مرسته ترې غواړي ښيي چې پر الله تعالی ايمان د ده د فطرت غوښتنه ده، د ده د ضمير غږ دئ، د ده د عقل حكم دئ، كله چې له كبر او مستي ولوېږي او فطري حالت ته راوگرځي نو فوراً خپل رب وريه ياد شي او هغه ته مخه كړي، ځان هغه ته اړ گڼي او مرسته ترې غواړي. د ۵۲ آيت وروستۍ فقره همدا مطلب افاده كوي چې وايي: يقيناً چې په دې كې هغو وگړو ته ډېري

نښې دي چې ایمان راوړي.

قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾ وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَأَسۡلِمُواْ لَهُۥ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿٥٤﴾ وَٱتَّبِعُوٓاْ أَحۡسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ بَغۡتَةً وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ﴿٥٥﴾ أَن تَقُولَ نَفۡسٌ يَٰحَسۡرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ ﴿٥٦﴾ أَوۡ تَقُولَ لَوۡ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٥٧﴾ أَوۡ تَقُولَ حِينَ تَرَى ٱلۡعَذَابَ لَوۡ أَنَّ لِي كَرَّةً فَأَكُونَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٨﴾ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَتۡكَ ءَايَٰتِي فَكَذَّبۡتَ بِهَا وَٱسۡتَكۡبَرۡتَ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٥٩﴾

ووایه: اې زما هغو بندګانو چې پر خپلو ځانونو ئې تېرى کړى! د الله له رحمت مه ناهیلي کېږئ، یقیناً چې الله ټول ګناهونه بخښي، یقیناً چې هغه مهربان بخښونکى دئ؛ او د خپل رب لوري ته ستانه شئ او د ده په وړاندې تر هغه د مخه تسلیم شئ چې عذاب درته راشي بیا مو کومه مرسته ونه کړى شي؛ او د هغه ډېر غوره څه متابعت وکړئ چې ستاسو د رب له لوري درته نازل شوي، تر دې وړاندې چې عذاب په داسې حال کې په ناڅاپي توګه درته راشي چې په خیال کې مو نه ګرځي، داسې چې یو کس به وایي: زما پر حال دې له دې کبله افسوس وي چې د الله په خوا کې مې تېرى وکړ او یقیناً چې زه د ملنډو وهونکو له ډلې وم، یا دا چې ووایي: که الله هدایت کړى وى نو حتماً به د متقینو له ډلې وم، یا دا چې کله عذاب وګوري نو ووایي: کاش بېرته ګرځېدا مې په برخه شي چې د نېکانو له ډلې شم، داسې نه ده؛ بلکې زما آیتونه په یقیني توګه درغلي ول خو تا هغوى درواغ وګڼل، لویي دې وغوښتله او د کافرانو له ډلې وې.

(٥٣-٥٩)- د دې مبارکو آیتونو مهم مهم مطالب دا دي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته سپارښتنه شوې چې د الله تعالی له لوري مؤمنانو ته ووایي: ١- اې زما هغو بندګانو چې ګناه ئې کړې او په دې سره ئې پر خپلو ځانونو تېرى کړى! د الله له رحمت مه ناهیلي کېږئ، ٢- یقیناً چې الله تعالی ټول ګناهونه بخښي،

۳- یقیناً چې هغه مهربان بخښونکی دئ، ٤- د خپل رب لوري ته ستانه شئ او د ده په وړاندي تر هغه د مخه تسلیم شئ چې عذاب درته راشي بیا داسي څوك ونه مومئ چې ستاسو مرسته وکړی شي او له الهي عذاب مو وژغورلی شي.

- د هغو ډېرو غورو الهي ارشاداتو متابعت وکړئ چې ستاسو د رب له لوري درته نازل شوي، تر دې وړاندي چې عذاب په داسي حال کې په ناڅاپي توگه درته راشي چې په خیال کې مو نه گرځي.
- د دې الهي عذاب د راتلو په وخت کې به ځیني وایي: زما پر حال دي له دې کبله افسوس وي چې د الله تعالی په خوا کې مي تېری وکړ او یقیناً چې زه د ملنډو وهونکو له ډلي وم.
- ځیني نور به وایي: که الله هدایت کړی وی نو حتماً به د متقینو له ډلي وم!!
- ځیني به هغه مهال چې عذاب وگوري وایي: کاش بېرته گرځېدا مي په برخه شي چې د نېکانو له ډلي شم.
- د هر یوه په ځواب کې به وویل شي: داسي نه ده؛ ستا وینا سمه نه ده، ستا هیلي نه شي تر سره کېدی، بلکي زما آیتونه درغلي ول خو تا هغوی درواغ وگڼل، لویي دي وغوښتله او د کافرانو له ډلي وې.

---

وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسۡوَدَّةٌۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴿٦٠﴾ وَيُنَجِّي ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ بِمَفَازَتِهِمۡ لَا يَمَسُّهُمُ ٱلسُّوٓءُ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٦١﴾

او د قیامت په ورځ به هغه خلك چې د الله په اړه ئې دروغ ویلي وو وگورې چې مخونه به ئې تك تور وي، آیا د دغو کبرجنو (مناسب) مېشت ځای دوزخ نه دئ؟ او الله به هغه چې تقوی ئې کړې د خپلو بریاوو له امله وژغوري، داسي چې نه به په کوم کړاو اخته کېږي او نه به غمجن کېږي.

---

(٦٠-٦١)- په دې مبارکو آیتونو کې د مشرك او موحد وضعیت د قیامت په ورځ داسي انځور شوی:

- د قیامت په ورځ به هغه خلك چې د الله تعالی په اړه ئې دروغ ویلي وو داسي ومومې چې مخونه به ئې تك تور وي، تور مخونه به ئې له ورایه هر چا ته وایي: له دغو کبرجنو سره دوزخ ښایي، د دوی مناسب مېشت ځای دوزخ دئ.
- او هغه چې د تقوی لمن ئې کلکه نېولې وه الله تعالی به ئې له دې رسوایي وژغوري چې مخ ئې تور او مېشت ځی ئې دوزخ وي، نه به په کوم کړاو اخته کېږي او نه به

غمجن کېږي. د دې ژغورنې وجه به دا وي چې دوی په خپلې آزموینې کې بریالي شوي ول. دنیا د دوی د آزموینې ځای، نعمتونه او محرومیتونه ئې د آزموینې اسباب او ژوند ئې د دې الهي آزموینې فرصت وو، دوی په دې آزموینو کې د بریا له کبله له دې الهي ژغورنې او سعادت سره مخامخ شول.

ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ﴿٦٢﴾ لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٦٣﴾

الله د هر څه خالق دئ؛ او هغه پر هر څه وکیل (څارونکی) دئ، د آسمانونو او زمکې کیلیاني د ده دي؛ او هغه چې د الله د آیتونو په اړه ئې کفر کړی همدا دوی زیانمن دي.

(٦٢-٦٣)- دا مبارك آیتونه وایي:

- الله تعالی د هر څه خالق دئ، د عالم هر څه ده پیدا کړي، په ټول عالم کې داسي څه نشته چې له الله تعالی پرته بل خالق ولري.
- الله تعالی د عالم د هر څه څارنه کوي، له پیدایښت وروسته ئې مهمل نه پرېږدي بلکې څارنه او پالنه ئې کوي.
- د آسمانونو او زمکې د ټولو خزانو کیلیاني د ده په واك کې دي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته څه ورکړي.
- هغه چې د الله تعالی د آیتونو په اړه کفر کوي حقیقي زیانمن وګړي همدا دوی دي، که څه هم د شتمنیو خاوندان وي او بادئ الرأی وګړي د شتمنو په سترګه ورته ګوري.

قُلۡ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَأۡمُرُوٓنِّيٓ أَعۡبُدُ أَيُّهَا ٱلۡجَٰهِلُونَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٦٦﴾

ووایه: اې ناپوهانو! نو آیا پر دې مې ګمارئ چې غیر الله ولمانځم؛ او یقیناً چې تا ته هم او هغو ته هم چې تر تا وړاندې ول وحې شوې چې که شرك وکړې نو عمل به دې تباه شي او حتماً به د زیانمنو له ډلې شې، نه؛ بلکې الله لمانځه او د شاکرانو له ډلې اوسه.

(٦٤-٦٦)- د دې مبارکو آیتونو مطالب دا دي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته سپارښتنه شوې چي جاهلو مشركينو ته ووايي: اې ناپوهانو! آيا ما پر دې گمارئ چي له الله تعالی پرته بل معبود ومانځم.
- ستا په شمول هر پيغمبر ته د الله تعالی له لوري وحي شوې چي كه شرك وكړې نو عمل به دي تباه شي او حتماً به د زيانمنو له ډلي شې.
- نو د مشركينو بلني ته د رد قاطع ځواب وركړه، يوازي الله تعالی لمانځه او د شاكر بنده په توگه د هغه د نعمتونو پاس ساته.

---

وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٦٧﴾

او د الله په اړه ئې د ده له قدر سره وړ قدرونه ونه كړه، په داسي حال كي چي د قيامت په ورځ به ټوله زمكه د ده په موټ كي وي او آسمانونه به د ده په ښي لاس كي راتاو كړى شوي وي، ده ته سپېڅلتيا ده او له هغه څه لوړتيا چي دوى ئې (ورسره) شريكوي.

---

(٦٧)- د دې مبارك آيت مهمي مهمي لارښووني دا دي:

مشركينو الله تعالی سم او د ده له شأن سره وړ نه دئ پېژندلی، د الله تعالی د ذات او صفاتو په اړه ئې انگېرني او باورونه داسي نه دي چي د ده له عظمت سره ښايي، د قيامت په ورځ به پوه شي چي خپل رب ئې سم نه وو پېژندلی، هلته به ورته جوته شي چي دا ټول عالم؛ زمكه او آسمانونه ئې د الله تعالی په وړاندي داسي دي لكه يو وړوكی توپ د انسان په موټ كي يا يوه تاو شوې پاڼه د چا په لاس كي، الله تعالی له هغو عيبونو منزه او له هغو نقصونو ډېر ډېر لوړ دئ چي مشركين ئې الله تعالی ته منسوبوي، ځوك چي الله تعالی ته شريك منسوبوي په حقيقت كي هغه ته ستر ستر عيبونه منسوبوي، باور ئې دا وي چي الله تعالی په يوازي توگه او له شريك پرته د عالم د چارو له سمبالولو عاجز او د شريك او مرستيال مرستي او ملتيا ته اړ دئ، حال دا چي دا عالم او د چارو سمبالول ئې الله تعالی ته داسي آسان دي لكه د انسان په موټ كي د يوه وړوكي توپ سمبالول يا يوه تاو شوې پاڼه په ښي لاس كي نېول او په هر لوري ئې تاوول او خوځول.

---

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخۡرَىٰ فَإِذَا هُمۡ قِيَامٞ يَنظُرُونَ ﴿٦٨﴾ وَأَشۡرَقَتِ ٱلۡأَرۡضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ وَجِاْيٓءَ بِٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا

يُظْلَمُونَ ﴿٦٩﴾ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٧٠﴾ وَسِيقَ
ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمْ
خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ رَبِّكُمْ
وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَاۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ ٱلْعَذَابِ عَلَى
ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧١﴾ قِيلَ ٱدْخُلُوٓاْ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَبِئْسَ مَثْوَى
ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾

او په شپېلۍ کې به پو شي نو څوك چې په آسمانونو کې دي او څوك چې په زمکې کې دي (ټول به) بې سده شي، مګر هغه چې الله غوښتي، بیا به بل ځل په کې پو شي نو ناڅاپه به دوی په داسې حال کې ودرېدلي وي چې انتظار به کوي؛ او زمکه به د خپل رب په نور سره ځلانده شي، کتاب به کېښودی شي، پیغمبران او شاهدان به راوستی شي او د دوی تر منځ به په حق سره پرېکړه وشي؛ په داسې حال کې چې پر دوی به ظلم نه کېږي. او هر چا ته به د هغو عملونو بشپړه بدله ورکړی شي چې کړي ئې دي په داسې حال کې چې دی په هغه څه ښه پوه دئ چې دوی ئې کوي؛ او هغه وګړي به د دوزخ په لوري ډلې ډلې وخوځول شي چې کفر ئې کړی، تر هغه چې ورشي او دروازې ئې ورته پرانیستل شي او څارونکي ئې ورته ووايي: آیا تاسو ته ستاسو له ډلې داسې پیغمبران نه وو درغلي چې ستاسو د رب آیتونه ئې درته لوستل او د خپلې دغې ورځې له مخامخېدو ئې وېرولئ، وبه وايي: ولې نه؛ خو د کافرانو په اړه د عذاب وینا تر سره شوه، وبه ویل شي: د دوزخ پر دروازو ننوځئ په هغه کې تلپاتي، نو د دغو کبرجنو مېشت ځای څومره بد دئ!!

(٦٨-٧٢)- د دغو مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

• د قیامت په ورځ به په شپېلۍ کې پو شي، په همدې سره به ټول هغه بې سده شي چې په آسمانونو او زمکې کې دي، مګر هغه چې الله غوښتي، بیا به بل ځل په کې پو شي نو ناڅاپه به دوی په داسې حال کې ودرېدلي وي چې انتظار به کوي. دلته په شپېلۍ کې دوه ځلې پو کېدا راغلې، په لومړۍ سره به د آسمانونو او زمکې ټول ژوي بې سده او مړه شي، له هغو پرته چې الله تعالی ئې لا د مرګ پرېکړه نه وي کړې، ښايي دا به هغه اته فرښتې وي چې د عرش حمله نومول شوې، اسرافیل به هم له دغې ډلې وي، دوی به هم په خپل وخت مري او له الله تعالی پرته به هېڅ څه نه پاته کېږي، بیا به دوهم ځل په شپېلۍ کې

پوه شي او په دې سره به ټول مړي راژوندي شي او له قبرونو به راپاځي، بیا به ټول د محشر په لوري ډلې ډلې روان شي او هلته به الهي پرېکړې ته انتظار کوي. د قرآن له ویناوو په صراحت سره معلومېږي چې په صور کې به دوه ځلې پو شي: په لومړي سره به قیامت راشي او د عالم موجود نظم به په بشپړه توگه له منځه ولاړ شي او بل سره به بعثت پیل شي، نوی آسمان او نوې زمکه به راپیدا شي او ټول مړي به راژوندي شي.

- زمکه به د خپل رب په نور سره ځلانده شي، دا به بله زمکه وي، مخکینۍ زمکه به د قیامت د هولناکو پېښو په ترځ کې له منځه تللې وي او الله تعالی به نوی آسمان او نوې زمکه پیدا کړي، د دې زمکې د روښانه کولو لپاره به الله تعالی نوی انتظام وکړي.
- محاکمه به پیل شي، د هر چا عمل پاڼه به پرانیستی شي، پیغمبران او شاهدان به راوستی شي او د خلکو تر منځ به د حق مطابق عادلانه پرېکړه وشي، داسې چې په هیچا به هیڅ ډول ظلم نه کېږي، هر چا ته به د هغو عملونو بشپړه بدله ورکړی شي چې کړي ئې دي.
- په داسې حال کې چې الله تعالی په هغه څه ښه پوه دئ چې خلك ئې کوي، خو سره له دې به د قیامت په ورځ له خلکو سره محاسبه کوي، یوازې د خپل علم له مخې د دوی په اړه پرېکړه نه کوي، د هر یوه عمل پاڼه به د هغه مخې ته ږدي، پیغمبران او شاهدان به د دوی په وړاندې د شهادت لپاره راولي، پیغمبران به دا گواهي ورکوي چې د الله پیغام ئې دوی ته رسولی، شاهدان به د دوی پر کړنو شهادت ورکوي، د دوی لاسونه، پښې او پوستکې به د دوی په خلاف شهادت ورکوي.
- له محاکمې وروسته به هغه وگړي د دوزخ په لوري ډلې ډلې وخوځول شي چې کفر ئې کړی، تر هغه به وړاندې خوځول کېږي چې دوزخ ته ورسېږي او دروازې ئې ورته پرانیستل شي، د دوزخ ځارونکي به ورته ووایي: آیا تاسو ته ستاسو له ډلې داسې پیغمبران نه وو درغلي چې ستاسو د رب آیتونه ئې درته لوستل او د خپلې دغې ورځې له مخامخېدو ئې وېرولئ، دوی به ځواب ورکړي: ولې نه؛ راغلي ول او له دې ورځې ئې وېرولي وو، خو د کافرانو په اړه د عذاب وینا تر سره شوه، موږ د انکار او کفر لار غوره کړه او د الله تعالی له پرېکړې سره له دې برخلیك سره مخامخ شوو.
- دوی ته به وویل شي: د دوزخ پر دروازو ننوځئ، په هغه کې به تلپاتي وئ.
- وگوره چې د دغو کبرجنو مېشت ځای څومره بد دئ!!

وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ طِبۡتُمۡ فَٱدۡخُلُوهَا خَٰلِدِينَ ﴿٧٣﴾ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي صَدَقَنَا وَعۡدَهُۥ وَأَوۡرَثَنَا ٱلۡأَرۡضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلۡجَنَّةِ حَيۡثُ نَشَآءُۖ فَنِعۡمَ

أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٧٤﴾

او هغه وګړي به د جنت په لوري ډله ډله وخوځول شي چې له خپل رب وېرېدلي، تر هغه چې ورشي او دروازې ئې ورته پرانيستل شي او ځارونکي ئې ورته ووايي: سلام پر تاسو، ښېراز دي وئ، نو د تلپاتو په شان ورننوځئ؛ او وبه وايي: ستايني ټولي هغه الله ته دي چې خپله وعده ئې راسره رښتينې کړه او دا زمکه ئې په داسي حال کې موږ ته په ميراث راکړه چې د جنت په هر ځای کې غواړو اوسو، نو د دغو عمل کوونکو اجر څومره غوره دئ!!

(۷۳-۷٤)- دلته د قيامت په ورځ او له الهي محاسبې وروسته د متقيانو حالت داسي انځور شوی:

- هغه وګړي به د جنت په لوري ډله ډله وخوځول شي چې له خپل رب وېرېدلي، تر هغه به وړاندي درومي چې جنت ته ورسېږي، دروازې به ئې ورته پرانيستل شي او د جنت ځارونکي به ورته ووايي: سلام پر تاسو، ښېراز دي وئ، د تلپاتو په شان جنت ته ننوځئ.
- جنتيان به ووايي: ستايني ټولي هغه الله ته دي چې خپله وعده ئې راسره رښتينې کړه او دا زمکه ئې په داسي حال کې موږ ته په ميراث راکړه چې د جنت په هر ځای کې غواړو اوسو. دې مقام ته د الله تعالی د پېرزويني له کبله رسېدلي يو، نه د خپل عمل له کبله، خپل رب ستايو او د ده د لطف او احسان مرهون يو چې جنت ئې راپه برخه کړ، زمکه ئې راته جنت کړ او د دې جنت په هر ځای کې چې زموږ زړه ئې غواړي اوسو!!
- وګوره چې د دغو عمل کوونکو اجر څومره غوره دئ!!

وَتَرَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنۡ حَوۡلِ ٱلۡعَرۡشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡۚ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّۚ وَقِيلَ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٥﴾

او فرشتې به ګورې چې د عرش چاپېر راڅرخي په داسي حال کې چې د خپل رب له ستايني سره تسبيح وايي؛ او د دوی تر منځ به په حق سره پرېکړه وشي او وبه ويل شي: ستايني د عالمونو رب الله ته دي.

(۷۵)- په داسي حال کې چې فرشتې به ګورې چې د عرش چاپېر راڅرخي او د خپل رب حمد او ثنا وايي، په همدې حالت کې به د خلکو تر منځ په حق سره عادلانه پرېکړه وشي، هر څوك به د خپلو کړنو عادلانه سزا او بدله تر لاسه کړي، هر لوري ته به هرڅه د حال او قال په ژبه وايي: ستايني د عالمونو رب الله ته دي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# المؤمن

## د سورې پېژندنه:

دا مبارکه سوره په دوو معروفو نومونو یاده شوې: (المؤمن) چې د دې سورې د ٢٨ آیت له دې فقرې (وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَـٰنَهُۥٓ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّيَ ٱللَّهُ وَقَدْ جَآءَكُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ مِن رَّبِّكُمْ ) اخیستل شوی؛ او غافر چې د سورې له لومړي آیت اخیستل شوی، ٨٥ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د دوهم آیت (علیم)، د څلورم آیت (بلاد)؛ او د لسم آیت (تکفرون)، ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې تر متوسط زیات او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکي دور په وروستیو کې نازل شوي. یو روایت وایي چې دا سوره په الزمر پسې متصل نازله شوې. د سورې له متن معلومېږي چې د مکي دور په داسي پړاو کې نازله شوې چې د قریشو ځینو مشرانو د رسول الله صلی الله علیه و سلم د وژلو فکرونه کول، د سورې ٢٦ آیت چې وایي: فرعون خپلو درباریانو ته وویل: ما پرېږدئ چې موسی ووژنم ... همدې مطلب ته اشاره کوي.

د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: د لارښود الهي کتاب لېږنه د الله تعالی له لوري ده، د الهي کتابونو په وړاندي خلك په دوو ډلو وېشل کېږي، ځیني ایمان راوړي او ځیني انکار کوي، هره ډله به له خپل خپل ټاکلي برخلیك سره مخامخ کېږي.

د سورې په سر کې ویل شوي:

- د قرآن رالېږنه د پوه عزتمن الله له لوري ده، یعني دا کتاب د داسي ذات له لوري تاسو ته لېږل شوی چې پوهېږي ستاسو خیر په څه کې دئ، د دنیا عزت او د آخرت سعادت څنګه تر لاسه کولی شئ، د دې کتاب په لارښوونو کې به د الله تعالی د پراخ علم مظاهر په خپلو سترګو وګورئ، هغه ذات چې عزیز دئ او د پرېکړو په وړاندي ئې هیڅ څوك نشي خنډ کېدی، هغه الله چې د ګناه بخښونکی، د توبې قبلوونکی، کلك تعذیبوونکی او د فضل خاوند دئ، هغه چې له ده پرته بل معبود نشته او بېرته ستنېدا د ده لوري ته ده.
- د الله تعالی د آیتونو په اړه یوازي هغه وګړي مجادله کوي چې د کفر او له حقائقو د انکار لار ئې غوره کړې.
- پام کوه چې په ښارونو کې د دغو کافرانو لر او بر خوځېدا او یوې خوا بلي خوا ته تګ راتګ تا دوکه نه کړي، داسي نه چې په ښارونو کې د دوی ګڼه ګوڼه او پر بازارونو د دوی واکمني تا اندېښمن او د دوی د پایلي په اړه تا شکمن کړي.
- تر دوی وړاندي د نوح قوم او تر دوی وروسته ډېرو نورو ډلو د الله تعالی آیتونه

دروغ ګڼلي او هري ډلې هوډ کړی چې خپل پيغمبر ونيسي او د باطل په مټ ئې په دې موخه مجادله کړې چې حق پرې محو کړي، چې له کبله ئې الله تعالی ونيول، نو وګوره چې د الله تعالی تعذيب څنګه وو او دا مکذبين له کوم برخليك سره مخامخ شوي!!

- الله تعالی به د زمانې په هر پړاو له هر کافر ټولګي سره هغه څه کوي چې د دوی له سلف سره ئې کړي.
- د دوی په مقابل کې مؤمنان داسي دي چې د دوی په اړه هغه فرشتې دعاء کوي چې الله تعالی ته ډېري نژدې او مقربې دي، عرش پر اوږو وړي او د عرش شاوخوا کې د خپل رب په ستاينې او تسبيح لګيا دي، هغه چې د مؤمنانو په څېر دي او پر الله تعالی ايمان لري، دوی هغو ته بخښنه غواړي چې ايمان ئې راوړی، په خپلو دعاءګانو کې وايي: اې زموږ ربه! ستا رحمت او علم پراخ دئ، هر څه ئې احتوی کړي، د خپل رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پيمانه رسېدلی يې، يعني ستا رحمت پر هر څه وزر غوړولی او هيڅ څه ستا د پراخ علم له دائرې بهر نه دئ پاته. هغو ته بخښنه وکړه چې توبه ئې کړې او ستا د لارې متابعت ئې کړی او د دوزخ له عذاب ئې وساته، ته د خپل رحمت له مخې د هغوی توبه قبوله کړه، ته ښه پوهېږې چې څوك په رښتينې توګه توبه کوي او څوك ستا د لارې متابعت کوي، اې زموږ ربه! هغه تلپاتې جنت ته ئې ننباسه چې تا ئې ژمنه ورسره کړې او د دوی له پلرونو، د دوی له مېرمنو او د دوی له اولاد هغه هم چې صالح وي، يقيناً چې ته باحکمت عزتمن يې، د مؤمنانو په اړه د فرشتو وروستۍ دعاء دا ده: اې زموږ ربه! له بديو ئې وساته، څوك چې ته په دې ورځ له بديو وساتې نو پېرزوينه دې پرې کړې؛ او دا همغه ستره بريا ده.

ټوله سوره د دغه مطلب پر محور څرخي، شرح او تفصيل ئې زموږ په وړاندې پردې او د تاريخي او عملي مثالونو په ترځ کې ئې موږ ته مزيد توضيح کوي.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ۝٢ غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِي ٱلطَّوۡلِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ۝٣

حاء ميم، د دې کتاب رالېږنه د پوه عزتمن الله له لوري ده، د ګناه بخښونکی او د توبې قبلوونکی، کلك تعذيبوونکی، د فضل خاوند، له ده پرته بل معبود نشته، بېرته ستنېدا د ده لوري ته ده.

---

(۱-۳)- د دې مبارکو آيتونو په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- لکه چې ګورئ دا سوره د (حاء) او (میم) په دوو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسي دئ لکه په همداسي دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، لکه د (طٰه) سوره، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: د لارښود الهي کتاب لېږنه د الله تعالی له لوري ده، د الهي کتابونو په وړاندي خلك په دوو ډلو وېشل کېږي، ځيني ایمان راوړي او ځيني انکار کوي، هره ډله به له خپل خپل ټاکلي برخلیك سره مخامخ کېږي.
- د قرآن رالېږنه د پوه عزتمن الله له لوري ده، یعني دا کتاب د داسي ذات له لوري تاسو ته لېږل شوی چې پوهېږي ستاسو خیر په څه کې دئ، د دنیا عزت او د آخرت سعادت څنګه تر لاسه کولی شئ، د دې کتاب په لارښوونو کې به د الله تعالی د پراخ علم مظاهر په خپلو سترګو وګورئ، هغه ذات چې عزیز دئ او د پرېکړو په وړاندي ئې هيڅ ځواك نشي خنډ کېدی، هغه الله چې د ګناه بخښونکی، د توبې قبلوونکی، کلك تعذیبوونکی او د فضل خاوند دئ، هغه چې له ده پرته بل معبود نشته او بېرته ستنېدا د ده لوري ته ده.

مَا يُجَـٰدِلُ فِيٓ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي ٱلْبِلَـٰدِ ﴿٤﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَٱلْأَحْزَابُ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۖ وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍۭ بِرَسُولِهِمْ لِيَأْخُذُوهُ ۖ وَجَـٰدَلُواْ بِٱلْبَـٰطِلِ لِيُدْحِضُواْ بِهِ ٱلْحَقَّ فَأَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٥﴾ وَكَذَٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمْ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ﴿٦﴾

د الله د آیتونو په اړه یوازي هغه وګړي مجادله کوي چې کفر ئې کړی، نو په ښارونو کې د دوی اوښتل رااوښتل دي تا دوکه نه کړي، تر دوی وړاندي د نوح قوم او تر دوی وروسته ډلو دروغ ګڼلي؛ او هري ډلي هوډ کړی چې خپل پیغمبر ونیسي او د باطل په مټ ئې په دې موخه مجادله کړې چې حق پرې محو کړي، چې له کبله ئې موږ ونیول، نو (وګوره چې) زما تعذیب څنګه وو؛ او همداسي ستا د رب وینا د هغو په اړه محققه شوې چې کفر ئې کړی (په دې توګه) چې دوی حتماً د اور خاوندان دي.

(٤-٦)- دا مبارك آیتونه وايي:

- د الله تعالی د آیتونو په اړه یوازي هغه وګړي مجادله کوي چې د کفر او له حقائقو د انکار لار ئې غوره کړې.

- پام کوه چي په ښارونو کي د دغو کافرانو لر او بر خوځېدا او يوې خوا بلي خوا ته تگ راتگ تا دوکه نه کړي، داسي نه چي په ښارونو کي د دوی گڼه گوڼه او پر بازارونو د دوی واکمني تا اندېښمن او د دوی د پايلي په اړه شکمن کړي.
- تر دوی وړاندي د نوح قوم او تر دوی وروسته ډېرو نورو ډلو د الله تعالی آيتونه دروغ گڼلي او هري ډلي هوډ کړی چي خپل پيغمبر ونيسي او د باطل په مټ ئې په دې موخه مجادله کړې چي حق پرې محو کړي، چي له کبله ئې الله تعالی ونيول، نو وگوره چي د الله تعالی تعذيب څنگه وو او دا مکذبين له کوم برخليك سره مخامخ شوي!!
- له دغو کافرانو سره به هم هغه څه کېږي چي د دوی له سلف سره شوي، ستا د رب وينا د هغو په اړه محققه شوې چي کفر ئې کړی، الهي عذاب به ئې د اور په بڼې کي حتماً په برخه شي.

---

ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ
وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْۖ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ
تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ۞٧ رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ
ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ۞٨ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ
هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ۞٩

هغه چي عرش پر اوږو وړي او هغه چي شاوخوا ئې دي د خپل رب له ستايني سره تسبيح وايي، پر ده ايمان لري او هغو ته بخښنه غواړي چي ايمان ئې راوړی؛ (وايي) اې زموږ ربه! د رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پيمانه رسېدلی يې، نو هغو ته بخښنه وکړه چي توبه ئې کړې او ستا د لاري متابعت ئې کړی او د دوزخ له عذاب ئې وساته، اې زموږ ربه! هغه تلپاتي جنت ته ئې ننباسه چي تا ئې ژمنه ورسره کړې او د دوی له پلرونو، د دوی له مېرمنو او د دوی له اولاد هغه هم چي صالح وي، يقيناً چي ته باحکمت عزتمن يې، له بديو ئې وساته، څوك چي ته په دې ورځ له بديو وساتې نو پېرزوينه دي پرې کړې؛ او دا همغه ستره بريا ده.

---

(۷-۹)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

مؤمنانو ته هغه فرشتې دعاء کوي چي الله تعالی ته ډېري نژدې او مقربي دي، عرش پر

اوړو وړي او د عرش شاوخوا کې د خپل رب په ستاينې او تسبيح لګيا دي، هغه چې د مؤمنانو په څېر دي او پر الله تعالى ايمان لري، دوى هغو ته بخښنه غواړي چې ايمان ئې راوړى، په خپلو دعاګانو کې وايي: اې زموږ ربه! ستا رحمت او علم پراخ دئ، هر څه ئې احتوى کړي، د خپل رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پيمانه رسېدلى يې، يعني ستا رحمت پر هر څه وزر غوړولى او هيڅ څه ستا د پراخ علم له دائرې بهر نه دئ پاته. هغو ته بخښنه وکړه چې توبه ئې کړې او ستا د لارې متابعت ئې کړى او د دوزخ له عذاب ئې وساته، ته د خپل رحمت له مخې د هغوى توبه قبوله کړه، ته ښه پوهېږې چې څوك په رښتينې توګه توبه کوي او څوك ستا د لارې متابعت کوي، اې زموږ ربه! هغه تلپاتې جنت ته ئې ننباسه چې تا ئې ژمنه ورسره کړې او د دوى له پلرونو، د دوى له مېرمنو او د دوى له اولاد هغه هم چې صالح وي، يقيناً چې ته باحکمت عزتمن يې، د مؤمنانو په اړه د فرشتو وروستۍ دعاء دا ده: اې زموږ ربه! له بديو ئې وساته، څوك چې ته په دې ورځ له بديو وساتې نو پېرزوينه دې پرې کړې؛ او دا همغه ستره بريا ده، د دې دعاء په تعبير کې د مفسرينو تر منځ د اختلاف شاهد يو، ځيني (يومئذ) د قيامت ورځ ګڼي او ځيني ئې د دنيا ننۍ ورځ، ځيني (السيئات) د ګناهونو سزا بولي او ځيني ئې په اصلي معنى نيسي او د بديو او ګناهونو په معنى ئې تعبيروي، غوره او دقيق تعبير د دوهمې ډلې تعبير دئ، په څو دلائلو: ١- د دوزخ له اور د مؤمنانو د ژغورنې دعاء تر دې وړاندې تېره شوې (وقهم عذاب الجحيم) تکرار ته ئې ضرورت نشته، ٢- د (السيئات) اصلي معنى ګناه او بدي ده نه سزا ئې، صحيح نه ده چې اصلي معنى ئې له کومې اړتيا پرته پرېږدو او د سزا په معنى ئې ونيسو. ٣- د فرشتو دا دعاء د قيامت د ورځې دعاء نه ده چې يومئذ د قيامت ورځ وګڼو، نن او دغه مهال چې مؤمنان په دنيا کې ژوند کوي فرشتې هغوى ته دعاء کوي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ مِن مَّقْتِكُمْ أَنفُسَكُمْ إِذْ تُدْعَوْنَ إِلَى ٱلْإِيمَٰنِ فَتَكْفُرُونَ ﴿١٠﴾ قَالُواْ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا ٱثْنَتَيْنِ فَٱعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ﴿١١﴾ ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِىَ ٱللَّهُ وَحْدَهُۥ كَفَرْتُمْ وَإِن يُشْرَكْ بِهِۦ تُؤْمِنُواْ فَٱلْحُكْمُ لِلَّهِ ٱلْعَلِىِّ ٱلْكَبِيرِ ﴿١٢﴾

يقيناً چې هغو ته به ورغږ شي چې کفر ئې کړى: ستاسو تر هغه قهر چې د ځان په اړه ئې لرئ د الله د هغه مهال قهر ډېر ستر وو چې ايمان ته بلل کېدئ او تاسو کفر کولو، وايي به: اې زموږ ربه! دوه ځلي دې مړه کړو او دوه ځلي دې ژوندي کړو نو پر خپلو ګناهونو مو اعتراف وکړ، نو آيا د وتلو لورې ته کومه لار شته، دا مو د دې

لپاره ده چې کله به الله په يوازې توګه وبلل شو نو تاسو به انکار کولو او که به د هغه په اړه شرك کېدو نو تاسو به باور کولو، نو پرېکړه د ستر لوړ الله په واك کې ده.

(۱۰-۱۲)- دا مبارك آيتونه وايي: د قيامت په ورځ او هغه مهال چې کافران او د حق منکرين دوزخ ته ننوځي او په خپلو سترګو وګوري چې غلطو تګلارو او ناسمو باورونو ئې له دې برخليك سره مخامخ کړل نو پر خپل ځان او خپل عقل او يو پر بل به سخت غصه وي، ځيني به ئې خپل عقل ملامتوي چې ولې ئې په غلطو لارو تګ ورته ښايسته کړى وو او ځيني به ئې پر هغو مذهبي او سياسي مشرانو غصه وي او مضاعف عذاب به ورته غواړي چې دوى ئې دوکه کړل، دغه مهال به هغوى ته غږ شي: ستاسو تر هغه قهر چې د ځان او خپلو ټګمارو مشرانو په اړه ئې لرئ د الله د هغه مهال قهر ډېر ستر وو چې ايمان ته بلل کېدئ او تاسو کفر کولو، د (مِن مَّقۡتِكُمۡ أَنفُسَكُمۡ) دوه تعبيرونه کېدى شي: هغه قهر چې د خپل ځان په اړه ئې لرئ او هغه قهر چې يو ئې د بل په اړه لرئ، دوهم تعبير غوره دئ، د دې تعبير لپاره په قرآن کې ګڼ شمېر شواهد لرو، په ډېرو آيتونو کې راغلي چې د قيامت په ورځ به کافران يو پر بل سخت غصه وي او تابعان به متبوعين د خپلو تېروتنو باعث ګڼي، هغوى ته به دوه برابره عذاب غواړي او دا هيله به کوي چې تر خپلو پښو ئې لاندې کړي.

دغه مهال به وايي: اې زموږ ربه! دوه ځلې دې مړه کړو او دوه ځلې دې ژوندي کړو، پر خپلو ګناهونو اعتراف کوو، آيا د وتلو لورې ته کومه لار شته؟! آيا کېدى شي بېرته دنيا ته ستانه شو او خپله ماضي جبران کړ؟ دوه ځلې مړينه او دوه ځلې ژوند يعني دا چې مړه توکې وو تا ژوند راکړ، بيا ستا په حکم مړه شوو او د قيامت په ورځ دې بېرته راژوندي کړو، موږ په دنيا کې له دې دوهم ژوندون انکار کولو او هغه مو محال ګڼلو، اوس مو په خپلو سترګو وليد، پر خپلې مخکينۍ غلطې اعتراف کوو، پر دوهم ژوند عدم باور د ګناهونو د ارتکاب جسارت راکړى وو، پر خپلو ګناهونو معترف يو، آيا له دوزخ د وتلو کومه لار شته؟ هر څه کولو ته تيار يو او د هرې خبرې منلو ته چمتو، په ځواب کې به ورته وويل شي: له دې برخليك سره ځکه مخامخ شوئ چې تاسو په دنيا کې د يوې سترې او ځرګندې خبرې منلو ته چمتو نه وئ، کله چې به الله تعالى په يوازې توګه وبلل شو نو تاسو به انکار کولو او که به د هغه په اړه شرك کېدو نو تاسو به باور کولو، دا خبره مو نه منله چې الله تعالى يوازينى معبود دئ او له ده پرته بل معبود نشته او پر دې غلطې خبرې مو باور کولو چې الله تعالى شريکان او ځاى ناستي لري!! دغه شرك له دې تور او سپېره برخليك سره مخامخ کړئ، اوس په خپلو سترګو ګورئ چې پرېکړې په بشپړه توګه د (ستر) او (لوړ) الله په واك کې دي، هغه الله تعالى چې ستاسو شرك د هغه د (عظمت) او (لوړوالي) منافي دئ.

هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزْقًاۚ وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَن
يُنِيبُ ﴿١٣﴾ فَٱدْعُواْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾ رَفِيعُ
ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلْعَرْشِ يُلْقِى ٱلرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ
لِيُنذِرَ يَوْمَ ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾ يَوْمَ هُم بَٰرِزُونَۖ لَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنْهُمْ شَىْءٌۚ لِّمَنِ
ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَۖ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴿١٦﴾ ٱلْيَوْمَ تُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْۚ لَا
ظُلْمَ ٱلْيَوْمَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿١٧﴾

دی همغه ذات دئ چي تاسو ته خپل آيتونه درښيي او له آسمانه رزق درته رالېږي؛ او پند نه اخلي مگر هغه چي انابت کوي، نو الله په داسي حال کي دروبلئ چي (خپل) دين ورته سوچه کوونکي وئ، که څه هم کافران کرکه کوي، د لوړو درجو خاوند، د عرش څښتن، له خپلو بندگانو چي چا ته غواړي پر هغه د خپل حکم له مخي وحي لېږي چي د مخامخېدو له ورځي (خلك) انذار کړي، هغه ورځ چي دوی به راڅرگندېدونکي وي، د دوی هيڅ څه به له الله پټ نه پاته کېږي، دغه ورځ به ټولواکي د چا وي؟ د يوازيني برلاسي الله، په دې ورځ به هر چا ته د هغه څه له مخي بدله او سزا ورکړی شي چي تر لاسه کړي ئې دي، په دې ورځ به هيڅ ظلم نه وي، يقيناً چي الله په محاسبې کي سريع دئ.

(١٣-١٧)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی هغه ذات دئ چي تاسو ته خپل آيتونه درښيي، هره شېبه، په هر گام کي او هر لوري ته د هغه د قدرت او ربوبيت مظاهر او نښي په خپلو سترگو گورئ، همغه چي تاسو ته له آسمانه رزق درکوي، ستاسو د رزق او روزي ټول توکي په دوو شيانو پوري تړلي دي: اوبه او د لمر رڼا او تودوخه، که دا دواړه نه وي نو په زمکي کي به نه بوټي وو، نه ونې، نه مېوې او نه دانې، اوبه له آسمانه درباندي ورېږي او رڼا او تودوخه لمر درکوي، تاسو ښه پوهېږئ چي په دې دواړو له الله تعالی پرته هيڅوك هيڅ ډول سلطه او سيطره نه لري، هيڅ عاقل انسان له دې ځرگند حقيقت انکار نه شي کولی، خو ستونزه دا ده چي له حقائقو پند اخيستل داسي ځانگړتياوو ته ضرورت لري چي ډېر انسانان ترې محروم دي، يوازي هغه څوك پند اخلي چي په هغه کي د الله تعالی په وړاندي د انابت استعداد وي.
- د الله تعالی صادقانه لمانځنه دا تقاضا لري چي خپل ديانت له هر ډول شرکي انگېرنو او

کړنو سوچه کړو، که څه هم کافران له دې کرکه کوي، په دې اړه د هیچا پروا ونه کړو او د هیچا له مخالفت وېره او اندېښنه ونه لرو.

- د الله تعالی مقام تر هر چا لوړ دئ، هیڅوك په هیڅ څه کې مه ورسره برابروه، هغه د لوړو درجو خاوند دئ، دا عالم د ده ملك دئ او دی ئې یوازینی ټولواك دئ، دا عالم د هغه عرش لاندې دئ چې څښتن ئې الله تعالی دئ، دا پرېکړه یوازې د ده له لوري کېږي چې د دې عالم څه او په کوم مقدار کې چا ته ورکړي او له چا ئې وسپموي.
- دا پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي چې د خپلو بندگانو له منځه چا ته وحي ولېږي او د خلکو د لارښوونې او د کفر او شرك له بدو پایلو د دوی د انذار دنده وروسپاري. له هغې ورځې ئې ووېروي چې له خپل رب سره به مخامخ کېږي، هغه ورځ چې دوی به د الله تعالی په وړاندې داسې ولاړ وي چې هیڅ به ئې ترې پټ نه وي، دا پوښتنه به ترې کېږي چې نن ټولواکي د چا ده؟ د هر چا یوازینی ځواب به دا وي: ټولواکي په بشپړه توگه د یوازیني برلاسي او قهار الله په واك کې ده، په دې ورځ به هر چا ته د هغه څه له مخې بدله او سزا ورکول کېږي چې په دنیا کې ئې تر لاسه کړي وي، په دې ورځ به هیڅ ظلم نه وي، پر هیچا به له هیڅ پلوه ظلم نه کېږي، هر چا ته به د خپلو کړنو عادلانه سزا او بدله ورکول کېږي، له ټولو سره عادلانه او دقیقه محاسبه به زیات وخت هم نه نیسي، محاسبه به سریع وي او ژر به پای ته ورسېږي، دا ځکه چې الله تعالی سریع الحساب دئ.

---

وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ ٱلْـَٔازِفَةِ إِذِ ٱلْقُلُوبُ لَدَى ٱلْحَنَاجِرِ كَـٰظِمِينَ ۚ مَا لِلظَّـٰلِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴿١٨﴾ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ ٱلْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِى ٱلصُّدُورُ ﴿١٩﴾ وَٱللَّهُ يَقْضِى بِٱلْحَقِّ ۖ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقْضُونَ بِشَىْءٍ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿٢٠﴾

او له نژدې راتلونکې ورځې ئې ووېروه؛ له هغه مهال چې زړونه به په داسې حال کې د ستونو خوا ته وي چې د غمونو زغمونکي به وي، ظالمانو ته به نه کوم دوست وي او نه داسې شفاعت کوونکی چې خبره ئې منل کېږي، د سترگو په خیانت پوهېږي او په هغه څه هم چې سینې ئې پټوي؛ او الله په حقه سره فیصله کوي او هغه چې له الله پرته ئې (مرستې ته) بلي په هیڅ شي قضاوت او فیصله نه کوي، یقیناً چې الله اورېدونکی لیدونکی ذات دئ.

---

(۱۸-۲۰)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کوي چې خپل مخاطبین له نژدې

راتلونکې ورځې ووېروي؛ له هغې ورځې چې له هيبته به ئې زړونه د ستونو خوا ته رسېدلي وي؛ په داسي حال کې چې غمونه به زغمي، نه به په خپله څه کولی شي او نه به داسي څوك مومي چې مرسته ترې وغواړي، دغو ظالمانو ته به نه کوم دوست وي او نه داسي شفاعت کوونکی چې خبره ئې منل کېږي.

- دوی به له هغه الله تعالی سره مخامخ وي چې هم د سترګو په خيانت پوهېږي او هم په هغه څه چې سينې ئې پټوي، څوك چې د سترګو په اشارو سره کوم خيانت وکړي له ده پټ نه پاته کېږي، څوك چې په خپل زړه کې څه پټ وساتي پرې پوهېږي.
- هغه الله چې پرېکړه ئې رښتينې او د حقيقت مطابق وي، قضاوت او فيصله ئې په حق مبتني وي، هغه ته ټول حقائق څرګند دي، د خلکو تر منځ چې څه تېرېږي هغه اوري اوويني، خو له الله تعالی پرته چې خلك کوم څه يا کوم څوك مرستي ته وربلي او په الوهيت او ربوبيت کې ئې له الله تعالی سره شريکوي؛ نه د پرېکړو او فيصلو صادرولو واك او اختيار دوی ته سپارل شوی او نه په حق او واقعيت مبتني قضاوت کولی شي. د پرېکړو او فيصلو صادرولو اختيارات او واك په بشپړه توګه له الله تعالی سره دي او په دې کې هيڅوك له الله جل شأنه سره شريك نه دئ.

أَوَلَمْ يَسِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ مِن قَبْلِهِمْۚ
كَانُواْ هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِي ٱلْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ
لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٢١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ
فَكَفَرُواْ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ قَوِيٌّ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٢﴾

آيا په زمکې کې نه دي ګرځېدلي چې ليدلي ئې وی د هغو پايله څنګه وه چې تر دوی وړاندي ول، تر دوی د ځواك او په زمکې کې د آثارو له پلوه ډېر مضبوط ول؛ نو الله په داسي حال کې د خپلو ګناهونو له کبله ونيول چې له الله هيڅ ساتونکی ورته نه وو، دا له دې کبله چې خپلو پيغمبرانو ئې څرګندې نښې وروړلې خو دوی کفر کولو؛ نو الله ونيول، يقيناً چې هغه سخت تعذيبوونکی ځواکمن دئ.

(٢١-٢٢)- قرآن په دې مبارکو آيتونو کې د خپلو مخاطبينو پام د هغو ځواکمنو او متمدنو قومونو بدو پايلو ته اړوي چې د کفر لار ئې غوره کړې وه، وايي: آيا دوی په زمکې کې نه دي ګرځېدلي، د تاريخ پاڼې ئې نه دي اړولې، دې ته ئې پام نه دئ کړی چې د هغو پايله څنګه وه چې تر دوی وړاندي ول، تر دوی د ځواك او په زمکې کې د آثارو له پلوه ډېر مضبوط ول؛ خو د خپلو ګناهونو له کبله الله تعالی ونيول؛ په داسي حال کې چې د الله

تعالی په وړاندي ئې هيڅ مدافع او ساتونکی نه درلود، له دې بد برخليك سره له دې کبله مخامخ شول چي هر يوه ته خپل خپل پيغمبر له څرګندو نښو سره ورتلل خو دوی کفر کولو نو الله تعالی مؤاخذه کړل او په الهي عذاب اخته شول، دغه تاريخي پېښي ښيي چي يقيناً الله تعالی هم ځواکمن دئ او هم سخت تعذيبوونکی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَقَٰرُونَ فَقَالُوا۟ سَٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْحَقِّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا۟ ٱقْتُلُوٓا۟ أَبْنَآءَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ وَٱسْتَحْيُوا۟ نِسَآءَهُمْ ۚ وَمَا كَيْدُ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ ﴿٢٥﴾

او يقيناً چي موږ موسی له خپلو آيتونو او څرګندو دلائلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو؛ او هغوی وويل: دروغجن کوډګر دئ. نو کله چي ئې زموږ له لوري حق دين ورووړ وئې ويل: د هغو زامن ووژنئ چي له ده سره ئې ايمان راوړی او ښځي ئې ژوندۍ پرېږدئ؛ او د کافرانو تدبير له تېروتني پرته په بل څه کې نه وو.

(۲۳-۲۵)- په دې مبارکو آيتونو کې د مخکيني مطلب يوه څرګنده تاريخي بېلګه وړاندي شوې، په دې تاريخي بېلګې کې يوه لوري ته تش لاسی موسی عليه السلام دئ او بل لوري ته د مصر د دريو ځواکونو مشران (فرعون، هامان او قارون)، د زور، تزوير او زر خاوندان، موسی عليه السلام داسي حق دين ورووړی چي په تأييد کې ئې آيتونه او څرګند دلائل وړاندي کړي، خو د مصر دغو واکمنانو لومړی د ده په ضد د دروغجنو تبليغاتو لړۍ پيل کړې، هغه ئې د دروغجن او کوډګر په نامه ياد کړی، خو تبليغاتو ئې هغه نتيجه نه ده ورکړې چي دوی ئې انتظار درلود، بيا ئې د ده د ملګرو د وژلو پرېکړه کړې، د مؤمنانو په وژلو سره هم نه دي توانېدلي خپلي موخي تر لاسه کړي او د موسی عليه السلام د دعوت مخه ډب کړي، تدبيرونو ئې نه يوازي کومه په زړه پوري نتيجه نه ده ورکړې بلکې په خپله دوی ته ئې تاوان رسولی. دا آيتونه وايي:

الله تعالی موسی عليه السلام له خپلو آيتونو او څرګندو دلائلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو، د دې لپاره ئې مصر ته ولېږو چي لومړی د فرعون، بيا د هامان او په پای کې د قارون مقابله وکړي، يعني ده ته ئې اصلي دښمنان ورښودلي، دا وضاحت ئې ورته کړی چي په مصر کې به ستا مقابله له چا چا سره وي، خو دا ئې هم ورته ويلي چي څنګه به ئې مقابله کوې، لومړی د چا او ورپسې د چا، د ټولو خو په تدريج سره، داسي چي يوه ته به پر بل اولويت ورکوې، اصلي او لومړی دښمن فرعون دئ، لومړۍ مقابله بايد له ده سره وي، داسي نه چي په نورو جبهاتو کې تر دې وړاندي مصروف شې او تر ټولو خطرناك او اصلي دښمن درنه پاته شي!! په لومړي سر کې به د فرعون مقابله کوې، بيا د هامان او

وروسته د قارون، موسی علیه السلام د همدغو درېو طبقو په ضد د مبارزې لپاره لېږل شوی وو، ځوك چې د موسی علیه السلام په لار د تلو اراده لري نو د دغو درېو خطرناکو دښمنانو مقابلې ته به ملا تړي. دې ته مو باید پام وي چې قرآن؛ پیغمبران علیهم السلام او د دوی تګلاره د موسی علیه السلام په څېره کې داسې انځوروي چې هم د ظالم فرعون، هم د ټګمار هامان او هم د شتمن قارون مقابله کوي، یو ئې د ظالمانه اقتدار بېلګه، بل ئې د ټګمارو مذهبي مشرانو بېلګه او درېیم ئې د حریصو شتمنو او بډایانو بېلګه. قرآن وایي چې د تاریخ په اوږدو کې تل دغو درېو طبقو د پیغمبرانو علیهم السلام مقابله کړې.

لکه چې ګورئ قرآن د فرعوني نظام واکمنان په درېو ډلو وېشي، د هرې ډلې د مشر یادونه کوي، د (فرعون)، (هامان) او (قارون) نومونه اخلي، دا هر یو د یوې حاکمې طبقې ممثل دئ، دغه درې طبقې او په سر کې ئې دا درې مشران یوه بل ته لاس ورکوي او پر یوه ملت او هېواد حکومت کوي. په هرجاهلي نظام کې به وګورئ چې دغه درې طبقې په ګډه طبقاتي نظام چلوي، هر نظام درې اړخه لري، اعتقادي (فکري)، سیاسي او اقتصادي اړخونه. فرعون د مصر د هغه وخت د حاکم سیاسي نظام اړخ تمثیلوي، هامان ئې د ایدیالوژیکي او فکري اړخ استازی او د دغه نظام مفکر او تیوریسن دئ، د ده طبقه ده چې فرعون ته مشورې ورکوي، مسلط فرعوني نظام توجیه کوي، د فرعون له تصرفاتو او اقداماتو دفاع کوي او د ولس د اقناع لپاره فتواګانې ورکوي او قارون د پانګې او شتمنۍ څښتن او د شتمنې طبقې ممثل دئ. هدف له فرعون، هامان او قارون یوازې درې کسان نه بلکې د فرعوني نظام درې واکمنې طبقې معرفي کول دي. په دې نظام کې فرعون محور دئ او هامان او قارون ئې ښۍ او کیڼ لاسونه.

دلته ویل شوي چې د مصر واکمنانو د موسی علیه السلام په اړه وویل: دروغجن کوډګر دئ!! باید وګورو چې له دې اتهاماتو د دوی مقصد څه وو، ولې ئې هغه د کوډګر په نامه یاد کړی؟ آیا مراد ئې دا وو چې د ده معجزې ئې له کوډو او جادو سره ورته ګڼلې دي او که پر خلکو د ده د دعوت اغېز ئې داسې تعبیر کړی لکه د کوډګرو د کوډو اغېز پر خلکو؟! دې ته په پام سره چې نور پیغمبران علیهم السلام او حتی هغه چې دې ته ورته معجزې ئې نه درلودې همداسې د مخالفینو له لوري د کوډګرو په نامه یاد شوي؛ په یقین سره ویلی شو چې له دې تورونو د دوی مقصد یوازې دا نه وو چې د پیغمبرانو علیهم السلام معجزې ئې له کوډو سره ورته ګڼلې دي بلکې مقصد ئې یا دا وو چې خلکو ته ووایي: دا پیغمبران د هغو په څېر دي چې په خپلې ټولنې کې ئې هر لوري ته ګورو، هغه چې د خلکو د غولولو لپاره ئې دلته او هلته د کوډو، دم او تعویذ دکانونه پرانیستي، چا ته وایي: په یوه تعویذ د بخت دروازې درته پرانیزم، د زړه مرادونه دې پوره کوم، دښمنان درته ځملوم، د لارې خنډونه او بندونه ختموم... خو د سمې شکرانې په بدل کې!!!، چا ته وایي: جادو درباندې شوی، نښې ئې ستا په زېړ رنګ کې له ورایه برېښي،

ماتول ئې گران کار دئ، زه به ئې د اولیاوو او پېریانو په مرسته د ماتولو هڅه وکړم که ئې د شکرانې ورکولو توان لرې!! او یا ئې پر خلکو د دوی د اغېزمن دعوت ژور اغېز داسي تعبیر کړی لکه د کوډگرو د کوډو اغېز پر خلکو؟! دا چې د ټولني بې وزلې، له نظرونو لوېدلې، فقر او مسکنت ځپلې خلك، هغه چې پر ټولني د مسلطو ځواکونو؛ مترفینو او مستکبرینو په وړاندې به ئې د څه ویلو جرأت نه شو کولی، په لوړو سترگو به ئې نه شو کتلی؛ او په جگ ږغ به ئې له هغوی سره خبرې نه شوی کولی، د دوی په وړاندې به ئې سر ټیټ او غاړه کږه وه خو نن او پر پیغمبر له ایمان راوړلو وروسته بدل شوې، نه یوازې ځان تر دوی ټیټ نه بولي بلکې له دوی او د دوی له واکمنۍ او مذهب سرغړاوی کوې، خپل پروني مشران بې لارې گڼي او تگلارې ئې ناسمې، د حق پر حتمې برې او د باطل پر فورې ماتې باور لرې، دا ټول ئې داسې تعبیرول لکه چې پر دوی کوډې شوې وې!!

کله چې موسی علیه السلام دوی ته د الله تعالی له لوري حق دین ور وړ او د مصر زلمیانو پرې ایمان راوړ، نو دغو د زر، زور او تزویر خاوندانو وویل: د هغو زامن ووژنئ چې له ده سره ئې ایمان راوړی او ښځې ئې ژوندۍ پرېږدئ. باید وگورو چې د فرعونیانو د دې پرېکړې معنی څه ده، ولې ئې د مؤمنانو د زامنو د وژلو او د ښځو د ژوندۍ پرېښودو پرېکړه کړې؟ د قرآن په نورو آیتونو کې د دې وضاحت شوی چې فرعونیانو هم د موسی علیه السلام تر پیدایښت وړاندې د بني اسرائیلو د زامنو د وژلو او لوڼو د ژوندۍ پرېښودو پرېکړه کړې وه او هم د ده له بعثت وروسته، موخه ئې دا وه چې دا قوم په ضعف او کمزورۍ کې وساتې، د دوی د شمېر زیاتېدو مخه ونیسي، د دوی لوڼې د هغوی وینځې وې، په خپلو قصرونو کې د دوی خدمت ته اړ ول، د دوی زامنو پر موسی علیه السلام ایمان راوړی، د دوی د شمېر له زیاتېدو وېرېدل، نو ځکه ئې دا پرېکړه کړې وه.

د دې آیتونو په پای کې راغلي: (د کافرانو تدبیر له ضلالت پرته په بل څه کې نه وو)، د دې فقرې دوه تعبیرونه کېدی شي: ۱- د دوی د ټولو تدبیرونو موخه دا وه چې له خپلو غلطو تگلارو او کړنلارو دفاع وکړي، تدبیرونه ئې د ضلالت په حمایت کې وو، ۲- د دوی تدبیرونه شنډ او بې حاصله شول، هیڅ گټه ئې ورونه رسوله، نتیجه ئې د دوی په ضرر او تاوان وه. دوهم تعبیر دقیق دئ او د آیت له سیاق او سباق سره اړخ لگوي. د ورپسې آیت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دغو هڅو نتیجه نه ده ورکړې نو ځکه فرعون له خپلو مشاورینو غوښتي چې ده ته د موسی علیه السلام د وژلو اجازه ورکړي.

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ذَرُونِيٓ أَقۡتُلۡ مُوسَىٰ وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمۡ أَوۡ أَن يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ ۝٢٦

او فرعون وویل: ما پرېږدئ چې موسی ووژنم؛ او هغه دې خپل رب (مرستې ته)

وروبلي، زه ويرېږم چې ستاسو دين به بدل کړي او يا به په زمکې کې فساد خور کړي!

(۲٦)- دا مبارك آيت وايي: فرعون خپلو مشاورينو او ولس ته څلور خبرې وکړې: ١- ما پرېږدئ چې موسی ووژنم، ٢- موسی دې له خپل رب مرسته وغواړي، ٣- زه ويرېږم چې ستاسو دين به بدل کړي، ٤- زه وېرېږم چې په زمکې کې به فساد خور کړي!

گورئ چې هغه په پټه يوه خبره کوي او په ځرگنده بله، خپلو درباريانو ته د ټولو دروازو تر شا وايي: ما پرېږدئ چې موسی ووژنم، موسی دې خپل خدای مرستې ته وروبلي، خو کله چې له عام ولس سره مخامخ کېږي وايي: زه وېرېږم چې موسی ستاسو غوره دين بدل نه کړي او په مصر کې بې امني او فساد خور نه کړي!! دا دئ گورئ چې هغه ستر مفسد اوس دا دعوی کوی چې موسی عليه السلام فساد خوروي، هغه له الله تعالی باغي او د دين ستر دښمن اوس د دين حامي شوی، قرآن په دې سره موږ ته لارښوونه کوي چې دا د هري ديني مبارزې يوه مرحله ده، د پيغمبرانو عليهم السلام په خط روانو نهضتونو باندې هرومرو دا مرحله راځي، د مبارزې په يوه خاص پړاو کې به دښمن هم د نهضت شعارونه عنوانوي، د دين په جامه کې به د دين مقابله کوي، موږ د خپلې مبارزې په جريان کې په وار وار دا حقيقت په خپلو سترگو وليد، په وار وار همداسې وشول، د کمونيستانو په ضد د مبارزې په دوران کې هغه پړاو راغی چې له الله تعالی منکر او د دين سرسختو دښمنانو به خپلې ويناوې په بسم الله الرحمن الرحيم شروع کولې او په من الله التوفيق به ئې ختمولې، بې اودسه به په لمانځه ودرېدل، د لمانځه فيلمونه به ئې په تلويزيون کې ښودل کېدل، د شئون اسلامي وزارت ئې جوړ کړ، ويل ئې چې دولت ئې څلرويشت زره ملايانو ته معاش ورکوي، د مجاهدينو په اړه به ئې ويل چې دوی جوماتونه ورانوي او ملايان وژني!! د امريکايانو د اشغال په دوران کې مو وليدل چې په جوماتونو، مدرسو ښارونو او د خلکو د گڼه گوڼې ځايونو کې به ئې په خپله چاودني کولې او مجاهدينو ته به ئې منسوبولې، عظيم الشأن قرآن دغه مرحله د نهضت د يوې طبيعي او حتمي راتلونکې مرحلې او د يوه سنت په توگه معرفي کوي؛ او په دې سره د الله د لارې مجاهدينو ته لارښوونه کوي چې له داسې پړاو سره مخامخ کېدو ته ذهناً چمتو وي، هغه ورځ به راځي چې فرعون ووايي: إني اخاف أن يبدل دينکم: زه وېرېږم چې ستاسې دين بدل نه کړي!! ستاسو د غوره پلرني دين په اړه اندېښنه لرم، داسې نه چې موسی په خپل سحر او جادو او په خپلو جادويي ويناوو سره ستاسو پلرنی لرغونی دين او مذهب بدل کړي، هغه لوی مفسد، د طبقاتي نظام سالار، چې ولس ئې په ډلو ډلو ويشلی وو، د بني اسرائيلو زامن ئې ذبح کول، لوڼي ئې د وينځو په توگه ساتلې، پر دې مظلوم او بې وزلې قوم ئې ټول هغه ظلمونه او ناروا وي له کلونو کلونو رااېسې روا گڼلې، هغه ئې په استضعاف او ذلت کې ساتلی، د يوه بشپړ قوم فرد فرد د مريي او وينځې په توگه د فرعونيانو په دربارونو کې د ذلت شپې ورځې تېرولې، د همدې ظالم او طبقاتي نظام بې

رحمه سالار؛ له ډېرو ظلمونو، ترلو او وژلو وروسته وايي: وېرېږم چي په هېواد کي به بې امني خوره نشي!! دا خبره پرون روسانو تکرار کړه، نن ئې امريکايان تکراروي، پرون کمونيستانو وکړه؛ نن ئې د امريکا د فوځونو په زور مسلط شوي لنډه غر غربپالان کوي!! روسانو يو نيم مليون بې گناه افغانان ووژل، ټول هېواد ئې په کنډوالو بدل کړ، کلي او کورونه ئې په توپونو او بمونو ويجارکړل؛ خو سره له دې به ئې ويل: مجاهدين پلونه ورانوي، مدرسې، جوماتونه او مکتبونه ورانوي، نن امريکايان همدغه تبليغات کوي، په داسي حال کي چي په کليو، ښارونو، مدرسو او جوماتونو بمونه وروي، د خلکو د غم او ښادي په غونډو ډزي کوي، هره ورځ په لسگونو افغانان په خپلو وينو کي رغړوي، خو وايي چي مجاهدين مکتبونه، مدرسې او جوماتونه او عام المنفعه تأسيسات ورانوي، په خپل لاس به په دغو ځايونو کي بمونه منفجر کړي چي مجاهدين پرې تورن کړي، گورئ چي هماغه د فرعون خبره پرون د روسانو په خوله تکرارېده او نن د امريکايانو په خوله. او دا ښيي چي د قرآن قصې تاريخي بېلگي او مثالونه دي چي تل به تکرارېږي، د تاريخ په هر پړاو او د زمانې په هر موړ کي به يو فرعون وي او په مقابل کي ئې يو موسى؛ او دا مبارزه به د فرعون په غرقېدا پای ته رسي.

دا مبارك آيتونه موږ ته وايي: موسى عليه السلام په دې توگه لېږل شوی چي په لومړي سرکي به د فرعون مقابله کوي، د دښمن د متحدي جبهې له دريو اړخونو به لومړی د فرعون (د سياسي حاکمي طبقې سالار) په خلاف د مبارزې جبهه پرانيزي، بيا به د هامان او په پای کي د قارون مقابله کوي، خو دغو دريو ځواکونو لومړی د بني اسرائيلو د زامنو په وژلو لاس پوري کړی، د مؤمنو ځوانانو د وژلو دې اقدام هغه نتيجه ورنه کړه چي دوی ئې انتظار درلود، د قرآن په اصطلاح : و ما کيد الکافرين الافي ضلال: او د کافرانو کيد او توطئه له دې پرته بله پايله نه درلوده چي معکوس نتائج ورکړي، نو بيا ئې د موسى عليه السلام د وژلو پرېکړه کړې خو دا هم عملي نه شوه، نو فرعون له خپلو درباريانو سره مشوره کوي چي اوس څه وکړو؟ په ۲۸ آيت کي د دې مشورې تفصيلات زموږ په وړاندي انځور شوي.

---

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ لَّا يُؤۡمِنُ بِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢٧﴾

او موسى وويل: زه خپل رب او ستاسو رب ته له هر هغه کبرجن پناه وړم چي د حساب په ورځي ايمان نه لري.

---

(۲۷)- له دې مبارك آيت معلومېږي چي موسى عليه السلام د فرعون له تصميم او پرېکړې خبر شوی نو ځکه ئې ويلي: زه خپل رب او ستاسو رب ته له هر هغه کبرجن پناه وړم چي

د حساب په ورځې ايمان نه لري. وروستی آيت ښيي چې د موسی عليه السلام د دعوت لمن د فرعون تر دربار پورې غځېدلې او هلته ئې هم داسې خواخوږي درلودل چې دی ئې نه يوازې د دربار له جرياناتو او پرېکړو خبرولو بلکې له ده ئې دفاع کوله، وروستې آيت دغه مطلب ته اشاره کوي.

وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَـٰنَهُۥٓ أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ
رَبِّيَ ٱللَّهُ وَقَدْ جَآءَكُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ مِن رَّبِّكُمْ ۖ وَإِن يَكُ كَـٰذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُۥ ۖ
وَإِن يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُم بَعْضُ ٱلَّذِى يَعِدُكُمْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى مَنْ هُوَ
مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾ يَـٰقَوْمِ لَكُمُ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ظَـٰهِرِينَ فِى ٱلْأَرْضِ فَمَن
يَنصُرُنَا مِنۢ بَأْسِ ٱللَّهِ إِن جَآءَنَا ۚ قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ أُرِيكُمْ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ
أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٢٩﴾ وَقَالَ ٱلَّذِىٓ ءَامَنَ يَـٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُم
مِّثْلَ يَوْمِ ٱلْأَحْزَابِ ﴿٣٠﴾ مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ
وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿٣١﴾ وَيَـٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ ٱلتَّنَادِ ﴿٣٢﴾
يَوْمَ تُوَلُّونَ مُدْبِرِينَ مَا لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ ۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ
مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ بِٱلْبَيِّنَـٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِى شَكٍّ مِّمَّا
جَآءَكُم بِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا ۚ كَذَٰلِكَ
يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴿٣٤﴾ ٱلَّذِينَ يُجَـٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ
سُلْطَـٰنٍ أَتَىٰهُمْ ۖ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ
كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾

او د فرعونيانو يوه مؤمن سړي چې خپل ايمان ئې پټولو وويل: آيا يو سړی له دې کبله وژنئ چې وايي: زما رب الله دئ؛ په داسې حال کې چې په يقيني توګه ئې ستاسو د رب له لوري څرګندې نښې درته راوړې، که هغه دروغجن وي د درواغو پايله به ئې پر غاړه وي او که رښتينی وي نو له هغه څه به کومه برخه درورسېږي چې

وعده ئې درکوي، يقيناً چې الله هغه څوك نه هدايتوي چې دروغجن تېرى كوونكى وي، اې زما قومه! نن خو واكمني په داسي حال كې ستاسو په برخه ده چې په دې زمكې كې غالب يئ نو كه د الله عذاب راورسېږي څوك به مو د هغه په وړاندي مرسته كوي؟! فرعون وويل: له هغه څه پرته بل څه نه درښيم چې زه ئې (غوره) وينم او د كمال له لاري پرته بل څه ته ستاسو لارښوونه نه كوم؛ او هغه چې ايمان ئې راوړى وو وويل: اې زما قومه! زه پر تاسو د دغو ډلو د (بدي) ورځي په څېر (ورځي راتلو) وېرېږم، د نوح د قوم او د عاد، ثمود او هغو حالت ته ورته چې تر دوى وروسته ول، په داسي حال كې چې الله پر خپلو بندگانو د ظلم اراده نه لري؛ او اې زما قومه! زه پر تاسو يو بل ته د چيغو وهلو له ورځي وېرېږم، له هغي ورځي چې د شا ته كېدونكو په توگه به مخ اړوئ، په داسي حال كې چې د الله له لوري به كوم ساتونكى نه لرئ؛ او الله چې څوك بې لاري كړي هيڅ لارښود به ئې په برخه نشي؛ او يقيناً چې تر دې وړاندي يوسف څرگندي نښي درته راوړې نو تاسو تل د هغه څه په اړه په شك كې وئ چې هغه درته راوړل؛ تر هغه چې وفات شو نو تاسو وويل: الله به تر ده وروسته هيڅكه كوم پيغمبر ونه لېږي، الله همداسي هر شكمن تېرى كوونكى بې لاري كوي، هغه چې د الله د آيتونو په اړه له داسي كوم دليل پرته مجادله كوي چې ورته راغلى وي، د الله او د هغو په وړاندي ستر (جرم) چې ايمان ئې راوړى، همداسي الله د هر كبرجن جابر پر زړه مهر لگوي.

(٢٨-٣٥)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- د فرعون په هغي غونډې كې چې له درباريانو ئې د موسى عليه السلام د وژلو موافقه غوښتله يوه مؤمن سړي چې خپل ايمان ئې پټولو وويل: آيا يو سړى له دې كبله وژنئ چې وايي: زما رب الله دئ؛ په داسي حال كې چې ستاسو د رب له لوري ئې څرگندي نښي درته راوړې، كه هغه دروغجن وي نو د درواغو بده پايله به ئې په برخه شي؛ او كه رښتينى وي نو كېدى شي په داسي كوم عذاب اخته شئ چې هغه مو ترې وېروي، په دې كې شك نشته چې الله تعالى هغه څوك نه هدايتوي چې دروغجن او تېرى كوونكى وي. د دې فقرې گڼ شمېر تعبيرونه شوي چې تر ټولو غوره ئې دا دئ: څوك چې مسرف او دروغجن وي الله تعالى به ئې هيڅكله خپلو موخو ته د رسېدلو په لوري هدايت نه كړي، يعني كه د موسى عليه السلام په اړه ستاسو ادعاء سمه وي او دى حقيقتاً دروغجن او مسرف وي نو هيڅكله به خپلو موخو ته ونه رسېږي، خو په عين حال كې د دې مؤمن انسان دغه وينا فرعونيانو ته هم متوجه ده او په غير مستقيمه توگه هغوى ته وايي: تاسو به هم د خپل كذب او اسراف له كبله خپلو موخو ته ونه رسېږئ.
- اې زما قومه! نن خو واكمني په داسي حال كې ستاسو په برخه ده چې په دې زمكې كې

غالب او برلاسي يئ خو كه د الله تعالى عذاب راورسېږي څوك به مو د هغه په وړاندي مرسته كوي؟!

- فرعون وويل: له هغه څه پرته بل څه نه درښيم چي ما ته غوره برېښېدلي، يوازي د رشد او كمال لوري ته ستاسو لارښوونه كوم.
- هغه چي ايمان ئې راوړى وو وويل: اې زما قومه! زه پر تاسو د داسي بدو ورځو له راتلو وېرېږم چي نور قومونه ورسره مخامخ شوي، د نوح د قوم او د عاد، ثمود او هغو حالت ته ورته چي تر دوى وروسته ول، دوى د ظلم لار غوره كړه او الله تعالى سزا وركړه، كه په سخت عذاب اخته شوي نو د همدې مستحق ول دا ځكه چي الله تعالى پر خپلو بندگانو د ظلم اراده نه لري. او اې زما قومه! زه پر تاسو د داسي سختي ورځي له راتلو وېرېږم چي يو به بل ته چيغي وهئ او مرسته به ترې غواړئ، له هغي ورځي چي د مرستي پر ځاى به يو له بل مخ اړوي او تر شا كېږي به، داسي څوك به نه مومي چي له الهي عذاب ئې وساتي. الله تعالى چي څوك بې لاري كړي هيڅ لارښود به ئې په برخه نشي.
- تر دې وړاندي يوسف عليه السلام څرگندي نښي درته راوړې خو تاسو تل د هغه د دعوت په اړه شكمن وئ؛ تر هغه چي وفات شو نو تاسو وويل: الله به تر ده وروسته هيڅكله كوم پيغمبر ونه لېږي، د دې وينا بېل بېل تعبيرونه شوي چي غوره ئې دا دئ: كه مصريانو د يوسف عليه السلام په څېر ستر شخصيت باندي ايمان رانه وړ نو دا ښيي چي په دوى كي د ايمان راوړلو استعداد په بشپړه توگه ځپل شوى، د دې وړ نه دي چي الله تعالى بل پيغمبر ورولېږي.
- الله تعالى همداسي هر شكمن تېرى كوونكى بې لاري كوي، هغه چي د الله د آيتونو په اړه له داسي دليل پرته مجادله كوي چي ده ته راغلى وي، له داسي دليل پرته د الله تعالى د آيتونو په اړه مجادله هم د الله تعالى په وړاندي ستر جرم دئ هم د هر مؤمن له نظره. قريشو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه همغه سلوك غوره كړى چي مصريانو د يوسف عليه السلام په وړاندي غوره كړى وو، د دوى په سينو كي كبرجن او جابر زړونه دي او الله تعالى د هر كبرجن جابر پر زړه مهر لگوي.

---

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبْنِ لِى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَبْلُغُ ٱلْأَسْبَٰبَ ﴿٣٦﴾ أَسْبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبًا ۚ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ۚ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِى تَبَابٍ ﴿٣٧﴾

او فرعون وويل: اې هامانه! ما ته يوه دنگه ماڼۍ جوړه كړه؛ هيله ده دغو لارو ته ورسېږم، د آسمانونو لارو ته چي په دې توگه د موسى معبود ته وگورم په داسي حال كي چي زه ئې يقيناً دروغجن انگېرم؛ او فرعون ته د ده بد عمل همداسي ښايسته

کړی شو او له سمې لارې واړول شو؛ او د فرعون تدبیر له تباهۍ پرته په بل څه کې نه وو.

(٣٦-٣٧)- په دې مبارکو آیتونو کې د موسی علیه السلام د هغه مؤمن مدافع او هوښیار حامي د اغېزمنو نصائحو او مضبوطو دلائلو په وړاندې د فرعون کبرجن غبرگون داسې انځور شوی: فرعون وویل: اې هامانه! ما ته یوه دنگه ماڼۍ جوړه کړه؛ هیله ده د دغې ماڼۍ په مرسته د آسمان هغو لارو ته ورسېږم چې موسی (علیه السلام) ئې یادونه کوي او وایي: له دغو لارو ما ته د الله تعالی له لوري وحي شوې، غواړم دغو لارو ته ورسېږم؛ او هلته د موسی معبود وگورم، سره له دې چې زه ئې دروغجن گڼم!! قرآن د فرعون د دغې کچه او مسخره خبرې په اړه فرمایي: فرعون ته د ده دغه کرکجن او بدغونی عمل ښایسته کړی شو او په دې توگه په سمې لارې له تلو منع کړی شو، د فرعون تدبیر له تباهۍ پرته په بل څه کې نه وو!!

د دې مبارکو آیتونو په ژورو مفاهیمو د ښه پوهېدو لپاره لږ غور او دقت ته ضرورت لرو، دلته د موسی علیه السلام د مؤمن حامي د اغېزمنو نصائحو په ځواب کې د فرعون داسې وینا راغلې چې په حقیقت کې د حق په وړاندې د هر فرعون غبرگون انځوروي، د حق خلاف د دوی غبرگون تل همداسې وي، د دوی محاسبه هم د دنگو دنگو ماڼیو او مجللو قصرونو پر بنسټ وي او تکیه او اعتماد هم، د دوی له نظره د قصرونو لوړوالی د شخصیتونو د عظمت او لوړوالي نښه وي، د همدې له مخې ځان تر نورو غوره او لوړ گڼي، خو دې ته مو پام وي چې هغوی ځان ته د دنگو دنگو ماڼیو په جوړولو کې همداسې بهانې کاروي چې فرعون کاورلې: هامان ته د دنگ قصر جوړولو امر کوي خو د موسی علیه السلام د ماتولو او پر کولو تر نامه لاندې!! آیا عجیبه نه ده چې فرعون د قصر جوړولو لپاره دا بهانه کاروي: غواړم لوړ ولاړ شم او د لوړ قصر له بام د موسی معبود وگورم او دا کار په داسې حال کې کوم چې پوهېږم موسی دروغجن دئ!! یعني غواړم ثابته کړم چې د الله تعالی په اړه د موسی ادعاء غلطه ده او زما باور سم!! د فرعون دا وینا ما ته د هغه روسي وینا رایادوي چې فضاء ته لېږل شوی وو او له راستنېدو ورسته ئې وویل: ما په فضاء کې خدای ونه موندو!! د ده د لېږنې یوه موخه همدا وه چې له راستنېدو وروسته همغه د فرعون وینا تکرار کړي؛ او په دې سره د کمونیستانو هغې غلطې ادعاء ته کوم سست بنسټ جوړ کړي چې وایي: خدای نشته!! یوازې په دومره توپیر سره چې فرعون د خپل قصر له بامه دا خبره وکړه او ده د سپوږمۍ له اړخه!! عجیبه ده، ډېره ډېره عجیبه!! آیا د هغه چا عقل ته حیران نه شو او پرې ونه ژاړو چې خدای د خپل قصر پر بام او د سپوږمۍ په اړخ کې لټوي او غواړي په خپلو کمزورو سترگو هغه رب وگوري چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړي او د عالم ذره ذره په لوړ ږغ د هغه د شته والي شهادت ورکوي!!

وَقَالَ ٱلَّذِىٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ ٱتَّبِعُونِ أَهْدِكُمْ سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٣٨﴾ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ
ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا مَتَٰعٌ وَإِنَّ ٱلْءَاخِرَةَ هِىَ دَارُ ٱلْقَرَارِ ﴿٣٩﴾ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا
يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُو۟لَٰٓئِكَ
يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٤٠﴾

او هغه چي ایمان ئې راوړی وو وویل: اې زما قومه! زما متابعت وکړئ چي د رشد او کمال لار دروښیم، اې زما قومه! یقیناً چي دا دنیایي ژوند فقط یوه متاع ده او یقیناً چي د تمېدو کور خو همغه آخرت دئ، چا چي بدغونی عمل وکړ نو یوازي هغه ته ورته سزا به ورکول کېږي او له نارینه او ښځینه وو چي چا نېك عمل وکړ په داسي حال کي چي مؤمن وي نو همدا دوی به جنت ته ننوځي چي هلته به له حساب پرته روزي ورکول کېږي.

(۳۸-٤۰)- دلته د فرعون د وینا او ادعاء په ځواب کي د هغه مؤمن انسان دا ویناوي راوړل شوي: اې زما قومه! زما متابعت وکړئ چي د رشد او کمال لار دروښیم؛ او دا د فرعون د هغي وینا په ځواب کي ده چي ویلي ئې وو: له هغه څه پرته بل څه نه درښیم چي ما ته غوره برېښېدلي، یوازي د رشد او کمال لوري ته ستاسو لارښوونه کوم. یعني سمه رأیه همدا زما رأیه ده، زما په متابعت کي ترقي کولی شئ او رشد او کمال ته رسېدلی شئ، خو د ده په ځواب کي هغه مؤمن انسان د سمي لاري ځانګړتیاوي په ګوته کوي او خلك د فرعون په څېر د خپل هوس متابعت ته نه بلي بلکي سمي تګلاري ته ئې بلي او ورته وایي: اې زما قومه! یقیناً چي دا دنیایي ژوند فقط یوه متاع ده، د ګټي اخیستلو او استفادې لپاره فقط یوه وسیله او ذریعه ده، د آخرت په لوري د سفر توښه ده، د اوسېدو او قرار ځای د آخرت کور دئ، چا چي بدغونی عمل وکړ نو یوازي هغه ته ورته سزا به ورکول کېږي او له نارینه او ښځینه وو چي چا نېك عمل وکړ په داسي حال کي چي مؤمن وي نو همدا دوی به جنت ته ننوځي او هلته به بې حسابه روزي ورکول کېږي.

وَيَٰقَوْمِ مَا لِىٓ أَدْعُوكُمْ إِلَى ٱلنَّجَوٰةِ وَتَدْعُونَنِىٓ إِلَى ٱلنَّارِ ﴿٤١﴾ تَدْعُونَنِى لِأَكْفُرَ
بِٱللَّهِ وَأُشْرِكَ بِهِۦ مَا لَيْسَ لِى بِهِۦ عِلْمٌ وَأَنَا۠ أَدْعُوكُمْ إِلَى ٱلْعَزِيزِ ٱلْغَفَّٰرِ ﴿٤٢﴾ لَا
جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِىٓ إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُۥ دَعْوَةٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَلَا فِى ٱلْءَاخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَآ

إِلَى ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ﴿٤٣﴾ فَسَتَذْكُرُونَ مَآ أَقُولُ لَكُمْۚ
وَأُفَوِّضُ أَمْرِيٓ إِلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٤٤﴾

او اې زما قومه! څه راسره کېږي چي زه مو د نجات لوري ته بلم او تاسو مي د اور لوري ته بلئ، دې ته مي بلئ چي د الله په اړه کفر وکړم او هغه څه ورسره شريك کړم چي په اړه ئې هيڅ علم نه لرم او زه مو د بخښونکي عزتمن لوري ته بلم، حقيقت له دې پرته بل څه نه دئ چي د کوم څه لوري ته ما بلئ نه په دنيا کې کومه بلنه ورته شته او نه په آخرت کې؛ او دا چي ستنېدا مو د الله لوري ته ده او دا چي مسرفين د اور خاوندان دي، نو حتماً به هغه څه درياد کړئ چي زه ئې درته وايم؛ او خپل کار الله ته حواله کوم، يقيناً چي الله د خپلو بندګانو ښه ليدونکی دئ.

---

(٤١-٤٤)- دا مؤمن داعي او د موسى عليه السلام حامي ورو ورو خبره وړاندي بيايي، د موسى عليه السلام له دفاع وړاندي درومي، فرعونيان پر الله تعالى ايمان ته بلي او ورته وايي: اې زما قومه! دا زما څه حال دئ چي زه مو د نجات لوري ته بلم او تاسو مي د اور لوري ته، دې ته مي بلئ چي د الله تعالى په اړه کفر وکړم او هغه څه ورسره شريك کړم چي په اړه ئې هيڅ علم نه لرم او زه مو د بخښونکي عزتمن رب لوري ته بلم، حقيقت له دې پرته بل څه نه دئ چي د کوم څه لوري ته ما بلئ نه په دنيا کې کومه بلنه ورته شته او نه په آخرت کې، نه په دنيا کې د بلني د اجابت او قبلولو توان او واك لري او نه په آخرت کې، نه دلته ستاسو حاجتونه تر سره کولی شي او نه په آخرت کې کومه مرسته درسره کولی شي. زموږ ټولو ستنېدا د الله تعالى لوري ته ده او د مسرفينو او تېري کوونکو پايله د دوزخ په اور کې لوېدل دي، داسي ورځ به حتماً راشي چي زما دغه وينا درياد شي، زه خپل کار الله تعالى ته حواله کوم، يقيناً چي الله د خپلو بندګانو ښه ليدونکی دئ.

---

فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُواْۖ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرْعَوْنَ سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ ﴿٤٥﴾ ٱلنَّارُ
يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّاۚ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدْخِلُوٓاْ ءَالَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ
ٱلْعَذَابِ ﴿٤٦﴾

نو الله له هغو بدو تدبيرونو وساتو چي دوی وکړل او بد عذاب په خپله د فرعونيانو په برخه شو، هغه اور چي سبا او بيګا وروړاندي کېږي او هغه ورځ چي قيامت راشي (وبه ويل شي:) فرعونيان ډېر شديد عذاب ته ننباسئ.

(٤٥-٤٦)- دا مبارك آيتونه وايي: الله تعالی هغه مؤمن بنده د فرعونيانو له دسيسو وساتو، نه يوازې ونه توانېدل هغه ته كوم تاوان ورسوي بلكې الله تعالى دوى په خپله په سخت عذاب اخته كړل، داسې اور ئې ورپه برخه كړ چې سبا او بېگا به وروړاندې كېږي او د قيامت په ورځ به د دوى په اړه وويل شي: فرعونيان ډېر شديد عذاب ته ننباسئ.

د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دلته دوه ډوله عذابونه په گوته شوي: ١- هر سبا او ماښام د اور عذاب ته د دوى وړاندې كېدل ٢- او د قيامت په ورځ شديد عذاب ته د دوى ننايستل، لومړى عذاب تر قيامت وړاندې او دوهم عذاب تر قيامت وروسته، د لومړي عذاب په اړه ويل شوي چې دوى به دغه عذاب ته عرضه كېږي او د دوهم عذاب په اړه ويل شوي چې دوى به ورننايستل كېږي، د دې معنى دا ده چې دوى به تر قيامت وړاندې په مسلسله توگه هر سبا او بېگا له عذاب سره مخامخ كېږي خو دا عذاب به په دوزخ كې له ننوتلو سره توپير لري؛ او همدا هغه عذاب دئ چې په رواياتو كې د برزخ عذاب په نامه ياد شوى، د آيت له الفاظو دا هم معلومېږي چې د برزخ عذاب روحي عذاب دئ نه بدني، د دوزخ له شديد عذاب سره ئې توپير په همدې كې دئ. همدا رأيه هم د قرآن له لارښوونو سره اړخ لگوي او هم له واقع سره، كه د برزخ عذاب بدني عذاب وى نو نښې به ئې د معذب شوو پر بدن ښرگندېدې.

وَإِذْ يَتَحَآجُّونَ فِي ٱلنَّارِ فَيَقُولُ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِّنَ ٱلنَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا كُلٌّ فِيهَآ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ ٱلْعِبَادِ ﴿٤٨﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِي ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ٱدْعُواْ رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ ٱلْعَذَابِ ﴿٤٩﴾ قَالُوٓاْ أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ ۖ قَالُواْ بَلَىٰ ۚ قَالُواْ فَٱدْعُواْ ۗ وَمَا دُعَٰٓؤُاْ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ ﴿٥٠﴾

او هغه مهال چې په اور كې به په خپلمنځۍ شخړې بوخت وي، نو مستضعفين به هغو ته چې لويي ئې غوښته ووايي: موږ خو ستاسو متابعين وو نو آيا تاسو له موږ د اور د كومې برخې دفع كوونكي يئ، هغه به وايي چې لويي ئې غوښته: موږ خو ټول په همدې (اور) كې يو، يقيناً چې الله د خپلو بندگانو تر منځ پرېكړه كړې ده؛ او هغه چې په اور كې دي د دوزخ ساتونكو ته به ووايي: خپل رب ته دعاء وكړئ چې يوه ورځ د دې عذاب كومه برخه له موږ سپكه كړي، وبه وايي: آيا داسې نه وه چې تاسو ته ستاسو پيغمبرانو ښرگندې نښې دروړلې، وبه وايي: ولې نه؛ وبه وايي: نو (په خپله) دعاء وكړئ، په داسې حال كې چې د كافرانو بلنه له ضلالت پرته په بل څه كې نه وي.

(٤٧-٥٠)- دلته يو ځل بيا په دوزخ کې د دوزخيانو هغه حالت انځور شوی چې يو به بل ملامتوي، کشران به خپلو مشرانو ته وايي: موږ خو په دنيا کې ستاسو لمن نيولې وه، په تاسو پسې روان وو، گمان مو دا وو چې ستاسو سپارښتنه او شفاعت به موږ د الله تعالی له مؤاخذې ژغوري، تاسو راته ويل چې موږ سعادت ته د رسېدلو لار درښيو، نو آيا اوس کولی شئ د دې عذابونو کومه برخه له موږ سپکه کړئ، د دوی کبرجن مشران به ورته ووايي: نه گورئ چې موږ ټول په دوزخ کې پراته يو!! دا پرېکړه د الله تعالی له لوري شوې، موږ ئې نه شو بدلولی، زموږ په لاس کې هيڅ نشته، کله چې يو له بله ناهيلی او مأيوس شي نو د دوزخ ساتونکو ته به مخه کړي، هغوی ته به ووايي: خپل رب ته دعاء وکړئ چې يوه ورځ د دې عذاب کومه برخه له موږ سپکه کړي، د دوزخ ساتونکي به ځواب ورکړي: آيا تاسو ته ستاسو پيغمبران نه وو درغلي او څرگندې نښې ئې نه وې دروړې؟!! دوزخيان به ووايي: ولې نه؛ فرښتې به ورته ووايي: موږ له څه کولو عاجز يو، په خپله دعاء وکړئ، خو په دې پوه شئ چې د کافرانو بلنه هيڅ حاصل نه لري، همغسې لکه په دنيا کې چې د دوی بلنه له ضلالت پرته په بل څه کې نه وه نن هم د دوی د دعاء غشی پر نښې نه لگېږي.

إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ ﴿٥١﴾ يَوۡمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعۡذِرَتُهُمۡۖ وَلَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٥٢﴾

يقيناً چې موږ د خپلو پيغمبرانو او هغو چې ايمان ئې راوړی په دنيايي ژوند کې هم او په هغې ورځې هم مرسته کوو چې گواهان به ودرېږي، هغه ورځ چې ظالمانو ته به د دوی عذرونه گټه نه رسوي او دوی ته به لعنت ورپه برخه وي او بد استوگنځی به ئې وي.

(٥١-٥٢)- په دې مبارکوآيتونو کې د الله تعالی دا نه بدلېدونکی او دائمي سنت بيان شوی چې په دنيا او آخرت کې د خپلو پيغمبرانو او مؤمنانو مرسته کوي، په دنيا کې به هم وروستۍ بريا د دوی وي او د قيامت په هغه ورځ به هم دوی بريالي وي چې ټول انسانان به د الله تعالی په وړاندې ولاړ وي، الهي محاکمه به پيل شوې وي او د هر چا د کړنو په اړه به گواهان وړاندې کېږي، هغه ورځ چې ظالمانو ته به د دوی عذرونه هيڅ گټه نه رسوي، په الهي لعنت به اخته وي او د دوزخ بد استوگنځی به ئې په برخه وي.

دې ته مو پام وي چې دلته گواهان په عامه صيغه راغلي، ټول هغه گواهان ترې مراد دي چې د انسان د کړنو په اړه به گواهي ورکوي.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْهُدَىٰ وَأَوْرَثْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى وَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٥٤﴾

او يقيناً چي موسى ته مو لارښوونه ورپه برخه کړه او بني اسرائيلو ته مو هغه کتاب په ميراث پرېښود، د عقلمنو لپاره لارښوونه او پند.

(٥٣-٥٤)- دلته د موسى عليه السلام او بني اسرائيلو په څېرې کې د الله تعالى د هغه ثابت سنت يوه بېلګه زموږ په وړاندې ځلېږي، الله تعالى خپل پيغمبر موسى عليه السلام ته لارښوونه وکړه، پر فرعون ئې برى ورکړ؛ او بني اسرائيلو ته ئې د تورات هغه کتاب په ميراث پرېښود چي د عقلمنو لپاره لارښوونه او پند وو.

فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٥٥﴾

نو صبر کوه چي يقيناً د الله وعده رښتيني ده؛ او د خپلي ګناه لپاره بخښنه غواړه او سبا او ماښام د خپل رب د ستايني تسبيح وايه.

(٥٥)- په دې مبارك آيت کې رسول الله صلى الله عليه و سلم او د قرآن هر مؤمن مخاطب ته څو لارښووني شوې:

- صبر کوه.
- د الله تعالى وعده رښتينې ګڼه.
- د خپلي ګناه لپاره بخښنه غواړه.
- سبا او ماښام د خپل رب حمد او تسبيح وايه، يعني تل ئې د ټولو ستاينو وړ او له هر عيب او نقص منزه ګڼه.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ إِن فِى صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿٥٦﴾ لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾

يقيناً هغه چي د الله د آيتونو په اړه مجادله کوي پرته له دې چي کوم دليل ورکړى

شوی وي؛ په سینو کې ئې داسې کبر دئ چې هیڅکله وررسېدلی نشي، نو په الله سره پناه غواړه، یقیناً چې هغه لیدونکی اورېدونکی دئ، د آسمانونو پیدایښت حتماً د خلکو تر پیدایښت ډېر ستر (کار) دئ؛ خو اکثر خلك نه پوهېږي.

(۵٦-۵۷)- دا مبارك آیتونه وایي:

- ځوك چې د الله د آیتونو په اړه مجادله کوي په داسې حال کې چې د خپلې ادعاء لپاره هیڅ دلیل نه لري، دوی غولوونکي کبر دې مجادلې ته هڅولي، هیڅکله به خپلو موخو ته ونه رسېږي او په دې مجادلې کې به بریا تر لاسه نه کړي.
- د دغو کبرجنو مخالفینو د مخالفتونو پروا مه کوه، د دوی د مخالفت په وړاندې الله تعالی ته پناه یوسه، یقیناً چې هغه لیدونکی اورېدونکی دئ، د دوی خبرې اوري او ستا له حالت خبر دئ او د ده تر رعایت او عنایت لاندې یې.
- دوی د انسان بیا ژوندون محال ګڼي، په آخرت او الهي محاسبې او مکافات او مجازات باور نه لري، دې ته ئې پام نه دئ چې د آسمانونو پیدا کوونکي رب ته د وړوکي انسان بیا پیدا کول ډېر ساده او آسان کار دئ!!
- ستونزه دا ده چې ډېری خلك نه پوهېږي، که پوهېدلی نو هیڅکله به ئې د الهي آیتونو مخالفت نه وو کړی او د انکار لار به ئې نه وه غوره کړې.

وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ وَلَا ٱلْمُسِىٓءُ ۚ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَـَٔاتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٩﴾

او نه ړوند او سترګور سره برابر دي؛ او نه هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او نه بدکار، لږ شانته پند اخلئ، یقیناً چې (د قیامت هغه) نېټه حتماً راتلونکې ده، هیڅ شك په کې نشته؛ خو ډېری خلك ایمان نه راوړي.

(۵۸-۵۹)- په مخکینیو آیتونو کې د قیامت دا اړخ څېړل شوی چې مړي به بیاراژوندي کېږي، په دې اړه دا دلیل وړاندې شوی چې د آسمانونو پیدا کوونکي رب ته د وړوکي انسان بیا پیدا کول ډېر ساده او آسان کار دئ!!

په دې مبارکو آیتونو کې د مسئلې دا اړخ څېړل شوی چې الهي محاسبه او مکافات او مجازات داسې څرګند حقیقت دئ چې حتماً به تر سره کېږي، دا ځکه چې انسان په خپله دا مني چې نه ړوند او سترګور سره برابر دي او نه هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او نه بدکار، آیا د ښه او بد، ړوند او سترګور په اړه د انسان دا قضاوت د

دې څرګنده نښه نه ده چې د انسان خالق به حتماً په همدې صفت متصف وي، په هر مخلوق او مصنوع کې هر صفت په حقيقت کې د هغه د خالق او صانع د ځانګړتياوو مظهر وي، په انسان کې د توپير دا قضاوت ښيي چې رب ئې حتماً په همدې صفت متصف دئ، حتماً به داسي نېټه راځي چې هغه حقيقي قاضي د انسان د کړنو په اړه خپله پرېکړه وکړي. د عقل حکم همدا دئ خو ستونزه دا ده چې تاسو لږ شانته پند اخلئ؛ او ډېرى خلك داسي دي چې په هغه څه ايمان راوړلو ته چمتو نه وي چې د ده فطرت او عقل ئې غوښتنه کوي.

د آيت دا ترکيب چې وايي: نه ړوند او سترګور سره برابر دي؛ او نه هغه چې ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې کړي او نه بدکار، لږ دقت غواړي، داسي نه دي ويل شوي چې نېك عمل مؤمن او بد کار سره برابر نه دي، بلکې د الفاظو له فحوى او ترکيب داسي معلومېږي چې مؤمنان او نېك عمله انسانان هم سره برابر نه دي او بدکاران هم، په دوى کې هم ژور توپيرونه شته، ځيني د ايمان له مخي ډېر لوړ، ځيني د نېك عمل له پلوه ډېر وړاندي او ځيني د بد عمل له له کبله ډېر بدمرغه او پرېوتي، د آيت غوره او دقيق تعبير همدا دئ.

وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾

او ستاسو رب وويل: ما ته دعاء وکړئ چې درته وئې منم، يقيناً هغه کسان چې زما له عبادت لويي (او سرغړاوى) کوي ډېر ژر به جهنم ته ذليل او سپك داخل شي.

(٦٠)- په دې مبارك آيت کې دا الهي لارښوونه انځور شوې: ما ته دعاء وکړئ چې ستاسو دعاء قبوله کړم، څوك چې تکبر او لويي وکړي، ځان تر دې لوړ وګڼي چې خپل رب ته د دعاء لاسونه اوچت کړي، دا غرور او لويي به ئې له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کړي، پايله به ئې دوزخ ته ننوتل وي.

په دې مبارك آيت کې د عبادت او دعاء په ارتباط څو مهم مطالب ذکر شوي:

- لومړى دا چې الله جل شأنه موږ په دعاء کولو مکلف کړي يو (وَ قَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونى: ستاسو رب ويلي: ما ته دعاء وکړئ)؛ او د دې وعده ئې راسره کړې چې ستاسو دعاء به منم (أَستَجِب لَكم)
- دوهم مطلب دا چې د لويي احساس، تکبر او غرور د دې باعث شي چې انسان له الله تعالى د مرستي او استعانت له غوښتلو ډډه او د هغه له عبادت سرغړاوى وکړي، (إِنَّ الَّذِينَ يَستَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتى سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ )، تکبر، د لويي احساس او غرور د دې باعث شي چې انسان د الله تعالى له عبادت او بيا د هغه له استعانت ډډه وکړي،

همدا استغناء ده چي انسان طغيان ته رسوي؛ او په پای کې ئې له ذلت او رسوايۍ سره مخامخ کوي.

رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللَّهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ ». الترمذى

له ابوهريره رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: چا چي الله ته سؤال ونه کړ؛ پرې غصه کېږي.

يعني څوك چي الله تعالی ته دعاء ونه کړي او له هغه مرسته و نه غواړي، الله تعالی ترې ناراض کېږي، هر څومره چي الله تعالی ته زياته دعاء وکړې او زياته مرسته ترې وغواړې همدومره راضي کېږي. داسي نه ده چي يوازې د لويو لويو شيانو دعاء به کوې، بلکې له واړه تر ستر شي، حتی که مو په کور کې مالگه نه وه، دا هم له الله تعالی وغواړئ، حتی که د څپلۍ بند مو وشلېدو؛ دا هم له الله تعالی وغواړئ، دا د رسول الله صلی الله عليه و سلم وينا او لارښوونه ده.

- درېيم مطلب چي په دې آيت کې ذکر شوی هغه دا دئ چي عبادت ئې د دعاء په ځای راوستی، تاسو د آيت په سر کې دا الفاظ گورئ: وَ قَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونى: ستاسو رب وويل: ما ته دعاء وکړئ، خو د آيت په وروستۍ برخي کې ويل شوي: إِنَّ الَّذِينَ يَستَكبِرُونَ عَنْ عِبَادَتى سيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ: يقيناً هغه چا چي زما له عبادت ئې لويي وکړه، ځان ئې له دې ستر وگاڼو چي ما ته دعاء وکړي، گورئ چي د آيت په وروستۍ برخي کې د دعاء په ځای عبادت راغلی، دا په څپله ښيي چي استمداد، استغاثه او دعاء له عبادت سره مترادف ده. پيغمبر عليه السلام فرمايي:

وَعَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِنَّ الدُّعَاءَ هُوَ الْعِبَادَةُ. رَوَاهُ الْأَرْبَعَةُ، وَصَحَّحَهُ التِّرْمِذِيُّ

له نعمان بن بشير رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: دعاء په څپله عبادت دئ.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ »* رواه الترمذى

له انس بن مالك رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: دعاء د عبادت مغز دئ.

همدا راز فرمايي:

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم : الدُّعَاءُ سِلاحُ الْمُؤْمِنِ، وَعِمَادُ الدِّينِ،

وَنُورُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ * المستدرك

له علي رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: دعاء د مؤمن وسله، د دين ستنه او د آسمانونو او زمکي نور دئ.

کله چي انسان الله تعالی ته دعاء کوي؛ د ده دعاء د دې مظهر دئ چي هغه د الله جل شأنه په وړاندي ځان اړ او محتاج ګڼي، د اړتيا او احتياج دغه احساس د دې باعث شي چي د الله جل شأنه په وړاندي دعاء وکړي او مرسته تري وغواړي، همدغه احساس ئې د الله تعالی عبادت او بندګۍ ته رابلي، عدم دعاء او عدم استعانت ئې په دې دلالت کوي چي هغه له الله جل شانه ځان مستغني ګڼي، دا د ده د استغناء او بې نيازۍ نښه ده. د قرآن عظيم الشأن په متعددو آيتونو کي عبادت او استعانت له يوه بل سره مترادف او يو د بل په ځای ذکر شوي.

---

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ
عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٦١﴾ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ
خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾ كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ
بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾

الله هغه ذات دئ چي شپه ئې ستاسو لپاره داسي ګرځولې چي په هغې کي هوسا شئ او ورځ ئې د ليدو وسيله، بې شکه چي الله پر خلکو د پېرزويني خاوند دئ خو د خلکو ډېری شکر نه کوي، همدا ستاسو رب دئ، د هر څه خالق، له ده پرته بل معبود نشته، نو څنګه دوکه کېږئ؟ همداسي هغه دوکه کړی شوي وو چي د الله له آيتونو ئې انکار کولو.

---

(٦١-٦٣)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- د چا په اراده چي شپه او ورځ راځي، يوه ئې ستاسو د هوسايني لپاره بله ئې تاسو ته د رڼا او تودوخي درکولو لپاره؛ او په دې توګه ئې خپل ستر فضل ستاسو په برخه کړی، همدا ذات الله تعالی دئ.
- د شپې او ورځي همغږي او هدفمني او هغه نتائج چي د دوی په تلو راتلو مرتب کېږي، داسي چي شپه ستاسو د هوسايني او سکون لپاره ده، چي د ورځي له خوا د مسلسل کار په نتيجه کي ضايع شوې انرژي جبران او خپل قوت تجديد او اکمال کړئ او د سبا ورځي لپاره مستعد او تيار شئ او ورځ ئې ستاسو د معاش د تأمين وسيله ګرځولې، داسي چي هر څه د هغې په رڼا کي پېژندلی او کارولی شئ، په دې ترتيب رحمان رب خپل

ستر فضل ستاسو په حال شامل کړی، چې ستاسو اړتیاوو ته د دې طبیعت په غېږ کې او د هغه په تحولاتو او بدلونونو کې ځواب وایي.

• شپه او ورځ په دې برسېره چې د الله د فضل او پېرزوینې نښې او مظاهر دي؛ د هغوی تګ راتګ د دې عالم له ګڼ شمېر اجرامو سره لکه لمر، سپوږمۍ، زمکه، حتی ستوري، ستور لیکو؛ او هر څه چې په آسمانونو او زمکه کې دي؛ عمیق ربط او تړاو لري، د دغو ټولو خاص تنظیم او په خپلو منځونو کې خاص تعلق، په دې منتج شي چې شپه او ورځ په خپل موجوده شکل کې په یوه بل پسې راشي، د دې ټول عالم د بېلو بېلو اجرامو تر منځ تناسق، یووالی او هم غږي او بیا د دوی او د انسان د طبیعت تر منځ دا موزون او متناسب پیوند او تعلق په خپله ثابتوي چې د ټول عالم پیدا کوونکی او پالونکی رب یو دئ، هغه دا عالم اداره کوي، هر څه ته ئې د خوځېدو خاص لوری او جهت ټاکلی او د ټولو تر منځ ئې دا توافق او یووالی راپیدا کړی.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٤﴾

الله هغه ذات دئ چې زمکه ئې تاسو ته تم ځای وګرځوله او آسمان ئې چت؛ او تاسو ته ئې صورت درکړ، بیا ئې ستاسو صورت غوره او ښایسته کړ او له پاکیزه **وو ئې** تاسو ته روزي درکړه، همدا ستاسو پالونکی رب دئ، نو با برکته دئ د عالمونو رب الله.

---

(٦٤)- د دې مبارك آیت لارښوونې دا دي:

• هغه ذات چې زمکه او آسمانونه ئې پیدا کړل، د دوی تر منځ ئې داسې وحدت، تنسیق او یووالی رامنځته کړ چې یو ستا د اوسېدو لپاره تم ځای او مستقر وي او بل ئې چت او پدغه کور کې چې زمکه ئې فرش او آسمان ئې چت دئ، ته ئې له داسې جوړښت سره پیدا کړې چې په دې کور کې اوسېدی شې، هغه ستا له طبیعت سره متوازن او متناسب دئ، فشار ئې، حرارت ئې، یخني ئې، سختوالی او نرم والی ئې او هر څه ئې ستا لپاره مناسب دي.

• ستا د دې کور چت او فرش یو بل ته لاس ورکوي او په ګډه کار کوي، یو اوبه راوروي، بل دانه او مېوه راشنه کوي او په دې ترتیب ستا لپاره د داسې پاك رزق انتظام کوي چې ته ئې هم له رنګ، هم له خوند او هم له بوی لذت او خوند اخلې، ستا اړتیاوو ته ځواب

وايي او ستا د ژوند او بقاء عوامل برابروي.

- هغه ذات چې د آسمان، زمکې او ستا تر منځ ئې دا يووالى او تناسق راپيدا کړى هماغه ستاسو رب او د عالمونو رب دئ.

يعنې په آسمانونو او زمکې کې د يوه الله حکم نافذ دئ او له يوې مرجع د ټولو ساتنه او پالنه کېږي، له همدې کبله ده چې له يوې خوا گورو چې د عالم د دې بې حسابه اجسامو او اجرامو تر منځ ټکر او تصادم نه راځي او هر څه په خپل خپل مدار او مسير کې اداره کېږي، له بلې خوا زمکه او آسمان په گډه کار کوي او د انسان اړتياوو ته ځواب وايي، که چېرې د دې خور او پراخ عالم اداره، حفاظت او ساتنه په مختلفو لاسونو کې وى، هرومرو به د ارادو اختلاف په ټکر او تصادم منتج کېدو او د دنيا نظم به متلاشي کېدو. د زمکې او آسمان تر منځ يووالى او هم جهتې دا ثابتوي چې د دواړو الله يو دئ.

هُوَ ٱلۡحَيُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۗ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٦٥﴾ قُلۡ إِنِّي نُهِيتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَمَّا جَآءَنِيَ ٱلۡبَيِّنَٰتُ مِن رَّبِّي وَأُمِرۡتُ أَنۡ أُسۡلِمَ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٦٦﴾

دى همغه ژوندى ذات دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، نو په داسې حال کې ئې دربله چې (خپل) ديانت ورته سوچه کوونکى يې، ستايني ټولې د عالمونو پالونکي الله ته دي، ووايه: له کله چې زما د رب له لوري څرگند آيتونه راته راغلي زه له دې منع کړى شوى يم چې هغه ولمانځم چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ؛ او پر دې گمارل شوى يم چې د عالمونو پالونکي ته منقاد اوسم.

(٦٥-٦٦)- په دې مبارك آيت کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته څو لارښووني شوې:

- الله تعالى هغه ژوندى ذات دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، نو په داسې حال کې ئې دربله چې خپل ديانت دي ورته سوچه کړى وي، ستايني ټولې د عالمونو پالونکي الله ته دي.
- خپلو مخاطبينو ته ووايه: له هغې ورځې چې ما ته زما د رب له لوري څرگند آيتونه راغلي زه له دې منع کړى شوى يم چې له الله تعالى پرته هغه معبودان ولمانځم چې تاسو ئې لمانځئ؛ او پر دې گمارل شوى يم چې د ژوند په ټولو اوقاتو او ټولو چارو کې د عالمونو پالونکي رب ته منقاد اوسم.

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ يُخۡرِجُكُمۡ

طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡ ثُمَّ لِتَكُونُواْ شُيُوخٗاۚ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبۡلُۖ
وَلِتَبۡلُغُوٓاْ أَجَلٗا مُّسَمّٗى وَلَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿٦٧﴾ هُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَإِذَا
قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾

دی هغه ذات دئ چې تاسو ئې له خاورې پيدا کړئ، بيا ئې له نطفې، بيا ئې له علقې، بيا تاسو د ماشوم په توګه راباسي، بيا (ستاسو روزنه کوي) تر هغه چې خپل پياوړتيا او قوت ته ورسئ، بيا تر هغه چې زاړه شئ، له تاسو ځيني تر دې وړاندې وفات کړی شي؛ او چې ټاکلي اجل ته ورسئ او ښايي تعقل وکړئ. دی همغه ذات دئ چې ژوند ورکوي او مړول کوي (وژني)؛ او کله چې د کوم کار پرېکړه وکړي نو فقط ورته وايي: وشه، نو کېږي.

(٦٧)- پدې مبارکو آيتونو کې دا لارښووني زموږ پام ځانته اړوي:

- الله جل شأنه د انسان پيداښت په لومړي سر کې له خاورې پيل کړ، اوس هم د ده نطفه له هغو شيانو راپيدا کوي چې له خاورو جوړېږي، له خاورو پيدا شوې غله او مېوه د انسان په وجود کې د ده په نطفې بدله کړي.
- دا نطفه وروزي، د مور په رحم پورې ځوړند شي، مزيد ئې ستر کړي او د مکمل ماشوم په بڼه کې ئې دنيا ته راوباسي، مزيد ئې وپالي او د پياوړتوب وروستي پړاو ته ئې ورسوي او له هغه ځايه ئې د ضعف پړاو پيل شي او بوډاتوب ته ورسېږي، ځيني په مخکينيو مراحلو کې ومري او ځيني تر ټاکل شوې نېټې ورسېږي.
- د کوم چا په اراده چې تاسو پيدا شوي يئ او د ژوند دا بېل بېل پړاوونه پلي کوئ، د مرګ ژوند پرېکړي همدغه ذات کوي.
- يوازې د يوه حکم په صادرولو سره د هر هغه کار د تر سره کېدو لړۍ پيل کېږي چې ده ئې د تر سره کېدو پرېکړه کړې.
- که د عقل خاوند پدې مقدمې کې تعقل وکړي په ډېرو حقائقو پوهېدی شي.
- څوك چې ژوند او مرګ طبيعت او طبيعی پيښو ته منسوبوي، ناپوه دئ او د بې بنسټه ګمان په اساس دا خبره کوي.

دا مبارك آيت زموږ دې پوښتنو ته ځواب وايي چې انسان څنګه پيدا شوی؟ څنګه پيدا کېږي؟ څوك ئې پيدا کوي؟ د پيدايښت لړۍ ئې څنګه پيل کېږي؟ له کومو کومو پړاوونو تېرېږي او په پای کې په کوم لوري درومي؟

الله تعالی همغه ذات دئ چې له مړې خاورې دانه او مېوه راشنه کوي او له هغه انسان ته داسې غذا جوړوي چې له مزاج سره ئې مطابقه ده او طبيعي اړتياوو ته ئې

ځواب ويوونكې، بيا د انسان په خوراك كې د زمكې له همدې مړو اجزاوو د انسان نطفه جوړوي او همدا وړه نطفه چې په سترګو نشي ليدل كېدی، د ليدلو لپاره ئې داسې سترو سترو ميكروسكوپونو ته اړ يو چې په مرسته ئې هر شی له خپل اصلي حجم په سلګونو ځله ستر ګورو، همدا نطفه له مختلفو مراحلو له تېرېدو وروسته د يوه بشپړ ماشوم په بڼې كې دنيا ته راولي، روزنه ئې كوي، ټولې اړتياوې ئې لومړی د مور په تي كې او بيا د دې عالم په غېږ كې ورته تهيه كوي، وده وركوي، د خپل قوت، ځوانۍ او كمال آخري حد او پړاو ته ئې رسوي، له هغه ځايه ئې زوال پيل شي، زړښت ته ورسېږي او په مرګ محكوم شي. د چا په اراده دا ټول تحولات، تغييرات او بدلونونه رامنځته كېږي؟ په داسې حال كې چې انسان دا د ټولو مخلوقاتو اشرف، اكرم او اعلم په خپله په خپل پيدايښت، مرګ او ژوند، د كمال په لوړي خوځښت، د زوال په لوري نزول او پرېوتو كې د داسې مقدراتو او ضوابطو په وړاندې مقهور او محكوم دئ چې له مخكې وضع شوي او د ده په طبيعت او پر ټول عالم حاكم او مسلط دي، د دغو حاكمو او قاهرو مقدراتو او مسلطو سننو تر شا د چا اراده حكومت كوي؟ آيا له دې پرته بل ځواب لرو چې دا هر څه د هغه الله تعالى د قدرت مظاهر دي چې د عالمونو خالق او رب دئ او له ده پرته بل معبود نشته؟!!

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ
بِٱلْكِتَٰبِ وَبِمَآ أَرْسَلْنَا بِهِۦ رُسُلَنَاۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٧٠﴾ إِذِ ٱلْأَغْلَٰلُ فِيٓ
أَعْنَٰقِهِمْ وَٱلسَّلَٰسِلُ يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾ فِي ٱلْحَمِيمِ ثُمَّ فِي ٱلنَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ
قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا بَل لَّمْ
نَكُن نَّدْعُواْ مِن قَبْلُ شَيْـًٔاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾ ذَٰلِكُم بِمَا
كُنتُمْ تَفْرَحُونَ فِي ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَمْرَحُونَ ﴿٧٥﴾ ٱدْخُلُوٓاْ أَبْوَٰبَ
جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٦﴾

آيا هغو ته دې پام نه دئ كړی چې د الله د آيتونو په اړه مجادله كوي؛ كوم لوري ته اړول كېږي؟!! هغه چې دا كتاب او هغه څه ئې تكذيب كړل چې خپل پيغمبران مو ورسره لېږلي، ژر به پوه شي، هغه مهال چې زولنې او زنځيرونه به ئې په غاړو كې وي، په تودو اوبو كې به راكښل كېږي، بيا به په اور كې سوزول كېږي، بيا به ورته وويل شي: هغه چېري دي چې تاسو له الله پرته پرې شرك كولو، وبه وايي: رانه ورك شوي،

بلکې موږ تر دې وړاندې کوم څه نه دئ لمانځلی، الله کافران همداسې بې لارې کوي، دا مو له دې کبله چې تاسو په زمکې کې په ناحقه خوښ خوښ کېدئ او له دې کبله چې فخر او کبر مو کولو، دوزخ ته ننوځئ په هغه کې تلپاتې، نو د کبرجنو مېشت ځی ځومره بد دئ.

(٦٩-٧٦)- په دې مبارکو آيتونو کې د هغو مشرکينو بده پايله انځور شوې چې د الله تعالی له آيتونو انکار کوي او د هغه الهي پيغام له منلو ډډه کوي چې پيغمبرانو دوی ته وړاندې کړی، د دوی مخالفت د حيرانتيا وړ ګڼي او فرمايي: آيا هغو ته دې پام نه دئ کړی چې د الله د آيتونو په اړه مجادله کوي؛ څه ئې دې مجادلې ته هڅوي او په کوم لورې درومي؟!! دا مجادله کوونکي هغه دي چې دا کتاب او هغه څه ئې تکذيب کړل چې خپل پيغمبران مو ورسره لېږلي، دوی به د دې مجادلې او تکذيب په بدو پايلو ډېر ژر پوه شي او په خپلو سترګو به ئې وګوري، هغه مهال چې زولنې او زنځيرونه به ئې په غاړو کې وي، په تودو اوبو کې به راکښل کېږي، بيا به په اور کې سوزول کېږي، بيا به ورته وويل شي: هغه چېرې دي چې تاسو له الله تعالی پرته لمانځل او دوی مو په الوهيت او ربوبيت کې د الله شريکان ګڼل، په ځواب کې به کله دا وايي چې رانه ورك شوي او په نظر نه راځي او کله به وايي: موږ تر دې وړاندې هيڅ څه نه دي لمانځلي، د دې وينا تعبير يا دا دئ چې موږ شرك نه دئ کړی او داسې معبودان مو نه دي لمانځلي؛ او يا دا چې موږ چې څه لمانځل هغه داسې وو لکه هيڅ، موږ د وهم په لومو کې نښتي وو، معبودان مو زموږ د ذهن زېږنده ول، نه د لمانځلو وړ ول او نه د الله تعالی ند او سيال، د کافرانو په اړه د الله تعالی سنت همدا دئ، په دنيا او آخرت کې له الهي لارښوونې محروم، دوی ځکه له دې تور او سپېره برخليك سره مخامخ کېږي چې کبرجن ول، تر نورو ئې ځان لوړ ګڼلو، په خپلو غلطو کړنو او تګلارو خوښ ول، دوی ته به وويل شي: دوزخ ته ننوځئ په هغه کې تلپاتې، همدا په دوزخ کې د تل لپاره پاته کېدا د دوی برخليك دئ، نو د کبرجنو مېشت ځی ځومره بد دئ!!

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا
يُرۡجَعُونَ ﴿٧٧﴾ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ مِنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُم
مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَۗ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ فَإِذَا جَآءَ
أَمۡرُ ٱللَّهِ قُضِيَ بِٱلۡحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴿٧٨﴾

نو صبر کوه چې د الله وعده رښتينې ده، يا به د هغه څه کومه برخه دروښيو چې له

دوی سره ئې ژمنه کوو، یا به تا وفات کړو نو زما په لوري به بېرته ستنول کېږي؛ او یقیناً چې تر تا وړاندې مو داسې پیغمبران ولېږل چې د ځینو قصې مو دراورولې او د ځینو قصې مو نه دي دراورولې؛ او هیڅ پیغمبر ته نه ښایي چې د الله له اذن پرته کومه څرګنده نښه (معجزه) راوړي، نو کله چې د الله امر راشي د حق مطابق پرېکړه به وشي او هغه مهال به باطلپال زیانمن شي.

(۷۷-۷۸)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې صبر کوه او مطمئن اوسه چې د الله تعالی وعده رښتینې ده، له تا او مؤمنانو سره هم او له کافرانو سره هم.
- له کافرانو سره د الهي وعدو مصداق به یا په خپلو سترګو وګورې او الله تعالی به ستا په ژوند کې هغه حالت راولي چې دوی له الهي عذاب سره مخامخ شي او یا ستا له وفات وروسته، دوی به حتماً ژر یا لږ وروسته د خپل کفر او بغاوت له دنیایي عذاب سره مخامخ کېږي او په پای کې به د الله تعالی په لور درومي او د خپل کفر اخروي سزا به ګوري. د ټولو بېرته ستنېدا د الله تعالی په لوري ده.
- الله تعالی تر تا وړاندې ګڼ شمېر پیغمبران لېږلي چې د ځینو قصې ئې دراورولې او د ځینو قصې ئې نه دي دراورولې. هیڅ پیغمبر ته نه ښایي چې خپلو مخاطبینو ته د الله له اذن پرته کومه څرګنده نښه او معجزه وړاندې کړي، د معجزې وړاندې کول نه د پیغمبر په خوښه وي او نه د دوی د مخاطبینو په وینا، دا پرېکړه یوازې د الله تعالی له لوري کېږي چې کوم پیغمبر کله او کومه معجزه وړاندې کړي.
- د الله تعالی هر امر او پرېکړه په خپل مناسب وخت کې وي او تر سره کېږي، کله چې د الله امر راشي نو د حق مطابق پرېکړه به وشي او هغه مهال به باطلپال زیانمن شي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمَ لِتَرْكَبُوا۟ مِنْهَا وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَلِتَبْلُغُوا۟ عَلَيْهَا حَاجَةً فِى صُدُورِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى ٱلْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٨٠﴾ وَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ فَأَىَّ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُنكِرُونَ ﴿٨١﴾

الله هغه ذات دئ چې څاروي ئې تاسو ته داسې جوړ کړي چې پر ځینو ئې سپاره شئ او ځیني ئې وخورئ؛ او په دوی کې تاسو ته ځیني ګټې دي او چې په دوی سره د خپلو زړونو کوم حاجت ته ورسېږئ؛ او تاسو پر دغو څارویو او پر کشتیو سپاره (حمل) کېږئ. او تاسو ته خپل آیتونه درښیي، نو له کومو الهي آیتونو انکار کوئ؟!

(۷۹-۸۱)- دلته د څارویو په پیدایښت کې د الله تعالی د قدرت او حکمت دغو مظاهرو ته

اشاره شوې: الله هغه ذات دئ چي څاروي ئې تاسو ته داسي جوړ کړي چي پر ځينو ئې سپاره شئ او ځيني ئې خورئ، ځيني ئې داسي جوړ کړي چي تاسو ته منقاد دي، د سورلۍ د وسيلې په توګه ترې کار اخلئ او ځيني ئې داسي چي تاسو ته ګڼ شمېر ګټور خوراکي توکي درکوي، غوښه، شيدې، مستې، کوچ، پوځه او نور درکوي، په دوی کي تاسو ته ګڼ شمېر نوري ګټي هم شته، له پوستکي، وړيو او هډوکو ئې استفاده کوئ، له سورلۍ ئې خوند اخلئ، داسي سيمو ته پرې رسېدلی شئ چي له بلي وسيلې په استفادې سره هلته رسېدل درته ممکن نه دي، لکه څنګه چي پر دغو څارويو له يوې سيمي بلي ته وړل کېږئ همداسي پر کشتيو سپاره حمل کېږئ. دا ټول د الله تعالی د قدرت او حکمت نښې او مظاهر دي، هر يو ئې د حال په ژبه تاسو ته په واضح توګه وايي: موږ ستاسو رب پيدا کړي يو، نو له کومو الهي آيتونو انکار کوئ؟!

أَفَلَمْ يَسِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْۚ كَانُوٓاْ
أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِي ٱلْأَرْضِ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُواْ
يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَرِحُواْ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ
وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٨٣﴾ فَلَمَّا رَأَوْاْ بَأْسَنَا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ
وَحْدَهُۥ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِۦ مُشْرِكِينَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَٰنُهُمْ لَمَّا رَأَوْاْ
بَأْسَنَاۖ سُنَّتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدْ خَلَتْ فِي عِبَادِهِۦۖ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾

نو آيا په زمکي کي نه دي ګرځېدلي چي ليدلي ئې وی؛ د هغو پايله څنګه وه چي تر دوی وړاندي ول، تر دوی زيات ول؛ او د ځواك او په زمکي کي د آثارو له پلوه ډېر پياوړي، نو هغه څه له دوی دفعه کول ونه کړی شو چي دوی تر لاسه کول. او کله چي د دوی پيغمبرانو څرګندي نښي ورووړې په خپلي هغي پوهي ئې خوښي وکړه چي ورسره وه او هغه څه د دوی په اړه تر سره شول چي دوی ملنډي پرې وهلې، نو کله چي دوی زموږ عذاب وليد وئې ويل: پر يوازينی الله مو ايمان راوړ او له هغه څه انکار کوو چي په اړه ئې مشرکان شوي وو، نو کله چي زموږ عذاب وګوري داسي به نه وي چي ايمان به ئې ګټه وررسوي، دا هغه الهي سنت دئ چي په بندګانو کي ئې تېر شوی او هغه مهال به کافران زيان وکړي.

(۸۲-۸۵)- دا مبارك آيتونه د سورې د پای آيتونه دي او زموږ په وړاندي د ټولې سورې

خلاصه په دې توګه بړدي:

• آیا د حق دښمنان په زمکې کې نه دي ګرځېدلي چې د هغو پایله ئې په خپلو سترګو لیدلې وی چې تر دوی وړاندې ول؛ هغه چې هم د ځواك له پلوه تر دوی پیاوړي او ځواکمن ول او هم د آثارو او هغه څه له پلوه چې هغوی جوړ کړي او ترې پاتې شوي، خو د خپل کفر او انکار له کبله له داسې بدې پایلې سره مخامخ شوي چې د دوی امکاناتو او هر هغه څه چې په واك کې ئې وو هیڅ ګټه نه ده وررسولې او د الهي عذاب په وړاندې ئې د دوی مرسته نه ده کړې.

• کله چې مخکینیو کافرانو ته د دوی پیغمبرانو څرګندې نښې وروړې نو هغوی په خپلې هغې پوهې او علم مغرور شوي او هغه ئې غوره ګڼلې چې ورسره وو، هغه علم او پوهه چې په مټ ئې توانېدلي ول په صنعت او مدني چارو کې تر نورو وړاندې شي، زمکه آباده کړي او دنګې دنګې بنګلې جوړې کړي، د خپلو پیغمبرانو پر دې وینا ئې ملنډې وهلې چې د خپل کفر، شرك، فساد او ظلم له کبله به له الهي عذاب سره مخامخ شئ، په پای کې له همغه څه سره مخامخ شوي چې ملنډې ئې پرې وهلې.

• کله چې الهي عذاب خپل سیورې پر دوی غوړولی ویلي ئې دي: پر یوازینی الله مو ایمان راوړ او له هغو معبودانو منکر یو چې له الله تعالی سره مو شریکول.

• خو دا یو ثابت الهي سنت دئ چې د عذاب له لیدلو وروسته د چا ایمان ته هیڅ ارزښت نه ورکوي او داسې ایمان کافرانو ته کومه ګټه نه رسوي.

• دا هغه الهي سنت دئ چې تر دې وړاندې د ده په بندګانو کې په وار وار تېر شوی او هغه مهال کافرانو ته له زیان پرته بل څه په لاس نه ورځي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# فصلت

## د سورې پېژندنه:

دا مبارکه سوره په دوو معروفو نومونو یاده شوې: (فصلت) چې د سورې له درېیم آیت اخیستل شوی؛ او (حٰم السجده) چې (حم) ئې د سورې له پیل او (السجده) ئې له ۳۸ آیت اخیستل شوی، د التباس د مخنیوي لپاره غوره دا ده چې دا سوره د (فصلت) په نامه یاده شي ځکه د (السجده) په نامه بله سوره هم شته، د فصلت سوره ٥٤ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د دوهم آیت (الرحیم)؛ او د درېیم آیت (یعلمون) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په منځنیو

کلونو کې نازل شوي. په ځینو روایاتو کې راغلي چي دا سوره هغه مهال نازله شوې چي حمزه رضی الله عنه ایمان راوړی وو او عمر رضی الله عنه لا ایمان نه وو راوړی، محمد بن اسحاق د محمد بن کعب په حواله لیکي چي یو ځل د قریشو سرداران په مسجدالحرام کې راغونډ شوي وو، رسول الله صلی الله علیه و سلم هم په مسجدالحرام کې وو، دا هغه وخت وو چي حمزه رضی الله عنه ایمان راوړی وو او د مسلمانانو شمېر ورځ تر بلې زیاتېدو، د مسلمانانو زیاتېدا د قریشو سرداران مشوش کړي ول، عتبه بن ربیعه د قریشو نورو سردارانو ته وویل: ما ته اجازه راکړئ چي له محمد (علیه السلام) سره وګورم او څو وړاندیزونه ئې مخي ته کښېږدم، ښایي کوم یو به ئې ومني او موږ به هم ورسره توافق وکړو او په دې توګه به هغه زموږ له مخالفت لاس واخلي، ټولو ورسره توافق وکړ او عتبه د رسول الله صلی الله علیه و سلم خوا ته ورغی، کښېناست او وئې ویل: وراره! ته چي د خپل نسب او کورنۍ له پلوه په قوم کې کوم اعتبار لرې هغه تا ته ښه معلوم دئ، خو تا خپل قوم له ستر مصیبت سره مخامخ کړی، په ټولني کې دې اختلاف او تفرقه راولاړه کړې، ټول قوم ته د کمعقلو او ناپوهانو په سترګه ګورې، د قوم د دین او معبودانو سپکاوی کوې، داسي خبري کوې چي معنی ئې دا ده: زموږ ټول پلرونه او نیکونه کافران ول، زما خبري ته لږ ځیر شه، زه څو وړاندیزونه درته لرم، غور پرې وکړه، ښایي کوم یو به ئې قبول کړې، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ابوالولیده! ته ئې ووایه، زه ئې اورم، هغه وویل: وراره! کوم کار چي تا پیل کړی که له دې دې موخه د مال تر لاسه کول وي نو موږ ټول به په ګډه دومره څه درکړو چي تر موږ ټولو زیات شتمن شې، که مقصد دې لویي او مشري وي نو موږ ټول به تا خپل سالار او مشر وټاکو، ستا له حضور او موافقې پرته به هیڅ پرېکړه نه کوو، که پاچایي غواړې موږ به تا خپل پاچا وټاکو، که داسي پېریان دربادندي راځي چي ته ئې په خپله دفع کولی نشې نو موږ به ماهر طبیبان راوغواړو او د علاج ټول مصارف به په غاړه واخلو، عتبه دا خبري کولې او رسول الله صلی الله علیه و سلم په سړه سینه اورېدلې، د ده د خبرو په پای کې ئې وفرمایل: ابوالولیده! څه چي دې ویل غوښتل هغه دې وویل؟ هغه وویل: هو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: اوس زما خبري واوره، له دې وروسته ئې دغه سوره په بسم الله الرحمن الرحیم سره پیل کړه، عتبه دواړه لاسونه پر زمکه ایښي وو او په غور سره ئې غوږ نیولی وو، کله چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ۳۸ آیت ته ورسېدو سجده ئې وکړه او بیا ئې سر رااوچت کړ او وئې فرمایل: ابوالولیده! تا زما ځواب واورېدو اوس ته پوهېږې او کار دې، عتبه پورته شو او د قریشو د سردارانو غونډې ته روان شو، کله چي د هغه ملګرو له لرې ولید ځینو ئې وویل: په خدای قسم چي د عتبه څېره بدله شوې، دا هغه څېره نه ده چي تللو په وخت کې ئې وه، کله چي ورغی او کښېناست ورته وئې ویل: څه دې واورېدل؟ هغه وویل: په خدای قسم چي ما داسي کلام اورېدلی چي تر دې وړاندې مي هیڅکله نه وو اورېدلی، دا

نه شعر دئ، نه سحر او نه کهانت، اې د قريشو سردارانو! زما خبره ومنئ او دا سړی خپلې مخې ته پرېږدئ، زه گمان کوم چې دا کلام به حتماً رنگ راوړي، که چېرې عرب پر ده غالب شي نو تاسو به د خپل ورور په خلاف له څه کولو ژغورل شوي يئ او دا کار به د پرديو په لاس تر سره شوی وي؛ او که دی پر عربو غالب شي نو د ده پاچايي به ستاسو پاچايي وي او د ده عزتمني به ستاسو عزتمني وي. کله چې د قريشو سردارانو د ده خبرې واورېدې نو وئې ويل: اې د وليد پلاره! داسې معلومېږي چې بالآخره د ده جادو پرتا هم اغېز وکړ، عتبه وويل: ما خپله رأيه تاسو ته واوروله، اوس ستاسو خوښه چې منئ ئې که نه.

که د سورې مضامينو ته ځير شو نو وبه گورو چې په دوو اساسي موضوعاتو ترکيز کوي او همدا د سورې د بحث اصلي موضوعات دي، ترکيز ئې پر دې دئ چې د دې لارښود الهي کتاب لېږنه د الله تعالی له لوري ده، دا کتاب ځينو ته زړې ورکوي او ځيني له خپل بدو پايلو وېروي، هغه چې ايمان راوړي په دنيا او آخرت کې به د الله تعالی له پېرزوينو برخمن شي او هغه چې د کفر او انکار لار غوره کړي په دنيا او آخرت کې به په سپېره برخليك اخته شي.

د همدې اساسي موضوعاتو په ضمن که د توحيد او معاد يادونه هم شوې او په دې اړه مضبوط دلائل او زړه راښکونکې لارښووني شوې خو په داسې بڼې کې چې د قرآن د دوو اساسي مطالبو په توگه وړاندې شوي او د قرآن مخاطبينو ته ويل شوي: آيا تاسو له دې الهي کتاب سره له دې کبله مخالفت کوئ چې هغه مو پر الله تعالی او آخرت ايمان ته رابلي؟! پر هغه الله ايمان ته چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي، تاسو ئې پيدا کړي يئ، له آسمان او زمکې روزي درکوي!! آيا د قيامت په اړه شك لرئ او بياژوندون درته گران او محال برېښي، حال دا چې گورئ الله تعالی هره شېبه له مړې خاورې ژوې راپيدا کوي!!

د سورې په آخري آيت کې همدا دوه اساسي مطالب په اجمال او اختصار سره په دې توگه راغلي: أَلَآ إِنَّهُمۡ فِي مِرۡيَةٖ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمۡۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطُۢ ٥٤ : پام چې يقيناً دوی له خپل رب سره د ملاقات په اړه په شك کې دي، پام چې يقيناً هغه په هر څه محيط دئ. په دې مبارك آيت کې دوه اساسي مطالب ځلېږي:

- دغه کافران له خپل رب سره د ملاقات په اړه په شك کې دي، د قرآن له څرگندو آيتونو سره د دوی د مخالفت ستره وجه دا ده چې دوی د قيامت او له خپل رب سره د ملاقات په اړه شکمن دي، په دې اړه هيڅ علمي او عقلي دليل نه لري، مخالفت ئې له شك راولاړ شوی.
- الله تعالی په هر څه احاطه کړې، هيڅ څه د ده له واك او سيطرې بهر نه دي، دا کافران داسې څه په واك کې نه لري چې د الله تعالی له سلطې او ادارې بهر وي، نو مه د دوی د مخالفتونو پروا کوه او مه ئې له زر، زور او ځواك وېره او اندېښنه لره، له دوی

سره به همغه څه کېږي چې ستا رب ئې غواړي نه هغه څه چې دوی ئې په لټه کې دي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ۝١ تَنزِيلٞ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٢ كِتَٰبٞ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا
لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ۝٣ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ۝٤
وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٞ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ
حِجَابٞ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ۝٥

حاء میم، د ډېر زیات مهربان له لوري یوه لېږنه، داسي کتاب چې آیتونه ئې سپړل شوي، په عربي لوستل کېدونکی؛ د هغو وګړو لپاره چې پوهېږي، زېری ورکوونکی او ګواښونکی، نو اکثرو (ډېریو) ئې داسي ډډه وکړه چې نه اوري. او وئې ویل: زموږ زړونه د هغه څه په وړاندي په پردو کې دي چې ته مو وربلې او په غوږونو کې مو دروندوالی دئ او زموږ او ستا تر منځ ځانګړی حجاب دئ نو ته (خپل) کار کوه چې موږ ئې هم کوونکي یو.

(۱-۵)- د دې مبارکو آیتونو په اړه لاندي مطالب په پام کې ولرئ:

- لکه چې ګورئ دا سوره هم د (حاء) او (میم) په دوو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسي دئ لکه په همداسي دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: د دې لارښود الهي کتاب لېږنه د الله تعالی له لوري ده، دا کتاب ځینو ته زېری ورکوي او ځیني له خپل بدو پایلو وېروي، هغه چې ایمان راوړي په دنیا او آخرت کې به د الله تعالی له پېرزوینو برخمن شي او هغه چې د کفر او انکار لار غوره کړي په دنیا او آخرت کې به په سپېره برخلیك اخته شي.
- د دې مبارك کتاب لېږنه د هغه ذات له لوري ده چې رحمت ئې بې انتهاء دئ، دا کتاب د انسان په اړه د الله تعالی د پراخ رحمت نښه او مظهر دئ. آیتونه ئې څرګند او واضح دي، له ابهام او اغماض خوندي دي، هر څه ئې په بشپړ تفصیل سره بیان کړي، په عربي لوستل کېدونکی کتاب دئ، د هغو وګړو لپاره چې پوهېږي او په حقائقو د پوهېدو وړتیا او اهلیت لري، هم زېری ورکوونکی دئ او هم ګواښونکی.

- د قرآن په وړاندې د قريشو د اکثرو چلن داسې وو چې د هغه له منلو او اورېدلو ئې داسې ډډه وکړه لکه چې هغه ئې هيڅ نه وي اورېدلی، د حال او قال په ژبه ئې وويل: د دې قرآن وېناوې زموږ زړونو ته لار نه مومي، د هغه څه په وړاندې زموږ زړونه په پردو کې خوندي دي چې ته مو وربلې او په غوږونو کې مو درونډوالی دئ او زموږ او ستا تر منځ ځانګړی حجاب دئ؛ نو ته پوهېږې او خپل کار دې، موږ خپل کار ته پرېږده.

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَٱسْتَقِيمُوٓا۟ إِلَيْهِ
وَٱسْتَغْفِرُوهُ ۗ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ ﴿٦﴾ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ
كَٰفِرُونَ ﴿٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٨﴾

ووايه: يقيناً چې زه ستاسو په څېر يوازې يو بشر يم، دا وحي راته کېږي چې ستاسو معبود يوازينی معبود دئ؛ نو د ده لوري ته استقامت غوره کړئ او بخښنه ترې وغواړئ؛ او د مشرکينو پر حال افسوس، هغه چې زکات نه ورکوي او دوی د آخرت په اړه کافران دي، يقيناً هغه چې ايمان ئې راوړی او نېک عملونه ئې کړي دوی ته نه پرې کېدونکی اجر دئ.

(٦-٨)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې خپلو مخاطبينو ته ووايي: زه ستاسو په څېر يو انسان يم، دا وحي راته کېږي چې ستاسو معبود يوازينی معبود دئ، زه مو د دغه يوازيني معبود لوري ته بلم، هغه ته مخه کړئ، د ده لوري ته د تللو مستقيمه لار غوره کړئ، د خپلو تېرو ګناهونو بخښنه ترې وغواړئ، د مشرکينو پر حال افسوس، هغه چې شتمن دي خو زکات نه ورکوي او هغه چې په آخرت باور نه لري او همدغه بې باوري له ښېګڼو محروم کړي، خو هغه چې ايمان ئې راوړی او د همدې ايمان له کبله ئې نېک عملونه کړي، دوی به په دنيا او آخرت کې د خپل ايمان او نېکو عملونو بشپړه بدله په مسلسله توګه تر لاسه کوي.

قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَرْضَ فِى يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادًا ۚ
ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩﴾ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ مِن فَوْقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ
أَقْوَٰتَهَا فِىٓ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ ﴿١٠﴾ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ
فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ﴿١١﴾ فَقَضَىٰهُنَّ سَبْعَ

سَمَٰوَاتٍ فِي يَوۡمَيۡنِ وَأَوۡحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمۡرَهَاۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفۡظٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ۝١٢

ووایه: آیا تاسو د هغه ذات په اړه کفرکوئ چي زمکه ئې په دوو ورځو کې پیدا کړه او ده ته سیالان ټاکئ، همدا د عالمونو رب دئ؛ او په څلورو ورځو کې ئې په هغې کې له پاسه لنگرونه (غرونه) جوړ کړل، په هغې کې ئې برکت واچاوو؛ او په هغې کې ئې د غوښتونکو له حاجت سره سم روزي وټاکله، بیا ئې د آسمان لوري ته مخه کړه په داسي حال کې چي لوگی وو، نو هغه او زمکې ته ئې وویل: په خپله خوښه یا په نه زړه راوړاندي شئ، وئې ویل: په خپله خوښه راځو، نو هغه ئې په دوو ورځو کې اُوه آسمانونه کړل او په هر آسمان کې ئې د هغه اړوند چارو وحي وکړه؛ او نژدې آسمان مو په څراغونو (ستورو) سره ښایسته او خوندي کړ، همدا د پوه عزتمن رب ټاکنه ده.

(۹-۱۲)- په دې مبارکو آیتونو کې د قرآن د علمي اعجاز یوه بله ځلانده او انکار نه منونکې بېلگه زموږ په وړاندي ځلېږي، داسي بېلگه چي که ئې د هر عادل محقق او منصف ساینس پوه په وړاندي کښېږدو نو له دې پرته به د بل څه ویلو جسارت ونه کړي چي یقیناً دا قرآن د داسي ذات کتاب دئ چي د عالَم په ټولو اسرارو ښه پوه دئ، په داسي اسرارو چي انسان نن او په شلمي پېړۍ کې پرې پوه شو. راشئ د دې آیتونو په وړاندي لږ توقف وکړو او مطالبو ته ئې ځیر شو. دا آیتونه وایي:

رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه کوي چي خپلو مخاطبینو ته ووایي: آیا تاسو د هغه ذات په اړه کفرکوئ چي زمکه ئې په دوو ورځو کې پیدا کړه، آیا همدې ذات ته سیالان ټاکئ؟!! همدا د عالمونو پالونکی دئ، هغه ذات چي په زمکې کې ئې داسي غرونه پیدا کړل چي لنگرونو ته ورته دي، همغه کار کوي چي د کشتۍ په اړه ئې د هغې لنگرونه کوي، له برکتونو ئې ډکه کړه؛ او په څلورو ورځو کې ئې په هغې کې د ټولو هغو ژوو د ضرورت او اړتیا وړ رزق پیدا کړ چي د زمکې په غېږ کې ژوند کوي، د دوی د غوښتنو او اړتیاوو په تناسب، نه زیات نه کم، بلکې په ټاکلې اندازه، بیا د آسمان لوري ته متوجه شو په داسي حال کې چي هغه لوگی وو نو هغه او زمکې ته ئې وویل: په خوښه او ناخوښه راشئ، دواړو وویل: په خوښه راغلو، یعني دواړه د هغو ضوابطو په وړاندي په بشپړه توگه منقاد دي چي الله تعالی وضع کړي، همغه څه کوي چي الله تعالی پرې گمارلي، همغسي جوړ شوي چي الله تعالی غوښتل، هغوی ئې اُوه آسمانونه کړل، دا کار هم په همغو دوو ورځو کې بشپړ شو، په هر آسمان کې ئې د هغه د کار د څرنگوالي او تدبیر په اړه اوامر صادر کړل، د دنیا آسمان ئې د څراغونو په څېر رڼو ستورو سره ښایسته کړ او د حفاظت داسي انتظام ئې وکړ چي دا آسمان هم زموږ د زمکې لپاره یو محفوظ

چټ وي او هم ئې هر ستوری په خپل خپل ځای او مسير کې وساتو او د دوی تر منځ ئې د تصادم او ټکر مخه ونيوله. د زمکې او آسمانونو په دې پيدايښت او انتظام کې د داسې خالق، پالونکي او ساتونکي د پوهې او ځواکمنۍ مظاهر په څرګنده ګورو چې دا ټاکنه او تقدير د ده له لوري دئ.

په دې مبارکو آيتونو کې د دغو اساسي مطالبو شاهد يو:

- آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو (مراحلو) کې پيدا شوي.
- په دوو مرحلو کې آسمانونه او زمکه پيدا کړی شوي او په څلورو مرحلو کې د زمکې تسويه او برابرول بشپړ شوي. چې په دې کې يوه مرحله هغه ده چې د زمکې پر سر غرونه د لنګرونو په څېر پيدا کړی شول او په همدې سره ئې د زمکې لړزېدا تم کړه، بله ئې زمکې ته داسې جوړښت ورکول دي چې د برکت ټاټوبی ترې جوړ شو، هم ئې ژوي په کې راپيدا کړل او هم ئې د هغوی رزق او روزي، دومره چې د ټولو حاجت ته په صحيح او بشپړه توګه ځواب ووايي.
- ټول کائنات، آسمانونه او زمکه او څه چې د دوی تر منځ دي، تر لومړي پيدايښت وړاندې د لوګي په څېر ول.
- نژدې آسمان په ستورو ښايسته شوی او د هغه په غېږ کې ټول ستوري په خوندي او مصئون توګه ځای پر ځای شوي. دغو ستورو هم ښايست ورکړی او هم ئې خوندي کړی.
- په ټولو آسمانونو کې د يوه الله سنن او اوامر حاکم دي، چې د عالم هري برخي ته ولاړ شئ او د هغه ځای حاکم سنن او طبيعي ضوابط وڅېړئ نو وبه ګورئ چې په بشپړه توګه سره ورته دي او ښيي چې منشأ ئې يوه ده او وضع کوونکی ئې يو دئ، نه دوه او يا تر دې هم زيات.
- په زمکې کې د ټولو ژوو لپاره دومره رزق او روزي تعبيه شوې چې د ټولو حاجتونو ته ځواب وايي.

که د دغو مبارکو آيتونو اساسي مطالبو ته لږ ځير شئ نو وبه ګورئ چې فقره فقره ئې همغه څه وايي چې څېړونکي او ساينسپوهان اوس پرې پوه شوي.

دې ته مو پام وي چې په پورتنيو آيتونو کې ويل شوي چې زمکه ئې په دوو ورځو کې پيدا کړه او ورپسې ويل شوي چې په څلورو ورځو کې ئې هغه تسويه او برابره کړه؛ او ورپسې ويل شوي چې بيا ئې د آسمان لوري ته مخه کړه په داسې حال کې چې لوګی وو، نو هغه او زمکې ته ئې وويل: په خپله خوښه يا په نه زړه راوړاندې شئ، وئې ويل: په خپله خوښه راځو، نو هغه ئې په دوو ورځو کې اُوه آسمانونه کړل، د قرآن په نورو آيتونو کې د ټول عالم د پيدايښت موده شپږ ورځې ښودل شوې او دا ښيي چې د زمکې د پيدايښت لومړۍ دوه ورځې همغه دي چې په ترڅ کې ئې آسمانونه او زمکه پيدا شوي او اړوند جوړښتونه ئې په برخه شوي، دې ته مو هم پام وي چې قرآن د آسمانونو او زمکې

پيدايښت هممهال بولي او وايي چي دواړه سره نښتي ول او په يوه وخت سره بېل شوي، نو د دې معنى دا ده چي نه آسمان تر زمكي وړاندي پيدا شوى او نه زمكه تر آسمان وړاندي، دا بحث غلط او بې بنسټه دئ چي څوك د يوه پيدايښت تر بل وړاندي ګڼي، دواړه په يوه وخت پيدا شوي، البته د زمكي تسويه او برابرول د دواړو له يو ځايي پيدايښت وروسته پيل شوې او څلور بېل بېل پړاوونه پرې تېر شوي چي اوسنى حالت ئې غوره كړى.

نن ساينسپوهان وايي:

- په سر كې د عالم ټول اجرام سره نښتي ول او يوه متكاثفه كتله وه، دا كتله لوګي ته ورته وه، د يوه انفجار په ترڅ كې سره بېل شوي، ورو ورو د لوګي دغو جلا شوو كتلو مادي بڼه غوره كړې، د ملر په څېر ځيني ستر اجرام لا تر اوسه د لوګي په بڼې كې پاته شوي.
- د زمكي پر سر غرونه ډېر وروسته راپيدا شوي، د غرونو تر پيدا كېدو وړاندي زمكه ډېره خوځېدله، بهرنى ډېرين قشر او پوټكى ئې په پر له پسې توګه ماتېدو او د همدې ماتېدلو له كبله زلزلې راتلې، خو د همدغو غرونو له پيدايښت وروسته دا خوځښت او زلزلې راكمي شوې او زمكي اوسنى حالت غوره كړ.
- په دغو غرونو سره نه يوازي د زمكي هغه پر له پسې خوځښت او زلزلې متوقف شوې بلكي په زمكي كې داسي شرائط برابر شول چي بېلي بېلي سيمي ئې د بېلو بېلو ژوو د پيدايښت لپاره جوګه شي، په زمكي كې د ژوو او د دوى د رزق او روزي د پيدايښت لړۍ له دې وروسته پيل شوه.

او دا ټول هغه څه دي چي قرآن په دغو او نورو آيتونو كې څوارلس پېړۍ وړاندي ويلي!!

---

فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَقُلۡ أَنذَرۡتُكُمۡ صَٰعِقَةٗ مِّثۡلَ صَٰعِقَةِ عَادٖ وَثَمُودَ ١٣ إِذۡ جَآءَتۡهُمُ
ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ قَالُواْ لَوۡ شَآءَ رَبُّنَا
لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةٗ فَإِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ١٤ فَأَمَّا عَادٞ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي
ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ
هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ١٥ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا
فِيٓ أَيَّامٖ نَّحِسَاتٖ لِّنُذِيقَهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ

أَخۡزَىٰۖ وَهُمۡ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾ وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيۡنَٰهُمۡ فَٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡعَمَىٰ عَلَى ٱلۡهُدَىٰ فَأَخَذَتۡهُمۡ صَٰعِقَةُ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡهُونِ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿١٧﴾ وَنَجَّيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿١٨﴾

خو كه دوى اعراض وكړ نو ورته ووايه: په يوه تندر مو وېروم؛ د عاد او ثمود تندر ته ورته، هغه مهال چې پيغمبران ترې وړاندې او ترې وروسته ورغلل چې له الله پرته بل څه مه لمانځئ، وئې ويل: كه زموږ رب غوښتى نو حتماً به ئې ملائكې رالېږلې وې، نو موږ په هغه څه كافران يو چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ؛ او عاد خو په ناحقه په زمكې كې لويي غوښتنه او جاه طلبي وكړه او وئې ويل: څوك به تر مونږ د قوت له پلوه ډېر پياوړى وي؟ آيا دې ته ئې پام ونه كړ چې هغه الله تر دوى ډېر قوي دئ چې دوى ئې پيدا كړي او زمونږ له آيتونو ئې انكار كاوو. نو په سپېرو ورځو كې مو تونده سيلۍ پرې راوستله، چې په دنيايي ژوند كې سپك عذاب وروڅكو؛ او د آخرت عذاب خو هرومرو ډېر سپكوونكى دئ، په داسې حال كې چې مرسته به ئې نه كېږي؛ او ثموديان داسې ول چې د دوى لارښوونه مو وكړه خو ړوندوالى ئې تر هدايت غوره وګڼلو، نو د هغه څه له كبله د سپكوونكي عذاب تندر ونيول چې دوى تر لاسه كول؛ او هغه مو وژغورل چې ايمان ئې راوړى وو او ځان ساتنه ئې كوله.

---

(۱۳-۱۸)- په دې مباركو آيتونو كې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې د قريشو د اعراض او مخالفت په صورت كې هغوى ته ووايي: له داسې سخت الهي عذاب مو وېروم چې عاد او ثمود پرې اخته شول، پر هغوى راپرېوتې تندر ته ورته تندر، هغه مهال چې ګڼ شمېر پيغمبران ورغلل، تر هر يوه ئې وړاندې هم پيغمبر راغلى وو او ترې وروسته هم، د ټولو وينا دا وه: له الله تعالى پرته بل څه مه لمانځئ، هغوى ځواب وركړ: كه زموږ رب غوښتى چې كوم پيغمبر راولېږي نو حتماً به ئې ملائكې رالېږلې وې، تاسو خو زموږ په څېر انسانان يئ، موږ تاسو او ستاسو رسالت او هغه پيغام چې الله تعالى ته ئې منسوبوئ نه منو، عاديانو په ناحقه په زمكې كې كبر او جاه طلبي وكړه، ځان تر ټولو ځواكمن ورته وبرېښېدو او وئې ويل: څوك به تر مونږ د قوت له پلوه ډېر پياوړى وي؟ دې ته ئې پام نه وو چې هغه الله تعالى تر دوى ډېر قوي دئ چې دوى ئې پيدا كړي. پر دې سربېره ئې د الله تعالى له آيتونو انكار كاوو. د دې كفر، كبر او له خپل پيغمبر او د هغه له رسالت سره د مخالفت له كبله له سپېرو ورځو سره مخامخ شول، تونده سيلۍ پرې راغله، وركاوى او سپكاوى ئې په برخه شو، د آخرت عذاب به تر دې هم هرومرو ډېر سپكوونكى وي، داسې څوك به نه مومي چې د دوى مرسته وكړي!! ثموديانو ته مو لارښوونه

وکړه خو هغوی ړوندوالی تر هدایت غوره وګڼلو، نو د خپلو بدو کړنو له کبله د سپکوونکي عذاب تندر ونیول؛ او الله تعالی هغه وګړي وژغورل چي ایمان ئې راوړی وو او د تقوی او له ګناه او بغاوت د ځان ساتني لار ئې غوره کړې وه.

قریش دي پر خپل زور ځواك نه مغروربږي، که عادیان او ثمودیان له خپل هغه مادي پرمختګ، برلاسی، ترقي، تمدن، قوت او ځواکمنی چې هیڅا ورسره سیالي نه شوی کولی، ځان تر ټولو پیاوړی او ځواکمن برېښېدو؛ د فساد، طغیان، ظلم او له پیغمبرانو علیهم السلام سره د مخالفت له کبله له هغه دردناك برخلیك سره مخامخ شول او د ټولو متمدنو ظالمانو او ستمګرانو لپاره د عبرت وسیله شول، اوسني ستمګران باید د دغه قوم د بد برخلیك په هینداره کې خپل برخلیك او راتلونکې وګوري، د دوی د ظلم توره شپه به هم پای ته رسي او الهي عذاب به ئې رانیسي.

وَيَوۡمَ يُحۡشَرُ أَعۡدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ فَهُمۡ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ
عَلَيۡهِمۡ سَمۡعُهُمۡ وَأَبۡصَٰرُهُمۡ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٠﴾ وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمۡ
لِمَ شَهِدتُّمۡ عَلَيۡنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ شَيۡءٖۚ وَهُوَ خَلَقَكُمۡ أَوَّلَ
مَرَّةٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَتِرُونَ أَن يَشۡهَدَ عَلَيۡكُمۡ سَمۡعُكُمۡ
وَلَآ أَبۡصَٰرُكُمۡ وَلَا جُلُودُكُمۡ وَلَٰكِن ظَنَنتُمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَا يَعۡلَمُ كَثِيرٗا مِّمَّا
تَعۡمَلُونَ ﴿٢٢﴾ وَذَٰلِكُمۡ ظَنُّكُمُ ٱلَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمۡ أَرۡدَىٰكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم
مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن يَصۡبِرُواْ فَٱلنَّارُ مَثۡوٗى لَّهُمۡۖ وَإِن يَسۡتَعۡتِبُواْ فَمَا هُم مِّنَ
ٱلۡمُعۡتَبِينَ ﴿٢٤﴾

او هغه ورځ چي د الله غلیمان به د اور لوري ته ورغونډ کړی شي، په داسي حال کې چي دوی به ډلي ډلي کړی شوي وي، تر هغه چي (اور ته نژدې) ورشي، غوږونه، سترګي او پوستکي به ئې په هغه څه شهادت ورکوي چي دوی کول. او خپلو پوستکو ته به وایي: ولي زموږ په ضد شهادت ورکوئ؟ ورته وایي به: هغه الله په خبرو راوستي یو چي هر څه ئې په خبرو راوستي او هغه په اول ځل پیدا کړئ او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ. او تاسو چي (خپلې کړني) پټولې (داسي مو انګېرله چي نه به) ستاسو غوږونه درباندي ګواهي ورکوي، نه ستاسو سترګي او نه ستاسو پوستکي، خو دا ګمان مو کړی وو چي الله په ډېرو هغو کارونو نه پوهېږي چي تاسو ئې کوئ.

همدا ستاسو هغه ګمان وو چې د خپل رب په اړه مو ګمان کولو، تباه ئې کړئ او له زيانمنو شوئ، نو كه صبر وكړي استوګنځی ئې اور دئ او كه عفو وغواړي نو په عفو شوو كې به شامل نشي.

(١٩-٢٤)- د دې مباركو آيتونو لارښوونې دا دي:

- د قيامت په ورځ به د الله تعالى دښمنان د اور لورې ته غونډ كړى شي، په داسي حال كې چې دوى به ډلې ډلې د اور په لوري وخوځول شي، تر هغه چې اور ته نژدې ورشي، غوږونه، سترګې او پوستكې به ئې په هغه څه شهادت وركوي چې دوى كول. دوى به خپلو پوستكو ته وايي: ولې زموږ په ضد شهادت وركوئ؟ ځواب به وركړي: هغه الله په خبرو راوستي يو چې هر څه ئې په خبرو راوستي او هغه په اول ځل پيدا كړئ او د هغه لوري ته وركرځول كېږئ.
- دوى ته به وويل شي: په دنيا كې چې كله تاسو په پټه ګناهونه كول داسي مو انګېرله چې نه به ستاسو غوږونه درباندې ګواهي وركوي، نه ستاسو سترګې او نه ستاسو پوستكې، هغه مهال مو ګمان نه كولو چې ستاسو د بدن غړي به ستاسو په كړنو ګواهي وركوي، د الله تعالى په اړه ستاسو انګېرنه داسي وه چې ګواكې هغه ستاسو په پټو كارونو نه پوهېږي. د الله تعالى په اړه دغه غلط ګمان د ګناه جرأت دركړ، تباه ئې كړئ او له زيانمنو شوئ.
- هغه مهال به د دوى حالت داسي وي چې كه صبر وكړي يا نه استوګنځى به ئې اور وي او كه عفو وغواړي نو په عفو شوو كې به شامل نشي.

دا مبارك آيت ښيي چې د انسان د بدن غړي د پوستكي په شمول د انسان ټولې كړنې ګوري، په يوه ډول ئې ثبتوي او د قيامت په ورځ به د انسان په اړه ګواهي وركوي، په كار ده د دې مطلب په وړاندې لږ توقف وكړو، ما ته ووايئ: ١٤٠٠ كاله وړاندې به د دې وينا په اړه د مخالفينو عكس العمل څنګه وو چې د انسان پوستكى به د انسان په خلاف ګواهي وركوي)؟ آيا په دې خبري به ئې په خپلو كې ډېر ډېر نه وي خندلي او په ټوكو ټوكو به يوه بل ته نه وي ويلي چې دا دئ محمد (عليه السلام) دا ادعا هم وكړه چې دا بې ژبې پوستكى به په خبرو راشي او د انسان په ښه او بد عمل به شهادت وركوي؟!! خو راشئ د قرآن دا وينا نن يوه داسي ساينس پوه ته وكړئ چې د علمي څېړنو په نتيجه كې دا ورته معلومه شوې چې نه يوازې د انسان پوستكى بلكې د زمكې سطح او فضاء د انسان هر هر غړ او هر هر حركت ثبتوي، هغه ساينس پوه چې نن په ډېر قاطعيت سره وايي: د انسان د غږ او خوځښت څپې د زمكې په سطح او فضاء كې داسي ثبت كېږي چې د تل لپاره دوام كوي او زرګونه كاله وروسته هم كولى شو دا امواج او اثرات په پرمختللو وسائلو كشف او تر لاسه كړو. كه دغه ساينس پوه ته ووايئ چې قرآن څوارلس پېړۍ مخكې دا خبره كړې، عكسل العمل به ئې څه وي؟ آيا كېدى شي له دې پرته بل څه ووايي چې قرآن حتماً له داسي مرجع راغلى چې په ټولو اسرارو پوه دئ؟

وَقَيَّضۡنَا لَهُمۡ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُواْ لَهُم مَّا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَحَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ٢٥

او داسي همځنګ مو ورته ټاکلي چي دوی ته ئې هغه څه ښايسته کړي چي د دوی په وړاندي دي او د دوی تر شا دي او د دوی په اړه دا وينا د پېريانو او انسانانو په هغو ډلو کي محققه شوې چي تر دوی وړاندي تېر شوي، يقيناً چي دوی زيانمن دي.

(۲۵)- په دې مبارك آيت كي د الله تعالی دا سنت انځور شوی چي بد انسان ته بد ملګري ورپه برخه کوي، دا بد ملګري ئې غولوي، بد افکار او بد اعمال ئې ورته ښايسته کوي، ماضي او مستقبل ئې داسي ورته انځوروي چي ښکلی او ښايسته ورته وبرېښي، څومره چي په شيطاني لارو کي وړاندي درومي همدومره به ئې په شيطانت او شرارت کي ماهر ملګري په برخه کېږي، د بدکارانو له اسلافو سره همداسي شوي، که دا پيريان ول او که انسانان، د دوی ټولو په اړه د الله تعالی پرېکړه دا ده چي هم به په دنيا کي زيانمن وي او هم په آخرت کي.

دلته ويل شوي چي د دوی په اړه دا وينا محققه شوه، د دې وينا په تعبير کي د درنو مفسرينو تر منځ د اختلاف شاهد يو، غوره تعبير دا دئ چي دلته په (القول) سره همدا مخکيني قول (وَقَيَّضۡنَا لَهُمۡ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُواْ لَهُم مَّا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ) ته اشاره شوې، يعني همدا الهي وينا او سنت د دوی په اسلافو کي هم محقق شوی.

دې ته مو بايد پام وي چي د دې الهي سنت معنی دا ده چي تل به بد انسان د بد انسان په څنګ کي مومئ، د بد انسان (قرناء: نژدې ملګري) او مشاورين به د دوی په څېر وي او غلط کارونه به ورته ښايسته کوي، دا وينا ناسمه او د دې الهي سنت خلاف ده چي د چا په اړه وويل شي: په خپله ښه سړی دئ خو ملګري او مشاورين ئې بد انسانان دي!! حقيقت دا دئ چي بد مشاورين د بد انسان خوا کي راغونډېږي.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسۡمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَغۡلِبُونَ ٢٦ فَلَنُذِيقَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَذَابٗا شَدِيدٗا وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢٧ ذَٰلِكَ جَزَآءُ أَعۡدَآءِ ٱللَّهِ ٱلنَّارُۖ لَهُمۡ فِيهَا دَارُ ٱلۡخُلۡدِ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ

بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴿٢٨﴾

او هغو چې كفر ئې كړى وويل: دې قرآن ته غوږ مه ږدئ او په هغه كې غوغا جوړه كړئ چې غالب شئ، نو حتماً به هغو ته كلك عذاب وروڅكو چې كفر ئې كړى او هرومرو به د دغه ډېر بد عمل سزا وركړو چې دوى كولو، همدا اور د الله د دښمنانو سزا ده، په هغه كې دوى ته د تلپاته كېدو كور دئ، د هغه څه سزا چې دوى زموږ د آيتونو په اړه انكار كولو.

(٢٦-٢٨)- په دې مباركو آيتونو كې ويل شوي:

- د قرآن مخالفو كافرانو وويل: دې قرآن ته غوږ مه ږدئ، كله چې هغه د رسول الله صلى الله عليه و سلم له لوري خلكو ته اورول كېږي نو شور او غوغا جوړوئ چې غالب شئ، دوى د قرآن پراخ او ژور اغېز په خپلو سترگو ليدلو، پوهېدل چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د مقابلې تر ټولو مؤثره طريقه دا ده چې پرې نږدو د قرآن پيغام خلكو ته ورسېږي، دا د اسلام په ضد يوازې د قريشو د مشركو سردارانو اسلوب نه وو؛ تل او د تاريخ په هر پړاو كې به د حق دښمنان همدا كار كوي، د هڅو محور به ئې دا وي چې د قرآن زړه راښكونكى او اغېزمن پيغام خلكو ته ونه رسېږي.
- الله تعالى پرېكړه كړې چې داسې كافرانو ته به حتماً كلك او شديد عذاب ورڅكې؛ او هرومرو به د دغه ډېر بد عمل سزا وركوي، دوى د خداى دښمنان دي او مناسبه سزا ئې د دوزخ اور دئ، همدا اور به ئې تلپاته استوګنځى وي، دا له الهي آيتونو د انكار سزا ده.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ رَبَّنَآ أَرِنَا ٱلَّذَيۡنِ أَضَلَّانَا مِنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ نَجۡعَلۡهُمَا تَحۡتَ أَقۡدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ ٱلۡأَسۡفَلِينَ ﴿٢٩﴾

او هغو چې كفر ئې كړى وويل: اې زموږ ربه! د پېريانو او انسانانو هغه دوه راوښيه چې موږ ئې بې لارې كړو چې تر خپلو پښو ئې لاندې كړو، چې له لاندينيو (ذليلو) شي.

(٢٩)- دلته په دوزخ كې د هغو دوزخيانو وينا راغلې چې خپلو مشرانو غولولي او دوزخ ته ئې رسولي، الله تعالى ته به سوال كوي چې د پېريانو او انسانانو هغه كسان وروښيې چې دوى ئې بې لارې كړل او په دوزخ كې ئې وغورځول، دا به غواړي چې تر خپلو پښو ئې داسې لاندې كړي چې ډېر سپك شي او تر ټولو لاندې پرېوځي. دا همغه مذهبي او سياسي مشران دي چې دوى به په دنيا كې د درنو او سپېڅلو ذواتو په سترگه ورته كتل، د هغوى په متابعت كې ئې د خپلو معبودانو رضاء لټوله او دا طمع ئې درلوده چې د دوى په

ملګرتيا او متابعت کې به د دنيا عزت او د آخرت سعادت تر لاسه کړي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾ نُزُلٗا مِّنۡ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ﴿٣٢﴾

يقيناً هغه چې وئې ويل: زموږ رب الله دئ؛ بيا ئې استقامت وکړ، فرشتې به پرې نازلېږي (له دې وينا سره) چې مه وېره کوئ او مه غمجن کېږئ او د هغه جنت په زېري سره خوښ اوسئ چې وعده ئې درکول کېدله، موږ هم د دنيا په ژوند کې ستاسو دوستان يو او هم په آخرت کې؛ او تاسو ته په دې کې هر هغه څه شته چې ستاسو زړه ئې غواړي او هر هغه څه چې تاسو ئې غوښتنه وکړئ، يوه مېلمستيا د ډېر مهربان بخښونکي له لوري.

(۳۰-۳۲)- د هغو په مقابل کې چې ملګري او مشاورين ئې جني او انسي شيطانان دي او بد کارونه ئې ورته ښايسته کوي؛ مؤمنان او هغه چې وايي: زموږ رب الله دئ او په همدې باور او اعتقاد او غوښتنو ئې ثابت او ټينګ پاته کېږي؛ داسي معرفي شوي چې فرشتې به پرې نازلېږي او دوی ته به وايي: مه وېره کوئ او مه غمجن کېږئ او د هغه جنت په زېري سره خوښ اوسئ چې وعده ئې درکول کېدله، موږ هم دلته په دنيا کې ستاسو دوستان يو او هم په آخرت کې، که په دنيا کې له آزموينو،کړاوونو او محروميتونو سره مخامخ شوئ پروا ئې مه کوئ، الله تعالی به ئې په بدل کې هغه جنت درکړي چې په هغه کې به تاسو ته هر هغه څه وي چې ستاسو زړه ئې غواړي او هر هغه څه چې تاسو ئې غوښتنه وکړئ، يوه داسي مېلمستيا چې د ډېر مهربان بخښونکي رب له لوري به وي!!

دلته پوښتنه راولاړېږي چې دا فرشتې څنګه او په کومي بڼي کې پر مؤمنانو نازلېږي؟ ځواب ئې دا دئ: همغسي لکه چې شيطانان بدو انسانانو ته ورځي او هغوی وسوسه کوي، فرشتې مؤمنانو ته ورځي او دغه ويناوي ورته تلقينوي چې په مخکينيو آيتونو کې راغلې.

وَمَنۡ أَحۡسَنُ قَوۡلٗا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا تَسۡتَوِي ٱلۡحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُۚ ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِي بَيۡنَكَ

وَبَيْنَهُۥ عَدَٰوَةٌ كَأَنَّهُۥ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ
إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٣٥﴾ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ
هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٦﴾

او تر هغه چا به څوك د وينا له پلوه ډېر غوره وي چې د الله لوري ته ئې بلنه ورکړه، نېك عمل ئې وکړ او وئې ويل: زه په يقيني توگه د مسلمانانو له ډلې يم، په داسې حال کې چې نه ښېگڼې سره برابرېدی شي او نه بدي، په هغه څه سره ئې دفع کوه چې تر ټولو غوره وي، ناڅاپه به (وگورې) هغه چې ستا او د هغه تر منځ کومه دښمني وه داسې شوی لکه کوم خواخوږی دوست؛ او دا له هغو پرته چې صبر ئې کړی د بل چا نه په برخه کېږي او دا له هغه پرته چې ستر بختور وي د بل چا نه په برخه کېږي؛ او که د شيطان له لوري کومه وسوسه او هڅونه درورسېږي نو په الله سره پناه غواړه، يقيناً چې هغه پوه اورېدونکی دئ.

---

(۳۳-۳۶)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- د وينا له پلوه تر هغه چا غوره څوك نشته چې بلنه ئې د الله تعالی لوري ته وي، عمل ئې نېك وي او وايي: زه حق ته تسليم يم او د خپل رب اوامرو ته غاړه ږدم. او له دې معلومېږي چې د الله تعالی لوري ته د دعوت مقام او ارزښت څومره لوړ دئ، هيڅ څه ورسره برابري نشي کولی.
- نه ښېگڼې په خپلو کې سره برابرېدی شي او نه بدي؛ او نه ښېگڼه او بدې سره برابري دي، د ارزښت له پلوه هم او د اجر او پايلې له پلوه هم.
- د بدې ځواب په بدې سره مه ورکوه، بدي په هغه څه سره دفع کوه چې تر ټولو غوره وي، که دا کار وکړې نو وبه گورې چې هغه څوك ستا خواخوږی دوست گرځېدلی چې ستا او د هغه تر منځ کومه دښمني وه.
- دا په ښېگڼو سره د بديو دفع کول هغه صفت دئ چې له هغو پرته د بل چا نه په برخه کېږي چې صبر ئې کړی؛ او دا د صبر خصلت له هغه چا پرته د بل چا نه په برخه کېږي چې ستر بختور وي، يعني په چا کې چې د صبر ماده ځواکمنه شوې وي، په وار وار له ستونزو سره مخامخ شوی وي خو خپل همت ئې له لاسه نه وي ورکړی، د صبر لمن ئې کلکه نيولې وي او د صبر د زيات مشق په نتيجه کې يو همتناك او صبور انسان ترې جوړ شوی وي هغه دا سعادت تر لاسه کولی شي چې بدي په نېکۍ سره ځواب کړي؛ او دا د صبر مَلَکه او خصلت يوازې د ستر بختور انسان په برخه کېدی شي.
- که کله د شيطان له لوري کومه وسوسه او هڅونه درورسېږي، د مخاطب د بد سلوك

په وړاندې ستا احساسات تحريك شول، شيطان په خپلو شيطاني هڅونو او وسوسو سره وهڅولې چې بالمثله چلن ورسره وكړې نو الله تعالى ته پناه يوسه، مرسته ترې وغواړه چې له بدخويي او بدسلوكۍ دې وساتي، مطمئن اوسه چې الله تعالى پوه اوربدونكى دئ، ستا او مخاطب له حال خبر دئ او ستا دعاء اوري.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيْلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا۟ لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿٣٧﴾ فَإِنِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فَٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُۥ بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُونَ ۩ ﴿٣٨﴾

او د ده له آيتونو دا شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ دي، مه لمر ته سجده كوئ او مه سپوږمۍ ته، هغه الله ته سجده وكړئ چې دوى ئې پنځولي كه يوازې دى لمانځئ؛ او كه د لويي په لټه كې شول نو هغه چې ستا د رب خوا ته دي شپه او ورځ د ده تسبيح وايي په داسې حال كې چې نه ستومانه كېږي.

(٣٧-٣٨)- په دې مباركو آيتونو سره موږ ته دا لارښوونې شوې:

- دا شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ د الله تعالى د قدرت نښې او آيتونو دي.
- مه لمر ته سجده كوئ او مه سپوږمۍ ته او مه دوى ته ورته نورو مخلوقاتو ته، هغه الله ته سجده وكړئ چې دوى ئې پنځولي، كه غواړئ چې يوازې الله تعالى ولمانځئ، يعني د توحيد لومړنۍ او اساسي تقاضا دا ده چې له الله تعالى پرته هيچا ته سر ټيټ نه كړو او تندى پر زمكه كښېنږدو.
- كه ستا مخاطبينو د الله تعالى له عبادت او لمانځنې ډډه وكړه او ځان ئې تر دې ستر وگڼلو چې د خپل رب په وړاندې سر ټيټ كړي او سجده وكړي او د لويي په لټه كې شول نو پروا ئې مه كوه، هغه چې ستا د رب خوا ته دي، هغه فرشتې چې د عالم چارې سمبالوي، دوى شپه او ورځ د ده تسبيح وايي په داسې حال كې چې نه ستومانه كېږي. يعني دوى ټول همغه څه كوي چې ته ئې كوې، ستا په څېر الله تعالى لمانځي، نو ته ځان يوازې مه گڼه، د مخالفينو ډېرښت او ظاهري زور ځواك ته په پام سره د ضعف او يوازيتوب احساس مه كوه، الله تعالى او فرشتې ئې ستا ملگري دي. په دې سره مؤمنانو ته دا لارښوونه هم شوې چې د خپل رب په عبادت كې بايد داسې وي لكه مقربې فرشتې چې هيڅكله د ستړيا او ستوماني احساس نه كوي، كه غواړئ د خپل رب تقرب تر لاسه كړئ نو مه په خپل تېر عبادت اكتفاء كوئ او مه د ستوماني احساس كوئ.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَآ ۗ أَفَمَن يُلْقَىٰ فِى ٱلنَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِىٓ ءَامِنًا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ ٱعْمَلُوا۟ مَا شِئْتُمْ ۖ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤٠﴾

او د ده له آيتونو يو دا دئ چي ته زمکه وچه سپېره ګورې خو کله چي اوبه پرې وورووو وخوځېږي او وده وکړي، يقيناً هغه چي زمکه ژوندۍ کوي حتماً د مړو ژوندي کوونکی دئ، يقيناً چي هغه پر هر څه توانمن دئ، يقيناً هغه چي زما د آيتونو په اړه کږېږي پر موږ پټ نه پاتي کېږي، نو آيا هغه چي په اور کي اچول کېږي غوره دئ او که هغه چي د قيامت په ورځ به د خوندي په توګه راشي، څه چي غواړئ وئې کړئ، يقيناً چي دی د هغه څه ښه ليدونکی دئ چي تاسو ئې کوئ.

---

(٣٩-٤٠)- د الله تعالی د قدرت له څرګندو نښو يوه دا ده چي ته زمکه وچه سپېره ګورې، داسي چي د ژوند او حرکت هيڅ نښه نه په کي تر سترګو کېږي، خو کله چي باران پرې ووروي ناڅاپه وخوځېږي او وده وکړي او ډول ډول بوټي راوټوکوي، د چا په امر او اراده چي دا کار کېږي هغه الله تعالی دئ، څوک چي په يوه باران سره مړه زمکه ژوندۍ کوي هغه حتماً مړي هم راژوندي کولی شي؛ او هغه حتماً پر هر څه توانمن دئ. الله تعالی هغو کافرانو ته خبرداری ورکوي چي د الهي آيتونو په اړه د انحراف لار غوره کوي، غلط ئې تعبيروي، ناسم او ناصحيح مطلب ترې اخلي، د خپل کاږه ذهن او کچه سليقې مطابق ئې تأويلوي، دوی بايد پوه وي چي هڅي ئې له الله تعالی پټي نه پاتې کېږي، سزا ئې د دوزخ سرې لمبې دي، نو ورته ووايه: آيا هغه چي په اور کي اچول کېږي غوره دئ او که هغه چي د قيامت په ورځ به ئې امان په برخه شي، د دوزخ له لمبو به خوندي وي؟!! نو څه چي غواړئ هغه وکړئ، خو په دې بايد پوه وئ چي الله تعالی د هغه څه ښه ليدونکی دئ چي تاسو ئې کوئ.

---

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِٱلذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ ۖ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾ لَّا يَأْتِيهِ ٱلْبَٰطِلُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِۦ ۖ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴿٤٢﴾

يقيناً هغه چي د دې ذکر (پندناك قرآن) په اړه له هغه وروسته کفر کوي چي ورورواندي شي په داسي حال کي چي هغه له شك پرته عزتمن او دروند کتاب دئ، چي

باطل ئې نه مخې ته راتلی شي او نه ئې له شا، د ستايل شوي با حکمت له لوري يوه ځانګړې لېږنه.

(٤١-٤٢)- يعني هغه خلك چي له دې قرآن سره د مخالفت او عناد لار غوره کوي په داسي حال کې انکار او کفر ته ملا تړي چي قرآن له پند، نصيحت او ذکر ډکه لمن د دوی په وړاندي غوړوي؛ او په داسي حال کې چي ګوري قرآن له شك پرته عزتمن او درونډ کتاب دئ، داسي کتاب چي هره وينا ئې حق ده، هيڅوك په هغه کې د باطل شائبه نشي موندلی، که څوك وغواړي چي د قرآن کومه وينا، کومه لارښوونه او کوم حکم باطل او غلط ثابت کړي هيڅکله به بريالی نشي او خپل مقصد ته به ونه رسېږي، هيڅوك به د علمي څېړنو او تحقيقاتو په ترڅ کې داسي کوم حقيقت کشف نه کړي چي د قرآن له وينا سره تعارض ولري او د قرآن وينا ترديد کړي، څه ته چي قرآن حق ويلي هيڅوك به ئې باطل ثابت نه کړي او څه ته چي قرآن باطل ويلي هيڅوك به ئې حق ثابت نه کړي، باطل ئې نه مخې ته راتلی شي او نه ئې له شا، دا ځکه چي قرآن د هغه ذات له لوري لېږل شوی چي (حکيم حميد) يعني ستايل شوی با حکمت دئ، څنګه به څوك وتوانېږي د داسي ذات له لوري لېږل شوي کتاب کې عيب، نقص او د علم او حکمت خلاف وينا ومومي؟!!

مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبْلِكَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٍ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ جَعَلْنَاهُ قُرْءَانًا أَعْجَمِيًّا لَّقَالُوا۟ لَوْلَا فُصِّلَتْ ءَايَـٰتُهُۥٓ ۖ ءَا۬عْجَمِىٌّ وَعَرَبِىٌّ ۗ قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هُدًى وَشِفَآءٌ ۖ وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ فِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرٌ وَهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٤٤﴾

تا ته له هغه څه پرته بل څه نه ويل کېږي چي تر تا وړاندي پيغمبرانو ته ويل شوي، يقيناً چي ستا رب د بخښني والا دئ او د دردونکي عذاب خاوند. او که مو هغه عجمي (غير عربي) قرآن ګرځولی وی نو حتماً به ئې ويلي وو: ولي ئې آيتونه نه دي سپړل شوي، آيا يو عجمي او يو عربي؟ ووايه: دا د هغو لپاره لارښود او درمل دئ چي ايمان ئې راوړی؛ او هغه چي ايمان نه راوړي په غوږونو کې ئې يو ډول درونډوالی دئ او دا ورباندي ړوندوالی دئ، دوی داسي دي (لکه) چي له لري ځای ورغږ کېږي.

(٤٣-٤٤)- دلته رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ډاډېينه ورکړی شوې چي ستا په خلاف د حق دښمنان همغه څه وايي چي د دوی اسلافو د مخکينيو پيغمبرانو په ضد ويلي، دوی خپل رب ته حواله کړه، هغه رب ته چي هم د بخښني والا دئ او هم د دردونکي عذاب

خاوند، ځينو ته به بخښنه وکړي، د ايمان او هدايت دروازه به د هغوی پر مخ پرانيزي او ځيني به په دردناك عذاب اخته کړي.

دښمنانو دا تبليغات کول چي رسول الله صلی الله عليه و سلم عرب دئ او قرآن هم عربي کتاب او ګواکي دا د دې نښه ده چي دا کتاب ده په خپله جوړ کړی او الله تعالی ته ئې منسوب کړی!! دلته د دوی په ځواب کي ويل شوي: که مو هغه غير عربي قرآن ګرځولی وی نو حتماً به ئې ويلي وو: ولي ئې آيتونه نه دي سپړل شوي؟ ولي د مخاطب خيال نه دئ ساتل شوی او په داسي ښې کي نه دئ راغلی چي هر چا ته د فهم وړ وي؟ ولي يو عجمي کتاب د يوه عربي په لاس يوه عرب قوم ته لېږل شوی؟!! د داسي پوښتنو په ځواب کي ويل شوي: دا قرآن د هغو لپاره لارښود او درمل دئ چي ايمان ئې راوړی، له تيارو ئې د رڼا لوري ته بيايي، ځان او جهان ورپېژني، د ښه او بختور ژوند لاري ورښيي، داسي ځلانده مشعل په لاس ورکوي چي په رڼا کي ئې ښه او بد، مفيد او مضر، دوست او دښمن، د سعادت لار او د شقاوت اسباب وپېژني، خو هغه چي ايمان نه راوړي او د ايمان راوړلو استعداد ئې ځپل شوی؛ د هغوی د زړه دروازه د قرآن د وينا په وړاندي تړلې ده، غوږونه ئې د قرآن د زړه راښکونکې بلني له اورېدو عاجز دي، په غوږونو کي ئې داسي درونددوالی دئ چي د دې وينا د اورېدلو مجال نه ورکوي، سترګي ئې بيماري دي، د دې پر ځای چي د قرآن په رڼا کي له تيارو د وتلو لار ومومي برعکس په برېښ اخته او له ليدلو ولوېږي، يعني دا رڼا ورته ړوندوالی شي او پر سترګو ئې تياره راولي، دوی هغه چا ته ورته دي چي څوك ئې له لري ځای بلي، يوازي غږ اوري خو په معنی او مفهوم ئې نه پوهېږي.

---

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿٤٥﴾

او يقيناً چي موسی ته مو هغه کتاب ورکړ چي په اړه ئې اختلاف وکړی شو؛ او که ستا د رب له لوري داسي وينا نه وی چي وړاندي تېره شوې نو حتماً به د دوی تر منځ (تر دې وړاندي) پرېکړه شوې وه او يقيناً چي دوی ئې په اړه په حيرانوونکي شك کي دي.

---

(٤٥)- له مخکينيو پيغمبرانو چي ستا په څېر کتاب ورکړی شوی او د حق دښمنانو د هغوی مخالفت ته ملا تړلې يو هم موسی عليه السلام دئ چي تورات ورکړی شو او فرعونيانو د ده او د تورات مخالفت وکړ او په الهي عذاب اخته شول، که د الله تعالی دا سنت نه وی چي هر چا ته تر يوې ټاکلې نېټې مهلت ورکوي نو قريش به ډېر وړاندي له همغه برخليك سره مخامخ شوي وو چي فرعونيان ورسره مخامخ شول، دوی له قرآن سره

د مخالفت په ارتباط هیڅ دلیل او توجیه نه لري، د حیرانوونکي شك په بیماری اخته دي، ټول مخالفتونه ئې له دغه شك راولاړ شوي، دا توان نه لري چې د قرآن کومه وینا تردید کړي، هیڅ دلیل نشي وړاندي کولی، فقط د خپل بیمار زړه او گنده ذهن شکوك خرگندوي!!

مَّنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٤٦﴾
إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ ۚ وَمَا تَخْرُجُ مِن ثَمَرَٰتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ
أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَآءِى قَالُوٓاْ ءَاذَنَّٰكَ مَامِنَّا
مِن شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَدْعُونَ مِن قَبْلُ ۖ وَظَنُّواْ مَا لَهُم مِّن
مَّحِيصٍ ﴿٤٨﴾

چا چې صالح عمل وکړ نو د ځان په گټه ئې دئ او چا چې بد کار وکړ پر ده به (ئې وبال) وي؛ او ستا رب پر خپلو بندگانو ظلم کوونکی نه دئ، د قیامت (اړوند) علم ده ته ورگرځول کېږي؛ او د الله له علم سره له مطابقت پرته نه له مېوو کومه یوه له خپل پوټکي راوځي؛ او نه کومه ښځینه څه په خپل رحم کې وړي او نه ئې (پر زمکه) ږدي؛ او په کومه ورځ چې دوی ته غږ شي: زما شریکان او سیالان چېرې دي؟!! وبه وایي: موږ درته عرض کړی چې هیڅ یو مو (د دې خبرې) گواهي ورکوونکی نه دئ؛ او هغه به ترې ورك شي چې تر دې وړاندي ئې لمانځل؛ او گمان به وکړي چې د تېښتې هیڅ ځای نشته.

(٤٦-٤٨)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- د نېك او بد عمل گټه او تاوان تر بل چا وړاندي او زیات په خپله عمل کوونکي ته رسي.
- الله تعالی هر چا ته د خپل عمل مناسبه او عادلانه سزا او جزاء ورکوي، هم په دنیا کې او هم په آخرت کې، الله تعالی پر خپلو بندگانو ظلم کوونکی نه دئ، نه د چا نېك عمل ضائع کوي، نه ئې بې بدلې پرېږدي او نه ئې بد عمل ته د عدالت خلاف سزا ورکوي.
- د قیامت اړوند علم یوازې الله تعالی ته مختص دئ، له ده پرته هیڅوك نه پوهېږي چې کله او څنگه به راځي.
- د الله له علم سره له مطابقت پرته نه کومه مېوه له خپل پوټکي بهر راوځي، نه کومه ښځینه څه په خپل رحم کې وړي او نه څه زېږوي. یعني الله تعالی پوهېږي چې کومه غوټۍ به څنگه مېوه راټوکوي، د حیوان او انسان کومه ښځینه به کله حامله کېږي او څه

به زېږوي، دا ټول د هغې دقیقې الهي منصوبې مطابق تر سره کېږي چې الله تعالی د خپل پراخ علم له مخې وضع کړې، دا علم هم یوازې الله تعالی ته مختص دئ.

• د قیامت په ورځ به د الله تعالی له لورې مشرکینو ته وویل شي: زما شریکان او سیالان چېرې دي؟!! هغه چې تاسو به زما شریکان او سیالان ګڼل چېرې دي؟!! د هغوی ځواب به دا وي: موږ لا له وړاندې ستا حضور ته عرض کړی چې زموږ هیڅ یو د دې خبرې ګواهي نه ورکوو چې ته سیال او شریك لرې، هغه به ترې ورك وي چې تر دې وړاندې ئې په دنیا کې لمانځل، په خپلو سترګو به ګوري چې د تېښتې هیڅ ځای نشته.

لَّا يَسْـَٔمُ ٱلْإِنسَـٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلْخَيْرِ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٌ قَنُوطٌ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَـٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَـٰذَا لِى وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّىٓ إِنَّ لِى عِندَهُۥ لَلْحُسْنَىٰ ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِمَا عَمِلُوا۟ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَـٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٍ ﴿٥١﴾

انسان د خیر له غوښتلو نه ستومانه کېږي؛ او که کوم شر وروړسېږي نو بیا سخت ناهیلی او بې اسرې وي. او که له خپل لوري کومه پېرزوینه وروڅکو له هغه وروسته چې کوم کړاو وررسېدلی حتماً به ووایي: همدا له ما سره وړ دي؛ او ګمان نه کوم چې د قیامت نېټه قائمېدونکې (راتلونکې) ده؛ او که د خپل رب لوري ته وګرځول شم حتماً به د هغه خوا ته ښېګڼه راپه برخه کېږي، نو حتماً به هغه چې کفر ئې کړی په هغه څه خبر کړو چې دوی کړي او هرومرو به د سخت عذاب خوند وروڅکو؛ او کله چې پر انسان پېرزوینه وکړو ډډه کوي او اړخ اړوي؛ او کله چې شر وروړسېږي نو د اوږدې دعاء خاوند وي.

(٤٩-٥١)- په دې مبارکو آیتونو کې د انسان ځینې فطري کمزورتیاوې انځور شوې، چې دا دي:

• انسان حریص دئ، د خیر له غوښتلو نه ستومانه کېږي، غوښتنې ئې پای نه لري، سترګې ئې نه مړېږي.

• که له کوم کړاو سره مخامخ شي او کوم تاوان وروړسېږي نو بیا سخت ناهیلی او بې اسرې وي، دومره مأیوس شي چې د خپلو هیلو د تر سره کېدو هیڅ طمع ئې نه وي.

• که الله تعالی له خپل لوري کومه پېرزوینه ورپه برخه کړي په ځانګړې توګه هغه مهال

چي له کوم کړاو ژغورل شوی وي؛ نو وايي: همدا له ما سره وړ وه، زه د همدې پېرزوينې مستحق وم. ګمان نه کوم چي قيامت راتلونکی دئ، که احياناً قيامت راشي او زه د خپل رب لوري ته وګرځول شم نو حتماً به د هغه خوا ته بيا هم د ده له پېرزوينو برخمن وم او د دنيا په څېر به ښېګڼې راپه برخه کېږي. دا کافرانه انګېرني دي، الله تعالی د دوی په اړه فرمايي: حتماً به دغه کافران د هغه څه په بدو پايلو خبر کړم چي دوی ئې کوي او هرومرو به د سخت عذاب خوند وروڅکم.

- کله چي الله تعالی پر انسان کومه پېرزوينه وکړي نو د شکر او منني پر ځای د اعراض او کفران لار غوره کوي او اړخ اړووي.
- کله چي له کومي ستونزي سره مخامخ شي نو د اوږدو اوږدو دعاګانو خاوند شي.

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِۦ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِي شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾

ووايه: آيا دې ته مو پام کړی چي که دا د الله له لوري وي بيا تاسو د هغه په اړه کفر کړی وي، نو تر هغه به زيات تېروتی څوك وي چي په ژور اختلاف کې وي؟!

(۵۲)- دلته رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چي د قرآن مخالفينو ته ووايي: آيا کله مو دې ته پام کړی چي که دا قرآن د الله تعالی له لوري وي او تاسو د هغه په اړه کفر کړی وي، د دې کفر او انکار پايله به څه وي!! آيا تر هغه به زيات تېروتی انسان پيدا شي چي د الله تعالی له لوري لېږل شوي لارښود کتاب سره مخالفت کوي!! هغه هم نه په ځينو مواردو کې او سطحي اختلاف بلکي ژور اختلاف؟!

سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلْءَافَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٥٣﴾

ډېر ژر به خپل آيتونه په آفاق (کائنات) کې هم او د دوی په خپلو نفسونو کې هم وروښيو چي ورته څرګنده شي چي هغه حق دئ، آيا ستا د رب په اړه دا کافي نه ده چي هغه په هرڅه شاهد دئ؟

(۵۳)- يعني ستا په نفس او خپل ځان کې د قدرت نښي او په دې آفاق او عالم کې د قدرت نښي، د دې مقروء کتاب قرآن په حقانيت شهادت ورکوي، دا ځکه چي الله د هرڅه شاهد دئ، د هرڅه شاهد خو به خود داسي څه وايي چي هر څه د ده د هري وينا په حقانيت شهادت ورکړي.

په دې مبارك آيت سره الله تعالی فرمايي چې ژر به خپل آيتونه په آفاق او فضاء کې هم او د دوی په بدن کې هم وروښيم چې ورته څرګنده شي چې هغه حق دئ.

د دې مبارك آيت مدعی دا ده چې الله تعالی به خلكو ته د قرآن د آيتونو مصداق او حقيقت هم په آفاق کې جوت کړي او هم د انسان د نفس په بېلو بېلو برخو کې، يعني قرآن چې د عالم او انسان په اړه کومې څرګندونې کړې دي؛ د دغو څرګندونو حقيقت به دوی ته جوت شي او په دې به پوه شي چې الله تعالی حق دئ او د ده کتاب رښتينی او له حقائقو ډك كتاب دئ. او دا ښيي چې د قرآن علمي اعجاز به ورو ورو خلكو ته جوتېږي.

دغو حقائقو ته په پام سره ده چې نن په غربي نړۍ کې هر کال په زرګونو خلك ايمان راوړي او په دوی کې ډېری ئې داسې څېړې دي چې په ساينسي علومو کې ئې څېړنې او مطالعات کړي او په ترڅ کې ئې د قرآن حقيقت ورته څرګند شوی او ايمان ئې راوړی.

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې د عالم، آسمانونو، زمکې، لمر، ستورو، شپه، ورځ، د انسان پيدايښت، نباتاتو، حيواناتو، حشراتو، ورېځو، بارانونو، بادونو، غرونو، سيندونو، سمندرونو او نورو طبيعي شيانو په اړه داسې دقيق او علمي بحثونه تر سترګو کېږي چې انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی، انسان له اوږد علمي سفر وروسته او د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته توانېدلی دغه حقائق درك كړي او نن هغه خبره وكړي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې كړې وه.

يقيناً چې الله تعالی د خپلو آيتونو مصداق هم په آفاق، كائنات او عالم کې خلكو ته ښيي او هم ئې د دوی په خپلو نفسونو کې، ورو ورو د دوی علم د خپل نفس په اړه هم زياتېږي او د عالم او آفاق په اړه هم، په تدريج سره به د دوی علم، پوهه او تجارب اضافه كېږي، دا علم او پوهه به له يوه نسل بل نسل ته انتقالېږي او په دې توګه به دوی په آفاق او په خپل نفس کې د الهي آيتونو مصداق په خپلو سترګو وګوري او په دې به پوه شي چې دا حق دئ، الله حق دئ او د ده له لوري رالېږل شوی كتاب حق دئ. دا ځكه چې الله تعالی د دې عالم د هر جزء او توكي په اړه علم لري، د خپل دغه جامع او كامل علم له مخې ئې چې كوم كتاب رالېږلی د هغه د هرې وينا حقانيت او د هر قضاوت مصداق به هم په آفاق کې وګوري او هم په خپلو نفسونو کې.

قرآن د دې ستري ادعاء د اثبات لپاره دا دليل او توجيه وړاندې كوي: أَوَ لَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ: آيا ستا د رب په اړه دا كافي نه ده چې هغه په هرڅه شاهد دئ؟ يعني د هر شي په نسبت علم لري او د هغه د څرنګوالي شاهد دئ؟ د داسې شاهد ذات وينا خو به خود داسې وي چې هر څه د ده د هرې وينا په حقانيت شهادت وركړي.

په دې توګه قرآن موږ ته لارښوونه كوي چې د دې الهي كتاب آيتونه هم زموږ د نفسونو په پټو او څرګندو برخو احتواء كړې او اړوند حقائق ئې موږ ته ښودلي او هم ئې د عالم په آفاق کې خواره حقائق احتواء كړي او د هر څه حقيقت ئې موږ ته ښودلی، خو

موږ به په تدریج سره او ورو ورو په دې حقائقو پوهېږو. دا آیت موږ ته دا هم ښیي چې انسان به په تدریج سره او هر څومره چې د ده علم وده کوي او فهم او بصیرت ئې زیاتېږي همدومره به د دې کتاب په حقانیت پوهېږي، د قرآن ډېر حقائق داسي دي چې انسان نن او د قرآن له نزوله څوارلس پېړۍ وروسته د هغوی په حقیقت پوه شو، تر دې د مخه ډېرو ته مبهم، غامض او غیر قابل فهم برېښېدل.

أَلَآ إِنَّهُمۡ فِي مِرۡيَةٖ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمۡۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطُۢ ﴿٥٤﴾

پام چې یقیناً دوی له خپل رب سره د ملاقات په اړه په شك کې دي، پام چې یقیناً هغه په هر څه محیط دئ.

(٥٤)- په دې مبارك آیت کې دوه اساسي مطالب څلېږي؛ چې د سورې له دوو محوري موضوعاتو سره ژور تعلق او مناسبت لري او د سورې خلاصه زموږ په وړاندې ږدي:

• دغه کافران له خپل رب سره د ملاقات په اړه په شك کې دي، د قرآن له څرګندو آیتونو سره د دوی د مخالفت سټره وجه دا ده چې دوی د قیامت او له خپل رب سره د ملاقات په اړه شکمن دي، په دې اړه هیڅ علمي او عقلي دلیل نه لري، مخالفت ئې له شك راولاړ شوی.

• الله تعالی په هر څه احاطه کړې، هیڅ څه د ده له واك او سیطرې بهر نه دي، دا کافران داسي څه په واك کې نه لري چې د الله تعالی له سلطې او ادارې بهر وي، نو مه د دوی د مخالفتونو پروا کوه او مه ئې له زر، زور او ځواك وېره او اندېښنه لره، له دوی سره به همغه څه کېږي چې ستا رب ئې غواړي نه هغه څه چې دوی ئې په لټه کې دي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## الشوری

### د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الشوری) دئ چې د سورې له ۳۸ آیت اخیستل شوی، ۵۳ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د درییم آیت (الحکیم)؛ او د درویشتم آیت (الشکور) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په منځنیو کلونو کې نازل شوي. داسي معلومېږي چې دا سوره له مخکینیو دوو سورتونو سره په ورته ظروفو او شرائطو کې او یوه په بلې پسي نازله شوې.

دا سوره په پنځو مقطعاتو حروفو پیل شوې، د سورې محوري مطالب او د بحث

اساسي موضوعات هم پنځه دي چې خلاصه ئې د سورې د پای پنځو آيتونو کې راغلې، تاسو تر دې وړاندې د مريم سوره وليدله چې همداسې په پنځو حروفو (کهيعص) پيل شوې، پنځه اساسي موضوعات په کې څېړل شوي وو او خلاصه ئې په آخري پنځو آيتونو کې راغلې وه، دا سوره هم له دې پلوه کټ مټ د هغې په څېر ده، تاسو به وګورئ چې دلته هم د سورې په پنځو وروستيو آيتونو کې دغه مطالب په اجمال سره راغلي او په ټولې سورې کې په تفصيل سره څېړل شوي:

- الله تعالى د آسمانونو او زمکې ټولواک دئ.
- الله تعالى خالق دئ، هر هغه څه پيدا کوي چې وئې غواړي، چا ته لوڼې ورکوي، چا ته زامن؛ او چا ته زامن او لوڼې ګډ؛ او هغه شنډ کړي چې دى ئې غواړي، يقيناً چې دى توانمن پوه دئ.
- هيڅ انسان ته نه ښايي چې الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي (خفي اشارې) سره، يا د حجاب له شا، يا يوه فرشته لېږي چې د ده له حکم سره سم هغه څه وحي کړي چې دى ئې غواړي، يقيناً چې هغه باحکمت لوړ دئ.
- همداسې مو تا ته له خپل لورې د خاص امر وحي وکړه، ته نه پوهېدې چې کتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنى او حقيقت) پوهېدې، خو موږ دا قرآن داسې نور وګرځاوو چې له خپلو بندګانو هغه څوك پرې هدايتوو چې غواړو ئې؛ او بې شکه چې ته د مستقيمې لارې خوا ته لارښوونه کوې. د هغه الله لارې ته چې څه په آسمانونو کې او څه په زمکې دي ټول د ده دي.
- پام چې کارونه د الله تعالى په واك کې دي، د ده لورې ته ورګرځي او پايلې ئې د ده له لورې ټاکل کېږي.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ١ عٓسٓقٓ ٢ كَذَٰلِكَ يُوحِيٓ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ٣ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٤ تَكَادُ
ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِن فَوۡقِهِنَّۚ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ
لِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٥ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ
أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهُ حَفِيظٌ عَلَيۡهِمۡ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٖ ٦

حاء، ميم، عين، سين، قاف، همداسې باحکمت عزتمن ذات تا او هغو ته چې تر تا

وړاندې ول وحي كوي، څه چې په آسمانونو كې دي او څه چې په زمكې كې دي (ټول) د ده دي؛ او هغه ستر لوړ دئ، نژدې ده چې آسمانونه له بره ئې وچوي، په داسې حال كې چې فرشتې د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايي او هغو ته بخښنه غواړي چې په زمكې كې دي، پام چې يقيناً الله مهربان بخښونكى دئ؛ او هغه چې له ده پرته ئې پالونكي نيولي الله پرې څارونكى دئ او ته پرې وكيل نه يې.

(۱-٦)- د دې مباركو آيتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره لاندې خبرې په پام كې ولرئ:

• لكه څنگه چې دا سوره په پنځو مقطعاتو حروفو پيل شوې؛ د دې سورې محوري مطالب او د بحث اساسي موضوعات هم پنځه دي چې خلاصه ئې د سورې د پاى پنځو آيتونو كې راغلې، تاسو تر دې وړاندې د مريم سوره وليدله چې همداسې په پنځو حروفو (كهيعص) پيل شوې، پنځه اساسي موضوعات په كې څېړل شوي وو او خلاصه ئې په آخري پنځو آيتونو كې راغلې وه، دا سوره هم له دې پلوه كټ مټ د هغې په څېر ده، تاسو به وگورئ چې دلته هم د سورې په پنځو وروستيو آيتونو كې دغه مطالب په اجمال سره راغلي او په ټولې سورې كې په تفصيل سره څېړل شوي:

• الله تعالى د آسمانونو او زمكې ټولواك دئ.

• الله تعالى خالق دئ، هر هغه څه پيدا كوي چې وئې غواړي، چا ته لوڼې وركوي، چا ته زامن؛ او چا ته زامن او لوڼې گډ؛ او هغه شنډ كړي چې دى ئې غواړي، يقيناً چې دى توانمن پوه دئ.

• هيڅ انسان ته نه ښايي چې الله ورسره تكلم وكړي مگر په وحي (خفي اشارې) سره، يا د حجاب له شا، يا يوه فرشته لېږي چې د ده له حكم سره سم هغه څه وحي كړي چې دى ئې غواړي، يقيناً چې هغه باحكمت لوړ دئ.

• همداسې مو تا ته له خپل لوري د خاص امر وحي وكړه، ته نه پوهېدې چې كتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنى او حقيقت) پوهېدې، خو موږ دا قرآن داسې نور وگرځاوو چې له خپلو بندگانو هغه څوك پرې هدايتوو چې غواړو ئې؛ او بې شكه چې ته د مستقيمې لارې خوا ته لارښوونه كوې. د هغه الله لارې ته چې څه په آسمانونو كې او څه په زمكې دي ټول د ده دي.

• پام چې كارونه د الله تعالى په واك كې دي، د ده لوري ته ورگرځي او پايلې ئې د ده له لوري ټاكل كېږي.

رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې تا او هغو ته چې تر تا وړاندې ول د هغه رب له لوري وحي كېږي چې باحكمت عزتمن دئ، (حكيم) دئ؛ پوهېږي چې خپل بنده ته څنگه د وحي له لارې لارښوونه وكړي، (عزيز) دئ؛ د ارادې په وړاندې ئې هيڅ څه نشي خنډ كېدى.

څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي ټول د الله تعالی په واك کې دي، څښتن او مالك ئې دی دئ او دی ستر او لوړ دئ.
هغه چې د الله تعالی په لمانځنې بوخت دي شمېر ئې دومره زيات دئ چې آسمانونه ترې ډك دي، نژدې ده چې آسمانونه له بره ئې وچوي، په داسې حال کې چې فرشتې د خپل رب له ستاينې سره تسبيح وايي او هغو ته بخښنه غواړي چې په زمکې کې دي، فرشتې له دې کبله بخښنه غواړي چې پوهېږي الله تعالی مهربان بخښونکی دئ، که داسې نه وی نو نه به فرشتو د زمکې استوگنو ته بخښنه غوښتې وی او نه به هغو ته مهلت ورکړی شوی وو چې د بغاوت لار ئې غوره کړې.
هغه مشرکان چې له الله تعالی پرته ئې پالونکې نيولې او له جعلي معبودانو د پالنې هيله لري؛ الله پرې څارونکی دئ او ته پرې وکيل نه يې.
دې ته مو پام وي چې ځينو درنو مفسرينو د پنځم آيت دا فقره (تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِن فَوۡقِهِنَّۚ) داسې تعبير کړې چې گواکې دا همغه مطلب دئ چې د مريم په سوره کې په دې صيغه راغلی:
وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗا ۝٨٨ لَّقَدۡ جِئۡتُمۡ شَيۡـًٔا إِدّٗا ۝٨٩ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ وَتَنشَقُّ ٱلۡأَرۡضُ وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ هَدًّا ۝٩٠ أَن دَعَوۡاْ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٗا ۝٩١ وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ۝٩٢ إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدٗا ۝٩٣
او وئې ويل: رحمن خدای (ځان ته) زوی ټاکلی، يقيناً چې دا يوه ډېره بده او بېهوده وينا ده چې تاسو (په خوله) راوړه، له دې خبرې نژدې ده آسمان ټوټې ټوټې شي، زمکه وچوي او غرونه وران او رانسکور شي، چې رحمن خدای ته د زوی ادعا کوي، حال دا چې له رحمن خدای سره نه ښايي چې ځان ته کوم زوی غوره کړي، د آسمانونو او زمکې هر څه د ده په وړاندې د بنده په توگه رادرومي!!
خو که لږ ځير شو نو د دې دواړو تر منځ توپير په آسانۍ سره راته جوت کېږي، لومړی توپير دا دئ چې دلته د (فوقهن) صيغه راغلې او ښيي چې د کوم برنې او پاسنې فشار له کبله چاودېدو ته نژدې شوی، دوهم توپير دا دئ چې دلته د مخالفينو داسې کومه وينا او عمل نه دئ ذکر شوی چې د آسمانونو محتمل چاودل د هغه له کبله وگڼو، بلکې د فرشتو له تسبيح سره مربوط ذکر شوی، معنی ئې دا ده چې دومره فرشتې د آسمان له پاسه د الله تعالی په عبادت بوختې دي چې نژدې ده د هغوی له دروندوالي آسمانونه وچوي؛ او په دې سره د قريشو هغو تبليغاتو ته ځواب ويل شوی چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه به ئې ويل: په داسې حال کې چې له قوم او ولس تجريد شوی، د گوتو په شمېر تنکي ځوانان ئې په خوا کې راغونډ شوي، ځواکمن مرستندويان نه لري، څنگه گمان کوي چې دی به پر خپلو ځواکمنو مخالفينو بريالی کېږي، د ده حق دين به غالب شي او د

مخالفینو باطل دین به له منځه ځي؟!!

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَتُنذِرَ يَوۡمَ ٱلۡجَمۡعِ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ فَرِيقٞ فِي ٱلۡجَنَّةِ وَفَرِيقٞ فِي ٱلسَّعِيرِ ٧ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَهُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ٨ أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۖ فَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡوَلِيُّ وَهُوَ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٩

او همداسي مو تا ته يو عربي قرآن د دې لپاره وحي کړ چي د کليو منځنی او هغه چي چاپېر ئې دي وګواښې؛ او د راغونډېدو له هغي ورځي خبرداری ورکړې چي هيڅ شك په کي نشته، يوه ډله به په جنت کي وي او يوه ډله به په لمبه ناك اور کي؛ او که الله غوښتي وی نو حتماً به ئې دوی يو امت ګرځولي ول، خو هغه څوك چي دی ئې غواړي په خپل رحمت کي ننباسي او ظالمان داسي دي چي دوی ته نه کوم مل شته او نه کوم مرستندوی، آيا له ده پرته ئې پالونکي نيولي؟! نو همدا الله پالونکی دئ او همدا دی مړي ژوندي کوي او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ.

(٧-٩)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: تا ته مو دا عربي قرآن د دې لپاره وحي کړ چي د مکې استوګن او په شاوخوا کي ئې مېشت خلك د خپل کفر او شرك له بدو پايلو وويروې او د قيامت په ورځ د الله تعالی په وړاندي د راغونډېدو له عواقبو خبرداری ورکړې، هغه ورځ چي په حتمي راتلو کي ئې هيڅ شك نشته، هغه ورځ چي يوه ډله به په جنت کي وي او يوه ډله به په لمبه ناك اور کي.
- که الله تعالى غوښتي وی نو حتماً به ئې دا کافران يو متحد امت ګرځولي ول، خو دا د الله تعالى سنت نه دئ چي خلك قهراً په سمي لاري تلو ته اړ کړي، سنت ئې دا دئ چي دوی ته خپل پيغمبران لېږي، د هغوی په لاس د دوی لارښوونه کوي، خلك په دوو ډلو ووېشل شي، ځيني ئې د الله تعالى د پېرزويني وړ شي نو الله تعالى ئې له خپل رحمت برخمن کړي او ځيني د ظلم لار غوره کړي او دا ظالمان نه يوازي د الله تعالى له پېرزوينو محروم شي بلکي په زمکي او آسمان کي نه کوم مل موندی شي او نه کوم مرستندوی.
- آيا دغو مشرکانو له الله تعالى پرته نور پالونکي د معبودانو او مرستندويانو په توګه نيولي؟! په داسي حال کي چي الله تعالى يوازينی پالونکی دئ او همدا دی مړي ژوندي کوي

او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ. آيا عجيبه نه ده چې تاسو دا يوازينی پالونکی رب هېر کړی او داسي جعلي پالونکي مو غوره کړي چې نه مړي ژوندي کولی شي او نه د کوم کار تر سره کولو توان لري؟!!

وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبِّي عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾

او په هر هغه څه کې چې تاسو اختلاف کړی نو حکم ئې د الله لوري ته (محول) دئ، همدا زما رب دئ، پر هغه مې توکل کړی او د هغه لوري ته انابت کوم.

(۱۰)- دا مبارك آيت د توحيد يو ستر او مهم اصل زموږ مخې ته ږدي او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه کوي چې خپلو مخاطبينو ته ووايي:

- په هر هغه څه کې چې تاسو اختلاف وکړئ حکم ئې د الله تعالى لوري ته راجع دئ، يعني که تاسو په هري قضيې کې اختلاف وکړئ، که دا فکري او اعتقادي وي، که حقوقي او اجتماعي، که کوم روايت او رأی وي؛ خپل اختلاف د الله تعالى کتاب (قرآن) ته راجع کړئ او پرېکړه ئې وروستۍ پرېکړه وګڼئ. د دې الهي ارشاد او حکم معنى او تقاضا دا ده چې د ژند په ټولو برخو کې هر ډول اختلاف او نزاع بايد قرآن ته راجع شي او د قرآن پرېکړه نهائي او وروستۍ پرېکړه وګڼل شي، يعني د انسان په ټول ژوند کې داسي اختلاف او نزاع نه شو موندلی چې په قرآن کې ئې د حل حکم نه وي، مسلمانان بايد قرآن وروستی ملاك او معيار وګڼي او د هري قضيې په اړه د هغه حکم او پرېکړې ته غاړه کښېږدي.
- همدا زما رب دئ، همدا د اختلافاتو د حل وروستۍ مرجع ګڼم، پر هغه مې توکل کړی، هغه ته مې ځان سپارلی، په هر څه کې د هغه لوري ته انابت او رجوع کوم.

فَاطِرُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ أَزۡوَٰجٗا يَذۡرَؤُكُمۡ فِيهِۚ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ﴿١١﴾ لَهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿١٢﴾

د آسمانونو او زمکي پنځوونکی، (هغه چې) تاسي ته ئې په خپله له تاسو جوړې جوړې پيدا کړې او له څارويو ئې هم جوړې جوړې، په همدې کې تاسي خوروي، هيڅ شی هغه ته ورته نه دئ؛ او هغه ليدونکی اورېدونکی دئ. د آسمانونو او زمکي

کیلیاني د ده دي، چا ته چې وغواړي روزي پراخوي او تنگوي، یقیناً چې هغه په هر څه ښه پوه دئ.

---

(۱۱-۱۲)- د دې مبارکو آیتونو اساسي مطالب او لارښووني دا دي:

- الله تعالی د زمکې او آسمانونو خالق او پیداکوونکی دئ. پداسي حال کې چې:

الف- د دې شیانو خالق او پیداکوونکی وو او په څنگ کې ئې بل هیڅوك او هیڅ څه نه وو.

ب- نه زمکه وه او نه آسمان او نه د زمکې او آسمان هیڅ څه.

- انسانان او حیوانات ئې جوړه جوړه پیدا کړي؛ داسي چې:

الف- دا ټول (انسانان او حیوانات ) نه وو، پیدا شول.

ب - تر دوی وړاندي ئې زمکه او آسمانونه پیدا کړل.

ج- د دوی د نسل د بقاء او دوام لپاره ئې جوړه جوړه پیدا کړل، له دې پرته نه د دوی زیاتېدا او تکثیر ممکن دئ او نه ئې د نسل دوام.

- په زمکې او آسمانونو کې هیڅ شی د الله تعالی په څېر او مثل نه دئ، هیڅ شی په هیڅ څه کې له هغه سره ورته والی نه لري، د الله تعالی د مثل مثال هم نشته، ځکه:

الف- الله تعالی خالق دئ او دا نور ټول موجودات مخلوق دي.

ب- ژوندي مخلوقات پیدا کېږي، زېږول کېږي او نور زېږوي، جوړه جوړه پیدا شوي، پداسي حال کې چې الله تعالی فرد واحد دئ، نه له چا زېږېدلی او نه ئې څه زېږولي، نه سیال لري او نه مثال.

دلته ویل شوي چې د ده مثال ته ورته څه نشته او دی لیدونکی اورېدونکی دئ. یعنی که وغواړئ چې په خپل ذهن کې د الله تعالی لپاره کوم مثال مجسم کړئ، نو پوه شئ چې پدې کائناتو او موجوداتو کې به هیڅ شی دې مثال ته ورته ونه مومئ. د یوه شي مثال په حقیقت کې د هغه شي تخمیني او تقریبی تصویر وي، چې د همغه شي د پېژندلو لپاره کارول کېږي، کله چې د یوه شي د اصل او حقیقت ادراك ممکن نه وي نو د مثال په راوړلو سره ئې تشریح او توضیح کوو، خو د الله تعالی په اړه نه د مثال راوړل ممکن دي او نه ئې مثال او مثل شته.

د آیت په پای کې ویل شوي: وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ: او دی لیدونکی اورېدونکی دئ. یعني الله تعالی هغه خبري اوري چې جاهل وگړي ئې د ده په اړه کوي او دی له خپل مخلوق سره تشبیه کوي او ټول مخلوقات د ده تر نظر لاندي دي او گوري چې هیڅ څه ده ته ورته نه دي.

په دې آیت کې داسي نه دي ویل شوي: لیس مثله شئ: ده ته ورته څه نشته، بلکې ویل شوي: لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ : د ده مثل ته ورته څه نشته او د دې معنی دا ده چې نه یوازي د الله تعالی د ذات دکیفیت ادراك ممکن نه دئ، بلکه دا هم ممکنه نده چې د الله تعالی د

ذات او ذاتي صفاتو د کيفيت په اړه تخميني او تقريبي تصور ولرو. نو لازمه ده له هر هغه تأويل او توجيه په کلکه ځان وساتو چي د مخلوقاتو سره د الله تعالى تشبيه په کې وي.

که د الله تعالى د ذات د کيفيت په اړه بحث ضروري وی او د انسان لپاره ئې ادراك امکان درلودی نو الله تعالى به په خپله په پوره صراحت او وضاحت سره بيان کړی وی، مجمل به ئې نه پرېښود او يوازي په هغو آيتونو به ئې اکتفاء نه وه کړې چي له اسمای حسنی او لوړو صفاتو بحث کوي.

د آيت شريف دوهمه برخه (وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ) دا په ګوته کوي چي که څه هم انسان ته سميع او بصير ويل کېدی شي، الله تعالى د اورېدو او ليدو صفت انسانانو ته هم ورکړی، خو بيا هم پدې موجوداتو کې داسي څه نشته چي له الله تعالى سره ورته والى او شباهت ولري. د الله تعالى ذات او صفات هيڅ مثل او مثال نه لري.

د يوه څه د پېژندلو طريقه يا دا ده چي مستقيماً د همغه شي د ذات د کيفيت په اړه معلومات لاسته راوړې او وئې پېژنې او يا دا چي د مثال او سيال له لاري ئې وپېژنې او يا دا چي هغه ته ورته شی د ده په اړه تا ته خاص انځور درکړي او له دې لاري ئې په نسبي توګه وپېژنې. قرآنکريم د الله تعالى د ذات د ادراك او د هغه د کيفيت د پېژندلو په رابطه دا ټول امکانات رد کړي دي او په پوره صراحت ئې ويلى دي چي الله تعالى نه سيال او مثل لري او نه د چا علم د هغه تعالى د ذات پرکيفيت احاطه او احتواء کولی شي.

د آسمانونو او زمکې د ټولو شيانو د خزانو کيلياني د ده په واك کې دي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چي چا ته څه او څومره ورکړي، د رزق او روزي د پراخوالي او تنګوالي پرېکړې د ده له لوري کېږي، چا ته چي وغواړي روزي پراخوي او تنګوي، يقيناً چي هغه په هر څه ښه پوه دئ. ښه پوهېږي چي کله خپلو بندګانو ته رزق زيات کړي او کله ئې کم کړي، هره پرېکړه ئې د پراخ او دقيق علم له مخي وي.

شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا
بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى
ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ
﴿١٣﴾ وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ
مِن رَّبِّكَ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى لَّقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ
بَعۡدِهِمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ﴿١٤﴾

تاسو ته ئې د دين هغه طريقه ټاكلې چې نوح ته ئې د هغې سپارښتنه كړې وه او هغه چې تا ته مو وحي كړې؛ او هغه چې ابراهيم، موسى او عيسى ته مو د هغې سپارښتنه كړې وه؛ او هغه دا چې دين قائم كړئ او په هغه كې مه متفرق كېږئ، مشركينو ته هغه څه (منل) گران دي چې ته ئې وربلې، الله هغه څوك خپل لوري ته غوره كوي چې دى ئې غواړي او هغه څوك هدايتوي چې د ده لوري ته انابت كوي؛ او ډلې ډلې نه شول مگر له هغه وروسته چې علم ورته راغى؛ په خپلو كې د تېري له كبله؛ او كه ستا د رب له لوري يوه وينا چې وړاندې تېره شوې نه وى، تر يوې ټاكلې نېټې (د فرصت وركولو وينا)، نو هرو مرو به د دوى تر منځ پرېكړه شوې وه؛ او يقيناً هغه چې تر دوى وروسته كتاب په ميراث وركړى شو په دې اړه په حيرانوونكي شك كې دي.

---

(۱۳-۱٤)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

• الله تعالى تاسو ته همغه ديني تگلاره ټاكلې چې نوح عليه السلام ته ئې د هغې سپارښتنه كړې وه او اوس ئې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د وحي له لارې ښودلې. همغه چې ابراهيم، موسى او عيسى عليهم السلام ته ئې د هغې سپارښتنه كړې وه، ټولو ته د الله تعالى سپارښتنه دا ده چې دين قائم او حاكم كړئ او په هغه كې مه متفرق كېږئ. د دې معنى دا ده چې الله تعالى ټول پيغمبران او د دوى امتونه په دوو اساسي خبرو گمارلي: ۱- د دين اقامه، ۲- او له مذهبي او ديني اختلاف ځان ساتل. دلته له يوې خوا دغه دوه خبرې د هغې وحي خلاصه ښودل شوې چې د الله تعالى له لوري ټولو پيغمبرانو ته شوې؛ او له بلې خوا د ټولو انبياوو شريعت او تگلاره يو شانته گڼل شوې. دلته داسي نه دي ويل شوي چې په دين عمل وكړئ، بلكې ويل شوي چې دين قائم كړئ، د دې دواړو خبرو تر منځ ژور توپيرونه شته، په دين د عمل كولو معنى دا ده چې هر څوك په خپل شخصي ژوند كې همغه څه وكړي چې دين پرې مأمور كړى خو (د دين قائمولو) معنى بېله ده او تر دې ډېر پراخ ابعاد لري، معنى ئې دا ده چې دين حاكم كړئ، په دين ولاړه ټولنه جوړه كړئ، داسي ټولنه چې هلته دين حكومت كوي، دا د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام اساسي او لومړنۍ دنده وه، له نوح عليه السلام تر محمد عليه السلام پوري ټول پيغمبران په همدې گمارل شوي وو، له دوى سره د مستكبرينو د مخالفت اساسي وجه هم دغه وه، كه دوى خلكو ته يوازې دا ويلى چې ځان اصلاح كړئ او د ټولنې په ښه او بد كار مه لرئ، دا هڅه مه كوئ چې ستاسو پر ټولنې دين په بشپړه توگه حاكم شي نو هيڅكله به د حاكمو ځواكونو له جدي او شديد مخالفت سره نه مخامخ كېدل. همدا راز د دوى د دوهم مأموريت معنى دا ده چې دا يو اجتماعي مأموريت دئ، وحدت او يوالى ايجابوي، دين د تفرق مخالف دئ، د دين خاوندان په دې مكلف كوي چې په يوه صف كې به

راغونډېږي او له بېل بېل اوسېدو به ډډه کوي. همدا په دين کې له اختلاف او تفرق ډډه کول د ټولو پيغمبرانو او د دوی د امتونو دوهم اساسي مأموريت دئ، حقيقت دا دئ چې الهي دين يو دئ، د ټولو پيغمبرانو شريعت او تګلاره يوه ده، دا تګلاره دوه رنګې نه قبلوي، محمد عليه السلام او د ده امت په همغه څه ګمارل شوي چې مخکيني پيغمبران او د دوی امتونه پرې ګمارل شوي وو، هيڅ تفرق ته شرعي مبنا او توجيه نه شو موندلی، قرآن وايي چې ديني او مذهبي تفرق او اختلاف عمداً رامنځته شوی او هغو رامنځته کړی چې دوه ځانګړتياوې ئې وې: غولوونکی علم ئې درلود او همدا علم ئې د نورو پر حقوقو د تېري لپاره کارولی.

- مشرکينو ته د هغه څه منل ګران دي چې ته ئې وربلې، چې هغه دين په بشپړه توګه قائمول او له تفرق ډډه کول دي. د هغوی هره ډله ځانته ځانته معبود لري، بېل بېل مذهب لري، د يوه رب او يوه دين او يوې تګلارې منل ورته ګران دي، له تا سره ئې د مخالفت ستره وجه همدا ده.
- الله هغه څوك خپل لوري ته غوره کوي او د ده په لارې او د ده لوري ته تلو توفيق ورکوي چې دی ئې غواړي او هغه څوك هدايتوي چې د ده لوري ته انابت کوي؛ او د دې معنی دا ده چې الهي لارښوونه د هغه چا په برخه کېږي چې د الله تعالی په لارې د تلو وړتيا او هوډ لري.

د څوارلسم آيت دا فقره (وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡ) په ډېر صراحت او وضاحت سره ښيي چې د تفرق پيل د غرضي علماوو له لوري شوی، وايي: ۱- ډلې ډلې نه شول مګر له هغه وروسته چې علم ورته راغی؛ ۲- په خپلو کې د تېري له کبله.

که ستا د رب دا ثابت او پخوانی سنت نه وی چې هر چا ته تر يوې ټاکلې نېټې مهلت ورکوي نو هرو مرو به د هغو په اړه ډېر پخوا الهي پرېکړه شوې وه چې د پيغمبرانو د بلنې مخالفت کوي.

هغه چې تر دوی وروسته کتاب په ميراث ورکړی شو په دې اړه په حيرانوونکې شك کې دي. يعني د اهل کتاب دا بېلې بېلې ډلې له دې کبله نه دي رامنځته شوې چې ګواکې د الله تعالی له لوري دوی او د دوی پيغمبرانو ته بېل بېل کتابونه ورکړی شوي وو او د اختلاف سبب ئې بېلې بېلې الهي لارښوونې دي!! حقيقت دا دئ چې دوی ته کتاب په ميراث رسېدلی، داسې لکه يو ميراثي توکی، پرته له دې چې د کتاب په معنی او حقيقت پوه وي او د الهي کتاب د حملولو وړتيا ولري، نه يوازې د الهي کتاب علم او پوهه نه ده ورپه برخه شوې بلکې په ډېر حيرانوونکي شك کې دي.

---

فَلِذَٰلِكَ فَٱدۡعُۖ وَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡۖ وَقُلۡ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ

ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٖۖ وَأُمِرۡتُ لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمۡۖ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡۖ لَا حُجَّةَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٥﴾

نو د همدې لپاره وبله؛ او همغسې استقامت کوه چې ګمارل شوی يې؛ او د دوی د هوسونو متابعت مه کوه؛ او ووايه: په هر هغه کتاب مې ايمان راوړی چې الله نازل کړی؛ او پر دې ګمارل شوی يم چې ستاسو تر منځ عدالت وکړم، الله هم زموږ رب دئ او هم ستاسو، موږ ته خپل عملونه دي او تاسو ته خپل عملونه، زموږ او ستاسو تر منځ کومه شخړه نشته، الله به موږ او تاسې په خپلو کې راغونډ کړي او ورتګ د ده لوري ته دئ.

---

(١٥)- په دې مبارك آيت کې څو مهمې مهمې لارښووني زموږ په وړاندې ځلېږي:

- د آيت په لومړۍ فقرې کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته سپارښتنه شوې چې د همدې لپاره بلنې ته دوام ورکړه، د دې فقرې په اړه دوه د اعتناء وړ تعبيرونه شوي: ١- د همدې توحيد لوري ته بلنه ورکړه، ٢- له دې کبله بلنه ورکړه چې مخکينيو په الهي کتاب کې شك وکړ او په اختلاف اخته شول، دوهم تعبير دقيق دئ او له مخکينې آيت او له ټول مضمون سره اړخ لګوي، ځکه تر دې وړاندې ويل شوي چې مخکينيو اهل کتاب د تفرق او اختلاف لار غوره کړه، اختلاف ئې عمدي او د نورو په حقوقو د تېري په موخه وو، نو اوس چې هغوی د الله دين ته شا کړې؛ ته دا دنده په غاړه واخله چې خلك حق دين ته وبلې.
- بيا په صبر او استقامت ګمارل شوی او ورته ويل شوي چې ستا استقامت بايد همغسې وي لکه چې الله تعالى پرې ګمارلی يې.
- بيا لارښوونه ورته شوې چې د دوی د هوسونو متابعت مه کوه.
- ورپسې په دې ګمارل شوی چې خلکو ته دا خبرې وکړي: ١- په هر هغه کتاب مې ايمان راوړی چې الله تعالى نازل کړی. ٢- پر دې ګمارل شوی يم چې ستاسو تر منځ عدالت وکړم، ٣- الله هم زموږ رب دئ او هم ستاسو، ٤- موږ ته خپل عملونه دي او تاسو ته خپل عملونه، ٥- زموږ او ستاسو تر منځ کومه شخړه نشته، ٦- الله به موږ او تاسې په خپلو کې راغونډ کړي. ٧- ورتګ د الله تعالى لوري ته دئ.

دلته څو خبرې بايد په پام کې ولرو: متأسفانه ځينې دا فقرې (موږ ته خپل عملونه دي او تاسو ته خپل عملونه، زموږ او ستاسو تر منځ کومه شخړه نشته) داسې تعبيروي چې ګواکې دا يو ډول مصالحې او روغې جوړې ته بلنه ده، داسې چې يو به د بل په کړو وړو

کار نه لري، هر څوك به خپلې مخې ته آزاد پرېښودل کېږي!! ځيني تر دې هم وړاندې ځي او له دغو او دې ته ورته فقرو داسې تعبيرونه کوي چې ثابته کړي دين يو انفرادي عمل او يوه شخصي دنده ده، هر څوك پوهېږي او خپل دين او مذهب ئې، بل حق نه لري د ده مزاحم شي !! ځيني بيا گمان کوي چې زموږ مأمويت په دې کې خلاصه شوى چې خلکو ته بلنه ورکړو او حق دين ورته بيان کړو؛ همدا او نه تر دې زيات!! دا تعبيرونه په بشپړه توگه ناسم او غلط دي او د قرآن له څرگندو اصولو سره تصادم کوي، دوى دې ته پام نه کوي چې په همدې آيت کې او تر دغو فقرو وړاندې ويل شوي: پر دې گمارل شوى يم چې ستاسو تر منځ عدالت تأمين کړم، يعني د مظلوم ملگرتيا کوم، هغه کوم چې هغه ته د ده غصب شوى حق وسپارل شي او عدالت تأمين شي؛ او په مخکيني آيت کې ويل شوي: أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ : دا چې دين قائم کړئ او په هغه کې مه متفرق کېږئ، قرآن خو د دين قائمول او د خلکو تر منځ عدالت تأمينول د ټولو پيغمبرانو دنده گڼي، قرآن خو مؤمنان په امر بالمعروف او نهي عن المنكر، د الله په لار کې جهاد او د مستضعفينو د نجات لپاره پر جهاد گمارلي؛ او دا د هر مؤمن په فرائضو او وجائبو کې شمېري!! دوى دې ته هم متوجه نه دي چې تبليغ او دعوت بېله معنى لري او امر بالمعروف او نهي عن المنكر بېله معنى، دا گمارل او منع کول افاده کوي او هغه يوازې بلنه او وينا، موږ د الله تعالى له لوري يوازې په دعوت او تبليغ نه يو گمارل شوي بلکې په ژبه، لاس او توري جهاد باندې هم مکلف شوي يو. دا د جهاد او امر بالمعروف او نهي عن المنكر تارکين د کوم دليل او حجت له مخې دا کار نه کوي، بلکې يا د ضعف ايمان، حب دنيا، وېرې او جبن له کبله دا کار کوي او يا د دښمن له لوري گمارل شوي، عمداً دين تحريفوي او د جهاد له ثابتې او څرگندې فريضې د خلکو پام بل لوري ته اړوي.

---

وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ٱسۡتُجِيبَ لَهُۥ حُجَّتُهُمۡ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ وَلَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ وَٱلۡمِيزَانَۗ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ قَرِيبٞ ﴿١٧﴾ يَسۡتَعۡجِلُ بِهَا ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِهَاۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مُشۡفِقُونَ مِنۡهَا وَيَعۡلَمُونَ أَنَّهَا ٱلۡحَقُّۗ أَلَآ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُمَارُونَ فِي ٱلسَّاعَةِ لَفِي ضَلَٰلِۢ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾

او هغه چې د الله په اړه له دې وروسته شخړه کوي چې لبيك ورته ويل شوى؛ حجت ئې د دوى د رب په وړاندې باطل دئ او پر دوى د الله غضب دئ او دوى ته شديد عذاب دئ. الله هغه ذات دئ چې پر حق مبني کتاب او ميزان ئې نازل کړى؛

او څه خبر کړی یې؟ ښایي د قیامت نېټه به نژدې وي، هغه ئې په تلوار سره غواړي چي ایمان پرې نه لري؛ او هغه چي ایمان لري ترې وېرېدونکي دي او پوهېږي چي هغه رښتینې ده، پام چي هغه خلك په ژوري تېروتني کې دي چي د قیامت په اړه جدل کوي.

(۱٦-۱۸)- د دې مبارکو آیتونو مهم مطالب دا دي:

- له هغه وروسته چي ځینو خلکو پر الله تعالی او د ده پر کتاب ایمان راوړی او الهي احکامو ته ئې عملاً غاړه ایښې، د هغو مخالفت بې بنسټه او بې دلیله دئ چي د الله تعالی په اړه جدل کوي، د دوی هر حجت په الهي معیارونو کې باطل دئ، دوی د الله تعالی په غضب اخته او د شدید عذاب وړ دي. دا ځکه چي د ځینو ایمان راوړل او د الهي دین په وړاندې د دوی انقیاد ښیي چي دومره کافي او اړین دلائل او لارښووني ئې تر لاسه کړې چي حقیقت ورته جوت شي او د ایمان لار غوره کړي، که له دې وروسته څوك دا ادعاء وکړي چي د الله تعالی او د هغه د لارښود کتاب په اړه ئې قانع کوونکي دلائل نه دي تر لاسه کړي؛ دروغ وایي او ادعاء ئې بې اعتباره او باطله ده.
- دا له حقائقو ډك کتاب چي هره وینا ئې رښتینې ده او د حق او باطل، ښه او بد، مفید او مضر، عدل او ظلم په اړه واضح او څرګند معیارونه زموږ په وړاندې ږدي، ښیي چي د الله تعالی له لوري نازل شوی.
- تاسو د قیامت په اړه د قرآن وینا نه منئ، خو آیا د دې مخالفت لپاره کوم دلیل هم لرئ؟! چا او کوم څه درته ویلي او په دې ئې قانع کړی یې چي قیامت نشته؟! ښایي د قیامت نېټه به نژدې وي!! آیا د دې وینا د تردید لپاره کوم دلیل لرې؟!
- هغه څوك قیامت په تلوار سره غواړي چي ایمان پرې نه لري.
- خو هغه چي ایمان لري ترې وېرېږي او پوهېږي چي هغه ورځ رښتینې او حتماً راتلونکې ده.
- باید متوجه وئ چي هغه خلك په ژوري تېروتني کې دي چي د قیامت په اړه جدل کوي.

ٱللَّهُ لَطِيفُۢ بِعِبَادِهِۦ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ﴿١٩﴾ مَن كَانَ يُرِيدُ
حَرۡثَ ٱلۡأٓخِرَةِ نَزِدۡ لَهُۥ فِي حَرۡثِهِۦۖ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا
وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ﴿٢٠﴾

الله پر خپلو بندګانو د نرمښت خاوند دئ، چا ته چي وغواړي روزي ورکوي؛ او هغه عزتمن ځواکمن دئ، څوك چي د آخرت کر غواړي په کښت کې به ئې ورزیات کړو او

ځوك چې د دنيا كښت غواړي څه به ترې وركړو په داسې حال کې چې په آخرت کې به ئې هيڅ برخه نه وي.

(۱۹-۲۰)- دا مبارك آيتونه وايي:

- الله تعالی پر خپلو ټولو بندګانو (مؤمن او كافر) د لطف او نرمښت خاوند دئ، چا ته چې وغواړي روزي وركوي، دا په داسې حال کې چې هغه عزتمن ځواكمن دئ، عاصي او باغي بنده ته که هر څومره ستر او مغرور وي سزا وركولی شي ځکه هغه تر هر ځواكمن زيات ځواكمن دئ، تر هر غالب او عزتمن زيات عزتمن دئ، له بندګانو سره د هغه معامله د لطف او نرمښت معامله ده سره له دې چې هغه عزتمن ځواكمن دئ.
- ځوك چې د آخرت كر غواړي، يعني دا خوښوي چې د خپلو عملونو حاصل او ثمره په آخرت کې تر لاسه کړي، هغه دي ډاډه وي چې په دې كښت کې به ئې ورزيات کړو او ځوك چې د دنيا كښت غواړي، يعني د خپلو هڅو بدله يوازې په دنيا کې لټوي او د آخرت پروا نه لري، الله تعالی به ده ته څه ترې وركړي؛ په داسې حال کې چې په آخرت کې به ئې هيڅ برخه نه وي. يعني مؤمن به هم د خپلو عملونو دنيايي بدله تر لاسه كوي او هم ډېره زياته اخروي بدله او كافر به يوازې د خپلو هڅو ځيني نتائج په دنيا کې تر لاسه كوي او په آخرت کې به ئې هيڅ برخه نه وي.

أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةُ ٱلۡفَصۡلِ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢١﴾ تَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا كَسَبُواْ وَهُوَ وَاقِعُۢ بِهِمۡۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي رَوۡضَاتِ ٱلۡجَنَّاتِۖ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمۡۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ﴿٢٢﴾

آيا داسې شريكان ئې دي چې د دين هغه طريقه ئې ورته ټاكلې چې الله ئې إذن او اجازه نه ده وركړې؛ او كه د پرېكړې هغه وينا نه وی نو حتماً به د دوی تر منځ (وروستۍ) پرېكړه شوې وه او يقيناً چې دغو ظالمانو ته دردناك عذاب دئ، دا ظالمان به ګورې چې له هغه څه وېرېدونكي دي چې تر لاسه كړي ئې دي په داسې حال کې چې هغه پر دوی پرېوتونكی دئ؛ او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي د جنتونو په بڼګوټو (باغچو) کې به وي، دوی ته به د خپل رب په خوا کې هر هغه څه وي چې غواړي ئې، همدا ستر فضل دئ.

(۲۱-۲۲)- د دې مباركو آيتونو لارښوونې دا دي:

- آیا دغو مشرکانو الله تعالی ته داسي شریکان جوړ کړي چي دوی ته ئې دیني طریقې ټاکلې دي، داسي دیني طریقې چي الله تعالی ئې إذن او اجازه نه ده ورکړې؟ دا دومره ستره ګناه او جرم دئ چي فوري مؤاخذه او سزا ئې ایجابوله، داسي ظالمان د دې وړ دي چي الله تعالی فوراً د دوی په اړه د سخت مجازات پرېکړه وکړي او سزا ورکړي، خو د الله تعالی سنت داسي دئ چي ژر پرېکړه نه کوي او مجرم ته که هر څومره ستر وي تر ټاکلي نېټي مهلت ورکوي او د ده د سزا پرېکړه تر خاصي نېټي ځنډوي، که د پرېکړي په اړه دا الهي سنت نه وی نو حتماً به د دوی په اړه وروستۍ پرېکړه شوې وه او یقیناً چي دغو ظالمانو ته دردناك عذاب دئ.
- د قیامت په ورځ به دا ظالمان ګورې چي د خپل شرك او کفر له سزا وېرېږي؛ په داسي حال کې چي حتماً به پرې اخته کېږي.
- هغه چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د جنتونو په بڼګوټو او باغچو کې به وي، دوی ته به د خپل رب په خوا کې هر هغه څه وي چي غواړي ئې، همدا ستر فضل دئ.

لکه چي ګورئ په دې مبارکو آیتونو کې د شرك یو بل ډول انځور شوی، په دې کې مشرکان الله تعالی ته داسي شریکان ټاکي چي دیني او مذهبي طریقې ورته جوړوي، په داسي حال کې چي الله تعالی هیڅا ته دا اجازه نه ده ورکړې چي خلکو ته د خپلي خوښي دین او مذهب جوړ کړي، دا شرك له هغو سره توپیر لري چي مشرکان په (عبادت) او (استعانت) کې الله تعالی ته شریکان ټاکي، د الله تعالی تر څنګ نور معبودان لمانځي او له هغوی مرسته غواړي، دا هغه شرك دئ چي د ژوند په تګلاري او کړنکلاري او په شریعت او قانون پوري تړلی دئ، د قرآن له نظره دا د توحید ستره تقاضا ده چي الله تعالی به د یوازیني شارع په توګه منو، له الله تعالی پرته به هیڅا ته دا حق نه ورکوو چي انسان ته شریعت او قانون وضع کړي، حلال او حرام ورته وټاکي، څوك چي له الله تعالی پرته بل چا ته د شارع په سترګه ګوري او هغه ته د شریعت او قانون وضع کولو حق ورکوي او د بنده په لاس جوړ شوي قانون په وړاندي سر ټیټوي؛ هغه مشرك دئ؛ او داسي مشرك د سختي سزا وړ. دې ته مو پام وي چي قرآن هغه نظام او قانون د دین په نامه یادوي چي پر ټولني حاکم وي او د خلکو منازعات د هغه له مخي حل و فصل کېږي. قرآن د مصر فرعوني نظام د (دین الملك) په نامه یادوي، قرآن هغه واکمن او حاکم د (طاغوت) په نامه یادوي چي د خلکو منازعات له الهي دین پرته د بل قانون له مخي حل و فصل کوي، هغه څوك سخت تېروتی او د شیطان په لومي کې پرېوتی بولي چي دغه طاغوت ته خپل منازعات وړاندي کوي.

---

ذَٰلِكَ ٱلَّذِى يُبَشِّرُ ٱللَّهُ عِبَادَهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ۗ قُل لَّآ

أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًا إِلَّا ٱلۡمَوَدَّةَ فِي ٱلۡقُرۡبَىٰۗ وَمَن يَقۡتَرِفۡ حَسَنَةٗ نَّزِدۡ لَهُۥ فِيهَا حُسۡنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾

**دا همغه څه دي چي الله ئې خپلو هغو بندګانو ته زېرى وركوي چي ايمان ئې راوړى او صالح عملونه ئې کړي، ووايه: له تاسو هيڅ اجر نه پرې غواړم مګر په خپلوۍ کي دوستي؛ او څوك چي كومه ښېګڼه وكړي هغه ته ښېګڼه په كي زياتوو، يقيناً چي الله شاكر بخښونكى دئ.**

(۲۳)- د دې مبارك آيت په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره دا خبري په پام كي ولرئ:

- د مخكيني آيت په ارتباط ويل شوي: دا همغه څه دي چي الله ئې خپلو مؤمنو او صالح بندګانو ته زېرى وركوي.
- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چي خپلو مخالفينو ته ووايي: له تاسو هيڅ اجر نه پرې غواړم مګر په خپلوۍ كي دوستي. اجر مي دا دئ چي خپلوان مي هدايت شي او په دې سره له خپلوانو سره زما د محبت او دوستۍ احساس اشباع او خړوب شي.
- څوك چي كومه ښېګڼه وكړي نو الله تعالى د هغه په ښېګڼي كي حسن او ښايست زياتوي، ښېګڼو ته ئې ځلا او ښايست وركوي، دا ځكه چي الله تعالى (شاكر) او (بخښونكى) دئ، د خپل بنده د عمل قدرونه كوي او له اشتباهاتو ئې تېرېږي او بخښنه ورته كوي.
- دا مبارك آيت د ځينو له لوري په داسي غلطي بڼې كي تعبير شوى چي قبيح تحريف ته ورته دئ، شيعه او ځيني جاهل متصوفين دا آيت داسي تعبيروي چي ګواكي رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې ګمارل شوى چي مؤمنانو ته ووايي: له تاسو يوازي يو اجر غواړم او هغه دا چي زما له اهل بيت سره مينه ولرئ!! په اهل بيت كي هم يوازي علي، فاطمه، حسن او حسين نيسي او نور ټول ترې حذفوي، نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم نوري لوڼې په كي شاملوي او نه ترونه او د ترونو نور زامن!! دوى له يوې خوا (القربى) د خپلوانو په معنى تعبيروي؛ حال دا چي د (القربى) اصلي معنى خپلوي ده؛ نه خپلوان، د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو كي دا لفظ راغلى او په ټولو كي د خپلوۍ په معنى راغلى، له بلي خوا د پيغمبر عليه السلام خپلوان هم يوازي په فاطمه، علي، حسن او حسين رضى الله عنهم كي راخلاصه كوي، له بلي خوا آيت داسي تعبيروي چي ګواكي پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي مؤمنانو ته ووايه چي له تاسو د هغو زحمتونو اجر نه غواړم چي ستاسو د هدايت په لار كي مي ايستلي، تاسو ته مي عزت درپه برخه كړ او .... يوازي يو اجر درنه غواړم او هغه دا چي زما له خپلوانو (فاطمه، علي، حسن او حسين رضى الله عنهم) سره محبت وكړئ!! په دې اړه څو خبرو ته ځير شئ:

- دا سوره په مكه كې نازله شوې، هغه مهال چې لا علي او فاطمې رضی الله عنهما ازدواج نه وو كړی، حسن او حسين رضی الله عنهما لا نه وو پيدا شوي، لا مسلمانان تر سختو ابتلاءاتو لاندې ول، د پيغمبر عليه السلام په ملگرتيا كې ئې له توهين، تهديد، زندان، تعذيب، هجرت او شهادت پرته هيڅ دنيوي امتياز او راحت نه وو په برخه شوی، هغه څه چې دوی ئې ادعاء كوي يو ئې هم نه وو تر لاسه كړی، نو په داسې حالت كې به پيغمبر عليه السلام څنگه دوی ته ويل چې د دغو لاسته راوړنو په سبب به زما د اهل بيت درناوی او احترام كوئ؟!! كوم عاقل او په قرآن پوه انسان د داسې غلط تعبير جسارت كولی شي؟!!
- څنگه به پيغمبر عليه السلام له خپلو سختو دښمنانو او هغو قريشو چې ډېر ئې د ده په اقرباوو كې راتلل؛ دا غوښتنه كوي چې له تاسو يو اجر غواړم او هغه هم تر ټولو ستر او دښمنانو ته د نه منلو وړ؛ او هغه دا چې له فاطمې او علي رضی الله عنهما او زما له هغو دوو لمسيانو سره به محبت كوئ چې لا تر اوسه نه دي پيدا شوي؟!! كه له دوی سره دا لفظي تحريف ومنو او القربی د اولوا القربی په معنی ونيسو نو مخاطبينو خو به له (اولوا القربی) يا ټول بني هاشم مرادول، يا يوازې بني عبدالمطلب چې په دوی كې تر ټولو سخت دښمن ابولهب هم راتلو، هيڅ مخاطب به دا غلطه معنی نه وه ترې اخيستې چې محمد عليه السلام له دوی د فاطمې او علي رضی الله عنهما د مودت غوښتنه كړې؛ له دې آيت داسې تعبير يوازې يو متعنت او متعصب انسان درلودی شي.
- ولې په اقرباوو كې يوازې څلور كسان؟!! كوم عقل، عدل او عرف دا خبره منې چې د اقرباوو عامه صيغه په څلورو داسې كسانو اطلاق شي چې دوی ته ورته نور اقربا هم شته؟!! ښايي دوی به په كوم داسې روايت باندې استناد كوي چې همدا د قرآن، عقل او عرف خلاف خبره كوي او يوازې څلور كسان د پيغمبر عليه السلام اهل بيت، عترت او اقربا گڼي!! خو كه څوك ورته ووايي چې دا روايت كوم غالي شيعه جوړ كړی او صحابه وو ته ئې منسوب كړی؛ او كه ورته ووايي: روايت خو په هغه صورت كې د منلو دئ چې منشأ ئې قرآن وي يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري او د عقل خلاف نه وي، ځواب به ئې څه وي؟ كه ورته ووايي: د قرآن صريح آيت ومنم كه د عقل خلاف روايت؟ څه ځواب به وركوي؟ كه داسې نه وي او د روايت په نامه هر رطب و يابس (لانده او وچ) باندې استناد وكړو نو بيا خو به زموږ حالت همغسې شي لكه د شيعه وو، چې د دوی د رواياتو تر ټولو معتبر كتاب (اصول كافي) په اړه د شيعه وو مشهور عالم علامه برقعي وايي: د دې كتاب اكثر روايات جعلي، له قرآن سره متصادم او د عقل خلاف دي او روات ئې مجهول الهويه، كاذب او فاسق دي، برقعي د اصول كافي د ترديد په اړه يو ضخيم كتاب ليكلی چې په هغه كې ئې ليكلي: كه دښمنان خبر شول چې زموږ د رواياتو په كتابونو كې داسې روايات هم راغلي چې راويان ئې خر او چنگښه دي؛ څه به كوو؟!

دوی په دې آيت کې غور نه دئ کړی، د نورو آيتونو په رڼا کې ئې د هغه په حقيقي او اصلي مطلب د پوهېدو هڅه نه ده کړې، دې ته متوجه نه دي چې دا آيت په داسې ځای کې او د داسې مضمون په ضمن کې راغلی چې خطاب مخالفينو ته متوجه دئ، همغه مخالفين چې د پيغمبر عليه السلام په ضد ئې له هيڅ ظلم، تېري او جفا ډډه نه کوله، همغه مخالفين چې قرآن په مکرره توګه پيغمبر عليه السلام ته ويلي چې دوی ته ووايه: له تاسو هيڅ اجر نه غواړم، څنګه ممکنه ده چې په دې آيت کې به د ګڼ شمېر نورو آيتونو خلاف خبره شوې وي او له قريشو به ئې داسې ستر اجر او بدله غوښتې وي چې هيڅ اجر ورسره برابري نشي کولی؟!! آيا ممکنه ده يو څوك خپل دښمن ته ووايي: له تا هيڅ اجر او بدله نه غواړم يوازې دا درنه غواړم چې زما له زوم، لور او دوو لمسيانو سره به مينه کوې؟!! آيا د پيغمبر عليه السلام په څېر ستر شخصيت به داسې مطالبه له خپلو دښمنانو کړې وي؟!! په آيت کې له استثناء مراد دا نه دئ چې يوازې يو اجر ترې وغواړه؛ بلکې مراد ئې داسې دئ لکه د الفرقان د سورې په ۵۷ آيت کې چې راغلی:

قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿٥٧﴾ الفرقان

ورته ووايه: له تاسو هيڅ اجر پرې نه غواړم؛ مګر دا چې څوك وغواړي د خپل رب لوري ته (د تلو لپاره) لار غوره کړي.

يعني زما اجر به يوازې دا وي چې په تاسو کې څوك ايمان راوړي او د الله تعالى لوري ته د تللو پرېکړه وکړي.

د قرآن د مخکيني آيت معنی سل په سلو کې دې ته ورته ده او هغه دا چې زما اجر يوازې دا دئ چې له اقرباوو سره زړه سوی او دوستي څرګندوم او د دوی د هدايت هڅه کوم، که زما د هڅو په نتيجه کې له تاسو څوك ايمان راوړي نو معنی ئې دا ده چې زما له خپلوانو ځينو ايمان راوړی، همدا به زما اجر وي، که زه په بل قوم کې مبعوث شوی وی او يوازې هغوی ته مې بلنه ورکولی، نو دا بدله او معاوضه به مې هم نه په برخه کېده، خپلوان به مې هم له هدايت محروم پاته کېدل. که څه هم ځينو محققينو ويلي چې د آيت مراد دا دئ: له تاسو يوازې دا بدله غواړم چې له ما سره خپلوۍ ته پام وکړئ او د پرديو دښمنانو په څېر راسره چلن مه کوئ، خو د دې لپاره چې دا هم يو ډول اجر او بدله ګڼل کېږي او د قرآن نور آيتونه په پرېکنده الفاظو سره وايي چې هيڅ اجر ترې مه غواړه، نو ځکه وايو چې غوره تعبير همغه برنی تعبير دئ.

د آيت دا فقره هم لږ غور غواړي چې وايي: وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُۥ فِيهَا حُسْنًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ٢٣ : او څوك چې کومه ښېګڼه وکړي هغه ته ښېګڼه په کې زياتوو، يقيناً چې الله شاکر بخښونکی دئ. دلته ويل شوي چې په ښېګڼې کې ئې (حسن) زياتوو، د دې معنی دا ده چې د ده معمولي ښېګڼې ته لا زياته ښکلا او ځلا ورکوو، که د ده په نېك کار کې کوم کمی وي هغه له پامه غورځوو او دا کمی ورته بشپړوو، که عمل ئې د لږ ثواب وړ

وي داسي ئې گرځوو چي د زيات ثواب وړ شي.

﴿أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ۖ فَإِن يَشَإِ ٱللَّهُ يَخْتِمْ عَلَىٰ قَلْبِكَ ۗ وَيَمْحُ ٱللَّهُ ٱلْبَٰطِلَ وَيُحِقُّ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٢٤﴾﴾

آيا وايي چي پر الله ئې دروغجنه افتراء کړې، نو که الله غوښتی ستا پر زړه به ئې مهر لگولی وو، الله باطل محو کوي او حق محقق کوي په خپلو ويناوو سره، يقيناً چي هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ.

(۲٤)- دا مبارك آيت وايي: آيا ستا مخالفين دا ادعاء کوي چي تا پر الله تعالی له ځانه دروغجنه افتراء کړې، ته په دروغو ځان د الله تعالی رسول گڼې او په دروغو وايي چي قرآن د الله تعالی له لوري درکړی شوی؟! آيا دا خلك دومره بې انصافه دي او په خپل تعصب، عناد او دښمنۍ کي هغه پړاو ته رسېدلي چي ستا په څېر ستر او سپېڅلی شخصيت په دې تورنوي چي پر الله تعالی ئې افتراء کړې؟!! آيا دوی تا پر خپل ځان قياسوي، گمان کوي چي ته به هم د دوی په څېر وې چي رښتيا او دروغ ورته يو شانته دي؟ دا ستره گناه خو داسي څوك کوي چي پر زړه ئې مهر لگول شوی وي، کړني ئې د يوه تور زړي انسان په څېر وي، څنگه د رسول الله صلی الله عليه و سلم په څېر پاك سيرت، صادق او امين شخصيت په داسي گناه تورنوئ؟!! که الله تعالی غوښتی ستا پر زړه به ئې مهر لگولی وو، ته به هم د دوی په څېر شوی وې.

د آيت په پای کي ويل شوي: الله باطل محو کوي او حق محقق کوي په خپلو ويناوو سره، يقيناً چي هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ. په دې اړه دوه د اعتناء وړ تعبيرونه مومو: ۱- الله تعالی به د دوی تورونه، غلط تبليغات او باطل اظهارات شنډ کړي، حقيقت به ټولو ته جوت کړي، د باطل پلويان به له ماتي سره مخامخ کړي او حقپال به غالب کړي، الله تعالی پوهېږي دوی په خپلو سينو کي څه لري، کوم عزائم ئې د حق دښمنۍ او ستا په خلاف داسي تورونو ته هڅوي. ۲- د الله تعالی له لوري چي تا ته کومي لارښووني شوې دي او کوم کتاب درکړی شوی دا خو د الله تعالی هغه کلام دئ چي باطل پرې محو کوي او حق پرې محقق کوي، دوی خو له تا دغه کلام اوري، د داسي الهي کلام له اورېدو سره سره څنگه تا ته داسي نسبتونه کوي؟!! د دې الهي کلام په کومي برخي کي د دې شائبه مومي چي دا به د کوم انسان له لوري افتراء شوی کلام وي؟!! د دوی د تبليغاتو وجه دا نه ده چي داسي کومه شائبه ئې تر سترگو شوې؛ وجه ئې د دوی هغه شوم عزائم دي چي په خپلو سينو کي ئې پټ ساتلي او الله تعالی پرې پوهېږي. دوهم تعبير د آيت له سياق و سباق سره زيات مناسبت لري.

وَهُوَ ٱلَّذِي يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَعۡفُواْ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ﴿٢٥﴾ وَيَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۚ وَٱلۡكَٰفِرُونَ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞ ﴿٢٦﴾

او دی همغه (ذات) دئ چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي او له ګناهونو تېرېږي او په هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ؛ او د هغو اجابت کوي چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او له خپلو پېرزوینو لا زیاتي ورپه برخه کوي؛ او کافران داسي دي چې دوی ته شدید عذاب دئ.

---

(٢٥-٢٦)- دلته له مؤمنانو او کافرانو سره د الله تعالی معامله په دې توګه بیان شوې:

- الله تعالی د خپلو بندګانو توبه قبلوي.
- د دوی له ګناهونو تېرېږي او عفو ورته کوي.
- له هر یوه سره هغه معامله کوي چې ورسره وړ وي؛ ځکه په هغه څه پوهېږي چې دوی ئې کوئ.
- د هغو دعاګاني او عبادتونه قبلوي چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، دوی ته له خپلو پېرزوینو لا زیاتي ورپه برخه کوي.
- او کافران خو داسي دي چې شدید عذاب ئې ورته ټاکلی.

---

وَلَوۡ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٖ مَّا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٞ ﴿٢٧﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ مِنۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُواْ وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُۥۚ وَهُوَ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿٢٨﴾ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٖۚ وَهُوَ عَلَىٰ جَمۡعِهِمۡ إِذَا يَشَآءُ قَدِيرٞ ﴿٢٩﴾

او که الله خپلو بندګانو ته رزق پراخ کړی وی حتماً به ئې په زمکي کي بغاوت کړی وو؛ خو په همغه اندازه ئې نازلوي چې دی ئې غواړي، یقیناً چې هغه د خپلو بندګانو په اړه ښه لیدونکی باخبره دئ؛ او دی همغه ذات دئ چې باران له هغه وروسته نازلوي چې مأیوس شوي وي او خپل رحمت خوروي او دی ستایل شوی مولا دئ؛ او له آیتونو ئې د آسمانونو او زمکي پیدایښت او هغه خوځېدونکي دي چې په دوی دواړو کي ئې خواره کړي او دی کله چې وغواړي په راغونډولو ئې ښه توانمن

دئ.

(٢٧-٢٩)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- كه الله تعالى خپلو بندګانو ته رزق او روزي له هغه ټاكلي مقدار زيات كړى وى چې د خپل حكمت له مخې ئې ورته ټاكلى نو حتماً به ئې په زمكې كې بغاوت كړى وو؛ خو په همغه اندازه ئې نازلوي چې دى ئې غواړي او الهي حكمت ئې ايجابوي. يقيناً چې الله تعالى د خپلو بندګانو په اړه بشپړ علم لري، حالت ئې ګوري او له طبيعت او فطرت ئې خبر دئ.
- الله تعالى همغه ذات دئ چې باران له هغه وروسته وروي چې خلك مأيوس او ناهيلي شوي وي او په دې توګه د خپل پراخ رحمت وزر پرې غوړوي، دا ځكه چې هغه ستايل شوى مولا دئ، همغه مولا چې باران نازلوي او دا هم هغه مهال چې خلك مأيوس شوي وي، داسې څه نه مومي چې د باران د ورولو هيله ترې وكړي، په ټول عالم كې له الله تعالى پرته داسې كوم شى نه ګوري چې خپل اميد ورپورې وتړي، هغه ته انتظار ولري او پر هغه اعتماد او تكيه وكړي، داسې څوك نه ګوري چې د ده احتياج ته ځواب ووايي، مشكل ئې رفع كړي، مأيوس او نااميده دئ، خو ناڅاپه د همدې مأيوس او نااميده انسان غوښتنه منل كېږي، دعاء ئې اورېدل كېږي او هيله ئې تر سره كېږي، دا څوك كوي؟ انسان خو په ټول عالم كې داسې څه نه ګوري چې په دې اړه له هغه څه طمع ولري، په هغه پورې خپل اميد وتړي او له هغه د مرستې انتظار ولري، مأيوس دئ، په عالم كې داسې څه نه ګوري چې د ده احتياج او اړتيا تر سره كړي، ناڅاپه ئې دا يأس او نا اميدي ختمېږي، اړتيا او احتياج ته ئې ځواب ويل كېږي، دا كار څوك كوي؟ دا څوك دئ چې انسان ته له هغه وروسته چې مأيوس شوى، له قحطي او وچكالي سره مخامخ دئ، سختې تودوخې وارخطا كړى، هرې خوا ته مرضونه خواره شوي، نباتات ئې، حيوانات ئې او په خپله دى باران او اوبو ته محتاج او اړ دئ، تر دې حده چې د يأس مرحلې ته رسېدلى، خو ناڅاپه د همدغه مأيوس انسان غوښتنې ته ځواب ويل كېږي، دا ځواب څوك وايي؟ او د هغه دا احتياج څوك رفع كوي؟ څوك ئې ضرورت منتفي كوي؟ آيا له دې پرته بل ځواب لرو چې ووايو: دا د هغه ستايل شوي ذات كار دئ چې پر خپلو بندګانو مهربان، د دوى د اړتياوو او ستونزو د رفع كولو ذمه وال او د دوى مولا دئ.
- د الله تعالى د قدرت له ځرګندو نښو د آسمانونو او زمكې پيدايښت او هغه خوځېدونكې دي چې په دوى دواړو كې ئې خواره كړي، آيا دا پراخ او په بې شمېرو ستورو ښايسته شوى آسمان، دا پراخه او له ډول ډول نعمتونو ډكه زمكه، دا بې شمېره ژوي چې په آسمانونو او زمكې كې خواره شوي د دې شهادت نه وركوي چې يو ځواكمن، عليم او حكيم خالق لري؟!! آيا دا د دې خبرې ګواهي نه وركوي چې د عالمونو خالق او پالونكى هر كله چې وغواړي د دوى په راغونډولو او بيا پيدا كولو ښه توانمن دئ؟!!

• دلته په آسمانونو او زمکې کې د خواره شوو ژوو يادونه شوې، آيا له آسماني ژوو مراد يوازې فرشتې او پېريان دي که دا چې ښايي په نورو ستورو کې به هم ژوي خواره شوي وي او که د زمکې په فضاء کې هغه بې شمېره بکترياوې چې په سترګو نه ليدل کېږي خو ټوله فضاء ئې ډکه کړې؟!! فرشتې او پېريان ځکه د دې مصداق نه شو ګڼلی چې انسان ئې نشي ليدلی او د انسان لپاره د څرګندي نښې په توګه نشي وړاندي کېدلی، مصداق ئې داسې ژوي دي چې انسان ئې ليدلی شي، نو مصداق ئې يا همدا د زمکې په فضاء کې خواره ژوي دي يا هغه چې ښايي له دې وروسته به ئې انسان په فضاء کې ومومي.

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٍ ﴿٣٠﴾

او په کوم مصيبت چې تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو لاس ته راوړنو له کبله دئ او له ډېرو ئې (الله ) تېرېږي.

(٣٠)- دا مبارك آيت په ډېر صراحت او قاطعيت سره وايي چې مصيبتونه ستاسو د کړو وړو په سبب راځي او دا چې دا ستاسو د ګناهونو يوازې د يوې برخې سزا ده، که الله عفو ونه کړي او له تاسو سره د فضل او عفوې پر ځای د عدل له مخې معامله وکړي نو تر دې به ئې ستر ستر مصيبتونه درباندي نازل کړي وو.

دلته يوه جدي پوښتنه راولاړېږي او هغه دا چې آيا انسان له ګناه پرته هم په مصيبت اخته کېدی شي که نه؟ هغه مصيبتونه به څنګه تعبيروو چې د الله تعالی نېك بندګان ورسره مخامخ شوي؟ پر پيغمبرانو عليهم السلام هم مصيبتونه راغلي دا به د دې آيت له مخې څنګه توجيه کوو؟ بې ګناه ماشومان هم مصيبتونه ګالي!! په دې اړه بايد لاندي خبرې په پام کې ولرو:

د حوادثو، مصيبتونو او پېښو په اړه څلور نظريې وړاندي کېږي:

• يوه د بايبل هغه نظريه ده چې وايي: په انسان باندي چې کوم مصيبتونه راځي؛ دا د شيطان کار دئ، خدای شيطان ته دا اجازه ورکوي چې انسان له کړاوونو او مصيبتونو سره مخامخ کړي.

• بله دا چې انسان د خپلو ګناهونو په سبب له مصيبتونو سره مخامخ کېږي، هر په مصيبت اخته انسان په حقيقت کې يو ګناهګار انسان دئ!! دا ځکه چې مصيبتونه يوازې يو لامل لري او هغه د انسان ګناه ده او بس.

• درېيمه نظريه هغه ده چې وايي: ټولې پېښې تصادفي حوادث دي، که دا ستر ستر طوفانونه دي، که سيلابونه، که زلزلې او وچ کالي او که وړې وړې پېښې، د يوه انسان له عادي بيمارۍ نيولې تر هغو لويو لويو پېښو چې په ميلونونو خلك ترې متأثره شي، دا ټول طبيعي اسباب او عوامل لري، د خلکو له کړو وړو او ګناهونو سره ئې هيڅ تعلق نشته،

هم گناهگار نيسي او هم بې گناه، نه ئې د انسان بد عمل په راتلو کې څه ونډه لري او نه ئې ښه عملونه په مخنيوي کې.

- خو قرآن فرمايي چې د ښه او بد، راحت او مصيبت، نعمت او نقمت پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، نه شيطان په دې کې څه تصرف او مداخله کولی شي او نه په زمکې او آسمان کې له الله تعالی پرته بل څوك. د هرې پېښې پرېکړه د الله له لوري کېږي، هره حادثه د هغه په اراده رامنځته کېږي، الله نه په چا ظلم کوي او نه د عدالت خلاف پرېکړه، له هر فرد او ټولنې سره همغه څه کوي چې د عدالت له مخې ئې مستحق وي، نه ستر ستر حوادث تصادفي پېښې دي او نه واړه واړه مصيبتونه، کله د انسان بد عملونه د دې مصيبتونو د راتلو لامل وي او نېك عملونه ئې د تم کېدو باعث او کله الله تعالی غواړي د مصيبتونو په ترڅ کې انسان وروزي، کمال ته ئې ورسوي او هغه استعدادونه په کې راويښ او ځلانده کړي چې يوازې له کړاوونو سره د مخامخ کېدو په صورت کې په انسان کې وده کوي، لکه هغه ماشوم چې په لومړي ځل په خپلو پښو تگ زده کوي نو په وار وار لوېږي او لتېږي او په همدغو لوېدلو او لتېدلو کې د ده روزنه کېږي، ډېر څه ورښودل کېږي، هډوکي ئې مضبوطېږي او په لوړو ژورو کې د تلو هنر زده کوي.

قرآن فرمايي:

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُۥۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١١﴾ التغابن: ۱۱

هيڅ مصيبت نه راځي مگر د الله په إذن سره او څوك چې پر خدای ايمان لري زړه ئې ورهدايت کړي او الله په هر څه ښه پوه دئ.

دا آيت هم په ډېر تأکيد او قاطعيت سره وايي چې هيڅ مصيبت په خپل سر او تصادفي نه راځي، د الله په حکم او إذن راځي، د ايمان خاوندان ئې په وجه او حقيقت پوهېږي او په دې اړه ئې الله زړونه روښانه کوي او له شك او اعتراض ئې خوندي ساتي.

د قرآن گڼ شمېر آيتونه په پرېکنده ډول وايي چې هيڅکله کوم داسې مصيبت نه دررسېږي چې الله تعالی له مخکې نه وي درته ليکلی، که دا مرگ ژوبله وي، په جگړې کې ماته وي، يا کوم بل مصيبت، مؤمنان به په خدای توکل کوي، د مصيبتونو په اړه به هيڅکله دا شك نه کوي چې دا په خپل سر او د الله تعالی له عادلانه پرېکړې پرته نازل شوي.

کله مصيبت د گناه دنيايي سزا وي، له داسې مصيبت سره کله يو انسان د خپلې گناه له کبله مخامخ کېږي او کله يوه ټولنه د اکثريت د گناه له کبله، کله فردي بڼه لري او کله اجتماعي، کله يوه الهي آزموينه وي او په ترڅ کې ئې انسانان روزل کېږي او لوړو لوړو درجو ته د رسېدو لپاره جوگه کېږي. د دې تفصيل د الانبياء سورې د (۸۳-۸٤) آيتونو په

تفسير کې وګورئ.

په دې اړه دا روايت هم مخې ته راځي چې وايي:

عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « لاَ يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلاَّ بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو اللَّهُ عَنْهُ أَكْثَرُ ». قَالَ وَقَرَأَ ( وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ . رواه الترمذى

له ابو موسى رضى الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: هيڅ بنده ته کوم ستر يا ووړ مصيبت نه رسېږي مګر د کومې ګناه له کبله؛ او له هغه څه چې الله تېرېږي هغه ډېر دي، بيا ئې دغه آيت تلاوت کړ: ( وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ ).

که څه هم ځينو دا روايت د سند له پلوه ضعيف ګڼلى خو متن ئې د قرآن له آيت سره په بشپړه توګه مطابقت لري. متأسفانه موږ له دې ستونزې سره مخامخ يو، کله به داسې روايت ته صحيح ويل کېږي چې له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري او کله به پورتني روايت ته ورته روايت ضعيف ګڼل کېږي؛ په داسې حال کې چې هغه به د قرآن له څرګند آيت سره مطابقت لري. دا ستونزه له دې راولاړه شوې چې ځينو سند ته پر متن ترجيح ورکړې، سند ئې په لومړۍ درجې کې معتبر ګڼلى او متن په دوهمې درجې کې.

وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٣١﴾

او تاسو په ځمکې کې عاجزوونکې نه يئ؛ او تاسو ته له الله پرته نه کوم مولا شته او نه کوم مرستندوى.

(۳۱)- قرآن په دې مبارك آيت کې خپلو مخاطبينو ته وايي:

- تاسو نه شئ کولى د الله تعالى د ارادې په وړاندې خنډ شئ، الهي پرېکړې او سنن بدل کړئ، د مؤمنانو او کافرانو د برخليك په اړه چې الله تعالى څه ويلي او له دوى سره ئې کومې وعدې کړې د هغوى تر سره کېدل وځنډوئ. نو پر خپل زور او ځواك مه غره کېږئ او د حق مقابله مه کوئ.
- له الله تعالى پرته نه کوم مولا موندلى شئ او نه کوم مرستندوى.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلۡجَوَارِ فِي ٱلۡبَحۡرِ كَٱلۡأَعۡلَٰمِ ﴿٣٢﴾ إِن يَشَأۡ يُسۡكِنِ ٱلرِّيحَ فَيَظۡلَلۡنَ

رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِۦٓ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٍ ٣٣ أَوۡ يُوبِقۡهُنَّ بِمَا كَسَبُواْ وَيَعۡفُ عَن كَثِيرٖ ٣٤ وَيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ٣٥

او له آیتونو ئې په سمندر کې دا غرونو ته ورته تلونکې (کشتۍ) دي، که وغواړي سيلۍ به په ټپه ودروي چې له کبله به ئې د هغې پر شا ولاړې پاتې شي، يقيناً چې په دې کې هر ډېر صبر کوونکي ډېر شکر کوونکي ته څرګندې نښې دي، يا به ئې د هغه څه له کبله تباه کړي چې دوی کړي او له ډېرو تېرېږي. او هغه چې زما د آيتونو په اړه مجادله کوي پوه دي شي چې کوم پناه ځی ورته نشته.

(۳۲-۳۵)- دا مبارك آيتونه موږ ته دا لارښووني کوي:

- د الله تعالی د قدرت له نښو يوه هم هغه ستري ستري بادي کشتۍ دي چې په سمندر کې درومي، که وغواړي هغه سيلۍ به په ټپه ودروي چې دا کشتۍ خوځوي چې له کبله به ئې د اوبو پر سر ولاړې پاتې شي.
- ساحل ته د دغو کشتيو په رسېدلو کې، د سمندر له خطرناکو او هيبتناکو څپو تېرېدلو کې؛ او خپل مقصد ته د دغو کشتيو د سورليو رسېدلو کې هغو وګړو ته څرګندې نښې دي او د پند او عبرت درسونه دي چې صابر او شاکر وي، څوك چې د صبر لمن کلکه ونيسي؛ کشتۍ به ئې د سمندر له خطرناکو څپو تېرېږي او آخري منزل ته به رسېږي، څوك چې د نعمتونو قدر پېژني هغه به هرومرو د داسې الهي پېرزوينو قدر کوي او د الله تعالی د نعمتونو شکر به پر ځای کوي.
- که الله تعالی وغواړي د داسې کشتيو سورلي د دوی د ګناهونو له کبله غرق کړي آيا داسې څوك شته چې مخه ئې ونيسي؟!! دوی ځکه له داسې برخليك سره نه مخامخ کېږي چې الله تعالی عفو کوونکی دئ؛ او د بندګانو له ډېرو ګناهونو تېرېږي.
- داسې صحنې که له يوه لوري صبر کوونکو او شکر کوونکو ته د عبرت سبب دئ له بل لوري هغو ته چې د الله تعالی د آيتونو په اړه مجادله کوي ښيي چې د الله تعالی له مؤاخذې د تېښتې ځای نه لري، نه په وچه کې نه په لمده کې.

فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٣٦ وَٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُواْ هُمۡ يَغۡفِرُونَ ٣٧ وَٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَمۡرُهُمۡ

شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡبَغۡيُ هُمۡ
يَنتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾ وَجَزَٰٓؤُاْ سَيِّئَةٖ سَيِّئَةٞ مِّثۡلُهَاۖ فَمَنۡ عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۚ
إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾

نو څه چي تاسو ته درکړی شوي؛ هر څه چي وي، دا د دنيوي ژوند متاع ده؛ او هغه څه چي له الله سره دي هغه غوره او دائمي دي، د هغو لپاره دي چي ايمان ئې راوړی او پر خپل رب توکل کوي. او هغه چي له کبيره ګناهونو او فحش کارونو ډډه کوي او کله چي غصه شي نو بخښنه کوي؛ او هغه چي د خپل رب حکم ته ئې لبيك ويلی، لمونځ ئې قائم کړی او کار ئې په خپلو کې مشوره وي او له هغه څه انفاق کوي چي موږ ورروزي کړي. او هغه چي کله تېری پرې وشي غچ اخلي؛ او د بدو سزا بدو ته ورته بد وي، نو څوك چي عفو وکړي او مصالحه وکړي نو اجر ئې د الله پر ذمه دئ، يقيناً چي هغه ظالمان نه خوښوي. او هغه چي پر ده له ظلم وروسته ئې غچ اخيستی پر دوی (د الزام) هيڅ لار نشته، (د ملامتيا) لار يوازې پر هغو ده چي پر خلکو ظلم کوي او په ناحقه په زمکې کې بغاوت (تېری) کوي، همدا دوی ته دردناك عذاب دئ؛ او چا چي صبر وکړ او بخښنه ئې وکړه يقيناً چي دا له همتناکو کارونو دئ.

---

(٣٦-٤٣)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- څه چي تاسو ته درکړی شوي؛ هر څه او هر ډول نعمت چي وي، دا د دنيوي ژوند متاع ده، يوه وسيله او ذريعه ده، دا د ژوندانه د سفر توښه ده، دلته چي له نعمتونو کوم څه ګورئ، دا به يو هم د هدف او مقصد په توګه نه نيسئ، دا ټول د دنيوی ژوند لپاره د متاع حيثيت لري. د دنيا نعمتونه فنا کېدونکي دي، د دې لپاره درکړی شوي چي په خپل محدود دنيوی ژوند کې ګټه ترې واخلئ.
- هغه څه چي له الله تعالی سره دي هغه غوره او دائمي دي، څه چي تاسو د خپل رب په خوا کې تر لاسه کولی شئ هغه هم غوره دي او هم تلپاتي.
- خو دا غوره او تلپاتي نعمتونه هغه څوك تر لاسه کولی شي چي څو ځانګړتياوي او مواصفات ولري: ١- ايمان ئې راوړی وي، ٢- پر خپل رب توکل کوي، ٣- له کبيره ګناهونو او فحش کارونو ډډه کوي، ٤- کله چي غصه شي نو بخښنه کوي، ٥- د خپل رب حکم ته ئې لبيك ويلی، ٦- لمونځ ئې قائم کړی، ٧- کارونه ئې په مشوره وي، ٨- له هغه څه انفاق کوي چي الله تعالی ورروزي کړي، ٩- کله چي تېری پرې وشي غچ اخلي، خو د غچ اخيستلو په دوران کې دا په پام کې ساتي چي د بدو سزا بدو ته ورته وي، دومره ورسره کوي چي له

دې سره ئې کړي، خو که دا مظلوم ظالم ته عفو وکړي او مصالحه وکړي نو اجر ئې د الله تعالی پر ذمه دئ، يقيناً چي هغه ظالمان نه خوښوي، يعني د عفوي دا الهي لارښوونه د ظالمانو په اړه د کومي خواخوږۍ له کبله نه ده، په دې کي نور مصالح په پام کي نيول شوي، پر چا چي ظلم وشي او له مظلوميت وروسته له ظالم غچ واخلي ملامت نه دئ، د هيڅ معيار له مخي هغه ملامت نشي گڼل کېدی، ملامت يوازي هغه دئ چي پر خلکو ظلم کوي او په ناحقه په زمکي کي بغاوت او تېری کوي، همدا دوی ته دردناك عذاب دئ؛ او چا چي صبر وکړ او بخښنه ئې وکړه يقيناً چي دا له همتناکو کارونو دئ.

لکه چي گورئ دلته د مؤمنانو د صفتونو په ترڅ کي له لمانځه وروسته او تر انفاق وړاندي د مشورې يادونه شوې او ويل شوي چي د دوی کارونه په مشوره وي، دا ښيي چي په الهي دين کي د شورى اهميت څومره دئ، همدا راز دلته تر لمانځه او شورى وړاندي د دوی دا صفت راغلی: د خپل رب حکم ته ئې لبيك ويلی، دا ښيي چي شورى په هغو امورو کي ده چي پرېکړه ئې مؤمنانو ته پرېښودل شوې او په اړه ئې کوم صريح الهي حکم نه وي. د دې تفصيل د آل عمران د سورې د ۱۵۹ آيت په تفسير کي وگورئ.

دې ته مو پام وي چي دلته له يوې خوا له ظالمانو غچ اخيستل د مؤمنانو يوه ځانگړتيا ښودل شوې او له بلي خوا د صبر، زغم، عفو او مصالحې ستاينه شوې، دا ځکه چي په ځينو حالاتو کي غچ اخيستل ضروري وي او په ځينو کي صبر، عفو او مصالحه گټوره، که پر مسلمان د يوه مغرور ظالم له لوري تېری وشي نو بايد د هغه سوك په سوك ځواب شي او څپېړه په څپېړې، د هغه غرور بايد مات شي، له مؤمن سره دا ښايي چي د دوی د ظلم په وړاندي د صبر او زغم پر ځای د انتقام لار غوره کړي، دوی بايد د کبرجنو په وړاندي سر ټيټ نه کړي، خو که د خپل مسلمان ورور له لوري کوم تېری پرې وشي او وگوري چي دده ته عفو کول غوره دي، گټه ئې اسلام او مسلمانانو ته رسېږي او په دې عفو الله تعالی راضي کېږي نو همدا کار ورته غوره دئ، خو که سره له دې هغه خپل غچ واخيست د الله تعالی په وړاندي ملامت نه دئ.

---

وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن وَلِيّٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وَتَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَ يَقُولُونَ هَلۡ إِلَىٰ مَرَدّٖ مِّن سَبِيلٖ ﴿٤٤﴾ وَتَرَىٰهُمۡ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا خَٰشِعِينَ مِنَ ٱلذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرۡفٍ خَفِيّٖۗ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ فِي عَذَابٖ مُّقِيمٖ ﴿٤٥﴾ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنۡ أَوۡلِيَآءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِۗ وَمَن

يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن سَبِيلٍ ﴿٤٦﴾

او الله چې څوک لار ورکې کړي نو له ده وروسته ئې هیڅ مولا نشته؛ او کله چې ظالمان عذاب وګوري ته به ئې وينې چې وايي: آيا بېرته ستنېدو ته کومه لار شته؛ او دوی به ګورې چې په داسې حال کې به وروړاندي کړی شي چې د ذلت له کبله به داسي خشوع کوونکي وي چې د سترګي له کونجه به په پټه ګوري؛ او چا چې ايمان راوړی وايي به: بې شکه چې زيانمن همغه دي چې ځان او خپل ټبر ته ئې د قيامت په ورځ تاوان ورسولو، پام چې ظالمان به په تلپاتي عذاب کې وي؛ او له الله پرته به ئې داسي دوستان نه وي چې مرسته ئې وکړي؛ او الله چې څوک لار ورکې کړي نو هيڅ لار ورته نشته.

---

(٤٤-٤٦)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالى چې څوک لار ورکې کړي له ده پرته بل داسي مولا نشي موندلی چې لارښوونه ئې وکړي او له ضلالت ئې وژغوري.
- د قيامت په ورځ او هغه مهال چې دا ظالمان عذاب په خپلو سترګو وګوري ته به ئې وينې چې وايي: آيا دنيا ته د بېرته ستنېدو کومه لار شته؟! هڅه به ئې دا وي چې يو ځل بيا دنيا ته ستانه شي، خپله ماضي جبران کړي او داسي لار غوره کړي چې په دوزخ منتهي نشي، خو دا هيله به ئې نه تر سره کېږي، دوی به په داسي حال کې دوزخ ته وروړاندي کړی شي چې د ذلت او سپکاوي آثار به ئې په څېرو کې څرګند وي، له خپل مخکيني غرور او کبر به لوېدلي وي، غاړي به ئې کږې وي، له هيبته به جګ نشي کتلی، په ټيټو سترګو او په پټه پټه به د سترګي له کونج اور ته ګوري.
- د دوی بد حال ته په پام سره به مؤمنان وايي: بې شکه چې زيانمن همغه دي چې ځان او خپل ټبر ته ئې د قيامت په ورځ تاوان ورسولو.
- پام چې دا ظالمان به په تلپاتي عذاب کې وي، هغه مهال به له الله تعالى پرته داسي څوک نه مومي چې د يوه دوست او خواخوږي په توګه وروړاندي شي او مرسته ئې وکړي.
- الله تعالى چې څوک لار ورکې کړي نو هيڅکله به سمه لار ونه مومي، يوازينۍ سمه لار همغه ده چې الله تعالى موږ ته راښودلې، څوک چې په دې لار د تلو سعادت تر لاسه نه کړي په هيڅ توګه او هيڅکله به د نجات بله سمه لار پيدا نه کړي.

---

ٱسۡتَجِيبُواْ لِرَبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۚ مَا لَكُم مِّن مَّلۡجَإٍ يَوۡمَئِذٍ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٍ ﴿٤٧﴾ فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ

حَفِيظًاۖ إِنۡ عَلَيۡكَ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُۗ وَإِنَّآ إِذَآ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةً فَرِحَ بِهَاۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ فَإِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ كَفُورٞ ﴿٤٨﴾

خپل رب ته لبيك ووايئ تر هغه وړاندي چي داسي ورځ راشي چي د الله له لوري بېرته ستنېدا ورته نشته، په دې ورځ به نه کوم پناه ځی درته وي او نه به کوم نکیر (انکار کوونکی او بدلوونکی)؛ او که اعراض وکړي نو ته مو پر دوی ساتونکی نه یې لېږلی، پر تا له ابلاغ پرته بل څه نشته؛ او موږ چي کله انسان ته له خپل لوري کومه پېرزوینه وروڅکو نو پرې خوښ شي او که د هغه څه له کبله چي د دوی لاسونو وړاندي کړي کومه ستونزه ورورسېږي نو یقیناً چي (هغه مهال) دا انسان ډېر ناسپاس وي.

---

(٤٧-٤٨)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- خپل رب ته تر هغه وړاندي لبيك ووايئ، بلنه ئې ومنئ او په لارښوونو ئې عمل وکړئ چي د قيامت هغه نه بدلېدونکې ورځ راشي، هغه ورځ چي د الله تعالى له لوري ئې بېرته ستنېدا نشته، نه د دې مجال په کې شته چي انسان بېرته دنيا ته ستون شي او خپله ماضي جبران کړي او نه د دې فرصت چي انسان له غلطي لاري سمي ته ستون شي.
- په دې ورځ به نه کوم پناه ځی مومئ او نه کوم نکیر، د نکیر په اړه بېل بېل تعبیرونه شوي، ځینو د انکار په معني نیولی او آيت ئې داسي تعبیر کړی: په دې ورځ به د انکار هیڅ مجال نه مومئ، ځینو د بدلوونکی په معنی نیولی او تعبیر ئې دا دئ: په دې ورځ به داسي څوك نه مومئ چي ستاسو حال بدل کړي، له بدغوني او سپېره حالت مو وژغوري، ځینو د انکار کوونکي په معنی نیولی او آيت ئې داسي تعبیر کړی: هیڅوك به ستاسو بد حالت د اعتراض وړ او ناآشنا نه ګڼي، هر څوك به تاسو د همداسي عذاب وړ بولي. د آيت سياق و سباق ته په پام سره دوهم تعبیر غوره برېښي.
- رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: که دوی اعراض وکړي نو ته مو پر دوی ساتونکی نه یې لېږلی، پر تا له ابلاغ پرته بل څه نشته، ستا دنده یوازي دا ده چي الهي پیغام په بشپړه توګه خلکو ته ورسوې، د کفر او شرك له بدو پايلو ئې ووېروې، ته مو د دوی د داسي ساتونکي په توګه نه یې لېږلی چي له بدو کړنو ئې په زور سره راتم کړې او له شرك او کفر ئې وساتې.
- انسان داسي دئ چي کله الله تعالى له خپل لوري د کومي پېرزويني خوند وروڅکي نو پرې خوښ او مغرور شي او که د هغو ګناهونو له کبله چي دوی کړي کوم کړاو ورورسېږي نو هغه مهال دا انسان ډېر ناسپاس وي، ټولي مخکيني ښېګڼي هېري کړي.

لِّلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثٗا وَيَهَبُ لِمَن
يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ أَوۡ يُزَوِّجُهُمۡ ذُكۡرَانٗا وَإِنَٰثٗاۖ وَيَجۡعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًاۚ إِنَّهُۥ
عَلِيمٞ قَدِيرٞ ﴿٥٠﴾

د آسمانونو او زمکې واکمني د الله ده، هر هغه څه پیدا کوي چې وئې غواړي، چا ته چې وغواړي ښځینه اولاد ورکوي او چا ته چې وغواړي نارینه اولاد ورکوي، یا نارینه او ښځینه ګډ ورکوي؛ او هغه شنډ کړي چې دی ئې غواړي، یقیناً چې دی توانمن پوه دئ.

(٤٩-٥٠)- دا مبارك آیتونه وایي:

- الله تعالی د آسمانونو او زمکې ټولواك دئ، د عالم د ټولو چارو واګې د ده په واك کې دي.
- الله تعالی خالق او پیدا کوونکی دئ، هر څه ده پیدا کړي او دی ئې پیدا کوي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته لوڼې ورکړي، چا ته زامن او چا ته زامن او لوڼې په ګډه؛ او څوك شنډ او د اولاد له درلود محروم کړي.
- یقیناً چې دی توانمن پوه دئ، هم د هر څه په کولو او د هر څه په پیدا کولو قادر دئ او هم ئې هر کار د علم او پوهې له مخې دئ.

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ ٱللَّهُ إِلَّا وَحۡيًا أَوۡ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوۡ يُرۡسِلَ
رَسُولٗا فَيُوحِيَ بِإِذۡنِهِۦ مَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٞ ﴿٥١﴾ وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ
رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ
نُورٗا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٢﴾
صِرَٰطِ ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ
ٱلۡأُمُورُ ﴿٥٣﴾

او هیڅ انسان ته نه ښايي چې الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي (خفي اشارې) سره، یا د حجاب له شا، یا یوه فرشته لېږي چې د ده له حکم سره سم هغه څه وحي کړي چې دی ئې غواړي، یقیناً چې هغه باحکمت لوړ دئ؛ او همداسي مو تا ته د

خپل امر ځانگړې وحي وکړه، ته نه پوهېدې چې كتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنى او حقيقت) پوهېدې، خو موږ داسي نور وگرځاوو چې له خپلو بندگانو هغه څوك پرې هدايتوو چې غواړو ئې؛ او بې شكه چې ته د مستقيمي لاري خوا ته لارښوونه كوې. د هغه الله لاري ته چې څه په آسمانونو كې او څه په زمكي دي ټول د ده دي، پام چې كارونه د الله لوري ته ورگرځي.

(٥١-٥٣)- په دې مباركو آيتونو كې د وحي په اړه څو مهمي مهمي لارښووني شوې:

• هيڅ انسان ته نه ښايي چې الله ورسره مخامخ او له كوم حجاب پرته تكلم وكړي، يعني انسان ته دا توان او استعداد نه دئ وركړى شوى چې الله تعالى ورسره مخامخ تكلم وكړي، يوازې د وحي له لاري كولى شي د الله تعالى هدايات او لارښووني تر لاسه كړي. وحي هغې خفي اشارې ته وايي چې په سريع توگه يو مطلب چا ته پرې القاء شي.

• دلته د وحي درې صورتونه ښودل شوي: ١- مخامخ وحي، ٢- تكلم خو د حجاب له شا، ٣- د فرشتې په لاس وحي. د قرآن په نورو آيتونو كې موږ ته ويل شوي چې د وحي دوهم صورت (د حجاب له شا تكلم) له موسى عليه السلام پرته له بل پيغمبر سره نه دئ شوى، دوه نور صورتونه ئې داسي دي چې يو ئې بلاواسطه وحي ده او بل ئې بالواسطه او د فرشتې له لاري وحي.

• دې ته مو بايد پام وي چې د وحي دا درې صورتونه پيغمبرانو عليهم السلام ته د وحي هغه صورتونه دي چې الله تعالى دوى ته احكام او هدايات وركوي، خو په قرآن كې د وحي ځيني نور صورتونه هم په گوته شوي چې عموميت لري، لكه انسان او حيوان ته فطري وحي او د هغه په فطرت كې د ضروري لارښوونو القاء، چې په قرآن كې د دې وحي يو مثال د شاتو د موچيو په اړه راغلى او په دې كې هغو لارښوونو ته د وحي نوم وركړى شوى چې د دوى په فطرت كې اېښودل شوي، كور څنگه او چېري جوړ كړي، شات څنگه جوړ كړي، له مختلفو لارو څنگه تگ راتگ وكړي. رؤيا د دې وحي يوه بله بېلگه ده؛ او الهام ئې بله بېلگه.

• دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې تا ته مو همداسي له خپل لوري د يوه خاص امر وحي وكړه، ته تر وحي وړاندي نه پوهېدې چې كتاب څه دئ او نه د ايمان په معنى او حقيقت پوهېدې، خو موږ دا قرآن داسي نور وگرځاوو چې له خپلو بندگانو هغه څوك پرې هدايتوو چې غواړو ئې؛ او بې شكه چې ته د مستقيمي لاري خوا ته لارښوونه كوې. دلته په ډېر صراحت سره او په پرېكنده توگه ويل شوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم تر بعثت وړاندي نه د كتاب له څرنگوالي خبر وو او نه د ايمان په معنى او حقيقت پوهېدو. رسول الله صلى الله عليه و سلم د قرآن له راتلو وړاندي حتى په ليك لوست هم نه پوهېدو، دا خو پرېږده چې د ټول كتاب د علومو په اړه هغه وسيع

او جامع علم ولري چې تر دې وروسته ئې په برخه شو، نه په ليك لوست پوهېدو او نه د كتاب او ايمان له حقيقته په دومره تفصيل سره خبر وو چې د دې كتاب له راتلو وروسته پرې خبر شو، خو الله تعالى دا كتاب د ده لپاره داسي نور وگرځاوو چې ټول حقائق ئې د هغه په رڼا كې وپېژندل. د رسول الله صلى الله عليه و سلم ټول ژوند پر دې گواهي وركوي چې هغه نه په غيب پوهېدو او نه د راتلونكې وحي له وخت او څرنگوالي خبر وو، د قرآن گڼ شمېر آيتونه همدغه خبره كوي.

• د دوه پنځوسم آيت په لومړۍ فقرې كې ويل شوي: ( وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَاۚ) بايد وگورو چې د دې فقرې معنى څه ده او دلته (روح) په كومې معنى راغلې، د روح معنى وحي ده، كه جبرئيل، كه ژوند، كه په خپله د الله تعالى ذات؟ په تفسيرونو كې مختلف آراء گورو، تر ټولو غوره او دقيق تعبير دا دئ چې دلته له روح مراد وحي ده، د آيت معنى دا ده: همداسي مو تا ته د خپل امر ځانگړې وحي وكړه، د وحي لپاره د روح نوم د قرآن په نورو آيتونو كې هم كارول شوى او دا ځكه چې الهي وحي د غوره انساني ژوند لپاره د روح حيثيت لري، په دې سره انسان كولى شي د صالح او سم ژوند په لارو چارو پوه شي، د النحل سورې په دوهم آيت كې داسي راغلي:

يُنَزِّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦٓ أَنْ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ۝٢

ملائكې د خپل فرمان له وحي سره په خپلو بندگانو كې هغه چا ته كوز لېږي چې دى ئې وغواړي، په دې توگه چې دا خبردارى وركړئ چې له ما پرته بل معبود نشته، نو له ما ووېرېږئ.

د المؤمن د سورې په ١٥ آيت كې داسي راغلي:

رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلْعَرْشِ يُلْقِي ٱلرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوْمَ ٱلتَّلَاقِ ۝١٥

د لوړو درجو خاوند، د عرش څښتن، له خپلو بندگانو چې چا ته غواړي پر هغه د خپل حكم له مخې وحي لېږي چې د مخامخېدو له ورځې (خلك) انذار كړي.

لكه چې گورئ دا وروستي پنځه آيتونه د دې سورې تتمه او د ټولو مضامينو خلاصه ده، دلته د وحي په څرنگوالي تركيز شوى، درې صورتونه ئې په گوته كړي، راشئ وگورو چې په رواياتو كې د وحي د څرنگوالي په اړه څه ويل شوي. د بخاري دې روايت ته ځير شئ:

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رضى الله عنها أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ رضى الله عنه سَأَلَ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ الله كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْىُ فَقَالَ رَسُولُ الله صلى

الله عليه و سلم "أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ- فَيُفْصَمُ عَنِّى وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ، وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ الْمَلَكُ رَجُلاً فَيُكَلِّمُنِى فَأَعِى مَا يَقُولُ". قَالَتْ عَائِشَةُ رضى الله عنها وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْىُ فِى الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ، فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا.

له عَائِشې رضى الله عنها روايت دئ چي حَارِثَ بْنَ هِشَام له رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم وپوښتل: يا رسول الله! وحي څنگه درباندي راځي؟ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: كله كله د زنگ د غږ په څېر راته راځي؛ او دا تر ټولو راباندي سخته وي؛ او په داسي حال کي رانه جلا شي چي په وينا ئې پوه شوى وم؛ او كله كله (د وحي حامل) فرشته د يوه سړي په بڼه کي راته تمثيل شي نو خبري راسره وکړي او په هغه څه پوه شم چي وايي ئې، عائشې رضى الله عنهاوويل: ما د سختي يخنۍ په ورځ ليدلی چي وحي پرې نازلېده او بيا په داسي حال کي ترې بېلېده چي پر تندی به ئې خولې بهېدې.

- دا روايت په بخاري کي دوه ځلي راغلی، له دغو توپيرونو سره: په يوه کي (كل ذاك) الفاظ شته او په بل کي نشته، په يوه کي ويل شوي چي وحی د (صلصلة الجرس) په څېر راته راځي او په بل کي ويل شوي چي فرشته د (صلصلة الجرس) په څېر راته راځي، په يوه کي د (وَهْوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ ) الفاظ تر نورو مخکي او په بل کي دا الفاظ وروسته راغلي.
- كه غور وكړو نو دا راته جوته كېږي چي د فرشتې راتگ له (صلصلة الجرس) سره تشبيه كول مناسب نه برېښي، خو د وحي راتگ له (صلصلة الجرس) سره تشبيه كول موزون معلومېږي، نو په يقين سره ويلی شو چي لومړی روايت تر دوهم ارجح دئ. د قرآن له وينا سره يوازي لومړی روايت اړخ لگوي او همدا خبره كوي چي وحي دوه صورتونه لري: له فرشتې پرته وحي او د فرشتې له لاري وحي، يوه ئې صلصة الجرس ته ورته او بله ئې د انسان په بڼي کي د فرشتې له لاري، له دې معلومېږي چي هغه روايت دقيق نه دئ چي دواړه د فرشتې له لاري وحي گڼي، يو ئې له لري او بل ئې د انسان په بڼي کي د تمثيل له لاري.

حديث د قرآن شرح دئ كه مستقله وحي؟

دلته دا موضوع هم څېړل غواړي چي دغه پوښتنۍ دوه ډوله وحي په قرآن کي راخلاصه كېږي كه نوري بېلگي هم لري، آيا حديث د قرآن شرح دئ كه بېله وحي؟ دا ځكه چي دا يوه له هغو مسائلو ده چي په اړه ئې د مسلمانانو تر منځ د جدي اختلاف شاهد يو، دا چي آيا وحي يوازي تر قرآن پوري مختص ده كه پر رسول الله صلى الله عليه و سلم پر قرآن علاوه هم وحي نازله شوې؟ آيا د رسول الله صلى الله عليه و سلم حديث ته به د قرآن د شرح او تفسير په سترگه گورو كه د بېلې او مستقلي وحي په سترگه؟ كه دا بېله وحي وي نو په كوم نامه به ئې يادوو او له هغه بلي وحي سره به ئې توپير څه وي؟

آيا دا دواړه د وحي متلو او وحي غير متلو يا وحي جلي او وحي خفي په نامه يادولی شو؟ که د وحي اصلي معني رمز او خفي اشاره وي نو آيا کولی شو وحي د جلي په نامه ياده کړو او آيا د جلي اطلاق پر وحي کېدی شي؟

تر ټولو وړاندي بايد ووايو: که د قرآن په کوم آيت کي يا د رسول الله صلى الله عليه و سلم په کوم صحيح حديث کي ويل شوي وی چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د احکامو اړوند وحي په قرآن کي نه خلاصه کېږي او داسي احکام هم شته چي اړوند وحي ئې په قرآن کي نه ده راغلې نو موږ به له کوم ځنډ پرته دا خبره منله او همدا رأيه به مو درلوده، خو که څوك د خپلي شخصي انگېرني له مخي دا خبره کوي نو هغه ته وايو: دليل دي څه دئ؟ له الله تعالی او د هغه له رسول صلى الله عليه و سلم پرته د بل چا رأيه يوازي په هغه صورت کي منو چي کوم نص او عقلي دليل وړاندي کړي، ځيني ادعاء کوي چي وحي دوه ډوله ده: متلو او غير متلو يا جلي او خفي، وايي پر رسول الله صلى الله عليه و سلم دوه ډوله وحي نازله شوې: يوه ئې هغه چي د قرآن په بڼې کي تر موږ رارسېدلې او بله ئې هغه چي د حديث په بڼې کي رارسېدلې، دوی د خپلي ادعاء د اثبات لپاره دا دليل وړاندي کوي چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په احاديثو کي داسي احکام او لارښووني مومو چي په قرآن کي د هغوی لپاره کوم شاهد او اشاره نه تر سترگو کېږي؛ او قرآن وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم له وحي پرته بله خبره نه کوي، د قرآن دا آيت د دې ادعاء لپاره د دليل په توگه وړاندي کوي چي وايي: وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ؛ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٌ يُوحَىٰ: د خپل هوس له مخي خبري نه کوي، دا خو له هغي وحي پرته بل څه نه دي چي ده ته وحي کېږي. او گواکي د دې آيت معنی دا ده چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم هره وينا او حديث وحي ده. راشئ دا دواړه ادعاءگاني لږ په دقت او غور سره وڅېړو.

دوی له هغو مواردو چي وايي په قرآن کي ورته اشاره نه ده شوې خو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په سنت کي راغلي دغو مواردو ته په ډېر زور شور سره گوته نيسي:

الف: وايي په قرآن کي دا حکم نه مومو چي د بيت المقدس لوري ته د قبلې په توگه مخ کړئ، رسول الله صلى الله عليه و سلم په مکه کي او تر هغه چي په مدينه کي د قبلې بدلولو حکم راغی د بيت المقدس لوري ته لمونځ کولو او په قرآن کي راغلي چي بيت المقدس مو د دې لپاره قبله گرځولې وه چي وگورو څوك د رسول الله صلى الله عليه و سلم متابعت کوي او څوك پر خپلو پوندو شا ته اوړي: (...وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيۡكُمۡ شَهِيدٗاۗ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلۡقِبۡلَةَ ٱلَّتِي كُنتَ عَلَيۡهَآ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِۚ... البقرة: ۱۴۳، دوی وايي: له دې آيت معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د بيت المقدس په اړه وحي شوې وه

خو په قرآن کې دا وحي نه ده راغلې!! د دوی په ځواب کې باید ووایو:
١- دا ادعاء په هغه صورت کې د اعتناء او اعتبار وړ ګڼل کېدی شوی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله ویلي وی چې ما ته د بیت المقدس په لوري د مخ اړولو حکم شوی وو، حال دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دا خبره نه ده کړې او په هیڅ حدیث کې صراحتاً یا اشارتاً دا خبره نه ده شوې، پوښتنه کوو: تاسو ولې دا جسارت کوئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هغه څه منسوبوئ چې هغه نه دي ویلي؟!! آیا دا بې ځایه جسارت نه دئ؟!!
٢- رسول الله صلی الله علیه و سلم د بیت المقدس په لوري له دې کبله لمونځ کولو چې دی د مخکیني شریعت په متابعت مکلف وو، نه دا چې ده ته د بېلې وحي له مخې حکم شوی وو چې بیت المقدس ته مخ کړي، ټول انسانان تر هغه د مخکیني شریعت او مخکیني پیغمبر په متابعت مکلف دي چې د الله تعالی له لوري نوی شریعت راشي او نوی پیغمبر مبعوث شي، رسول الله صلی الله علیه و سلم به تر هغه بیت المقدس قبله ګڼله چې د نوی الهي حکم له مخې د هغې پر ځای نوې قبله وټاکل شي، قرآن وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم دا تلوسه درلوده چې ده ته د مخکینیو پیغبرانو په څېر داسي قبله وټاکل شي چې د ده د دعوت په سیمي کې وي، مخکیني پیغمبران په شام او فلسطین کې تېر شوي او الله تعالی هغوی ته په همغې سیمي کې بیت المقدس د قبلې په توګه ټاکلې وه، ده غوښتل چې د بیت المقدس پر ځای کعبه د ده او د ده د امت قبله شي، د همدې لپاره ئې په وار وار د آسمان لور ته مخ اړولو او د قبلې د تحویل په اړه ئې د وحي راتلو انتظار او توقع درلوده، که ده ته بېله وحي شوې وی نو د الله تعالی پر حکم به په بشپړه توګه قانع او راضي وو او هیڅکله به ئې د قبلې د تحویل تلوسه نه وه کړې.
٣- رسول الله صلی الله علیه و سلم په ټولو نورو مواردو کې تر هغه په مخکیني شریعت عمل کړی چې یا اړوند حکم ئې منسوخ شوی، یا تعدیل شوی یا تأیید شوی، رسول الله صلی الله علیه و سلم د تقوی، طهارت، پاکلمني، صدق، امانت؛ او نورو نېکو عملونو او د شراب، قمار، زنا، غلا، دروغ، خیانت، دوکه؛ او ټولو نورو ګناهونو په اړه تر هغه په مخکیني شریعت عمل کولو چې په دې اړه په قرآن کې نوي احکام راغلل، آیا ویلی شو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دغو امورو په اړه د قرآن تر نازلېدو وړاندي بېله بېله وحي شوې وه؟!! که څوك دا غلطه او بې بنسټه ادعاء کوي نو موږ ته دي د رسول الله صلی الله علیه و سلم یو داسي حدیث راوښیي چې په هغه کې ویل شوي وي: ما ته د قرآن تر نزول وړاندي په دې اړه وحي شوې وه!!!
٤- د رجم په اړه په قرآن کې دا حکم نه مومو چې محصن زاني دي رجم شي، رسول الله صلی الله علیه و سلم هم نه دي ویلي چې ما ته د محصن زاني د رجم په اړه بېله وحي شوې، خو رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي زاني او زانیه رجم کړي!! آیا د دې په

توجيه کې له دې پرته بله خبره کولی شو چې د رجم حکم په مخکيني شريعت کې راغلی، په قرآن کې د دې حکم په اړه نه دا ويل شوي چې مخکينی حکم منسوخ دئ، نه ئې هغه تعديل کړ او نه ئې د هغه پر ځای بل حکم ولېږو، نو له همدې کبله رسول الله صلی الله عليه و سلم د محصن زاني په اړه د مخکيني شريعت له حکم سره سم عمل کړی.

دې ته مو بايد پام وي چې نن تر ټولو زيات مسيحيان پر اسلام دا اعتراض کوي چې اسلام ولې د رجم سخت او د ترحم او عاطفې خلاف قانون وضع کړی!! پوهېږئ چې دوی ته به زموږ مضبوط او په اصطلاح غاښ ماتوونکی ځواب څه وي؟ ځواب مو دا دئ: دا خو ستاسو د مذهب قانون دئ، تاسو پر قرآن نه بلکې پر خپل بايبل اعتراض کوئ، ځواب ئې له خپلو کشيشانو وغواړئ!! موږ ستاسو د مذهب په يوه څرگند حکم عمل کوو، ولې او څنگه مو ملامتوئ؟ ښايي الله تعالی به د همدې لپاره په قرآن کې د رجم حکم نه وي ذکر کړی چې موږ د قرآن سخت زړو او نه پخلا کېدونکو معترضينو ته دغه ځواب ورکړی شو!!

ب: د دوی بل دليل دا دئ چې وايي: په قرآن کې داسې راغلي:

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْۖ فَٱلْـَٰٔنَ بَٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُواْ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْۚ وَكُلُواْ وَٱشْرَبُواْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلْخَيْطُ ٱلْأَبْيَضُ مِنَ ٱلْخَيْطِ ٱلْأَسْوَدِ مِنَ ٱلْفَجْرِۖ... ﴿١٨٧﴾ البقرة

له خپلو مېرمنو سره د روژې د شپې نژدې والی (جماع) درته حلال کړی شوې، هغوی ستاسو لپاره لباس او تاسو د دوی لپاره لباس يئ، الله په دې پوه شوی چې تاسو له ځان سره خيانت کولو، نو پر تاسو (له خپل رحمت سره) راوگرځېدو او عفو ئې درته وکړه، نو اوس له دوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چې الله درته مقدر کړي (د اولاد درلودو په نيت نژدې والی وکړئ) او خورئ او څښئ ترهغه چې د سباوون سپينه کرښه له توري درته څرگنده شي، ...

دوی دا آيت داسې تعبيروي: د دې آيت تر نزول وړاندې حکم دا وو چې د روژې له ماښام تر ماخستن پورې خوراك، څښاك او نور د روژې اړوند ممنوعات جائز وو خو تر ماخستن وروسته بيا تر بل ماښام پورې ممنوع او حرام وو، ځينو له دې حکم سرغړاوی وکړ نو ځکه دا آيت نازل شو او دوی ئې خپل خيانت ته متوجه کړل، خو په ضمن کې ئې هغه مخکينی حکم منسوخ کړ او تر سحر پورې ئې دغه ممنوعات جائز وگرځول!! دوی په دې آيت استناد کوي او وايي: دا د ممنوعيت حکم په قرآن کې نه مومو که وحي يوازې په قرآن کې منحصره وی نو ولې به د هغو صحابه وو عمل د خيانت په نامه يادېدو!!

دوی ته په ځواب کې وايو: دا ډېر ډېر کمزوری استدلال دئ، هيڅ وزن او ارزښت نه

لري، لکه څنګه چې په قرآن کې دا ممانعت نه شو موندلی همدا راز په احادیثو کې هم دا ممانعت نه شو موندلی، مهرباني وکړئ موږ ته هغه حدیث راوښيئ چې دا ممانعت په کې راغلی!! که نه په قرآن کې د دې ممانعت حکم وي او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په احادیثو کې نو تاسو څنګه جسارت کوئ او وایئ چې د دې ممانعت حکم په وحي خفي او وحي غیر متلو ثابت دئ؟!! تاسو خو یوازې په هغه صورت کې د دې خبرې کولو حق درلود چې په دې اړه مو په قرآن او حدیث کې کوم صریح حکم موندلی وی، نه دا چې په خپل سر او له کوم نص پرته داسې څه وایئ چې نه الله تعالی ویلي او نه د هغه رسول!! حقیقت دا دئ چې دا د ځینو صحابه وو خپل ګمان وو چې د روژې په شپو کې باید د ماخستن له لمانځه وروسته تر راتلونکي ماښام د روژې له ممنوعاتو ډډه وکړي، ځینو بیا د خپلې دغې رأیې خلاف عمل کړی، قرآن دا عمل د (تختانون انفسکم) په صیغه یاد کړی، ځکه دوی د خپلې رأیې خلاف هغه څه کړي چې ګناه ئې ګڼله؛ او دا له خپل ځان او نفس سره خیانت دئ، که دوی د الله تعالی او د هغه د رسول د کوم حکم مخالفت کړی وی نو بیا به د دوی عمل له ځان سره د خیانت په صیغه نه یادېدو بلکې د ذنب او اثم په نامه به یادېدو. ښه به وي چې تاسو په دې اړه تفهیم القرآن هم وګورئ چې په زړه پورې بحث ئې کړی.

د دې آیت دقیق تفسیر دا دئ: مسلمانانو داسې ګمان کاوو چې د روژې په شپه له ویدېدو وروسته باید له مېرمنو سره له نژدې والي ډډه وکړي، په دې اړه دوی ته کوم حکم نه وو شوی، که څه هم ځیني په دې باور دي چې دا کار په دوی حرام کړی شوی وو، خو نه په قرآن کې د داسې حرمت په اړه څه حکم راغلی او نه په حدیث کې، په خپله ئې همداسې انګېرله، خو کله کله به ئې د خپل دغه ذهنیت خلاف کار وکړ او په دې سره به ئې د ګناه او خیانت احساس کاوو، الله تعالی ورته په صریحو الفاظو د دې اجازه ورکړه او وئې فرمایل چې مېرمن د خاوند لپاره او خاوند د مېرمنې لپاره له ګناهونو نه د حفاظت سبب دئ، داسې لکه لباس چې انسان له تودوخې او یخنۍ ساتي، همدا راز ئې ورته وویل چې د مباشرت هدف او غایه باید د اولاد درلودل وي، نه فقط د جنسي غریزې اشباع. دا وضاحت ئې هم وکړ چې د روژې وخت د سباوون د سپینې ګارې له راڅرګندېدو د شپې تر پیل پورې دئ، شپه د لمر په لوېدو سره پیل کېږي، د الله تعالی هغه بنده خوشبېږي چې نه په دین کې څه زیاتوي او نه څه کموي، هغه چې د روژې حدود مراعاتوي، نه څه پرې زیاتوي او نه ئې ترې کموي، نه د روژې پیل تر خپل ټاکلي وخت ډېر وړاندې نیسي او نه ئې پای تر خپل ټاکلي وخت ډېر وروسته، دا ځکه چې دا کار د دې نښه ده چې هغه د بې ځایه تقوی په نامه په دین کې له ځانه څه نه دي زیات کړي، د اکثرو امتونو انحراف له همدې ځایه پیل شوی، مذهبي مشرانو او علماوو ئې له خپل لوري په دین کې زیاتوالی راوستی، د قرآن په اصطلاح د خلکو پېټي ئې درانه کړي او په لاس پښو کې ئې ورته

زنځيرونه او زولنې اچولې، د هر پيغمبر يوه لويه دنده دا ګڼې چې راغلی چې دا اضافي پېټي د خلکو له اوږو راکوز کړي او دا زنځيرونه وشلوي. پيغمبر عليه السلام به د ډېر له لوېدو سره سم خپله روژه ماتوله.

ج: د دوی يو بل دليل دا دئ چې وايي: په قرآن کې ټول احکام نه دي راغلي، ځيني احکام داسي دي چې يوازي ئې په احاديثو کې موندلی شو، د دې ادعاء د اثبات لپاره وايي: په قرآن کې يوازي هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چې د ذبحي پر مهال ئې د الله تعالی نوم ياد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحي حلال دئ، د دې استثناء بنسټ د قرآن کوم آيت نه بلکې د پيغمبر عليه السلام حديث دئ، په ډېر زور شور سره وايي: راوښيئ د قرآن کوم آيت دا استثناء جائز ګڼي؟!! دوی ته په ځواب کې وايو: په قرآن کې دا استثناء شته خو ځه وکړو چې تاسو نه يئ ورته متوجه شوي! قرآن کب (ماهي) د لحماً طرياً يعني تازه غوښي په نامه ياد کړی او دا ښيي چې ماهي د تازه او پاکې غوښي حکم لري، پيغمبر عليه السلام د قرآن دغي وينا ته په پام سره ويلي چې ماهي له ذبحي پرته حلال دئ. دوی دا هم وايي چې اهلي خر د حديث له مخي تحريم شوی نه د آيت له مخي، دوی ته وايو: ټول محقق علماء وايي چې اهلي خر له هره پلوه صحرايي خره ته ورته دئ، په څارويو کې شمېرل کېږي، واښه خوري او داړې نه لري، د حرمت دليل ئې فقط دا دئ چې دا هغه مهال د سورلۍ مهمه وسيله وه، رسول الله صلی الله عليه و سلم د خيبر د جګړې په ورځ د هغه غوښه تحريم کړه، ځکه ځينو صحابه وو په غنيمت نيول شوي اهلي خره ذبح او پاخه کړي وو، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته اطلاع ورسېده او د حرمت امر ئې وکړ. دا حرمت داسي دئ لکه د آس د غوښي حرمت.

د: دوی دا هم وايي چې د ورېرې او عمه، خورزې او خاله د يو ځايي نکاح يادونه په قرآن کې نه ده شوې او حرمت ئې يوازي د حديث له مخي ثابت دئ!! يعني د هغو دوو ښځو يو ځايي نکاح جائزه نه ده چې په خپلو کې ورېره او عمه يا خورزه او خاله وي، دا چې د دې حرمت منشأ قرآن دئ او که له قرآن پرته بېله او مستقله وحي، بايد ووايم: د دې منشأ په خپله قرآن دئ، رسول الله صلی الله عليه و سلم دې ته په پام سره چې د دوو خويندو، د ښځي او د دې د مور، د ښځي او د هغې د لور يو ځايي نکاح حرامه ګڼل شوې، دا وضاحت کړی چې د ټولو هغو ښځو يو ځايي نکاح ناجائزه ده چې که په دوی دواړو کې يو ئې نارينه فرض شي نو په خپلو منځونو کې ئې نکاح جائزه نه وي. ورېره او عمه، خاله او خورزه داسي دي چې که يو ئې نارينه وي نو د دواړو تر منځ نکاح ناجائزه ده، نو د دوی يو ځايي نکاح ناجائزه ده. د هغو خلکو ادعاء بې بنسټه او له ځانه جوړه کړې ادعاء ده چې وايي د دوی حرمت د مستقلې وحي له مخي ثابت شوی نه د قرآن له مخي!! حال دا چې قرآن د ټولو قضاياوو په اړه اصول وضع کړي، رسول الله صلی الله عليه و سلم دغه اصول تشريح کړي او تفصيلات ئې موږ ته بيان کړي، قرآن د مور او لور يادونه

کړې او ويلي ئې دي (حرمت عليکم امهاتکم و بناتکم) خو د انا او لمسۍ يادونه ئې نه ده کړې، هر عاقل انسان پوهېږي چې د انا حکم د مور په څېر دئ او د لمسۍ حکم د لور په څېر. د فروعاتو او تفاصيلو په اړه د رسول الله صلى الله عليه و سلم د لارښوونو منشأ په خپله قرآن دئ نه مستقله او بېله وحي، که دا مستقله وحي وی نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويلي وو چې ما ته وحي شوې چې داسي نکاح حرامه ده.

هـ: دوی دا ادعاء هم کوي چې په قرآن کې د لمانځه د ترتيب، اوقات او د رکعتونو د شمېر په اړه واضح لارښووني او احکام نه مومو، رسول الله صلى الله عليه و سلم د مستقلي وحي له مخي په دې اړه موږ ته لارښووني کړې... دوی ته وايو: ستاسو دا ادعاء هم د نورو په څېر بې بنسټه ده، رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمانځه هر څه له قرآن اخيستي، د الله په نامه د لمانځه پيل، قيام، تلاوت، رکوع، سجده، په رکوع او سجده کې تسبيحات، د لمانځه پنځه وختونه او د رکعتونو شمېر؛ دا ټول هغه څه دي چې په قرآن کې ورته يا په ډېر وضاحت سره يا تلويحاً اشاره شوې، په ډېر ډاډ او اطمئنان سره ويلی شو چې حديث د قرآن شرح او تفسير دئ، د هر حديث منشأ په قرآن کې شته، خو موږ د ځينو منشأ درك کولی شو او د ځينو نه، ځيني ئې داسي دي چې يوازي د قرآن لومړنی مفسر او حامل رسول الله صلى الله عليه و سلم پرې پوهېدو او ځيني ئې داسي چې هر څوك پرې پوهېږي.

و: دوی د خپلي غلطي عقيدې په دفاع کې پر يوه بل آيت هم ناسم استناد کوي چې وايي:

وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِۦ وَأَظْهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ بَعْضٍۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتْ مَنْ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْخَبِيرُ ۝٣ التحريم

او کله چې پيغمبر له خپلو ځينو مېرمنو سره يوه خبره په سري توگه ياده کړه، نو کله چې هغې دا خبره (نورو ته) بيان کړه او الله دی پرې پوه کړ، يوه برخه ئې څرگنده کړه او له بلي ئې ډډه وکړه، نو کله چې ئې هغه پرې خبره کړه وئې ويل: چا دا خبره درته وکړه؟ وئې ويل: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم.

دوی د دې آيت پر دغي فقرې (قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ) استناد کوي او وايي: په قرآن کې دا مطلب نه دئ راغلی چې الله تعالى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته دا خبر ورکړ چې هغې مېرمني ئې نورو ته هغه سري خبره افشاء کړې؛ او گواکې له دې معلومېږي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په دې اړه بېله وحي شوې!!

دوی ته وايو: ستاسو دا استدلال هم د نورو په څېر په بشپړه توگه غلط دئ، رسول الله صلى الله عليه و سلم نه دي ويلي چې ما ته الله تعالى مخامخ او بلاواسطه وويل، که داسي وی نو هغه به فرمايلي وو: قال لي ربي: زما رب راته وويل، دا ئې هم نه دي ويلي چې ما ته ئې په خپله يا د فرشتې په واسطه وحي وکړه، که داسي وی نو هغه به فرمايلي

وو: اوحى إلي: ما ته ئې وحي وکړه، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم، د دې معنی قطعاً دا نه ده چې الله تعالی ما ته بلاواسطه او مخامخ يا د فرشتې له لارې اطلاع راکړه، په حقيقي معنی ئې هر هغه څوك پوهېږي چې د آيت نورې فقرې هم په پام کې ونيسي، مخصوصاً دا فقره چې وايي: وَ أَظهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ: او الله دی پرې پوه کړ، يعنې الله تعالی داسې انتظام وکړ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له موضوع خبر شي، په قوي احتمال سره دا اطلاع د هغه چا له لورې ورکړی شوې چې دا خبره ئې اورېدلې وه، داسې بالواسطه خبرېدا الله تعالی ته منسوبول نه د حقيقت خلاف انتساب دئ او نه دروغ ګڼل کېدی شي، د کوم انسان په واسطه له کومې خبرې خبرېدل په حقيقت کې د الله تعالی په اراده او توفيق تر سره کېږي، د (أَظهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ) معنی همدا ده. په آيت کې ويل شوي: رسول الله صلی الله علیه و سلم له اړوند مېرمنې پوښتنه وکړه چې ولې دې هغه سرې خبره افشاء کړې، خو دا ئې ترې پټ کړل چې چا اطلاع ورکړې، د آيت دا فقره چې وايي: عَرَّف بَعْضهُ وَ أَعْرَض عَن بَعْضٍ: يوه برخه ئې څرګنده کړه او له بلې ئې ډډه وکړه، په يقيني توګه همدا مطلب افاده کوي؛ او په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې په داسې مواردو کې د هغه چا د نامه له افشاء کولو ډډه وکړئ چې که ئې نوم افشاء شي په فتنې او د دوو تر منځ په زړه بداوي او نزاع منتج کېږي. عجيبه ده چې دوی د دې مبارك آيت له څرګندو الفاظو داسې غلطه انتباه اخلي!!

ز: دا هم بايد دوی ته ووايو چې د قرآن د دې آيت په اړه د دوی تعبير کاملاً غلط دئ چې وايي:

وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ۝٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ۝٤ النجم

د خپل هوس له مخې خبرې نه کوي، دا خو له هغې وحي پرته بل څه نه دي چې ده ته وحي کېږي.

د دې مبارکو آيتونو معنی دا ده چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لورې وړاندې شوی قرآن د ده خپل کتاب او د ده د ويناوو مجموعه نه دئ، دا خو يوازې هغه وحي ده چې د يوه پياوړي او شديدالقوی ملك له لورې ده ته وحي شوی، دلته په (هو) سره قرآن ته اشاره شوې نه بل څه ته او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم هرې وينا ته، د رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېرې ويناوې نه وحي وې او نه د وحي شرح او تفسير، بلکې د ده خپلې خبرې وې، دا درې بايد سره خلط نه کړو، قرآن وحي ده، حديث د وحي شرح او تفسير دئ؛ او پر دې دواړو سربېره رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپل شخصي ورځني ژوند کې ډېرې داسې خبرې کړې چې نه د وحي نوم ورکولی شو او نه ئې د وحي شرح او تفسير ګڼلی شو، لکه دا چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هره ورځ چا ته د کوم کار کولو سپارښتنه کړې، څه ئې د خوراك او څښاك لپاره غوښتې، د کوم جنګ پرېکړه ئې کړې، کومه ډله ئې کوم لورې ته لېږلې، د ډلې غړي ئې غوره کړي؛ او دې ته

ورته نور کارونه، آیا ویلی شو چې دا هره وینا ئې د وحې له مخې وه؟! جبرئیل علیه السلام ورته راغلی او دا لارښوونې ئې هغه ته کړې؟!!

که رسول الله صلی الله علیه و سلم ته پر قرآن علاوه نوره وحې هم شوې وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به د هغې د لیکلو او نورو ته د رسولو په اړه دومره جدي اهتمام کړی وو لکه چې د قرآن په اړه ئې کاوو، ولې به ئې صحابه وو ته ویل: زما حدیث مه لیکئ، چا چې له قرآن پرته بل څه ما ته منسوب کړي او لیکلي ئې دي هغه دې له منځه یوسي!! څنګه به رسول الله صلی الله علیه و سلم د الهي وحې له کتابت ممانعت کولو او حتی د هغه د محو کولو سپارښتنه به ئې کوله؟!! رسول الله صلی الله علیه و سلم خو د وحې په اړه دومره جدي اهتمام کولو چې لا به د فرشتې له لوري د هغې القاء پای ته نه وه رسېدلې چې ده به له ځان سره تکراروله او د حفظولو هڅه به ئې کوله، د ده دغې تلوسې او تلوار ته په پام سره الله تعالی هغه ته لارښوونه وکړه چې تلوار مه کوه، پرېږده چې فرشته د وحې القاء پای ته ورسوي، ډاډه اوسه چې ستا په زړه کې د هغې جمع کول او ستا پر ژبې د هغې بیانول زموږ پر ذمه دي، د وحې متصل به ئې هغه هم د وحې کاتبانو ته ویله او هم خپلو صحابه وو ته، ځینو به لیکله او ځینو به حفظوله، آیا دا کافي نه ده چې ووایو: د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث د وحې شرح او تفسیر دئ نه بېله او مستقله وحې؟!!

دې جنابانو ته وایو: ستاسو د دغو ادعاءګانو معنی دا ده چې ګواکې قرآن ناقص دئ او په حدیث سره بشپړ کېږي، ګواکې قرآن د لارښود په توګه کافي نه دئ او ګواکې د ځینو امورو په اړه په قرآن کې لارښوونې نشته، حدیث دا نقص پوره کوي!! موږ الله تعالی ته له داسې غلطې وینا پناه وړو، هغه قول او وینا پر دېوال وهو چې قرآن ته نقص منسوبوي، قرآن کامل او بشپړ دئ، قرآن د لارښود په توګه کافي دئ، ټولې هغه ضروري لارښوونې په قرآن کې راغلې چې انسان ورته ضرورت لري، د آدم علیه السلام له پیدایښت بیا د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر رحلت پورې چې د الله تعالی له لوري پیغمبرانو ته د احکامو او هدایاتو کومه وحې شوې او کومې لارښوونې شوې، قرآن پر ټولو دغو احکامو او لارښوونو احتوی کړې، قرآن پر ټولو مخکینیو کتابونو محیط او مهیمن دئ، داسې څه نه دي پاته چې قرآن دي نه وي بیان کړي، خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر یو امین او رښتیني حامل او شارح غواړي چې په خپل قول او عمل کې د هغه شرح او تفسیر د قرآن د ټولو مخاطبینو په وړاندې کښېږدي، دا هم نه له دې کبله چې قرآن په کافي پیمانه واضح او مفصل نه دئ بلکې له دې کبله چې ځیني مخاطبین ئې د فهم له پلوه نقص لري؛ او شرح او تفصیل ته ضرورت لري. دا د قرآن په اړه زموږ شخصي وینا او ادعاء نه ده، الله تعالی قرآن په همدغه توګه معرفي کړی، د قرآن په اړه په قرآن کې داسې لولو:

... وَكُلَّ شَيۡءٖ فَصَّلۡنَٰهُ تَفۡصِيلٗا ﴿١٢﴾ الإسراء

او هر څه مو په تفصيل سره بيان کړي.

يعني په قرآن کې هر څه په بشپړ تفصيل سره راغلي.

أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِى حَكَمًا وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَـٰبَ مُفَصَّلًا ۚ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾ الانعام

آيا له الله پرته بل حَکَم ولټوم؟ حال دا چې (الله) همغه ذات دئ چې دا مفصل کتاب ئې درلېږلی؛ او چا ته چې د کتاب (علم) ورکړی شوی په دې پوهېږي چې په رښتيا سره دا ستا د رب له لوري نازل شوی دئ، نو له شك کوونکو مه کېږه.

په دې مبارك آيت کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې مخالفينو ته ووايي: آيا له الله تعالی پرته بل حَکَم ځان ته ولټوم؟ آيا خپل ژوند د بل چا د حکم او دستور مطابق تنظيم کړم؟ آيا په ژوند پوري مربوط قضايا د بل چا د قانون مطابق حل و فصل کړم؟ په داسي حال کې چې الله تعالی د دې مقصد لپاره مفصل او جامع کتاب رالېږلی، د داسي جامع او مفصل کتاب په شته والي کې به څنګه او ولې بل چا ته رجوع کوم؟! چا ته چې د کتاب علم ورکړی شوی په دې پوهېږي چې دا مفصل او جامع لارښود کتاب ستا د رب له لوري نازل شوی، نو د دوی مخالفت دي تا په شك کې وانه چوي.

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا ۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَـٰتِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾ الانعام

او ستا د رب کلام د صداقت او عدالت له پلوه بشپړ دئ، هيڅوك ئې د پرېکړو بدلوونکی نشي کېدی؛ او هغه پوه اورېدونکی دئ.

دلته د دې الهي کتاب په اړه څو خبري شوې:

- دا ستا د رب کلام دئ.
- هره خبره ئې په بشپړه توګه رښتينې ده.
- هر قضاوت او حکم ئې په بشپړه توګه عادلانه دئ.
- هيڅوك ئې د پرېکړو، وعد او وعيد د تحقق مخه نشي نيولی.
- الله تعالی چې په دې کتاب کې څه ويلي، که دا د مؤمنانو او کافرانو د قول او عمل په اړه دي، که د توحيد او شرك، حق او باطل، دنيا او آخرت په اړه دي، که د خلکو د عملونو د پايلو او عواقبو په اړه دي، ټول حق او رښتيني دي او دا د هغه ذات له لوري ويل شوي چې پوه اورېدونکی دئ.

... ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَـٰمَ دِينًا ۚ فَمَنِ ٱضْطُرَّ فِى مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ ۙ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣﴾ المائدة

.... نن مو ستاسو دين درته بشپړ کړ او خپل نعمت مي درباندي پوره کړ او اسلام مي د دين په توګه درته غوره کړ، خو که څوك په سخته لوږه کې اړ شو، په داسي حال کې چې د

ګناه په لوري تلوسه کوونکی نه وي، نو الله مهربان بخښونکی دئ.

يعني د دغو احکامو او لارښوونو په راتلو سره ستاسو دين بشپړ شو، الله د دين د بشپړتيا او پر کافرانو ستاسو د برلاسي په نتيجه کې خپل ستر نعمت او پېرزوينه درباندې مکمله کړه، اوس نو کافرانو ته له يأس او ناهيلي پرته بل څه نه دي پاته، نه پر تاسو د بريا طمع کولی شي او نه خپل دين ته ستاسو د راګرځولو هيله ساتلی شي.

د مستندو رواياتو له مخې پيغمبر عليه السلام د حجة الوداع په تاريخي خطبې کې د دې آيت دغه برخه ولوسته (اليوم اکملت لکم دينکم و اتممت عليکم نعمتي و رضيت لکم الاسلام دينا) له دې معلومېږي چې يا خو د آيت دا برخه په دغه وخت کې نازله شوې او يا له دې مخکې او د آيت له نورو برخو سره يو ځای. او دا ښيي چې قرآن کامل او بشپړ دئ، هيڅ نقص او کموالی په کې نشته.

وَقَالُواْ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَٰتٌ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلْ إِنَّمَا ٱلْءَايَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٥٠﴾ أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ العنکبوت

او وئې ويل: ولې د خپل رب له لوري څرګندې نښې نه دي پرې نازلې شوې؟ ووايه: يقيناً چې نښې خو له الله سره دي؛ او زه يوازې يو څرګند نذير يم، آيا دا ورته کفايت نه کوي چې موږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چې پر دوی لوستل کېږي، يقيناً چې په دې کې د ايمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ.

دا آيتونه وايي: چا چې له حق سره د مخالفت پرېکړه کړې وي؛ نه په دلائلو قانع کېږي او نه په معجزو، دا دئ ګورئ چې د قريشو په وړاندې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په څېر ستر شخصيت ولاړ دئ، د الله تعالی لوري ته بلنه ورکوي، د قرآن په څېر له معجزو ډک کتاب ورته وړاندې شوی، خو هغوی نه يوازې له ايمان راوړو ډډه کوي بلکې له رسول الله صلى الله عليه و سلم د داسې خارق العاده معجزو غوښتنه کوي چې د دوی شيطان پرې قانع شي، وايي: ولې د ده د رب له لوري څرګندې نښې نه دي پرې نازلې شوې؟ الله تعالی د دوی په ځواب کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه کوي چې ورته ووايي: يقيناً چې نښې خو له الله سره دي؛ او زه يوازې يو څرګند نذير يم، له ما سره نه معجزې شته او نه ئې ښودلو واک، زه فقط يو نذير يم چې د کفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو تاسو ته خبرداری درکوم. د دوی د غلطي غوښتنې په ځواب کې فرمايي: آيا د دوی د قناعت لپاره دا له اعجازونو ډك کتاب چې ته ئې پرې لولې کفايت نه کوي؟!! يقيناً چې په دې کې د ايمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً (رحمت) او (ذکر) دئ، هغه چې د ايمان راوړو استعداد او وړتيا ئې نه ده ځپل شوې هغوی به هرومرو دا کتاب د الله تعالی يوه لويه پېرزوينه ګڼي او له هغه به پند اخلي.

يعني په چا کې چې د ايمان راړولو استعداد وي هغه ته دا کتاب په خپله د معجزې او دليل په توګه کافي دئ، تر دې لويه او ستره معجزه نشته. که څوك لږ له شفاف ذهن سره او د حق موندلو له تلوسې او تندي سره قرآن ته رجوع وکړي نو يقيناً چې د قرآن هره وينا به د دې عالِم او د عالِم د هر څه په اړه هومره علمي او دقيقه ومومي چې ورته ثابتوي دا کتاب هغه چا نازل کړی چې د دې ټول عالِم او د عالِم د هر څه په اړه جامع علم لري، دا کتاب د هغه چا له لوري راغلی چې علم ئې په زمان او مکان پوري محدود نه دئ، هيڅ شی او حقيقت ئې ترې پټ نه دئ، د ده د علم په وړاندې داسې حجاب نشته چې د يوه شي په حقيقت د پوهېدو مانع شي، موږ په دې کتاب کې ګورو چې د هر څه په باب ئې هره وينا او قضاوت دقيق او صحيح دئ، دا دقيق او سل په سلو کې صحيح او علمي قضاوتونه او پرېکړې موږ ته ثابتوي چې د دې کتاب لېږونکی د هر څه په اړه جامع او کامل علم لري، له دې ناحيې قرآن معجزه ده او د پيغمبر عليه السلام په حقانيت شهادت ورکوي. له دې مبارك آيت معلومېږي چې قرآن له هره پلوه کافي دئ.

وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ وَهُدًى وَرَحۡمَةً لِّقَوۡمٍ يُؤۡمِنُونَ ﴿٦٤﴾ النحل

او پر تا مو دا کتاب يوازې د دې لپاره نازل کړی چې دوی ته هغه څه څرګند کړې چې اختلاف ئې په کې کړی؛ او د هغو لپاره لارښوونه او رحمت چې ايمان راوړي.

يعني کوم پيغمبران چې تر تا د مخه لېږل شوي وو او د دوی په لاس کومې لارښوونې مخکينيو ته لېږل شوې وې، هغوی د خپلو پيغمبرانو لارښوونې شا ته وغورځولې، په اختلافاتو کې ونښتل، دا انحراف او اختلاف هغه پړاو ته رسېدلی چې د نوي پيغمبر له بعثت او د نوي کتاب له رالېږلو پرته ئې په بل څه علاج ممکن نه وو، الله تعالی ستا په بعثت او ستا په لاس د قرآن په لېږلو سره هغو کسانو ته لارښوونه کوي او له خپل رحمت او پېرزوينې ئې برخمن کوي چې ايمان راوړي. دا داسې ده لکه چې الله تعالی له آسمانه باران ورو‌ي او په دې باران سره زمکه له خپلې مړينې وروسته بيا راژوندۍ کوي، قرآن هم د انسان لپاره د ژوند تومنه ده، الله تعالی په همدې قرآن سره مړه زړونه راژوندي کوي، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چې اوري.

دا او دې ته ورته ګڼ شمېر آيتونه وايي: قرآن کامل دئ، هر څه ئې په تفصيل سره بيان کړي، د هر اختلاف په اړه که فکري وي، که حقوقي وي او که سياسي او اجتماعي، وروستۍ سمه پرېکړه کوي او وروستی صحيح قضاوت وړاندې کوي، تر هرې معجزې ستره معجزه ده، له هره پلوه کافي دئ او د انسان ټولو ضروري اړتياوو ته ځواب وايي. آيا د قرآن په اړه د الله تعالی له دې ويناوو سره سره دا لوی او ستر ظلم نه دئ چې څوك ووايي: قرآن ناقص دئ او په حديث سره ئې نقص او کموالی رفع شوی؟!!

قرآن کافي، مکمل او بشپړ دئ خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر یوه حامل او شارح ته ضرورت وو چي هغه خلکو ته ورسوي او ټول جامع مطالب ئې تشریح کړي. رسول الله صلی الله علیه و سلم د الله تعالی هغه امین رسول او استازی دئ چي خپل لارښود پیغام ئې د ده په لاس خپلو بندګانو ته لېږلی، هغه د دې الهي پیغام هم امین حامل دئ او هم ئې ربښتینی شارح، داسي حامل چي په بشپړه توګه ئې عمل پرې کړی او په دقیقه توګه ئې خلکو ته قولاً او عملاً تشریح کړی، دې الهي پیغام داسي یوه امین حامل او ربښتیني عامل ته ضرورت درلود چي د ده په قول او عمل کې عیني تجسم ومومي، داسي چي که څوك وغواړي پوه شي چي الله تعالی څنګه انسان، له کومو فکري، اخلاقي او عملي ځانګړتیاوو سره خوښوي نو ورته وویل شي: داسي انسان لکه د دې لارښود الهي کتاب لومړنی حامل، لکه رسول الله صلی الله علیه و سلم، که ووایي: د الله تعالی صحیح لمانځنه او عبادت به څنګه وي، ځواب ئې دا وي: همغسي لکه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپل رب عبادت او لمانځنه کوله، که پوښتنه وکړي: کوم څه حلال دي او کوم څه حرام، ځواب ئې دا وي: همغه څه چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د دغه الهي کتاب په رڼا کې د حلال او حرام په سترګه ورته کتلي، هو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم یعني مجسم او ژوندی قرآن، همغسي لکه چي عائشه رضی الله عنها وایي: کان خلقه القرآن: قرآن د ده اخلاق وو، یعني که غواړې پوه شې چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم اخلاق څنګه وو، تقوی ئې څنګه وه، عبادت ئې څنګه، جهاد ئې څنګه، صبر ئې څنګه او جرأت ئې څنګه وو او په کومو کومو صفاتو متصف وو، نو ځواب دا دئ: قرآن ولوله او وګوره چي الله تعالی کوم صفات خوښوي، رسول الله صلی الله علیه و سلم په ټولو دغو صفاتو متصف وو. موږ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په کامل اطاعت مکلف یو، د ده اطاعت داسي دئ لکه د الله تعالی اطاعت، دا ځکه چي دی د الله تعالی استازی دئ او هره وینا او عمل ئې د الهي لارښوونو مطابق، د رسول الله صلی الله علیه و سلم هره وینا او هر عمل موږ ته حجت دئ.

د دغو څرګندو دلائلو په رڼا کې په پشپړ یقین او اطمئنان سره ویلی شو چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت (قول او عمل) ته باید د قرآن د شرحي او تفسیر په سترګه وګورو نه د مستقلي وحي په سترګه، هغه رأیه صحیح او د قرآن د وینا مطابق ده چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته قرآن ورکړی شوی او د قرآن دقیق او ربښتینی فهم؛ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث د قرآن شرح او تفسیر دئ؛ او هغه رأیه بې بنسټه او له ځانه جوړه شوې رأیه ده چي وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته پر قرآن سربېره داسي وحي هم شوې چي د احکامو منشأ ده؛ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم حدیث د دې وحي مظهر دئ.

له دې باید ډډه وکړو چي ووایو: قرآن کافي نه دئ، باید پر دې ټینګار وکړو چي قرآن

کافي او شافي دئ، په قرآن کې هر څه راغلي، دا د قرآن په اړه د الله تعالی وینا او لارښوونه ده، دا د قرآن په اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم وینا ده، څوك چې له قرآن پرته په بل څه کې هدایت ولټوي الله تعالی ئې بې لارې کوي. د حدیث په اړه باید زموږ عقیده دا وي چې حدیث د قرآن شرح او تفصیل دئ، رسول الله صلی الله علیه و سلم د قرآن حامل، شارح، معلم او مفسر دئ، وحې په قرآن کې راخلاصه شوې، څه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وحې شوي ټول په قرآن کې راغلي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم ټولې ویناوې او کړنې د قرآن مطابق دي، داسې صحیح حدیث نشته چې منشأ ئې په قرآن کې نه وي، هغه روایت چې له قرآن سره تعارض ولري رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوبول ستر جسارت دئ، له دې باید تل او په جدي توگه ډډه وکړو، ټول فقهاء او محدثین په دې متفق دي چې صحیح حدیث هغه دئ چې نه له قرآن سره تعارض ولري او نه له عقل سره، د روایت سند په دریمه درجه کې اهمیت لري، کوم روایت چې په قرآن کې شاهد ونه لري، له عقل سره اړخ نه لگوي او د عام الهي سنت خلاف خبره کوي نه یوازې د اعتبار وړ نه دئ بلکې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې منسوبول ستره گناه ده، هر څه باید قرآن ته راجع کړو او هغه مهال ئې ومنو چې له قرآن سره مطابقت ولري یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري. دا روحیه خلکو ته ورکول چې قرآن کافي نه دئ د هغو ضاله ډلو تېر ته لاستی برابروي چې قرآن شا ته غورځوي او په جعلي روایاتو پورې نښلي، داسې وینا نه یوازې بد عواقب لري بلکې د قرآن د صریحو او څرگندو آیتونو خلاف وینا ده.

دلته دا وضاحت هم ضروري برېښي چې دا ادعاءگانې د یوه داسې پاکستاني مبلغ له لورې کېږي چې په خرافاتو کې تر ستونې غرق او د شرك مبلغ دئ، انگرېزانو یو ټلویزیوني چینل ورکړی، مرکز ئې په لندن کې دئ، هره ورځ د ده ویناگانې خپروي، باور وکړئ ډېر ځلې داسې شوي چې ما کله د کوم آیت په اړه د ده تفسیر اورېدلی نو بلااختیار مې له خولې وتلي: ظالمه! دروغ وایې، تفسیر دې په بشپړه توگه غلط دئ، ما اکثراً د ده تفسیر داسې موندلی لکه څرگند او له غرض او مرض ډکېدلی تحریف!!

ده او د ده پلویانو ته وایو: تاسو څنگه حدیث ته د غیر متلو وحې یا وحې خفي نوم ورکوئ او قرآن د وحې جلي او وحې متلو په نامه یادوئ؟ دا تسمیه او نومَونې د چا له لورې شوې او دا نومونه چا غوره کړي؟ په قرآن او حدیث کې خو په قطعي توگه دا نومَونې نشته، موږ هم حدیث لولو، هم ئې لیکو او هم ئې حفظ کوو، ولې دې ته د غیر متلو نوم ورکوئ؟ غیر متلو خو هغه څه ته ویل کېږي چې څوك ئې په خوله نه تکراروي او له لوستلو او ویلو ئې ډډه کوي!! تاسو ولې وحې ته د جلي صفت ورکوئ؟ پر وحې د جلي اطلاق په بشپړه توگه غلط اطلاق دئ، وحې هغه رمز او اشارې ته وایي چې د جلي خلاف او خفي وي!! آیا صحیح ده چې د هر ژبړ کتاب په حاشیې کې راغلی مطلب داسې سپېڅلی

وګڼو چې مخالفت ئې کفر بواح وګڼو؟!! یو څوك پورته شوی او له ځانه ئې دا اصطلاحات راایستلي او ته اوس داسي پرې ټینګ یې چې د قرآن تر آیت هم درته مهم برېښي!! جنابه! ستا ئې خوښه خو موږ دا اصطلاحات درسره نه منو ځکه په بشپړه توګه او له هره پلوه غلط دي!!

دې ته مو پام وي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له رحلت وروسته ځیني غلط افکار او باورونه په مسلمانانو کې خواره شول، ځینو خلکو به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته له قرآن پرته نوره وحي هم شوې، خو هغه ئې یا پټه ساتلې یا ئې ځینو خاصو وګړو ته ویلې، ګواکې وحي په قرآن کې نه راخلاصه کېږي، ځینو به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی، ځینو نورو به ویل: رسول الله صلی الله علیه و سلم په غیب پوهېدو!! عائشې رضی الله عنها دغو غلطو او د قرآن خلاف افکارو او باورونو د تردید لپاره مسروق رضی الله عنه ته وویل: د دې خبري په اورېدو مي وېښتان زیږ شول، رسول الله صلی الله علیه و سلم نه خپل رب په خپلو سترګو لیدلی، نه له قرآن پرته داسي وحي شته چې له خلکو ئې پټه ساتلې وي او نه پر غیب پوهېدو. چا چې دا خبري وکړې ستر دروغ ئې ویلي!! روایت داسي دئ:

... قَالَ مَسْرُوقٌ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ؟ فَقَالَتْ لَقَدْ تَكَلَّمْتَ بِشَيْءٍ قَفَّ لَهُ شَعْرِى قُلْتُ رُوَيْدًا ثُمَّ قَرَأْتُ (لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى) قَالَتْ أَيْنَ يُذْهَبُ بِكَ إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ أَوْ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُمِرَ بِهِ أَوْ يَعْلَمُ الْخَمْسَ الَّتِى قَالَ اللَّهُ تَعَالَى (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ) فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَمْ يَرَهُ فِى صُورَتِهِ إِلاَّ مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَمَرَّةً فِى جِيَادٍ لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الأُفُقَ. الترمذی

... مسروق وایي: عائشې رضی الله عنها ته ورغلم ومي ویل: آیا محمد (علیه السلام) خپل رب لیدلی؟ وئې ویل: داسي خبره دي وکړه چې وېښتان مي ورته ځیږ شول، ومي ویل: لږ حوصله وکړه، بیا مي دا آیت تلاوت کړ (لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى...)، وئې ویل: چېري ئې بېولی یې؟ دا خو جبرئیل وو، چا چې درته وویل: محمد (علیه السلام) خپل رب لیدلی، یا ئې له هغه وحي کوم څه پټ کړي چې پر ابلاغ ئې مأمور شوی؛ او یا په هغو پنځو شیانو پوهېږي چې الله تعالی د هغوی په اړه فرمایلي: (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ...) نو ستره بدغوني خبره ئې کړې (ستر دروغ ئې ویلي)، خو هغه جبرئیل لیدلی، په خپلي اصلي بڼې کې ئې یوازې دوه ځلې لیدلی، یو ځل په سدرة المنتهی کې او بل ځل په جیاد کې، شپږ سوه وزري ئې وې، ټول افق ئې پوښلی وو.

په دې اړه له علي رضی الله عنه هم پوښتنه شوې او ورته ویل شوي: آیا د رسول الله

صلى الله عليه و سلم په اهل بيت کې له تا يا بل چا سره له قرآن پرته بل کتاب هم شته؟ د پوښتنې موخه دا وه چې آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسې وحې هم شوې چې تا يا کوم بل خاص کس ته ئې ويلې وي او په قرآن کې د هغې په اړه څه نه وي ويل شوي، روايت داسې دئ:

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ قُلْتُ لِعَلِيٍّ هَلْ عِنْدَكُمْ كِتَابٌ قَالَ لاَ، إِلاَّ كِتَابُ الله؛ او فَهْمٌ أُعْطِيَهُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ؛ او مَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ. قَالَ قُلْتُ فَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ قَالَ الْعَقْلُ، وَفَكَاكُ الأَسِيرِ، وَلاَ يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ. (بخارى:۱۱۱)

له ابو جحيفه روايت دئ چې وايي: علي رضى الله عنه ته مې وويل: آيا کوم خاص کتاب درسره شته؟ وئې ويل: نه؛ مګر د الله کتاب؛ او هغه پوهه چې يوه مسلمان سړي ته په برخه کېږي او هغه څه چې په دې پاڼې کې دي، وايي: ورته ومې ويل: نو په دې پاڼې کې څه دي؟ وئې ويل: د ديت حکم، د اسير آزادول او دا چې مسلمان د کافر په بدل کې نه وژل کېږي.

ما ته يو چا د همدې موضوع په ارتباط يوه ليکنه رالېږلې وه چې په کې راغلي وو: دوکتور احمد غازي وايي: په سنن ابی داؤد کې دا روايت راغلی: (إني أوتيت القرآن و مثله)، ما په ځواب کې ورته وليکل: ما دا روايت نه په دې کتاب کې وموند او نه د صحاح سته په پاتې کتابونو کې، البته په ځينو نورو کتابونو کې راغلی، خو دا روايت د سند له پلوه غريب دئ، په صحابه وو او تابعينو کې يوازې يو يو راوي لري، د متن له پلوه دا اشکال لري چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته قرآن ورکړی شوی او د قرآن مثل، د دې معنی خو دا ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته پر قرآن سربېره کوم بل کتاب هم ورکړی شوی چې قرآن ته ورته دئ!! او دا ادعاء نه د توجيه وړ ده، نه د منلو وړ او نه په ټولو صحابه وو کې بل چا دا خبره کړې، په امت کې له شيعه وو پرته هيڅوك دا خبره نه کوي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته له قرآن پرته بل کتاب هم ورکړی شوی. تاسو د عائشې رضى الله عنها او علي رضى الله عنه دوه روايات هم وليدل چې دغه ادعاء په کلکه ردوي.

هغه دا هم ليکلي وو چې دکتور احمد غازي وايي: داسې روايت هم شته چې وايي: پر رسول الله صلى الله عليه و سلم څلرويشت زره ځلې وحې نازله شوې!! هغه ته مې وليکل: دا ادعاء او روايت هيڅ بنسټ نه لري، که دا خبره هم ده کړې وي نو معنی ئې دا ده چې ښايي د ده نوري خبرې به هم دې ته ورته وي او په کار ده د ده د ليکنو په اړه محتاط وو او د غير موثق او ضعيف ليکوال په سترګه ورته وګورو!! ما داسې روايت او دې ته ورته د احاديثو په هيڅ کتاب کې ونه موندو، په غالب ګمان چې دا به د شيعه وو له لوري جعل شوی روايت وي؛ او ښايي د هغوی په کتابونو کې به راغلی وي، ځکه هغوی

وايي چې د قرآن د آيتونو اصلي شمېر د اوسنی قرآن تر درې ځلي هم زيات دئ!! يعني نژدې څلرويشت زره!!!

په دې ليکنې کې د الانفال د سورې په دغه آيت هم استناد شوی وو: (وَ إِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطائفَتَينِ أنهَا لَكُمْ وَ تَوَدُّونَ أَنَّ غَيرَ ذَاتِ الشوْكَةِ تَكُونُ لَكمْ وَ يُرِيدُ اللَّهُ أن يحِقَّ الْحَقَّ بِكلِمَتِهِ وَ يَقْطَعَ دَابِرَ الْكَفِرِينَ) ګواکې له دې معلومېږي چې غيرمتلو وحي هم شته، په ځواب کې مي ورته وليکل: د (يعدكم الله احدى الطائفتين) معنی دا نه ده چې الله تعالی ټولو صحابه وو ته مخامخ او د وحي له لارې وعده ورکړې يا ئې د رسول الله صلی الله عليه و سلم له لارې، معنی ئې دا ده چې الله تعالی دا پرېکړه کړې وه چې د دغو دواړو ډلو (تجارتي قافله او د قريشو مسلح لښکر) له منځه به پر يوې حتماً مسلمانانو ته غلبه او برلاسی ورکوي، دا د الله تعالی غير معلنه وعده وه، چې په قرآن کې ئې ډېرې بېلګې مومو، ځينو دا خوښوله چې له لښکر سره مخامخ نه شي خو الله تعالی همدا غوښتل. د احمد غازي په څېر خلکو ادعاء به په هغه صورت کې د منلو وړ وه چې په قرآن کې د دې وعدې يادونه شوې وی يا رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي وی چې ما ته الله تعالی وحي وکړه چې له دغو دواړو به حتماً يوه تاسو ته په لاس درځي او الله تعالی دا خوښوي چې تاسو لښکرغوره کړئ، که داسي وی نو په صحابه وو کې به هيچا له قافلې سره د مخامخېدو هيله نه وه کړې، ټولو به په اتفاق سره ويلي وو چې موږ د الله تعالی پر وعدې باور کوو او د لښکر ماتول خوښوو.

حقيقت دا دئ چې د ټولو جعلي، خرافي او غلطو مذاهبو بنسټ پر دې کچه او غلط باور او دروغجني ادعاء ايښودل شوی چې وايي: د الله کتاب کامل او کافي نه دئ؛ او الله تعالی نور داسي احکام هم لېږلي چې په قرآن او نورو الهي کتابونو کې ئې يادونه نه ده شوې، هر ټګمار خپل غرضي افکار او هغه غلط آراء چې د الله تعالی له کتاب سره په بشپړه توګه تعارض لري همداسي وحي ګڼلي او جاهلو عوامو ته ئې ويلي: دا هم د الله تعالی له لورې وحي شوي که څه هم په الهي کتاب کې نه دي راغلي!!! د قاديانت بنسټ په همدې غلط بنياد ايښودل شوی، د شيعه مذهب بنسټ همدا باور دئ، د جاهلو متصوفينو مشرب او مسلك همدا دئ، ټول له دې سره په کلکه مخالفت کوي چې د الله تعالی کتاب وروستی معيار او محك وګڼل شي او وحي په قرآن کې خلاصه کړی شي. که تاسو شيعه وو ته ووايئ: ولې په داسي څه عقيده کوئ او د خپل مذهب بنسټ ترې جوړوئ چې په ټول قرآن کې معمولي اشاره هم نه ده ورته شوې؟!! په قرآن کې نه د علي رضی الله عنه د امارت يادونه شوې او نه ستاسو د پنځه کلن غائب امام زمان د امامت يادونه، نو ترې وابه ورئ چې د دغو خلکو خبره درته کوي او وايي: وحي په قرآن کې نه ده خلاصه شوې، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د علي د امارت وحي هم شوې او زموږ ائمه وو ته د امام زمان د امامت وحي هم!!! که تاسو قاديانيانو ته ووايئ: قرآن وايي:

رسول الله صلى الله عليه و سلم خاتم النبيين دئ، د وحي سلسله په قرآن پای ته رسېدلې، نو تاسو ته به ووايي: نه وحي په قرآن کې خلاصه شوې او نه ئې د راتلو لړۍ پای ته رسېدلې، غلام احمد قادياني ته داسي وحي کېده لکه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته!! يقيناً چي دا د ټولو خرافي مذاهبو ګډ بنسټ دئ، څوك چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم ته پر قرآن سربېره وحي شوې هغوی په حقيقت کې د دغو منحرفو او دين دښمنو ډلو ملتيا کوي، د دغو ټګمارانو تېر ته لاستي اچوي او د هغوی غلط مشرب مضبوطوي!!

حقيقت دا دئ چي د ټولو فتنو، انحرافاتو، مذهبي اختلافاتو، فکري او اعتقادي تشنجاتو او د دجالانو او دوکه مارانو د مکرونو د مخنيوي يوازينۍ، اغېزمنه او ډاډمنه لار دا ده چي قرآن کامل او کافي وګڼو، هغه ته د بشپړ لارښود الهي کتاب په سترګه وګورو، هر اختلاف هغه ته راجع کړو او د هغه فيصله وروستۍ پرېکړه ومنو، باور مو دا وي چي قرآن له نقص او عيب منزه دئ، د هر ډول فکري او اعتقادي اختلاف د حل وروستۍ مرجع او د هري قضيې په اړه د هغه قضاوت او پرېکړه وروستۍ عادلانه او حقيقي پرېکړه ده، د رسول الله صلى الله عليه و سلم حديث ته د قرآن د دقيقي او جامع شرحي او تفسير په سترګه وګورو، په دې باور وو چي د قرآن او صحيح حديث تر منځ هيڅکله تعارض او تضاد نشي رامنځته کېدی، يوازي هغه روايت د اعتبار وړ وګڼو چي په قرآن کې کوم شاهد ورته ومومو، يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري، پر الله تعالى او د هغه پر رسول د ايمان حقيقي معنی او د الله تعالى او د هغه د رسول د اطاعت رښتينی مصداق همدا دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# الزخرف

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الزخرف) دئ چي د سورې له ۳۵ آيت اخيستل شوی، ۸۹ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د دوهم آيت (المبين)؛ او د درېيم آيت (تعقلون) ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چي د مکې دور په منځنيو کلونو کې نازل شوي. داسي معلومېږي چي دا سوره له مخکينيو دريو سورتونو سره په ورته ظروفو او شرائطو کې او يوه په بلي پسي نازله شوې.

دا سوره هم په دوو مقطعاتو حروفو (حاء) او (ميم) پيل شوې، دا د دې نښه ده چي په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتيب ئې هم داسي دئ لکه په همداسي دوو پر

له پسې حروفو پيل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ۱- قرآن د الله تعالى له لوري لېږل شوی، باعظمت او له حکمتونو ډك کتاب دئ، په خپله څرګند او د حقائقو څرګندوونکی کتاب، د عقلمنو د لارې مشعل، ۲- تاسو له همدې څرګند الهي کتاب سره د مخالفت لار غوره کړې، له الهي کتاب او له حامل سره ئې همغه څه کوئ چې ستاسو اسلافو کړي، يقيناً چې ستاسو برخليك به همغسې سپېره وي چې د مخکينيو وو.

د دې سورې خلاصه هم په هغه وروستى آيت کې راغلې چې د ټولې سورې لپاره ښکلې او دقيقه تتمه او خلاصه ده او وايي: نو مخ ترې واړوه او ووايه: سلام، ژر به پوه شي. يعني د دوی پروا مه کوه، د دوی په اړه انديښنې پرېږده، اعتناء مه ورته کوه، په يوه سلام سره ترې تېرېږه، مطمئن اوسه چې ډېر ژر به پوه شي چې د دوی کفر، شرك او له حق دين سره مخالفت له کوم شوم برخليك سره مخامخ کړل.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾ إِنَّا جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿٣﴾ وَإِنَّهُۥ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ لَدَيۡنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٤﴾ أَفَنَضۡرِبُ عَنكُمُ ٱلذِّكۡرَ صَفۡحًا أَن كُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّسۡرِفِينَ ﴿٥﴾

حاء ميم، قسم په دې څرګند کتاب، يقيناً چې مونږ هغه يو عربي قرآن ګرځولی د دې لپاره چې تاسو تعقل وکړئ او يقيناً چې هغه زموږ خوا ته په اصلي کتاب کې دئ، له شك پرته باحکمت او لوړ دئ، نو آيا له تاسو دا ذکر د مخ اړولو په توګه بند کړو، له دې کبله چې تاسو تېرى کوونکي وګړي يئ؟!

(۱-۵)- د دې مبارکو آيتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره بايد دا خبرې په پام کې ولرئ:

دا سوره هم د (حاء) او (ميم) په دوو مقطعاتو حروفو پيل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتيب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پيل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ۱- قرآن د الله تعالى له لوري لېږل شوی، باعظمت او له حکمتونو ډك کتاب دئ، په خپله څرګند او د حقائقو څرګندوونکی کتاب، د عقلمنو د لارې مشعل، لارښووني ئې په دې ګواهي ورکوي چې د الله تعالى له لوري نازل شوی. ۲- تاسو له همدې څرګند الهي کتاب

سره د مخالفت لار غوره کړې، له الهي کتاب او له حامل سره ئې همغه څه کوئ چې ستاسو اسلافو کړي، يقيناً چې ستاسو برخليك به همغسي سپېره وي چې د مخکينيو وو.

دلته په مبين کتاب لوړه شوې او ويل شوي: قسم پدې څرګند کتاب. ورپسې د قسم ځواب راغلی او ويل شوي: يقيناً چې موږ دا يو عربي قرآن ګرځولی چې تاسو تعقل وکړئ. يعني دا مبين کتاب په خپله د دې شاهد او ګواه دئ چې د الله تعالی له لوري لېږل شوی، دا د محمد عليه السلام په خپلو افکارو مشتمل کتاب نه دئ، د الله کتاب دئ، په عربي کې ئې راتګ تاسو پدې شك مبتلی نه کړي چې مبادا دا د محمد عربي عليه السلام خپل کتاب وي، دا خو د دې لپاره موږ په عربي کې لېږلی چې تاسو ئې په مطلب پوه شئ. د دې مبين کتاب هرڅه شهادت ورکوي چې الله تعالی رالېږلی. د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې کله قرآن د دې شاهد او ګواه معرفي شوی چې دا د الله تعالی له لوري لېږل شوی او کله د دې خبري چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د الله تعالی پيغمبر دئ. پدې ټولو قسمونو کې دا ويل شوي چې د قرآن عظمت او شأن، د قرآن حکيمانه لارښووني، ذکر او پند ئې، پدې شهادت ورکوي چې محمد عليه السلام د نورو پيغمبرانو په څېر يو پيغمبر دئ، د ده د پيغمبرۍ د اثبات لپاره قرآن کافي دئ، د ده لار سمه ده او د عزيز رحيم خدای له لوري ښودل شوې لار ده. که څوك قرآن ته رجوع وکړي، په شفاف او صاف ذهن سره هغه مطالعه کړي، په هغه کې له ژور حکمته ډکو لارښوونو ته ځير شي، حکيمانه دعوت ته ئې دقيقاً پام وکړي، علمي څېړني ئې او د طبيعت په اړه د هغه دقيق او عميق علمي بحثونو ته ځير شي او بيا دا کتاب د يوه ستر ليکوال، لوی عالم، معروف حکيم او نومیالي محقق له کتاب او ليکني سره مقايسه کړي، ډېر ژر او په آسانۍ سره به پوه شي چې د کوم انسان له خوا د قرآن جوړېدا محال ده، خبري ئې، لارښووني ئې، مواعظ ئې، پرېکړې او قضاوتونه ئې، احکام او قوانين ئې، استدلال ئې، د طبيعت او هستي په اړه دقيق علمي بحثونه ئې، دا ټول په څرګنده توګه ښيي چې دا يوه پيغمبر ته د الله له لوري ورکړی شوی کتاب کېدی شي نه د يوه انسان د ذهن زېږنده، که هرڅومره انسان پوه وي او د ډېر اوچت نبوغ خاوند، دا ورته ممکنه نده چې داسي کتاب جوړ کړی شي.

آيا ستاسو مخالفت او اسراف ته په پام سره خپل برائت او بې زاري اعلان کړو، مخ درنه واړوو، د قرآن د اغېزمنو پندونو له لاري ستاسو لارښوونه متوقف کړو او د پند لړۍ پای ته ورسوو؟! ستاسو د دې تېري او مخالفت معنی او تقاضا خو همدا ده، خو دا د مهربان رب سنت نه دئ چې د بندګانو د بغاوت له کبله د کتاب لېږلو لړۍ بنده کړي، لکه څنګه چې ئې نن د محمد عليه السلام په لاس قرآن لېږلی همداسي ئې تر دې وړاندې د ډېرو پيغمبرانو په لاس کتابونه لېږلي.

وَكَمْ أَرْسَلْنَا مِن نَّبِيٍّ فِي ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٦﴾ وَمَا يَأْتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ

يَسْتَهْزِءُونَ ۝٧ فَأَهْلَكْنَآ أَشَدَّ مِنْهُم بَطْشًا وَمَضَىٰ مَثَلُ ٱلْأَوَّلِينَ ۝٨

او د پیغمبرانو ځومره مو په لومړنیو کې لېږلي؟! او هیڅ نبي نه ورتلو مگر پر هغه به ئې استهزاء کوله، نو موږ هغه هلاك كړل چې د لاس اچوني له پلوه تر دوی ډېر پیاوړي ول؛ او د دغو لومړنیو مثالونه تېر شوي.

---

(٦-٨)- دا مبارك آيتونه وايي:

- الله تعالى په مخكينيو ولسونو كې ډېر پيغمبران لېږلي.
- ډېرو ئې په هر هغه نبي استهزاء كړې چې دوی ته ورغلي.
- له پيغمبرانو عليهم السلام سره د مخالفت او پر دوی د استهزاء له كبله الله تعالى هغه ولسونه هلاك كړل چې تر قريشو د زور او ځواك له پلوه ډېر پياوړي ول.
- د دغو لومړنيو هلاك شوو ډېر مثالونه تېر شوي.

---

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ
۝٩ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَجَعَلَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ
تَهْتَدُونَ ۝١٠ وَٱلَّذِى نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَأَنشَرْنَا بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذَٰلِكَ
تُخْرَجُونَ ۝١١ وَٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَزْوَٰجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْفُلْكِ وَٱلْأَنْعَٰمِ مَا
تَرْكَبُونَ ۝١٢ لِتَسْتَوُۥا عَلَىٰ ظُهُورِهِۦ ثُمَّ تَذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا ٱسْتَوَيْتُمْ
عَلَيْهِ وَتَقُولُوا۟ سُبْحَٰنَ ٱلَّذِى سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقْرِنِينَ ۝١٣ وَإِنَّآ إِلَىٰ
رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ۝١٤

او كه ترې وپوښتې: دا آسمانونه او زمكه چا پيدا كړي؛ حتماً به ووايي: ډېر پوه عزتمن ذات پيدا كړي، هغه چې زمكه ئې تاسو ته زانگو گرځولې او په هغې كې ئې تاسو ته لارې جوړې كړې چې هدايت شئ. او هغه چې له آسمان ئې په ټاكلې اندازه اوبه نازلې كړې چې په دې سره مو مړ ښارونه ژوندي كړل، همداسې به رااېستل كېږئ؛ او هغه چې ټولې جوړې ئې پيدا كړې او تاسو ته ئې د كشتيو او څارويو داسې څه پيدا كړي چې پرې سپرېږئ، چې پر شا ئې سم كښېنئ، بيا هغه مهال د خپل رب نعمت درياد كړئ چې پرې سم كښېنئ او ووايئ: سپېڅلتيا هغه ذات ته ده چې دا ئې موږ ته مسخر كړي په داسې حال كې چې موږ ئې اېلوونكي (تابع كوونكي) نه وو؛

او موږ د خپل رب لوري ته حتماً بېرته ورگرځېدونکي يو.

(۹-۱٤)- دلته د توحيد په اړه د څو مضبوطو دلائلو شاهد يو:

په نهم آيت کې راغلي: که له خپلو مخاطبينو وپوښتې چې دا آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي؛ حتماً به ئې ځواب دا وي: ډېر پوه عزتمن ذات پيدا کړي، هيڅ عقلمن انسان له دې پرته بل ځواب نشي ويلی، دا ځکه چې د آسمانونو او زمکې په پيدايښت کې د يوه پوه او غالب ذات د قدرت او تصرف څرگندي او انکار نه منونکې نښې او آثار گورو، له دوو ځانگړتياوو پرته هيڅوك يو وړوکی شی هم نشي جوړولی، له عدم ئې پيدا کول خو آخوا پرېږده، يو (د پيدا کولو اړوند علم) او بل (د پيدا کولو ځواك)، د پيدايښت په اړه خو نن ساينس وايي: انسان نه کوم شی پيدا کولی شي او نه ئې له منځه وړلی شي، د انسان ټول ځواك او توان دومره دئ چې کولی شي يو توکی له يوه حالت بل ته واړوي، نه ئې له عدم هستولی شي او نه ئې نېستولی او معدومولی شي، خاوره د يوې ونې له زړي سټره ونه او لرگی جوړولی شي خو انسان ئې نشي جوړولی، انسان لرگی سوزولی شي خو په سوزولو سره ئې فقط په غاز او ايرو بدلوي، د لرگي يوه ذره هم په بشپړه توگه له منځه نشي وړلی. آيا د دې پراخ او بې انتهاء عالم پيدايښت د حال په ژبه او په جگ بږغ موږ ته نه وايي چې يوه (عليم او عزيز) ذات پيدا کړی؟

زمکه داسي جوړه شوې چې د انسان لپاره يوه زانگو وي، په خپلې غېږ کې ئې خوندي وساتي، ټولو اړتياوو ته ئې ځواب ووايي، آيا دا ښکارندويه د دې گواهي نه ورکوي چې زمکې ته دا جوړښت (عليم او حکيم) خالق ورکړی؟!!

په زمکې کې د داسي لارو شاهد يو چې له يوې سيمي بلې ته تگ ئې انسان ته آسان او ممکن کړی، په زمکې کې طبيعي لاري هم مومو او داسي لاري هم چې له طبيعي تسهيلاتو په استفادې سره انسانانو جوړي کړې، که دا طبيعي تسهيلات نه وی نو انسان ته به د داسي لارو جوړول گران او حتی محال وو.

گورو چې له آسمان په ټاکلې اندازه اوبه راورېږي، د ضرورت په اندازه، نه زياتي او نه کمي، دومره چې د زمکې پر سر د ټولو ژوو اړتيا ته ځواب وايي. په دې اوبو سره مړه زمکه راژوندۍ کړې، د زمکې او آسمان تر منځ دا تنسيق چا رامنځته کړی، په اوبو او خاورې کې دا استعداد چا ايښی، څوك په اوبو سره له مړې خاورې ژوي راباسي؟!!

آيا هغه ذات چې هره شېبه له مړې خاورې ژوي راباسي له دې عاجز گڼئ چې انسان به له مړيني وروسته بياراژوندی کوي؟! بايد باور وکړئ چې همداسي به رااېستل کېږئ.

دا جوړه جوړه مخلوقات او ژوي چا پيدا کړي؟ همدا جوړه جوړه پيدايښت هم په طبيعت کې د تکامل اساسي عامل دئ او هم د ژوو د نسل د بقاء او دوام ضامن.

انسان د سمندري سفرونو لپاره کشتيو ته ضرورت لري او د پراخو بېدياوو په سفرونو کې د سورلۍ څارويو ته، د زمکې او انسان خالق او پالونکي رب د دواړو بندوبست ورته

کړی، انسان ته ئې داسې کشتۍ او څاروي پیدا کړي چې پرې سپرېږي، د دې الهي نعمت تقاضا دا ده چې د سپرېدو پر مهال د منعم رب پېرزوینه راپه یاد کړو او ووایو: سپېڅلتیا هغه ذات ته ده چې دا ئې موږ ته مسخر کړي په داسې حال کې چې موږ ئې اېلوونکي او تابع کوونکي نه وو؛ او موږ د خپل رب لوري ته حتماً بېرته ورگرځېدونکي یو.

وَجَعَلُواْ لَهُۥ مِنۡ عِبَادِهِۦ جُزۡءًاۚ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَمِ ٱتَّخَذَ مِمَّا يَخۡلُقُ بَنَاتٖ وَأَصۡفَىٰكُم بِٱلۡبَنِينَ ﴿١٦﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحۡمَٰنِ مَثَلٗا ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾ أَوَمَن يُنَشَّؤُاْ فِي ٱلۡحِلۡيَةِ وَهُوَ فِي ٱلۡخِصَامِ غَيۡرُ مُبِينٖ ﴿١٨﴾ وَجَعَلُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ ٱلَّذِينَ هُمۡ عِبَٰدُ ٱلرَّحۡمَٰنِ إِنَٰثًاۚ أَشَهِدُواْ خَلۡقَهُمۡۚ سَتُكۡتَبُ شَهَٰدَتُهُمۡ وَيُسۡـَٔلُونَ ﴿١٩﴾

او ده ته ئې د ده له بندگانو یوه برخه ټاکلې، یقیناً چې انسان ښکاره ناسپاس دئ، آیا له هغه څه ئې لوڼې نیولې چې دی ئې پیدا کوي او تاسو ته ئې په زامنو سره غوره والی درکړی؟ او کله چې د دوی کوم یوه ته په هغه څه زېری ورکړی شي چې رحمن رب ته ئې د مثال په توگه منسوب کړی مخ ئې تك تور شي په داسې حال کې چې د غمونو زغمونکی وي، آیا هغه چې په گاڼې کې وده کوي او هغه په شخړې کې ناڅرگند وي؟! او هغه فرښتې ئې ښځینه گڼلې دي چې د رحمن بندگان دي، آیا د دوی پیدایښت ئې مشاهده کړی، حتماً به ئې شهادت ولیکل شي او وبه پوښتل شي.

(۱۵-۱۹)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

• مشرکینو د الله تعالی له بندگانو ځیني د ده جزء گڼلی، د دې وینا څو تعبیرونه کېدی شي: ۱- د الله تعالی ځیني بندگان ئې د الله تعالی زامن گڼلي، ۲- ځیني بندگان ئې د ده لوڼې گڼلې دي، ۳- ځیني بندگان ئې د ده د خاصې کورنۍ غړي گڼلي دي، ٤- ځیني بندگان ئې د ده ځای ناستي او په الوهیت او ربوبیت کې د الله تعالی شریکان او سیالان گڼلي، د ربوبیت یوه برخه ئې الله تعالی ته پرېښې او نوري برخې ئې پر خپلو جعلي معبودانو وېشلې. په دې تعبیرونو کې تر ټولو غوره ئې څلورم تعبیر دئ، په دوو دلائلو: ۱- له بعدي فقرې سره چې وايي: (یقیناً چې انسان ښکاره ناسپاس دئ) همدا تعبیر اړخ لگوي، ۲- د لوڼو یادونه وروسته راغلې.

• مشرکینو فرښتې د الله تعالی لوڼې گڼلې، د دوی په ځواب کې ویل شوي: آیا الله تعالی به له هغو چې دی ئې پیدا کوي ځان ته لوڼې غوره کړې وي او تاسو ته به ئې په زامنو

سره غوره والی درکړی وي؟ دا په داسي حال کي چي تاسو په خپلي کورنۍ کي د لور زېږېدو ته په سپکه سترګه ګورئ، عيب او د پېغور باعث ئې بولئ، کله چي ستاسو کوم يوه ته د لور د زېږېدو زېرى درکړى شي، د داسي څه زېرى چي رحمن رب ته ئې منسوبوئ، نو مخ ئې تك تور شي، زړه ئې له غمونو او اندېښنو ډك شي!! آيا عجيبه نه ده چي تاسو الله تعالى ته داسي اولاد منسوبوئ چي ځان ته ئې نه خوښوئ؟!!

• دوى الله تعالى ته لوڼي منسوبوي، هغه لوڼي چي په ګاڼې کي وده کوي او هغه په شخړې کي ناڅرګندي وي؟! دلته د ښځو دوو ځانګړتياوو ته اشاره شوې: ۱- په ګاڼې کي وده کوي، د دې معنى دا ده چي ګاڼه کارول د ښځو يوه فطري تقاضا ده، ولي ګاڼه کاروي او ولي په ګاڼه کي وده کوي؟ دې پوښتني ته به ځواب وايو، ۲- په شخړې کي ناڅرګنده وي، چي د دې دوه تعبيرونه کېدى شي: په جګړو کي نه راڅرګندېږي يعني برخه نه اخلي، د مجادلې په وخت کي ئې وينا ډېره څرګنده نه وي، دوهم تعبير دقيق برېښي؛ او دا د ښځو هغي ځانګړتيا ته اشاره کوي چي بنسټ ئې د دې قوي او ځواکمنه عاطفه ده، عاطفي انسان د شخړې پر مهال احساساتي شي او خپل ما في الضمير په ښه توګه، په سړه سينه او په منابسو الفاظو نشي بيانولى، همدا وجه ده چي ښځي د بحث او مناقشې په دوران کي ژر احساساتي کېږي، يا ئې اوښکي راشي، يا صحنه پرېږدي او ډېر ځلي ئې مناقشه په جګړې او لاس ګرېوان کېدو واوړي. قوي عاطفه د مورولۍ يوه اساسي اړتيا ده، دا عيب نه بلکي يو امتياز دئ، الله تعالى ښځو ته پر نارينه وو له دې پلوه څرګند امتياز ورکړى.

• مشرکينو هغه فرشتې ښځينه ګڼلې دي چي د رحمن بندګان دي، داسي انګېري چي فرشتې ښځينه مخلوق او د الله تعالى لوڼي دي!! دوى ته ويل شوي: آيا د فرشتو پيدايښت ئې مشاهده کړى، هغه مهال چي الله تعالى دوى پيدا کولې حاضر ول او د دوى د پيدايښت څرنګوالى ئې په خپلو سترګو ليدلى؟!! که داسي نه وي نو څنګه دا غلطه او بې بنسټه ادعاء کوي؟!! دا غلطه ادعاء ئې هرومرو ليکل کېږي او په دې اړه به حتماً وپوښتل شي.

دلته يوه پوښتنه راولاړېږي چي ښځي ولي ګاڼه کاروي؟ ولي په ګاڼه کي وده کوي؟ آيا له ګاڼې پرته د کمښت احساس کوي او غواړي دا کمښت په ګاڼې سره بشپړ کړي؟ د دې پوښتني ځواب يوه لنډه مقدمه ايجابوي او هغه دا: که له يوه عادي سړي پوښتنه وکړې چي په انسانانو کي نارينه ډېر ښايسته دئ که ښځينه، نو که شرم ونه کړي ځواب به ئې دا وي چي ښځه تر سړي زياته ښايسته ده!! خو که ورته ووايې: په مارغانو کي نارينه ئې ښايسته وي او که ښځينه ئې؟ د مارغانو ګڼ شمېر جوړې ورته يادي کړه، لکه چرګان، طاوسان، هيلۍ، مرغۍ، ښارو (مينا)، زرکه او ... نو ځواب به ئې له ځنډه پرته دا وي: نارينه، نارينه، نارينه او نارينه، که ګڼ شمېر حيوانات ورته ياد کړې بيا به هم درته وايي: نارينه ئې ښايسته دي، نارينه ئې ښايسته دي. د داسي حيوان او مارغه نوم به وانه

خیستی شي چي نارینه ئې تر ښځینه ښایسته نه وي!! پوښتنه دا ده چي آیا د انسان په اړه د ده قضاوت صحیح دئ، همدومره عادلانه او له کوم شخصي غرض لوړ چي د نورو په اړه ئې کوي؟ که نه دلته او د انسان په اړه ئې قضاوت له ځانګړو عواملو اغېزمن شوی او د حقیقت خلاف غلطه پرېکړه ئې کړې؟ ګواکې حقیقت دا دئ چي په انسانانو کې هم د ټولو نورو ژوو په څېر نارینه تر ښځینه ښایسته وي. خو ده دلته او د انسان په اړه د خپل عقل او ښایست پېژندني استعداد او مَلَکې په حکم نه بلکي د شهوت تر اغېز لاندي پرېکړه کړې ده، که خپل عقل د شهوت له اغېز آزاد کړي او بیا د قضاوت پر کرسۍ کښېني نو یقیناً چي د انسانانو په اړه به هم هغه قضاوت کوي چي د ټولو نورو ژوو په اړه ئې کوي.

که ورته ووایې: ښځه ولې سینګار کوي، سترګې توروي، شونډې او اننګي سره کوي، پر تندي او زني خالونه ږدي، رنګه رنګه جامې خوښوي، ګاڼې اغوندي...؟ سینګار ته خو هغه څوك اړ وي چي څه کمی احساسوي، غواړي دا کمی پوره کړي، په ډول ډول سینګارونو سره غواړي هغه تشه ډکه کړي چي د نارینه په پرتله ئې په خپل ښایست کې احساسوي.

په نورو ژوو کې د نارینه او ښځینه تر منځ توپیر په دې کې وي چي د ښځینه په پرتله د نارینه قد لوړ وي، اندامونه ئې مضبوط وي، څه ښکلي او وېښتان ئې تر ښځې زیات وي، په مرغانو کې د نارینه ښکلي ډېر رنګونه او انځورونه لري او ښځینه ئې هم د رنګونو له پلوه او هم د انځورونو له پلوه ساده او کم رنګه وي.

د انسان د نارینه او ښځینه تر منځ پر نورو توپیرونو علاوه نارینه پر مخ ږیره لري او پر بدن وېښتان، داسي لکه د زمریانو نارینه چي تر زني لاندي او د غاړي شاوخوا کې زیات وېښتان لري، دا توپیرونه فطري دي او په دې کې ډېر ستر ستر علمي بنسټونه، مصلحتونه او حکمتونه په پام کې نیول شوي، دا یو فطري ضرورت دئ چي د ژوو په هري جوړه کې د ښځینه جوړښت له ساده والي او کم رنګوالي سره توأم وي، د دې عکس حالت د فطرت خلاف حالت دئ، په دې کې هر راز تبدیلي مضره او خطرناکه ده، بدي پایلي لري، دا تبدیلي داسي ده لکه له فطرت سره جنګ، داسي ده لکه د یوه ډېر ماهر رسام په یوه مهم انځور کې چي کوم ماشوم په خپل پنسل او قلم سره لاسوهنه کوي، ګوتي د رنګ په بوتل کې منډي او د انځور له پاسه ئې راکاږي. له انسان پرته نور ژوي خپل فطري حالت ثابت ساتي او په هغه کې بدلون نشي راوستی، یوازینی مخلوق انسان دئ چي کولی شي له فطرت سره د مخالفت لار غوره کړي او هغه څه وکړي چي د ده د فطري غوښتنو خلاف وي. خو هغه نه پوهېږي چي له فطرت سره جنګ څومره بد عواقب لري، نه پوهېږي چي دا جنګ دی له کوم تور، سپېره او کرغېړن عاقبت سره مخامخ کوي. لکه څنګه چي انسان په داسي حال کې چرس، تریاك، هېروئین، سګرېټ، شراب او نور مضر توکي کاروي چي د ده صحت او سلامتیا ته تاوان رسوي، همدا راز دی د ښایست په هیله پر خپل ځان داسي ملنډې ووهي

چې هم ئې ښکلا له منځه يوسي او هم ئې انساني وقار. يوه بېلګه ئې له غربي لنډغر، مبتذل او ګنده فرهنګ متأثر شوي هغه مقلد او بد سليقه زلميان دي چې تنګ تنګ شړېدلي کوبايي پتلونونه اغوندي، پر مخ، ږيري او وېښتانو هره ورځ بېلې بېلې خندوونکې ملنډې وهي، په غاړه کې ئې زنځير، په لاسونو کې ئې بنګړي، د پتلون پايڅې ئې سپخېدلې، د زنګنو او کوناټيو برخې ئې شړېدلې، کوږ کوږ به روان وي او ...

بله بېلګه ئې هغه څوك دئ چې پر خپلې ږيرې ملنډې وهي!! کله يو ډول کله بل ډول، کله له بره او کله له لاندې ئې تراشي!! هغه څېره څومره بې مالګې او حتی کرکجنه ښکاري چې ايراني ډوله ږيره ئې وي، له لاندې او بره ئې په مستقيمه ليکه وهلې وي، نرۍ کرښه ئې پر خپلې ژامې جوړه کړې وي، يا ئې د خپلې خولې شا وخوا د وېښتانو يوه دائره جوړه کړې وي، يا ئې د لاندنۍ شونډې لاندې تر زنې پورې څو وېښتان پرېښي وي، د سر وېښتان ئې له سرښناکې مائع په استفادې سره نېغ نېغ او شخ شخ ودرولي وي؛ او ... نه پوهېږم دا خلق د سليقې له پلوه څومره بد سليقه دي!! د ښايست پېژندنې له پلوه څومره ناپوه او بدتميزه دي، له اخلاقي پلوه څومره پرېوتي دي، په ړانده تقليد کې څومره غرق دي، څومره پر ځان ملنډې وهي، نه پوهېږي چې الله تعالی هر څه ښايسته پيدا کړي، د هر څه طبيعي حالت ښايسته دئ، هر تغيير ښايست له منځه وړي، هغه ځوانکی څومره ښکلی او ښايسته ښکاري، ښايي په نرۍ کې تر هر ښايسته زيات ښکلی او ښايسته، چې ږيره ئې نوې رسېدلې، په غنم رنګي سپين نوراني مخ کې ئې د رښتيني ايمان، تقوی، متانت او ډاډه زړه نښې له ورايه برېښي!! زه هغې مېرمنې ته حيران يم چې خپلې وروځې نرۍ کوي، د وروځو، سترګو، شونډو؛ او د مخ د نورو برخو تر منځ هغه طبيعي او فطري تناسب له منځه وړي چې د ښايست اصلي برخه ده، همغه تناسب چې په ښايست منتج شوی؛ او ښايست يعني همدا تناسب، دوی نه پوهېږي چې ښايسته انځور هغه دئ چې د رنګونو تر منځ ئې دقيق او موزون تناسب وي، په انځور کې له يوه رنګ بل ته تګ ئې تدريجي وي، د غنمي مخ او تورو وروځو تر منځ بايد يوه داسي غيرمستقيمه کرښه وي چې له يوه رنګ بل ته انتقال په تدريجي توګه تأمين کړي، د وروځو وېښتان داسي وي چې لومړنۍ او برنۍ برخه ئې په نريو نريو خفيف رنګه وېښتانو پوښل شوې وي، ورو ورو ئې وېښتان لوی او رنګ ئې غليظ شي، د منځنۍ برخې ويښتان ئې تر ټولو زيات لوی، پړېړ او تك تور وي، همغه ترتيب چې په فطري توګه د وروځو په جوړښت کې مراعات شوی، په مستقيمې ليکې او په مستقيمه ليکه بېل شوي رنګونه د ښايست او دقيقې انځورنې مغاير کار دئ. طبيعت ځکه ښايسته دئ چې نه مستقيمې ليکې لري او نه په مستقيمه ليکه بېل شوي رنګونه، که تاسو يوه ګل، يوې وني، په ونو او بوټو پوښلې يوه غره ته ځير شئ او زړه راښکونکې ښايست ته ئې پام وکړئ دا هر يو به ځکه درته ښاسيته برېښي چې د ښايست همدا اصل په کې مراعات شوی. که د يوه ښايسته ګل پاڼې ته ځير

شئ وبه گورئ چي د پاڼي د بيخ او سر رنګ په تدريجي توګه له پاخه او غليظ رنګ ساده کمرنګه حالت ته تغيير کړی، همدغه تناسب هغې ته او ټول ګل ته ښکلا او ښايست ورکړی.

د انسان په مخ کې د وروځو، د سترګو د لاندي باندي منحني ليکو، د پزې د سر او سپږمو منحني ليکو، د برنۍ او لاندنۍ شونډې منحني ليکو او نورو ليکو تر منځ خاص تناسب په پام کې نيول شوی، د وروځو تراشل، نرۍ کول او په مستقيمه ليکه د ږيرې لاندې باندې برخې خربيل دا تناسب له منځه وړي او ښايست ته زيان رسوي.

دې ته مو پام وي چي اسلام ښځو ته سينګار او ګاڼه جائز ګڼي، هم سره زر کارول شي او هم وربښمينې جامې، خو دا سينګار د خپل مېړه لپاره نه د پردي لپاره، پردي ته که ښځه وي او که نارينه بايد خپله ګاڼه او سينګار ونه ښيي، خو نارينه ته د سرو زرو او وربښمو کارول حرام بولي، ګورئ چي اسلام په دې اړه هم انساني فطرت په پام کې نيولی.

وَقَالُواْ لَوْ شَآءَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مَا عَبَدۡنَٰهُمۗ مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا
يَخۡرُصُونَ ﴿٢٠﴾ أَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبٗا مِّن قَبۡلِهِۦ فَهُم بِهِۦ مُسۡتَمۡسِكُونَ ﴿٢١﴾ بَلۡ
قَالُوٓاْ إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٖ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّهۡتَدُونَ ﴿٢٢﴾ وَكَذَٰلِكَ مَآ
أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ
أُمَّةٖ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقۡتَدُونَ ﴿٢٣﴾ قَٰلَ أَوَلَوۡ جِئۡتُكُم بِأَهۡدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمۡ
عَلَيۡهِ ءَابَآءَكُمۡۖ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٢٤﴾ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡۖ فَٱنظُرۡ
كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٢٥﴾

او وئې ويل: که رحمن رب غوښتي وی نو موږ به نه وو لمانځلي، په دې اړه ئې هيڅ علم نشته، دوی له خوشي اټکل پرته بل څه نه کوي، آيا تر دې وړاندې مو داسې کوم کتاب ورکړی چي دوی پرې ټمسك کوونکي دي، بلکې وئې ويل: موږ خپل پلرونه په يوې تګلارې موندلي او موږ ئې پر پلونو په سمه لار روان يو؛ او همداسې مو تر تا وړاندې په هيڅ کلي کې هيڅ نذير نه دئ لېږلی مګر دا چي مترفينو ئې وويل: موږ خپل پلرونه په يوې تګلارې موندلي او موږ ئې پر پلونو پسې اقتداء کوونکي يو، وئې ويل: که څه هم تر هغه څه مې ډېر ښه لارښود درته راوړی وي چي خپل پلرونه مو پرې موندلي؟!! وئې ويل: موږ په قطعي توګه په هغه څه کافر يو چي تاسو ورسره

رالېږل شوي يئ، نو له هغوی مو غچ واخيست، نو وګوره چې د تکذيبوونکو پايله څنګه وه!!

(٢٠-٢٥)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- مشرکينو وويل: که رحمن رب غوښتي وی نو موږ به نه وو لمانځلي، له دې وينا ئې مقصد دا وو: موږ چې د کومو معبودانو لمانځنه کووو الله تعالی پرې راضي دئ، که داسي نه وی او الله تعالی پرې راضي نه وی چې موږ دا معبودان ولمانځو نو دا کار مو نه شو کولی!! دا يوازې مخکيني مشرکين نه ول چې داسي غلطه انګېرنه ئې درلوده، ډېر جاهلان همداسي دي چې د ټولني روان او موجود حالت د الله تعالی د مرضي مطابق ګڼي او ګمان کوي چې الله تعالی په همدې حالت راضي دئ، که نه نو حتماً به ئې بدل کړی وو!! دلته د دې غلطي انګېرني د ترديد په ارتباط ويل شوي: دوی په دې اړه هيڅ علم نه لري، له خوشي اټکل پرته بل څه نه وايي، آيا تر دې وړاندي مو داسي کوم کتاب ورکړی چې دوی پرې تمسك کوي او د هغه له مخي دا ادعاء کوي؟! يعني دا جاهلانه وينا ده، خوشی او بې بنسټه اټکل دئ، په هيڅ الهي کتاب کې د دې انګېرني لپاره کوم سند نشي موندلی.
- يوازې دا نه؛ بلکي دا ئې هم وويل: موږ خپل پلرونه په يوې تګلاري، مذهب او مشرب موندلي او موږ ئې پر پلونو په سمه لار روان يو، دا يوازې د قريشو وينا نه وه بلکي هر هغه نذير او نبي ته دا خبره شوې چې تر تا وړاندي لېږل شوی، هيڅ سيمي ته هيڅ نذير نه دئ لېږل شوی مګر دا چې مترفينو ئې ورته ويلي: موږ خپل پلرونه په يوې تګلاري موندلي او موږ ئې پر پلونو پسي اقتداء کوونکي يو، د دې وينا اصلي او لومړني ويونکي د سيمي مترفين ول، مترفين يعني هغه چې رفاه او سوکالي ئې په برخه وه، د ټولني فکري، اجتماعي او اقتصادي جوړښت دوی ته رفاه ورپه برخه کړې وه، په دې کې ئې هر بدلون د ځان او د خپلو ګټو او امتيازاتو په ضرر ګڼلو، تل دغو مترفينو د پيغمبرانو عليهم السلام مخالفت کړی او هر مخالفت د دوی له لوري پيل شوی، نور د دوی په اقتداء کې مخالفت ته راوړاندي شوي.
- پيغمبر هغوی ته ويلي: که څه هم تر هغه څه مي ډېر ښه لارښود درته راوړی وي چې خپل پلرونه مو پرې موندلي؟!! مترفينو په ځواب کې ورته ويلي: موږ په قطعي توګه په هغه څه کافر يو چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ، ستاسو رسالت، پيغام او دين په هيڅ صورت کې نه منو.
- الله تعالی تل له دغو مترفينو انتقام اخيستی، نو وګوره چې د تکذيبوونکو پايله څنګه وه!!

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى

فَإِنَّهُۥ سَيَهۡدِينِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةَۢ بَاقِيَةٗ فِي عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٢٨﴾ بَلۡ
مَتَّعۡتُ هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمۡ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ وَرَسُولٞ مُّبِينٞ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ
ٱلۡحَقُّ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ وَإِنَّا بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٠﴾

او کله چې ابراهيم خپل پلار او خپل قوم ته وويل: يقيناً چې زه له هغه څه په بې زارۍ کې يم چې تاسو ئې لمانځئ، له هغه پرته چې زه ئې پيدا کړی يم، هغه به مي حتماً (مزيد) هدايت کړي؛ او دا ئې په خپلو پاتې شونو کې باقي وينا کړه چې راوګرځي. بلکې دا خلك او د دوی پلرونه مي متمتع کړل تر هغه چې حق او څرګند پيغمبر ورغی؛ او کله چې حق ورغی نو وئې ويل: دا کوډې دي او موږ ئې په اړه کافر يو.

---

(۲۶-۳۰)- دلته د مخکينيو مطالبو لپاره د ابراهيم عليه السلام په قصې کې يوه تاريخي بېلګه په دې توګه راوړل شوې:

- کله چې ابراهيم عليه السلام خپل پلار او خپل قوم ته وويل: يقيناً چې زه له هغه څه په بشپړه توګه بې زار يم چې تاسو ئې لمانځئ، البته له هغه الله تعالی پرته چې زه ئې پيدا کړی يم، هغه به مي حتماً مزيد هدايت کړي.
- د توحيد دغه تاريخي او مهمه وينا ئې په خپل اولاد کې باقي وينا وګرځوله، خپل اولاد ئې پر همدې وينا وګمارل او دا هڅه ئې وکړه چې په اولاد کې ئې تلپاتې وينا شي، په دې هيله او موخه چې هغوی د خپل رب لوري ته راوګرځي.
- که څه هم د ابراهيم عليه السلام دا موحدانه وينا د ده په اولاد کې هم پاتې وه؛ خو د قريشو د مخالفت وجه دا ده چې الله تعالی دا خلك او د دوی پلرونه متمتع کړل، نعمتونه ئې ورپه برخه کړل او تر هغه ئې مهلت ورکړ چې حق او څرګند پيغمبر ورغی، خو کله چې حق ورغی نو وئې ويل: دا کوډې دي او موږ ئې په اړه کافر يو.

---

وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾ أَهُمۡ
يَقۡسِمُونَ رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَرَفَعۡنَا
بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُم بَعۡضٗا سُخۡرِيّٗاۗ وَرَحۡمَتُ رَبِّكَ
خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ﴿٣٢﴾

او وئې ويل: ولې دا قرآن د دواړو کليو په يوه ستر سړي نازل نه شو، آيا دوی ستا د

رب رحمت وېشي، (آیا) موږ په دنیا کې د دوی تر منځ د دوی معیشت وېشلی او ځیني مو پر ځینو نورو د درجو له پلوه لوړ کړي چې ځیني ئې ځیني نور تر تمسخر لاندې ونیسي؟! او ستا د رب رحمت تر هغه څه ډېر غوره دئ چې دوی ئې غونډوي.

(۳۱-۳۲)- په دې مبارکو آیتونو کې ویل شوي:

د رسول الله صلی الله علیه و سلم مخالفینو وویل: ولې دا قرآن د دواړو کلیو په یوه ستر سړي نازل نه شو، له دواړو کلیو د دوی مراد مکه او طائف وو؛ او له ستر سړي د دوی مراد د دغو دواړو مهمو ښارونو دوه معروف مشران ول، مقصد ئې دا وو چې ولې الله تعالی یو معروف، منلی، نومیالی، د مال، جاه او جلال خاوند مشر د پیغمبر په توګه غوره نه کړ او قرآن ئې پرې نازل نه کړ، دوی د قیادت او زعامت لپاره همدا معیارونه کارول، د قیادت او زعامت لپاره ئې قومي نفوذ، مال، جاه او جلال اساسي شرط ګڼلو، غوښتل ئې الله تعالی هم دغه معیارونه ورسره قبول کړي او د دوی له معیارونو سره سم قائد او زعیم ورته غوره کړي!!

الله تعالی د دې کچه او غلط ذهنیت د تردید لپاره فرمایي: آیا دوی ستا د رب رحمت وېشي؟ آیا دا پرېکړه دوی ته سپارل شوې چې د الله تعالی د پېرزوینو وړ شخصیت د خپلو انګېرنو او معیارونو له مخې غوره او انتخاب کړي؟!

د دوه دېرشم آیت دوهمه فقره داسې ده چې په مطلب ئې پوهېدل لږ غور او دقت غواړي، فقره داسې ده: (نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا) چې تحت اللفظي ژباړه ئې داسې ده: موږ په دنیا کې د دوی تر منځ د دوی معیشت وېشلی او ځیني مو پر ځینو نورو د درجو له پلوه لوړ کړي چې ځیني ئې ځیني نور (سخریاً) ونیسي، د (سخریاً) په اړه دوه تعبیرونه مومو: ځینو د تسخیر په معنی نیولې او دا برخه ئې داسې ژباړلې: چې ځیني ځیني نور تر خپلې سلطې لاندې ونیسي او استخدام ئې کړي، ځینو د استهزاء په معنی نیولې او داسې ئې ژباړلې: چې ځیني ځیني نور تر تمسخر لاندې ونیسي! د دواړو ژباړو په اړه داسې پوښتنې راولاړېږي چې وضاحت او ځواب غواړي، لکه دا پوښتنې: آیا الله تعالی د خلکو تر منځ اقتصادي توپیرونه د دې لپاره رامنځته کړي چې ځیني ځیني نور استخدام او استثمار کړي؟ آیا دا تعبیر له الهي عدل او د قرآن له لارښوونو سره اړخ لګوي؟ آیا په قرآن کې بل داسې آیت هم شته چې دا مفهوم ترې واخیستل شي؟ آیا دا اقتصادي توپیرونه د انسانانو د تصرفاتو او وېش نتیجه ده که د الله تعالی د وېش؟ د دوهم تعبیر په اړه دا جدي پوښتنه راولاړېږي: آیا الله تعالی د خلکو تر منځ اقتصادي توپیرونه په دې موخه رامنځته کړي چې شتمن پر نېستمنو استهزاء او تمسخر وکړي؟! دغو جدي پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره باید تر هر څه وړاندې په خپله قرآن ته رجوع وکړو او وګورو چې دا د (سخریاً) صیغه په نورو آیتونو کې هم راغلې که نه؛ که راغلې وي نو په کومه معنی راغلې،

د (تسخیر) په معنی که د (تمسخر) په معنی؟ که قرآن ته رجوع وکړو نو راته جوته کېږي چي قرآن په ټولو مواردو کې هغه مهال چي د (سخر) صیغه ئې له (اتخذ) سره څنګ په څنګ او مربوط راوړې نو په ټولو کې د استهزاء په معنی راغلې؛ او له دې پرته کله د تسخیر په معنی او کله د تمسخر په معنی راغلې، د قرآن په دوو آیتونو کې همدا ترکیب راغلی چي په دواړو کې ئې معنی تمسخر او استهزاء ده:

فَٱتَّخَذۡتُمُوهُمۡ سِخۡرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوۡكُمۡ ذِكۡرِي وَكُنتُم مِّنۡهُمۡ تَضۡحَكُونَ ﴿١١٠﴾ المؤمنون

نو تاسو تر هغه تر ملنډو لاندي نیولي ول چي زما یادونه ئې درنه هېره کړه او په دوی پوري مو خندل.

أَتَّخَذۡنَٰهُمۡ سِخۡرِيًّا أَمۡ زَاغَتۡ عَنۡهُمُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٦٣﴾ ص

آیا موږ تر ملنډو لاندي نیولي ول که سترګي ترې کږې شوې؟

د قرآن په هیڅ ځای کې دا نه مومو چي (سخریاً) دي د (تسخیر) په معنی راغلې وي، د دې لپاره هیڅ موجه او د منلو وړ دلیل نه شو وړاندي کولی چي دلته ئې د قرآن د عام اسلوب خلاف د تسخیر په معنی ونیسو.

لکه چي په ټول قرآن کې داسي مورد نه مومو چي دا دواړه الفاظ دي څنګ په څنګ له تمسخر پرته په بله معنی راغلي وي، همداسي په ټول قرآن کې دا نه مومو چي په کې ویل شوي وي: د انسانانو تر منځ اقتصادي توپیرونه د دې لپاره رامنځته شوي چي اغنیاء فقیران استخدام او استثمار کړي. خو د دې بېلګي ډېري زیاتي مومو چي کافر اغنیاء پر فقیرانو استهزاء کوي. قرآن وایي: الله تعالی دا نه خوښوي چي مال او دولت د اغنیاوو تر منځ لاس په لاس شي، (... كَي لا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الأَغْنِيَاء مِنكُمْ...)، قرآن وایي: (وَ أن لَّيْس لِلانسنِ إلا مَا سعَى): او دا چي انسان ته له هغي سعي پرته چي کړې ئې ده کوم څه نه ښایي، یعني هغه څه چي انسان ئې په خپل زیار او زحمت سره ګټي فقط همدغه د ده دي، په دنیا او آخرت کې یوازي د هغه اجر او بدلې مستحق دئ چي له زیار سره ئې ورته وي، قرآن وایي: مرئ د مریي او غلام په نامه مه یادوئ هغه ستاسو دیني ورور او دوست دئ؛ د ورور او دوست په نامه ئې یاد کړئ، قرآن وایي: د اغنیاوو په شتمنیو کې د نېستمنو او محرومانو مسلم حق دئ، دا حق باید ورکړی شي، آیا له داسي څرګندو لارښوونو سره دا تعبیر په واضح توګه تعارض نه لري چي څوك ووایي: د انسانانو تر منځ اقتصادي توپیرونه د دې لپاره رامنځته شوي چي اغنیاء فقیران استخدام او استثمار کړي؟!!

دلته د بحث موضوع دا ده چي قریشو ویل: ولې دا قرآن پر یوه ستر شخصیت نه دئ نازل شوی، له ستر شخصیت د دوی مراد ستر شتمن وو، دوی شتمنو ته په درنه سترګه کتل او نېستمنو ته په سپکه سترګه، له دې موضوع سره داسي کلام مناسبت لري چي وویل شي: اقتصادي توپیرونه د دې لپاره نه دي چي ځیني ځیني نور تمسخر کړي، نه دا کلام چي

اقتصادي توپيرونه خو د دې لپاره دي چې اغنياء فقيران استخدام کړي!! داسې تعبير نه يوازې له موضوع سره مناسبت نه لري بلکې د موضوع له سياق سره مغايرت لري او التباس رامنځته کوي.

که د آيت ټولو فقرو ته ځير شو او د بحث اصلي موضوع په پام کې ولرو نو دې نتيجې ته رسېږو چې د آيت دا فقره (نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُم بَعۡضٗا سُخۡرِيّٗاۗ) د مخکينۍ پوښتني په ځېر يوه پوښتنه ده، تر دې وړاندې دا فقره راغلې: أَهُمۡ يَقۡسِمُونَ رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ: آيا دوی ستا د رب رحمت وېشي؟ وروستۍ فقره پر مخکينۍ پوښتني عطف شوې او معنی ئې دا ده: آيا موږ په دنيا کې د دوی تر منځ د دوی معيشت د دې لپاره وېشلی او ځيني مو پر ځينو نورو د درجو له پلوه لوړ کړي چې ځيني ئې ځيني نور تر تمسخر لاندې ونيسي او په سپکه سترګه ورته وګوري؟!! په قرآن کې د دې ډېري بېلګې ګورو چې يو آيت د استفهام له علامې سره راغلی خو ورپسې ګڼ شمېر آيتونه له داسې علامې پرته راغلي، پر همدې عطف شوي او پوښتنه افاده کوي، لکه دا:

أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ مِهَٰدٗا ۝٦ وَٱلۡجِبَالَ أَوۡتَادٗا ۝٧ وَخَلَقۡنَٰكُمۡ أَزۡوَٰجٗا ۝٨ ... النبأ

آيا دا زمکه مو يوه زانګو نه ده ګرځولې؟ او دا غرونه؛ څه مېخونه؟ مګر نه مو کړئ پيدا جوړه جوړه؟...

أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ ۝٨ وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ ۝٩ وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ ۝١٠ البلد

آيا ده ته مو ورنه کړلې دوې سترګې؟ او يوه ژبه او دوې شونډې؟ او ده ته مو ونښودې دوې لارې؟

دې ته مو بايد پام وي چې اصلي رازق الله تعالی دئ، د رزق ټول توکي الله تعالی پيدا کړي او الله تعالی ئې پيدا کوي، خو د الله تعالی وېش نه يوازې عادلانه دئ بلکې تر عدالت وراوښتی او د فضل له مخې دئ، مسلمان او کافر ته روزي ورکوي، د رزق مهم توکي لکه اوبه له آسمان وروي او د هرې سيمې ټولو استوګنو ته ئې وړيا او برابر ورکوي، هوا او په هغې کې آکسيجن پيدا کوي او ټولو ته ئې ورکوي، د لمر رڼا او تودوخه ټولو ته ورکوي، له زمکې ټولو ته دانه، مېوه او بوټي راټوکوي، خو د ځينو توکو وېش ئې موږ ته پرېښی، د انسانانو تر منځ اقتصادي توپيرونه د دغه انساني وېش نتيجه ده؛ او دا وېش اکثراً د عدالت خلاف او ظالمانه وي، دا موږ يو چې د ظالمانه وېش او د عدالت خلاف تصرفاتو له کبله مو داسې حالت رامنځته کړی چې يو خولې تويوي خو دومره تر لاسه کوي چې پرې ژوندی پاته شي او بل له خولو پرته دومره تر لاسه کوي چې مغرور شي او پر نورو استهزاء او تمسخر وکړي!! دا وېش الله تعالی ته منسوبول او د هغه لپاره توجيه لټول او دفاع ترې کول د قرآن د مزاج خلاف کار دئ.

دا هم باید ووایو چې د دې آیت د (سخرياً) صیغه په دوو بڼو او قرائتونو کې راغلې: (سُخرياً) او (سِخرياً)، ضمه او کسره ئې پر معنی خاص اغېز نه لري، د مجاهد په څېر سترو مفسرینو دا صیغه د نورو په څېر د (سِخرياً) په بڼې کې بولي.

وَلَوۡلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ لَّجَعَلۡنَا لِمَن يَكۡفُرُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ لِبُيُوتِهِمۡ
سُقُفٗا مِّن فِضَّةٖ وَمَعَارِجَ عَلَيۡهَا يَظۡهَرُونَ ٣٣ وَلِبُيُوتِهِمۡ أَبۡوَٰبٗا وَسُرُرًا عَلَيۡهَا
يَتَّكِـُٔونَ ٣٤ وَزُخۡرُفٗاۚ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ
رَبِّكَ لِلۡمُتَّقِينَ ٣٥

او که خلك یوه ډله نه کېدلی نو موږ به حتماً هغو ته چې د رحمن رب په اړه کفر کوي د دوی خونو ته د سپینو زرو چتونه جوړ کړي وو او داسي زینې چې پرې اوچتېږي او د خونو دروازې ئې او داسي تختونه چې پرې تکیه کوي؛ او نور سینګاري شیان؛ او دا هر یو فقط د دنیايي ژوند یوه متاع ده؛ او ستا د رب خوا ته آخرت د متقیانو لپاره دئ.

(۳۲-۳۵)- دا مبارك آیتونه د مشرکینو د هغې غلطي انګېرني د تصحیح په اړه مزید وايي: که د دې احتمال نه وی چې کافرانو ته د اشرافي او مرفه ژوند اسباب او وسائل ورکول به د دې باعث شي چې خلك د دوی لار غوره کړي نو الله تعالی به حتماً هغو ته چې د رحمن رب په اړه کفر کوي داسي مرفه ژوند ورپه برخه کړی وو چې د دوی د خونو چتونه به ئې له سپینو زرو جوړ کړي وو، هغه زینې ئې هم چې لوړ پوړ ته پرې خېژي؛ او د خونو دروازې ئې او داسي تختونه هم چې پرې تکیه کوي؛ او دې ته ورته د سینګار نور وسائل؛ او دا هر څه فقط د دنیايي ژوند یوه متاع ده او ستا د رب خوا ته آخرت د متقیانو لپاره دئ.

لکه چې ګورئ دلته هم ویل شوي چې الله تعالی د رزق په ورکړې او وېش کې د خپل حکمت له مخې تصرف کوي، داسي څه نه کوي چې د ده له لوري د رزق وېش د دې باعث شي چې خلك د کفر او کافرانو لوري ته متمایل شي، دا په خپله انسانان دي چې د خپلو غلطو تصرفاتو او ظالمانه وېش له کبله ئې داسي حالت رامنځته کړی چې یو له زیار پرته ډېر څه تر لاسه کوي او بل د خپل زیار له عادلانه بدلې محروم دئ.

وَمَن يَعۡشُ عَن ذِكۡرِ ٱلرَّحۡمَٰنِ نُقَيِّضۡ لَهُۥ شَيۡطَٰنٗا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٞ ٣٦ وَإِنَّهُمۡ

لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ
يَٰلَيْتَ بَيْنِى وَبَيْنَكَ بُعْدَ ٱلْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ ٱلْقَرِينُ ﴿٣٨﴾ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلْيَوْمَ
إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِى ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾

او څوك چې د رحمن رب له ذكر سترګې پټې كړي داسې مسلط شيطان ورته ټاكو چې هغه ئې نژدې ملګرى وي؛ او يقيناً چې دوى به ئې له سمې لارې راګرځوي او داسې به انګېري چې دوى هدايت شوي دي، تر هغه چې موږ ته راشي؛ وايي به: كاش زما او ستا تر منځ د مشرقينو په واټن لريوالى وى، نو څومره بد ملګرى!!، له دې كبله چې تاسو ظلم كړى نو په دې ورځ به دا تاسو ته هيڅكله ګټه ونه رسوي چې په عذاب كې شريك يئ.

---

(۳٦-۳۹)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- څوك چې د رحمن رب له ذكر اعراض وكړي او اعتناء ورته ونه كړي؛ الله تعالى به داسې شيطان ورته وټاكي چې تل به ورسره وي او تل به ئې غولوي او په سمې لارې تګ ته به ئې نه پرېږدي، خو سره له دې به داسې انګېري چې هدايت ئې په برخه شوى او په صحيح سمت روان دئ.
- دوى به تر هغه همداسې د شيطان تر اغېز لاندې په كږو لارو سر وي چې له الله تعالى سره مخامخ شي، هلته به دې شيطان لارښود ته مخ كړي او وبه وايي: كاش زما او ستا تر منځ د مشرقينو په واټن لريوالى وى، يعنې دومره سره لرې وى لكه چې ته د ځمكې پر يوې ژۍ او زه ئې په بلې ژۍ وى، نو څومره بد ملګرى!! كه څه هم ځينو درنو مفسرينو مشرقين د مشرق او مغرب په معنى تعبير كړى، خو په حقيقت كې بعد المشرقين هغه واټن ته ويل كېږي چې لمر ئې د دوو راختلو تر منځ پلې كوي، د ځمكې پر سر دا واټن د ځمكې ټول محيط دئ، چې مشرق او مغرب ئې نيمايي كېږي.
- د قيامت په ورځ به دوزخيانو ته هغه مهال چې دوى به يو ځاى دوزخ ته درومې وويل شي: نن به دا خبره تاسو ته كومه ګټه نه رسوي چې ټول، مشران او كشران، تابعين او متبوعين، دوزخي انسانان او شيطانان سره يو ځاى دي؛ او په ګډه عذاب ګالې، داسې به نه وي چې عذاب درباندې ووېشل شي او شدت ئې راكم شي، د دوزخيانو ډېرښت د دوزخ د عذاب شدت او حدت نشي كمولى. د دوزخ عذاب كمېدونكى نه بلكې درجه په درجه زياتېدونكى دئ.

---

أَفَأَنتَ تُسْمِعُ ٱلصُّمَّ أَوْ تَهْدِى ٱلْعُمْىَ وَمَن كَانَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٤٠﴾ فَإِمَّا

نَذۡهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنۡهُم مُّنتَقِمُونَ ﴿٤١﴾ أَوۡ نُرِيَنَّكَ ٱلَّذِي وَعَدۡنَٰهُمۡ فَإِنَّا عَلَيۡهِم
مُّقۡتَدِرُونَ ﴿٤٢﴾ فَٱسۡتَمۡسِكۡ بِٱلَّذِيٓ أُوحِيَ إِلَيۡكَۖ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤٣﴾
وَإِنَّهُۥ لَذِكۡرٞ لَّكَ وَلِقَوۡمِكَۖ وَسَوۡفَ تُسۡـَٔلُونَ ﴿٤٤﴾ وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ
مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ ﴿٤٥﴾

نو آيا ته كڼو ته اورول كولى شې يا ړندو ته او هغه ته لار ښودى شې چې په څرګند ضلالت كې وي، نو يا خو به موږ تا بوځو چې بيا به موږ ترې انتقام اخيستونكې يو، يا به هغه څه دروښيو چې وعده مو ورسره كړې، يقيناً چې موږ پر دوى توانمن يو، نو په هغه څه منګولې لګوه چې تا ته مو وحې كړى، يقيناً چې ته پر سمې لارې يې؛ او يقيناً دا ستا او ستا د قوم لپاره يو ذكر دئ؛ او حتماً به وپوښتل شئ؛ او زما د رسولانو له هغو وپوښته چې تر تا وړاندې ول: آيا له رحمن رب پرته مو داسې معبودان ټاكلي چې لمانځل كېږي.

---

(٤٠-٤٥)- په دې مباركو آيتونو كې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي:

- لكه چې ته نشې كولى كڼو ته څه واوروې يا د ړندو سترګې پرانيزې او لار وروښيې، همداسې نشې كولى هغو ته لار وښيې چې په څرګند ضلالت كې وي، ستا ځينې مخاطبين په كفر، شرك او جهل كې داسې غرق دي او له سمې لارې او حقيقت دومره كاږه او لرې تللي چې د هدايت هيڅ طمع ئې نشي كېدى.
- دوى د الهي عذاب مستحق دي، همغه لورې ته روان دي چې ژر به په الهي عذاب اخته شي، يا خو به تر دې عذاب وړاندې تا وفات كړو او بيا به موږ ترې انتقام اخلو او يا به هغه څه دروښيو چې وعده مو ورسره كړې، ته به په خپلو سترګو وګورې چې دا الهي عذاب پرې نازل شوى. يقيناً چې موږ له دوى سره په هر څه كولو توانمن يو.
- دې ته خاصه اعتناء مه كوه چې كله او په كوم حالت كې به دا عذاب پر دوى نازل شي، په هغه قرآن منګولې لګوه چې تا ته مو وحې كړى، سمه تګلاره همدا ده او ته له كوم شك پرته پر سمې لارې روان يې.
- يقيناً چې دا قرآن هم ستا لپاره يو ذكر (پند) دئ او هم ستا د قوم لپاره، په دې اړه به ته هم پوښتل كېږې او ستا قوم هم. ځينو درنو مفسرينو دلته ذكر د شرف په معنى اخيستى، كه څه هم د ذكر يوه معنى همدا ده؛ خو دلته ئې په دې معنى اخيستل موزون نه برېښي، دا ځكه چې ترې وروسته دا فقره راغلې: وَسَوۡفَ تُسۡـَٔلُونَ: او حتماً به وپوښتل شئ، دې فقرې ته په پام سره غوره تعبير دا دئ چې دلته ذكر د پند، نصيحت او يادونې په

معنی راغلی؛ او معنی ئې دا ده: دا قرآن د ټولو لپاره پند دئ، تا ته هم او ستا قوم ته هم، ته هم مکلف یې چې پرې منګولې ولګوې او ستا قوم هم، حتماً به ته هم په دې اړه پوښتل کیږې او ستا قوم هم.

- ته او ټول هغه پیغمبران چې تر تا وړاندې ول پر دې ګمارل شوي یئ چې الله تعالی به د یوازیني معبود په توګه لمانځئ، ته د دغو پیغمبرانو په اړه وپوښته چې آیا د الله تعالی له لوري کوم یوه ته داسي لارښوونه شوې چې له رحمن رب پرته د لمانځلو وړ بل معبود هم شته او الله تعالی د داسي معبودانو د لمانځلو اجازه ورکړې؟!! هغه خلك چې خپل شرکي مذاهب خپلو پیغمبرانو ته منسوبوي او د جعلي معبودانو په اړه داسي روایات وړاندې کوي چې د هغوی لمانځل جائز ثابت کړي؛ هم دوی دروغجن دي او هم ئې روایات افتراء او درواغ.
- دې ته مو باید پام وي چې ځیني ٤٥ آیت داسي تعبیروي چې ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم مکلف شوی چې له ټولو پیغمبرانو به دا پوښتنه کوي او ګواکې د دغه حکم له مخې رسول الله صلی الله علیه و سلم د معراج په شپه دا پوښتنه کړې ده!! خو حقیقت دا دئ چې نه دا پوښتنه داسي ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ئې ځواب نه وو معلوم؛ او نه د آیت مطلب دا دئ چې ولاړ شه او له ټولو پیغمبرانو مخامخ پوښتنه وکړه، د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې دې ته ورته مطلب او د (واسئل) لفظ راغلی، په ټولو کې مراد دا دئ چې دا یقیني وینا ده او که ته له هر چا پوښتنه وکړې هیڅوك به ئې رد نه کړي. د دې رأیي خاوندانو دې ته هم پام نه دئ کړی چې دا سوره د معراج تر اړوند سورې شاوخوا پنځه شپږ کاله وړاندې نازله شوې!!

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٦﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِـَٔايَٰتِنَآ إِذَا هُم مِّنۡهَا يَضۡحَكُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرِيهِم مِّنۡ
ءَايَةٍ إِلَّا هِيَ أَكۡبَرُ مِنۡ أُخۡتِهَاۖ وَأَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡعَذَابِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٤٨﴾ وَقَالُواْ
يَٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ إِنَّنَا لَمُهۡتَدُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَمَّا كَشَفۡنَا
عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِذَا هُمۡ يَنكُثُونَ ﴿٥٠﴾

اویقیناً چې موسی مو له خپلو ځرګندو آیتونو سره فرعون او د ده ملأ (درباریانو) ته ولیږو، چې وئې ویل: یقیناً چې زه د رب العالمین استازی یم، نو کله چې ئې زموږ آیتونه وروړل ناڅاپه ئې د هغو آیتونو په اړه خنداګانې کولې؛ او دوی ته مو هیڅ داسي ځرګنده نښه نه ده ښودلې چې هغه به تر سیالې ئې ستره نه وه؛ او په عذاب

مو په دې موخه اخته کړل چې راوګرځي؛ او وئې ويل: اې کوډګره! خپل رب ته زموږ لپاره په هغه څه سره دعاء وکړه چې ته ئې پرې مختص کړی يې، يقيناً چې موږ حتماً هدايت کېدونکي يو، نو کله چې به موږ هغه عذاب ترې لرې کړ ناڅاپه به دوی (خپله ژمنه) ماتوله.

---

(۴٦-۵۰)- په دې مبارکو آيتونو کې د مخکينيو مطالبو لپاره يوه تاريخي بېلګه وړاندې شوې، فرعونيانو ته د موسی عليه السلام د لېږنې په قصې کې دا تاريخي بېلګه داسې انځور شوې:

- الله تعالی خپل پيغمبر موسی عليه السلام له خپل څرګند پيغام او ګڼ شمېر معجزو سره فرعون او د ده ملأ او درباريانو ته ولېږو، پوښتنه راولاړېږي چې ولې دلته يوازې د فرعون او د ده درباريانو يادونه شوې او نور مصريان نه دي ياد شوي؟ وجه ئې دا ده چې له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره د قريشو د سردارانو چلن بايد د فرعون د درباريانو له هغه چلن سره مقايسه شي چې له موسی عليه السلام او د ده له څرګندو معجزو سره ئې کړی.
- موسی عليه السلام هغوی ته وويل: يقيناً چې زه د رب العالمين استازی يم، کله چې هغه فرعونيانو ته څرګند الهي آيتونه وروړل نو ځواب ئې له ټمسخر او خنداګانو پرته بل څه نه وو، دا خنداګانې د هغو څرګندو آيتونو او معجزو په اړه وې چې موسی عليه السلام دوی ته وړاندې کړل، هره وروستنۍ معجزه ئې تر مخکينۍ ستره.
- نه يوازې معجزې او څرګند آيتونه ئې مخې ته کېښودل شول بلکې الله تعالی د دې لپاره له رنګ رنګ مصيبتونو سره مخامخ کړل چې له خپل ظلم او کفر راوګرځي.
- خو فرعونيانو دا معجزې کوډې ګڼلې او موسی عليه السلام ته ئې د يوه کوډګر په سترګه کتلې او له مصيبتونو سره د مخامخېدو په وخت کې به ئې هغه ته ويل: اې کوډګره! خپل رب ته زموږ لپاره په هغه څه سره دعاء وکړه چې ستا رب درکړې، تا ته ئې دا مقام درکړی، دعا دې قبلوي، تعهد کوو چې که له دې مصيبته وژغورل شو حتماً په سمه لار درومو، خو هر ځل چې عذاب ترې لرې شوی خپله ژمنه ئې ماته کړې. دا مطلب د الاعراف د سورې په ۱۳۴آيت کې هم راغلی، خو هلته ويل شوي چې فرعونيانو موسی عليه السلام په خپل نامه ياد کړی او دلته ګورو چې هغه ته د ساحر خطاب کوي او ترې غواړي چې الله تعالی ته دعاء وکړي او له مصيبته ئې وژغوري، په دې اړه بېل بېل تعبيرونه ګورو خو غوره تعبير دا دئ چې دلته هغه حالت ته اشاره شوې چې فرعونيانو موسی عليه السلام ته ويلې: موږ دا ګمان کوو چې ته کوډګر يې، که ستا په دعاء سره له دې مصيبت وژغورل شو نو ايمان راوړو. وروسته او د نورو مصيبتونو په راتلو سره د دوی لهجه بدله شوې او موسی عليه السلام ئې په خپل نامه ياد کړی.

وَنَادَىٰ فِرۡعَوۡنُ فِي قَوۡمِهِۦ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَلَيۡسَ لِي مُلۡكُ مِصۡرَ وَهَٰذِهِ ٱلۡأَنۡهَٰرُ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِيٓۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ﴿٥١﴾ أَمۡ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي هُوَ مَهِينٞ وَلَا
يَكَادُ يُبِينُ ﴿٥٢﴾ فَلَوۡلَآ أُلۡقِيَ عَلَيۡهِ أَسۡوِرَةٞ مِّن ذَهَبٍ أَوۡ جَآءَ مَعَهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
مُقۡتَرِنِينَ ﴿٥٣﴾ فَٱسۡتَخَفَّ قَوۡمَهُۥ فَأَطَاعُوهُۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ﴿٥٤﴾ فَلَمَّآ
ءَاسَفُونَا ٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٥٥﴾ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ سَلَفٗا وَمَثَلٗا
لِّلۡأٓخِرِينَ ﴿٥٦﴾

او فرعون په خپل قوم کې په جګ غږ وويل: اې زما قومه! آيا د مصر پاچايي زما نه ده؟ او دا نهرونه چې زما تر واك لاندې بهېږي؟ آيا نه ګورئ؟ آيا زه غوره يم که دا چې سپك دئ او نشي کولی څرګنده وينا وکړي؟ ولې د سرو زرو لاسوندي نه دي پرې اچول شوي يا ولې صف تړلې فرشتې نه دي ورسره راغلې؟ نو خپل قوم ئې داسې تحميق کړ چې د ده اطاعت ئې وکړ، يقيناً چې دوی فاسق وګړي ول، نو کله چې ئې موږ ناراض کړو انتقام مو ترې واخيست او ټول مو غرق کړل، نو دوی مو وروستنيو ته پخوانې او متل وګرځول.

---

(٥١-٥٦)- په دې مبارکو آيتونو کې د فرعون هغه ويناوې راغلې چې هر فرعون ئې د خپل ولس د غولولو په موخه کوي او د هر حقپال داعي په خلاف ئې وايي:

- فرعون خپل قوم ته په جګ غږ وويل: اې زما قومه! آيا د مصر پاچايي زما نه ده؟ او دا نهرونه چې زما تر واك لاندې بهېږي؟ آيا نه ګورئ؟ دا د فرعون او د هر فرعوني نظام د ټولواك وينا ده چې ولس ته ئې کوي، ځان د ټول هېواد د ګردو شتمنيو، نهرونو او زمکو بلامنازع څښتن ګڼي!! هغه ملك چې د يوه ولس پلرنی ميراث وي، د ګڼلو او ساتلو په لار کې ئې واکمنو نه بلکې ټول ولس قرباني ورکړې وي، خو فرعون صفته واکمن همدا هېواد خپل موروثي ملك ګڼي او په هغه کې هر ډول تصرف د ځان مسلم حق بولي، ولس ته د غلامانانو په سترګه ګوري نه د ملك د اصلي خاوندانو په سترګه، هر هغه نظام چې واکمنان ئې ځان د خلکو مالك الرقاب او د ملي شتمنيو بې رقيبه څښتن ګڼي او په دغو شتمنيو کې د هر راز تصرف حق ځان ته ورکوي د قرآن له نظره دا يو مفسد، ظالمانه او فرعوني نظام دئ.
- فرعون د ولس د غولولو لپاره د موسی عليه السلام په ضد وايي: ١- آيا زه غوره يم که دا چې سپك دئ او نشي کولی څرګنده وينا وکړي؟ ٢- ولې د سرو زرو لاسوندي نه دي

وراچول شوي؟ ۳- ولې صف تړلې فرشتې نه دي ورسره راغلې؟ دا هغه خبرې دي چې د زمانې هر فرعون ئې د هر موسی په ضد کوي، ځان مخور، د نفوذ، زر، زور او ځواك خاوند ګڼي او د مقابل لوري په اړه وايي: کمزوری دئ، څوك ئې ملاتړ نه کوي، نه پوهېږو څه غواړي، خبرې ئې واضح او د فهم وړ نه دي، نه شتمن دئ او نه مجهز فوځ لري، د مصر په فرعوني نظام کې به واکمنانو ځانګړې ګاڼې کارولې چې همدا به د دوی د واکمنۍ نښه ګڼل کېده، د سرو زرو لاسوندي به ئې وو، په خوا کې به ئې داسې منظم او مجهز امنيتي ټولګي وو چې د دوی حفاظت او ساتنه به ئې کوله، فرعون د موسی علیه السلام په اړه ولس ته وايي: له ده سره خو د مشرۍ هيڅ نښه نشته، نه د سرو زرو لاسوندي لري او نه مجهز ساتونکي ورسره شته، نه ئې وينا داسې ده چې خلك پرې پوه شي، نامأنوس او ناآشنا خبرې کوي. که څه هم ځينو درنو مفسرينو ويلي چې ګواکې د موسی عليه السلام په ضد د فرعون د دې وينا چې په څرګنده توګه خبرې نشي کولی دا ده چې د موسی عليه السلام ژبه په ماشومتوب کې سوزېدلې وه او له همدې کبله ئې په واضح توګه خبرې نه شوی کولی!! خو دا تعبير نه يوازې دقيق نه دئ بلکې د قرآن له ويناوو سره اړخ نه لګوي، د فرعون دا وينا په حقيقت کې د هر مؤمن داعي په ضد د هر فرعون وينا انځوروي، دوی تل د داعيانو په ضد همدا وايي: وينا ئې د فهم وړ نه ده، خبرې ئې ناآشنا او عجيبې او غوښتنې ئې غيرعملي دي، موږ داسې خبرې تر دې وړاندې نه دي اورېدلې.

- په دغو ويناوو سره ئې خپل قوم داسې تحميق کړ چې د ده اطاعت ئې وکړ، د دې تحميق وجه يوازې دا نه وه چې د فرعون د ويناوو تر اغېز لاندې راغلي او دوکه شوي بلکې اصلي وجه ئې دا وه چې دوی په خپله فاسق وګړي ول، نو ځکه ئې د فرعون له دغو ويناوو سره توافق کړی. او د دې معنی دا ده: کوم ولس چې د مشرتابه او زعامت لپاره هغه معيارونه کاروي چې فرعون په ګوته کړي؛ زر، زور؛ او مجهز ساتونکي د مشرۍ او قيادت لازمي شرائط بولي؛ دا قوم د الهي لارښوونو له مخې فاسق دئ او د فرعونانو په لومي کې به نښلي.
- الله تعالی د فرعون او فرعونيانو د پايلې په اړه فرمايي: نو کله چې دوی موږ ناراض کړو انتقام مو ترې واخيست او ټول مو غرق کړل، نو دوی مو وروستنيو ته پخوانې او متل وګرځول. هغه چې نن او سبا د فرعونيانو تګلاره غوره کړي خپل برخليك او پايله دې د خپلو اسلافو په هينداري کې وګوري، له همغه برخليك سره به مخامخ کېږي چې د مصر فرعونيان ورسره مخامخ شول.

---

وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوۡمُكَ مِنۡهُ يَصِدُّونَ ۝٥٧ وَقَالُوٓاْ ءَأَٰلِهَتُنَا خَيۡرٌ
أَمۡ هُوَۚ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلَۢاۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٌ خَصِمُونَ ۝٥٨ إِنۡ هُوَ إِلَّا عَبۡدٌ

أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَٰهُ مَثَلًا لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم
مَّلَٰٓئِكَةً فِى ٱلْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴿٦٠﴾ وَإِنَّهُۥ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَٱتَّبِعُونِۚ
هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ ٱلشَّيْطَٰنُۖ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٢﴾

او كله چي د مريمې زوی د يوه مثال په توگه وړاندي شو ناڅاپه ستا قوم ئې له كبله شور ځوږ جوړوي او وايي: آيا زموږ معبودان غوره دي كه دی؟ تا ته ئې يوازي د يوه جدل په توگه بيانوي، بلكي دوی شخړن وگړي دي، هغه خو يوازي يو داسي بنده وو چي پېرزوينه مو پرې وكړه او د بني اسرائيلو لپاره مو بېلگه وگرځاوو؛ او كه مو غوښتلی نو له تاسو به مو په زمكي كي داسي فرشتې جوړي كړې وې چي ځای ناستي كېږي؛ او هغه خو د قيامت لپاره يوه علامه او نښه ده؛ نو د هغې په اړه شك مه كوئ او زما متابعت وكړئ، همدا مستقيمه لار ده. او شيطان دي تاسو وانه ړوي، يقيناً چي هغه ستاسو ځرگند دښمن دئ.

---

(٥٧-٦٢)- د دې مباركو آيتونو په مطلب د ښه پوهېدو لپاره لاندي خبري په پام كي ولرئ:

• دلته ويل شوي: كله چي د عيسی عليه السلام يادونه د يوه مثال په توگه وشوه نو قريشو شور او ځوږ جوړ كړ او دا خبره ئې كوله: آيا زموږ معبودان غوره دي كه دی؟ دا خبره تا ته يوازي د يوه جدل په توگه كوي، هدف ئې دا نه دئ چي حقيقت ځان ته معلوم كړي، په خپله كومه مستدله او قانع كوونكې خبره وكړي يا د بل دليل واوري او وئې مني؛ بلكي خوشی جدل كوي او دا ځكه چي دوی د حقيقت په لټه كي نه دي بلكي شخړه او مجادله كوي. بايد وگورو چي د دې خبري معنی څه ده، قريشو كله او څنگه د عيسی عليه السلام په يادولو سره شور جوړ كړی؟ د دې خبري معنی څه ده چي دوی ويلي: آيا زموږ معبودان غوره دي كه دی؟ دا خبره يوه كس كړې كه ډېرو؟ ځيني داسي انگېري چي گواكي دا پېښه هغه مهال رامنځته شوې چي رسول الله صلی الله عليه و سلم دا سوره قريشو ته اوروله، كله چي ٤٥ آيت ته رسېدلی نو يوه كس ويلي: آيا مسيحيان عيسی عليه السلام ته د معبود په سترگه نه گوري او هغه نه لمانځي؟ ولي زموږ معبودان او د هغوی لمانځنه غندل كېږي؟!! خو رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغه ځواب همغه مهال ورنه كړ، د سورې تلاوت ته ئې دوام وركړ تر هغه چي د ده ځواب دلته وركړی شو!! ځيني وايي چي دا اعتراض د الانبياء د سورې د ٩٨ آيت په ارتباط شوی چي وايي: إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ لَهَا وَٰرِدُونَ ٩٨ : يقيناً چي تاسو به او هغه چي تاسو ئې له الله پرته لمانځئ د دوزخ سون وئ، تاسو به ورننوتونكي وئ؛ او اعتراض دا

وو: د ملر او سپوږمۍ عبادت شوی، مسيحيانو د عيسى عليه السلام او يهودانو د عزير عليه السلام عبادت کړی؛ آيا دوی به هم دوزخ ته ځي؟!! ګواکې د دې خبرې په اورېدو سره قريشو ځوږ جوړ کړ!! دوی په دې اړه په داسې رواياتو استناد کوي چې تر منځ ئې جدي او ژور تعارض شته، خو دا رأيه په څو دلائلو کمزورې ده: د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا وينا د يوه کس نه بلکې د ډېرو وه، دا د منلو وړ خبره نه ده چې د سورې د تلاوت په دوران کې اعتراض شوی او بيا په همدې سورې کې د اعتراض ځواب ويل شوی!! هر څوك پوهېږي چې دا سوره حتماً تر ېښې وروسته نازله شوې. دا تعبير د قريشو له دې وينا سره هم اړخ نه لګوي چې ويل ئې: زموږ معبودان ښه دي که دی؟!

• د آيت له الفاظو داسې معلومېږي چې قريشو د عيسى عليه السلام په اړه د قرآن په دغو ويناوو استدلال کړی چې وايي: عيسى عليه السلام په غيب پوهېدو، مړي ئې ژوندي کولی شول، له ختې جوړ شوي انځور ته ئې سا ورکولی شوه، بيماران ئې روغولی شول، که د هغه په اړه دا خبرې منلی شئ نو زموږ د معبودانو په اړه ئې ولې نه منئ، موږ هم دې ته ورته عقيده لرو چې زموږ دا معبودان همدغه کارونه کولی شي چې عيسى عليه السلام کول. د آيت الفاظ داسې دي چې وايي: کله چې به د عيسى عليه السلام يادونه وشوه نو دوی به ځوږ جوړولو، يعني دا کار په وار وار تکرار شوی. له وروستيو آيتونو هم په وضاحت سره معلومېږي چې خبره همداسې وه، ځکه وروسته ويل شوي:

• هغه خو يوازې يو داسې بنده وو چې پېرزوينه مو پرې وکړه او د بني اسرائيلو لپاره مو بېلګه وګرځاوو؛ او که مو غوښتلی نو له تاسو به مو په ځمکې کې داسې فرشتې جوړې کړې وې چې ځای ناستې کېږي؛ او هغه خو د قيامت لپاره يوه علمې نښه ده؛ يعنې تاسو هسې د عيسى عليه السلام په هغو معجزو استدلال کوئ او خپل شرکي عقائد پرې توجيه کوئ، هغه د الله تعالى بنده، د بني اسرائيلو لپاره يو مثال او د قيامت لپاره يوه نښه وو. د عيسى عليه السلام مثال يو استثنائي مثال دئ، بله بېلګه ئې نشته، داسې معجزې يوازې ده ته ورکړی شوې وې؛ او دا نه له دې کبله چې الله تعالى دا کار نشي کولی، الله تعالى دا هم کولی شي چې له تاسو داسې فرشتې جوړې کړې چې نسل به ئې په ځمکې کې دوام کوي، خو نه هر څوك د عيسى عليه السلام په څېر کوي او نه تاسو د فرشتو په څېر. دې ته مو بايد پام وي چې نن هم ډېر مشرکين د پيغمبرانو عليهم السلام په دغسې معجزو استناد کوي او خپلو مړو او ژونديو پيرانو، مشائخو، اولياوو او معبودانو ته همداسې خارق العاده چارې، علم غيب، د عالم په چارو کې د تصرف واك او اختيار ثابتوي.

د ٦١ آيت په پای کې ويل شوي: نو د قيامت په اړه شك مه کوئ او زما متابعت وکړئ، همدا مستقيمه لار ده، له دې معلومېږي چې عيسى عليه السلام او د ده معجزې خلکو ته ښودله چې قيامت حق دئ، الله تعالى به مړي راژوندي کوي، الله تعالى عالم الغيب دئ او

په دې پوهېږي چې خلك څه کوي، د عیسی علیه السلام په معجزو کې دغه مفاهیم انځور شوي او خلکو ته ښودل شوي چې که الله تعالی د یوه بنده په لاس دا کارونه کولی شي نو په خپله به ئې ولې نشي کولی!!

ځینو درنو مفسرینو د یوه روایت په مټ ویلي چې د عیسی علیه السلام بیا راتګ به د قیامت لپاره نښه وي، خو دا رأیه او تعبیر په څو دلائلو موجه نه برېښي: دا تعبیر له موضوع او د آیت له سیاق و سباق سره قطعاً اړخ نه لګوي، آیا کېدی شي د داسې دوو خبرو تر منځ کوم تړاو ومومو: ۱- مشرکینو به د عیسی علیه السلام د معجزو په اورېدو سره شور او ځوږ جوړولو ۲- د عیسی علیه السلام له بیا راتګ به تاسو ته معلومه شي چې قیامت رانژدې شوی؟!! دا دواړه خبرې دومره سره لرې او بېلې بېلې دې چې تر منځ ئې هیڅ تړاو نه شو موندلی. همدا راز هغه قریش خو د عیسی علیه السلام بیاراتګ په خپلو سترګو نه ګوري چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم مخاطبین ول، په دې ئې هم باور نه درلود چې عیسی علیه السلام به بیا دنیا ته راځي، نو څنګه به دوی ته دا خبره کېدله؟!

په پای کې مخالفینو ته ویل شوي: شیطان دې تاسو د دې حقیقت له منلو وانه ړوي چې قیامت حتماً راتلونکی دئ، یقیناً چې شیطان ستاسو څرګند دښمن دئ.

وَلَمَّا جَآءَ عِيسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ قَالَ قَدۡ جِئۡتُكُم بِٱلۡحِكۡمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعۡضَ ٱلَّذِي تَخۡتَلِفُونَ فِيهِۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٦٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٦٤﴾ فَٱخۡتَلَفَ ٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَيۡنِهِمۡۖ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡ عَذَابِ يَوۡمٍ أَلِيمٍ ﴿٦٥﴾

او کله چې عیسی له څرګندو نښو سره راغی وئې ویل: یقیناً چې له حکمت سره درته راغلی یم او د دې لپاره چې ځیني هغه څه درته جوت کړم چې تاسو په کې اختلاف کوئ، نو له اللهووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، یقیناً چې همدا الله هم زما رب دئ او هم ستاسو؛ نو وئې لمانځئ، همدا مستقیمه لار ده، نو دغو ډلو په خپل منځ کې اختلاف وکړ، نو د دردناکې ورځې د عذاب له کبله د هغو په حال افسوس چې ظلم ئې وکړ.

(۶۳-۶۵)- په دې مبارکو آیتونو کې هم د قریشو د هغه استدلال او بې ځایه شور ځوږ د مزید تردید لپاره د عیسی علیه السلام ویناوې په دې توګه راوړل شوې: کله چې عیسی علیه السلام له هغو څرګندو نښو او معجزو سره راغی نو وئې ویل: یقیناً چې له حکمت سره درته راغلی یم او د دې لپاره چې ځیني هغه څه درته جوت کړم چې تاسو په کې

اختلاف کوئ، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، یقیناً چي همدا الله هم زما رب دئ او هم ستاسو، نو د الله تعالی عبادت وکړئ، همدا مستقیمه لار ده. لکه چي ګورئ دلته د عیسی علیه السلام هغه وینا راغلې چي په هغې کې ئې پر توحید او یوازي د الله تعالی پر لمانځني تأکید کړی او بني اسرائیلو ته ئې ویلي: یوازینۍ مستقیمه لار دا ده چي د الله تعالی عبادت وکړئ. د دې معنی دا ده چي قریشو د عیسی علیه السلام پر معجزو د شرك په اثبات کې غلط استناد کړی او الله تعالی په خپله د عیسی علیه السلام په وینا سره د دوی ادعاء رد کړې.

د بني اسرائیلو مختلفو ډلو د عیسی علیه السلام په اړه په خپل منځ کې اختلاف وکړ، ځینو پر ده او د ده پر مور تورونه ولګول، ځینو له رومیانو سره لاس یو کړ او د ده د وژلو هڅه ئې وکړه، ځینو هغه د خدای زوی وګڼلو، ځینو د خدای ځای ناستی او شریك، ځینو په خپله خدای چي د انسان په بڼې کې زمکي ته راکوز شوی!! او د دوی محدود شمېر کسانو د یوه پیغمبر په توګه وپېژندو او په صحیح توګه ئې پر ده ایمان راوړ، د هغو په حال افسوس چي ظلم ئې وکړ، له دې کبله چي د دردناکې ورځې عذاب به ئې په برخه شي.

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾ ٱلْأَخِلَّآءُ
يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾ يَٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ
وَلَآ أَنتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٦٨﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُوا۟ مُسْلِمِينَ ﴿٦٩﴾ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ
أَنتُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ تُحْبَرُونَ ﴿٧٠﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ ۖ
وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ ٱلْأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلْأَعْيُنُ ۖ وَأَنتُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٧١﴾ وَتِلْكَ ٱلْجَنَّةُ
ٱلَّتِىٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٧٢﴾ لَكُمْ فِيهَا فَٰكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا
تَأْكُلُونَ ﴿٧٣﴾

آیا له دې پرته د بل څه انتظار لري چي (د قیامت) نېټه په ناڅاپي توګه ورته راشي په داسي حال کې چي دوی به نه پوهېږي. په دې ورځ به دوستان ځیني د ځینو نورو لپاره غلیمان وي، مګر متقیان، اې زما بندګانو! نن نه کومه وېره دربانديې شته او نه به تاسو غمجن کېږئ، هغه چي زما پر آیتونو ئې ایمان راوړی او مسلمانان ول، جنت ته ننوځئ تاسو هم او ستاسو مېرمني هم، په داسي حال کې چي خوښي به مو په

برخه شي، پر دوی به د سرو زرو نالبکي او ګیلاسونه تاوراتاو کېږي؛ او په هغوی کې هغه څه چي زړونه ئې غواړي او سترګي ترې خوند اخلي، په داسي حال کې چي تاسو به په هغه کې تلپاتي وئ؛ او دا همغه جنت دئ چي تاسو ته د هغه څه له کبله په میراث درکړی شوی چي کول مو، په دې کې تاسو ته ډېري داسي مېوې دي چي ترې خورئ به ئې.

---

(٦٦-٧٣)- په دې مبارکو آیتونو کې ویل شوي:

- آیا دا مخالفین له دې پرته د بل څه انتظار لري چي د قیامت ټاکلې نېټه په ناڅاپي توګه ورته راشي په داسي حال کې چي د دوی په خیال کې به هم نه ګرځي؟
- د قیامت په ورځ به له متقیانو پرته د نورو تر منځ نه یوازي د دوستۍ اړیکي قطع وي بلکي نژدې دوستان به داسي ومومې چي ځیني به ئې د ځینو نورو لپاره غلیمان وي.
- د الله تعالی له لوري به وویل شي: اې زما بندګانو! نن نه کومه وېره دربانديی شته او نه به تاسو غمجن کېږئ، جنت ته ننوځئ؛ تاسو هم او ستاسو مېرمني هم، په داسي حال کې چي خوښي به مو په برخه شي، دا به هغه بندګان وي چي د الله تعالی پر آیتونو ئې ایمان راوړی او عملاً ورته منقاد او تسلیم ول، پر دوی به د سرو زرو نالبکي او ګیلاسونه تاوراتاو کېږي؛ او په هغوی کې به هغه څه وي چي زړونه ئې غواړي او سترګي ترې خوند اخلي، په داسي حال کې چي په دې جنت کې به تلپاتي وي، دوی ته به وویل شي: دا همغه جنت دئ چي تاسو ته د هغه څه له کبله په میراث درکړی شوی چي په دنیا کې مو کول، په دې جنت کې ډېري داسي مېوې دي چي تاسو ئې تل ترې خوړلی شئ.

---

إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ فِى عَذَابِ جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ
مُبْلِسُونَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا۟ هُمُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٦﴾ وَنَادَوْا۟ يَٰمَٰلِكُ
لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ ﴿٧٧﴾ لَقَدْ جِئْنَٰكُم بِٱلْحَقِّ وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَٰرِهُونَ ﴿٧٨﴾

یقیناً چي دا مجرمین به د دوزخ په عذاب کې تلپاتي وي، له دوی به سست او سپک نه کړی شي او دوی به په کې ناهیلي وي؛ او موږ پر دوی ظلم نه دئ کړی بلکي دوی پر خپل ځان ظلم کولو؛ او غږ به کړي: اې مالکه! ستا رب دې پر موږ پای ته ورسوي، وبه وایي: تاسو پاته کېدونکي یئ، یقیناً چي حق مو دروړ خو ستاسو ډېری له حق کرکه کوونکي یئ.

(٧٤-٧٨)- دلته په دوزخ كې د مجرمينو حالت داسې انځور شوی:

- دا مجرمين به د دوزخ په عذاب كې تلپاتې وي.
- عذاب به ئې هيڅكله سست او سپك نه شي.
- دوی به له هره پلوه ناهيلې وي؛ او د نجات هيڅ هيله او طمع به نه لري.
- له دې بد برخليك سره د خپل ظلم له كبله مخامخ شوي، الله تعالی پر دوی ظلم نه دئ كړی، بلكې دوی پر خپل ځان ظلم كولو.
- د دوزخ خازنانو ته به په دې صيغه غږ كړي: اې مالكه! ستا رب دې حتماً زموږ كار پای ته ورسوي، زموږ د مرگ پرېكړه دې وكړي!! خازن به ځواب وركړي: تاسو دلته د تل لپاره پاته كېدونكي يئ، يقيناً چې موږ حق دروږ خو ستاسو ډېری له حق كركه كوونكي وئ.

---

أَمۡ أَبۡرَمُوٓاْ أَمۡرٗا فَإِنَّا مُبۡرِمُونَ ۝٧٩ أَمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّا لَا نَسۡمَعُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۚ بَلَىٰ
وَرُسُلُنَا لَدَيۡهِمۡ يَكۡتُبُونَ ۝٨٠ قُلۡ إِن كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٞ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡعَٰبِدِينَ ۝٨١
سُبۡحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝٨٢ فَذَرۡهُمۡ
يَخُوضُواْ وَيَلۡعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ۝٨٣

آيا د كوم كار قطعي پرېكړه ئې كړې؟ نو موږ هم فيصله كوونكي يو، آيا داسې انگېري چې موږ ئې سري خبري او پټې مشورې نه اورو؟ ولې نه؛ او د دوی په خوا كې زموږ استازي ئې ليكي، ووايه: كه رحمن زوی درلودی نو زه د عابدانو لومړنی يم، له هغه څه چې دوی ئې بيانوي د آسمانونو او زمكې رب؛ د عرش مالك ته سپيڅلتيا ده. نو پرې ئې ږده چې هسې لگيا وي او لوبې كوي تر هغه چې له خپلې هغې ورځې سره مخامخ شي چې وعده ئې وركول كېږي.

---

(٧٩-٨٣)- د دې مباركو آيتونو مهم مهم مطالب دا دي:

- رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي: آيا ستا مخالفينو د كوم جدي كار قطعي پرېكړه كړې؟ غواړي ستا په ضد كوم خطرناك اقدام وكړي؟ په دې دې پوه وي چې موږ به هم د همداسې كار پرېكړه كوو، وبه گوري چې څوك خپله پرېكړه پلې كولی شي.
- آيا دوی داسې انگېري چې الله تعالی ئې سري خبري او پټې مشورې نه اوري؟ نه يوازې دا چې الله تعالی د دوی سري او د راز پټې خبري او مشورې اوري بلكې د دوی په خوا كې گمارل شوې فرشتې هر څه ليكي. له دې آيتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره هغه مهال نازله شوې چې د قريشو سردارانو په خپلو سري غونډو كې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په ضد د پرېكنده اقدام خبري او مشورې كولې او غوښتل ئې كوم

خائنانه عمل وکړي، داسې چې عام ولس پرې خبر نشي او په پټه تر سره شي.

• رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي چې مشرکینو ته ووایې: که رحمن خدای زوی درلودی نو تر هر چا وړاندې به ما دغه خبره کوله، زه خو د خپل رب مطیع بنده یم او غواړم په هر څه کې تر نورو وړاندې د الله تعالی اوامرو ته غاړه کښېږدم. دې ته مو پام وي چې د اول العابدین معنی دا نه ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم تر ټولو انسانانو وړاندې د الله تعالی عبادت پیل کړی، ګواکې هغه تر ټولو انسانو وړاندې پیدا شوی، دا په خرافاتو او شرك کې د غرقو منحرفینو خوشې خبرې دي، معنی ئې دا ده چې زه تر هر چا وړاندې خپل رب ته مطیع یم، که الله تعالی زوی درلودی نو ما به تر تاسو وړاندې دغه خبره کوله.

• الله تعالی له هغه څه چې مشرکین ئې ورته منسوبوي منزه دئ، د آسمانونو او زمکې رب؛ د عرش مالك ته د دوی له دې وینا سپیڅلتیا ده چې زوی او ځای ناستی لري.

• دوی پرېږده چې په دغو خرافاتو او مسخره خبرو کې بوخت وي او د ماشومانو په څېر لوبې کوي، الله تعالی له دوی سره د محاسبې ثابته ورځ ټاکلې، له دغې ورځې سره به هرومرو مخامخ کېږي، له دوی سره شوې وعده حتماً تر سره کېږي.

وَهُوَ ٱلَّذِى فِى ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٌ وَفِى ٱلْأَرْضِ إِلَٰهٌ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٨٤﴾ وَتَبَارَكَ
ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ وَإِلَيْهِ
تُرْجَعُونَ ﴿٨٥﴾ وَلَا يَمْلِكُ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ
بِٱلْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ
يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾ وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ فَٱصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ
سَلَٰمٌ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

او دی هغه ذات دئ چې هم په آسمانو کې اله دئ او هم په زمکې کې اله؛ او هغه پوه باحکمت دئ؛ او هغه ذات مبارك دئ چې د آسمانونو او زمکې او هر هغه څه واك له ده سره دئ چې په دوی دواړو کې دي؛ او د قیامت د ورځې علم له ده سره دئ او د ده لورې ته ورګرځول کېږئ؛ او هغه د شفاعت واك نه لري چې له ده پرته ئې بلې مګر هغه چې په رښتینې توګه ګواهي ورکړي په داسې حال کې چې پوهېږي. او که ئې وپوښتې: چا پیدا کړي؛ حتماً به وایې: الله، نو له کومه دوکه کېږي؟! او دا وینا ئې ګواه ده چې اې زما ربه! دا ټولی هغه وګړي دي چې ایمان نه راوړي، نو مخ

ترې واړوه او ووايه: سلام، ژر به پوه شي.

---

(۸٤-۸۹)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی هغه ذات دئ چې هم په آسمانو کې يوازينی معبود دئ او هم په زمکې کې، له ده پرته بل معبود نشته او هغه پوه باحکمت دئ، د (علم) او (حکمت) مظاهر ئې په ټول عالم کې جوت دي. الله تعالی هغه مبارك ذات دئ چې د آسمانونو او زمکې او هر هغه څه واك له ده سره دئ چې په دوی دواړو کې دي، دی په هر څه کې برکت اچوي او وده ورکوي، هر څه د ده حکم ته تابع او منقاد دي او همغه کار کوي چې ده پرې ګمارلي. د زمکې او آسمانونو هر څه د حال په ژبه ګواهي ورکوي چې (مالك) لري او دا مالك ئې (مبارك) دئ.
- د قيامت د ورځې علم له الله تعالی سره دئ، بل چا ته دا علم نه دئ ورکړی شوی.
- ټول به د ده لوري ته ورګرځول کېږئ.
- مشرکين چې له چا د شفاعت هيله لري او ګمان کوي چې دوی کولی شي د الله تعالی په وړاندې د دوی شفاعت وکړي، د سپارښتني او شفاعت له لارې په دنيا کې د دوی حاجتونه تر سره کړي او په آخرت کې ئې له محاسبې او مؤاخذې وژغوري؛ دوی د شفاعت هيڅ واك او صلاحيت نه لري، يوازې هغه څوك د الله تعالی په وړاندې د چا شفاعت کولی شي چې دوه ځانګړتياوې ولري: ۱- رښتيا ووايي، د داسې چا شفاعت وکړي چې د شفاعت وړ وي، د غيرمستحق او نااهل انسان شفاعت ونه کړي، ۲- علم ولري، هغه کس په ټمامه معنی او بشپړه توګه وپېژني چې دی ئې شفاعت کوي، داسې نه چې په پټو سترګو او ناپوهۍ سره د غلطو خلکو او داسې چا په اړه سپارښتنه وکړي چې دی ئې نه پېژني. دا دواړه شرائط دومره ګران او سخت شرائط دي چې د شفاعت امکان تر ډېره حده منتفي کوي. قرآن پر دې سربېره د شفاعت لپاره ځيني نور شرائط هم ږدي، لکه دا چې شفاعت به د الله تعالی په إذن سره او د هغه چا په اړه وي چې الله تعالی د هغه په اړه شفاعت مني او هغه څوك به شفاعت کولی شي چې الله تعالی د شفاعت اجازه ورکړي.
- که دا مشرکين وپوښتې چې چا پيدا کړي؛ نو ځواب به ئې حتماً دا وي: الله تعالی پيدا کړي يو!! نو سره له دې څنګه او له کومه دوکه کېږي؟! که دوی له دې پرته بل ځواب نشي ويلی نو بيا د دې لپاره څه دليل لري چې د همدې الله تعالی له لوري د يوه پيغمبر او د هغه په لاس د يوه لارښود کتاب لېږل نه مني او په دې باور نه کوي چې الله تعالی به ئې بياراژوندي کوي او د ده لوري ته به درومي؟!!

په ۸۸ آيت کې د داسې ترکيب شاهد يو چې په اړه ئې په تفسيرونو کې ژور او پراخ اختلافات ګورو، آيت داسې دئ: وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ لَّا يُؤۡمِنُونَ ۸۸لکه چې ګورئ دا آيت په (و) پيل شوی؛ ځينو دا د عطف (و) ګڼلی او ځينو د قسم (و)، د لومړۍ ډلې په مفسرينو کې ځينو دا آيت په يوه مخکيني آيت عطف کړی او ځينو په نورو، ځيني د

(قيله) صيغه (قِيْلَه) بولي او ځيني ئې (قِيْلِه)، په دوهمي ډلي كي ځيني د قسم ځواب يو څه او ځيني ئې بل څه گڼي، كه دا ټول آراء او د هري ډلي دلائل راواخلو نو د لوستونكو كافي وخت به پرې ضائع شي، ځيني ئې داسي دي چي اصلاً په يادولو او څېړلو نه ارزي، كوم تعبير چي موږ ته غوره برېښېدلی هغه دا دئ: دا (و) د قسم واو دئ؛ او (قيله) له معروف قرائت سره سم (قِيْلِه) ده، په دې قسم سره د قرآن د نورو قسمونو په څېر مقسم به د شاهد او گواه په توگه وړاندي شوی، مقسم به د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا وينا ده يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ لَّا يُؤۡمِنُونَ: اې زما ربه! دا قوم ايمان نه راوړي، يعني رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپل قوم له ايمان راوړلو مأيوس شوی او دې نتيجې ته رسېدلی چي په دوی كي د ايمان راوړلو استعداد ځپل شوی او داسي څوك نه دئ په كي پاته چي د ايمان راوړلو طمع ئې كېدی شي، په داسي حال كي چي الله تعالی هم فرمايي: فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ : نو له كومه دوكه كېږي؟! يعني دوی له دې وروسته د ايمان نه راوړلو لپاره هيڅ توجيه او مبرر نه لري او په داسي حال كي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم هم د دوی له ايمان راوړلو مأيوس شوی؛ نو اوس به الله تعالی له دې ولس سره څه كوي؟ د دې پوښتني ځواب ډېر څرگند دئ او هغه دا چي الله تعالی به حتماً دوی ته سزا وركوي، دا د الله تعالی سنت دئ چي كله كوم پيغمبر له كافي دعوت وروسته له خپل ولس مأيوس شوی او الله تعالی ته ئې شكايت كړی نو پر هغه قوم د الله تعالی عذاب نازل شوی، اوس نو د دوی او الهي عذاب تر منځ هيڅ مانع نشته؛ او دا همغه مطلب دئ چي د ورپسې آيت په پای كي په دې صيغه راغلی: فسوف يعلمون: حتماً او ژر به پوه شي. او په همدې وينا كي د مخكيني قسم ځواب پروت دئ. نو د آيت غوره او دقيق تعبير دا دئ: د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا وينا چي وئې ويل: اې زما ربه! دا قوم ايمان نه راوړي، د دې شهادت او گواهي وركوي چي دا قوم به حتماً په الهي عذاب اخته شي او وبه گوري چي له كوم سپېره برخليك سره مخامخ كېږي.

د سورې وروستی آيت چي د ټولې سورې لپاره ښكلې او دقيقه تتمه او خلاصه ده وايي: نو مخ ترې واړوه او ووايه: سلام، ژر به پوه شي. يعني د دوی پروا مه كوه، د دوی په اړه انديښنې پرېږده، اعتناء مه ورته كوه، په يوه سلام سره ترې تېرېږه، مطمئن اوسه چي ډېر ژر به پوه شي چي د دوی كفر، شرك او له حق دين سره مخالفت له كوم شوم برخليك سره مخامخ كړل.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# الدخان

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الدخان) دئ چې د سورې له ۱۰ آیت اخیستل شوی، ۵۹ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د دوهم آیت (المبین)؛ او د دولسم آیت (مؤمنون) ته ورته دي، یوازې دري څلوېښتم آیت ئې په الزقوم پای ته رسېدلی خو دا آیت له ورپسې آیت سره داسې تړلی دئ چې په ګډه په (الاثیم) پای ته رسېدلي، آیتونه ئې تر متوسطو لږ لنډ دي او هغو سورتونو ته ورته دي چې د مکې د لومړي دور په وروستیو کلونو کې نازل شوي. که د سورې د آیتونو اوږدوالي او مضامینو ته ځیر شو راته جوته کېږي چې دا تر مخکینیو څلورو سورتونو وړاندې نازله شوې.

دا سوره هم په دوو مقطعاتو حروفو (حاء) او (میم) پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ۱- قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی، متن ئې ګواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲- دا کتاب ځینو ته د برکتونو ډالۍ په لمن کې لري او ځینو ته د الهي عذاب ګواښونه.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ۝١ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍۚ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ۝٣
فِيهَا يُفۡرَقُ كُلُّ أَمۡرٍ حَكِيمٍ ۝٤ أَمۡرٗا مِّنۡ عِندِنَآۚ إِنَّا كُنَّا مُرۡسِلِينَ ۝٥ رَحۡمَةٗ مِّن
رَّبِّكَۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ۝٦ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن
كُنتُم مُّوقِنِينَ ۝٧ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ
ٱلۡأَوَّلِينَ ۝٨ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ يَلۡعَبُونَ ۝٩

حاء میم، قسم په دې څرګند کتاب، یقیناً چې مونږ په یوې مبارکې شپې کې نازل کړی، بې شکه چې موږ انذار کوونکي یو، په دې کې د هر حکیمانه کار پرېکړه کېږي. زموږ له لوري د یوه امر په توګه، یقیناً چې موږ لېږونکي وو، ستا د رب یوه پېرزوینه، یقیناً چې هغه پوه اورېدونکی دئ، د آسمانونو او زمکې او هر هغه څه رب چې په دوی دواړو کې دي، که یقین کوونکي یئ، له ده پرته بل اله نشته، ژوند او مرګ بخښي، ستاسو رب او ستاسو د لومړنیو پلرونو رب، خو دوی په داسې حال کې په لوبو بوخت دي چې په شك کې دي.

---

(۱-۹)- د دې مبارکو آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره باید دا خبري په پام کې ولرئ:

• دا سوره هم د (حاء) او (میم) په دوو مقطعاتو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي: ۱- قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی، متن ئې ګواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲- دا کتاب ځینو ته د برکتونو ډالۍ په لمن کې لري او ځینو ته د الهي عذاب ګواښونه.

• دلته په مبین کتاب لوړه شوې او ویل شوي: قسم پدې څرګند کتاب. ورپسې د قسم ځواب راغلی او ویل شوي: یقیناً چې مونږ په یوې مبارکې شپې کې نازل کړی، یعني دا مبین کتاب په خپله د دې شاهد او ګواه دئ چې د الله تعالی له لوري لېږل شوی، دا د محمد علیه السلام په خپلو افکارو مشتمل کتاب نه دئ، بلکې د الله کتاب دئ، د نزول شپه ئې یوه مبارکه شپه وه، دا ځکه چې دا له برکتونو ډك کتاب په کې نازل شوی.

• دلته د قرآن د نزول د شپې په اړه څو خبرې شوې:

الف: دا مبین کتاب په کې نازل شوی، یعني د قرآن نزول په دغه شپه پیل شوی.

ب: دا شپه ډېره بختوره او مبارکه شپه ده.

ج: د هر حکیمانه کار پرېکړه په دې شپه کې صادرېږي.

• دلته د قرآن د نزول شپه د مبارکې شپې په نامه یاده شوې او (مبارکة) د دې شپې یو صفت دئ؛ همداسې د القدر په سورې کې (سلام) د دې شپې بل صفت دئ، یعني دا د (برکت) او (سلامتیا) شپه ده، ستا سلامتیا په دغې بختورې، مبارکې او له سلامتیا ډکې شپې کې مضمر ده، دا شپه د برکتونو او سلامتیا له پیغام سره ستا خوا ته درځي.

• د درېیم آیت په دوهمې برخې کې ویل شوي: بې شکه چې موږ انذار کوونکي یو، یعني الله تعالی د دې کتاب په لېږلو سره هغو وګړو ته خبرداری ورکوي چې له دې لارښود کتاب سره مخالفت کوي او د کفر، شرك، ظلم او فساد لار غوره کوي.

- الله تعالی فرمايي چې د قرآن د نزول د مبارکې شپې بل صفت دا دئ: په دې کې د هر حکيمانه کار پرېکړه کېږي، زموږ له لوري د يوه امر په توګه، يعني دا کتاب په داسې مبارکې شپې کې نازل شوی چې په هغې کې ټول مقدرات په حکيمانه توګه ټاکل کېږي، قرآن په همدې شپه کې رالېږل شوی؛ نو قرآن ستا د برخليك کتاب دئ، د دغه کتاب له مخې ستا برخليك ټاکل کېږي، د القدر په سورې کې هم د قرآن د نزول شپه د (ليلة القدر) په نامه ياده شوې، يعني دا د مقدراتو د ټاکلو شپه ده، يعني که په دې شپه کې د الله تعالی مأمور فرشتې تا داسې ومومي لکه چې د دې مبارکې شپې تقاضا ده، ټولې به پر تا سلام وايي او ستا په برخليك پاڼې کې به برکتونه او سلامتيا درته ليکي، خو که ته د دې شپې د برکت او سلامتيا له پيغامه څه تر لاسه نه کړی شې، ستا وضعيت او ستا عزائم د دې شپې د غوښتنو او مقتضياتو مغاير وو، نو د دې شپې له فضيلت او برکاتو به محروم وې او دا سعادت به دې په برخه نه شي چې دا فرشتې ستا برخليك پاڼې کې د حکيمانه او غوره کارونو د سرته رسولو توفيق وليکي، د مخکې په څېر به په ناسمو کارونو کې مشغول پاته شې.
- د قرآن مبارك او له حکمتونو ډك متن ښيي چې لېږونکی ئې الله تعالی دئ؛ او د دې کتاب حامل رسول الله صلی الله عليه و سلم د الله تعالی استازی دئ.
- دا کتاب ستا د رب له لوري يوه ستره پېرزوينه ده، له مهربان رب (پالونکي) سره همدا ښايي چې انسان مهمل پرې نږدي، د هغه د پالنې، روزنې او لارښوونې لپاره کتاب ولېږي.
- دا کتاب د يوه اورېدونکي رب له لوري لېږل شوی، د انسان فطرت او اړتياوې او د دې فطرت غوښتنې ورته معلومې دي، دا کتاب په حقيقت کې د انسان د فطرت غوښتنو ته د انسان د پالونکي مهربان رب ځواب دئ.
- د آسمانونو او زمکې او هر هغه څه رب چې په دوی دواړو کې دي، که يقين کوونکي يئ، يعني دا کتاب د ټول عالم پالونکي رب لېږلی، هغه رب چې د آسمانونو او زمکې هر څه پالي؛ خود به د انسان د پالنې انتظام کوي، د همدې لپاره ئې دا کتاب رالېږلی.
- دا لارښود کتاب د هغه الله له لوري نازل شوی چې له ده پرته بل معبود نشته، د ژوند او مرګ پرېکړه د ده له لوري کېږي، هم ستاسو رب دئ او هم ستاسو د لومړنيو پلرونو رب.
- ځوك چې د قرآن له منلو ډډه کوي او د مخالفت لار غوره کوي؛ د مخالفت لپاره هيڅ دليل نه لري، د بې بنسټه او مجرد شك له ځرګندولو پرته بل څه نشي ويلی، دوی داسې دي لکه په لوبو بوخت ماشومان.
- د قرآن انزال او راکوزول هم په دې معنی ده چې دا الهي پيغام بر له آسمانونو لاندې زمکې ته رالېږل شوی او هم په دې معنی چې د دې لوړ الهي کلام اوچته مستوی د انسان د درك او فهم کچې ته راکوزه شوې، يعني الله تعالی د خپل لوړ او باعظمته کلام مستوی

دومره راکوزه کړې چې د زمکې پر سر اوسېدونکي انسان ته د فهم وړ شي. د سورې په پای کې په دې اړه داسي ویل شوي: نو یقیناً چې ستا پر ژبه مو آسان کړ چې پند واخلي؛ او دا د نزول دوهم مفهوم افاده کوي.

- د انزلنٰه (مونږ قرآن نازل کړ) په اړه ځیني وایي چې قرآن د وحي د پیل په دغي شپې کې ټول یو ځای پر پیغمبر علیه السلام نازل شوی!! خو دا رأیه د قرآن له هغو صریح آیتونو سره تعارض او مغایرت لري چې د قرآن په تدریجي نزول باندي تأکید کوي. ځیني مفسرین دا وایي چې قرآن د لیلة القدر په دغي شپې کې ټول یو ځای له عرش د دنیا آسمان ته رالېږل شوی، دوی د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په یوه روایت استناد کوي. راشئ وګورو چې د قرآن نور آیتونه د قرآن د نزول په اړه څه وایي، په کار ده د دې آیت تفسیر تر هر څه د مخه په خپله په قرآن کې ولټوو او هغه رأیه د اعتبار وړ ونه ګڼو چې له قرآني شرحي سره تصادم کوي. قرآن په دې اړه په ډېر صراحت سره فرمایي:

وَقُرۡءَانٗا فَرَقۡنَٰهُ لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٖ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلٗا ﴿١٠٦﴾ الإسراء

او قرآن مو ټوک ټوک کړ، چې په ځنډ ځنډ سره ئې پر خلکو ولولې او په ځانګړي کوزولو سره مو راکوز کړ.

همدا راز فرمایي:

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلۡقُرۡءَانُ جُمۡلَةٗ وَٰحِدَةٗۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَۖ وَرَتَّلۡنَٰهُ تَرۡتِيلٗا ﴿٣٢﴾ الفرقان

او کافرانو وویل: ولې دا قرآن په یوه وار ټول یو ځای پر ده نه دئ نازل شوی؟ داسي مو وکړل چې ستا زړه پرې مضبوط کړو او ورو ورو ئې ولولو.

دا آیتونه په ډېر وضاحت سره ښیي چې د قرآن (نزول) تدریجي، ټوک ټوک، ورو ورو او له ځنډ او وقفې سره توأم وو او دا د هغو خلکو په رأیې د بطلان کرښه راکاږي چې پر پیغمبر علیه السلام د قرآن په یو وار او یو ځای نزول باور لري.

هغه څوک چې اورېدلي ئې دي یا ګمان کوي د انزال او تنزیل تر منځ توپیر شته، یو ئې تدریجي راکوزېدل او بل ئې یو ځایي راکوزېدل افاده کوي، اشتباه ئې کړې او دا ځکه چې قرآن په ځای ځای کې د باران د ورېدو لپاره د (انزلنا) صیغه کارولې، چې په ټولو کې تدریجي ورښت ترې مراد دئ نه د ټولو اوبو یو ځایي راتویېدل. د دوی اصلي مشکل دا نه دئ چې د نحوي په کوم کتاب کې ئې دا قاعده لوستلې، اصلي مشکل ئې دا دئ چې پیغمبرعلیه السلام او خپل ائمه عالم الغیب ګڼي او دا خبره د دوی له غلطي عقیدې سره سمون نه خوري چې پیغمبر علیه السلام په سر کې او د وحي په لومړۍ ورځ د قرآن له هغو برخو خبر نه وو چې وروسته وروسته پرې نازله شوې. د غلطي عقیدې په نسبت جاهلانه تعصب دغسي وي، د دې پر ځای چې خپله غلطه عقیده د سمي خبري په اورېدو

سره تصحيح کړي برعکس سمه خبره غلطه توجيه کوي، حتی د قرآن خبره.

قرآن په دې خبري شهادت ورکوي چي پر پيغمبر عليه السلام د وحي د نزول پيل د روژې په مبارکي مياشت کي شوی، لکه چي فرمايي:

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ ... البقرة

د روژې مياشت هغه ده چي قرآن په کي نازل شوی، د خلکو لارښود، څرګندي لارښووني او فرقان (د حق او باطل تر منځ د تفريق او توپير ذريعه) ...

له دې آيت په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چي ليلة مبارکة او ليلة القدر د روژې د مياشتي يوه شپه ده. د دغي مياشتي د درنښت لپاره پر مونږ د دې مياشتي روژه فرض شوې او دا د هغه ستر نعمت د شکر اداء کولو لپاره ده چي د قرآن په بڼه کي الله تعالی پر مونږ پېرزو کړی او د دې مياشتي هغه ځانګړې شپه چي قرآن په کي نازل شوی د دې لپاره د (قدر شپه) نومول شوې او تر زرو مياشتو غوره ګڼل شوې چي د قرآن د نزول ستره پېښه په کي رامنځته شوې، د دې مياشتې او هغي ځانګړې شپې اهميت ئې د هغي ستري حادثې له کبله دئ که نه نو، ايام او اوقات ټول يو شانته دي او څه توپير په کي نشته.

---

فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ﴿١٠﴾ يَغۡشَى ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١١﴾ رَّبَّنَا ٱكۡشِفۡ عَنَّا ٱلۡعَذَابَ إِنَّا مُؤۡمِنُونَ ﴿١٢﴾ أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكۡرَىٰ وَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مُّبِينٞ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَقَالُواْ مُعَلَّمٞ مَّجۡنُونٌ ﴿١٤﴾ إِنَّا كَاشِفُواْ ٱلۡعَذَابِ قَلِيلًاۚ إِنَّكُمۡ عَآئِدُونَ ﴿١٥﴾ يَوۡمَ نَبۡطِشُ ٱلۡبَطۡشَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ﴿١٦﴾

نو هغي ورځي ته انتظار کوه چي آسمان به داسي څرګند لوګی راوړي چي خلك به پوښي، دا دردناك عذاب دئ، اې زموږ ربه! دا عذاب له موږ لري کړه؛ موږ حتماً ايمان راوړونکي يو، څنګه به ئې پند اخيستل په برخه وي حال دا چي څرګندونکی پيغمبر ورغی، بيا دوی مخ واړاوو او وئې ويل: يو پوه کړی شوی لېونی دئ، يقيناً چي موږ لږ شېبه د عذاب لري کوونکي يو؛ تاسو بېرته ستنېدونکي يئ، هغه ورځ چي موږ به په سخت نيولو سره نيول وکړو يقيناً چي موږ انتقام اخيستونکي يو

---

(١٠-١٦)- د دې مبارکو آيتونو په مطلب د ښه پوهېدو لپاره لاندي خبري په پام کي ولرئ:

رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: هغې ورځې ته انتظار کوه چې آسمان به داسې څرګند لوګی راوړي چې خلك به پوښي، دا دردناك عذاب دئ، په دې عذاب اخته شوي خلك به وايي: اې زموږ ربه! دا عذاب له موږ لرې کړه؛ موږ حتماً ايمان راوړونکي يو. يعنې هغه خلك چې له کوم دليل پرته او فقط د شکونو پر بنسټ د قرآن مخالفت کوي خپلې مخې ته پرېږده، دوی قيامت نه مني په خپلو سترګو به ئې وګوري، دوی الهي عذاب نه مني او د پيغمبر ګواښونو او انذار ته اعتناء نه کوي په خپلو سترګو به دا عذاب وګوري، دا عذاب به خپل وزر پرې وغوړوي، د څرګند لوګي په بڼې کې به ئې وګوري، هغه مهال به دا په عذاب اخته شوي کافران وايي: اې زموږ ربه! دا عذاب له موږ لرې کړه؛ موږ له دې وروسته مؤمنان يو.

خو هغه مهال به دا ايمان راوړل هيڅ ګټه نه وررسوي، دا ځکه چې تر دې وړاندې پيغمبر ورغی، له څرګند پيغام سره، دا حقيقت ورته جوت شوی وو چې هغه د الله تعالی له لوري لېږل شوی خو هغوی مخ واړاوو او وئې ويل: يو پوه کړی شوی لېونی دئ، پيغمبر ته ئې د مجنون خطاب وکړ او د هغه وينا ئې د کوم انسان له لوري ده ته ښودل شوې وينا وګڼله!!

الله تعالی په وار وار له دوی سره دا احسان کړی چې کله ئې د ګناهونو له کبله له مصيبتونو سره مخامخ کړي او دوی ندامت ښودلی او خدای ته ئې مخه کړې الله تعالی موقتاً مصيبت ترې لرې کړی خو هغوی بېرته خپل مخکيني کفر او شرك ته ستانه شوي.

دوی ته تر هغې ورځې انتظار وکړه چې الله تعالی به ئې په سخت نيولو سره ونيسي، دا ځکه چې هغه انتقام اخيستونکی دئ.

د صحابه وو، تابعينو او د لومړنې دور مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف تر سترګو کېږي چې په آسمان کې د لوګي څرګندېدو مراد څه دئ او دا واقعه به کله رامنځته کېږي، ځينې وايي چې په دې سره هغې قحطي ته اشاره شوې چې قريش ورسره مخامخ شوي، دوی د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په يوه روايت استناد کوي، مجاهد، قتاده، ابوالعاليه، مقاتل، ابراهيم النخعي، ضحاك او ځينې نور همدا رأيه لري، خو د دوی په مقابل کې د علي، ابن عمر، ابن عباس، ابوسعيد خدري، زيد بن علي، حسن بصري رضی الله عنهم په څېر شخصيتونه له دې رأيې سره موافق نه دي او وايي چې له دې لوګي هغه لوګی مراد دئ چې په موثقو رواياتو کې ورته اشاره شوې ده او د قيامت له علامو ګڼل شوی. د آيت له سياق و سباق هم معلومېږي چې دا د قيامت له علامو يوه علامه ده. راشئ دغه روايت له نظره تېر کړو چې مرجوح او غيرموثق دئ او داسې دئ:

حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عَبْدِ الله فَقَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم لَمَّا رَأَى مِنَ النَّاسِ إِدْبَارًا قَالَ

"اللهمَّ سَبْعٌ كَسَبْعِ يُوسُفَ". فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى أَكَلُوا الْجُلُودَ وَالْمَيْتَةَ وَالْجِيَفَ، وَيَنْظُرَ أَحَدُهُمْ إِلَى السَّمَاءِ فَيَرَى الدُّخَانَ مِنَ الْجُوعِ، فَأَتَاهُ أَبُو سُفْيَانَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّكَ تَأْمُرُ بِطَاعَةِ الله وَبِصِلَةِ الرَّحِمِ وَإِنَّ قَوْمَكَ قَدْ هَلَكُوا، فَادْعُ الله لَهُمْ، قَالَ الله تَعَالَى ( فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ ) إِلَى قَوْلِهِ ( عَائِدُونَ * يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى) فَالْبَطْشَةُ يَوْمَ بَدْرٍ، وَقَدْ مَضَتِ الدُّخَانُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ وَآيَةُ الرُّومِ. (بخاری:١٠٠٧)

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت دئ چي وايي: کله چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د خلکو مخالفت او ایمان نه راوړل وليد، وئې فرمايل: (اې خدايه! د يوسف (عليه السلام) د زمانې په څېر اُوه کاله وچکالي پرې راوله) نو قريش له داسي وچکالۍ سره مخ شول چي هر څه ئې له منځه يووړل، تر دې چي پوستکي، مړه ځاروي او مړزګي ئې خوړل؛ او که کوم يوه به آسمان ته وکتل نو له ډېري لوږي به ئې لوګی تر سترګو کېدو، نو ابو سفيان ورته راغی او وئې ويل: اې محمده! (صلی الله عليه و سلم) ته د الله تعالی د اطاعت او صله رحمۍ امر کوې؛ او ستا قوم هلاکېږي، نو د خدای په وړاندي دعاء ورته وکړه، الله تعالی وفرمايل: (د هغي ورځي انتظار وباسه چي آسمان ښکاره لوګی راولي) د الله تعالی تر دې قوله چي فرمايي: (تاسي به بېرته کفر ته وګرځئ، هغه ورځ چي په ستري نيوني سره به تاسو ونيسو) راوي وايي: ستره نيونه د بدر ورځ وه؛ او لوګی ستره نيونه، د روم آيت او لزام تېر شول، يعني وليدل شول.

دا روايت په بخاري کي يولس ځلي نور په تکرار سره په دغو شمېرو راغلی: ١٠٢٠، ٤٦٩٣، ٤٧٦٧، ٤٧٧٤، ٤٨٠٩، ٤٨٢٠، ٤٨٢١، ٤٨٢٢، ٤٨٢٣، ٤٨٢٤، ٤٨٢٥

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي له اغرب هم اوښتی، په څلورو طبقو کي يوازي يو يو راوي لري، د متن له پلوه داسي دئ چي له يوې خوا په خپلو کي جدي توپيرونه لري او له بل لوري له قرآن سره اړخ نه لګوي، د دوی تر منځ دا توپيرونه تر سترګو کېږي: په يوه کي لَمَّا رَأَى مِنَ النَّاسِ إِدْبَارًا، په بل کي إِنَّ قُرَيْشًا أَبْطَئُوا عَنِ الاءِسْلَامِ، په يوه کي اللهمَّ سَبْعٌ كَسَبْعِ يُوسُفَ، په بل کي فَدَعَا عَلَيْهِمُ النَّبِيُّصلی الله عليه و سلم، په بل کي اللهمَّ اكْفِنِيهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ، په بل کي اللهمَّ أَعِنِّي عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ، په يوه کي فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى أَكَلُوا الْجُلُودَ وَالْمَيْتَةَ وَالْجِيَفَ، په بل کي فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَتَّى هَلَكُوا فِيهَا وَأَكَلُوا الْمَيْتَةَ وَالْعِظَامَ، په يوه کي قَالَ الله تَعَالَى ( فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ، په بل کي فَقَرَأَ (فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ)، په يوه کي ثُمَّ عَادُوا إِلَى كُفْرِهِمْ فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى (يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى) يَوْمَ بَدْرٍ، په بل کي فَسُقُوا الْغَيْثَ، فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ سَبْعًا، وَشَكَا النَّاسُ كَثْرَةَ الْمَطَرِ فَقَالَ "اللهمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا". فَانْحَدَرَتِ

السَّحَابَةُ عَنْ رَأْسِهِ، فَسُقُوا النَّاسُ حَوْلَهُمْ، په يوه كې عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يُحَدِّثُ فِي كِنْدَةَ فَقَالَ يَجِيءُ دُخَانٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَأْخُذُ بِأَسْمَاعِ الْمُنَافِقِينَ وَأَبْصَارِهِمْ، يَأْخُذُ الْمُؤْمِنَ كَهَيْئَةِ الزُّكَامِ فَأَتَيْتُ ابْنَ مَسْعُودٍ، وَكَانَ مُتَّكِئًا، فَغَضِبَ فَجَلَسَ فَقَالَ مَنْ عَلِمَ فَلْيَقُلْ، وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلِ الله أَعْلَمُ، په بل كې قَالَ عَبْدُ الله أَفَيُكْشَفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ وَالْبَطْشَةُ الْكُبْرَى يَوْمَ بَدْرٍ، په يوه كې مَضَى خَمْسٌ الدُّخَانُ وَالرُّومُ وَالْقَمَرُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ، په بل كې فَقَدْ مَضَى الدُّخَانُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ وَقَالَ أَحَدُهُمُ الْقَمَرُ وَقَالَ الا~خَرُ الرُّومُ. راغلي.

د دې روايت په اړه څو خبرې په پام كې ولرئ:

دا روايت له قرآن سره تعارض لري، قرآن وايي چې دا لوګی حقيقتاً لوګی وي او په څرګنده توګه به په آسمان كې راپيدا شي، نه يوازې څرګند لوګی به وي بلكې په خپل ذات كې به يو عذاب وي، حال دا چې دا روايت وايي چې هغه په حقيقت كې لوګی نه وو بلكې قحطۍ وهلو وږو قريشو ته به آسمان دودجن ښكارېدو.

عبدالله بن مسعود نه دې ويلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم داسې فرمايلي، له دې معلومېږي چې دا د ده خپله رأيه ده، ځكه نو نورو صحابه وو ورسره اتفاق نه دئ كړى. د ده له روايت دا هم معلومېږي چې دا رأيه ئې ځكه وړاندې كړې چې د قيامت عذاب ځنډېدونكى نه دئ؛ او په نوموړو آيتونو كې ويل شوي چې الله تعالى فرمايي: موږ د لنډې مودې لپاره عذاب ځنډوو او تاسو بېرته خپل كفر ته ستنېږئ، خو دا استدلال ځكه صحيح نه برېښي چې مراد ئې د قيامت د عذاب ځنډول نه دي بلكې په دغو آيتونو كې د قريشو او هر كافر او مشرك قوم دا حالت انځور شوى چې كله الهي عذاب پرې راشي نو له الله تعالى سره ژمنه كوي چې ايمان به راوړي او له كفر به لاس اخلي، د دوى د دغې ژمنې له امله الله تعالى د لنډې مودې لپاره عذاب وځنډوي خو دوى خپلې ژمنې تر پښو لاندې كړي او بېرته د كفر په لور ستانه شي، له دې وروسته په ١٦آيت كې ويل شوي: هغې ورځې ته انتظار وكړه چې موږ به په سختې نيونې سره نيونه كوو، د دې آيت له فحوى او سياق و سباق په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې بطشة الكبرى يا د قيامت د ورځې نيونه ده يا هغه نيونه چې د مهلت په پاى كې يو كافر قوم ورسره مخامخ كېږي، نه قحطي د دې عذاب مصداق ګڼلى شو او نه د بدر نيونه د بطشة الكبرى مصداق، له آيت وروسته د فرعون نيونه راغلې چې همدا مطلب افاده كوي. همدا راز د قرآن له وينا معلومېږي چې (يوم نبطش البطشة الكبرى) د (فارتقب يوم تأتي السماء بدخان مبين) شرح دئ، دا دواړه ورځې او دواړه عذابونه يو دي، نه بېل بېل، د بطشة الكبرى ورځ همغه ورځ ده چې په ١٦ آيت كې ورته اشاره شوې، يعني هغې ورځې ته انتظار وكړه چې بله ځانګړتيا ئې دا ده چې الله تعالى به په سختې نيونې سره كفار ونيسي. له دې پلوه هم دا روايت له قرآن سره تعارض لري.

لزام په قرآن كې دوه ځلې راغلى، په دواړو ځايونو كې د آيت له فحوى معلومېږي چې

مراد ئې حتمي عذاب دئ، نو معلومه نه ده چي په دې روايت کي د لزام له تېرېدو مراد څه دئ او راوي ولي د قحط په څنګ کي راوړی؟!!

وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾ أَنْ أَدُّوٓاْ إِلَيَّ عِبَادَ ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٨﴾ وَأَن لَّا تَعْلُواْ عَلَى ٱللَّهِۖ إِنِّيٓ ءَاتِيكُم بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿١٩﴾ وَإِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمْ أَن تَرْجُمُونِ ﴿٢٠﴾ وَإِن لَّمْ تُؤْمِنُواْ لِي فَٱعْتَزِلُونِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ﴿٢٢﴾

او يقيناً چي د فرعون قوم مو تر دوی وړاندي وآزمويو او عزتمن پيغمبر ورغی، (له دې پيغام سره) چي د الله بندګان ما ته وسپارئ، يقيناً چي زه تاسو ته امين استازی يم؛ او د الله په وړاندي لويي مه کوئ يقيناً چي زه له څرګند دليل سره درته راغلی يم؛ او زه خپل رب او ستاسو رب ته له دې پناه وړم چي سنګسار مي کړئ؛ او که پر ما ايمان نه راوړئ نو له ما په څنګ شئ، نو خپل رب ته ئې دعاء وکړه چي دا ټولی مجرم وګړي دي.

(١٧-٢٢)- د دې مبارکو آيتونو مهم مطالب دا دي: د قريشو سردارانو ته ويل شوي: د فرعون لار مو غوره کړې، همغه څه کوئ چي فرعون له موسی عليه السلام سره وکړل، الله تعالی تر تاسو وړاندي د فرعون قوم وآزمويو، عزتمن پيغمبر ورغی، له دې پيغام سره چي د مظلومو بني اسرائيلو له ځورولو لاس واخلئ، که ئې په مصر کي زغملی نشئ پرې ئې ږدئ چي له ما سره يو ځای له مصر ووځي، د الله دا مظلوم بندګان ما ته وسپارئ، يقيناً چي زه تاسو ته امين استازی يم، د الله تعالی په وړاندي کبر او لويي مه کوئ، يقيناً چي زه له څرګند دليل سره درته راغلی يم؛ او زه خپل رب او ستاسو رب ته له دې پناه وړم چي سنګسار مي کړئ؛ او که پر ما ايمان نه راوړئ نو له ما په څنګ شئ، نو خپل رب ته ئې دعاء وکړه چي دا ټولی مجرم وګړي دي. دا همغه څه دي چي نن ئې رسول الله صلی الله عليه و سلم تاسو قريشو ته وايي او تاسو ئې له هغه سره کوئ.

فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱتْرُكِ ٱلْبَحْرَ رَهْوًاۖ إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾ كَمْ تَرَكُواْ مِن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾ وَنَعْمَةٍ كَانُواْ فِيهَا فَٰكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَۖ وَأَوْرَثْنَٰهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴿٢٨﴾ فَمَا

بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَا كَانُواْ مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾

نو زما بندګان په یوه شپه کې روان کړه، یقیناً چې ستاسو تعاقب به کېږي او بحر پرانیستی او ولاړ پرېږده، بې شکه چې دوی غرقېدونکی لښکر دئ، څومره باغونه، چینې، فصلونه او غوره استوګنځي ئې پرېښودل او هغه نعمتونه چې چړچې ئې په کې کولې؟!! همداسې؛ او بل قوم ته مو په میراث ورکړل، نو نه آسمان او زمکې پرې وژړل او نه مهلت ورکړی شو!!

---

(۲۳-۲۹)- دا مبارك آیتونه وایي: الله تعالی موسی علیه السلام ته لارښوونه وکړه چې زما بندګان بني اسرائیل د شپې له لوري روان کړه، داسې چې بني اسرائیل وړاندې او ته ئې تر شا، په شپه کې له مصر ووځئ، باید متوجه وئ چې دښمن به حتماً ستاسو تعاقب کوي، فرعون به له خپلو لښکرو سره په تاسو پسې درځي، د نیول کېدو وېره مه کوئ، کله چې له سمندر تېر شوئ نو هغه همغسې پرانیستی او ولاړ پرېږده، فرعون او لښکر به ئې په همدې سمندر کې غرقېږي. همداسې وشول، فرعون او لښکر ئې په هغه سمندر کې غرق شول چې موسی علیه السلام او د ده ملګرو ته ئې پر خپلې سینې د تېرېدو وچه لار ورکړه!! څومره باغونه، چینې، فصلونه او غوره استوګنځي ئې پرېښودل او هغه نعمتونه چې چړچې ئې په کې کولې؟!! همداسې؛ او دا ټول ئې بل قوم ته په میراث ورکړل، نو نه آسمان او زمکې پرې وژړل او نه مهلت ورکړی شو!! په آسمان او زمکې کې داسې څوك پیدا نه شو چې د دوی په غرقېدو خفه شوی وي او اوښکې ئې بهېدلې وي، کله چې د دوی د نیونې او تعذیب ثابته نېټه راورسېده نو یوه شېبه مزید مهلت ورنه کړی شو.

د قریشو مغرور مشران دې وګوري چې د دوی له سلف سره څه وشول، الله تعالی تر یوې نېټې مهلت ورکړ، بیا ئې کلك ونیول، ټغر ئې ټول شو، هر څه په میراث ترې پاته شول، په زمکه او آسمان کې هیڅوك پیدا نه شو چې د دوی په حال تأسف وکړي او اوښکې پرې توی کړي، ځکه هغوی له الله تعالی سره د خپل تعلق شلولو له کبله د آسمانونو او زمکې له هر څه سره خپلې اړیکې شلولې وې، د الله تعالی له تأیید د محرومېدا له کبله د هر څه له تأیید محروم ول، د دی ظالم قوم هر څه مظلوم قوم ته په میراث پاته شول. باغونه، فصلونه، چینې، بنګلې او ټول هغه نعمتونه چې الله تعالی ورکړي وو، ټول په میراث ترې پاته شول، د اقتدار په دوران کې ډېرو خلکو د دوی ستاینه او مداحي کوله، د هغوی په وړاندې ئې غوړه مالي کوله، د هغوی خدمت ته ئې ملاتړلې وه، د وفادارۍ دعوی ئې کوله، ویل ئې د دوی په خاطر هري قربانۍ ته چمتو دي، په ښو او بدو کې ئې هغوی تأییدول، خو کله چې الله تعالی غرق کړل، نو بیا په زمکه او آسمان کې داسې څوك نه وو چې د هغوی لپاره ئې اوښکې توی کړې وی، الله تعالی تر خاصې نېټې او تر هغه ظالمانو ته مهلت ورکوي چې خپل حجت پرې اتمام ته ورسوي، بیا ئې کلك نیسي، د عذاب

دا نېټه ثابته او نه بدلېدونکې ده، نه ئې د ظالمانو زور او تزویر بدلولی شي او نه د دوی د پلويانو ډېروالی او شمېر، کله چي دا عذاب نازل شي هيڅ څه او هيڅوك ئې مرسته نشي کولی.

---

وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴿٣٠﴾ مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ ٱخْتَرْنَٰهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٢﴾ وَءَاتَيْنَٰهُم مِّنَ ٱلْءَايَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٌا۟ مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾

او يقيناً چي بني اسرائيل مو له هغه سپکوونکي عذاب وژغورل، له فرعون؛ يقيناً چي هغه د مسرفينو له ډلي يو ستر متکبر وو؛ او يقيناً چي په پوهي سره مو (بني اسرائيل) پر ټولو نړۍ والو غوره کړل او هغه نښي مو ورکړې چي ښکاره ازموينه په کي وې.

---

(٣٠-٣٣)- دلته له يوې خوا د قريشو مغرورو مشرانو ته ويل شوي چي الله تعالی به مظلوم مؤمنان ستاسو له ظلمونو داسي ژغوري لکه چي مظلوم بني اسرائيل ئې د فرعون له سپکوونکي عذاب وژغورل، هغه تر تاسو زيات مغرور او مسرف وو، له بل لوري مؤمنانو ته اطمئنان ورکړی شوی چي الله تعالی به تاسو له دې ظلمونو ژغوري او دا ظالمان به د فرعون په برخليك اخته کېږي. خو دې ته مو پام وي چي تاسو به هم له داسي الهي آزموينو سره مخامخ کېږئ چي بني اسرائيل ورسره مخامخ شول، الله تعالی هغوی د خپل علم له مخي د دې وړ ګڼلي وو چي پر ټولو نړۍ والو غوره والی ورکړي، خو سره له دې ئې هغوی له ډول ډول آزموينو سره مخامخ کړل.

---

إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ﴿٣٤﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ﴿٣٥﴾ فَأْتُوا۟ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣٦﴾

يقيناً دا ډله حتما وايي چي دا نه دئ مګر زموږ لومړنی مرګ؛ او موږ بېرته راژوندي کېدونکي نه يو، که رښتيني يئ زموږ پلرونه راژوندي کړئ.

---

(٣٤-٣٦)- دلته د آخرت او بياژوندون د منکرينو وينا رااخيستل شوې چي وايي: زموږ مرګ يو او وروستی مرګ دئ، بېرته نه راژوندي کېږو، که د بياژوندون په اړه ستاسو ادعاء رښتينې وي نو زموږ پلرونه راژوندي کړئ. يعني همدا يو مرګ لومړی او وروستی مرګ دئ، بيا ژوندون نشته، له خپلو قبرونو بيا راپاڅېدا نشته، څوك مو بېرته نه را ژوندي کوي،

که داسي وی نو زموږ پلرونه چي مړه شوي بېرته ئې را ژوندي کړئ که تاسو رښتیا وایئ!! که تاسو وایئ چي قیامت شته، له مرگ وروسته بیاژوندون شته، موږ به بېرته له خپلو قبرونو راپاڅو، دا زموږ آباء او اجداد چي د مخه مړه شوي؛ یو خو باید را ژوندی شي، تاسو خو یو راژوندی کړئ، که رښتیني یئ. د دوی په ځواب کي ویل شوي:

أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنَـٰهُمْ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ﴿٣٧﴾

آیا دوی غوره دي که د تبع قوم او هغه چي تر دوی وړاندي ول، موږ هلاك کړل، یقینا دوی مجرمان ول.

(٣٧)- دلته د قریشو په اړه ویلي شوي: آیا دوی غوره دي که د تبع قوم چي د جرم له کبله الله تعالی هلاك کړل؟! د تبع قوم چي تر قریشو وړاندي تېر شوی، په عربو ئې حکومت کړی، فساد او طغیان ئې وکړ، الله مؤاخذه او هلاك کړل، له قصې ئې د عربو هر ماشوم خبر وو؛ او ټول هغه مجرم قومونه چي تر دې د مخه تېر شوي او د خپل جرم په وجه نیول شوي او د الله تعالی په شدید عذاب اخته شوي، آیا دا کافي نه دي چي قریش دې ته ورته برخلیك ته منتظر وي؛ او الهي محاسبه او مجازات تکذیب نه کړي؟! مگر دغه خبره چي د تبع ځواکمن او واکمن قوم چي پر عربو ئې حکومت کولو، ظروف او شرائط د دوی په خدمت کي، خو له دې کبله چي د جرم لار ئې غوره کړه، حسیب خدای جل شأنه مؤاخذه او هلاك کړل، دا د دې خبري دلیل نه دئ چي دلته د مکافات او مجازات سلسله شته؟ او انسان به د خپلو عملونو د پوره او کامل اجر تر لاسه کولو لپاره له قبر را پورته کېږي؟ د همدې خبري د اثبات لپاره قرآن عظیم الشأن په دې استناد کوي چي د تبع قوم مجرم وو او الله تعالی هلاك کړ. دا چي ته په تاریخ کي گورې چي الله جل شأنه مجرم قومونه هلاکوي، د طغیان په سبب ئې نیسي او سخته سزا ورکوي، آیا دا په خپله د دې دلیل نه دئ چي دلته یو ذات شته چي دا عالم اداره کوي، د عالم د امورو تدبیر د هغه په لاس کي دئ، پر عملونو مکافات او مجازات مرتب کوي؛ او د مجرمینو د مجازات په بڼه کي د هغه د قدرت، سیطرې او حاکمیت آثار او مظاهر په خپلو سترگو گورو، دغه مظاهر د مالك الملك الله د شته والي او د قیامت او مکافات او مجازات څرگنده نښه او بېلگه ده. دلته د آخرت د منکرینو دا غلطه انگېرنه تردید شوې چي الهي مکافات او مجازات نه مني، حال دا چي د دې بېلگي د تاریخ په هري پاڼي او د زمانې په هر دور کي مومي. بیا ورته ویل شوي:

وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَـٰعِبِينَ ﴿٣٨﴾ مَا خَلَقْنَـٰهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ

وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ يَوۡمَ ٱلۡفَصۡلِ مِيقَٰتُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٠﴾ يَوۡمَ لَا
يُغۡنِي مَوۡلًى عَن مَّوۡلًى شَيۡـٔٗا وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ هُوَ
ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾

او موږ دا آسمانونه او زمکه او څه چي په دوی کي دي؛ د لوبو کوونکو په توګه نه دي پیدا کړي، نه مو دي پیدا کړي مګر په حقه سره، خو د دوی ډېری نه پوهېږي. یقیناً چي د فصل ورځ د دوی ټولو میقات او میعاد دئ. هغه ورځ چي هیڅ دوست به له هیڅ دوست څه نشي دفع کولی او نه به د دوی مرسته کېدی شي، مګر هغه چي الله پرې رحم کړی، یقیناً چي هغه مهربان عزتمن دئ.

---

(٣٨-٤٢)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی دا آسمانونه او زمکه او څه چي په دوی کي دي؛ د لوبو کوونکو په توګه نه دي پیدا کړي، د ماشومانو د لوبو په څېر ئې بې مقصده او بې هدفه او خوشي نه دي پیدا کړي، په سمه توګه ئې پیدا کړي، دلته عبث او بېهوده شی نشئ موندلی، دلته هر شی په سمه توګه او هدفمن پیدا شوی، خو د دوی ډېری نه پوهېږي.
- الله تعالی د ښه او بد، صالح او طالح، مؤمن او کافر تر منځ د قضاوت او پرېکړي یوه ثابته ورځ ټاکلې، د فصل او پرېکړي دا ټاکلې ورځ د دوی ټولو میقات او میعاد دئ، دا داسي ورځ ده چي هیڅ دوست به له هیڅ دوست هیڅ څه نشي دفع کولی او نه به داسي څوك ومومي چي د دوی مرسته وکړي او له مجازات ئې وژغوري، یوازي هغه څوك به ژغورل کېږي چي الله تعالی پرې رحم کړی، دا ځکه چي الله تعالی هم عزتمن او ځواکمن دئ او هم رحیم او مهربان، مجرم مؤاخذه کوي او پر مؤمن رحم کوي.
- هلته به ټول راغونډېږي، د الله په وړاندي به ودرېږي او په هغه ورځ به د ښه او بد تفکیك کېږي، د دوی تر منځ به فیصله کېږي او خلك به په ډلو ډلو وېشل کېږي.

یعني دا چي ته په خپلو سترګو ګورې چي دا عالم په سمه توګه پیدا شوی، باطل او بېهوده شی په هغه کي نشې موندلی، دا پخپله د دې تقاضا کوي چي باور وکړو له انسان سره د محاسبې او د ده د مکافات او مجازات لپاره حتماً یوه معینه ورځ په مخکي لرو، ځکه ګورو چي یو له دنیا مظلوم ځي، بل د ګناه له پیټي سره له دنیا وداع کوي، په داسي حال کي چي ظلم ئې کړی او د بل حق ئې تلف کړی، باید د هغه مظلوم پوښتنه وشي او له دې ظالم سره حساب، هغه چي د ګناه له پېټي سره تللی باید محاکمه او مجازات شي، که داسي نه وي نو معنی ئې دا ده چي دا دنیا عبث او بېهوده ده، چي یو څوك ظلم وکړي، د بل چا حق تلف کړي او له حق منحرف شي، خو د خپل عمل سزا و نه ګوري!! د

گناه دروند پېټي ئې پر اوږو او له ډېرو حق تلفيو او ظلمونو سره ولاړ شي، که د محاسبې لپاره د قيامت او د فصل او مکافات او مجازات ورځ نه وي، د دې معنی دا ده چې دا دنيا خوشې، عبث او بېهوده پيدا شوې، حال دا چې په دې عالم کې د يوې ذرې برابر بېهوده شی نه شو ښوولی.

إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ ٱلْأَثِيمِ ﴿٤٤﴾ كَٱلْمُهْلِ يَغْلِي فِي ٱلْبُطُونِ ﴿٤٥﴾ كَغَلْيِ ٱلْحَمِيمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوهُ فَٱعْتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّواْ فَوْقَ رَأْسِهِۦ مِنْ عَذَابِ ٱلْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾ ذُقْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْكَرِيمُ ﴿٤٩﴾ إِنَّ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِۦ تَمْتَرُونَ ﴿٥٠﴾

يقيناً چې د زقوم ونه د گنهگار خوراك دئ، لكه تور بوی ناك تېل چې په نس کې خوټېږي، د اېشېدلو اوبو د خوټېدلو په څېر، وئې نيسئ او د دوزخ لوري ته ئې کښ کړئ بيا ئې پر سر د تودو اوبو عذاب توی کړئ، وڅکه! يقيناً چې ته همدا ته ډېر عزتمن او مخور يې! يقيناً چې دا همغه څه دي چې تاسو ئې په اړه شك کولو.

(٤٣-٥٠)- دلته په دوزخ کې د هغو مغرورو کافرانو حالت انځور شوی چې ځان ئې تر نورو لوړ، عزتمن او مخور گڼلو: د دغو سترو سترو گنهگارانو خوراك به د زقوم له ونې وي، په داسې حال کې چې هغه به په تور بوی ناك تېل بدل شوی وي، په نس کې به خوټېږي، داسې خوټېدل لکه د اېشېدلو اوبو خوټېدل، د دوی په اړه به فرشتو ته امر وشي: وئې نيسئ او د دوزخ لوري ته ئې کښ کړئ بيا ئې پر سر د تودو اوبو عذاب توی کړئ، هلته به دوی ته ويل کېږي: وڅکه! يقيناً چې ته؛ همدا ته ډېر عزتمن او مخور يې! ته همغه يې چې ځان درته ډېر عزتمن او مخور برېښېدو، دا دوزخ او عذابونه ئې همغه څه دي چې تاسو ئې په اړه شك کولو.

إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾ فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾ يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٥٣﴾ كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾ يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَٰكِهَةٍ ءَامِنِينَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلْمَوْتَ إِلَّا ٱلْمَوْتَةَ ٱلْأُولَىٰ ۖ وَوَقَىٰهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٥٧﴾

يقيناً چې متقيان به په خوندي مقام کې وي، په جنتونو او چينو کې، د نازکو او پرېړو ورېښمو جامې به اغوندي، يو له بل سره مخامخېدونکي، همداسي او له حور عين سره به ئې جوړه کړو، په هغه کې به هر ډول مېوه په داسي حال کې غواړي چې ايمن به وي، هلته به له لومړي مړيني پرته بل مرگ نه څکي؛ او د دوزخ له اوره به ئې وساتي، ستا د رب له لوري يوه لورېينه، همدا ستره بريا ده.

(٥١-٥٧)- په دې مبارکو آيتونو کې په جنت کې د متقيانو حالت داسي انځور شوی: متقيان به په خوندي مقام کې وي، په جنتونو او چينو کې، له هري اندېښنې، غم، ستونزي او کړاو خوندي، جامې به ئې د نازکو او پرېړو ورېښمو وي، د خوږو دوستانو او ملگرو په څېر به يو بل ته مخامخ کښېني، تل به ئې حالت همداسي وي، مېرمني به ئې ښکلې وي، ښايست به ئې په ښکلو غټو سترگو کې څرگند وي، په هغه کې به دوی ته هره هغه مېوه وي چې دوی ئې غوښتنه وکړي، په داسي حال کې چې ايمن به وي، نه به د مېوو د ختمېدو اندېښنه او وېره لري او نه دا چې کوم ضرر به ورورسوي، هلته به له همغه لومړۍ مړيني پرته بل مرگ نه وي، الله تعالی به دوی د دوزخ له اور او د هغه له تاو او لوگي خوندي ساتي. د دې نعمتونو عظمت او حقيقي څرنگوالی له دې قياس کړه چې دا ټول به ستا د رب له لوري يوه لورېينه وي، يقيناً چې ستره بريا همدا ده.

فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ فَٱرْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾

نو يقيناً چې ستا پر ژبه مو آسان کړ چې پند واخلي، نو انتظار کوه چې دوی هم منتظر دي.

(٥٨-٥٩)- په دې مبارکو آيتونو کې پر دوو مطالبو ترکيز شوی: ١- الله تعالی دا قرآن د رسول الله صلی الله عليه و سلم پر ژبه آسان کړی د دې لپاره چې مخاطبين ئې پرې پوه شي او پند ترې واخلي، ٢- رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي: نو منتظر اوسه چې دوی هم منتظر دي. که د سورې ټولو آيتونو ته ځير شئ دا به درته جوته شي چې دغه دوه مطالب د ټولي سورې د بحث اساسي محورونه دي، قرآن د الله تعالی له لوري لېږل شوی، متن ئې گواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ٢- دا کتاب ځينو ته د برکتونو ډالۍ په لمن کې لري او ځينو ته د الهي عذاب گواښونه.

يوه ضروري يادونه:

په ځينو تفسيرونو کې د دې مبارکې سورې په اړه يو روايت تر سترگو کېږي چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د ابن صياد په نامه د يوه داسي يهودي ماشوم يادونه وشوه چې گواکي په غيب پوهېدو او عجيبي خبري ترې اورېدل کېدې، د هغه ليدني ته

ورغی او له ملاقات وروسته ئې ترې وپوښتل چې څه ګورې، بيا ئې ورته وويل: ما يو څه په زړه کې درته نيولي وواېه چې هغه څه دي، هغه ورته وويل: الدخ، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: غلط شوی يې، ګواکې رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه ته الدخان يا د الدخان د سورې کومه يرخه په زړه کې نيولې وو!! راشئ دا روايت په دقت سره له نظره تېر کړو او وګورو چې څومره د اعتناء او اعتبار وړ دئ: روايت داسې دئ:

حَدَّثَنَا عَبْدَانُ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الله عَنْ يُونُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ الله أَنَّ ابْنَ عُمَرَرضى الله عنهما أَخْبَرَهُ أَنَّ عُمَرَ انْطَلَقَ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم فِي رَهْطٍ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ، حَتَّى وَجَدُوهُ يَلْعَبُ مَعَ الصِّبْيَانِ عِنْدَ أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ، وَقَدْ قَارَبَ ابْنُ صَيَّادٍ الْحُلُمَ فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ لاِبْنِ صَيَّادٍ "تَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ الله". فَنَظَرَ إِلَيْهِ ابْنُ صَيَّادٍ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الأُمِّيِّينَ. فَقَالَ ابْنُ صَيَّادٍ لِلنَّبِيِّصلى الله عليه و سلم أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ الله فَرَفَضَهُ وَقَالَ آمَنْتُ بِالله وَبِرُسُلِهِ. فَقَالَ لَهُ "مَاذَا تَرَى". قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "خُلِّطَ عَلَيْكَ الأَمْرُ "ثُمَّ قَالَ لَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "إِنِّي قَدْ خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا". فَقَالَ ابْنُ صَيَّادٍ هُوَ الدُّخُّ. فَقَالَ "اخْسَأْ، فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ". فَقَالَ عُمَرُ رضى الله عنه دَعْنِي يَا رَسُولَ الله أَضْرِبْ عُنُقَهُ. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم "إِنْ يَكُنْهُ فَلَنْ تُسَلَّطَ عَلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْهُ فَلاَ خَيْرَ لَكَ فِي قَتْلِهِ". وَقَالَ عَبْدُ الله بْنِ عُمَرَ رَضِىَ الله عَنْهُمَا: انْطَلَقَ بَعْدَ ذَلِكَ رَسُولُ الله صلى الله عليه و سلم، وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ إِلَى النَّخْلِ الَّتِي فِيهَا ابْنُ صَيَّادٍ، وَهُوَ يَخْتِلُ أَنْ يَسْمَعَ مِنِ ابْنِ صَيَّادٍ شَيْئًا، قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ ابْنُ صَيَّادٍ، فَرَآهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم وَهُوَ مُضْطَجِعٌ ـ يَعْنِي فِي قَطِيفَةٍ لَهُ فِيهَا رَمْزَةٌ أَوْ زَمْرَةٌ ـ فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَيّادٍ رَسُولَ الله صلى الله عليه و سلم، وَهُوَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ، فَقَالَتْ لابْنِ صَيَّادٍ: يَا صَافِ، وَهُوَ اسْمُ ابْنِ صَيَّادٍ، هَذَا مُحَمَّدٌ صلى الله عليه و سلم، فَثَارَ ابْنُ صَيَّادٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه و سلم: "لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ". (بخارى: ١٣٥٤، ١٣٥٥)

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روايت دئ چې وايي: عمر رضی الله عنه له رسول الله صلى الله عليه و سلم او يوې ډلې سره ابن صياد ته ورغی، وئې ليدل چې هغه د بني مغاله (د انصارو يوه کورنۍ) د غونډيو خوا ته له ماشومانو سره لوبې کوي، ابن صياد دغه

مهال بلوغ ته نژدې شوی وو، تر هغه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ورتگ پوه نه شو چې په خپل لاس ئې (پر اوږه) وواهو، بیا ئې ابن صیاد ته وفرمایل: (آیا په دې گواهي ورکوې چې زه د الله رسول یم)؟ ابن صیاد ورته وکتل او وئې ویل: شهادت ورکوم چې ته د امیانو (نالوستو) رسول یې، بیا ابن صیاد رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: آیا ته پدې شاهدي ورکوې چې زه د الله رسول یم؟ خبره ئې وررد کړه او وئې فرمایل: (زه په الله تعالی او رسولانو ئې ایمان لرم)، بیا ئې ورته وفرمایل: (ته څه وینې؟) ابن صیاد وویل: کله رښتینی او کله دروغجن (خبر) راته راځي، رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (خبره درباندې مغشوشه شوې ده) بیا نبي صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: (ما څه درته پټ کړي (په زړه کې مې څه نیولي) ووایه هغه به څه وي)؟، (ویل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د دخان سورې څه برخه په زړه کې ورته نیولې وه)، ابن صیاد ورته وویل: هغه (الدخ) دئ، نبي صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (خوار شې، له خپل حده نشې وتلی)، نو عمر رضی الله عنه وویل: یا رسول الله! اجازه راکړه چې غاړه ئې ووهم، رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: (که هغه په رښتیا دجال وي، نو وس دې نه پرې رسي او که دجال نه وي نو وژل ئې گټه نه درته لري).

په بل روایت کې دا هم راغلي: او عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وايي: له دې وروسته رسول الله صلی الله علیه و سلم او ابی بن کعب رضی الله عنه د خرما هغه باغ ته لاړل چې ابن صیاد په کې وو، غوښتل ئې هغه غافل ومومي او په پټه څه ترې واوري، مخکې له دې چې ابن صیاد ئې ووینې، رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه په داسې حال کې ولید چې په خپل څادر کې پروت دئ او زمزمه ترې اورېدل کېږي، د ابن صیاد مور رسول الله صلی الله علیه و سلم ولید چې د خرما د ونو شا ته ځان پټوي، نو ابن صیاد ته ئې وویل: اې صاف! دا د ابن صیاد اصلي نوم وو)، دا دئ محمد (صلی الله علیه و سلم)! نو ابن صیاد را پورته شو. بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (که ئې پرېښی وی نو حال به ئې څرگند شوی وو).

دا روایت په بخاري کې څلور ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۲٦۳۸، ۳۰۳۳، ۳۰۵٦، ٦۱۷٤ چې تر منځ ئې دا توپیرونه دي: په یوه کې انْطَلَقَ رَسُولُ الله صلی الله علیه و سلم وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ الأَنْصَارِيُّ يَؤُمَّانِ النَّخْلَ الَّتِى فِيهَا ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کې انْطَلَقَ النَّبِىُّ صلی الله علیه و سلم وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ يَأْتِيَانِ النَّخْلَ الَّذِى فِيهِ ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کې انْطَلَقَ رَسُولُ الله صلی الله علیه و سلم وَمَعَهُ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ، فَحُدِّثَ بِهِ فِى نَخْلٍ، په یوه کې فَثَارَ ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کې فَتَنَاهَى ابْنُ صَيَّادٍ، په بل کې فَوَثَبَ ابْنُ صَيَّادٍ راغلي.

ځینو د دې روایت په شرحي کې لیکلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د دې لپاره ابن صیاد ته ورغلی وو چې پوه شي دی ساحر دئ، که کاهن دئ که دجال، ځکه په ده کې د دجال نښې لیدل شوې وې، یوه سترگه ئې ړنده یا د پړسېدلي انگور په څېر وه او رسول

الله صلى الله علیه و سلم گمان کاوو چي ښايي همدا به دجال وي)

دا روایات د سند له مخي داسي دئ چي په دريو طبقو کي يو يو راوي لري او په څلورمي کي درې راويان، د متن له پلوه څو اساسي ستونزي لري:

• قرآن وايي چي په آسمانونو او زمکي کي له الله تعالى پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي، نه انسان، نه فرشته، نه پېرى، نه کاهن، نه جادوگر، نه دجال او نه بل څوك، رسول الله صلى الله علیه و سلم په دې حقيقت تر بل هر چا ښه پوهېدو، څنگه به هغه يو ماشوم په دې امتحانولو چي په غيب پوهېږي که نه؟

• هيڅوك نشي کولى په دې پوه شي چي بل انسان کومه خبره په زړه کي پټه ساتلې ده، دا روايت وايي چي ابن صياد دومره پوه شوی وو چي د الدخان پر ځای الدخ ووايي. د قرآن د لارښونو له مخي په پرېکنده توگه ويلى شو چي نه دجال په دې پوهېږي چي د انسان په زړه کي څه دي او نه بل څوك، دا هغه څه دي چي موږ ته رسول الله صلى الله علیه و سلم راښودلي، هغه به څنگه دا گمان کولو چي که ابن صياد موعود دجال وي نو په غيب به پوه شي؟!!

دغو دلائلو ته په پام سره ويلى شو چي دا روايت قطعاً د اعتبار وړ نه دئ، پر دې سربېره زه د دې جسارت نشم کولى چي د الله تعالى د عظيم الشأن پيغمبر په اړه ووايم يا ئې ومنم چي هغه د بل چا باغ ته د هغه له اجازې پرته ورننوتى، په ونو کي پټ پټ مخکي تللى، چي ابن صياد ته ځان ورسوي او پوه شي چي هغه تر خپل څادر لاندي څه کوي او څه وايي!! که احياناً دا ومنو چي په داسي مواردو کي دا دواړه کارونه (د بل له اجازې پرته د هغه باغ ته ننوتل او تجسس کول) جائز دي، نو آيا د ابن صياد د نه خبرېدو په صورت کي به کوم حقيقت جوت شوی وو؟! هغه به څه وو؟ آيا عمر رضى الله عنه ته د رسول الله صلى الله علیه و سلم دا وينا چي که هغه دجال وي نو ته پرې غالبېدى نشې او که نه وي وژل ئې تا ته څه گټه نه لري، په دې معنى نه ده چي رسول الله صلى الله علیه و سلم له هغه ملاقات وروسته هم ابن صياد ونه پېژندو چي دى همغه موعود دجال دئ که نه؟!! آيا دا وينا د منلو وړ ده؟! که د ابن صياد قصه رښتيا وى نو له لسگونو صحابه وو به دا خبره روايت شوې وه، ولي يوازي يوه کس ته منسوب شوې؟!

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# الجاثیه

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الجاثیه) دئ چې د سورې له ۲۸ آیت اخیستل شوی، ۳۷ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د دوهم آیت (الحکیم)؛ او د څلورم آیت (یوقنون) ته ورته دي، د آیتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په منځنیو کلونو کې نازل شوي. داسي معلومېږي چې دا سوره تر الدخان ډېر وروسته او په هغو ظروفو او شرائطو کې نازله شوې چې تر الدخان وړاندي څلور سورتونه په کې نازل شوي، د آیتونو اوږدوالی او د سورې مضامین همدا راښيي، دې ته مو پام وي چې د هري سورې د آیتونو له اوږدوالي تر ډېره حده معلومېږي چې کله نازله شوې، د ابتدائي کلونو سورتونو آیتونه معمولاً لنډ لنډ دي او هر څومره چې کومه سوره وروسته نازله شوې نو آیتونه ئې ورو ورو اوږده شوي، د الجاثیه د سورې آیتونه تر پنځو مخکینیو سورتونو اوږده دي.

دا سوره هم د (حاء) او (میم) په دوو مقطعاتو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسي دئ لکه په همداسي دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي:
۱- قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چې (عزیز) او (حکیم) دئ، متن ئې گواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲- په آسمانونو او زمکې کې د هغو لپاره گڼ شمېر څرگندي نښې او دلائل دي چې ایمان راوړونکي دي، دا څرگندي نښې دوی ته ښيي چې د دې کتاب رالېږونکی رب عزیز او حکیم دئ. د دې مضامینو خلاصه د سورې په وروستیو دوو آیتونو کې په دې توگه راغلي: فَلِلَّهِ ٱلۡحَمۡدُ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٦ وَلَهُ ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣٧: نو ستاینې د عالمونو هغه رب ته دي چې هم د آسمانونو رب دئ او هم د زمکې رب؛ او په آسمانونو او زمکې کې لویي ده ته مختص ده او هغه باحکمت عزتمن دئ. هغه ذات چې یو صفت ئې رب (پالونکی) دئ او د ټول عالم پالنه کوي، د دغه صفت تقاضا دا ده چې انسان مهمل پرې نږدي او د هغه د پالني او روزني لپاره لارښود کتاب ولېږي، قرآن د الله تعالی د دغه صفت مظهر دئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ۝٢ إِنَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٣ وَفِي خَلۡقِكُمۡ وَمَا يَبُثُّ مِن دَآبَّةٍ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ
يُوقِنُونَ ۝٤ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزۡقٖ
فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَتَصۡرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ۝٥ تِلۡكَ
ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَ ٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ يُؤۡمِنُونَ
۝٦

حاء میم، د دې کتاب لېږنه د باحکمت عزتمن الله له لوري ده، یقیناً چې په آسمانونو او زمکې کې حتماً د ایمان راوړونکو لپاره ښکاره خرګندې نښې دي؛ او ستاسو په پیدایښت کې او په هغو خوځېدونکو ژوو کې چې خوروي ئې د یقین کوونکو لپاره څرګندې نښې دي؛ او د شپې او ورځې په اختلاف او په هغه څه کې چې الله د رزق په توګه له آسمان نازل کړی او په هغه سره ئې زمکه له خپلې مړینې وروسته ژوندۍ کړې او د بادونو په لګېدلو کې د هغو وګړو لپاره څرګندې نښې دي چې تعقل کوي، دا د الله آیتونه دي چې پر تا ئې په رښتیني توګه لولو، نو د الله له وینا او د ده له آیتونو وروسته به په کومې وینا ایمان راوړي؟!

(۱-۹)- د دې مبارکو آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره باید دا خبرې په پام کې ولرئ:

• دا سوره هم د (حاء) او (میم) په دوو مقطعاتو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي:
۱- قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چې (عزیز) او (حکیم) دئ، متن ئې ګواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲- په آسمانونو او زمکې کې د هغو لپاره ګڼ شمېر څرګندې نښې او دلائل دي چې ایمان راوړونکي دي، دا څرګندې نښې دوی ته ښیي چې د دې کتاب رالېږونکی رب عزیز او حکیم دئ. د دې مضامینو خلاصه د سورې په وروستیو دوو آیتونو کې په دې توګه راغلي : فَلِلَّهِ ٱلۡحَمۡدُ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلۡأَرۡضِ رَبِّ

ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٦ وَلَهُ ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣٧: نو ستايني د عالمونو هغه رب ته دي چي هم د آسمانونو رب دئ او هم د زمكي رب؛ او په آسمانونو او زمكي كي لويي ده ته مختص ده او هغه باحكمت عزتمن دئ.

- په آسمانونو او زمكي كي هر لوري ته داسي بې شمېره څرګندي نښي تر سترګو كېږي چي د ايمان راوړونكو د هدايت لپاره كافي دي. ستاسو په پيدايښت كي او د هغو ژوو په پيدايښت كي چي الله تعالى ئې په زمكي كي خوروي د هر يقين كوونكي لپاره څرګندي نښي دي، د هر ژوي پيدايښت په څرګنده توګه او په جګ ږغ ګواهي وركوي چي حتماً يو ژوندى خالق لري. د يوه ژوي په پيدايښت كي دومره ژور، پراخ او بې شمېره علمي اساسات مراعات شوي چي له يوه عليم، قدير او خلاق رب پرته ئې بل څوك له پيدا كولو عاجز دئ، كه تاسو له يوه داسي ساينسپوه پوښتنه وكړئ چي د انسان د بدن د سلول په اړه ئې تحقيق كړى او ورته ووايئ: انسان ولي د يوه ژوندي سلول له پيدا كولو عاجز دئ؟ هغه به درته ووايي: موږ لا تر اوسه د انسان يو سلول په دقيقه توګه پېژندلى نه دئ پيدا كول خو ئې لري پرېږده، ساينس د شلمي پېړۍ په پاى كي د انسان په سلول كي د DNA په نامه داسي وړوكى توكى پيدا كړ چي يوازي د سترو مايكروسكوپونو په مرسته ليدل كېدى شي خو په همدې وړوكي توكي كي د انسان د بدن د هر غړي په اړه دومره معلومات ثبت شوي چي په يوه ستر كتابتون كي نه ځائېږي. له همدغه وړوكي DNA دا معلومات تر لاسه كېدى شي چي د خاوند سترګي ئې څنګه دي، د وېښتانو، جلد او نوكانو رنګ ئې څنګه دئ؛ او د هغه نور خصوصيات او ځانګړتياوي.
- د شپې او ورځي منظم تګ راتګ، يوه په بلي پسي، له خپلو ټولو توپيرونو سره، داسي چي د زمكي پر سر ژوي ورته ضرورت لري، په همدې سره په زمكي كي د ژوند لازمي شرائط برابرېږي، كه داسي نه وي نو د زمكي پر سر د ژوند امكان له منځه ځي، له آسمان د هغه باران ورېدل چي د ژوو لپاره د اساسي رزق حيثيت لري او په هغه سره زمكه له خپلي مړيني وروسته راژوندۍ كېږي، د بادونو په لګېدلو كي چي په هوا كي تعادل رامنځته كوي، ورېځي له يوې سيمي بلي ته انتقالوي او نباتات القاح كوي، په دې ټولو كي د هغو وګړو لپاره څرګندي نښي دي چي تعقل كوي، دا هغه دلائل دي چي الله تعالى ئې د خپل لارښود كتاب له لاري تاسو ته اوروي، هره وينا ئې رښتينې، كه څوك په دغو څرګندو دلائلو نه قانع كېږي نو آيا تر دې وروسته به داسي وينا پيدا شي چي هغه پرې قانع شي او ايمان راوړي؟! نو د الله له وينا او د ده له آيتونو وروسته به په كومي وينا ايمان راوړي؟!

وَيۡلٌ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ٧ يَسۡمَعُ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٨ وَإِذَا عَلِمَ مِنۡ ءَايَٰتِنَا شَيۡـًٔا ٱتَّخَذَهَا

هُزُوًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ٩ مِّن وَرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُۖ وَلَا يُغۡنِي عَنۡهُم مَّا
كَسَبُواْ شَيۡـٔٗا وَلَا مَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ١٠
هَٰذَا هُدٗىۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٌ ١١

افسوس د هر ډېر دروغجن گنهگار په حال، د الله آيتونه اوري چې پرې لوستل کېږي بيا د داسي لويي غوښتونکي په توګه اصرار کوي چې ګواکي هغه ئې نه دي اورېدلي، نو د دردناك عذاب زېری ورکړه؛ او کله چې زما له آيتونو په کوم څه پوه شي ملنډې پرې وهي، همدا دوی ته سپکوونکی عذاب دئ، تر شا ئې دوزخ، په داسي حال کي چې نه به د دوی لاسته راوړني هيڅ څه ترې دفع کړی شي او نه هغه چې له الله پرته ئې اولياء نيولي؛ او دوی ته ستر عذاب دئ. دا يوه لارښوونه ده؛ او هغه چې د خپل پالونکي رب د آيتونو په اړه کفر کوي دوی ته د اضطراب دردناك عذاب دئ.

---

(٧-١١)- په دې مبارکو آيتونو کي ويل شوي:

- د هر هغه ډېر دروغجن گنهگار په حال افسوس چې د الله آيتونه پرې لوستل کېږي او دی ئې اوري خو بيا ئې تکبر او د لويي لټه دې ته هڅوي چې پر خپل کفر اصرار وکړي او د دغو الهي آيتونو په اړه ئې چلن داسي وي لکه چې هغه ئې اصلاً نه وي اورېدلي، ښايي دوی به له دې چلن کومه طمع لري، لويي ته د رسېدو طمع، خو برخليك ئې دا دئ چې د دردناك عذاب زېری ورکړی شي.
- دا مغرور دروغجن کله چې د الله تعالی له آيتونو په کوم څه پوه شي نو ملنډې پرې وهي، همدا دوی ته په دنيا کي سپکوونکی عذاب دئ او ورپسې په آخرت کي دوزخ، په داسي حال کي چې نه به د دوی لاسته راوړني کوم څه ترې دفع کړی شي او نه هغه چې له الله تعالی پرته ئې اولياء نيولي وو، دوی ته ستر عذاب دئ.
- دا يوه الهي لارښوونه ده، ټولو ته د سعادت او نجات لار ښيي، څوك چې د خپل پالونکي رب د آيتونو په اړه کفر کوي دوی ته د اضطراب دردناك عذاب دئ. دوی به تل په سخت اضطراب او پرېشانۍ کي ژوند کوي، همدا اضطراب به د دوی لپاره دردناك عذاب وي.

---

ٱللَّهُ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡبَحۡرَ لِتَجۡرِيَ ٱلۡفُلۡكُ فِيهِ بِأَمۡرِهِۦ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن
فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٢ وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي

ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾

الله هغه ذات دئ چې تاسو ته ئې سمندر داسې مسخر کړی چې د ده په امر کشتۍ په کې رواني شي، چې د ده فضل ولټوئ او چې شکر وکړئ. او تاسو ته ئې ټول هغه څه مسخر کړل چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په زمکه کې دي، يقيناً په دې کې هغه قوم ته نښې دي چې تفکر کوي.

(۱۲-۱۳)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- الله تعالی هغه ذات دئ چې سمندر ئې تاسو ته داسې مسخر کړی چې کشتۍ په کې تلی شي، له هغو ضوابطو او سننو سره سم چې الله تعالی وضع کړي، دا د دې لپاره چې د خپل منعم رب فضل ولټوئ او شکر ئې پر ځای کړئ.
- تاسو ته ئې ټول هغه څه مسخر کړل چې په آسمانونو او زمکې کې دي.
- يقيناً چې په دې کې هغه قوم ته نښې دي چې تفکر کوي.

دا مبارك آيتونه وايي چې د زمکې او آسمانونو هر څه انسان ته مسخر شوي، يعني دا ټول عالم د فرشتو په شمول د ده په خدمت کې دي، د ټول عالم دا موجود نظم په دې منتج شوی چې انسان وکولی شي د زمکې پر سر ژوند وکړي. او دا همغه مطلب دئ چې د انسان په وړاندې د فرشتو سجده ئې افاده کوي، د عالم هر څه به په هغه صورت کې انسان ته مسخر وي چې سمبالوونکې فرشتې ئې انسان ته منقادې وي، له دې معلومېږي چې دا د آدم عليه السلام په وړاندې د فرشتو سجده او انقياد يوازې د ده لپاره نه وو بلکې د ده د اولاد لپاره هم وو.

موږ عملاً ګورو چې د کوم کار اراده کوو، که له زمکې ډېره را پورته کوو، له ونې مېوه راشکوو، له ډېرو اوسپنه راباسو او موټرې او جهازونه ترې جوړوو، زموږ په ټولو کړو وړو کې فرشتې زموږ له ارادې سره سم خوځېږي او په دې ترتيب موږ ته د هغه کار د تر سره کولو توفيق را په برخه کېږي چې د کولو اراده ئې کوو، که داسې نه وی نو انسان به د جماداتو په څېر وو او په خپله خوښه به ئې د کوم کار د کولو توان او قدرت نه درلود.

قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَغۡفِرُواْ لِلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ أَيَّامَ ٱللَّهِ لِيَجۡزِيَ قَوۡمَۢا بِمَا كَانُواْ
يَكۡسِبُونَ ﴿١٤﴾ مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ
تُرۡجَعُونَ ﴿١٥﴾

هغو ته چې ايمان ئې راوړی ووايه: هغو ته دې بخښنه وکړي چې د ايام الله طمع نه لري، د دې لپاره چې يوه قوم ته د هغه څه له کبله بدله ورکړي چې کولو ئې، څوك

چې نېك عمل وکړي نو ګټه ئې د ده لپاره ده او څوك چې بد وکړي نو تاوان ئې پر ده دئ، بیا به د خپل رب لوري ته ګرځول کېږئ.

(۱٤-۱۵)- په دې مبارکو آیتونو سره رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې مؤمنانو تهووایي:

- هغو ته بخښنه وکړئ چې الهي مکافات او مجازات ته طمع نه لري او د هغو سترو سترو ورځو راتلو هیله نه لري چې الله تعالی مؤمنان ژغورلي او کافران ئې په شدید الهي عذاب اخته کړي، هغه الهي ورځې چې د تاریخ په اوږدو کې په وار وار تکرار شوې، تاسو د دوی د هدایت او اصلاح په هیله خپل دعوت ته دوام ورکړئ، دا الله تعالی ته پرېږدئ چې له تاسو او له دوی سره څه کوي، مطمئن اوسئ چې الله تعالی هر چا ته د خپلو کړنو مناسبه بدله ورکوي. که څه هم ځینو درنو مفسرینو داسې انګېرلې چې دا حکم د جهاد له فرضیت وړاندې وو او د جهاد په حکم سره منسوخ شوی، خو حقیت دا دئ چې دا حکم نه یوازې منسوخ شوی نه دئ بلکې تل ورته ضرورت دئ، هر مسلمان مکلف دئ د هغه چا په وړاندې د دې الهي لارښوونې مطابق عمل وکړي چې ایام الله ته طمع نه لري، تل باید د خلکو د هدایت هیله ولري، د مخاطب د جهالتونو په وړاندې له اغماض، عفو او صبر کار واخلي، د هغه چا غلطي ویناوې او انګېرنې ئې بې حوصله نه کړي چې د ایام الله راتلو طمع او هیله نه لري، داسې خلك نه یوازې په کافرانو کې ډېر دي بلکې په هغو کې هم شته چې ځان ته مؤمن وایي.
- هر چا ته به د خپل نېك او بد عمل مناسبه او عادلانه بدله ورکول کېږي، څوك چې نېك عمل وکړي ګټه ئې ده ته رسېږي او څوك چې بد وکړي تاوان ئې ده ته رسېږي، بیا به تاسو ټول د خپل رب لوري ته ګرځول کېږئ.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ
وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ وَءَاتَيْنَٰهُم بَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ فَمَا ٱخْتَلَفُوٓاْ إِلَّا
مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ بَغْيَۢا بَيْنَهُمْ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ
فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٧﴾

او یقیناً چې بني اسرائیلو ته مو کتاب، حکم او نبوت ورکړ؛ او پاکیزه پاکیزه رزق مو ورکړ او پر ټولو عالمیانو مو فضیلت ورکړ؛ او څرګند احکام مو ورکړل، نو اختلاف ئې ونه کړ مګر له هغه وروسته چې پوهه ئې په برخه شوه، په خپلو کې د تېرې له کبله، یقیناً چې ستا رب به د قیامت په ورځ د هغه څه په اړه پرېکړه کوي چې دوی په

کې اختلاف کولو.

(۱۶-۱۷)- په دې مبارکو آیتونو کې د مخکیني مطلب لپاره یوه تاریخي بېلګه وړاندې شوې، د فرعون له منګولو د بني اسرائیل ژغورنه او پر ټولو نړۍ والو هغوی ته فضیلت ورکول د ایام الله یوه څرګنده او نه هېرېدونکې بېلګه ده، په دې اړه ویل شوي: الله تعالی بني اسرائیلو ته کتاب، حکم (واکمني) او نبوت ورکړ، لارښود کتاب ئې په برخه شو، له غلامۍ وژغورل شول او واکمني ورکړی شوه، ګڼ شمېر انبیاء په دوی کې مبعوث شول، پاکیزه رزق ورکړی شو، پر ټولو نړۍ والو ئې فضیلت او غوره والی په برخه شو؛ او څرګند احکام ورکړی شول، نن چې ته دوی سپك او ذلیل او په اختلافاتو کې غرق ګورې دا له پوهې وروسته اختلاف او د نورو پر حق د تېرې له عزم راولاړ شوی اختلاف دئ، الله تعالی به د قیامت په ورځ د هغه څه په اړه پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کولو.

ثُمَّ جَعَلْنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ فَٱتَّبِعۡهَا وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُمۡ لَن يُغۡنُواْ عَنكَ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۚ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۖ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾ هَٰذَا بَصَٰٓئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ﴿٢٠﴾

بیا مو ته د دغه کار په یوې تګلارې (مأمور) وګرځولې، نو متابعت ئې وکړه او د هغو د هوسونو متابعت مه کوه چې نه پوهېږي، یقیناً چې هغوی د الله هیڅ څه له تا نشي دفع کولی؛ او یقیناً چې ظالمان داسې دي چې ځیني ئې د ځینو نورو دوستان دي او الله د متقیانو مولا دئ، دا د خلکو لپاره د بصیرت اسباب او د هغو لپاره لارښود او رحمت دئ چې یقین کوي.

(۱۸-۲۰)- دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي:

- له مخکینیو پیغمبرانو وروسته مو تا ته دغه مأموریت وسپارو او ځانګړې تګلاره مو درته وټاکله، نو د دغه الهي شریعت او تګلارې متابعت کوه؛ او د هغو د هوسونو متابعت مه کوه چې نه پوهېږي، داسې نه چې د دوی له هوسونو راټوکېدلې غوښتنې ومنې او د ژوند په کومې برخې کې داسې تګلاره غوره کړې چې منشأ ئې الهي لارښوونه نه بلکې د خلکو هوس او نفسي غوښتنې وي، هغه هم په دې موخه چې د دوی ملګرتیا به تا او ستا دعوت ته ښایي کومه ګټه ورسوي!! دوی نه ستا په وړاندې د الله تعالی د پېرزوینو مانع کېدی شي او نه د الله تعالی عذاب درنه دفع کولی شي، تل به ظالم د ظالم ملګرتیا کوي او

الله تعالی به د متقیانو مولا وي.

- دا قرآن د ټولو خلکو لپاره رڼا ده، سترګې ئې ورپرانیزي او د بصیرت اسباب په لاس ورکوي؛ او د هغو لپاره لارښود او رحمت دئ چې یقین کوي، له لارښوونو ئې هغه ګټه اخیستی شي او د الهي رحمت دروازې ئې پر مخ پرانیزي چې باورمن وي او پر حقائقو د ایمان او باور کولو اهلیت لري.

أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجۡتَرَحُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجۡعَلَهُمۡ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءٗ مَّحۡيَاهُمۡ وَمَمَاتُهُمۡۚ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٢١﴾

آیا هغه چې بد کارونه ئې تر سره کړي ګمان کوي چې د هغو په څېر به ئې وګرځوو چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، داسې چې د دوی ژوند او د دوی مرګ به سره برابر وي؟! څومره بد حکم دئ چې دوی ئې کوي.

(۲۱)- دا مبارك آیتونه وایي: آیا هغه خلك چې بد کارونه ئې تر سره کړي ګمان کوي چې الله تعالی به ئې د هغو په څېر وګرځوي چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او د دواړو ژوند او مرګ به سره ورته او یو شان کړي؟! څومره بد قضاوت او څومره غلطه انګېرنه!! دا دواړه د هیڅ معیار له مخې برابر نه دي، الله تعالی به نه په دنیا کې له دواړو سره یو شان معامله کوي او نه په آخرت کې.

وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَلِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٢٢﴾

او الله آسمانونه او زمکه پر حق مبتني پیدا کړي او په دې موخه چې هر ساکښ ته د هغه څه له مخې بدله ورکړی شي چې کړي ئې دي په داسې حال کې چې پر دوی به ظلم نه کېږي.

(۲۲)- په دې مبارك آیت کې د مخکنۍ غلطې انګېرنې د مزید تردید لپاره ویل شوي: الله تعالی آسمانونه او زمکه سم او د حق مطابق پیدا کړي، دلته یو رښتینی او پر حق او عدالت ولاړ نظام حاکم دئ، له هر چا سره د حق او عدالت له مخې معامله کېږي، د عالم د پیدایښت یوه موخه دا ده چې هر چا ته د هغه څه له مخې بدله ورکړی شي چې کړي ئې دي په داسې حال کې چې پر دوی به ظلم نه کېږي. نه به د کافر، عاصي او باغي په اړه ظلم کېږي او نه د مؤمن، صالح او متقي په اړه، هر یو به د خپل عمل سمه او حقیقي بدله تر لاسه کوي. دلته د دې امکان نشته چې له کافر او مؤمن، صالح او طالح، ظالم او

مظلوم سره يو ډول معامله وشي.

أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ ٱللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾

نو آيا هغه دې وليد چې خپل هوس ئې اله نيولی او الله په پوهې سره هغه لار ورکې کړ؛ او د هغه پر غوږونو او زړه ئې مهر ولګولو او د ده پر سترګو ئې پرده غوړولې، نو له الله وروسته به ئې څوک هدايت کړي، آيا پند نه اخلئ؟!

(۲۳)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- آيا هغه څوك پېژنې چې د خپل نفس بنده دئ، خپل هوس ئې اله او معبود نيولی او الله تعالی د خپل هغه علم له مخې چې د ده په اړه ئې لري لار ورکې کړ، دا پرېکړه ئې وکړه چې دا د نفس بنده دې په سمې لارې له تلو محروم وي، د هغه پر غوږونو او زړه ئې مهر ولګولو او د ده پر سترګو ئې پرده وغوړوله، دی د همدې وړ وو، الله تعالی د دې وړ ومونډو، نو آيا اوس به له الله تعالی پرته داسې څوك پيدا شي چې دا تېروتی او له الهي توفيق محروم انسان هدايت کړي؟! آيا پند نه اخلئ؟! د دې آيت د(عَلَىٰ عِلْمٍ) فقره په يوې بلې بڼې کې هم تعبير شوې چې د آيت له سياق سره اړخ نه لګوي او هغه دا چې الله تعالی دا انسان په داسې حال کې تېروتی کړ چې څه علم ئې هم درلود.
- لکه چې ګورئ دلته داسې چا ته د نفس بنده ويل شوي چې خپل هوس ته تسليم دئ، هغه څه وايي او هغه څه کوي چې د ده هوس ئې خوښوي، ويل شوي چې هوی او هوس ئې اله (معبود) دئ او دی ئې لمانځونکی او عابد، د دې معنی دا ده چې د قرآن په قاموس کې (اله) هغه چا ته ويل کېږي چې انسان ئې اوامرو او احکامو ته غاړه ږدي او په لارښوونو ئې عمل کوي، الله تعالی ته د يوازيني (اله) په سترګه کتل او دا ويل چې له ده پرته بل (اله) نشته دا معنی لري چې زه د الله تعالی د ټولو اوامرو اطاعت کوم، له ده پرته داسې څوك نه منم چې د هغه د اوامرو اطاعت پر ځان لازم ګنم، که له ده پرته د چا اطاعت کوم نو يوازې په هغه صورت کې چې د هغه اطاعت په اصل کې د الله تعالی اطاعت وي، څوك چې په خوله وايي: لا إله إلا الله: له الله پرته بل إله نشته، خو په عمل کې نه د الله تعالی د اوامرو اطاعت کوي او نه ئې په لارښوونو عمل، هغه دروغجن دئ او دا کلمه ئې د الهي معيارونو له مخې هيڅ ارزښت او وزن نه لري.

وَقَالُواْ مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ وَنَحۡيَا وَمَا يُهۡلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهۡرُۚ وَمَا لَهُم
بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ مَّا
كَانَ حُجَّتَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱئۡتُواْ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلِ ٱللَّهُ
يُحۡيِيكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يَجۡمَعُكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾

او وئې ويل: (حقيقت) له دې پرته بل څه نه دئ چې يوازې همدا زمونږ دنيايي ژوند دئ، مرو او راژوندي کېږو او له زمانې پرته مو بل څه نه مړوي، په داسي حال کې چې په دې اړه هيڅ علم نه لري، دوی هسي گمان کوي. او کله چې زما څرگند آيتونه پرې ولوستل شي نو له دې پرته ئې بل حجت نه وي چې وايي: که رښتيني يئ نو زمونږ پلرونه راولئ، ووايه: الله مو ژوندي کوي بيا مو مړوي بيا مو د قيامت هغې ورځې ته راغونډوي چې هيڅ شك په کې نشته خو ډېری خلك نه پوهېږي.

(۲٤-۲٦)- دا مبارك آيتونه موږ ته لارښوونه کوي چې دهري څوك دئ او هغه د مرگ او ژوند په اړه څه وايي، په دې توگه:

د قيامت منکرين وايي: له دې اوسني ژوند پرته بل ژوند نشته، همدلته مرو او همدلته راژوندي کېږو، له دهر (زمانې) پرته مو بل څه نه مړوي، زموږ مرگ او ژوند په همدې دنيا او زمانې پوري تړلی دئ، دا نه منو چې زموږ د ژوند او مرگ پرېکړه د الله له لوري کېږي، په داسي حال کې دا خبره کوي چې په دې اړه هيڅ علم نه لري، دوی هسي گمان کوي، څوك چې له قيامت او بياژوندون انکار کوي او مرگ ژوند دهر او طبيعت ته منسوبوي، دوی په حقيقت کې ناپوه او له حقيقت بې خبر دي، د دوی دا تصور او انگېرنه هيڅ علمي بنسټ نه لري، هسي خيال، وهم او گمان دئ. کله چې د بياژوندون په اړه د الله تعالی څرگند آيتونه پرې ولوستل شي، هغه قاطع او انکار نه منونکي دلائل ئې مخې ته کېښودل شي چې قيامت او بياژوندن ثابتوي نو دوی له دې پرته بل حجت او دليل نه لري چې وايي: که رښتيني يئ نو زموږ پلرونه راولئ!! يعني کوم مړی راژوندی کړئ، دا په داسي حال کې چې هره شېبه له مړې خاورې د ژوو راپيدا کېدل په خپلو سترگو گوري، ښه پوهېږي چې د ژوند او مرگ پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، نه څوك د چا د ژوند پرېکړه وړاندې او وروسته کولی شي او نه د مرگ، د چا د مرگ نېټه چې راورسېږي نو که ټول نړۍ وال راغونډ شي هغه له مرگ نشي ژغورلی او د مرگ نېټه ئې يوه شېبه نشي ځنډولی، آيا هغه څوك چې سل کاله وروسته به پيدا کېږي څوك کولی شي نن ئې پيدا

کړي؟ آیا څوك کولی شي یو ژوندی سلول پیدا کړي، یوه بکتریا پیدا کړي، د یوه بوټي یوه پاڼه پیدا کړي؟ که دا نشي کولی نو څنګه ژوند او مرګ دهر ته منسوبوي؟!! د کوم ذات په واك کې چې ستاسو ژوند او مرګ دئ هغه به مو د قیامت هغې ورځې ته راغونډوي چې هیڅ شك په کې نشته خو ډېری خلك نه پوهېږي.

لکه چې ګورئ قرآن کریم دا تصور چې مرګ په زمانې پورې تړي او د مرګ نسبت دهر ته کوي؛ باطل او کفري تصور ګڼي، له بل لوري رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: الله تعالی فرمایلي: بني آدم مې دهر (زمانې) ته په ښکنځلو سره ځوروي، دهر زه یم، امور زما په واك کې دي، شپه او ورځ بدلوم رابدلوم، يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ، يَسُبُّ الدَّهْرَ، وَأَنَا الدَّهْرُ، بِيَدِي الأَمْرُ، أُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ،ګورئ چې دلته الله تعالی فرمایلي: (أنا الدهر: زه دهر یم)، د دې وینا مطلب دا دئ: هغه څه چې تاسو د دهر په نامه یادوئ او ښه او بد هغه ته منسوبوئ هغه په حقیقت کې زه یم، د دې وینا مطلب دا نه دئ چې الله تعالی په خپله زمانه دئ یا ئې نوم الدهر دئ، بلکې مطلب او مراد ئې دا دئ چې: دهریون حوادث او پېښې زمانې ته منسوبوي، حال دا چې دا د الله تعالی کار دئ نه د دهر، هغه چې پېښو ته د طبیعي او تصادفي پېښو په سترګه ګوري، ګمان کوي چې پېښې په خپله او په تصادفي شکل واقع کېږي، ښه او بد د زمانې له لوري بولي، له همدې امله ډېر ځله زمانه محکوموي او ښکنځلې ورته کوي، د زمانې له ناوړه پېښو شکایتونه او ګیلې کوي، پداسې حال کې چې د پېښو مدبر او متصرف قدیرخدای دئ، هرکار د ده په امر او اراده او د خاصو سننو او ضوابطو مطابق تر سره کېږي، زمانې ته بد ویل او ښکنځلې ورته کول؛ په حقیقت کې خدای ته د بد ویلو مترادف دي.

---

وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَخْسَرُ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿٢٧﴾

او د آسمانونو او زمکې ټولواکي د الله ده؛ او کومه ورځ چې قیامت قائم شي په دې ورځ به باطلپال تاواني شي.

---

(۲۷)- دا مبارك آیت وايي: د آسمانونو او زمکې ټولواکي د الله ده، د قیامت په ورځ به د قیامت باطلپال منکرین د دې ټولواکۍ حقیقت په خپلو سترګو وګوري، هغه به پوه شي چې په دې انکار سره ئې څومره تاوان کړی او له څنګه شوم برخلیك سره ئې مخامخ کړی.

---

وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰٓ إِلَىٰ كِتَٰبِهَا ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ هَٰذَا كِتَٰبُنَا يَنطِقُ عَلَيْكُم بِٱلْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ مَا كُنتُمْ

تَعۡمَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُدۡخِلُهُمۡ رَبُّهُمۡ فِي
رَحۡمَتِهِۦۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٣٠﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَفَلَمۡ تَكُنۡ ءَايَٰتِي
تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ وَكُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ﴿٣١﴾

او هره ډله به په ګونډو شوې وګورې، هره ډله به د خپل کتاب لوري ته بلل کېږي، په دې ورځ به د هغه څه بدله درکول کېږي چې تاسو کولو، دا زما هغه کتاب دئ چې ستاسو په اړه حقه وینا کوي، یقیناً چې موږ هغه څه لیکل چې تاسو کول، نو هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د دوی رب به ئې په خپل رحمت کې داخل کړي، همدا ځرګنده بریا ده، خو هغه چې کفر ئې کړی نو آیا تاسو نه وئ چې زما آیتونه درباندې لوستل کېدل او تاسو به لویي غوښتله او مجرم وګړي وئ.

---

(٢٨-٣١)- په دې مبارکو آیتونو کې د قیامت د ورځې یو ځانګړی پړاو داسي انځور شوی: هره ډله به د ډېر هیبت له کبله په ګونډو شوې ګورې، د نېغ درېدلو جسارت به نشي کولی او دا توان به ئې له لاسه ورکړی وي، هره ډله به د خپل کتاب لوري ته بلل کېږي، هر یوه ته به غږ شي چې راشه او خپله عملپاڼه واخله، دوی ته به وویل شي: په دې ورځ به تاسو ته د هغه څه بدله درکول کېږي چې کول مو، دا زما هغه کتاب دئ چې ستاسو په اړه په بشپړه توګه رښتیا وایي او حقه وینا کوي، یقیناً چې زموږ له لوري ګمارل شوو فرشتو هغه څه لیکل چې تاسو کول، نو هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د دوی رب به ئې په خپل رحمت کې داخل کړي، همدا ځرګنده بریا ده، خو هغه چې کفر ئې کړی هغوی ته به وویل شي: آیا تاسو نه وئ چې زما آیتونه درباندې لوستل کېدل خو تاسو نه منل دا ځکه چې د کبر او لویي په لټه کې وئ او مجرم وګړي وئ، دغه دواړه (کبر) او (جرم) د الهي آیتونو منلو ته نه پرېښودئ.

---

وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَٱلسَّاعَةُ لَا رَيۡبَ فِيهَا قُلۡتُم مَّا نَدۡرِي مَا
ٱلسَّاعَةُ إِن نَّظُنُّ إِلَّا ظَنّٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُسۡتَيۡقِنِينَ ﴿٣٢﴾ وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا
عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٣٣﴾ وَقِيلَ ٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰكُمۡ كَمَا
نَسِيتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَا وَمَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٣٤﴾
ذَٰلِكُم بِأَنَّكُمُ ٱتَّخَذۡتُمۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوٗا وَغَرَّتۡكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ لَا

﴿يُخْرَجُونَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ۝٣٥﴾

او كله چي به وويل شو: يقيناً چي د الله وعده رښتينې ده او د قيامت نېټه داسي ده چي هيڅ شك په كې نشته؛ تاسو به ويل: موږ نه پوهېږو چي دا قيامت څه دئ، يقيناً چي يوازي د يوه گمان (په حد كې) گمان كوو او موږ متيقن نه يو؛ او د هغه څه بدوالى به ورته جوت شي چي دوى كړي او هغه څه به پرې محقق شي چي ملنډې ئې پرې وهلې؛ او وبه ويل شي: نن به تاسو داسي هېر كړو لكه چي تاسو د خپلې دغي ورځي ملاقات هېر كړى وو؛ او استوگنځى به مو اور وي او هيڅ مرستندوى به درته نه وي، دا مو د دې لپاره چي د الله په آيتونه مو ملنډې وهلې او دنيايي ژوند دوكه كړي وئ، نو نن به نه ترې ايستل كېږي او نه به ئې عذر قبلېدى شي.

---

(۳۲-۳۵)- په دې مباركو آيتونو كې د قيامت د هغه پړاو ځيني برخي داسي انځور شوې: د قيامت منكرينو ته به وويل شي: كله چي به تاسو ته په دنيا كې وويل شو: د الله وعده رښتينې ده او د قيامت نېټه داسي ده چي هيڅ شك په كې نشته؛ نو تاسو به ويل: موږ نه پوهېږو چي دا قيامت څه دئ، موږ يوازي د يوه گمان په حد كې گمان كوو او متيقن نه يو، گمان مو دا دئ چي قيامت نشته، په راتلو ئې باور نه لرو، د دې غلطي او ناسمي انگېرني او د هغو بدو عملونو چي د دغي انگېرني له كبله ئې كړي بدوالى به ورته جوت شي؛ او هغه عذاب به خپل وزر پرې وغوړوي چي دوى استهزاء پرې كوله او اړوند گواښونه ئې د ملنډو وړ گڼل؛ او دوى ته به وويل شي: نن به تاسو داسي هېر كړو لكه چي تاسو د خپلې دغي ورځي ملاقات هېر كړى وو؛ او استوگنځى به مو اور وي او هيڅ مرستندوى به درته نه وي، داسي څوك به ونه مومئ چي ستاسو مرسته وكړى شي، له دې سپېره برخليك سره له دې كبله مخامخ شوي يئ چي د الله پر آيتونو مو ملنډې وهلې او دنيايي ژوند دوكه كړي وئ، نو نن به نه ترې ايستل كېږي او نه به ئې عذر قبلېږي.

---

﴿فَلِلَّهِ ٱلْحَمْدُ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلْأَرْضِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٣٦ وَلَهُ ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ۝٣٧﴾

نو ستايني د عالمونو هغه رب ته دي چي هم د آسمانونو رب دئ او هم د زمكي رب؛ او په آسمانونو او زمكي كې لويي ده ته مختص ده او هغه باحكمت عزتمن دئ.

---

(۳۶-۳۷)- دا مبارك آيتونه چي د معنى له پلوه يو آيت دئ د دې مباركې سورې شكلې او جامع تتمه ده او د سورې د ټولو مضامينو خلاصه زموږ په وړاندي ږدي او وايي: نو ستايني د عالمونو هغه رب ته دي چي هم د آسمانونو رب دئ او هم د زمكي رب؛ او په

آسمانونو او زمکې کې لويي ده ته مختص ده او هغه باحکمت عزتمن دئ.

په لومړيو آيتونو کې ويل شوي: : قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چې (عزيز) او (حکيم) دئ، متن ئې ګواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. په آسمانونو او زمکې کې د هغو لپاره ګڼ شمېر څرګندې نښې او دلائل دي چې ايمان راوړونکي دي، دا څرګندې نښې دوی ته ښيي چې د دې کتاب رالېږونکی رب عزيز او حکيم دئ. همدا مطالب د دې سورې دوه د بحث محوري موضوعات دي چې د سورې په تتمه کې په اختصار سره راغلي. په آسمانونو او زمکې کې هر لوري ته داسې بې شمېره څرګندې نښې تر سترګو کېږي چې ښيي د آسمانونو او زمکې پالونکي رب د ستاينو وړ دئ، عزيز او حکيم دئ، دا نښې د ايمان راوړونکو د هدايت لپاره کافي دي. هغه ذات چې يو صفت ئې رب (پالونکی) دئ او د ټول عالم پالنه کوي، د دغه صفت تقاضا دا ده چې انسان مهمل پرې نږدي او د هغه د پالنې او روزنې لپاره لارښود کتاب ولېږي، قرآن د الله تعالی د دغه صفت مظهر دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## الأحقاف

### د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم (الأحقاف) دئ چې د سورې له ۲۱ آيت اخيستل شوی، ۳۵ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د دوهم آيت (الحکيم)؛ او د درېيم آيت (معرضون) ته ورته دي، د آيتونو اوږدوالی ئې متوسط او هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مکې دور په منځنيو کلونو کې نازل شوي. داسې معلومېږي چې دا سوره په هغو ظروفو او شرائطو کې نازله شوې چې د الجاثيه سوره په کې نازله شوې، د آيتونو اوږدوالی او د سورې مضامين همدا راښيي، دې ته مو پام وي چې د هرې سورې د آيتونو له اوږدوالي تر ډېره حده معلومېږي چې کله نازله شوې، د ابتدائي کلونو سورتونو آيتونه معمولاً لنډ لنډ دي او هر څومره چې کومه سوره وروسته نازله شوې نو آيتونه ئې ورو ورو اوږده شوي، د الاحقاف د سورې آيتونه د اوږدوالي له پلوه الجاثيه ته ورته دي.

دا سوره هم د (حاء) او (ميم) په دوو مقطعاتو حروفو پيل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتيب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پيل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات دا دي:
۱- قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چې (عزيز) او (حکيم) دئ، متن ئې ګواهي

ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ۲- الله تعالی آسمانونه او زمکه او هغه څه چې په دوی دواړو کې دي سم پيدا کړي او د هر څه لپاره ئې ثابته نېټه ټاکلې. دا دواړه (د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب) او (په سمه توګه پيدا شوی عالم) موږ ته يوه اساسي خبره کوي او هغه دا چې الله تعالی عزيز او حکيم دئ. يوازې هغه څوك به له دې قرآن اعراض کوي چې حقيقت نه مني او د کفر او انکار لار ئې غوره کړې. د دې مضامينو خلاصه د سورې په وروستيو دوو آيتونو کې په دې توګه راغلې: فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسۡتَعۡجِل لَّهُمۡۚ كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَ مَا يُوعَدُونَ لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّن نَّهَارِۭۚ بَلَٰغٞۚ فَهَلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ۳ : نو داسې صبر کوه لکه چې هوډمنو پيغمبرانو صبر کړی او د دوی په اړه تلوار مه کوه، کومه ورځ چې دوی هغه څه وګوري چې وعده ئې ورکول کېږي داسې به وي لکه چې د ورځې له يوې ګنټې پرته ئې ځنډ او درنګ نه دئ کړی. دا يو ابلاغ دئ، نو آيا له دغو فاسقو وګړو پرته به بل څوك هلاك کړی شي؟!

د ځينو رواياتو له مخې دا سوره د بعثت په لسم کال او هغه مهال نازله شوې چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم تره ابو طالب وفات شو او په دې سره رسول الله صلی الله عليه و سلم يو متين، درونډ، مخور او کلك مدافع له لاسه ورکړ، ورپسې نژدې يوه مياشت وروسته د ده مهربانه او هوښياره مېرمن خديجه رضی الله عنها وفات شوه، دا نه يوازې د رسول الله صلی الله عليه و سلم باوفا او صادقه مېرمن وه بلکې د دعوت په چارو کې د ده رښتينې ملګرې او همسفره وه، خپله ټوله شتمني ئې د رسول الله صلی الله عليه و سلم په واك کې ورکړه، تل ئې ده ته ډاډ ورکړی، که به په سخت حالت کې له اندېښنو او غمونو سره کور ته راغی نو خديجې رضی الله عنها به په خپلو ډاډمنو ويناوو سره د ده ټولې اندېښنې رفع کړې، له يوې خوا د مخالفينو د عناد او دښمنيو شدت او له بلې خوا د داسې دوو کلکو او رښتينو مدافعينو له لاسه ورکول؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم او مؤمنان له داسې سختو ورځو سره مخامخ کړي ول چې رسول الله صلی الله عليه و سلم دا کال د عام الحزن (د غمونو کال) په نامه ياد کړ، په همغه وخت کې قريشو د رسول الله صلی الله عليه و سلم د قبيلې بني هاشم په ضد عمومي مقاطعه اعلان کړې وه، د مکې اوسېدونکي او حتي حج ته راتلونکي حجاج له دې منع شوي وو چې له بني هاشم سره تجارتي راکړه ورکړه او اجتماعي ناسته ولاړه وکړي، درې کاله په شعب ابي طالب کې د سختې محاصرې په حالت کې ساتل شوي وو، رسول الله صلی الله عليه و سلم وغوښتل چې طائف ته ولاړ شي او د بني ثقيف قبيله اسلام ته وبلي يا لږ تر لږه ده ته پناه ورکړي چې په اطمئنان سره خپل دعوت پر مخ بوځي، د طائف له ډېرو مشرانو سره ئې وليدل خو هغوی نه يوازې د ده بلنې ته منفي ځواب ورکړ بلکې هغه ته ئې وويل چې طائف پرېږدي او له ځنډ پرته ووځي، مجبور شو له طائف ووځي، د طائف ځينو کمظرفو او بدضميرو مشرانو څو لوڅك تنکي ځوانان وګمارل چې د لارې په اوږدو کې له يوې او بلې

خوا په شپېلکيو، تاړو، ښکنځلو، ستوغو او بدو خبرو او حتی ډبرو ئې استقبال کړي، تر هغه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ټپي ټپي شو او کپۍ ئې له وينو ډکې شوې، دغه مهال له طائف بهر د يوه بڼ د دېوال سيوري ته کښېناست او په دغو الفاظو ئې خپل رب ته دعاء وکړه:

«اللَّهُمَّ إِلَيْكَ أَشْكُو ضَعْفَ قُوَّتِي، وَقِلَّةَ حِيلَتِي، وَهَوَانِي عَلَى النَّاسِ، يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ، أَنْتَ رَبُّ المستضعفين وَ أَنتَ رَبِّي، إِلَى مَنْ تَكِلُنِي، إِلَى عَدُوٍّ بَعِيد يَتَجَهَّمُنِي أَمْ إِلَى صَدَيق قَرِيبٍ مَلَّكْتَهُ أَمْرِى، إِنْ لَمْ تَكُنْ عَلَيَّ غَاضِباً فَلَا أُبَالِي، غَيْرَ أَنَّ عَافِيَتَكَ أَوْسَعُ لِي، أَعُوذُ بِنُورِ وَجْهِكَ الَّذِى أَضَاءَتْ لَهُ السَّمٰوٰتُ و أَشْرَقَت لَهُ الظُّلُمَاتُ، وَصَلَحَ عَلَيْهِ أَمْرُ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، أَنْ يَنْزِلَ بِي غَضَبَكَ أَوْ يَحِلَّ بِي سَخَطَكَ، لَكَ الْعُتْبَى حَتَّى تَرْضَى، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِكَ» جامع الاحاديث

اې الله! تا ته شکايت کوم؛ د خپل قوت له ضعف او کمزورۍ او د خپل توان له کموالي او د خلکو په نظر کې له خپل سپکوالي، اې تر هر مهربان زيات مهربانه! ته د ټولو بې وزلو رب يې او ته زما رب يې، چا ته مي سپارې؟ لري دښمن ته چې تندی راته تريو کړي؟ او که نژدې دوست ته چې ته مي چارې په واك كې وركوې! كه ته راباندې غصه نه وې نو هيڅ پروا نلرم، خو ستا عافيت راته ډېر پراخ برېښي، ستا د مخ په هغه نور سره پناه غواړم چې آسمانونه او زمکې ورباندې روښانه شوي او تيارې ورباندې رڼې شوې او د دنيا او آخرت چارې ورباندې سمې شوې، له دې چې ستا غضب راباندې نازل شي او يا ستا قهر مې احاطه کړي، څومره چې ستا خوښه وي همدومره عتاب وکړه، ستا له توفيق پرته نه د راگرځېدا توان شته او نه د کار سر ته رسولو ځواك.

رسول الله صلی الله عليه و سلم له طائف ناهيلی او غمجن راستون شو، مخامخ مکې ته تلل ئې مناسب ونه گڼلو، څو ورځې په نخله کې پاته شو، په همدې ورځو کې ئې يوه شپه په لمانځه کې د قرآن تلاوت کولو چې د پېريانو يو ټولگی ئې خوا ته راغی او د قرآن له اورېدو سره سم ئې ايمان راوړ، خپل قوم ته ستانه شول او هغوی ته ئې د قرآن په اړه هغه څه وويل چې د همدې سورې په ٢٩-٣٢ او د الجن د سورې په لومړيو آيتونو کې راغلي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ٢ مَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ

وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّىۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعْرِضُونَ ۝٣

حاء میم، د دې کتاب لېږنه د باحکمت عزتمن الله له لوري ده، موږ آسمانونه او زمکه او هغه څه چې په دوی دواړو کې دي له حق او ټاکلې نېټې پرته په بله توګه نه دي پیدا کړي؛ او هغه چې کفر ئې کړی له هغه څه اعراض کوونکي دي چې پرې ګواښل شوي.

---

(١-٣)- د دې مبارکو آیتونو په مطالبو د ښه پوهېدو لپاره باید دا خبرې په پام کې ولرئ:

• دا سوره هم د (حاء) او (میم) په دوو مقطعاتو حروفو پیل شوې، دا د دې نښه ده چې په دې مبارکې سورې کې هم دوه اساسي موضوعات څېړل شوي او ټوله سوره د همدې دوو موضوعاتو پر محور څرخي، د موضوعاتو ترتیب ئې هم داسې دئ لکه په همداسې دوو پر له پسې حروفو پیل شوې سورې، د دې سورې د بحث محوري موضوعات همغه دي چې په مختصره توګه په دوهم او درېیم آیتونو کې په دې توګه راغلي: ١- قرآن د هغه الله تعالی له لوري لېږل شوی چې (عزیز) او (حکیم) دئ، متن ئې ګواهي ورکوي چې د الله تعالی له لوري نازل شوی. ٢- الله تعالی آسمانونه او زمکه او هغه څه چې په دوی دواړو کې دي سم پیدا کړي او د هر څه لپاره ئې ثابته نېټه ټاکلې. دا دواړه (د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب) او (په سمه توګه پیدا شوی عالم) موږ ته یوه اساسي خبره کوي او هغه دا چې الله تعالی عزیز او حکیم دئ. یوازې هغه څوك به له دې قرآن اعراض کوي چې حقیقت نه مني او د کفر او انکار لار ئې غوره کړې. د دې مضامینو خلاصه د سورې په وروستیو دوو آیتونو کې په دې توګه راغلې:

فَٱصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلْعَزْمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْۚ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍۭ بَلَٰغٌۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ۝٣٥

نو داسې صبر کوه لکه چې هوډمنو پیغمبرانو صبر کړی او د دوی په اړه تلوار مه کوه، کومه ورځ چې دوی هغه څه وګوري چې وعده ئې ورکول کېږي داسې به وي لکه چې د ورځې له یوې ګنټې پرته ئې ځنډ او درنګ نه دي کړی. دا یو ابلاغ دئ، نو آیا له دغو فاسقو وګړو پرته به بل څوك هلاك کړی شي؟!

که عالم ته ځیر شو دوه څرګند حقائق زموږ په وړاندې ځلېږي: ١- هر څه سم پیدا شوي، په ټول عالم کې د ناسم او بېهوده شي یوه بېلګه هم نه شو موندلی، ٢- د هر څه لپاره یوه ثابته نېټه ټاکل شوې، داسې چې په یوې ټاکلې نېټې پیدا شي، محدود او ټاکلی عمر لري او په ټاکلې نېټې ئې عمر پای ته ورسېږي او خپل ځای بل ته پرېږدي. او دا هغه

څه دي چې قرآن ئې وايي، د الله تعالی مقروء کتاب (قرآن) همغه څه وايي چې د الله تعالی مشهود کتاب (عالم) ئې وايي، نو آيا هغه څوك د هلاکت وړ او مستحق نه دئ چې د قرآن په څېر له ځلاند او څرګند حقيقت انکار کوي؟!

قُلْ أَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ ۖ ٱئْتُونِى بِكِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ هَٰذَآ أَوْ أَثَٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤﴾ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ غَٰفِلُونَ ﴿٥﴾ وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُوا۟ لَهُمْ أَعْدَآءً وَكَانُوا۟ بِعِبَادَتِهِمْ كَٰفِرِينَ ﴿٦﴾

ووايه: آيا پام مو کړی چې له الله پرته کوم څه دربلئ راوئې ښيئ چې د زمکې څه ئې پيدا کړي او په آسمانونو کې ئې څه شرکت په برخه دئ؟! تر دې وړاندينی کوم کتاب راته راوړئ يا د علم کومه پاتې شونې؛ که رښتيني يئ؛ او تر هغه به ډېر تېروتی څوك وي چې له الله پرته داسي څوك وربلي چې د قيامت تر ورځي د دوی اجابت نشي کولی او هغوی ئې له دعاء غافل دي؟ او کله چې خلك راغونډ کړی شي د دوی دښمنان به شي او د دوی له لمانځني به انکار کوي.

(٤-٦)- په دې مبارکو آيتونو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې مشرکينو ته ووايي:

- آيا دې ته مو پام کړی چې له الله تعالی پرته کوم معبودان لمانځئ او مرسته ترې غواړئ ما ته راوښيئ چې دوی د دې زمکې څه پيدا کړي او د آسمانونو په کوم څه کې له الله تعالی سره شريك دي؟ که دا خبره په کوم مخکيني الهي کتاب کې شوې وي؛ همغسي چې تاسو ئې ادعاء کوئ او که کوم علمي دليل درسره وي، داسي علمي دليل چې له مخکينيو مو تر لاسه کړی وي؛ دا کتاب او دا علمي دليل ما ته راوړئ!!
- تر هغه به ډېر تېروتی څوك وي چې له الله تعالی پرته داسي څوك لمانځي او مرسته ترې غواړي چې د قيامت تر ورځي د دوی دعاء او بلنه نشي اجابت کولی او داسي دي چې د دوی له دعاء غافل دي او نه ئې اوري؟ دا د دوی د وهم زېږنده جعلي معبودان به د قيامت په هغه ورځ چې ټول خلك به راغونډ کړی شي؛ د دوی دښمنان شي او د دوی له لمانځني به انکار کوي!!

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هَٰذَا
سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُۖ قُلْ إِنِ ٱفْتَرَيْتُهُۥ فَلَا تَمْلِكُونَ لِى مِنَ ٱللَّهِ
شَيْـًٔاۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِۚ كَفَىٰ بِهِۦ شَهِيدَۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْۖ وَهُوَ
ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٨﴾ قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ ٱلرُّسُلِ وَمَآ أَدْرِى مَا يُفْعَلُ بِى وَلَا
بِكُمْۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ
مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرْتُم بِهِۦ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثْلِهِۦ فَـَٔامَنَ
وَٱسْتَكْبَرْتُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠﴾

او كله چې زموږ څرګند آیتونه پرې تلاوت شي هغه چې كفر ئې كړى كله چې حق ورشي د هغه په اړه وايي: دا څرګندي كوډې دي، آيا وايي: دا ئې له ځانه جوړ كړى؟! ووايه: كه مې له ځانه افتراء كړى وي نو تاسو د الله هيڅ څه راته په واك كې نه لرئ، دى پر هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو په كې لګيا يئ، هغه زما او ستاسو تر منځ د ګواه په توګه كافي دئ؛ او هغه مهربان بخښونكى دئ، ووايه: زه د پيغمبرانو لومړنى نه يم او نه پوهېږم چې له ما سره به څه كېږي او نه په دې چې له تاسو سره به څه كېږي؛ او زه يوازې د هغه څه متابعت كوم چې ما ته ئې وحي كېږي، زه له يوه څرګند نذير پرته بل څه نه يم، ووايه: آيا پام مو دئ چې (څنګه به وي) كه دا د الله له لوري وي او تاسو پرې كفر كړى وي او د بني اسرائيلو يوه ګواه هم په ورته ئې ګواهي وركړې وي نو هغه پرې ايمان راوړى او تاسو كبر كړى؟!! يقيناً چې الله دا ظالم وګړي نه هدايتوي.

(٧-١٠)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- كله چې د كافرو قريشو په وړاندې د قرآن څرګند آيتونه تلاوت شي له اورېدو وروسته د قرآن په اړه وايي: دا څرګند جادو دئ!!
- الله تعالى د دوى دا وينا د حيرت وړ بولي چې وايي: دا قرآن محمد عليه السلام له ځانه جوړ كړى؟! دا وينا هم له دې پلوه د حيرانتيا او تعجب وړ ده چې د قرآن په څېر عظيم او ستر الهي كتاب يوه انسان ته منسوبوي؛ په داسې حال كې چې د قرآن متن په واضح توګه د دې ګواهي وركوي چې دا كتاب د عزيز حكيم رب له لوري نازل شوى، له بلې خوا له دې پلوه د تعجب وړ ده چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په څېر صادق

او امين شخصيت په دې تورنوي چې د خپل رب په اړه افتراء کوي، څوك چې قرآن پېژني هيڅکله به دا جسارت ونه کړي چې هغه د انسان کلام وګڼي او څوك چې رسول الله صلى الله عليه و سلم پېژني هيڅکله به هغه په درواغو او افتراء تورن نه کړي.

• رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي: دوی ته ووايه: که ما دا قرآن له ځانه افتراء کړی وي نو تاسو د الله هيڅ څه راته په واك کې نه لرئ، دی پر هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو په کې لګيا يئ، هغه زما او ستاسو تر منځ د ګواه په توګه کافي دئ؛ او هغه مهربان بخښونکی دئ. دلته دا فقره چې وايي: (تاسو د الله هيڅ څه راته په واك کې نه لرئ)، لږ وضاحت غواړي، بايد وګورو چې د دې فقرې ارتباط له مخکينۍ سره څنګه دئ، په تفاسيرو کې بېل بېل تعبيرونه مومو چې د اعتناء وړ ئې دا دي: ۱- که ما افتراء کړې وي نو الله تعالى به ئې سزا راکړي، تاسو د الله تعالى عذاب له ما نشئ دفع کولی، ۲- دلته رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه شوې چې قريشو ته ووايي: الله تعالى زما څه تاسو ته سپارلي؟ څه ګټه او تاوان رارسولی شئ؟ زما د برخليك څه ستاسو په لاس کې دي؟ ولې به تاسو ته داسي کتاب وړاندې کوم چې په دروغو مي الله تعالى ته منسوب کړی وي؟!! آيا په داسي کار سره له تاسو د کومي ګټې رسولو طمع يا د کوم تاوان دفع کولو هيله کولی شم؟ په ځانګړې توګه هغه ګټه او تاوان چې پرېکړه ئې د الله تعالى له لوري کېږي؟!! که داسي نه وي نو ولې به دا کار کوم، کله مي له تاسو څه غوښتي او څه هيله او طمع مي کړې؟ که لږ ځیر شو نو راته جوته کېږي چې دوهم تعبير مناسب او دقيق دئ.

• رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوي چې خپلو مخالفينو ته ووايه: الله تعالى پر هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو په کې لګيا يئ، ستاسو تبليغات اوري، ستاسو له هلو ځلو ښه خبر دئ، په دې پوهېږي چې تاسو په کومه موخه او د څه لپاره دا تبليغات او هڅي کوئ، هغه زما او ستاسو تر منځ د ګواه په توګه کافي دئ، هغه مهربان بخښونکی دئ. که د حق دښمنانو ته فوراً سزا نه ورکوي او د توبې، بيا کتني او تجديد نظر لپاره مهلت ورکوي وجه ئې دا ده چې هغه مهربان بخښونکی دئ.

• ورته ووايه: زه د پيغمبرانو لومړنی نه يم، تر ما وړاندي ډېر پيغمبران تېر شوي، په غيب نه پوهېږم، نه په دې پوهېږم چې الله تعالى به له ما سره څه کوي او نه په دې چې له تاسو سره به څه کوي، يوازې د هغه څه متابعت کوم چې ما ته ئې وحي کېږي، زه له يوه څرګند نذير پرته بل څه نه يم، آيا دې ته مو پام کړی چې څنګه به وي که دا قرآن د الله تعالى له لوري وي او تاسو پرې کفر کړی وي او د بني اسرائيلو يوه ګواه هم په ورته ئې ګواهي ورکړې وي نو هغه پرې ايمان راوړی او تاسو کبر کړی؟!! يقيناً چې الله دا ظالم وګړي نه هدايتوي.

• دلته ويل شوي چې د بني اسرائيلو يوه ګواه هم په ورته ئې ګواهي ورکړې، نو هغه پرې ايمان راوړی او تاسو کبر کړی، پوښتنه راولاړېږي چې له دې يوه ګواه مراد څوك دئ؛

او هغه د څه گواهي ورکړې؟ ځينو درنو مفسرينو ويلي چي گواکي دا گواه عبدالله بن سلام رضی الله عنه دئ چي ستر يهودي عالم وو او ايمان ئې راوړ، خو دا وينا ځکه صحيح نه ده چي له يوې خوا دا سوره تر هجرت وړاندي او د بعثت په لسم يا يولسم کال کي نازله شوې، هغه مهال عبدالله بن سلام ايمان نه وو راوړی، له بلي خوا گورو چي دا آيت د داسي مضمون يوه برخه ده چي خطاب قريشو ته متوجه دئ او هغوی ته د نورو خبرو په ضمن کي دا هم ويل شوي چي د بني اسرائيلو يو شاهد هم دې ته ورته خبره کوي، يعني هغه څه چي قرآن ئې وايي همدا خبره هغه بني اسرائيلي هم کوي چي په تورات ايمان لري، هغه تورات چي قرآن ته ورته دئ، نه زه لومړنی پيغمبر يم، نه مي راوړی کتاب داسي کتاب دئ چي هيڅ سابقه نه لري، تر ما وړاندي ډېر پيغمبران تېر شوي او تر مسلمانانو وړاندي بني اسرائيلو په همداسي يوه کتاب باور درلود او د همغي خبري گواهي ئې ورکوله چي نن ئې مسلمانان گواهي ورکوي.

---

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيْهِۚ وَإِذْ لَمْ
يَهْتَدُواْ بِهِۦ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَآ إِفْكٌ قَدِيمٌ ﴿١١﴾ وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامًا
وَرَحْمَةًۚ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَبُشْرَىٰ
لِلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَٰمُواْ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا
هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٣﴾ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا جَزَآءًۢ بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ
﴿١٤﴾

او هغو چي کفر ئې کړی د هغو په اړه چي ايمان ئې راوړی وويل: که ښه وی نو تر موږ به ئې هغه ته سبقت نه وو کړی؛ او کله چي په هغه سره هدايت نه شول نو حتماً به وايي: دا پخوانی دروغ دئ، په داسي حال کي چي تر هغه وړاندي د موسی کتاب يو لارښود او يو رحمت وو؛ او دا د عربي ژبي يو مصدق کتاب دئ؛ د دې لپاره چي هغه پرې وگواښل شي چي ظلم ئې کړی او نېکانو ته يو زېری. يقيناً هغه چي وئې ويل: الله زموږ رب دئ؛ بيا ئې ټينگ پاته کېدل وغوښتل نو پر دوی نه کومه وېره شته او نه به غمجن شي، دوی د جنت خاوندان دي؛ په هغه کي تلپاتي؛ د هغه څه يوه بدله چي دوی کول.

---

(۱۱-۱٤)- دا مبارک آيتونه وايي:

• کافرانو د مؤمنانو په اړه وویل: که په قرآن باندي ایمان راوړل غوره او سم کار وی نو دوی به هیڅکله پر موږ سبقت نه وو کړی، موږ به تر دوی ډېر وړاندي ایمان راوړی وو!! او کله چي له دې سعادت محروم شي او ونه نتوانېږي چي د قرآن له لارښوونو برخمن شي نو وایي: دا هغه دروغجني خبري دي چي په وار وار او پخوا اوربدل شوې، تر دې وړاندي هم ځينو د پيغمبرۍ دعوی کړې او ويلي ئې دي چي د الله تعالی له لوري کتاب ورکړی شوی، دوی دا خبره د قرآن د دې وينا په رد کې کړې چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې ويلي: ووايه: نه زه لومړنی پيغمبر يم، نه مي راوړی کتاب داسي کتاب دئ چي هيڅ سابقه نه لري، تر ما وړاندي ډېر پيغمبران تېر شوي او تر مسلمانانو وړاندي بني اسرائيلو په همداسي يوه کتاب باور درلود او د همغي خبري گواهي ئې ورکوله چي نن ئې مسلمانان گواهي ورکوي. د دوی په ځواب کې ويل شوي: تر قرآن وړاندي د موسی عليه السلام کتاب يو لارښود او يو رحمت وو، د همغه کتاب په طفيل بني اسرائيل د فرعون له غلامۍ وژغورل شول، د الله تعالی پېرزويني ئې په برخه شوې، هدايت شول او پر ټولو نړۍ والو فضيلت ورکړی شو، قرآن د تورات په څېر يو الهي کتاب دئ، په دومره توپير سره چي دا په عربي ژبې نازل شوی، د تورات مصدق دئ، دا کتاب هم د تورات په څېر د ظالمانو لپاره يو انذار دئ چي د کفر او ظلم له بدو پايلو ئې وېروي او نېکانو ته يو زېری دئ، د قرآن مخالفين به له همغه برخليك سره مخامخ کېږي چي فرعونيان ورسره مخامخ شول او د قرآن پلويان به هغه څه تر لاسه کوي چي د بني اسرائيلو په برخه شول.

• الله تعالی هغو مؤمنانو ته اطمئنان ورکوي چي وايي: الله تعالی زموږ رب دئ؛ بيا په دغي عقيدې ټينگ پاتي کېږي، پر دوی نه کومه وېره شته او نه به غمجن شي، دوی دي له هيڅ څه وېره نه لري، داسي څه به په دې لار کې له لاسه ورنه کړي چي پرې غمجن شي او تر هغه ډېر غوره تر لاسه نه کړي، دوی جنتيان دي؛ په هغه کې به تلپاتي وي؛ دا به د دوی د ايمان او نېکو عملونو الهي بدله وي.

وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ إِحْسَٰنًا ۖ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا ۖ وَحَمْلُهُۥ
وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهْرًا ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ رَبِّ
أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا
تَرْضَىٰهُ وَأَصْلِحْ لِى فِى ذُرِّيَّتِىٓ ۖ إِنِّى تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ
ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا۟ وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمْ فِىٓ أَصْحَٰبِ
ٱلْجَنَّةِ ۖ وَعْدَ ٱلصِّدْقِ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾

**او انسان ته مو له خپل مور پلار سره د ښېګڼې سپارښتنه کړې، مور ئې له کړاو سره حمل کړ او له کړاو سره ئې وزېږاوو، حمل او له تې پرېکون ئې دېرش مياشتې وو، تر هغه چې خپلې مضبوطتيا ته ورسېدو او څلوېښت کلنۍ ته ورسېدو وئې ويل: اې زما ربه! ما ته د دې الهام وکړه چې ستا د هغه نعمت شکر اداء کړم چې پر ما او زما پر مور پلار دې پېرزو کړی او چې داسې نېك عمل وکړم چې ته ئې خوښوې؛ او په اولاد کې مې اصلاح راپه برخه کړه، يقيناً چې ستا لورې ته مې رجوع کړې او يقيناً چې زه له مسلمانانو يم، دا وګړې هغه دي چې د دوی هغه غوره عمل به قبلوم چې کړی ئې دئ او د جنتيانو په ډله کې به ئې له بديو تېرېږم، هغه رښتينې وعده چې له دوی سره کېدله.**

(۱۵-۱٦)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي: د الله تعالی له لورې انسان ته سپارښتنه او لارښوونه شوې چې له خپل مور پلار سره به ښېګڼه کوي، په ځانګړې توګه له خپلې مور سره چې دی ئې د کړاوونو په ګاللو سره په خپل رحم کې ستر کړی، د ساتلو او حملولو کړاوونه ئې ګاللي، له کړاو سره ئې زېږولی، حمل او له تې پرېکون ئې دېرش مياشتې وو، تر دې وروسته هم مور او پلار د ده روزنه او پالنه کوي، څيني تر هغه د دوی تر پالنې لاندې وي چې خپلې مضبوطتيا ته ورسېږي، په خپلو پښو ودرېږي او د دوی له احتياج ځان مستغني وګڼي، بيا ترې بېل شي او څيني ئې تر څلوېښت کلنۍ پورې د دوی په څنګ کې پاتې شي، خو دا هغه صالح زامن دي چې د خپل منعم رب شکر پر ځای کوي او وايي: اې زما ربه! ما ته د دې الهام وکړه چې ستا د هغه نعمت شکر اداء کړم چې پر ما او زما پر مور پلار دې پېرزو کړی او چې داسې نېك عمل وکړم چې ته ئې خوښوې او په اولاد کې مې اصلاح راپه برخه کړه، نېك او صالح اولاد را، يقيناً چې ما ستا لورې ته رجوع کړې او يقيناً چې زه له مسلمانانو يم، دا وګړې هغه دي چې الله تعالی به د دوی غوره غوره عملونه قبلوي، د جنتيانو په ډله کې به ئې نيسي او له بديو او ګناهونو به ئې تېرېږي، دا له دوی سره د الله تعالی هغه رښتينې وعده ده چې حتماً به تر سره کېږي.

دلته څو خبرې بايد په پام کې ولرو:

که متوجه شوې وئ دلته يو ځل د پلار يادونه شوې او هغه هم د مور تر څنګ (والديه) او درې ځلې د مور، له دې معلومېږي چې د مور حق د پلار په پرتله درې برابره زيات دئ؛ او دا همغه مطلب دئ چې په يوه مبارك حديث کې په دې توګه راغلی:

عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ نَبِّئْنِي بِأَحَقِّ النَّاسِ مِنِّي صُحْبَةً فَقَالَ نَعَمْ وَاللَّهِ لَتُنَبَّأَنَّ قَالَ مَنْ قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أَبُوكَ. مسند أحمد

له ابوهریره رضی الله عنه روایت دئ چې یو سړی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغی او وئې ویل: یا رسول الله! ما ته د هغه چا په اړه خبر را چې تر ټولو خلکو زیات زما د مصاحبت مستحق وي، وئې فرمایل: هو؛ په الله تعالی قسم چې حتماً به خبر کړی شې، وئې ویل: څوك دئ؟ وئې فرمایل: ستا مور، وئې ویل: بیا څوك؟ وئې فرمایل: بیا هم ستا مور، وئې ویل: بیا څوك؟ وئې فرمایل: بیا هم ستا مور، وئې ویل: بیا څوك؟ وئې فرمایل: بیا ستا پلار.

دلته د حمل او له تې پرېکون ټوله موده دېرش میاشتې ښودل شوې، د لقمان د سورې په ١٤آیت کې ویل شوي: (مور ئې دی په پرله پسې سستیو ګاللو سره حمل کړ؛ او بېلول ئې په دوو کلونو کې وو) ؛ او د البقرة د سورې په ٢٣٣ آیت کې ویل شوي: (او که څوك غواړي چې د تې ورکولو موده دې پوره شي، نو میندې دې خپلو اولادونو ته تر پوره دوو کلونو تی ورکړي)، له دې معلومېږي چې په پورتنیو دېرشو میاشتو کې ٢٤ میاشتې د رضاعت او تې ورکولو دي او پاتې شپږ میاشتې ئې د حمل حد اقل موده، کېدی شي یو ماشوم د مور په رحم کې په شپږو میاشتو کې بشپړ شي او د سالم ماشوم په بڼې کې وزیږېږي؛ او د دې خبرې معنی دا ده چې: ١- د رضاعت احکام په هغه تې ورکولو پورې تړاو لري چې د دوو کالونو په منځ کې وي، له هغه وروسته تی ورکول د رضاعت په حکم کې نه شاملېږي، ٢- هغه مېرمن په زنا نشي تورنېدی چې په شپږو میاشتو کې اولاد وزیږوي، هغه روایت هم د دې وینا تأیید کوي چې وایي: د عثمان رضی الله عنه د خلافت په زمانه کې یو کس هغه ته ورغی او وئې ویل: زما له له واده شپږ میاشتې تېرېږي او مېرمن مې اولاد وزیږولو، عثمان رضی الله عنه له تحقیق وروسته غوښتل دا مېرمن د زنا په تور مجازات کړي، علي رضی الله عنه له پېښې خبر شو، په تلوار سره د عثمان رضی الله عنه خوا ته ورغی او ورته وئې ویل: له دې آیت معلومېږي چې د حمل اقل موده شپږ میاشتې ده، عثمان رضی الله عنه د ده استدلال قبول کړ او د مجازات پرېکړه ئې بېرته واخیستله.

له دې مبارك آیت دا هم معلومېږي چې انسان غالباً هغه مهال د خپل مور پلار په قدر ښه پوه شي چې عمر ئې څلوېښت کلنۍ ته ورسېږي، د اولاد خاوند شي او اولاد ئې داسې عمر ته ورسېږي چې د خدمت هیله ترې کوي. دغه مهال ورته معلومه شي چې بد اولاد څومره لوی مصیبت وي او د داسې اولاد له بغاوت، مخالفت اوسرکښۍ پلار او مور څومره ځورېږي.

وَٱلَّذِى قَالَ لِوَٰلِدَيۡهِ أُفّٖ لَّكُمَآ أَتَعِدَانِنِيٓ أَنۡ أُخۡرَجَ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلۡقُرُونُ مِن
قَبۡلِي وَهُمَا يَسۡتَغِيثَانِ ٱللَّهَ وَيۡلَكَ ءَامِنۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ
أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٧﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن

قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِۖ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ خَـٰسِرِينَ ﴿١٨﴾

او هغه چې خپل پلار مور ته ئې وویل: تاسو ته دې اف وي، آیا دا وعده راکوئ چې (له قبر به) راوایستل شم، په داسې حال کې چې تر ما وړاندې ډېر نسلونه تېر شوي؟! او دوی دواړه الله ته استغاثه کوي (او وايي:) افسوس پر تا؛ ایمان راوړه، یقیناً چې د الله وعده رښتینې ده، نو وايي: دا یوازې د لومړنیو قصې دي، دا هغه وګړي دي چې د دوی په اړه د پېریانو او انسانانو د هغو ډلو په ضمن کې چې تر دوی وړاندې تېر شوي دا وینا محققه شوې چې یقیناً دوی زیانمن ول.

(۱۷-۱۸)- دلته د مخکیني صالح او مؤمن زوی په مقابل کې هغه کافر او له آخرت منکر زوی انځور شوی چې والدین ئې مؤمنان دي او دی پر آخرت ایمان ته بلي او دی په ځواب کې ورته وايي: تاسو ته دې اف وي، ستاسو پر حال افسوس کوم، آیا دا وعده راکوئ چې له مړیني وروسته به له خپل قبر بېرته ژوندی راوایستل شم، په داسې حال کې چې تر ما وړاندې ډېر نسلونه تېر شوي خو له دوی یو کس تر اوسه راژوندی نه شو؟! او دوی دواړه الله ته استغاثه کوي او وايي: افسوس پر تا؛ ایمان راوړه، یقیناً چې د الله وعده رښتینې ده، دی د رد ځواب ورکوي او وايي: دا یوازې د لومړنیو قصې او زړې خبرې دي، حقیقت نه لري، مخکینیو دې ته ورته خبرې کولې، یوه ئې هم رښتیا نه شوه.

الله تعالی د داسې وګړو په اړه فرمايي: دوی د پېریانو او انسانانو د هغو ډلو په ضمن کې دي چې تر دوی وړاندې تېر شوي؛ او د هغوی په اړه د الله تعالی دا وینا محققه شوې چې دوی به په دنیا او آخرت کې زیانمن وي.

وَلِكُلٍّ دَرَجَـٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوا۟ۖ وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَـٰلَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَلَى ٱلنَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَـٰتِكُمْ فِى حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنْيَا وَٱسْتَمْتَعْتُم بِهَا فَٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَفْسُقُونَ ﴿٢٠﴾

او هر چا ته له هغه سره سم درجې دي چې کړي ئې دي؛ او دا د دې لپاره چې دوی ته خپل عملونه وربشپړ کړي په داسې حال کې چې پر دوی به ظلم نه کېږي. او هغه ورځ چې اور ته به هغه وګړي وړاندې کړی شي چې کفر ئې کړی؛ په خپل دنیايي ژوند کې مو خپل پاکیزه نعمتونه ختم کړل او ترې متمتع شوئ، نو نن به د سپکوونکي عذاب سزا درکول کېږي؛ له دې کبله چې په زمکې کې مو په ناحقه تکبر کولو او له دې

کبله چې تاسو سرغړاوی کولو.

(۱۹-۲۰)- په دې مبارکو آيتونو کې ويل شوي:

- د هر چا مقام او منزلت د هغو عملونو له مخې ټاکل کېږي چې کوي ئې، ښه عملونه لوړې لوړې درجې ورپه برخه کوي او بد عملونه ئې د ذلت او سپکاوي په کندې کې غورځوي، دا د دې لپاره چې الله تعالی غواړي هر چا ته د خپلو عملونو بشپړه بدله ورکړي په داسې حال کې چې پر دوی به هيڅ ظلم نه کېږي، نېکان به د خپلو نېکو عملونو بشپړه بدله تر لاسه کوي او بدکارو ته به د دوی د عملونو عادلانه سزا ورکول کېږي، الله تعالی نه د نېکانو عمل ضائع کوي او نه بدکاران بې سزا پرېږدي، که په دنيا او آخرت کې نېکانو ته د دوی د عملونو بشپړه بدله ورنه کړی شي؛ دا ظلم دئ او الله تعالی له هر راز ظلم منزه دئ، که کافر او ظالم ته په دنيا او آخرت کې عادلانه سزا ورنه کړی شي دا هم ظلم دئ او الله تعالی له هر ډول ظلم منزه دئ.
- دلته ويل شوي: (وَلِيُوَفِّيَهُمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ: او دا د دې لپاره چې دوی ته خپل عملونه وربشپړ کړي)؛ دا ترکيب يو خاص مطلب افاده کوي او ښيي چې عمل او بدله ئې لازم او ملزوم دي، عمل هغه مهال بشپړ کېږي چې لازمي بدله ئې پرې مرتب شي.

د قيامت په ورځ او هغه مهال چې کافران د دوزخ اور ته وړاندې کړی شي ورته وبه ويل شي: تاسو په خپل دنيايي ژوند کې خپل پاکيزه نعمتونه ختم کړل او ترې متمتع شوئ، څه چې ستاسو منعم رب دربانديې پېرزو کړي ول؛ په داسې حال کې ترې برخمن شوئ او ګټه مو ترې واخيستله چې مستکبر او فاسق وئ، نو نن به د سپکوونکې عذاب سزا درکول کېږي له دې کبله چې په زمکې کې مو په ناحقه تکبر کولو او له دې کبله چې تاسو سرغړاوی (فسق) کولو.

وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ إِذۡ أَنذَرَ قَوۡمَهُۥ بِٱلۡأَحۡقَافِ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ
وَمِنۡ خَلۡفِهِۦٓ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿٢١﴾
قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِتَأۡفِكَنَا عَنۡ ءَالِهَتِنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٢﴾
قَالَ إِنَّمَا ٱلۡعِلۡمُ عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمٗا
تَجۡهَلُونَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا رَأَوۡهُ عَارِضٗا مُّسۡتَقۡبِلَ أَوۡدِيَتِهِمۡ قَالُواْ هَٰذَا عَارِضٞ مُّمۡطِرُنَاۚ
بَلۡ هُوَ مَا ٱسۡتَعۡجَلۡتُم بِهِۦۖ رِيحٞ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيۡءِۭ بِأَمۡرِ

رَبِّهَا فَأَصْبَحُواْ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمْۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْقَوْمَ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٢٥﴾

او د عاد ورور درياد کړه؛ هغه مهال چې خپل قوم ئې په احقاف کې انذار کړ؛ په داسې حال کې چې تر ده وړاندې او وروسته انذاروونکې (پيغمبران) تېر شوي وو چې له الله پرته بل څوك مه لمانځئ، يقيناً چې زه پر تاسو د يوې سترې ورځې له عذاب وېرېږم، وئې ويل: آيا د دې لپاره راغلی يې چې موږ له خپلو معبودانو واړوې، که له رښتينو يې هغه څه راوړه چې وعده ئې راکوې، وئې ويل: دا علم يوازې له الله سره دئ او زه هغه څه دررسوم چې ورسره لېږل شوی يم، خو زه مو داسې وګړي ګورم چې جهالت کوئ، نو کله چې ئې هغه د يوې داسې ورېځې په بڼې کې وليد چې د دوی درو ته ئې مخه کړې؛ وئې ويل: دا داسې ورېځ ده چې باران به راباندې ووروي، بلکې دا همغه څه دي چې تلوار مو پرې کولو، يوه سيلۍ چې دردناك عذاب په کې دئ، د خپل رب په حکم هر څه ورانوي، نو داسې شول چې له کورونو پرته ئې هيڅ څه نه ليدل کېدل، مجرمو وګړو ته همداسې سزا ورکوو.

(۲۱-۲۵)- دلته مخکيني مطالب د يوه تاريخي مثال په ترڅ کې انځور شوي، په دې تاريخي انځور کې ګورو چې د عاد قوم ته د هغوی پيغمبر هود عليه السلام ورغی، دوی په احقاف نومي سيمې کې اوسېدل، دا سيمه هغه مهال آباده سيمه وه، اوس يوه شګلنه صحراء ترې جوړه شوې، له عمان تر يمن پورې غزېدلې ده، عاديان هغه مهال يو ځواکمن، متمدن او پر مخ تللی خو ظالم او په شرك او خرافاتو کې غرق قوم وو، دوی ته د دوی ورور هود عليه السلام د پيغمبر په توګه ولېږل شو چې د ظلم، کفر او شرك له بدو پايلو ئې ووېروي، تر ده وړاندې او وروسته هم همداسې انذاروونکې پيغمبران تېر شوي وو؛ د ټولو نورو پيغمبرانو په څېر د هود عليه السلام پيغام هم دا وو چې له الله تعالی پرته بل څوك مه لمانځئ، يقيناً چې زه پر تاسو د يوې سترې ورځې له عذاب وېرېږم، قوم ورته وويل: آيا د دې لپاره راغلی يې چې موږ له خپلو معبودانو واړوې، که له رښتينو يې هغه عذاب راوړه چې موږ پرې وېروې؛ او دا پيغمبرانو او دعوتګرانو ته د ټولو مفسدينو ګډ او ورته ځواب دئ، هود عليه السلام وويل: دا علم يوازې له الله تعالی سره دئ، زه نه پوهېږم چې دا عذاب به کله او څنګه راځي، زه هغه پيغام دراوروم چې د الله تعالی له لورې رالېږل شوی، خو زه مو ګورم چې په جهالت اخته يئ، بې اعتنايي کوئ او الهي عذاب په تلوار سره غواړئ، کله چې دوی هغه عذاب د يوې داسې ورېځې په بڼې کې وليد چې د دوی درو ته ئې مخه کړې؛ وئې ويل: دا داسې ورېځ ده چې باران به راباندې ووروي، خو دا ورېځ نه بلکې هغه الهي عذاب وو چې تلوار ئې پرې کولو او له هود عليه السلام ئې غوښتل چې که د عذاب دا ګواښ دې رښتينی وي ژر ئې راوله!! دا تونده سيلۍ وه چې

دوی ته ئې دردناك عذاب په خپلې غېږ کې درلود، داسې تونده سیلۍ چې د خپل رب په حکم هر څه ورانوي، همداسې وشول، الهي عذاب خپل تور وزر پرې وغوړاوو، تونده ورانوونکې سیلۍ راغله، هر څه ئې وځپل، داسې شول چې له ورانو کورونو پرته ئې هېڅ څه نه لیدل کېدل، دا الهي سنت دئ، هر مجرم ولس ته د مهلت په پای کې همداسې سزا ورکوي.

وَلَقَدْ مَكَّنَّٰهُمْ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمْ فِيهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَٰرًا وَأَفْـِٔدَةً فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُهُمْ وَلَآ أَفْـِٔدَتُهُم مِّن شَىْءٍ إِذْ كَانُوا۟ يَجْحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْقُرَىٰ وَصَرَّفْنَا ٱلْـَٔايَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٧﴾ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ قُرْبَانًا ءَالِهَةًۢ بَلْ ضَلُّوا۟ عَنْهُمْ وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٢٨﴾

او یقیناً چې دوی مو په داسې څه کې متمکن کړي ول چې تاسو مو نه یئ په کې متمکن کړي؛ او دوی ته مو غوږونه، سترګې او زړونه ورکړي ول، خو غوږونو، سترګو او زړونو ئې کوم څه ترې دفع نه کړی شو؛ له دې کبله چې د الله په اړه ئې انکار کولو او هغه څه پرې محقق شو چې ملنډې ئې پرې وهلې؛ او یقیناً چې له کلیوالو مو هغه هلاك کړل چې ستاسو شاوخوا کې ول؛ او آیتونه مو په مکرره توګه بیان کړل چې راوګرځي، نو ولې هغو د دوی مرسته ونه کړه چې له الله پرته ئې د نژدېوالي سبب معبودان ګڼل، بلکې ترې ورك شول؛ او دا د دوی دروغ او هغه څه وو چې له ځانه ئې افتراء کول.

(۲٦-۲۸)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- الله تعالی عادیانو ته دومره امکانات ورکړي وو چې تر قریشو له هره پلوه ځواکمن او شتمن ول، د ذاتي استعدادونو له پلوه هم تر دوی وړاندې ول، سترګور ول، ښه حافظه ئې درلوده او زړه ور ول، خو نه دغو امکاناتو څه ګټه ورورسوله او نه ئې هغو ذاتي استعدادونو، غوږونو، سترګو او زړونو، له دې کبله چې د الله تعالی په اړه ئې انکار کولو او د هود علیه السلام انذار او د الهي عذاب ګواښونه ئې د ملنډو وړ ګڼل، نو هغه څه پرې محقق شو چې ملنډې ئې پرې وهلې.

• د قریشو شاوخوا سیمو کې مېشت ډېر قومونه د کفر، شرك او ظلم له کبله هلاك شوي، هر یوه ته خپل خپل پیغمبر ورغلی، د الله تعالی څرګند آیتونه ئې د هغوی په وړاندې اېښي، په دې هیله چې د خپل رب لوري ته رجوع وکړي او له بغاوت لاس واخلي، خو پر خپل کفر د ټینګار له کبله له سخت الهي عذاب سره مخامخ شوي او هغو جعلي معبودانو هیڅ ګټه نه ده وررسولې چې یا ئې په الوهیت کې د الله تعالی شریکان ګڼل یا ئې الله تعالی ته د تقرب وسیله، نه یوازې د دوی مرسته ئې ونه کړه بلکې ترې ورك شول، دا هسې د دوی دروغجنه خبره او افتراء وه، یعني نه الله تعالی شریك لري او نه دا جعلي معبودان د تقرب وسیله دي.

---

وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقُرْءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ
أَنصِتُواْ فَلَمَّا قُضِىَ وَلَّوْاْ إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُواْ يَٰقَوْمَنَآ إِنَّا سَمِعْنَا كِتَٰبًا
أُنزِلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ
مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾ يَٰقَوْمَنَآ أَجِيبُواْ دَاعِىَ ٱللَّهِ وَءَامِنُواْ بِهِۦ يَغْفِرْ لَكُم مِّن
ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣١﴾ وَمَن لَّا يُجِبْ دَاعِىَ ٱللَّهِ فَلَيْسَ
بِمُعْجِزٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءُ أُوْلَٰٓئِكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٣٢﴾

او کله چې د پېریانو یوه داسې ډله مو ستا لوري ته راوګرځوله چې قرآن ته ئې غوږ نیولو، کله چې ورته حاضر شول وئې ویل: چوپ شئ، نو کله چې پای ته ورسېدو، خپل قوم ته د خبرداري ورکونکو په توګه ستانه شول؛ وئې ویل: اې زموږ قومه! یقیناً چې موږ داسې یو کتاب واورېدو چې تر موسی وروسته نازل شوی، د هغه څه مصدق چې ترې وړاندې ول، د حق لوري او مستقیمې لارې ته لارښوونه کوي. اې زموږ قومه! د الله د بلونکي بلنه ومنئ او ایمان پرې راوړئ چې ستاسو ځیني ګناهونه دروبخښي او له دردناك عذاب مو وژغوري؛ او څوك چې د الله د بلونکي اجابت ونه کړي نو نه په زمکې کې عاجزوونکی دئ او نه له ده پرته پالونکې ورته شته، همدا دوی په څرګندې تېروتنې کې دي.

---

(۲۹-۳۲)- دا مبارك آیتونه وایي:

• الله تعالی د پېریانو یوه داسې ډله د رسول الله صلی الله علیه و سلم لوري ته متوجه کړه چې غوښتل ئې قرآن پرې واوروي، کله چې د ده خوا ته حاضر شول وئې ویل: چوپ

شئ، کله چې د قرآن تلاوت پای ته ورسېدو؛ خپل قوم ته په دې موخه ستانه شول چې خبرداری ورکړي.

• دې ډلې خپل قوم ته وویل: اې زموږ قومه! یقیناً چې موږ داسې یو کتاب واورېدو چې تر موسی علیه السلام وروسته نازل شوی، مخکیني کتابونه تصدیقوي، همغه خبرې کوي چې په مخکینیو الهي کتابونو کې راغلې دي، بلنه ئې د حق لوري ته ده او مستقیمه لار راښیي. اې زموږ قومه! د الله د دعوتګر پیغمبر بلنه ومنئ او ایمان پرې راوړئ چې په دې سره به الله تعالی ستاسو ځیني ګناهونه دروبخښي او له دردناك عذاب به مو وژغوري؛ او څوك چې د الله د بلونكي اجابت ونه کړي نو نه په زمکې کې داسې برلاسي تر لاسه کولی شي چې له الهي عذاب ځان وژغوري او نه له الله تعالی پرته داسې اولیاء او پالونکي موندلی شي چې مرسته ئې وکړي، همدا دوی په څرګندې تېروتنې کې دي.

دا مطلب د قرآن په یوه بل آیت کې په دې توګه راغلی:

﴿قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ۝١ يَهْدِيٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ۝٢﴾ الجن

ووایه: راته وحې شوې چې د پېریانو یوه ډله ورته غوږ شول او وئې ویل: بې شکه چې مونږ عجیب قرآن واورېدو، د رشد او کمال لوري ته لارښوونه کوي، ایمان مو پرې راوړ؛ او هیڅکله به څوك له خپل رب سره شریك نه کړو.

په دې مبارکو آیتونو کې څو ظریف ټکي زمونږ توجه جلبوي:

• د آیت له فحوی معلومېږي چې پېریان د انسانانو په ژبې پوهېږي، دا پېریان هم د تورات په ژبه پوهېدل او هم د قرآن.

• رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د وحې له لارې ویل شوي چې د پېریانو یوې ډلې د قرآن تلاوت ته غوږ ایښی او دومره ئې تر اغېز لاندې راغلې چې نورو ته ئې ویلې: عجیب قرآن مو واوریدو، د کمال لوري ته لارښود، ایمان مو پرې راوړ او دا پرېکړه مو وکړه چې له دې وروسته به هیڅکله د شرك مرتکب نه شو؛ او د الله تعالی په څنګ کې به د بل چا او بل څه عبادت ونه کړو.

• پیغمبر علیه السلام دا ډله نه ده لیدلې او د دې سورې تر نازلېدو له دې نه وو خبر چې د پېریانو یوې ډلې قرآن اورېدلی او غبرګون ئې دا وو او خپل قوم ته ئې دا وینا کړې. له دې جریان هغه مهال خبر شو چې دا آیتونه نازل شول. د احقاف او د جن د سورې دا آیتونه په ډېر صراحت سره وایي چې پیغمبر علیه السلام په تلاوت لګیا وو چې دا ډله راغلې، قرآن ئې اورېدلی، پرته له دې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی په راتګ او ایمان راوړلو پوه شي. په ټول قرآن کې داسې آیت نه مومو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم پېریان لیدلي.

خو په دې اړه څو روايتونه زمونږ مخې ته راځي: يو ئې عبدالله بن عباس رضی الله عنه ته منسوب دئ او دوه ئې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته، د دغو دواړو جليل القدره صحابه وو د رواياتو تر منځ تعارض دئ، يو ئې د پېريانو د نه ليدو او بل ئې د ليدو خبره کوي، عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته منسوب روايتونه هم په خپلو کې تعارض لري، په يوه کې داسې راغلي چې مونږ يوه شپه پيغمبر عليه السلام ونه موند، ډېر پرېشانه شوو، دا وېره راسره پيدا شوه چې څه نه وي پرې شوي، سحر هغه رامعلوم شو او پوښتنه مو ترې وکړه چې چېرې تللی وې، هغه وفرمايل چې د پېريانو يوې ډلې ته مې قرآن اورولو، په بل کې راغلي چې زه ئې په يوه ځای کې ودرولم او راته وئې ويل چې له دې ځايه مه خوځېږه او هغه لاړ او د پېريانو يوې ډلې ته ئې قرآن واوراوو. که څه هم ځينو د دې تعارض په اړه څه توجيهات کړي، خو په ډېر تکلف سره؛ او دا هڅه ئې هم کړې چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنه دا قول ضعيف وښيي چې وايي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : مَا قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم عَلَى الْجِنِّ وَلاَ رَآهُمْ ... رواه مسلم و الترمذى

له عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم نه پېريانو ته د قرآن قرائت کړی او نه ئې دوی ليدلي.

ځينو دا دوه بېلې بېلې پېښې گڼلې، په يوې کې د پېريانو د ليدو او په بلې کې د نه ليدو، خو د الاحقاف او الجن اړوند آيتونه په ډېر صراحت سره وايي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم پېريان نه دي ليدلي، هغه روايات چې وايي رسول الله صلی الله عليه و سلم پېريان ليدلي په قرآن کې نه يوازې کوم شاهد نه لري بلکې وينا ئې له قرآن سره تعارض لري، نه يوازې د قرآن په دې دواړو آيتونو کې بلکې په بل ځای کې هم ويل شوي چې انسانان پېريان نه شي ليدی، لکه چې فرمايي:

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٧﴾ الاعراف

اې د آدم زامنو! شيطان دې تاسو دوکه نه کړي، لکه چې ستاسو مور پلار ئې له جنته وايستل، جامې ئې ترې ايستلې، چې بدنونه ئې وروښيي، يقيناً چې دی او قبيله ئې تاسو له هغه پلوه ليدی شي چې تاسو ئې نه شئ ليدی، مونږ خو شيطانان د هغو کسانو لپاره دوستان گرځولي چې ايمان نه راوړي.

په قرآن کې صريحاً يا تلويحاً داسې څه نه گورو چې وښيي پيغمبر عليه السلام پېريان په خپلو سترگو ليدلي، يا ئې بل څوك ليدی شي، په مقابل کې ئې دا درې آيتونه په صراحت

سره وايي چې نه رسول الله صلی الله علیه و سلم پېریان لیدلي او نه ئې نور خلك لیدلی شي. دغو دلائلو ته په پام سره په یقیني توګه ویلی شو چې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته منسوب روایات د اعتبار وړ نه دي، دا ځکه چې هم په خپلو منځونو کې تعارض لري، هم د قرآن له آیتونو سره او هم د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما له روایت سره.

قریشو ته د دې قصې اورول د دې لپاره وو چې له یوې خوا د جن او پېریانو په اړه د دوی بې بنسټه او له خرافاتو ډکه عقیده تصحیح کړي او له بلې خوا ورته ووایي چې راشئ له قرآن سره ستاسو چلن د هغه چا له چلن سره مقایسه کړئ چې پېریان دي، نه پیغمبر علیه السلام د دوی له ډلې او نه قرآن د دوی په ژبه؛ او تر ټولو شریر مخلوق ابلیس په دوی کې راولاړ شوی. خو د قرآن د یوې برخې په اورېدو سره ئې له ځنډه پرته پرې ایمان راوړ، د هغه عظمت ته ګوته په غاښ شول او خپل لارښود ئې ومانو، خو تاسو اې قریشو! په داسې حال کې له ایمان راوړو ډډه کوئ چې پیغمبر علیه السلام ستاسو له منځه غوره شوی، قرآن ستاسو په ژبه نازل شوی، په فصیح عربي ژبې او تاسو ته قابل فهم!!

أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَلَمۡ يَعۡيَ بِخَلۡقِهِنَّ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحۡـِۧيَ ٱلۡمَوۡتَىٰۚ بَلَىٰٓۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٣٣﴾ وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۖ قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَاۚ قَالَ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ﴿٣٤﴾

آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی هغه الله چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړي او په پیدا کولو ئې نه دئ ستومانه شوی په دې قادر دئ چې مړي راژوندي کړي؟! ولې نه؛ یقیناً چې هغه په هر څه توانمن دئ؛ او په کومه ورځ چې اور ته هغه وګړي وړاندي کړی شي چې کفر ئې کړی (ورته وبه ویل شي:) آیا دا (عذاب) رښتینی نه دئ؟! وبه وايي: ولې نه؛ په خپل رب مو قسم، وبه وايي: نو د هغه کفر له کبله چې تاسو کولو دا عذاب وڅکئ.

(٣٣-٣٤)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- آیا د آخرت منکرینو دې حقیقت ته پام نه دئ کړی چې د آسمانونو او زمکې هغه پیدا کوونکي رب ته چې د دې بې شمېره مخلوقاتو په پیدا کولو نه دئ ستومانه شوی؛ ولې به د مړو راژوندي کول ورته ګران او محال کار وي؟ هغه قدیر ذات چې د آسمانونو او زمکې په پیدا کولو توانېدلی، له کومې ستومانتیا پرته؛ یقیناً چې هغه په دې هم قادر دئ چې مړي راژوندي کړي؟!

- د آخرت د منکرینو اصلي ستونزه دا نه ده چې د مړو بیاژوندون ورته محال برېښي او د دې لپاره کافي دلائل نه مومي؛ ستونزه ئې دا ده چې د مکافات او مجازات په الهي سنت باور نه لري، دا باور ئې له ګناهونو منع کوي او دوی له ګناه لاس اخیستلو ته نه دي چمتو، له مجازات انکار د دوی رواني ستونزه ده نه عقلي مشکل، د همدې لپاره دلته ویل شوي: په کومه ورځ چې دا کافران اور ته وړاندې کړی شي ورته وبه ویل شي: آیا دا عذاب ربښتینی نه دئ؟! وبه وایي: ولې نه؛ په خپل رب مو قسم چې دا یو حقیقت دئ، هغه حقیقت چې موږ په دنیا کې ترې انکار کولو، نو دوی ته به وویل شي: اوس د هغه عذاب خوند وڅکئ چې ستاسو د کفر او انکار سزا ده.

فَٱصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلْعَزْمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْۚ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍۭ بَلَٰغٌۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٣٥﴾

نو داسې صبر کوه لکه چې هوډمنو پیغمبرانو صبر کړی او د دوی په اړه تلوار مه کوه، کومه ورځ چې دوی هغه څه وګوري چې وعده ئې ورکول کېږي داسې به وي لکه چې د ورځې له یوې ګنټې پرته ئې څنډ او درنګ نه وي کړی. دا یو ابلاغ دئ، نو آیا له دغو فاسقو وګړو پرته به بل څوك هلاك کړی شي؟!

(۳۵)- په دې مبارك آیت کې چې د سورې شکلې تتمه او جامع خلاصه ده له یوې خوا رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې چې د مخکینیو هوډمنو پیغمبرانو په څېر صبر کوه او د دوی په اړه تلوار مه کوه، الله تعالی دوی ته تر یوې ټاکلې نېټې مهلت ورکوي، د دې نېټې د ژر راتلو تلوسه مه کوه، ټولې الهي پرېکړې به له کوم څنډ او تغییر پرته په خپل خپل وخت کې هرومرو تر سره کېږي. له بلې خوا ویل شوي چې په کومه ورځ دا مخالفین هغه څه وګوري چې وعده ئې ورکول کېږي؛ نو حالت به ئې داسې وي لکه چې د ورځې له یوې ګنټې پرته ئې څنډ او درنګ نه وي کړی. دوی خپل پیغمبر ته ویلي وو چې هغه الهي عذاب چېري دئ او ولې ځنډېږي چې ته مو پرې ګواښې، خو کله چې دا عذاب راشي نو بیا به تېره موده ډېره لنډه ورته برېښي، د دنیایي عذاب په اړه به هم د دوی انګېرنه همداسې وي او د قیامت په اړه هم، دا یوه داسې عمومي قاعده ده چې جرړې ئې د انسان په فطرت کې غزېدلې دي، د مصیبت او کړاو په وخت کې د راحت اوږده موده ورته لنډه برېښي!! له بلې خوا د قرآن مخاطبینو ته ویل شوي: دا قرآن د الله تعالی له لورې یو څرګند پیغام او ابلاغ دئ، په دې سره حجت بشپړ شوی، حقیقت څرګند شوی، د کافر او مؤمن لارې او د دوی د ایمان او کفر حتمي پایلې څرګندې شوې، اوس به

یوازې هغه څوك له تباهي او هلاکت سره مخامخ کېږي چې د خپل رب په وړاندې د سرغړاوي او بغاوت لار غوره کړي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## محمد

### یادَونه

دغه مبارکه سوره چې ژباړه او تفسیر ئې زموږ د بحث موضوع ده، (قتال) او (وسله واله مبارزه) ئې په دقیقه توګه خو په اجمال او اختصار سره څېړلې ده، نژدې دېرش کاله وړاندې مې د (جنگ از دیدگاه قرآن) په نامه د یوه داسې کتاب په بنې کې تشریح کړې وه چې هر آیت ئې د عنوان په توګه غوره او ترې لاندې اکثر هغه آیتونه راوړل شوي وو چې همدې آیت ته ورته او د هغه شرح او تفصیل ګڼل کېږي، اوس چې د دې مبارکې سورې د تفسیر وخت رارسېدلی دا مې مناسبه وګڼله چې د همغه کتاب ژباړه له ځینو معمولي تصرفاتو سره د لوستونکو په وړاندې کښېږدم، دا به له دوی سره مرسته وکړي چې د قتال په اړه د قرآن لارښوونې او د اسلام لید لوری په ښه او نسبتاً تفصیلي توګه درك کړی شي.

نامناسبه ئې مه ګڼئ چې د دې کتاب (جنگ از دیدگاه قرآن) په اړه یوه خاطره هم له تاسو سره شریکه کړم: له ایران د سړك له لارې عراق ته تلم؛ د دواړو هېوادو سرحد سره؛ لږ وځنډېدو؛ له موټرو کوز شوو او د سړك خوا ته ودرېدو؛ ګڼ شمېر کُردي ځوانان راغونډ شول او هر یو په ډېرې مینې سره روغبړ ته راووړاندې شو او ځینو د حکمتیار صاحب په نامه یاد کړم؛ له روغبړ وروسته مې پوښتنه وکړه چې څنګه مو وپېژندم؛ یوه ئې راته وویل: ستا له انځورونو او کتابونو؛ ورته ومې ویل: له کومو کتابونو؟ یوه ئې تر نورو کتابونو وړاندې د جنگ از دیدگاه قرآن؛ یادونه وکړه او وئې ویل: کاش سیاسي مبارزه پرېږدې او د داسې کتابونو لیکلو ته ځان فارغ کړې؛ امت داسې کتابونو ته اړ دئ. ښایي زما خپله او د داسې مینه والو دا هیله به تر سره شوې وي چې ما ته هغه مهال د څېړنو او لیکنو لپاره فارغ او مناسب فرصت میسر شو چې د امریکا تر تعقیب لاندې وم او زما پر سر ئې د ملیونونو ډالرو جایزه ټاکلې وه؛ شاوخوا پنځوس واړه او لوی کتابونه مې په همدې پنځلسو کلونو کې ولیکل؛ چې د دې کتاب پښتو ژباړه، د پلوشې اته جلده تفسیر، د بخاري شرح (حکمة الباریٔ)، سلفي شم که مذهبي پاته شم، بایبل د قرآن په رڼا کې، د قرآن پښتو ترجمه، ساینس او د قرآن علمي اعجاز، د امریکا ضد اسلامي جهاد، بُش د دروغجنو پاچا، افغانستان د امریکا بل ویتنام، د اسلامي دولت اساسي قانون او ... په

همدې ضمن کې وو. وَمَا تَوْفِيقِي إِلا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ.

## د سورې پېژندنه:

دا سوره په دوو مشهورو نومونو یاده شوې: (محمد) او (القتال)، خو (القتال) نه یوازې د دې سورې لپاره یو نوم دئ بلکې د سورې د مضامینو لپاره عنوان هم دئ. ۳۸ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (اعمالهم) ته ورته دي، یوازې لسم او څلرویشتم آیتونه ئې په (امثالها) او (اقفالها) پای ته رسېدلي، د آیتونو اوږدوالی ئې هغو سورتونو ته ورته دئ چې د مدني دور په لومړیو کلونو کې نازل شوي. د سورې له متنه داسې معلومېږي چې دا سوره د مدني دور په هغو ظروفو او شرائطو کې نازله شوې چې د قتال (جنګ) حکم صادر شوی خو لا عملاً نه دئ پیل شوی، د قتال له فرض کېدو وروسته او د هغه تر عملي پیل وړاندې نازله شوې، د دې مختصرې سورې په موجزو آیتونو کې د (قتال) او (وسله والې مبارزې) موضوع په دقیقه توګه خو په اجمال او اختصار سره څېړل شوې او د قتال او جنګ په اړه د اسلام نظریه زموږ په وړاندې ږدي او ښیي چې: ولې وسله واله مبارزه فرض شوې؟ ولې جنګ حتمي دئ؟ له چا سره باید وجنګېږو؟ کله به ئې پیل کوو؟ د جنګ غایه او موخه به څه وي؟ تر کله به جنګېږو او وسله به پر زمکه نه ږدو؟ په جنګ کې د بري عوامل کوم دي؟ د ماتې اسباب ئې کوم دي؟ څوك به بریالی کېږي او ولې او څوك به له ماتې سره مخامخ کېږي او ولې؟ د جنګ او په جنګ کې د اسراوو احکام او د نښتو په وخت کې د مؤمنو جنګیالیو وجائب کوم دي؟ د جنګ او د هغه دپایلو په اړه د چا دریځ او وینا منافقانه ده؟ منافقین ولې د دښمن په خلاف له پرېکنده او قاطع دریځ او وسله والې نښتې سره مخالفت کوي؟ په جنګ کې د منافقینو ونډه، د دښمن له جبهې سره د دوی سازشونه، د مسلحانه مبارزې او د هغې د نتائجو او پایلو په اړه د دوی خصمانه تبلیغات، هم د بري په صورت کې او هم د ماتې په صورت کې، منافق تر دې وړاندې چې د صلحې صحیح او مناسب وخت راورسېږي له دښمن سره پر صلحې او روغې جوړې تأکید کوي، باید وګورو چې له دښمن سره د صلحې مناسب وخت کوم دئ، له سیاسي او نظامي پلوه د دښمن په پرتله د برلاسي حالت او که د ضعف، ناتوانۍ او د دښمن له مقابلې د عجز حالت؟! منافقین تل دا تبلیغات کوي چې د جګړې پر دوام ټینګار زموږ لاسته راوړنې له منځه وړي، آیا دا اټکل او اندېښنه سمه ده؟ آیا صحیح ده له دې پلوه مشوش وو او له کبله ئې له دښمن سره روغه جوړه وکړو؟ څوك چې د الله په لار کې جهاد پرېږدي او نورې لارې غوره کوي له کومو پایلو سره مخامخ کېږي؟... ټولې پورتنۍ پوښتنې او د وسله والې مبارزې اړوند ډېر نور مسائل په دې مبارکې سورې کې څېړل شوي، په حقیقت کې دا سوره ټول هغه آیتونه احتواء کوي چې د جنګ په اړه په قرآن کې راغلي.

دا مبارکه سوره دوه برخې لري: لومړۍ برخه ئې له لومړي آیت تر ۱۹ آیت پورې ده

چې د مؤمنانو او کافرانو تر منځ د نښتو څرنګوالی او پايلې ئې څېړي؛ او دوهمه برخه ئې له شلم آيت د سورې تر پای پورې ده او د وسله والې مبارزې په اړه د منافقينو دريځ او کړنلاره څېړي.

لومړۍ برخه دا مهم قضايا احتواء کړي:

- دښمن د الله تعالی د لارې خنډ دئ، د هغو په وړاندې خنډونه راولاړوي چې غواړي خپل رب وپېژني، دا کار تصادم او نښته رامنځته کوي، خو دا د الله د لارې مانع ډله به نه له خپل کفر او انکار څه تر لاسه کړي او نه د مؤمنانو په وړاندې د خنډونو له راولاړولو کومه لاسته راوړنه لري، بايد پوه شي چې هڅې به ئې نه يوازې هدر شي بلکې بدې پايلې او معکوس او د دوی په ضرر نتائج به په لاس ورکړي.
- هغه چې د ايمان او صالح عمل لار ئې غوره کړې د کمال په لوري به مخکې ولاړ شي، د دوی اخلاقي او اجتماعي حالت به لازيات غوره والی او ښه والی مومي، که څه هم نن ئې حالت پرېشان دئ او دښمن ئې کمزوري او ضعيف ګڼي او خپل زور او ځواک ورښيي، خو دا د ضعف، کمزورۍ او پرېشانۍ حالت به ډېر ژر پای مومي او سترې سترې برياوې به ئې په برخه شي.
- د کفري ځواکونو د ماتې اصلي عامل بايد په هغې کړنلارې کې ولټوو چې دوی د ځان لپاره غوره کړې، دوی به له دې کبله له ماتې او سپکاوي سره مخامخ کېږي چې د (باطل) په کږې لار درومي؛ او مؤمنان به له دې کبله لوړ درومي او برياوې به تر لاسه کوي چې د (حق او حقيقت) متابعت کوي.
- کله چې له دښمن سره د وسله والې نښتې فرصت راورسېدو او تاسو دښمن داسې ومومد چې خپلې تورې ئې له تېکو راايستلې، دا مهال بايد ټولې هغه وسوسې او واهمې لرې وغورځوئ چې ستاسو او دښمن تر منځ د تصادم مانع کېږي؛ او د دښمن له بشپړ ځپلو او له پښو غورځولو پرته د بل څه په اړه سوچ ونه کړئ، د جاهل مخاطب په اړه ستاسو زړه سوی، د وينو له بهولو کرکه، د صلحې او امنيت هيله، د خلکو د هدايت تلوسه او دې ته ورته مشاعر بايد د دښمن په ضد د پرېکنده جنګ مانع نه شي، يوه شېبه هم د دښمن په صفوفو کې د وينو له تويولو ډډه مه کوئ، داسې نه چې د دښمن تر بشپړ ځپلو وړاندې تورې په تېکو کې کړئ او وسله پر ځمکه کښېږدئ. جنګ بايد تر هغه ادامه وکړي چې ستاسو په ضد د مجدد جنګ امکانات له منځه ولاړ شي، د جنګ غوښتونکي دښمن په ضد ستاسو د جنګ هدف او غايه دا ده چې د تل لپاره پای ته ورسېږي، قرآن تاسو ته امر کوي چې تر هغه وجنګېږئ چې جنګ او جنګ غوښتونکي وسله پر ځمکه کښېږدي.
- کله به د دښمن اسيرولو ته اهتمام کوو او له اسير دښمن سره به زموږ معامله څنګه وي؟

- د جنګ غوښتونکوو کافرانو په اړه الهي سنت داسي دئ چي دوی د مؤمنانو په لاس تعذيبوي او د مظلومانو او ستم ځپلو انتقام تري اخلي، د دغو دوا ړو ډلو تر منځ نښتي د دغه الهي سنت مطابق رامنځته کېږي، الله تعالی د همدې نښتو په ترڅ کي هغه مؤمنان آزمويي چي مبارزه او جهاد ئې د الله په لار کي او له حق، حقيقت او عدالت د دفاع په موخه وي.
- هغه ملت چي د الله په لار کي ئې شهيدان ورکړل او له کړاوونو سره مخامخ شول هيڅکله دي دا ګمان نه کوي چي قرباني به ئې هدر شي، آرمانونه به ئې نيمګړي پاته شي او لار به ئې بې لاروي، قدير خدای د هر شهيد پالونکي ملت د هيلو او آرمانونو د تحقق ضامن او ذمه وال دئ، هرو مرو به دوی د سعادت په لوري هدايت کړي، حالت به ئې ښېرازه کړي او په پای کي به ئې جنت ته بوځي.
- هغه مهال الهي نصرت ته طمع ولرئ او د راتلو انتظار ئې وکړئ چي عملاً ثابته کړئ پاځون او جهاد مو د الله تعالی لپاره دئ، د حق او عدالت مدافع، د الله تعالی د مظلومو بندګانو مرستندوی او د حق دين رښتيني پلويان يئ، يوازي په دې صورت کي به الله تعالی ستاسو مرسته کوي او ستاسو ګامونه به له حق د دفاع او د باطل د مقابلې په سنګر کي مضبوطوي.
- مطمئن اوسئ چي په دې صورت کي به ستاسو دښمنان داسي وي چي که هره تيره ستاسو لوري ته د رغړولو په موخه پورته کوي پر خپلو پښو به ئې پرېوځي، هر ګام چي اخلي له مانع سره به تصادم کوي او پړمخي به لوېږي او ټولي هځي او هلي ځلي به ئې هدر ځي.
- د زمانې په هر پړاو کي به د حق د دښمنانو برخليك همغسي وي لكه تر دوي وړاندي د دوی د سلف برخليك، د تاريخ پاڼي واړوئ او وګورئ چي د دوی د سلف عاقبت څنګه وو؟ آيا الله تعالی هر څه پر دوی رانسکور نه کړل او د دوی اقتدار ئې پای ته ونه رسولو؟ د باطل د ټولو پلوي ځواکونو لپاره دې ته ورته برخليك انتظار کوي که څه هم په ظاهر کي مجهز او تلپاتي برېښي.
- د دې وجه دا ده چي د آسمانونو او زمکي پالونکی رب د مؤمنانو مولا، حامي او مرستندوی دئ او کافران هيڅ مولا او مرستندوی نه لري.
- مؤمنان به په دنيا کي بريا تر لاسه کوي او عزت ته به رسي او په آخرت کي به جنت ته ننوځي، خو کافران چي په خپل ژوند کي له خوراك څښاك او له دنيايي لذائذو متمتع کېدو پرته بل هدف نه لري، دوی د حيوان په څېر ژوند کوي او د حيوان په څېر مري او په پای کي به دوزخ ته درومي.
- که ستا دښمن ځواکمن برېښي، ته ئې له خپل ټاټوبي تبعيد کړی يې؛ مطمئن اوسه چي الله تعالی تر دوی ډېر ځواکمن دښمنان له منځه وړي، څومره پر لويو لويو ښارونو او

ملکونو مسلط څواکونه، له خپل غولوونکي او هیبتناك ظاهر سره، د خپل عصیان، فساد او ظلم له کبله له الهي مؤاخذې سره مخامخ شوي او د اقتدار ټغر ئې ټول شوی!! کله چي د دوی د هلاکت او زوال نېټه رارسېدلې نو هيڅ څه نه دي توانېدلي چي د دوی مرستي ته راوړاندي شي او د زوال مخه ئې ونيسي!!

- هغه چي خپله تګلاره په بصيرت سره غوره کوي، د بيناتو په رڼا کي د واضح او څرګندو اهدافو په لوري په دقت او احتياط سره درومي؛ له هغو سره برابر نه دي چي نه د خپلي تګلاري او کړنلاري په انتخاب کي د خپل عقل ږغ ته غوږ نيسي او نه د خپل ژوند د موخي او هدف په ټاکلو کي د خپل ضمير او وجدان حکم ته اعتناء کوي، د هوی او هوس بنده دئ او خپلي بدي او کرغېړني کړني ښايسته او ښکلې ګوري!!
- دا دواړه ډلي نه په دنيا کي سره برابري دي او نه په آخرت کي، په آخرت کي به يو په جنت کي تلپاتي وي او بل په جهنم کي، يو د دې وړ چي د جنت پراخ نعمتونه ئې په برخه وي او نيمګړتياوي او اشتباهات ئې وبخښل شي او بل د دې مستحق چي د تل لپاره په دوزخ کي وي.
- کافر په اصل کي يو سفيه او ناپوه انسان دئ چي خپل عقل ئې وزګار پرېښی، د هوی او هوس بنده شوی، هوسپالني د ده پر زړه او دماغ خپل تور وزر غوړولی، د حقيقت له درك او پر هغه له ايمان ئې عاجز کړی، که کله د کوم زړه سواند مبلغ او فکور دعوتګر ويناوو او نصيحتونو اورېدو ته اړ شي؛ که څه هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم په څېر اغېزمن مبلغ او دعوتګر وي؛ نه يوازي څه اغېز پرې نه کوي او د زړه او دماغ دړه ئې ورته نه پرانيستل کېږي بلکي د تبليغ او نصيحت په پای کي له نورو پوښتي: ده څه وويل؟!! زه خو پرې پوه نه شوم!!
- او د دې سفيه او ناپوه ډلي په مقابل کي هغه مؤمن وګړي ګورو چي ويښ ضمير او حساس وجدان ئې د دې باعث کېږي چي د هري وينا ژورو ته رسېږي، له هر نصيحت په پراخه پيمانه برخمن کېږي، د معرفت دړې ئې پر مخ پرانيستل کېږي، فکري او اخلاقي رشد او کمال ئې په برخه کېږي او تقوی او پرهيزګاري ئې زياتېږي.
- هيڅ څه نه شي کولی د دې سفيه ډلي ويده ضمير راويښ کړي، پرېږده چي د قيامت ناڅاپي راتګ او هيبتناك غږ ئې راويښ کړي.
- د جاهل او سفيه مخاطب مخالفت او د لجوج او متعصب خصم لجاجت دي په دې اړه ستا اعتقاد کمرنګی نه کړي او ستا باور ته دي صدمه ونه رسوي چي الله تعالی يوازينی معبود دئ، تل او ډېرو سختو شرائطو او د دښمن د سختو مخالفتونو په حالت کي هم ځان جوړوني، د خپل فکري او اخلاقي شخصيت ارتقاء، د خپل قصور او نيمګړتياوو رفع کولو ته اهتمام کوه، د خپلو همسنګرانو او همسفرو تربيې او روزني ته توجه کوه، دې ته په پام سره چي د دنيا او آخرت په اړه الهي لارښووني پر جامع او کامل الهي علم ولاړي دي، بايد

دا الهي لارښووني په دقيقه توگه مراعات کړې او په رڼا کې ئې پر مخ ولاړ شې.

د سورې دوهمه برخه د منافقينو په اړه دغه لارښووني او مطالب زموږ په وړاندې ږدي:

• منافق يو دوه مخی، مذبذب، رياءکار او له روحي پلوه بيمار انسان دئ چې سعي کوي په غوړه مالۍ، غولوونکو ويناوو او حرکاتو سره د مبارزې دواړو خواوو کې په زړه پوري موقعيت تر لاسه کړي، د دواړو خواوو له ضرر په امان کې شي او د دواړو لوريو له امتيازاتو برخمن شي، د وسله والې مبارزې د مناسب وخت تر رارسېدو وړاندې په دې ټينگار کوي چې بايد دا مرحله او د ستومانه کوونکې انتظار دا پړاو ژر پای ته ورسوو، وسلې ته لاس کړو، په يوه پرېکنده اقدام سره ستونزه حل کړو، تر کله به صبر کوو او توري به په تېکو کې ساتو او وسلې ته به لاس نه وروړو؟! ولې د نهضت مشرتابه د وسله والې مبارزې پيل نه اعلانوي؟ خو کله چې دا مرحله راورسېږي او د دښمن په خلاف د وسله والې مبارزې پرېکړه وشي، ناڅاپه به گورې چې دا دوه مخي او بيمار زړي منافقين داسي وېري او خوف نيولي لکه چې د مرگ په لوري بېول کېږي، سنگر به داسي گڼي لکه د مرگ کومی، د سنگر په لوري هر گام به داسي گڼي لکه د مرگ او قبر په لوري تگ.

• د جنگ حالت د منافق په پېژندو کې مرسته کوي، د همدې جنگ په حالت کې دئ چې د دوی نفاق جوتېږي او د دوی له ملمع څېرو غولوونکې پردې لرې کېږي، په همدغه حالت کې به گورې چې منافق نه خپلو ژمنو او تعهداتو ته التزام کوي او نه د قيادت او زعامت پرېکړو ته غاړه ږدي، ويناوې، قضاوتونه، تحليلونه او تبصرې ئې خصمانه او د دښمن په گټه، په صف کې به د بدنظمۍ او اختلاف باعث کېږي، د مسلمانانو د ضعف او د دښمن د ځواکمنۍ خبري به کوي، د مجاهدينو په ليکو کې به يأس او ناهيلي خوروي؛ او د دوی رزمي روحيه به کمزورې کوي.

• چا چې د سنگر سختي ورځې نه وي ليدلې، د مبارزې په لوړو ژورو او کړېچونو کې نه وي روزل شوي، د بريا ډالۍ ئې د ستونزو او کړاوونو له گاللو وروسته نه وي تر لاسه کړې، بلکې وړيا ئې تر لاسه کړې وي، له لنډې لارې او په آسانۍ سره قدرت ته رسېدلي او د خلکو د چارو متولي شوي وي، تاريخي تجربو ښودلې چې داسي خلك له يوې خوا مفسد واکمنان جوړ شوي او له بلې خوا قسي القلب او بې رحم چارواکي، نه ئې د مبارزې لاسته راوړنو ته څه ارزښت او اهميت ورکړی او نه ئې د هغوی ساتنې ته اعتناء کړې، نه ئې له اقتدار او صلاحيتونو د استفادې په څرنگوالي کې احتياط او دقت کړی او نه ئې خلکو ته اهميت ورکړی او د زړه سوي او ترحم له مخې ئې له هغوی سره چلن کړی.

• د قرآن په هغه الهي کتاب کې له تدبر محروم شوي چې دوی د ايمان ادعاء پرې لري، د بيمارو زړونو دروازې ئې د دې الهي کتاب د معارفو په وړاندې تړل شوې، د قرآن له لارښوونو بې خبري، د ايماني مسئوليتونو په اړه ناقص او نيمگړی معرفت، د هغې لارې له

لوړو ژورو او کړلېچونو بې خبري چې د الله تعالی په لوري درومي، د اسلامي نهضت د تګلاري او د هغې د مقتضياتو په اړه جهل؛ او د کفر او ايمان تر منځ وروستۍ پوله او فاصل حد نه پېژندا د دې باعث شوي چې دا ډله د خپلې تګلارې او دريځونو په ټاکلو او د وسائلو په غوراوي کې د خبط او خطأ مرتکب شي او په هرګام کې د نفاق داعي ته لبيك ووايي.

- د دې ډلې د ارتداد لپاره دوه دلائل وړاندې شوي:

الف: شيطان د دوی منافقانه وضع ورته ښايسته کړې.

ب: د خپلې منافقانه تګلارې د پايلو په اړه ئې د دوی په زړونو کې هيلې راټوکولې.

دښمن ته د دوستۍ پيغامونه لېږي، پټې اړيکې ورسره پالي، اطمئنان ورکوي چې په ډېرو مواردو کې له دوی سره موافق دي او دې ته چمتو دي چې د دوی ملتيا وکړي، په دې باور دي چې په ځينو برخو کې د کافرانو تګلارې او کړنلارې د تأييد او متابعت وړ دي!!

- ظاهر او باطن ئې توپير لري، اکثراً د دوی ظاهر د باطن مغاير وي، دوه مخي دي، د مسلمانانو په وړاندې ځان مسلمان ښرګندوي او د دوی په غياب کې او د کافرانو په څنګ کې کافر وي، کله خپلې ګټې د مؤمنانو په څنګ کې لټوي او دې لوري ته راځي؛ او کله د ايمان لار او د مؤمنانو ملګرتيا خطر ناکه مومي، تر شا کېږي او د کفر جبهې ته پناه وړي.

- الله تعالی هم دوی ته داسې سزا ورکوي چې د دوی له منافقانه کړنو سره ورته وي، فرشتو ته امر کوي چې د دوی د روح قبضولو پر مهال پر شا او مخ ئې ګوزارونه ورکړي.

- د الله تعالی د غضب په بيع د خپل نفس د ارضاء لټه کوي.

- داسې انګېري چې په زړنګې او ځېرکې سره کولی شي دواړه لوري وغولوي او په زړه پوري موقعيت تر لاسه کړي، کولی شي خپله اصلي څېره او ماهيت له نورو پټ وساتي، ګمان نه کوي چې خبير خدای به د دوی د نفاق پرده څيري کړي او ماهيت به ئې ټولو ته جوت کړي او هغه کينه چې د دوی په سينو کې ئې د رښتيني ايمان په خلاف ځای نيولی، هغه حساسيت چې دوی ئې په وينا او عمل کې د صداقت او شفافيت په اړه لري، هغه کرکه چې دوی ئې د الله تعالی په لار کې د قربانۍ او په خپلو ژمنو وفا او التزام په اړه لري او د دوی پر زړه او دماغ ئې سيوری غوړولی، الله تعالی به دا ټول ښرګند کړي.

- د منافق د پېژندو درې معيارونه په ګوته کوي:

الف: د دوی په څېرو کې د نفاق علائم او آثار.

ب: د بيان په طرز او د وينا په لحن او لهجې کې د نفاق نښې.

ج: منافقانه کړنې.

په قرآن کې د بيان په طرز او د وينا په لحن او لهجې کې د نفاق د نښو او هغو کړنو په اړه تفصيلي بحثونه شوي چې له منافقانه باورونو نشأت کوي، د دغو بحثونو او څېړنو په هنداري کې کولی شو په ښه توګه او په آسانۍ سره منافقين وپېژنو، خو د څېرې له نښو او

علائمو د دوی د پېژندو علم او لارښوونې نه دي ځېړل شوي، كه الله تعالی غوښتی نو د منافقینو د پېژندو دا اړخ به ئې هم څېړلی وو او داسې لارښوونې به ئې د قرآن هر مخاطب ته په واك كې وركړې وې چې له مخې ئې مكار او رياكار منافق ژر او په آسانۍ پېژندی شي خو د خاص حكمت له كبله ئې دا علائم او نښې نه دي ښودلي.

• پر پورتنيو دوو معيارونو او ملاكونو سربېره د ابتلاءاتو او كړاوونو په دوران كې د دې ډلې له مواقفو هم كولی شو دوی وپېژنو، له ستونزو، كړاوونو او موقتي ماتو سره د مؤمنانو د مخامخېدو يو حكمت همدا دئ چې په ترڅ كې ئې مخلص او صابر مجاهدين له دوه مخو، بې ثباتو او مذبذبو منافقينو تفكيك كېږي او د دوی د هغو ادعاوو ځرنګوالی جوتوي چې تر كړاوونو او ابتلاءاتو وړاندې ئې كولې او ماهيت ئې ټولو ته جوتېږي.

• منافقين ورو ورو په خپل نفاق كې وړاندې درومي او هغه پړاو ته رسېږي چې كاملاً كافرانه كړنلاره او دريځ غوره كوي، له الله تعالی سره خپلې اړيكې شلوي، په قول او عمل كې د اسلام له دائرې وځي، انشعاب كوي او عملاً د دښمن له جبهې سره يو ځای كېږي، خو په دې كار سره يوازې خپل ځان ته صدمه رسوي، نه دې دوی دا ګمان كوي او نه دې مؤمنان داسې تصور كوي چې منافقين به په خپلو منافقانه كړنو او دريځونو سره الله تعالی او د ده دين ته تاوان ورسوي، بلكې بايد په دې باور وي چې د دوی ټولې هلې ځلې او مساعي به حبط او هدر كېږي او معكوس او د دوی د زعم خلاف نتائج به د دوی مخې ته ږدي.

• د الله تعالی د اوامرو عدم اطاعت او د ده د رسول د لارښوونو عدم متابعت سره انسان د نفاق په ګنده ډنډ كې پرېوځي او هڅې ئې حبط كېږي.

• منافق داسې ګنهكار دئ چې له الهي بخښنې او مغفرت محروم دئ.

• وهن او سستي، صلحې او روغې جوړې ته د دښمن بلل، د دښمن په وړاندې د حقارت او ضعف احساس، له الهي تأييد او نصرت يأس او ناهيلي، په دې اړه ټينګ او ثابت باور نه درلودل چې د الله تعالی په لار كې هيڅ عمل او هېڅ هڅه او هاند نه ضائع كېږي، د نفاق هغه سپېرې نښې دي چې بايد په كلكه ترې ډډه وكړو.

• داسې نه چې د دنيا په مال او متاع پورې داسې ونښلئ چې ايمان مو زيامن شي، داسې نه چې پرېوتي دنيايي اهداف مو په خپلو منګولو كې داسې ونيسي چې لوړو او سپېځلو معنوي اهدافو ته د اعتناء او التفات فرصت درنه سلب كړي، كه خدای مه كړه داسې وشول نو ستاسو ژوند او ستاسو هڅې به د ماشومانو بې محتوی لوبو ته ورته شي، داسې مه انګېرئ چې د الهي لارښوونو په اړه التزام او د ايمان په رڼا كې ژوند به تاسو د ژوند له نعمتونو محروم او د ژوند مجال به درته تنګ كړي او هر څه به له لاسه وركړئ، نه؛ بلكې د ايمان په نتيجه كې به هم په دنيا كې او هم په آخرت كې د الله تعالی پېرزوينې، پراخ نعمتونه، ستر الهي اجر، غوره او په زړه پورې نتائج تر لاسه كړئ، په حقيقت كې ايمان

ستاسو ژوند ته ارزښت ورکوي او اهميت ئې لوړوي.

• د ايمان په دائره کې ستاسو وجائب او مسئوليتونه ستاسو له توانمنيو او استعدادونو سره متناسب دي، ايمان مو هيڅکله داسي مطالبه نه درنه کوي چې ستاسو له توان او ظرفيت لوړ وي او تر سره کول ئې گران.

• او د سورې په پای کې د سورې ښکلې، جامع او دقيقه اختتاميه راغلې چې نه يوازي د سورې د دوهمي برخي له ټولو مضامينو سره ژور او موزون مناسبت لري بلکې د سورې د ټولو مطالبو خلاصه زموږ په وړاندي ږدي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ أَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ١

**هغه چې کفر ئې کړی او د الله له لاري ئې ډډه کړې؛ عملونه ئې ورحبط کړل.**

(١)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

• الله تعالى د هغه چا عملونه حبط کوي چې له اعتقادي پلوه ئې کفر کړی او له عملي پلوه ئې د الله له لاري ډډه کړې او نور د الله له لاري منع کوي. (صدوا عن سبيل الله) هم په خپله د الله له لاري ډډه کول افاده کوي او هم نور ترې منع کول.

• لکه چې گورئ د دې سورې په لومړی آيت سره د هغو خلکو په اړه بحث پيل شوی چې په خپل کفر او انکار سره نه يوازي په خپله د الله په لاري له تگ ډډه کوي بلکې د نورو په وړاندي خنډ کېږي؛ او هڅه کوي نور په دې لاري له تللو منع کړي، په دې کار سره د تصادم او نښتي عوامل رامنځته کوي او د الله د لاري مؤمن لاروي دې ته اړ کوي چې تصادم ته چمتو شي، خو قرآن په ټول قاطعيت سره او په پرېکنده الفاظو سره وايي چې الله تعالى به حتماً د دې کافري او د الله له لاري منحرفې ډلې ټولې هلې ځلې حبط او هدر کوي او تدابير به ئې بې نتيجې گرځوي، نه يوازي دا چې خپلو موخو ته به ونه رسېږي بلکې د دوی هر کافرانه اقدام به په خپله د دوی په خلاف تمامېږي، معکوس نتائج به تر لاسه کوي، هر گام چې له سبيل الله يوه او بل لوري ته اخلي د سقوط او تباهي په لور به وړاندي ځي، هره هڅه چې د الله د لاري د خنډنولو په موخه کوي يوازي د ځان په ضرر ثمره به ئې په برخه کېږي.

• په دې توگه مؤمنانو ته اطمئنان ورکول شوی چې کفري ځواکونه له خپلو ټولو وسائلو او امکاناتو سره او په خپلو ټولو تدبيرونو او ډول ډول ناروا هڅو سره هيڅکله نه شي کولی ستاسو لار خنډ کړي او د الله په لاري د تگ مانع شي، د دغو ځواکونو ظاهر چې هر څومره مضبوط، هيبتناك او وېروونکی وبرېښي، اهميت او ارزښت مه ورکوئ او وېره مه

ترې لرئ، مطمئن اوسئ چي په پای کي به د خس او خاشاك په څېر ثابت شي او ستاسي له لاري به جارو کړی شي، دا یوه پرېکړه ده چي هر څوك د کفر لار غوره کړي او هڅي ئې د کفر په خط کي او د ایمان او مؤمنانو خلاف وي، په دنیا او آخرت کي به د هغه اعمال حبط او هڅي بې نتیجه کوي.

په عمل کي گورو چي پر طبیعت د حاکمو سننو او ضوابطو له مراعات پرته هیڅ اقدام او هڅه مطلوب نتائج نه ورکوي، هیڅکله نه شو کولی د اړوند طبیعي قواعدو او ضوابطو له مراعات پرته یو کار که دا په یوه لابراتوار کي د یوه ساده کیمیایي توکي تولید وي او که د پر مخ تللو پېچلو وسائلو جوړول؛ تر سره کړو او کومه نتیجه تر لاسه کړو، د دغو قواعدو په وړاندي له التزام پرته هره سعي او هڅه حبط او هدر شي او بې نتیجې پای ته ورسېږي. څنگه ممکنه ده چي د کفر هغه تگلاره چي له حقائقو انکار او ټولو فطري او طبیعي حدودو او سننو ته لته ورکول دي غوره پایله او په زړه پوري مطلوب نتیجه ولري؟!

قرآن ټولي هغه ډلي موږ ته راښودلې چي په یوې او بلي بڼې کي او په قول او عمل او په خپلو ویناوو او کړنو سره د الله په لار کي خنډونه راولاړوي او د اسلامي دعوت په وړاندي مشکلات او موانع رامنځته کوي؛ او راښیي چي د دغو ډلو هره یوه د حق او هدایت په وړاندي کومه تگلاره غوره کوي او کوم وسائل او ذرائع کاروي.

قرآن دا ډلي په دې توگه معرفي کوي:

## مستکبرین او مترفین

مستکبرین (لویي غوښتونکي) او مترفین (له سوکالۍ برخمن) هغه وگړي دي چي د ټولني موجود حالت د دوی په گټه دئ، دوی ته ئې له سیاسي او اجتماعي پلوه اقتدار ورکړی او له اقتصادي پلوه ئې دوی ته سوکالي او رفاه ورپه برخه کړې، دوی د اسلام او هر الهي دعوت په ضد په خپل دریځ کي صریح، قاطع او نه ښخلا کېدونکي دي، تل ئې د پیغمبرانو علیهم السلام د الهي دعوت مخالفت کړی، اصولاً هر هغه دعوت چي د ټولني په حاکم سیاسي، اجتماعي او اقتصادي جوړښت کي د بدلون غوښتنه کوي او غواړي هغه ظالمانه مناسبات او مقررات بدل شي چي د مترفینو د رفاه او د مستکبرینو د استکبار ضامن دي، حتماً به د مترفینو او مستکبرینو له مخالفت او عداوت سره مخ کېږي، قرآن په دې اړه فرمایي:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾ سبأ

او په هیڅ کلي کي مو کوم خبرداری ورکوونکی (پیغمبر) نه دئ لېږلی مگر دا چي مترفینو ئې (هغو چي سوکالي ورپه برخه شوې) وویل: مونږ په قطعي توگه له هغه څه منکر یو چي تاسو ورسره لېږل شوي یئ.

قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا بِٱلَّذِيٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٧٦﴾ الاعراف

لويې غوښتونکو وويل: موږ له هغه څه منکر يو چې تاسو پرې ايمان راوړی.

قرآن هغه اسلوب موږ ته راښيي چې مستكبرين او مترفين ئې د اسلامي دعوت په ضد كاروي، ځيني ئې دا دي:

١ـ كفر په ميراث پرېښودل: هر كافر انسان په شخصي او انفرادي توگه كفر او بې ايماني او له اسلام او ديانت سره خصومت او عناد خپلو اخلافو ته په ميراث پرېږدي؛ او د هغو وگړو د انحراف په مسئوليت کې شريك كېږي چې د ده تر پالني او كفالت لاندي ول او د ده تر اغېز لاندي د كفر او بې ايمانۍ لوري ته سوق شوي.

٢ ـ تهديد او تخويف: دښمنان له يوې خوا د ارعاب او ارهاب له لاري د كمزوري ايمان خاوندان د الله له لاري منع كوي او د ايمان له عواقبو او له هغو مخاطراتو ئې وېروي چې په دې مسير کې ورته منتظر دي، له بلې خوا د مؤمنانو په وحشيانه تعذيب او ځورولو سره د دعوت په وړاندي داسي فضاء جوړوي چې هيڅوك د ايمان لپاره له داسي گواښونو او عذابونو سره د مخامخ كېدو جسارت ونه كړي او د مؤمنانو په څنگ کې د ودرېدو خطرونه قبول نه كړي. قرآن كريم په دې اړه فرمايي:

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ لَنُهۡلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٣﴾ وَلَنُسۡكِنَنَّكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ ابراهيم

او كافر شوو خپلو پيغمبرانو ته وويل: يا به مو هرو مرو له خپلي زمكي باسو او يا خو به حتماً زموږ دين او مذهب ته راگرځئ، نو رب ئې دوی ته وحي وكړه چې دا ظالمان به هرو مرو هلاك كړو؛ او له دوی وروسته به تاسو په همدې زمكي کې حتماً مېشت كوو، دا د هغه چا لپاره دي چې زما له مقام ووېرېدو او زما له وعيد او گواښ ووېرېدو.

په بل ځای کې فرمايي:

فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٞ مِّن قَوۡمِهِۦ عَلَىٰ خَوۡفٖ مِّن فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِمۡ أَن يَفۡتِنَهُمۡۚ وَإِنَّ فِرۡعَوۡنَ لَعَالٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٨٣﴾ يونس

نو پر موسی د ده د قوم له ځينو زامنو پرته چا ايمان رانه وړ، د فرعون او د دوی د مشرانو له دې وېري چې تعذيب به ئې كړي، يقيناً چې فرعون د زمكي پر سر يو متكبر او باغي وو او هغه له مسرفينو وو.

په بل آيت کې راغلي:

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ذَرُونِيٓ أَقۡتُلۡ مُوسَىٰ وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمۡ أَوۡ أَن

يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ ﴿٢٦﴾ المؤمن

او فرعون وويل: ما پرېږدئ چې موسی ووژنم؛ او هغه دې خپل رب (مرستې ته) وروبلي، زه ويرېږم چې ستاسو دين به بدل کړي او يا به په زمکې کې فساد خور کړي!

او د فرعون د هغه تهديد او تخويف په اړه چې سحره ئې له دې کبله ووېرول چې د موسی عليه السلام د مقابلې پر ځای ئې پر هغه ايمان راوړ او په دې کار سره ئې د فرعون قهر او غصه راوپاروله؛ فرمايي:

قَالَ ءَامَنتُمۡ لَهُۥ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِي عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحۡرَۖ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمۡ فِي جُذُوعِ ٱلنَّخۡلِ وَلَتَعۡلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابٗا وَأَبۡقَىٰ ﴿٧١﴾ طه

وئې ويل: آيا تر دې وړاندې چې اجازه درکړم ده ته مو ايمان راوړ؟ يقيناً چې دی ستاسو هغه مشر دئ چې جادو ئې درښودلی!! نو هرومرو به ستاسو لاسونه او ستاسو پښې يوه د بل خلاف پرې کوم او حتماً به تاسو د خرما په ستو پانسی کوم او تاسو به هرومرو پوه شئ چې څوك په موږ کې د عذابولو له پلوه شديد دئ او څوك د ډېر پايښت خاوند.

او قرآن د مؤمنانو او حقپالو په ضد د دښمنانو دا غضبناك او قهرناك چلن او د هغه محتوم نتائج او پايلې په دې موجز او جامع آيت کې داسې انځوروي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَيَقۡتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡقِسۡطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾ آل عمران

يقيناً هغه کسان چې د الله په آيتونو کافران کېږي او د الله پيغمبران په ناحقه وژني او له خلکو هغه کسان هم وژني چې د عدل کولو امر کوي، نو د دردناك عذاب زېری ورکړه.

يعني دا کافران چې د الله له آيتونو انکار کوي، د الله د پيغمبرانو په مخالفت کې هغه ځای ته رسي چې د دوی د وژلو لپاره ملا تړي او آمرين بالقسط وژني، هر څوك چې د ظلم خلاف غږ اوچت کړي او عدالت ته بلنه ورکړي، دوی ئې وژني، ځيني له دې انکار او د پيغمبرانو او آمرين بالقسط له وژلو دا طمع لري چې په دې سره به خپل مخالفين وځپي او د دوی اقتدار ته ورپېښ گواښونه به ختم کړي او د دوی د رياست او قيادت بقاء او دوام به تضمين شي او ځيني نور ئې دا کار په دې هيله او گمان کوي چې په دې سره له خپل (حق مذهب) دفاع کوي، الله به ترې راضي شي او جنت به ئې په برخه شي!! خو دوی ته د دوی د دې کاذب او غولوونکي انتظار او هيلې خلاف د دردناك عذاب زېری ورکړه، دوی دې مطمئن وي چې د خپلو هيلو د تر سره کېدو زېری به هيڅکله وانه وري.

۳- تطميع: مستکبرين د ديني خوځښتونو د ځپلو لپاره په څرگنده د ارهاب او ارعاب

سياست غوره کوي او په پټه د دوی د سنګرونو د نيولو او د دوی په ليکو کې د مزدورو څېرو د استخدام په موخه ضعيف النفس او بې ارادې وګړي تطميع کوي، مرور او عقده من، مزدور ليکوالان، حرفه ای سياستوال، طماع مبلغين، په غرض او مرض مبتلی څېرې، د هوی او هوس بندګان، بې هدفه عناصر او د جاه طلبۍ په جنون اخته افراد لټوي، چې له دې لارې هغه سنګرونه له داخل فتح کړي چې له بهر ئې نه شي فتح کولی.

قرآن د فرعون په اړه وايي چې د مصر مذهبي مشران ئې د موسی عليه السلام مقابلې ته وهڅول او هغوی ته ئې وويل: که په دې مقابلې کې بريالي شوئ د مقربو درباريانو په نوم لړ کې به ونيول شئ:

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالُواْ لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ الشعراء

نو کله چې جادوګران راغلل فرعون ته ئې وويل: که موږ برلاسي شوو نو آيا موږ ته به حتماً څه انعام او اجوره راکول کېږي؟! وئې ويل: هو! او په هغه صورت کې خو به تاسو (دربار ته) د مقربينو په ډله کې وئ!!

دا مبارك آيتونه موږ ته لارښوونه کوي چې هغه مذهبي مشران چې د طاغوتي نظامونو په خدمت کې بوخت وي او د خپلې دندې اجوره له دغو نظامونو تر لاسه کوي، د همدې نظامونو د حکامو په امر د مشاجرو او مسابقو ميدان ته لېږل کېږي او د طاغوت په امر د حقپالو مقابله کوي هغوی د فرعون د سحره په څېر دي، اجير او مزدور مبلغين دي، مذهب ئې د طاغوت خدمت، هدف ئې اجوره تر لاسه کول او تر ټولو لوړ مقصد ئې د طاغوت دربار ته تقرب وي!! قرآن فرمايي: کله چې جادوګران راغلل؛ فرعون ته ئې وويل: موږ ته به څه اجر او بدله حتماً وي که بريالي شوو؟ هغه ورته وويل: هو! تاسی به د مقربينو په ډله کې وئ، زما د نژدې درباريانو په لړ کې به وئ او د درباريانو په فهرست کې به نيول کېږئ.

کوم دعوت چې انسان ته وايي: د يوه مسئول، هدفمن، سپېڅلو اهدافو ته ژمن او صادق انسان په څېر ژوند وکړه، له چټي مه وځه، دروغ مه وايه، د بل پر حق تېری مه کوه، پر خپل جائز حق قانع اوسه، د هوی او هوس بندګي مه کوه، خپل ځان او خپله ټولنه جوړه کړه، د تقوی لمن کلکه ونيسه، د بدلمنۍ، خباثت او فساد ټغر ټول کړه، د ظلم او د نورو پر حقوقو د تېري مخه ونيسه، طبيعي ده چې داسي دعوت يوازي هغه څوك منلی شي چې لوی زړه، مضبوطه اراده، پوخ عزم او نه ويلي کېدونکی صبر لري، دښمن به د داسي دعوت د مقابلې په موخه دا تګلاره غوره کوي چې په ټولني کې د اخلاقي فساد ټغر وغوړوي، د بدلمنۍ اډې جوړي کړي، خلك په بېهوده لوبو او مصروفيتونو کې مشغول کړي، لکه چې قرآن فرمايي:

وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَـٰمَىٰ وَٱلْمَسَـٰكِينِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا يَوْمَ ٱلْفُرْقَانِ يَوْمَ ٱلْتَقَى ٱلْجَمْعَانِ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾ الانفال

يقيناً هغه چې کافران شوي خپل مالونه د دې لپاره لګوي چې د الله له لارې مخنيوی وکړي، نو حتماً به ئې ولګوي، بيا به پر دوی د حسرت باعث شي بيا به مغلوب شي؛ او دا کافران به د دوزخ لوري ته غونډ کړی شي.

دا آيت مخکينی مطلب مزيد توضيح کوي او وايي:

- کافران خپل مالونه له دين او ديندارانو سره په دښمنۍ کې لګوي، موخه ئې دا چې خلك د الله له لارې راوګرځوي، نه پرېږدي چې خلك د الله لوري ته مخه کړي، خنډونه ورته راولاړوي، په داسې کارونو ئې مصروفوي چې خدای ترې هېر شي، دين ته شا کړي او د ګناهونو په ډنډ کې سقوط وکړي.
- مخکينيو کافرانو دا کار کړی، اوسني به ئې هم حتماً کوي.
- خو په دې سره به خپلو موخو ته ونه رسېږي، مصارف به ئې د دوی د خوښې نتايج ورنه کړي، په خپلو لګښتونو او مصارفو به حسرت کوي.
- خامخا به مغلوب شي.
- په پای کې به د قيامت په ورځ له خپلو مخکينيو او وروستنيو ملګرو سره يو ځای په جهنم کې غونډ کړی شي.

دا نن چې تاسو ګورئ غرب، په غرب پوري تړلې کړۍ او د غربي تمدن په ګنده ډنډ کې پرېوتې ډلې، د اخلاقي فساد د خورولو په لار کې کوم لګښتونه کوي، د راډيوګانو، ټلويزيوني شبکو، ورځپاڼو او مجلو له لارې، فحش فيلمونه، بربنډ تصويرونه، د عفت او اخلاق منافي مطالب، اخلاقي فساد ته بلونکې سندرې او بدکاريو ته هڅوونکي اشعار خپروي، د همدغه مبارك آيت بېل بېل مصداقونه دي. له کومې ورځې چې غرب د اسلام په ضد د تروريزم تر نامه لاندې د پراخ نظامي او فکري يرغل لړۍ پيل کړه، د بي بي سي، امريکا غږ او آزادي راډيو تر څنګ ئې ګڼ شمېر راډيوګانې او تلويزيونونه په دې وګمارل چې د اخلاقي فساد خورولو له لارې د اسلام مقابله وکړي، ځوانان دې ته وهڅوي چې اخلاقي پولې ړنګې کړي، ديني تهذيب ته شا کړي، په شراب، قمار، سندرو او نڅا بوخت شي، سندرغاړې د اتلانو په توګه معرفي کړي، هغه شاعران وملانځي چې د شرابو، ساقي، يار، نګار، سرو شونډو، عاشق او معشوق ستايلو ته ئې خپل ګنده اشعار وقف کړي!!

٤ـ دروغجن تبليغات او شايعې خورول: دښمن د خپلو جناياتو د توجيه لپاره ځان دې ته اړ بولي چې د هغو مظلومانو په ضد دروغجن تبليغات وکړي چې د دوی تر تعذيبونو لاندې دي، دا تبليغات بايد داسې وي چې دوی په خپل ظلم او تېري کې محق وښيي، د

ولس ملاتړ تر لاسه کړي، مؤمنان د بې امنيو سبب، د جګړو عامل، ولس او د دوی ښې ورځې ته ګواښ او له دې کبله د تعذيب وړ ثابت کړي، غواړي په دې تبليغاتو سره له يوې خوا له مظلومو مؤمنانو سره د ولس خواخوږي له منځه يوسي، په خپلې خوا کې ئې ودروي يا لږ تر لږه يې طرف او بې تفاوت ئې کړي، قرآن په دې اړه د موسى عليه السلام په ضد د فرعون او د ده د حواريونو چلن داسې انځوروي:

قَالُوٓاْ إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن يُخۡرِجَاكُم مِّنۡ أَرۡضِكُم بِسِحۡرِهِمَا وَيَذۡهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلۡمُثۡلَىٰ ﴿٦٣﴾ طه

وئې ويل: دا دواړه (موسى او هارون عليهما السلام) خو يقيناً چې جادوګران دي، غواړي په خپل جادو سره تاسو له خپلو سيمو وباسي او ستاسو غوره طريقت او مذهب له منځه يوسي!! نو خپل تدبيرونه راغونډ کړئ بيا يوه ليکه راوړاندې شئ او يقيناً نن به هغه څوك بريالى وي چې برلاسى شي.

د فرعونيانو په دې خبرو کې جادوګرانو ته څو ګواښونه انځور شوي:

• تردد او زړه نازړه توب يوې خوا ته پرېږدئ، دا دواړه موسى او هارون (عليهما السلام) له شك پرته جادوګران دي. هسې د دوی د خبرو تر اغېز لاندې تللي يئ او د مقابلې په اړه مشوش شوي يئ او په خپلو کې مو نزاع پيل کړې، ستاسو اختلاف ښې پايلې نه لري، په ګډه د دوی مقابله وکړئ.

• دوی غواړي په خپل جادو سره دا وطن درته سور اور کړي، فتنې، شخړې او بې امني رامنځته کړي، که خپلې مخې ته پرېښودل شي نو داسې حالت به رامنځته شي چې تاسو له خپلو سيمو وتلو ته اړ شئ.

• دوی ستاسو د پلرنۍ غوره دين دښمنان دي که ئې مخنيوی ونه شي ستاسو غوره طريقت او مذهب له منځه وړي!!

• نو خپل ټول زور څواك وکاروئ، تدبيرونه راغونډ کړئ بيا متحد او يوه ليکه راوړاندې شئ او يقيناً نن به هغه څوك بريالى وي چې برلاسى شي.

قرآن د مؤمنانو په ضد د دښمنانو دا ډول ځورونکې تبليغات د يوې داسې الهي ابتلاء په توګه معرفي کوي چې مؤمنان به هرو مرو ورسره مخامخ کېږي، دا د الله د لارې هغه مخالفې سيلۍ دي چې څپېړه به ئې د دې لارې د هر صادق او رښتيني لاروي مخ ځوروي، له دې معاندانه تبليغاتو به يوازې هغه څوك خوندي پاته کېږي چې په کړه لار تللى وي، د دښمن په اړه تګلاره ئې پر مداهنت او انعطاف ولاړه وي؛ او يا دښمن د ده له لورې ډاډه وي او د کوم خطر احساس ونه کړي، لکه چې قرآن فرمايي:

لَتُبۡلَوُنَّ فِيٓ أَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ وَلَتَسۡمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ

﴿وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَذٗى كَثِيرٗاۚ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ١٨٦﴾ آل عمران

حتماً به په خپلو مالونو او ځانونو کې وآزمویل شئ او هرومرو به له هغو چې تر تاسو د مخه کتاب ورکړی شوی او له هغو چې مشرکان شوي ډېرې ځورونې واورئ او که صبر او تقوی وکړئ نو دا له همتناکو کارونو دئ.

د الله په لار کې به کله د مال قرباني ته بلل کېږئ او کله د ځان، کله به د دين په جامه کې د دين دښمنان ستا مقابله کوي او کله مشرکان، هم به له دې ځورونکې خبرې اورې او هم له هغه، لږ نه؛ ډېرې، حوصله دې لوړه ساته، د الله رضاء وړيا نه تر لاسه کېږي، دا گوهر په ستر سيند کې لامبو او له پياوړو څپو سره ئې ډغرې وهل غواړي، دا الماس د جگو غرونو په لوړو څوکو کې موندلی شې، هلته ځان رسول غواړي، له کړلېچونو به تېرېږې، لوړې ژورې به پلې کوې، زړه غښتلی او متې مضبوطې کړه، قرباني ته تيار شه، له مخالفتونو سره مخامخ کېدو ته ځان چمتو کړه، سختې آزمويني په مخکې لرې، که دې همت وکړ، بې زړه نه شوې، له ودرېدو، تر شا کېدو او يوې بلې خوا ته له کږېدو دې ځان وساتو او له دغو آزموينو بريالی ووتې، الله ته رسې او رضاء ئې تر لاسه کوې. له اذيتونو او ځوروونکو معاندانه تبليغاتو سره مخامخ کېدا د الله د لارې طبيعت دئ، ټول پيغمبران ورسره مخامخ شوي، خو قرآن موږ ته وايي چې دښمنان هيڅکله نه دي توانېدلي په دغو دروغجنو او ځوروونکو تبليغاتو سره خپلو موخو ته ورسېږي،

منافقين

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د اسلامي دعوت بل ستر دښمن کورنی دښمن دئ، هغه چې قرآن ئې د منافق په نامه يادوي، د دوی په اړه وايي:

﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢﴾ المنافقون

خپل قسمونه ئې ډال کړل؛ نو هم په خپله د الله له لارې واوښتل او هم ئې نور واړول، بې شکه چې ډېر بد دئ هغه څه چې دوی کولو.

منافقين له يوې خوا اصولو او ضوابطو ته د عدم التزام له کبله د مسلمانانو په ليکو کې مقرراتو ته د عدم التزام او خپلو ديني مسئوليتونو ته د عدم درناوي او احترام روحيه راولاړوي، بې نظمي او بې اطاعتي رامنځته کوي، له بلې خوا د دعوت هغه مخاطبين له مسلمانانو سره له يو ځای کېدو منع کوي چې د منافقينو حالت، د تعهداتو او مسئوليتونو په وړاندې د دوی بې اعتنائي او د حدودو او مقرراتو عدم امتثال د دې باعث کېږي چې نهضت ته په درنه سترگه ونه گوري او ارزښت ورنه کړي او له يو ځای کېدو ډډه وکړي.

له دوست او دښمن سره د منافقينو دوه مخی چلن د دې سبب کېږي چې ولس د نهضت په اړه شکمن شي او د اعتماد وړ ئې ونه گڼي او ملگرتيا ته ئې زړه ښه نه کړي.

همدا راز د دوی اخلاقي فساد او غيرمهذب کړني د نهضت حيثيت او اعتبار ته صدمه رسوي او د خلکو کرکه او نفرت پاروي.

د هغو پېښو او قضياوو په اړه چې اسلامي نهضت د مبارزې په لوړو ژورو کې ورسره په طبيعي توګه مخامخ کېږي؛ د منافقينو دريځونه، تحليلونه او تبصرې د دې باعث کېږي چې د نهضت په ليکو کې فکري وحدت له منځه ولاړ شي او اختلافات راولاړ شي، د اسلامي نهضت په ليکو کې اکثر اختلافات او تشنجات د همدغو منافقينو له دريځونو او تبليغاتو راولاړېږي. قرآن په دې اړه فرمايي:

لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمۡ إِلَّا خَبَالٗا وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ وَفِيكُمۡ سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾ التوبه

که ستاسو په ليکو کې وتلي وی نو له تاوانه پرته به ئې بل څه نه وو درزيات کړي، هرو مرو به ئې د فتنو په لټه کې په تاسو کې ځغلول کول او په تاسو کې د دوی لپاره اورېدونکي شته، الله د دغو ظالمانو په حال ښه پوه دئ.

دا آيت د دې ډلې او د دوی د فتنو راولاړولو د هڅو او تحرکاتو په اړه څو اساسي مطالب بيانوي:

الف: د دوی شته والی ستاسو قوت او ځواکمني نه زياتوي، بلکې د فساد او بدنظمۍ باعث کېږي.

ب: د دوی هڅه دا وي چې په تاسو کې فتنې راولاړې کړي، د شرارت آسونه به هر لوري ته ځغلوي.

ج: ستاسو په ليکو کې داسې کسان شته چې د دوی د تبليغاتو تر اغېز لاندې راځي، ځيني د سفاهت او سادګۍ له کبله، ځيني د خپلو عقدو او حسادتونو له کبله او ځيني په دې خاطر چې په يوه او بل څه ناراض دي، دوی ئې تحريك کړي او د اختلافاتو د راولاړولو په لار کې ترې کار واخلي.

د: دوی ظالمان دي.

هـ: الله تعالی چې د دې ظالمې ډلې په اړه څه ويلي دي دا په الهي علم ولاړ وضاحت دئ، دا د هغه عليم خدای وينا ده چې هم دا خلك ښه پېژني او هم ئې په کړو وړو ښه پوه دئ.

د (سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ) په تفسير کې ځيني مفسرين وايي: دا منافقين د دښمن لپاره جاسوسي کوي او اطلاعات راغونډوي او د هغوی په امر ستاسو په منځ کې فتنې راولاړوي. خو غوره تفسير ئې هغه دئ چې موږ تر دې د مخه ذکر کړی، دا ځکه چې دلته نه په دې آيت کې او نه تر دې مخکې او وروسته د دښمن يادونه شوې، نو په (لهم) کې اشاره په خپله دغو منافقينو ته ده نه دښمن ته، له منافقينو پرته بل داسې اسم نه مومو چې د (هم) ضمير

ورته راجع شي. سماعون د جاسوس او اطلاعاتو راغنډوونکي په معنی رااخیستل او داسي ویل چي ستاسو په لیکو کي د منافقینو یا کافرانو لپاره جاسوسان شته، صحیح تعبیر نه دئ؛ دا ځکه چي دلته خبره د فتنو راولاړولو ده او منافقین هغه مهال کولی شي چي فتنې راولاړې کړي چي په مسلمانانو کي کمعقله خلك د دوی د زهرجنو تبلیغاتو تر اغېز لاندي راشي او د دوی دروغجني خبري ومني او د فتنو، اختلاف او تجزیې باعث شي. د لته د (سماع) صیغه د ښه غوږ نیوونکي او د خبري اورېدونکي او منونکي په معنی ده.

قرآن په دې اړه فرمایي:

فَمَا لَكُمْ فِي ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيْنِ وَٱللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓاْ ۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَهْدُواْ مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُ ۖ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴿٨٨﴾ وَدُّواْ لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ سَوَآءً ۖ فَلَا تَتَّخِذُواْ مِنْهُمْ أَوْلِيَآءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَخُذُوهُمْ وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ ۖ وَلَا تَتَّخِذُواْ مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾ النساء

نو پر تاسو څه شوي چي د منافقینو په اړه دوه ډلي شوئ، حال دا چي الله تعالی دوی د خپلو لاسته راوړنو په وجه رانسکور کړل، آیا غواړئ هغه څوك هدایت کړئ چي الله بې لاري کړی؛ او الله چي څوك بې لاري کړي هیڅ لار به ورته ونه مومې. خوښه ئې دا ده چي تاسو هم داسي کافران شئ لکه دوی چي کافران شول، نو بیا به سره برابر شئ،...

د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- د منافقینو په اړه اختلاف مه کوئ.
- د دوی په اړه به ستاسو خپل منځي اختلاف څه ګټه ولري او څنګه به د دوی د هدایت باعث شي، حال دا چي الله تعالی ئې د هدایت وړ نه ګڼي او دا توفیق ئې نه دئ ورپه برخه کړی چي د کفر او نفاق له ناولي ډنډ راووځي؟!
- دوی خو دا خوښوي چي کاش تاسو هم د دوی په څېر وئ،

د دښمن په وړاندي د منافقینو مداهنت او انعطاف او په دې اړه د دوی توجیهات او استدلال د دې باعث کېږي چي د نهضت په لیکو کي د خطرناکو دښمنانو په ضد د انزجار، عدم سازش او عدم انعطاف روحیه تضعیف شي او ځای ئې نرمښت، مداهنت او انعطاف ونیسي او په دې توګه دښمن ته د نهضت په صفوفو کي د نفوذ لار پرانیستل شي او د ضعیف النفس افرادو د پېرلو شرائط ورته مساعد شي.

منافقین چي له ایماني احساساتو او جذباتو محروم دي او له هغو سپېڅلو اهدافو سره لېوالتیا او مینه په دوی کي نه موندل کېږي چي دین ئې د هر مؤمن لپاره ټاکي، نو ځکه دوی د اهدافو د تحقق په لار کي قرباني او په خپلو ژمنو د عمل کولو په لار کي د کړاوونو او ستونزو ګالل بېهوده ګڼي او هر هغه تصمیم، پرېکړي او اقدام ته د سفاهت په سترګه

ګوري چې د دوی راحت وګواښي، له دوی د قرباني غوښتنه وکړي او له خطر سره د تصادم احتمال ورسره مل وي. د داسي پرېکړو او اقداماتو په خلاف تبليغات کوي او سعي کوي د پلي کېدو مخه ئې ونيسي، په دې سره غواړي خپل منافقانه دريځ توجيه کړي او له احتمالي خطرونو ځان خوندي کړي. دا تبليغات د نهضت په ليکو کې د ايثار او قرباني روحيه مړاوې کوي او د دښمن په خلاف د نهضت دريځ کمزوری کوي.

## احبار او رهبان (سوء علماء او پيران)

قرآن که له يوې خوا صالح او عامل علماء او متعهد او مجاهد روحانيون ستايي او مقام ئې تر نورو لوړ ګڼي او فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ مُخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَۗ إِنَّمَا يَخۡشَى ٱللَّهَ مِنۡ عِبَادِهِ ٱلۡعُلَمَٰٓؤُاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ۝٢٨ فاطر

او همداسې د خلکو، خزنده وو او څارويو رنګونه ډول ډول دي، يقيناً چې له الله يوازې د ده پوه بندګان وېرېږي، يقيناً چې الله بخښونکی عزتمن دئ.

په دې مبارکو آيتونو کې د توحيد اړوند څو عميق او مضبوط دلائل وړاندې شوي، په دې کې قرآن خپل مخاطب ته وايي: نه ګورې چې د خلکو، خزنده وو او څارويو رنګونه ډول ډول دي، د انسان له پيدايښت بيا تر نن پورې داسې دوه انسانان نه دي پيدا شوي چې له هره پلوه په بشپړه توګه سره ورته وي؛ او د رنګ، شکل، جوړښت، استعدادونو او ځواکونو له پلوه توپيرونه ونه لري!! دا پراخه تنوع هر سترګور او عقلمن انسان ته څه وايي؟ د دې تنوع د خالق په اړه موږ ته څه لارښوونه کوي؟!! يقيناً چې د علم خاوندان نه يوازې دا د رب العالمين د قدرت څرګند مظاهر ګڼي او همدغې تنوع ته په پام سره پر رب العالمين ايمان راوړي بلکې دا (علم) او (ايمان) په دوی کې د خپل رب په وړاندې د قصور داسې احساس راولاړوي چې زړونه ئې رېږدوي، همغسې لکه چې الله تعالی فرمايي: له الله يوازې د ده پوه بندګان وېرېږي. هو؛ د الله تعالی په اړه ښه معرفت او د هغه ښه پېژندنه په انسان کې خشوع راپيدا کوي، څوك چې تر نورو زيات پوه او عالِم وي هغه به تر نورو زيات له خپل رب وېرېږي، د ده په وړاندې به ځان قاصر بنده ګڼي او خپل الهي مسئوليت به تر هغه څه ډېر لوړ ګڼي چې کړي ئې دي يا ئې کوي. دا آيت موږ ته حقيقي (عالِم) راښيي، وايي: عالِم هغه دئ چې له الله تعالی ډېر وېرېږي؛ نه هغه چې ډېر کتابونه ئې لوستلي، عالِم هغه نه دئ چې ځان يا نور ئې په لويو لويو او اوږدو القابو ستايي، عالِم هغه دئ چې په وينا، کړنو او څېرې کې ئې له الله تعالی د وېرې آثار له ورايه برېښي. عالِم هغه دئ چې په عالَم کې د ځواکمن او عزتمن رب د قدرت، حکمت او عظمت مظاهر د ده په زړه کې وېره راولاړوي او خپل قصور ته په پام سره د هغه مغفرت او بخښنې ته طمع ساتي؛ او په دې باور وي چې يقيناً الله تعالی بخښونکی عزتمن دئ.

او د مؤمنو علماءو د لوړ مقام په اړه فرمايي:

... يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ ... ﴿١١﴾ المجادله

... چې الله ستاسو د هغو درجې لوړې کړي چې ايمان ئې راوړی او علم ورکړی شوی...

يعنی په ايمان او علم سره کولی شو د رفعت او عظمت لوړو څوکو ته ورسېږو.

خو بل لوري ته احبار او رهبان د هغو کسانو له ډلې ګڼي چې له اسلامي دعوت سره تر نورو وړاندي او زيات دښمني کوي، د مؤمنانو په وړاندي خنډ کېږي، د علم او روحانيت له نامه غلطه استفاده کوي، د يوې حرفې په توګه ئې د منحطو مادي اغراضو تر لاسه کولو لپاره کاروي، د دين له حقيقت بې خبر خلك په خپل مذهبي ډوله مکر سره غولوي، حقائق پټوي، حق او باطل سره خلطوي؛ او په دې توګه خلك د الله تعالی له لاري منع کوي او د ديني دعوت په وړاندي تر ټولو بد او سخت دښمن ترې جوړېږي.

قرآن په دې اړه فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ التوبه

اې مؤمنانو! د احبار (ملايانو) او رهبان (پيرانو) ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لاري مخنيوی کوي او هغه چې سره او سپين زر ذخيره کوي او د الله په لار کې ئې نه مصرفوي نو د دردناك عذاب زېری ورکړه.

د دې مبارك آيت په ترڅ کې الله تعالی موږ ته د اهل کتاب ټګمار علماء او دوکه مار پيران معرفي کوي او فرمايي:

- د دوی ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري.
- د الله د لاري مخنيوی کوي.

يعني له دين ئې ځان ته دکان جوړ کړی، خلك غولوي او شکرانې ترې اخلي، د پيسو په مقابل کې فتوی ګاني پلوري، د حکامو په خدمت کې وي، د هغوی د تخت او تاج د بقاء دعاء کوي چې څه زهر او زقوم په خوله کې ورواچوي، د سودخورو په ګټه سودي معاملات روا ګڼي، د دې لپاره چې سودخورو هغوی ته کومه چينه او پګړۍ ورکړې وي.

دغو ټګمارانو به په دې توګه حرام مال تر لاسه کاوو: رشوت، سود، د الله په نامه څه تر لاسه کول او په خپله ئې خوړل، د ګناهونو د بخښلو، جنت ته د ننوتو او له دوزخ د ژغورل کېدو اسناد پلورل، د حکامو لپاره فتوی ګاني ورکول، په فال، تعويذ، کوډو او دم شکرانې او نذرانې تر لاسه کول. قرآن د همدې لپاره د دوی په اړه فرمايي:

وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟

﴿يَعْمَلُونَ ۝ لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ۝﴾ المائدة

او ډېرى به ئې وګورې چې په ګناه، تېري او د حرامو په خوړلو کې تلوار کوي، څومره بد دئ هغه څه چې دوى ئې کوي. ولې ئې خداى پالونکي او علماء د ګناه له وينا او د حرامو له خوړلو؛ نه منع کوي؟! ډېر بد دئ هغه څه چې دوى ئې کوي.

په ٦٢ آيت کې د ايمان منافي درې ستر ستر کارونه په ګوته شوي:

- په ګناه کې تلوار.
- د بل پر حق تېري او تجاوز کې تلوار.
- د حرامو په خوړلو کې تلوار.

له دغو بدو کړو وړو سره سره به الله تعالى څنګه د دوى د ايمان دعوى قبلوي؟

د دوى د علماءو او مشائخو حالت هم داسې دئ چې نه خلك له بدي او غلطي وينا منع کوي او نه د حرامو له خوړلو، د چا په ښه او بد کار نه لري، له بدو حساسيت په کې مړ شوى او له وضعيت سره ئې روغه جوړه کړې، د حکامو په خدمت کې دي، په يوه مفسد او ګنهګار قوم کې هغه څوك د منلي عالم او پير په نامه شهرت مومي چې د عام ولس په خبر وي، د دوى د خوښې خبرې کوي، نه د غلطې وينا مخالفت کوي او نه سمې او حق وينا ته خلك رابلي، له حکامو سره ئې لاس يو کړى وي، د کومې ټولنې علماء او مشائخ چې داسې وي، حکام او عام ولس به ئې څنګه وي؟

که تاريخ ته رجوع وکړو نو په څرګنده توګه به وګورو چې دين يا ظالمو واکمنانو تباه کړى، يا دين پلورونکو بدو علماءو، يا دوکه مارو پيرانو؛ او دا همغه څه دي چې عبدالله بن مبارك رحمه الله په خپلې کښلې وينا کې ويلي: و هل افسد الدين الاالملوك و احبار سوء و رهبانها؟؛ هرکله چې د الله دين د ټګمارو علماءو او دوکه مارو پيرانو په لاس کې پرېوتى، له دين ئې دام او دکان جوړ کړى، خلك ئې پرې غولولي او خپل جيبونه ئې ډك کړي، په دين کې ئې داسې لاسوهني کړې چې خلك دوى د خداى استازي وګڼي او په خپلو مالونو کې د الله تعالى برخه دوى ته وسپاري، زکات، عشر او صدقات د بې وزلو، فقيرانو او مسکينانو پر ځاى دوى ته ورکړي، الله تعالى هغه مهال نوى کتاب له نوي پيغمبر سره رالېږلى چې دغو ټګمارانو د الله مخکينى دين تحريف کړى او دوى پدې توانېدلي چې له دين د خلکو د تحميق او ناوړه ګټې تر لاسه کولو وسيله جوړه کړي، د پيغمبر د لېږلو وجه ئې دا ښودلې چې هم الهي دين او هم د الله مظلوم بندګان د ټګمارانو له منګولو وژغوري، د دوى له خوا جوړ شوي خرافات او په دين پورى تړل شوي تورونه له منځه يوسي، د خلکو پر اوږو په ناحقه ايښودل شوي درانه بارونه کوز کړي او د همدې مکارو او دروغجنو له خوا د خلکو په لاس پښو کې اچول شوي زنځيرونه مات کړي، د الله تعالى او

خلکو تر منځ جوړ شوي هغه حجابونه او خنډونه نسکور کړي چي خلك له خپل رب لري کوي او د دغو ټگمارانو ښکر ته ئې غورزوي، خلکو ته دا وښيي چي دا د دين دروغجن او مکار ټيکه داران، د بندگانو او الله تر منځ واسطه نه دي، الله تعالی ته د رسېدو لاره د دوی له خوا نده تېره شوې، هر بنده کولی شي له خپل رب سره مخامخ او له واسطې پرته او چا ته له شکرانې او نذرانې ورکولو پرته راز او نياز وکړي او دا ورته په ډاگه کړي چي خدای د ټولو رب دئ، هر چېري د هرچا دعاء او فرياد اوري، هر بنده ته د غاړی تر رگ ورنژدې دئ، هغه ته د رسېدو لپاره هيڅ وسيلې ته اړتيا نشته، هيڅوك د هغه له اجازې او امر پرته د هيچا شفاعت نه شي کولی، چا ته چي الله تعالی د زيان اراده کړې وي هيڅوك خير نه شي وررسولی او چا ته ئې چه خير غوښتی وي هيڅوك ضرر نه شي وررسولی او ټولو ته اعلانوي چي خدای ته رجوع وکړئ، يوازي د ده عبادت وکړئ او يوازي له ده مرسته وغواړئ.

همدا راز فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَشۡتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٤﴾ البقرة

يقيناً هغه چي د الله کوم نازل کړی کتاب پټوي او لږ بدله پرې پېري، نو دا ډله له اور پرته بل څه په خپلو گېډو کې نه خوري ( نه اچوي) او الله به نه د قيامت په ورځ ورسره خبري کوي او نه به ئې پاکوي او دوی ته به دردناك عذاب وي.

يعني چا چي د الله د کتاب له بيانولو ډډه وکړه، د کومي دنيوي گټي لپاره ئې د الله د کتاب کوم څه پټ کړل، د ظلم او فساد په خلاف ئې غږ اوچت نه کړ، له جهل او شرك د خلکو د ژغورني لپاره ئې جهاد ونه کړ، يا د دې لپاره چي ژوند او مال متاع ئې په خطر کې ونه لوېږي او يا د دې لپاره چي په دې کتمان سره له ظالمو واکمنانو څه تر لاسه کړي، نو د قيامت په ورځ به الله تعالی له ده سره تکلم نه کوي، همغسي لکه چي ده د الله په کتاب تکلم نه وو کړی، له گناه به ئې پاك نه کړي، همغسي لکه چي ده له فساد سره مقابله نه وه کړې او ټولنه ئې له ظلم او شرك نه وه پاکه کړې، ده ته به دردناك عذاب وي، همغسي لکه چي ده مظلومان په دردناکو عذابونو کې يوازي پرېښي وو، د دوی په ضد ئې د ظالمانو مرسته او ملتيا کوله، څه چي په دې سکوت او مداهنت تر لاسه کوي په اصل کې د دوزخ اور دئ چي په خپلي گېډي کې ئې اچوي، دوی د هدايت پر ځای ضلالت غوره کړی او د مغفرت پر ځای الهي عذاب، د الله له کتاب سره د دوی هر اختلاف له حق او حقيقت سره اختلاف دئ.

دا مطلب د قرآن په بل ځای کې داسي راغلی:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشۡتَرُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَأَيۡمَٰنِهِمۡ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيۡهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٧٧﴾ آل عمران

يقيناً هغه چې د الله په عهد او په خپلو قسمونو لږ بدله پېري، دوی ته به په آخرت کې هيڅ برخه نه وي او د قيامت په ورځ به نه الله ورسره تکلم کوي او نه به ورته نظر کوي او نه به ئې پاکوي او دوی ته به دردناك عذاب وي.

د دغو ايمان پلورو چې د دوستۍ په جامه کې له دين سره دښمني کوي جرم دومره ستر، شنيع او قبيح دئ چې قرآن د دوی سپېره برخليك په داسي له عتاب ډکو الفاظو سره انځوروي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾ البقرة

له څرګندو آيتونو او لارښوونې چې موږ کوم څه نازل کړي، څوك چې دا پټوي، وروسته له هغه چې موږ خلکو ته په کتاب کې بيان کړي، نو يقيناً چې په دغو کسانو هم الله لعنت وايي او هم هر لعنت ويونکی پرې لعنت وايي. مګر هغه چې توبه او رجوع ئې وکړه او خپل کړه ئې اصلاح کړل او بيان ئې کړ، نو د دوی توبه به قبوله کړم او زه خو يقيناً چې ډېر مهربان توبه منونکی يم.

دلته هغو دين په دنيا خرڅوونکو ته اشاره شوې چې حق پټوي او په دې سره د فساد او فتنو خورولو باعث ګرځي، د دوی دا حق پټول د الله په دين کې دومره ستره ګناه ګڼل شوې چې د الله، ملائکو او ټولو خلکو د لعنت وړ ئې ګڼي، خو که دوی له دې جرم توبه وکړي، هغه فتنې او فسادونه چې په همدې پټولو سره ئې راولاړ کړي هغه اصلاح کړي او پټ کړي حقائق بيان کړي، يوازې په دې صورت کې الله د دوی توبه مني، له دې پرته که په خپل مخکيني حالت کې ومري نو همداسې به د تل لپاره په لعنت کې پاتې وي. دلته ګورئ چې د توبې قبلېدو لپاره درې شرطونه اېښودل شوي: له خپلې ګناه بېرته راګرځېدل او الله ته مخه کول، د حق په پټولو سره چې کوم فساد رامنځته شوی، د هغه اصلاح او جبران او پټ کړي حقائق بيانول.

احبار او رهبان دا د حق کتمان او پټولو او د حق او باطل د تلبيس جنايت په داسې حال کې تر سره کوي چې په ټولنې کې د اهل علم او اهل کتاب په نامه معروف ول؛ او عمداً به ئې دا جنايت کولو، لکه چې قرآن فرمايي:

... ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمۡۖ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنۡهُمۡ لَيَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٤٦ البقرة

او د دوی یوه ډله حق په داسې حال کې پټوي چې ( ښه ورباندې) پوهېږي.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٧١ آل عمران

اې اهل کتاب! ولې حق له باطل سره خلطوئ، (باطل ته د حق جامه وراغوندئ) او حق پټوئ، په داسې حال کې چې پوهېږئ.

دوی هم د خپل مؤمن به کتاب په آیتونو کافران کېدل او هم د قرآن په آیتونو، په داسې حال کې چې هم به د دې آیتونو د حقانیت شاهد وو او هم د قرآن او د دوی د کتاب د مضامینو او آیتونو د یووالي شاهد، دوی به کله په خپلو غلطو توجیهاتو سره حق ته د باطل جامه وراغوندې او کله به باطل ته د حق او که په خپلو غلطو او دروغجنو توجیهاتو په دې موفق نه شول چې باطل حق ثابت کړي او حق باطل، نو حق به پټوي، دا کار په داسې حال کې کوي چې پوهېږي حق کوم دئ او باطل کوم، په ناپوهۍ سره دا کار نه کوي، د غرض او مرض په وجه ئې کوي، اخیستل شوي او استخدام شوي، د خپل مزد او اجورې په مقابل کې دا کار کوي.

لکه چې ګورئ د احبار او رهبان ډله یا د حق او باطل د تلبیس او د حق د کتمان له لارې د الله د لارې خنډ کېږي او یا د خپلو ناروااوو او ناوړو اعمالو له کبله د دین په ضد د خلکو کرکه او نفرت راپاروي.

په دې توګه قرآن د دې سورې د لومړي آیت په ترڅ کې له یوې خوا مؤمنانو ته ډاډ ورکوي چې د کفري ځواکونو له هغو هڅو او هلو ځلو اندېښنه ونه لري چې دوی ئې د دعوت په خلاف او د خدای پالو او هدفمنو مجاهدینو د لارې تړلو په موخه تر سره کوي، باید ډاډه او مطمئن وي چې دا هڅې به هیڅکله هغه نتائج ورنه کړي چې دا ځواکونه ئې طمع لري، له بل لوري دوی ته لارښوونه کوي چې له خنډونو او کړاوونو سره د مخامخېدو له کبله له هغې لارې کاږه نه شي چې انتخاب کړې ئې ده او هغه تګلاره غوره نه کړي چې کفري ځواکونو غوره کړې که نه نو ټولې هڅې او قربانۍ به ئې هدر شي.

---

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَءَامَنُواْ بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٖ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡ كَفَّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَأَصۡلَحَ بَالَهُمۡ ٢ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡبَٰطِلَ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡحَقَّ مِن رَّبِّهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ

لِلنَّاسِ أَمۡثَٰلَهُمۡ ﴿٣﴾

٢- او هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او پر هغه څه ئې ایمان راوړی چې پر محمد نازل شوی او هغه د دوی د رب له لوري حق (رښتینی پیغام) دئ، د دوی بدغوني خصلتونه ئې ترې وپوښل او د دوی حالت ئې غوره او سم کړ، ٣- دا د دې لپاره چې هغو د باطل متابعت وکړ چې کفر ئې کړی او هغو چې ایمان ئې راوړی د هغه حق متابعت وکړ چې د دوی د رب له لوري دئ، الله په دې توګه خلکو ته د دوی مثالونه بیانوي.

---

د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

الف ـ لکه چې په ټول قرآن کې معمول دا دئ چې ایمان او صالح عمل څنګ په څنګ کې یادوي او ښیي چې دا دواړه په خپلو کې ژور تړاو لري؛ دلته او په دې مبارك آیت کې هم خوا په خوا کې راغلي او یوازې د یوه په یادولو اکتفاء نه ده شوې؛ او دا ښیي چې ایمان یوازې یوه نظریه او عقیده نه ده چې فقط باور او اعتقاد ایجابوي او بس، بلکې ایمان داسې اعتقاد دئ چې د انسان په وړاندې معین فکري خط ترسیموي، په دې ټاکلي خط د تلو غوښتنه ترې کوي، داسې ضوابط د ده مخې ته ږدي چې په دې لارې د تلو په دوران کې باید حتماً مراعات شي، ایمان د داسې معرفت مباني وړاندې کوي چې د انسان او ټول عالم حقیقت راښیي او راته وایي چې په دې عالم کې او د خپل ټول ژوند په دوران کې به زموږ تګلاره کومه وي، کړنې مو څنګه او له نورو سره زموږ اړیکې څنګه. همغسې لکه چې ویل شوي:

لَيْسَ الْإِيمَان بِالتَّمَنِّي وَلَا بِالتَّحَلِّي، وَلَـٰكِنْ هو مَا وَقَرَ فِي الْقَلْب وَصَدَّقَهُ الْعَمَل:

ایمان نه په هیلې او تمنی سره دئ او نه په تحلی (سینګار او خپله ښه بدلولو) سره؛ بلکې (ایمان) هغه څه دئ چې په زړه کې تقرر مومي او عمل د هغه تصدیق کوي.

یعنې ایمان داسې عقیده ده چې تړاو ئې له زړه سره دئ، ځمځای ئې د زړه تل دئ خو په زړه کې د دې ایمان د شته والي شاهد او د ایمان د ادعاء مصداق د انسان صالح عمل دئ.

ب ـ په عامه توګه او د تاریخ په اوږدو کې هم او په خاصه توګه او د تاریخ په دغه پړاو کې هم چې محمد علیه السلام د بشري ټولنې په لارښوونه ګمارل شوی؛ ایمان او د ایمان له غوښتنو سره سم صالح عمل داسې محتوم نتائج لري چې په دې آیت کې په دې توګه ورته اشاره شوې:

١ـ الله تعالی د مؤمنو وګړو پر سیئاتو او بدغونو کړنو پرده اچوي او هغه په بشپړه توګه محو کوي، په څو تعبیرونو:

- تر ایمان وړاندې ګناه او خطأ ئې عفو کوي.
- که د ایمان په لار د تګ په دوران کې د کوم ازلال او خطأ مرتکب شوې خو د اشتباه له تکرار او له بشپړ انحراف ئې ځان ساتلی؛ بخښونکی او مهربان رب به ئې دوی ته وبخښي.
- د دوی هغه بد عادات او اطوار چې تر ایمان وړاندې او د کفر په حالت کې د دوی د عملي او اخلاقي شخصیت برخې وې؛ د ایمان غېږې ته په راتلو سره خپل خپل ځای ښایسته اخلاقو او نېکو کړنو ته پرېږدې، افکار، اطوار او اخلاق ئې اصلاح شي. قرآن په دې اړه فرمايي:

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَحۡسَنَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ۝٧ العنکبوت

او هغه چې ایمان ئې راوړ او نېك عملونه ئې وکړل حتماً به د دوی بدغونې ترې وپوښو او حتماً به د هغه ډېر غوره عمل په پرتله بدله ورکړو چې دوی کاوو.

يعني چا چې ایمان راوړ او نېك عملونه ئې وکړل، الله تعالی به د روزنې، تربیت او اصلاح دروازې د دوی پر مخ پرانیزي، د دوی بدغونې به ترې وپوښي او د دوی د هغه ډېر غوره عمل په پرتله به بدله ورکړي چې دوی کاوو. دلته د (لَنُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّاٰتِهِمۡ) الفاظ راغلي، د سیئات معنی بدغوني ده، چې هم ئې پر ګناهونو اطلاق کېږي او هم پر بدو خصلتونو، د تکفیر معنی پوښل او پټول دي، نو د تکفیر سیئات معنی د بدو خصلتونو ازاله او له منځه وړل دي، ځينو درنو مفسرينو دا د ګناهونو د بخښلو په معنی نیولې، حال دا چې د ګناهونو د بخښلو لپاره معمولاً په قرآن کې د يغفر الذنوب الفاظ راځي؛ او کله کله دا دواړه څنګ په څنګ راځي، چې په ډېر وضاحت سره ښيي چې د دواړو معنی يوه نه ده، يوه ئې د ګناهونو د بخښلو او بله ئې د بدو خصلتونو د ازالې په معنی ده، په قرآن کې دا هم په مکرره توګه راغلي چې جهاد د تمحیص او عیارولو وسیله ده؛ او تمحیص د بدو خصلتونو ازالې او په نېکو خصلتونو د سمبالولو په معنی دئ.

د قیامت په ورځ او په الهي محاسبې کې د نېکعمله انسان بدله داسې نه ټاکل کېږي چې د ډېر ښه او لږ ښه عملونو اوسط بدله ورکړی شي، بلکې تر ټولو ښه عمل ئې په پام کې نیول کېږي او د هغه په پرتله بدله ورکوي.

دا مطلب په بل ځای کې او د مؤمنانو د دعاء په صيغه داسې راغلی:

رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيٗا يُنَادِي لِلۡإِيمَٰنِ أَنۡ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمۡ فَـَٔامَنَّاۚ رَبَّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلۡأَبۡرَارِ ۝١٩٣ آل عمران

اې زموږ ربه! یو بلونکی مو واورېدو چې د ایمان په لوري ئې دا بلنه ورکوله چې په خپل رب ایمان راوړئ، نو ایمان مو راوړ، اې زموږ ربه! نو زموږ ګناهونه راته وبخښه او زموږ

بدي او سيئات رانه وربېژوه او له نېكانو سره مو وفات كړه.

دا مبارك آيت د هغو عقلمنو دعاء زموږ مخي ته ږدي چي د آسمانونو او زمكي په پيدايښت كې غور كوي او دې نتيجې ته رسېږي چي الله تعالى هيڅ څه باطل او خوشى نه دئ پيدا كړى، وايي:

- دا عقلمن مؤمنان د هغه منادي نداء اوري چي دوى په الله باندي ايمان راوړو ته بلي، دا منادي څوك دئ؟ دوى د كوم منادي غږ ته لبيك ويلى او په الله ئې ايمان راوړى؟ پيغمبر، كوم داعي، خپل عقل او ضمير، كه كوم بل منادي؟! دا هر يو كېدى شي د دوى منادي وي خو د آيت له سياق او سباق معلومېږي چي دا همغه منادي دئ چي د مضمون په سر كې ورته اشاره شوې: د آسمانونو او زمكي په پيدايښت او د شپې ورځي په تگ راتگ كې پرتې نښې، دغه منادي دوى په خپل رب باندي ايمان ته وربللي، د دغه منادي دعوت ته ئې لبيك ويلى او په خپل رب ئې ايمان راوړى.
- له ايمان وروسته دوى له خپل رب پنځه اساسي غوښتني لري: زموږ گناهونه راوبخښه، زموږ بد عادات او اخلاق رااصلاح كړه، دا توفيق راپه برخه كړه چي مرگ مو د ابرارو او نېكانو مرگ وي، تا چي د پيغمبرانو په لاس كومې وعدې له موږ سره كړې دي هغه تر سره كړه او د قيامت د ورځي له رسوايي او سپكاوي مو وساته. بايد دې ته متوجه وئ چي د (غفران ذنوب) او (تكفير سيئات) مطلب بېل بېل دئ، يو ئې د گناهونو بخښنه او بل ئې د بدو اخلاقو او عاداتو اصلاح افاده كوي.

۲ـ دا يو محتوم الهي سنت او د الله تعالى قاطع پرېكړه ده چي د ايمان په لار تلونكى مؤمن به تر خپل رعايت او عنايت لاندي نيسي، د رحمت او پېرزويني وزر به پرې غوړوي، حالت به ئې رغوي، اصلاح او روزنه به ئې كوي، له ظلمت او جهل به ئې د رڼا او معرفت لوري ته هدايتوي، د ده اخلاقي وضعيت او عملي شخصيت ته به غوره والى بخښي، سيئات به ئې په حسناتو بدلوي، د ايمان په مسير او د روزني د مراحلو په لوړو ژورو كې به ئې تزكيه او تصفيه كوي، د لازيات عيارېدو شرائط به ورته برابروي، د ژوندانه وضعيت به ئې سمسوروي، له خوف او ذلت به ئې ژغوري او امن او عزت ته به ئې رسوي، د ضعف او اسارت حالت به ئې د څواكمنۍ او حريت په حالت بدلوي، محروميت او ماته به ئې په غنا او بريا بدلوي، له سپكاوي او دنائت به ئې ژغوري او عزت او برلاسي به ورپه برخه كوي، د محكوميت او استضعاف له حالت به ئې د خلافت او امامت مقام ته رسوي؛ او په پاى كې به ئې د زمكي وارث گرځوي، كه د ايمان له ادعاء سره سره د چا حالت چي د دغو الهي وعدو مصداق نه وو نو د دې پرځاى چي د الهي وعدو په اړه شك وكړي بايد د خپل (ايمان) او (عمل) د څرنگوالي په اړه مشوش وي، قرآن فرمايي:

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ كَمَا

ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِى ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنًاۚ يَعۡبُدُونَنِى لَا يُشۡرِكُونَ بِى شَيۡـًٔاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٥٥﴾ النور

له تاسو چې چا ایمان راوړی او نېك عملونه ئې كړي، له هغوی سره الله وعده كړې چې حتماً به د زمكې خلافت داسې دوی ته سپاري لكه چې تر دوی مخكينيو ته ئې خلافت سپارلی وو، هرومرو به هغه دین ته تمكين او اقتدار وركوي چې د دوی لپاره ئې غوره كړی؛ او حتماً به د دوی خوف په امن بدلوي، ( داسې حالت به راولم چې) زما عبادت به كوي او هيڅ څه به له ما سره نه شريكوي. او څوك چې له دې وروسته ناسپاسي وكړي نو همدا دوی فاسقان دي.

د دې مبارك آيت په وړاندې لږ توقف ضروري برېښي، بايد د دې ستري وعدې په پراخو ابعادو ځان پوه كړو او هغو پوښتنو ته ځواب ووايو چې په دې اړه راولاړېږي.

د دې آيت مهمې مهمې لارښوونې دا دي: الله تعالی له صالح مؤمنانو سره دا وعده كړې چې د زمكې خلافت او واكمني به هرو مرو دوی ته سپاري، همغسې لكه چې تر دوی وړاندې ئې صالح مؤمنانو ته د زمكې خلافت او واكمني سپارلې وه، هرومرو به هغه دين ته تمكين او اقتدار وركوي چې د دوی لپاره ئې غوره كړی، حتماً به د دوی خوف په امن بدلوي؛ او داسې حالت به راولي چې له الله تعالی پرته به د بل چا عبادت نه كوي او هيڅ څه به له هغه سره نه شريكوي. او كه د الله تعالی د دغو وعدو له تحقق وروسته چا د ناشكرۍ لار غوره كړه، د دغو سترو سترو الهي پېرزوينو قدر ئې ونه كړ، هغه څه ئې ونه كړل چې له الهي پېرزوينو سره ښايي، نو دوی يقيناً چې فاسقان دي.

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو كې ګورو چې له مؤمنانو سره دې ته ورته وعدې شوې، د فلاح، بريا، نصرت، عزت، خلافت، د زمكې د شتمنيو وراثت، د ولسونو سياسي او فكري قيادت، پراخ رزق، بشپړ امنيت، قوت او برلاسي، پوښتنه دا ده چې هو؛ دا وعدې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ژوند كې او د ده تر قيادت لاندې تر سره شوې، څو لسيزې مسلمانانو د نړۍ په لويې برخې حكومت وكړ، د وخت دوه ستر ستر ځواكونه د دوی په وړاندې په ګونډو شول، د ټولې نړۍ فكري زعامت د مسلمانانو په لاس كې پرېوت، له اخلاقي پلوه د ټولو لپاره اسوه او بېلګه شول، له سياسي او نظامي پلوه دومره ځواكمن چې په ټول بشري تاريخ كې ئې لږ مثال موندلی شو، تر اوږدې مودې د نړۍ په هيڅ ګوټ كې هيچا د دوی د مقابلې او له دوی سره د ډغرو وهلو جسارت نه شو كولی. خو دا حالت ولې بدل شو، د پرمختګ هغه لړۍ ولې بنده شوه، د مسلمانانو هغه ستر او فاتح ځواك ولې ويلې شو، هغه لوی خلافت ولې په وړو وړو ټوټو ووېشل شو، هره ټوټه ئې د پرديو تر سياسي، نظامي، اقتصادي، فكري او اخلاقي سلطې لاندې، د دوی لاس پوځي پرې حكومت

کوي، اقتدار د مفسدينو، منافقينو، ديکتاتورانو او د پرديو د ذليلو غلامانو په لاس کې، مسلمانان ولې له فقر، ضعف، ذلت، سپکاوي او محکوميت سره مخامخ شول؟ دا دئ څو پېړۍ کېږي چې د مسلمانانو حالت دومره دردوونکی دئ چې د هر بااحساسه انسان زړه پرې سوزي او د هر غيرتي مؤمن اوښکې پرې توئېږي. دا د ذلت او اسارت دوره دومره اوږده او ابعاد ئې دومره پراخ دي چې نه يوازې له اسلامه بې خبره خلك گمان کوي اسلام او د مسلمانانو ديني او مذهبي عقائد د دې دردناك حالت ذمه وار دي او دين د مسلمانانو د آزادۍ، ترقي او سوکالي په وړاندې خنډ دئ بلکې په مسلمانانو کې ئې دا غلط عقائد راولاړ کړي چې ځيني گمان وکړي دنيا د کافرانو لپاره ده او آخرت د مؤمنانو لپاره!! گواکې خرابه دنيا د ښه آخرت مقدمه ده!! حتی مذهبي مشران ئې د دې لپاره چې همدا دردناك حالت او همدا ماته او ذلت توجيه کړي، په داسې رواياتو استناد کوي چې يا په بشپړه توگه غلط، موضوعي؛ او ضعيف دي او يا غلط تعبير شوي. دا په داسې حال کې چې قرآن په مکرره توگه او په صريح او پرېکنده الفاظو وايي: الله تعالی دا دين د دې لپاره لېږلی چې پر ټولو اديانو ئې غالب کړي، د کافرانو د اکراه علی الرغم!!

قرآن په ذلت او سپکاوي کې ژوند د ايمان له مسير د انحراف او د همدې انحراف د سزا په توگه معرفي کوي او وايي:

... وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾ البقرة

نو سپکاوی او خواري ورباندې وتپل شوه او د الله په غضب اخته شول، دا له دې امله چې د الله آيتونه ئې تکذيبول او پيغمبران ئې په ناحقه وژل، دا هم په دې سبب چې عصيان ئې وکړ او تېری ئې کاوو.

تقوی او ايمان د رزق د پراخي او وسعت او د برکتونو باعث گڼي او فرمايي:

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْقُرَىٰٓ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَٰتٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُوا۟ فَأَخَذْنَٰهُم بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٩٦﴾ الاعراف

که کليوالو ايمان راوړی وی او تقوی ئې درلودی نو موږ به حتماً د آسمانونو او د زمکې د برکاتو (دروازې د دوی پر مخ) پرانيستې وې، خو دوی دروغ وگڼلو، نو په هغه څه مو ونيول چې دوی کول.

يعني دا يو ثابت او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چې:

- که خلك ايمان راوړي، د تقوی لار غوره کړي نو الله تعالی به د آسمانونو او زمکې د برکاتو دروازې د دوی پر مخ پرانيزي، دواړه به په سخاوت او پراخ لاس سره خپل برکات د

دوی مخې ته ږدي، آسمان به له برکته ډك ورښتونه پرې وروي او زمکه به له برکت ډکې میوې او دانې ورته راټوکوي.

- خو که دوی د الهي دین د تکذیب لار اختیار کړي، د ایمان پر ځای د کفر او د تقوی پر ځای د ظلم، فسق او فساد لار، نو د خپلو کړنو په وجه دي الهي عذاب ته منتظر وي.

دا د عزت، نصرت، برلاسي، فلاح او سعادت وعدې له چا سره شوې؟ له هغه چا سره چې ایمان لري او عمل ئې صالح وي، هغه څوك چې اصلح او تر ټولو غوره وي. خو د دې په مقابل کې هغه کسان هم موږ ته معرفي کوي چې الله تعالی ئې په ذلت محکوموي، په دې اړه الهي سنن او ضوابط هم موږ ته ښيي، چا ته چې اقتدار وسپارل شو او هغه فساد وکړ او صلهٔ رحم ئې قطع کړ، الله به ئې ړندوي، اقتدار به بېرته ترې اخلي او په ذلت به ئې محکوموي.

قرآن کریم د بني اسرائیلو په قصې کې دا موضوع توضیح کوي او موږ ته دا ښيي چې پدې قوم کې کوم صفات راپیدا شول چې الله جل شأنه د هغه په وجه د زمکې خلافت ورکړ؟ او بیا کوم صفات په کې راپیدا شول چې دا ئې بېرته ترې واخیست، په ذلت ئې محکوم کړل او له فقر او مسکنت سره ئې مخامخ کړل؟ قرآن عظیم الشأن هغه الهي مشیت او هغه ضوابط او سنن موږ ته ښيي چې د هغه له مخې الله تعالی چا ته ملك او اقتدار ورکوي او یا ئې بېرته ترې اخلي او د اقتدار تخت ئې نسکوروي. ځیني کسان داسې ګمان کوي چې ګواکې دا هسې د چانس او تصادف له مخې تر سره کېږي، حتی دا هڅه کوي چې ثابته کړي پدې اړه څه خاص ضوابط او سنن نه مراعات کېږي، بس د الله تعالی چې چا ته خوښه شوه پاچایي او اقتدار ورکوي او له چا ئې چې وغوښتل بېرته ئې ترې اخلي. خبره نه یوازې داسې نه ده؛ بلکې پدې اړه ثابت الهي سنن وضع شوي، قرآن عظیم الشأن موږ ته هغه الهي مشیت او هغه خاص سنن او ضوابط توضیح کړي او دا ئې راښودلې چې دا کار د خاصو سننو او ضوابطو سره سم تر سره کېږي، څنګه او چا ته الله اقتدار ورکوي او له چا ئې بېرته اخلي. نو که نن مسلمانان له ذلت او ماتې سره مخامخ دي، دښمنان له هره پلوه پرې حکومت کوي او وضع ئې دردناکه او د ژړا وړ، وجه ئې دا ده چې دوی د الهي نصرت وړتیا له لاسه ورکړې او دوی هغه مؤمنان نه دي چې الله تعالی د بریا، عزت، سرلوړۍ او پر زمکې د حکومت کولو ژمنه ورسره کړې، د الله تعالی وعدې رښتینې دي موږ په خپلو ادعاګانو کې دروغجن یو. د قرآني لارښوونو له مخې د یوه متدین قوم د ذلت ستر عامل دا دئ چې الهي دین تجزیه کړي، په ځینو برخو ئې عمل وکړي او ځیني ئې شا ته وغورځوي، د کوم قوم په څېرې کې چې تاسو د ذلت، سپکاوي، ضعف، فقر او محکومیت نښې وګورئ په دې پوه شئ چې دا قوم د الله تعالی له لارې منحرف شوی او د الله دین ئې تجزیه کړی.

همدا راز فرمايي:

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنَجۡعَلَهُمۡ أَئِمَّةٗ وَنَجۡعَلَهُمُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنُرِيَ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنۡهُم مَّا كَانُواْ يَحۡذَرُونَ ۝٦ القصص

او غواړو پر هغو پېرزوینه وکړو چې په زمکې کې ئې د بې وزلۍ لټه کېږي او پېشوایان ئې کړو او (د ټولو شتمنیو) وارثان ئې کړو او پر زمکې کې تمکین ورپه برخه کړو او له دوی فرعون، هامان او لښکرو ته ئې هغه څه وښیو چې ترې وېرېدل.

یعني دا د الله تعالی نه بدلېدونکې سنت دئ چې بې وزلي ولسونه به له اسارت او محکومیت ژغوري، له دوی به د لویو لویو مستکبرو طاقتونو د پرځولو او نسکورولو لپاره کار اخلي، تر ټولو د ستر مغرور ځواك د نسکورولو لپاره به د نړۍ تر ټولو ضعیف او مستضعف قوم انتخابوي، فرعون به د خپلو غلامانو (بني اسرائیلو) په لاس له منځه وړي. الله تعالی به پرهغو کسانو احسان کوي چې په زمکې کې ضعیف شمېرل کېږي، د ضعف او ناتوانۍ لپاره ئې هڅه کېږي، استکباري نظامونو ځپلي، الله تعالی غواړي د داسي مظلومانو په لاس دا مغرور او مستبد ځواکونه نسکور کړي، دوی ته د نورو قومونو د قیادت او مشرۍ افتخار ورپه برخه کړي، نور ولسونه هم په دوی پسي اقتداء وکړي، د زمکو او شتمنیو وارثان ئې کړي، هغه درې طبقې چې په سیاسي، مذهبي او اقتصادي لحاظ پرخلکو حکومت کوي، د دوی هر څه دغو مظلومانو ته په میراث ورکړي، په زمکه کې اقتدار او تمکین دوی ته وسپاري، واك او صلاحیت دوی ته انتقال کړي، هغه ضعیف او بې وزلی ولس د دوی ځای ناستی کړي چې په وېرې او خوف کې ئې ژوند کاوو، حکومتونو د دوی د وېرولو او ضعیفولو هڅې کولې، د الله تعالی سنت داسي دئ چې لومړی له دغو بې وزلو او مستضعفینو په فکري او اخلاقي لحاظ امامان جوړ کړي، هماني ډله د خلکو د فکري او مذهبي قیادت له مقامه خلع کړي او دا قیادت مستضعفینو ته وسپاري، فرعونیان د ولس له سیاسي او اجتماعي قیادت عزل کړي او دا قیادت بې وزلو ته وسپاري او په پای کې د قارون د ډلې شتمنۍ دوی ته په میراث ورکړي. فرعون، هامان او لښکري ئې چې له څه وېرېدل او تل ئې حذر ترې کاوو، رنګ رنګ تدابیر ئې نیول چې دا بې وزلي راویښ نه شي، یو بل ته لاس ورنه کړي، د نظام په ضد پاڅون ونه کړي، الله تعالی غواړي چې دوی ته همدا وروښيي، دوی له دې وېرېدل چې بې وزلي او مظلومان قوت ونه مومي، قیام ونه کړي او د خپل حق د لاس ته راوړلو لپاره د واکمنانو په خلاف راولاړ نه شي او د همدې لپاره ئې په استضعاف او ناتوانۍ کې ساتل، خو د الله تعالی سنت دا دئ چې پر مظلومانو او مستضعفانو به پېرزوینه او احسان کوي او فرعونیانو ته به هرو مرو هغه څه ښيي چې ترې وېرېدل.

په بل ځای کې راغلي:

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ جَمِيعًاۚ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلْعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرْفَعُهُۥۚ وَٱلَّذِينَ يَمْكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌۖ وَمَكْرُ أُوْلَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ١٠

فاطر

څوك چي عزت غواړي نو (پوه دي شي چي) عزت ټول له الله سره دئ، د ده لوري ته پاکه وينا بر درومي او نېك عمل ته لوړوالی ورکوي؛ او هغه چي بدي کړني د تدبير په توګه کاروي سخت عذاب ئې په برخه دئ؛ او د دوی مکر شنډېدونکی دئ.

په دې مبارك آيت کې ويل شوي: څوك چي عزت غواړي بايد متوجه وي چي عزت يوازي د الله تعالی په خوا کې موندلی شي، په بل ځای کې عزت نه شي تر لاسه کولی، د عزت ورکړه د ده له لوري وي، دا ځکه چي عزت په بشپړه توګه له الله تعالی سره دئ. د عزت اصلي اسباب دوه دي: پاکه وينا او صالح عمل، يوازي په دې سره انسان کولی شي د عزت لوړو څوکو ته ورسېږي، دا ځکه چي پاکه وينا د الله تعالی په لوري لوړه درومي او نېك عمل ته لوړوالی ورکوي، نو رفعت، لوړوالی او عزت يوازي له دغي لاري تر لاسه کېدی شي، څوك چي غواړي له نورو لارو عزت تر لاسه کړي، بدي کړني او ناروا تګلاري د تدبير په توګه کاروي چي له دې لاري عزت ته ورسېږي؛ هغه دي پوه وي چي د عزت پر ځای به ئې شديد الهي عذاب په برخه شي او تدبيرونه به ئې شنډ او بې حاصله شي.

دلته د (والعملُ الصالحُ يرفعُه) دوه د اعتناء وړ ژباړي کېدی شي: ۱- الله تعالی صالح عمل ته لوړوالی ورکوي او ۲- صالح عمل مؤمن بنده ته رفعت او لوړوالی ورکوي. په دې دواړو کې لومړۍ ژباړه مناسبه برېښي. ځينو ويلي چي کېدی شي دا ترجمه هم صحيح وي: پاک کلام؛ نيک عمل ته رفعت ورکوي؛ خو دا ترجمه سمه نه ده؛ په رفعه کي د (هـ) ضمير يا الله ته راجع دئ يا صالح عمل ته؛ تفصيل ئې د فاطر سورې د همدې آيت په تفسير او شرحي کې وګورئ.

په دې سره هغو وګړو ته لارښوونه شوې چي د عزت په لټه کې په غلطو لارو درومي، دوی ته ويل شوي: تاسو عزت ته د رسېدو په موخه داسي لاري غوره کړې چي هيڅکله په عزت نه منتهي کېږي، څه چي تاسو له الله تعالی لري کوي له عزت او سرلوړۍ مو هم محروموي، د الله تعالی په لوري تلو سره په حقيقت کې د عزت او شرف په لوري درومئ. يعني له الله تعالی د بخښني په غوښتلو او د الله په لوري رجوع سره به نه يوازي د آسمان او ځمکي د برکتونو دروازې ستاسو پر مخ پرانيستی شي، الله تعالی به ستاسو اموال او اولاد درزيات کړي او ستاسو ممد به ئې وګرځوي، بلکې عزت او سر لوړۍ ته به ورسېږئ. نو تاسو ولې د هغه عزت او وقار هيله نه کوئ چې اصلي مالك ئې الله تعالی دئ او پرېکړه ئې د ده له لوري کېږي؟!! ولې له غير الهي لارو عزت ته د رسېدو هيله او هڅه کوئ؟!

مالك الملك خدای چې عزت او ذلت په بشپړه توګه د ده په واك كې دئ؛ نېكي او غوري وينا ته چې د سالمې عقيدې مظهر وي دا توان او ځواك بخښي چې لوړه لاړه شي، رفعت او لوړوالی ئې په برخه شي؛ او د الله تعالی په وړاندې د مقبوليت مقام تر لاسه كړي؛ او صالح عمل ته رفعت او لوړوالی وركوي، نو د عزت او عظمت عوامل غوره وينا، سالمه عقيده او صالح عمل دي. يعني په هرې منازعې او مسابقې كې به هغه لوری بريا او برلاسي تر لاسه كوي چې د عقيدې او عمل له پلوه پر خپل حريف او رقيب برلاسی شي. د هرې نښتې او جګړې نتائج تر دې وړاندې چې په جنګي ځواك او وسائلو او د ښكېلو لوريو په عدد او عدة پورې تړلې وي د دواړو لوريو په فكري او اخلاقي غوره والي پورې تړلي دي، هغه چې د (ايمان) او (صالح عمل) له كرښې منحرف شي او د بې ايمانۍ او ناروا تدبيرونو او حيلو لار غوره كړي او سيئات او ناروا كړني د تدبير په توګه كاروي، په دې هيله چې له دې لارې به عزت ته ورسېږي بايد پوه شي چې دا تګلاره او كړنلاره به ئې له شديد الهي عذاب سره مخامخ كړي او ناروا تدابير به ئې شنډ او بې حاصله او بې نتيجې شي، قرآن كريم په دې اړه چې عزت يوازې او يوازې د ايمان په خط كې تر لاسه كېدی شي فرمايي:

وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨﴾ منافقين

او عزت د الله او د هغه د رسول او د مؤمنانو دئ خو منافقين نه پوهېږي.

قرآن وايي: د مؤمنانو د بريا اساسي عامل دا دئ چې دوی د حق متابعت كوي او كافران له دې كبله له سپېره برخليك سره مخامخ كېږي او هڅې ئې شنډېږي چې د باطل متابعت كوي؛ او دا د باطل طبيعي او حتمي پايله ده چې له منځه ځي، لكه چې فرمايي:

وَقُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَزَهَقَ ٱلْبَٰطِلُ ۚ إِنَّ ٱلْبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴿٨١﴾ الإسراء

او ووايه: حق راغی او باطل پوپنا شو، يقيناً چې باطل محو كېدونكی دئ.

په بل ځای كې فرمايي:

... قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَآ ۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٢٤﴾ الشورى

... او الله باطل محو كوي او حق په خپلو كلماتو سره محقق كوي ...

د باطلپالو پايله داسې ګڼي:

... قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ شَهِيدًا ۖ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ وَكَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٥٢﴾ العنكبوت

او هغه چې پر باطل ئې ايمان راوړی او د الله په اړه ئې كفر كړی همدا دوی زيانمن دي.

په بل ځای كې د باطل سستي او بې ثباتي او د باطلپالو بې وسي او كمزوري د يوه ښكلي مثال په ترڅ كې داسې انځوروي:

مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلۡعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتۡ بَيۡتٗاۖ وَإِنَّ أَوۡهَنَ ٱلۡبُيُوتِ لَبَيۡتُ ٱلۡعَنكَبُوتِۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٤١ العنكبوت

د هغو خلكو چي له الله پرته نور مرستندويان نيسي مثال د هغي غڼې په څېر دئ چي ځان ته ئې كور ونيو، دا په داسي حال كې چي تر ټولو سست كور د غڼې كور دئ، كاش پوهېدی.

د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- دلته هغه څوك له غڼې سره تشبيه شوی چي له الله تعالی پرته بل څه ته پناه وړي، د فرعون، قارون او هامان او د ګڼ شمېر نورو ځواكمنو قومونو د بدو پايلو له يادولو وروسته دا خبره كوي، دوی پر خپل زور، ځواك او ډېرښت مغرور شوي وو، نه پوهېدل چي دا ډېره كمزورې متكاء ده، داسي لكه د غڼې ځاله، د الله له عذابه او د حق په وړاندي له حتمي ماتې ئې نه شي ژغورلی، تاريخ ته رجوع وكړئ او وګورئ چي د دوی او د دوی د زور، ځواك او ډېرښت پايله څه وه!!
- څوك چي له الله تعالی پرته بل څه او بل چا ته پناه يوسي، پر هغه تكيه او اعتماد وكړي او د هغه تر حمايت او ولايت لاندي ځان خوندي او مصون وګڼي؛ د بې وسۍ او كمزورۍ له پلوه وړې غڼې ته ورته دئ، پناه ځی ئې د غڼې سستي ځالي ته او تدبير ئې د همدې كمزورې حشرې تدبير ته ورته.
- كه دغو خلكو خپل رب پېژندلی، د طبيعت په حقيقت پوهېدلی، د خپل ځان په اړه ئې علم درلودلی نو هيڅكله به ئې له الله تعالی پرته بل څه ته پناه نه وه وړې او پر كمزورې متكأ تكيه كولو سره به ئې ځان نه وو سپك او ذليل كړی.

قرآن د هغو باطل پالو چي له حق او حقپالو سره ئې دښمنۍ ته ملا تړلې برخليك داسي بولي:

كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۖ وَهَمَّتۡ كُلُّ أُمَّةِۭ بِرَسُولِهِمۡ لِيَأۡخُذُوهُۖ وَجَٰدَلُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّ فَأَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ٥ غافر

تر دوی وړاندي د نوح قوم او تر دوی وروسته ډلو درواغ ګڼلي؛ او هري ډلي هوډ كړی چي خپل پيغمبر ونيسي او د باطل په مټ ئې په دې موخه مجادله كړې چي حق پرې محو كړي، چي له كبله ئې موږ ونيول، نو (وګوره چي) زما تعذيب څنګه وو!!

---

د باطل محتوم برخليك هلاكت، سپكاوی او له شديد الهي عقاب او عذاب سره مخامخېدا ده، ممكنه نه ده چي باطل له دوام او ثبات برخمن شي، دا عالَم پر باطلو بنسټونو نه دئ ودرېدلی، داسي چي باطل په خپلې غېږ كې ومني او وساتي او دوام ئې تضمين كړي، په ټول

عالم کې د باطل د حمايې لپاره هيڅ مجال نه موندل کېږي، الله تعالی فرمايي:

وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَٰطِلًاۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿٢٧﴾ أَمْ نَجْعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلْمُفْسِدِينَ فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ ٱلْمُتَّقِينَ كَٱلْفُجَّارِ ﴿٢٨﴾ ص

او موږ آسمان او زمکه او څه چې په دوی کې دي خوشې او بېهوده نه دي پيدا کړي، دا هسې د هغو کسانو ګمان دئ چې کافران شوي، نو دغو کافرانو ته د اور لويه کنده ده. آيا هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي په زمکې کې د فساد کوونکو په څېر کړو، آيا متقين به د فاجرانو په څېر کړو؟!!

خو د مؤمنانو د بريا او برلاسي رمز او د نېکانو د صلاح او فلاح دليل او د ټولو هغو افتخاراتو عامل چې د دوی په برخه کېږي؛ د حق په متابعت او پلوي کې مضمر دئ. حق غالب او برلاسی دئ، الله تعالی له حق دفاع کوي، په هرې نښتې او تصادم کې چې د حق او باطل تر منځ رامنځته کېږي حتمي غلبه او وروستۍ بريا د حق ده، که څه هم د حق سنګر ضعيف او ظاهر ئې ناتوان او کمزوری برېښي او د باطل سنګر ځواکمن او مضبوط او ظاهر ئې مستحکم او هيبتناك برېښي، دا ځکه چې د دې عالم په پراخي لمنې او غېږ کې د باطل ممد ځواك نشته، دلته هرڅه سم او په حق بنسټ پيدا شوي، يوازې حق کولی شي رشد وکړي او بقاء او دوام ئې په برخه شي، قرآن په دې اړه فرمايي:

خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٤﴾ العنكبوت

الله آسمانونه او زمکه په حق او سمه توګه پيدا کړي، يقيناً چې په دې کې د مؤمنانو لپاره څرګنده نښه ده.

دا مبارك آيت موږ ته وايي:

- الله تعالی آسمانونه او زمکه په حق او سمه توګه پيدا کړي، دلته د باطل لپاره مجال، د پښو ځای، متکاء او مستمسك نشته، په آسمانونو او زمکې کې داسې څه نه موندل کېږي چې د باطل او باطلپالو مرسته وکړي.
- يقيناً چې په دې کې د مؤمنانو لپاره څرګنده نښه ده، هغوی بايد پوه شي چې الله تعالی او د آسمانونو او زمکې هر څه د دوی تأييد او ملاتړ کوي او د دوی مخالفين د الله تعالی او د آسمانونو او زمکې د هر څه له تأييد او ملاتړ محروم دي.

همدا راز فرمايي:

... وَيُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلْحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقْطَعَ دَابِرَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧﴾ لِيُحِقَّ ٱلْحَقَّ وَيُبْطِلَ ٱلْبَٰطِلَ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٨﴾ الانفال

... او الله غواړي په خپل حکم سره حق محقق کړي او د کافرانو جرړي پرې کړي. چي حق محقق کړي او باطل محو کړي، که څه هم مجرمين ترې کرکه لري.

همدا راز د حق دين د حتمي غلبې او بريا په اړه فرمايي:

هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ۝٩ الصف

دی هغه ذات دئ چي خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره لېږلی چي پر ټولو دينونو ئې غالب کړي که څه هم مشرکان (ترې) کرکه ولري.

دا آيت موږ ته وايي: د پيغمبر عليه السلام په لاس لېږل شوی لارښود حقيقي دين نه له نورو اديانو سره د روغي جوړي لپاره راغلی او نه د دې لپاره چي دنيا له نورو اديانو سره ووېشي، چي په يوه برخه ئې دا دين حاکم وي او په نورو برخو کې نور اديان، د دې لپاره هم نه دئ راغلی چي د انسان ژوند له نورو اديانو سره ووېشي چي د ژوند په ځينو اړخونو دا دين حاکم وي او په نورو ابعادو کې ئې نور اديان، بلکي دا دين راغلی چي پر ټولو نورو اديانو غالب شي، که څه هم مشرك عناصر له دې کرکه ولري، مشرك عناصر يا هغه دي چي اديان سره خلطوي، څه برخه له يوه دين اخلي او څه له بل، اهداف په دين کې لټوي خو تګلاره په خپله خوښه او د خپل ذهن او تصور مطابق ټاکي؛ او يا هغه چي په الوهيت او ربوبيت کې له الله جل شأنه سره بل څوك شريکوي، که څه هم دا مشرکين له دې کرکه لري چي د الله دين دي پر ټولو اديانو غالب شي، پر ټولې نړۍ او د ژوند پر ټولو برخو دي يوازي دا دين حاکم وي، خو د الله جل شأنه فيصله دا ده چي دا دين به په ټوله زمکه او په ټولو اديانو غالبوي. يعني الله تعالی په دې خبري شهادت ورکوي چي د خپل پيغمبر په لاس لېږلی دين ئې د غلبې او حاکميت لپاره لېږلی، نه له نورو اديانو سره د روغي جوړي لپاره. څوك چي د دين په اړه له دې پرته بله خبره کوي، دروغ وايي او حقيقت مسخ کوي.

لکه چي ومو ليدل د دې سورې په لومړيو دريو آيتونو کې د جګړي عوامل، هغه لوری چي د جګړي د پيل باعث دئ، همغه چي د دعوت په وړاندي مانع کېږي او د نښتي او تصادم اسباب رامنځته کوي، د کفري ځواکونو د هڅو د ابطال او اضلال علل، د مؤمنانو د برلاسي او بريا دلائل، د هري نښتي او تصادم د پايلو ټاکونکي عوامل، د ماتي او بريا لاملونه په ايجاز او اختصار سره تشريح شوي، ورپسې د جنګ اصلي هدف او د جنګ په دوران کې د مؤمنو جنګياليو اساسي مسئوليتونه او دندي زموږ په وړاندي ږدي.

فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَضَرۡبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثۡخَنتُمُوهُمۡ فَشُدُّواْ ٱلۡوَثَاقَ

فَإِمَّا مَنًّۢا بَعۡدُ وَإِمَّا فِدَآءً حَتَّىٰ تَضَعَ ٱلۡحَرۡبُ أَوۡزَارَهَاۚ ذَٰلِكَۖ وَلَوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ
لَٱنتَصَرَ مِنۡهُمۡ وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَاْ بَعۡضَكُم بِبَعۡضٍۗ وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ
فَلَن يُضِلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴿٤﴾ سَيَهۡدِيهِمۡ وَيُصۡلِحُ بَالَهُمۡ ﴿٥﴾ وَيُدۡخِلُهُمُ ٱلۡجَنَّةَ عَرَّفَهَا
لَهُمۡ ﴿٦﴾

٤- نو كله چي له كافرانو سره مخامخ شئ نو د غاړو وهل دي (دنده مو)، تر هغه چي ښه ئې ووژنئ، بيا (ئې د تړلو لپاره) بندونه كلك كړئ، بيا يا احسان پرې كول دي او يا فديه (واخلئ)، تر هغه چي جګړه خپل اوزار كښېږدي، همداسي ده او كه الله وغواړي نو حتماً به له دوى انتقام واخلي خو د دې لپاره چي ستاسو ځيني په ځينو نورو سره وآزمويي؛ او هغه چي د الله په لار كي وژل شوي نو هيڅكله به د دوى عملونه ضائع نه كړي، ٥- حتماً به ئې هدايت كړي او حالت به ئې غوره او سم كړي، ٦- او هغه جنت ته به ئې ننباسي چي دوى ته ئې معرفي كړى.

(٤-٦)- په دې مباركو آيتونو كي هغه اساسي او مهم مطالب څېړل شوي چي د اسلام په جنګي تګلاري كي ټاكونكي لارښووني ګڼل كېږي، په دې توګه:
كله چي مؤمنان له كافرانو سره په كومي جګړي كي مخامخ شي نو د دوى لومړۍ او اساسي دنده دا ده چي خپله ټوله توجه د دښمن ځپلو ته واړوي، تر هغه چي ښه ئې ووژني او له پښو ئې وغورځوي، د دښمن له ماتولو وروسته دي بې وسلې شوي او نيول شوي جنګيالي د جنګي اسيرانو په توګه ونيسي، د دوى د تړلو لپاره دي مضبوط بندونه او بشپړ احتياط وكاروي، بيا دي يا له دې اسيرانو سره احسان وكړي او له كومي معاوضې او بدلې پرته دي دوى آزاد كړي او يا دي د فديې په بدل كي دوى خوشي كړي.
دا لړى بايد تر هغه دوام وكړي چي جګړه خپل اوزار او جګړه ماران خپله وسله پر زمكه كښېږدي او د جګړي امكانات پاى ته ورسېږي.
هو؛ هغه چي د الله د لاري خنډ شي، د مؤمنانو په ضد د دې لپاره خپلې توري له تېكو راباسي او پر دوى بريد كوي چي له الله تعالى پرته بل چا ته سر نه ټيټوي، له حق او عدالت دفاع كوي، ظالم ته وايي له ظلم لاس واخله، مظلوم ته وايي ظلم ته مه تسليمېږه، كله چي له داسي مغرورو ځواكونو سره مخامخ شئ نو ستاسو دنده دا ده چي كبرجن سرونه ئې پرې كړئ، غرور ئې مات كړئ او له پښو ئې وغورځوئ، قرآن په دې اړه فرمايي:
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ زَحۡفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلۡأَدۡبَارَ ﴿١٥﴾ وَمَن يُوَلِّهِمۡ

يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٦﴾ الانفال

اې مؤمنانو! کله چې د کافرانو له کوم لښکر سره (په جګړې کې) مخامخ شئ، نو شا مه وراړوئ. او څوك چې په دې ورځ شا وراړوي، مګر د جنګ په موخه لورې بدلوونکی او له بلې ډلې سره يو ځای کېدونکی، نو يقيناً چې په الهي عذاب اخته شو او ځای ئې دوزخ دئ؛ او څومره بد دئ دا د ورتلو ځای.

په دې مبارك آيت کې له دښمن سره د مخامخېدو په اړه څو مهمې لارښوونې شوې:

- که د دښمن د جنګياليو له ډلې سره مخامخ شوئ، د تېښتې تکل به نه کوئ او دښمن ته به شا نه وراړوئ.
- د ضرورت او مجبوريت په حالت کې شا ته تګ او سنګر پرېښودل په دوو صورتونو کې جائز دي: ۱- د جګړې په ډګر کې له يوه سنګر بل سنګر ته تګ، له بل لوري پر دښمن بريد، نه د تېښتې په نيت بلکې له بل لوري پر دښمن د بريد په نيت، ۲- د مجاهدينو له بلې ډلې سره د يو ځای کېدو په موخه، له هغوی سره د مرستې په نيت يا په زيات شمېر سره پر دښمن د بريد په قصد.
- څوك چې له دغو دوو صورتونو پرته په بل نيت او موخه سنګر پرېږدي او دښمن ته شا کړي سزا ئې د الله تعالی غضب او د دوزخ اور دئ، يعني دا شا ته تګ او تېښته ئې په حقيقت کې د الله تعالی د غضب او د دوزخ په لوري تېښته ده، څومره بد لوري ته خوځېدلی!!

په بل ځای کې فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَٱثْبُتُواْ وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ۖ وَٱصْبِرُوٓاْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٤٦﴾ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرًا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾ الانفال

اې مؤمنانو! کله چې له کومې ډلې سره ( په جګړې کې) مخامخ شئ نو ټينګ شئ او الله ډېر ياد کړئ چې بريالي شئ. او د الله او د ده د رسول اطاعت وکړئ او خپلمنځي لانجه مه کوئ، که نه نو بې زړه به شئ او پرتم او شوکت به مو له منځه ولاړ شي؛ او صبر وکړئ چې يقيناً الله له صابرانو سره دئ. او د هغو په څېر مه کېږئ چې له خپلو کورونو په کبر او خلکو ته د ځان ښودنې لپاره راووتل؛ او د الله له لارې مخنيوی کوي، په داسې حال کې چې الله په هغه څه چې دوی ئې کوي محيط دئ.

د دې مبارکو آیتونو په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- قرآن عظیم الشأن په جګړې کې د برې دوه ډوله عوامل بیان کړي: ۱- د برې فکري او معنوي عوامل. ۲- جنګی قوت او حربي وسائل.
- دلته فرمايي چې د حق له دښمنانو سره په جګړې کې د مخامخ کېدو په وخت کې باید: ثبات ولرئ.
- الله جل جلاله زیات یاد کړئ.
- چې برلاسي او بریالي شئ.
- د الله او د ده د رسول اطاعت وکړئ.
- له خپلمنځي نزاع او اختلاف ځان وساتئ، که نه نو بې زړه به شئ او پرتم او شوکت به مو له منځه ولاړ شي.
- او صبر وکړئ چې یقیناً الله له صابرانو سره دئ.
- وروسته به وګورئ چې د جنګی قوت او حربي وسائلو په اړه مسلمانانو ته داسې امر کوي: وَ أَعِدُّوا لَهُم مَّا استَطعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَ مِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ ... الانفال: ٦٠: او دوی ته څومره چې توانېدی شئ قوت او تړلي آسونه برابر کړئ.

د قرآن له نظره په جګړې کې د بریا اصلي عوامل دا دي: د جګړې په میدان کې ثبات، له جنګ د راولاړو شوو ستونزو په وړاندې صبر، د وحدت او نظم ساتنه، اطاعت، له تحمل کار اخیستل، تفقه او پوهه، د عقیدې او هدف لوړوالی، له کبر، لویې او ځان ښودنې ډډه او د الله جل شأنه ډېرډېر یادول.

خو وایي: د جګړې هر لوری چې وتوانېدو له معنوي لحاظه په خپل حریف برلاسی شي، که څه هم د جنګي قوت او حربي وسائلو له خوا د هغه په پرتله ډېر کمزوری او ناتوانه وي او د دوی تر منځ تناسب یو پر لس وي، وروستی بری به د هماغه طرف په برخه وي.

یعنی په جګړې کې د دښمن د شمېر او وسائلو زیاتوالی باید په تاسو کې وېره راولاړه نه کړي او د خپل برې په اړه مو شکمن نه کړي. که تاسو له معنوي اړخه پر دښمن خپل لوړوالی وساتو، که څه هم د هغه شمېر ستاسو په پرتله لس ځله زیات وي، آخري فتح به ستاسو وي.

د الله جل جلاله ذکر او لمونځ په تا او ستا د سنګر په ملګرو کې د برې معنوي لاملونه برابروي، صبر او ثبات مو په برخه کېږي، د دښمن له قوت وېره او د مرګ خوف مو له زړه لرې کېږي، د الله جل جلاله غیبي مرستو ته مو هیله او امید زیاتېږي او بالآخره هغه ذات چې د عالم د چارو واګې ئې په اختیار کې دي او د ماتې او برې فیصله کوي، هغه به خپل نصرت او تأیید ستا په برخه کوي او پر دښمن به برى درکوي.

له هغه وروسته چې دښمن ته مو ماته ورکړه، د هغه صفوف مو متلاشي کړل او د

جنګ د دوام توان ئې له لاسه ورکړ، بیا د جنګي اسیرانو نیولو ته مخه کړئ، د دښمن د هغو جنګیالیو نیولو ته توجه وکړئ چې د جګړې په میدان کې په لاس درځي، له دې وروسته دا ستاسو رأیې او خوښې ته پرېښودل شوې چې احسان ورسره کوئ او له کومې معاوضې پرته ئې آزادول د اسلام په ګټه ګڼئ او یا ئې د فدیې په بدل کې خوشې کوئ، خو باید پوه وئ چې ستاسو لومړی وجیبه (ضرب الرقاب: د غاړو وهل) ده او دوهمه د اسیرانو نیول.

د بدر په لومړی جګړې کې دا لارښوونه او جنګي قاعده او ضابطه مراعات نه شوه، الله تعالی دا له عتاب ډك آیت نازل کړ:

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنْيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلْءَاخِرَةَ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾ لَّوْلَا كِتَـٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾ الانفال

هیڅ پیغمبر ته نه ښایي چې اسیران ئې وي، تر هغه چې په زمکې کې مضبوط شي (د دښمن په وژلو سره)، (تاسو) د دنیوي ژوند متاع غواړئ او الله آخرت (درته) غواړي او الله باحکمت عزتمن دئ. که هغه الهي لیکلی حکم نه وی چې مخکې تېر شوی نو حتماً به د هغه څه په وجه په ستر عذاب اخته شوي وئ چې تر لاسه مو کړ.

د اسیرانو په اړه دا لارښوونه چې یا احسان ورسره وکړئ او یا ئې د فدیې په بدل کې آزاد کړئ، په احسان کې څلور شیان شامل دي:

- د اسارت په دوران کې له دوی سره ښه چلن او نېکه معامله.
- د وژلو یا دائمي قید او بند پر ځای مسلمانانو ته د دوی سپارل چې د برخلیك تر ټاکلو پورې د مریې په توګه وساتل شي.
- د ذمیانو په ډله کې ونیول شي او د جزیې په ورکولو وګمارل شي.
- له کومې معاوضې پرته آزاد شي.

او د فدیې معامله درې صورتونه لري:

- د مالي معاوضې په بدل کې خوشې شي.
- د ټاکلي خدمت په بدل کې آزاد شي.
- له خپلو هغو جنګي اسیرانو سره تبادله شي چې د دښمن په اسارت کې دي.

د (احسان) او (فدیې) له حکم داسې معلومېږي چې ښایي د اسیرانو وژل به په هیڅ صورت کې جائز نه وي، خو دې ته په پام سره چې نه دلته او په دې آیت کې او نه د قرآن په بل آیت کې د دوی د نه وژلو په اړه صریح حکم نه دئ راغلی، نو ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی په اړه الهي مشیت او د حکم منشأ داسې ګڼلې او پر هغه ئې عمل کړی چې که د مسلمانانو اولي الامر د خاصو وجوهاتو له کبله د ځینو اسیرانو وژل

ضروري وګڼي دا كار كولى شي، خو دا جواز په يوې عامې قاعدې كې د استثناء بڼه لري چې يوازې د ضرورت په صورت كې عمل پرې كېدى شي، لكه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د بدر د جګړې له ۷۰ اسيرانو يوازې عقبه بن ابي معيط او نضر بن الحارث او د احد د جګړې له اسيرانو يوازې ابوعزه شاعر په قتل محكوم كړل، جمهور فقهاء په دې رأيه دي چې د اسلامی حكومت اولي الامر د ضرورت په صورت كې كولى شي ډېر مضر اسير په قتل محكوم كړي، البته دا يوازې د اولي الامر صلاحيت دئ نه دا چې هر سپاهي په هرې ګوښې كې د اسير په وژلو لاس پورې كړي!! خو كه كوم اسير دا هڅه كوله چې وتښتي يا په كوم بل شرارت لاس پورې كړي، هر څوك چې له داسې حالت سره مخامخ شي كولى شي د اسير په اړه مناسب اقدام وكړي، كه څه هم دا اقدام د اسير په وژل كېدو منتج شي.

دا آيت موږ ته لارښوونه كوي چې د مؤمنانو د جنګ موخه او هدف بايد د جنګ پاى ته رسول وي، مؤمن مجاهدين يوازې د دې لپاره په وسله وال جهاد لاس پورې كوي چې د جنګ ټغر د تل لپاره ټول شي، د امن او امان حالت او د صلح او سلم فضاء تأمين شي؛ او د هر ډول وسله وال تېري او تجاوز امكانات له منځه ولاړ شي، اسلامي جهاد نه د نورو هېوادونو د نيولو لپاره دئ، نه د يوه ملت غلبه او برلاسی پر بل ملت، نه كوم بې هدفه جنګ دئ چې پر نورو د خپلې نظامي برلاسي تحميلولو او د دوی پر زېرمو د تسلط لپاره وي؛ او نه د زور ځواك كارولو له لارې پر خلكو د يوې نظريې او عقيدې او يوه نظام تحميلولو لپاره، جهاد يو سپېڅلی جنګ دئ؛ د ناروا او ظالمانه جنګ په ضد او د عدل او امن د اقامې په موخه، چې درې صورتونه لري:

۱ـ كله چې د اسلامي دعوت په وړاندې موانع ايجاد شي او دښمن وسلې ته لاس كړي او جګړه پيل كړي او مسلمانان دې ته اړ شي چې په وسله وال مقاومت لاس پورې كړي، په دې صورت كې اسلام مؤمنانو ته لارښوونه او امر كوي چې وسلې ته لاس كړي او تر هغه د دښمن په ضد وجنګېږي او وسله پر زمكه كښېنږدي چې جګړه پاى ته ورسېږي (حتىتضع الحرب اوزارها)، د جګړې ګواښ او احتمال منتفی شي او د تجاوز او تېري وېره له منځه ولاړه شي.

۲ـ دا جهاد بايد د دعوت په وړاندې ګواښونه او خنډونه له منځه يوسي، نژدې شاوخوا كې د فتنې او شر ځواكونه وځپي، د دين د اقامې شرائط برابر كړي او خلكو ته د امن داسې فضاء برابره كړي چې له خوف او وېرې پرته د خپل رب عبادت وكړى شي.

قرآن په دې اړه فرمايي:

وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِۖ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَلَا عُدۡوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩٣﴾ البقرة

او تر هغه له دوی سره وجنګېږئ چې فتنه نه وي پاته او دين د الله لپاره وي، كه ئې ډډه

وکړه نو تېری به له ظالمانو پرته په بل چا نه وي.
۳ ـ د نهضت د نضج او پوخوالي او پراخوالي په مرحله کې باید نړۍ وال اهداف غوره شي، په هر ځای کې باید د شر او فساد له ځواکونو سره مقابله وشي، د انساني کورنۍ او ټولني ټول غړي باید له ظلم او تېري، اسارت او غلامۍ؛ او د دروغجنو معبودانو له عبادت او د دیکتاتورانو له منګولو وژغورل شي، په دې تاریخي مرحله کې باید د دې دعوت اهداف نړۍ شمول شي، ټول انسانان پرته له کوم قومي او ملي محدودیت او د نړۍ په ټولو برخو کې د الهي دین اقامه په پام کې ونیول شي. قرآن په دې اړه فرمایي:

وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٣٩﴾ الانفال

او تر هغه ورسره وجنګېږئ چې فتنه پاته نه شي او دین ټول الله لره وي، خو که ئې ډډه وکړه نو یقیناً چې الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې دوی ئې کوي.

په دې مبارك آیت کې څو مهمي لارښووني شوې:

• مسلمانان تر هغه د جګړې په دوام مکلف دي چې فتنه په بشپړه توګه پای ته ورسېږي او دین په بشپړه توګه حاکم شي.

• دلته (فتنه) د (دین) په مقابل کې ذکر شوې؛ او دا په ډېر وضاحت او پرېکنده توګه ښيي چې له فتنې مراد هغه حالت دئ چې پر ټولني باندي د الله تعالی له دین پرته بل نظام، قانون او دین حکومت کوي.

• که کافران له فتنې لاس واخلي، د بل نظام، قانون او دین په وړاندي له سر ټيټولو او د الله د دین په وړاندي له مخالفته ډډه وکړي، نو د دوی راتلونکي حالت او عملونو ته به کتل کېږي او د دې له مخي به له دوی سره معامله کېږي.

• که د الله له دین بیا سرغړاوی وکړي او بېرته د کفر لوري ته وګرځي نو مؤمنان دې ډاډه وي چې الله تعالی به بیا د دغو کافرانو په خلاف د دوی مرسته کوي. الله تعالی د دوی مولا او مرستندوی دئ، غوره مولا او غوره مرستندوی.

تر هغه چې د نړۍ په کوم ګوټ کې طاغوت حاکم وي، د الله تعالی له دین پرته بل دین، مذهب او نظام پر خلکو تپل شوی وي، پر مظلومانو ظلم کېږي، مسلمانان د دې حالت د بدلولو، د جابرو حکومتونو د نسکورولو او د انسان له بندګۍ د انسان د آزادولو لپاره پر وسله وال جهاد مکلف دي. قرآن په دې اړه فرمایي:

وَمَا لَكُمۡ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلۡوِلۡدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهۡلُهَا وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ النساء

او په تاسو څه شوي چي د الله په لار کې او د هغو بې وزلو سړيو، ښځو او ماشومانو د ژغورني لپاره نه جنګېږئ چي وايي: اې زموږ ربه! له دې کلي چي اهل ئې ظالمان دي موږ وباسه او له خپلي خوا راته کوم پالونکی وټاکه او له خپل لوري راته کوم ملاتړ وټاکه.

دا مبارك آيت په ډېرو قاطع او واضح الفاظو وايي چي د الله په لار کې وسله وال جهاد او د مظلومانو د ژغورني لپاره له ظالمانو سره جنګېدل يوه داسي الهي فريضه ده چي پرېښودل ئې په هيڅ دليل او هيڅ بهانه نه شي توجيه کېدی، کله چي مسلمانان داسي يوې مرحلې ته ورسېږي چي وسلې ته لاس کول او د دښمن په خلاف جنګېدل ضروري وګڼل شي، نو دا کار ورباندي فرض دئ او پرېښودل ئې د يوې الهي فريضې پرېښودل دي او الله تعالی د داسي جهاد له تارکينو هيڅ دليل او بهانه نه مني.

د حق او باطل تر منځ هغه مبارزه چي د عقائدو او افکارو له تصادم پيل او تر وسله والو نښتو مخکي درومي د دې لپاره د يوه الهي سنت په توګه رامنځته کېږي چي الله تعالی غواړي هر لوری په خپلي خپلي تګلاري کې وآزمويي، د خپلي خوښي عمل فرصت ورکړي؛ او په دې توګه پر هر يوه حجت بشپړ شي، الله تعالی له همدې لاري حقپال او باطلپال سره مخامخ کوي او د دوی تر منځ د نښتو په ترڅ کې له يوې خوا د نښتي دواړه اصلي لوري آزمويي او له بلي خوا هغه چي لا ئې مشخص دريځ نه دئ غوره کړی او د نښتو پايلو او نتائجو ته منتظر دي، له دې آزمويني، ابتلاء او اتمام حجت وروسته به هر يو له خپل محتوم او ټاکلي برخليك سره مخامخ کوي. که دا الهي سنت نه وی نو الله تعالی به په خپله له هغو انتقام اخيستو چي د حق دين مخالفت کوي، د الله د لاري خنډ ګرځي او پر مظلومانو تېری کوي. د دې آزموينو ځرنګوالی په قرآن کې په تفصيل سره څېړل شوی چي دا دئ ځيني موارد ئې ستاسو مخي ته ږدو:

### ۱ـ د کافرانو آزموينه

الله تعالی کافران هم له مؤمنانو سره د نښتو په ترڅ کې او هم تر دې وړاندي او وروسته له داسي کړاوونو او ستونزو سره مخامخ کوي چي د خپلي تګلاري او کړنلاري بيا کتني ته ئې اړ کړي؛ او دې ته ئې متوجه کړي چي د بدمرغيو اصلي عامل ئې هغه غلط باورونه دي چي دوی غوره کړي، ولې د يوې غلطي عقيدې لپاره دا کړاوونه وګالي!!

قرآن د بني اسرائيلو په اړه چي د فرعوني نظام په منګولو کې په بې رحمانه توګه کړېدل، زامن ئې ذبح کېدل او لوڼي ئې د وينځو په توګه ساتل کېدې داسي فرمايي:

وَإِذْ نَجَّيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾ البقرة

او هغه وخت درياد کړئ چي له فرعونيانو مو وژغورلئ، په بد عذاب ئې تعذيبولئ، ستاسو زامن ئې ذبح کول او ستاسو لوڼي ئې ژوندۍ پرېښودې او په دې کې تاسو ته

ستاسو د رب له لوري لويه آزموينه وه.

په بل ځای کې فرمايي:

وَقَطَّعۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُمَمٗاۖ مِّنۡهُمُ ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنۡهُمۡ دُونَ ذَٰلِكَۖ وَبَلَوۡنَٰهُم بِٱلۡحَسَنَٰتِ وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿١٦٨﴾ الاعراف

او په زمکې کې مو په ډلو ډلو خواره واره کړل، ځيني ئې صالح دي او ځيني ئې تر دې راټيټ، په ښو او بدو (شيبو) مو وآزمويل چې راوگرځي.

دا آيت ښيي چې بني اسرائيل له پراخ تشتت او تفرق سره مخ شوي، په زمکې کې خواره واره شوي، يوه وړه ډله ئې روغه او سمه او نور ئې پرېوتي او ټيټ، الله تعالی کله په خپلو نعمتونو آزمويلي او کله په نقمتونو، په دې موخه چې پند واخلي او بېرته سمې لارې ته راوگرځي.

او کفري ځواکونو ته د مهلت ورکولو او د دوی د موقتي برياوو او برلاسيو د توجيه په اړه فرمايي:

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ خَيۡرٞ لِّأَنفُسِهِمۡۚ إِنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِثۡمٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿١٧٨﴾ آل عمران

او کافران دې گمان نه کوي چې زموږ له لوري مهلت ورکول ئې په گټه دئ، موږ خو د دې لپاره دا مهلت ورکوو چې د لازياتو گناهونو مرتکب شي او سپکوونکی عذاب ئې په برخه شي.

ډېرو ته په دې خبرې پوهېدل گران وي چې الله تعالی د کوم مصلحت له مخې کفري ځواکونو ته مهلت او فرصت ورکوي، کله پر مسلمانانو د بريا موقع ورکړي، کله د اسلامي هېوادونو د نيولو او د مسلمانانو د ځورولو امکان په لاس ورکړي، د دې تر شا کوم الهي حکمت مضمر دئ؟ په دې مبارك آيت کې دغي پوښتني ته ځواب ويل شوی. مه تاسو دا گمان کوئ چې کفري ځواکونو ته مهلت او فرصت ورکول د دوی په گټه دئ او نه دې دوی په دې اشتباه کې پرېوځي چې دا موقتي برياوې ئې په گټه دي. الله تعالی غواړي په دې مهلت سره د دوی حقيقت ښه څرگند شي، دا مهلت د دې باعث شي چې دوی په ظلم او فساد کې هغې انتهاء ته ورسېږي چې الله تعالی ئې د دوی د کاملې تباهۍ لپاره ضروري گڼي، تر هغه چې يو منحرف او مفسد ولس دغي انتهاء ته نه وي رسېدلی الله تعالی ئې د استئصال او هلاکت وروستۍ پرېکړه نه کوي.

له دې په څرگنده توگه معلومېږي چې د کفر پايله له سپکوونکي الهي عذاب پرته بل څه نه شي کېدی، ممکنه نه ده چې کوم کس او کوم ملت دې د کفر په خط کې له سپکاوي سره مخامخ نه شي، د ټول غرب او په سر کې ئې د امريکا وضعيت؛ سره له هغه

غولوونکي ظاهر او د کاذب تمدن زرق او برق دا دردناك حقیقت او د دې الهي قاطع پرېکړې مصداق زموږ مخې ته ږدي، ښايي دا څرګندونه به کافي وي چې له مخې ئې د غربي هېوادو د وضعيت په اړه قضاوت وکړی شئ، د امريکا د رسمي دولتي معلوماتو له مخې په (١٩٨٠) ميلادي کال کې د امريکا په ٢١٧ ميليون نفوس کې ١٣ ميليونه هولناك جنايات تر سره شوي؛ او دا رقم د وړاندي کال په پرتله ٥٥ سلنه زياتوالی ښيي، د دغو جناياتو د عاملينو يوازي ١٩ سلنه نيول شوي، يعني په ١٩٨٠ کال کې په هري دقيقې کې يو سرقت او په هرو ٢٣ دقيقو کې يو قتل تر سره شوی، د دې جناياتو د قربانيانو ٢ سلنه له ګرمي وسلې په استفادې سره وژل شوي.

## ٢ـ د مؤمنانو آزمېښت

الله تعالی د ايمان لار له لوړو ژورو او کړېچونو ډکه ګرځولې، داسي چې يوازي د کړاوونو او مصائبو په ګاللو سره ئې پلې کولی شو. د دې لاري په هر کړلېچ کې خوف او خطر دئ، عقبات، خنډونه او موانع دي، د دښمن له ارعاب او ارهاب سره مخامخېدل دي، له دې خنډونو او عقباتو بريالی تېرېدل د مال او ځان قرباني غواړي او له خطر سره د ټکر کلك هوډ، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَىْءٍ مِّنَ ٱلْخَوْفِ وَٱلْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِ ۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٥﴾ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوٓا۟ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَٰتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُهْتَدُونَ ﴿١٥٧﴾ البقرة

هرومرو به تاسو په څه وېري، لوږي او د مال، ځان او مېوو( د حاصلاتو) په کمښت او تاوان وآزمويو، نو صابرانو ته زېری ورکړه. هغو (صابرانو) ته چې کله مصيبت وروړسېږي وايي: موږ د الله يو او د ده په لوري ورتلونکي. دا هغه ډله ده چې د خپل رب له لوري وربانديې صلوات (درودونه) او رحمتونه دي او همدا دوی هدايت موندونکي دي.

په دې مبارکو آيتونو کې مؤمنانو ته څو لارښووني شوې دي:

- په دې بايد پوه وئ چې د الله لار له امتحانونو ډکه لار ده، الله ته رسېدل او د ده رضاء تر لاسه کول آسان او ارزان کار نه دئ، په دې لار کې د سر، مال او کور کر تاوانونه شته، له خطرناکو دښمنانو سره مخامخ کېدل شته، وېره او لوږه شته، دا له اغزيو ډکه لار ده، خو که دي صبر وکړ نو د دې لاري هر اغزی به درته ګل شي، د بري زېری هغه چا ته انتظار کوي چې صابر وي، لوی عزم لري او د الله په لار کې کړاوونه په ورين تندي ګالي.
- صابر هغه دئ چې له مصيبتونو سره د مخامخ کېدو په صورت کې وايي: زموږ هر څه د الله دي، هرڅه ده راکړي، دی ئې د بېرته اخيستو حقدار دئ، د الله په لار کې ئې له لاسه ورکول داسي دي لکه د چا امانت چې بېرته ورته وسپارې، هسي هم الله ته ورتلونکي

يو، له مرگ خلاصون نشته، ولې مو مرگ د ده په لار کې نه وي، ولې مو ورتگ په جگ سر او په داسي حال کې نه وي چې هرڅه مو د ده په لار کې وقف کړي وي.

- دغو صابرانو ته الله تعالی د دريو خبرو وعده ورکوي: الله تعالی به ئې ستاينه کوي، خپل رحمت او پيرزويني به ورپه برخه کوي او د هدايت دروازې به ئې پر مخ پرانيزي.

الله تعالی فرمايي:

وَأَوْرَثْنَا ٱلْقَوْمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسْتَضْعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلْأَرْضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْ ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُۥ وَمَا كَانُواْ يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾ الاعراف

او هغو خلکو ته مو چې په بې وزلۍ کې ئې د ساتلو هڅه کېده، د هغې زمکې ختيځې او لوېديځې برخې په ميراث ورکړې چې برکت مو په کې اچولی وو او ستا د رب نېکه وينا د بني اسرائيلو په اړه په دې وجه بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ او هغه څه مو هم ويجاړ کړل چې فرعون او د ده قوم جوړول او هغه څه هم چې دوی لوړول.

د ابراهيم عليه السلام د ابتلاء په اړه فرمايي:

وَإِذِ ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ۖ قَالَ إِنِّى جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِى ۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٢٤﴾ البقرة

او کله چې خپل رب ئې ابراهيم په څو خبرو وآزمويلو، کومي چې هغه تر سره کړې، وئې فرمايل: زه خو دې د خلکو لپاره د يوه امام او پيشوا جوړونکی يم، وئې ويل: او زما له اولاد هم، وئې فرمايل: زما ژمنه ظالمانو ته نه رسېږي.

ابراهيم عليه السلام له گڼ شمېر الهي آزموينو سره مخامخ شو، د پلار او قوم مخالفت، زندان ته تگ، په اور کې لوېدل، هجرت او وطن پرېښودل، د مکې په وېروونکې وچې بيديا کې هاجر او اسمعيل يوازې پرېښودل، د اسمعيل په ذبح کولو ئې گمارل، ... هغه په ټولو دغو الهي آزموينو کې بريالی شو، د دې بريا بدله او جزاء دا وه چې د خلکو د امامت او زعامت مقام ئې په برخه شي، الله تعالی ورته وفرمايل چې اوس نو ته د خلکو د امامت وړ يې، دا مقام تا ته سپارم. تمنی ئې وکړه چې کاش د خلکو د لارښوونې دا مقام د ده د اولاد هم په برخه شي! الله تعالی وفرمايل: زما په دې فرمان کې ظالمان نه دي شامل، ظالمان که څه هم ستا زامن وي د دې جليل مقام وړ نه دي.

گورئ چې الله تعالی د خلکو د امامت او مشرتابه جليل منصب هغه چا ته سپاري چې په الهي آزموينو او هغو ابتلاءاتو کې بريالی شي چې د ايمان په لار کې ورسره مخامخ کېږي، هغه ظالمان د دې لوړ مقام وړ نه گڼي چې په آزموينې کې موفق نه شي.

قرآن موږ ته دا زېری راکوي چې د ابتلاءاتو او آزموينو په ترځ کې د مؤمنو مجاهدينو

روحي او معنوي روزنه تر سره کېږي، دا تمحیص، روحي او معنوي ارتقاء او اخلاقي رشد پر دښمن د دوی د بریا او برلاسي ستر او ټاکونکی عامل دئ، قرآن وایي: د مؤمنانو تمحیص او د کفري ځواکونو زوال او ماته یو له بل سره توأم او مترادف دي:

وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَمۡحَقَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٤١﴾ آل عمران

او دا د دې لپاره چې مؤمنان ښه عيار کړي او کافران نابود کړي.

یعني الله تعالی د جهاد د ماتو او بریاوو په ترڅ کې او د ابتلاءاتو په لوړو ژورو کې د مؤمنانو روزنه کوي، دوی د ایمان لوړو څوکو ته رسوي، د دوی ایمان او عقیدې ته مزید پوخوالی او ځلا ورکوي، دا د دوی د تربیت او روزنې یوه مؤثره ذریعه ده.

د کفري ځواکونو د تباهۍ او نابودۍ لار همدغه ده، کله به ئې موقتي بریاوې مغرور کړي او داسې څه کولو ته به ئې وهڅوي چې د کاملې تباهۍ په لوري ئې ګړندي کړي او کله به ئې ماته داسې ذلیلانه اقداماتو ته اړ کړي چې کاملې تباهۍ ته ئې ورنژدې کړي.

په بل ځای کې فرمایي:

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٦٩﴾ العنکبوت

او هغه چې زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلې لارې وروښیو او یقیناً چې الله له دغو محسنینو سره دئ.

دلته د الله د لارې له مجاهدینو سره دوه وعدې شوې: د (هدایت) او (معیت) وعدې، یعني د هدایت دروازې به د دوی پر مخ پرانیزي، د بریا، عزت او سعادت په لارو د تلو توفیق به ورکړي، په هر ګام کې به د دوی لارښوونه کوي، د هدایت او رشد لوړو پوړو ته د رسېدو سعادت به ئې په برخه کوي؛ او د (احسان) لوړې څوکې ته به ئې رسوي؛ او له خپلې ملتیا او معیت به ئې برخمن کوي.

### ۳ ـ د منافقینو ابتلاء

سخت او ستونزمن حالات او هغه شرائط چې د دښمن د بریدونو په وړاندې د تیارې نیولو او له ګواښونو سره د ډغرو وهلو غوښتنه کوي، له هغه نهضت سره د ټولو هغو خلکو د تعهد او تعلق د څرنګوالي حقیقت څرګندوي چې له ګواښونو سره مخامخ دئ او جګړه پرې تحمیل شوې. د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې د منافقینو کړنې او دریځونه د جګړې او خطر په وخت کې په ډېر تفصیل او صراحت سره څېړل شوي، ځیني موارد دا دي:

کله چې نهضت د جنګ له خطر سره مخامخ کېږي او د دښمن له لوري په برید ګواښل کېږي، ضعیف الایمان او جبون عناصر او هغه چې ایمان ئې په دې مشروط دئ چې له خطر او ضرر سره به نه مخامخ کېږي، هغوی به ګورئ چې سخته وېره پرې راغلې، رنګ ئې الوتی، وارخطا او لالهانده دي، له خطر د خوندي پاته کېدو په موخه په یوې او بلې ګوښې کې پناه ځی لټوي، د دې پر ځای چې له نهضت او خپلو همسنګرانو د دفاع لارې

چاري او امكانات ولټوي ټول هم او غم ئې دا وي چې څنګه ځان له احتمالي خطرونو وژغوري، له دې پرته د بل هيڅ څه پروا نه كوي، خو كله چې د خوف او خطر حالت منتفى شي او نهضت برياوي او موفقيتونه تر لاسه كړي نو دا ډارن او جبون منافقين به ګورئ چې په ډېر مهارت سره به هڅه كوي په افتخاراتو او لاسته راوړنو كې له هغو سره ځان برابر شريك ثابت كړي چې برياوي د دوى د قربانيو او سرتېريو په مټ تر لاسه شوې، دا ادعاء به كوي چې د برياوو په تر لاسه كولو كې د دوى ونډه تر هيچا كمه نه وه، كه څه هم نه ئې په دفاع او جنګ كې برخه اخيستې او نه د نښتي په وخت كې د مجاهدينو خوا ته په سنګر كې پاتې شوي، له دوى به اورئ چې وايي: كه څه هم د خطر په دوران كې له خپلو همسنګرو ورونو لري پاته شوي وو، دا فرصت مو تر لاسه نه كړ چې په نښتي كې برخه واخلو خو له سنګر لري مو د نهضت په ګټه هغه څه كړي چې نه په سنګر كې ناستو مجاهدينو په خپلو تورو كړي او نه شهداوو په خپلو قربانيو سره!! قرآن په دې اړه فرمايي:

أَشِحَّةً عَلَيْكُمْۖ فَإِذَا جَآءَ ٱلْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ كَٱلَّذِى يُغْشَىٰ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْمَوْتِۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلْخَوْفُ سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى ٱلْخَيْرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُواْ فَأَحْبَطَ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٩﴾ يَحْسَبُونَ ٱلْأَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُواْۖ وَإِن يَأْتِ ٱلْأَحْزَابُ يَوَدُّواْ لَوْ أَنَّهُم بَادُونَ فِى ٱلْأَعْرَابِ يَسْـَٔلُونَ عَنْ أَنۢبَآئِكُمْۖ وَلَوْ كَانُواْ فِيكُم مَّا قَٰتَلُوٓاْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢٠﴾ الاحزاب

بې شكه چې الله ستاسو خنډ كېدونكي وګړي او هغه ښه پېژندلي چې خپلو ورونو ته (د دې وينا) ويوونكي وو: زموږ لوري ته راشئ په داسي حال كې چې په جګړي كې برخه نه اخلي مګر ډېر لږ، پر تاسو (د هري ښېګڼي) په اړه بخل كوونكي، كله چې د وېري حالت راشي نو دوى به ووينې چې ستا په لوري به داسي ګوري چې سترګى به ئې رغړي، د هغه چا په څېر چې د مرګ (د وېري او هيبت) له كبله بې سده شوى، خو كله چې وېره (او د خوف حالت) له منځه ولاړ شي له تاسو سره به په تېرو ژبو مخامخ كېږي، د مال ډېر حرص لرونكي، دوى ايمان نه دئ راوړى، نو الله د دوى عملونه حبط كړل او دا كار الله ته آسان دئ.

په دې مباركو آيتونو كې د جهاد مخالفين داسي معرفي شوي:

- الله جل شأنه دوى ښه پيژني، كه هرڅومره بهانې وكړي، خلك وغولوي، د خپل ناروا دريځ لپاره غولوونكي دلائل وړاندي كړي، الله تعالى ته هم د دوى عملونه معلوم دي او هم ئې د زړه كيفيت.
- دوى په عملي جهاد كې برخه نه اخلي مګر ډېر لږ او هغه هم د مجبوريت له كبله.

- خپل ملګري او خپلوان هم له جهاد او په جګړو کې له برخې اخيستو منع کوي.
- د الله د لارې پر مجاهدينو ئې برى او فتح نه لوريږي.
- د خوف او ويرې په حالت کې ئې وضعيت داسې وي لکه مرګ چې په سترګو ګوري او د مرګ ويرونکې بلا دوى ته خپله خوله پرانيستې وي.
- کله چې د ويرې حالت ختم شي نو د خپلو تېرو ژبو تورې له تېکو راوباسي او د مجاهدينو په خلاف شديد تبليغات پيل کړي.
- د تبليغاتو اصلي وجه او موخه ئې مال او مقام تر لاسه کول وي.
- دوى ايمان نه دئ راوړى، د الهي معيارونو له مخې د دوى ايمان حقيقي ايمان نه دئ او الله تعالى د دوى د ايمان دعوى نه قبلوي.
- الله تعالى د دوى هڅې شنډوي، هلې ځلې ئې حبطوي، پر هغو عملونو ئې هم د بطلان کرښه راکاږي چې په ظاهر کې ښه او نېك بريښي، د دوى ظاهري نيك عملونه د الله تعالى په وړاندې هيڅ قدر او قيمت نه لري.
- الله ته دا آسانه ده چې د مسلمانانو په ضد د دغو منافقينو هڅې حبط کړي.

دا منافقين د خطر په وخت کې داسې انګېرې چې له مرګ سره ئې واټن رالنډ شوى، د مرګ ويره پرې مسلطه وي، دا ځکه چې دوى نه د مرګ ژوند په اړه هغه باورونه درلودل چې د واقعي ايمان غوښتنه ده او نه د الله تعالى په اړه چې ټولواك دئ او د ماتې او برې، مرګ ژوند او د مصيبتونو د راتلو او نه راتلو پرېکړې د ده له لورې کېږي، په شکوکو لړلى ايمان هيڅکله نه شي کولى انسان د سپېڅلو اهدافو لپاره قربانۍ او ايثار ته چمتو کړي، خو کله چې د خوف حالت پاى ته ورسېږي نو هم د برې په صورت کې او هم د ماتې په صورت کې د خپلو تېرو ژبو تورې له تېکو راوباسي او په خپلو منافقانه تبصرو او تبليغاتو سره د مخلصو مجاهدينو د اذيت او آزار باعث کېږي.

د برياوو په صورت کې ئې هر استدلال او احتجاج د دې لپاره وي چې د افتخاراتو او امتيازاتو په لاسته راوړلو کې ځان تر هر چا زيات مستحق ثابت کړي او تر نورو ئې برخه زياته وي، هر مالي او معنوي وېش او تقسيم او توزيع که هر څومره هم عادلانه او پر قسط، انصاف او واقعيتونو مبتني وي، دوى ئې له دې کبله محکوموي او غيرعادلانه ئې ګڼي چې د دوى حرص او ځان غوښتنه نه شي اشباع کولى او د دوى حريص نفس نه شي ارضاء کولى.

او د ماتې په صورت کې که څه هم د دوى منافقانه دريځونو او کړنو د ماتې عوامل برابر کړي او که څه هم هغه داخلي اختلافات او بې اعتمادي چې دغې شيطاني ډلې د مجاهدينو په ليکو کې راولاړ کړي د دښمن د تشجيع او د مجاهدينو د روحيې د تضعيف باعث شوي، د هغو مخلصو مجاهدينو په ضد تبليغات کوي چې په ټول اخلاص سره ئې د دښمن په وړاندې مقاومت کړى او د خپلو وينو په بيع ئې د ايمان سنګرونه ساتلي، نه

دښمن محکوموي او نه ئې خطرناکو او پراخو څرګندو او پټو توطئو او دسائسو ته ګوته نيسي، نه د نهضت مجبوريتونه، مشکلات او محدوديتونه د اعتناء وړ ګڼي او په خپلو تبصرو کې هغه په پام کې نيسي، په هيڅ توګه نه غواړي دا ماتې د نهضت په ګټه توجيه او تعبير کړي او مشرتابه ته ئې برائت ورکړي، هغه ئې دا وي چې د ماتې د عواملو په اړه په خپلې هرې تبصرې او تحليل کې داسې څه ووايي چې که په صريح او واضح توګه د دښمن له دريځ او تګلارې دفاع نه وي نو سل په سلو کې د دښمن په ګټه او د هغو مجاهدينو په ضد وي چې د خپل مال او سر په قيمت له متجاوز او مهاجم دښمن سره جنګېدلي او د خپل توان او استطاعت په حد کې ئې خپل ايماني مسئوليتونه اداء کړي، لکه چې قرآن فرمايي:

وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنْ أَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَالَ قَدْ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا ﴿٧٢﴾ وَلَئِنْ أَصَٰبَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ ٱللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُنۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُۥ مَوَدَّةٌ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧٣﴾ النساء

او يقيناً چې په تاسو کې ځيني هرو مرو لټي کوي، نو که کوم مصيبت درورسېږي وايي: واقعي چې الله پر ما هغه وخت فضل وکړ چې له دوی سره حاضر نه وم. او که د الله کوم فضل مو په برخه شي، حتماً به داسې وينا کوي لکه چې ستاسو او د ده تر منځ هيڅ دوستي نه وي: ای کاش له دوی سره وی او لويه بريا مې په برخه شوې وی.

کوم کسان چې جهاد ته د تياريو نيولو په وخت کې لټي کوي، هغوی په حقيقت کې ستاسو له ډلې نه دي، نه ئې ملګرتيا د ايمان او عقيدې په حکم ده او نه ئې جهاد، که تاسو ته کوم مصيبت درورسېږي، له ماتې سره مخامخ شئ، مرګ، ژوبله مو په برخه شي؛ نو هغه وايي: ښه شو چې له دوی سره يو ځای نه وم، الله پر ما فضل وکړ چې له دوی نه ئې پاته کړم، که نه نو زه به هم له دې مصيبت سره مخامخ شوی وم. له دې آيته دا معلومېږي چې که څوك د مسلمانانو غم او درد د ځان غم او درد ونه ګڼي او ورباندې خفه نه شي، هغه منافق دئ.

خو که فتح او بريا مو په برخه شي، نو د ده وينا به بيا هم داسې وګورئ چې د يوه دښمن وينا برېښي نه د يوه دوست، ستاسو بريا به د ځان بريا نه ګڼي، ستاسو په فتحې به راضي او خوشحاله نه وي، هلته به هم دا ارمان کوي چې کاش زه هم په دې جګړې کې حاضر وی او غنائم مې په برخه شوي وی، د ده له نظره لويه بريا غنائم تر لاسه کول دي، نور څه ورته اهميت نه لري. دا آيت د منافق بل خصلت په ګوته کړی او فرمايي: څوك چې د مسلمانانو بريا خپله بريا ونه ګڼي منافق دئ.

قرآن په دې اړه چې ابتلاءات او آزمېښتونه د کاذب او صادق تر منځ سره کرښه راکاږي او د ايمان دروغجن مدعيان څرګندوي او مخلص له غير مخلص او په خپل تعهد او

ژمنې کې صادق له کاذب متمایز او بېلوي؛ داسې فرمايي:

أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ۝٢ وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ۝٣ العنكبوت

آیا خلکو داسې انګېرلې چې کله ووایي ایمان مو راوړی نو پرې به ښودی شي او وبه نه آزمویل شي؟! حال دا چې يقيناً موږ هغه وآزمویل چې تر دوی وړاندې ول، نو الله به هرو مرو هغه معلوم کړي چې رښتيني دي او حتماً به دروغجن معلوم کړي.

د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- دا هسې يوه بې ځايه هيله او غلطه انګېرنه ده چې الله تعالی به د ایمان د مدعيانو په دغې وينا اکتفاء کوي چې وايي: موږ ایمان راوړی؛ او په همدې سره به ئې خپلې مخې ته پرېږدي او د همدغې ادعاء له مخې به دوی مؤمنان ګڼي او همغه څه به ورسره کوي چې له مؤمنانو سره ئې د کولو وعده کړې!! پرته له دې چې د آزموينو په ترڅ کې د دوی د دغې ادعاء حقيقت څرګند کړي!! داسې نه ده؛ الله تعالی به حتماً دوی له ډول ډول آزموينو سره مخامخ کوي او د دغو آزموينو په ترڅ کې به له يوې خوا هغه معلوم او څرګند کړي چې په خپلې ادعاء کې رښتيني دي او له بلې خوا هغه چې د ایمان په دعوی کې دروغجن دي. د دې معنی دا ده چې د ایمان رښتينی او دروغجن مدعي به د الهي آزموينو په ترڅ کې معلومېږي.
- دا يو ثابت او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ، الله تعالی له وړاندينيو سره همداسې کړي او له وروستنيو سره به همداسې کوي.
- د ایمان لار له کړلېچونو، لوړو ژورو، خطرونو او ټکرونو ډکه لار ده، د دې لارې مؤمن لاروی بايد په هر ګام کې له آزموينو سره مخامخېدو ته چمتو او په دې باور وي چې هغه مهال به د الله تعالی رضاء او د هغه ملتيا تر لاسه کوي چې له دغو آزموينو بريالی تېر شي.
- هو؛ له ابتلاءاتو سره مخامخېدا د اسلامي نهضت طبيعت او داسې لازمي اړخ دئ چې د هيڅ سياست، تګلارې او تدبير په غوره کولو سره نه شي کېدی د هغه له تحقق مخنيوی وشي او پرته له دې چې ورسره مخامخ شو وروستې منزل او هدف ته ورسېږو، مګر په داسې تنازل او انحراف سره چې په بشپړه توګه د ایمان منافي وي.

قرآن په بل آيت کې د منافقينو د شخصيت يوه بل اړخ ته داسې ګوته نيسي:

لَوۡ كَانَ عَرَضٗا قَرِيبٗا وَسَفَرٗا قَاصِدٗا لَّٱتَّبَعُوكَ وَلَٰكِنۢ بَعُدَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلشُّقَّةُۚ وَسَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسۡتَطَعۡنَا لَخَرَجۡنَا مَعَكُمۡ يُهۡلِكُونَ أَنفُسَهُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ۝٤٢ التوبه

که نژدې موخه او لنډ سفر وی نو هرومرو په تا پسې درتلل خو واټن ورته لرې وبرېښېدو،

ژر ده چې د الله په نامه به لوړه کوي چې که توانېدلی حتماً درسره وتلو، خپل ځان هلاکوي؛ او الله پوهېږي چې یقیناً دوی دروغجن دي.

دا آیت د نیمې لارې ملګرو په اړه دئ، هغه کسان راښیي چې که مزل نژدې، سفر لنډ او خپلو موخو او اغراضو ته ژر رسېدل وي نو ستا ملګرتیا کوي، خو که مزل لرې، سفر اوږد؛ او مقصد ته رسېدل ګران وبرېښي؛ له ملګرتیا لاس اخلي او تا یوازې پرېږدي، په خپلې اشتباه اعتراف هم نه کوي بلکې د الله په نامه قسمونه کوي او وایي: کمزوري، بې وسي او ناتواني باعث شوه چې ملګرتیا په نیمایي کې پرېږدو او تر آخرې منزل تګ ونه شو کړی!! خو الله تعالی فرمایي چې دوی دروغجن دي، مالي او جسمي ناتواني له ملګرتیا نه دي محروم کړي بلکې عدم صداقت او د اخلاص ضعف او د ایمان کمزورتیا منع کړي. دوی د نیمې لارې او آسان سفر ملګري ول، په دې موخه له تا سره یوځای شوي وو چې ډېر ژر به ډېر څه په لاس ورځي: غنیمت، دولت، شهرت، نوم، کرسۍ؛ او ډېر نور څه چې ستا په ملګرتیا کې ئې ترسترګو کېدل. دوی له جهاد په پاته کېدو او دروغجنو قسمونو سره ځان هلاکوي.

همدا راز فرمایي:

إِنَّمَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَٱرْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِى رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾ التوبه

یوازې هغه کسان له تا اجازه غواړي چې پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان نه لري، زړونو ئې شك کړی او په خپل شك کې لالهانده او متردد دي.

دلته ویل شوي: له جهاد به هغه څوك ځان ډډې ته کوي او په حیلو او بهانو سره به رخصت تر لاسه کوي چې ځیني خصلتونه ئې دا دي:

- پر الله تعالی ایمان نه لري،
- پر آخرت باور نه لري،
- په زړونو کې ئې شك دئ، د الله تعالی په اړه، د آخرت په اړه، د الله تعالی د وعدو په اړه؛ او د اسلام د حقانیت په اړه، او
- په خپلو شکونو کې متردد دي.

یعني منافق به له جهاد ډډه کوي!! او له جهاد به د رخصت تر لاسه کولو هڅه کوي!!
د دې آیت په اورېدو سره د هر باایمانه انسان وبښتان ځیره کېږي، له یوه جهاده پاته کېدا ورته داسې برېښي لکه له ایمانه وتل، ګوري چې که د هغه چا په اړه الهي قضاوت داسې وي چې له جهاد د رخصت تر لاسه کولو لپاره د پیغمبر علیه السلام په حضور کې حاضرېدل، نو د هغه چا په اړه به د الله تعالی او د الهي دین حکم څه وي چې له جهاد انکار کوي، نه ئې په تګلارې کې د جهاد پړاو شته، نه ئې په درسونو کې د جهاد باب شته،

نه ئې په تبليغ کې د جهاد موضوع؟!! د جهاد په ځای وايي چې اسلام د صلحې او روغې جوړې دين دئ نه د توري دين، د اسلام جنګونه دفاعي ول نه تعرضي، اسلام کافرانو ته وايي ستاسو خپل دين او زموږ خپل دين، مه تاسو پرموږ غرض لرئ نه به موږ پر تاسو!! دا خبرې په داسې وخت کې کوي چې صليبي ځواکونو فلسطين نيولی، افغانستان ئې نيولی، عراق ئې نيولی، دا اوس د دوی نژدې ځلور لکه فوځ په اسلامي هېوادو کې مستقر دئ!! ټول اسلامي هېوادونه له سياسي، اقتصادي او فرهنګي پلوه د دوی مستعمرې دي، چې د خلافت له زواله وروسته تر نن پورې په مستقيمه او غير مستقيمه توګه دوی پرې حکومت کوي، خپل منافق او مفسد لاس پوڅي ئې پر مسلمانانو مسلط کړي، د ژوند په ټولو برخو کې دوی د تعرض په حال کې او موږ له دفاع هم عاجز!!.

د منافقينو د تشخيص لپاره يو بل څرګند لارښود معيار زموږ په وړاندې ږدي او فرمايي:

وَلَوْ أَرَادُوا۟ ٱلْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا۟ لَهُۥ عُدَّةً وَلَـٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ ٱقْعُدُوا۟ مَعَ ٱلْقَـٰعِدِينَ ﴿٤٦﴾ التوبه

او که ئې وتل غوښتی نو حتماً به ئې (اړوند) سامان ورته تيار کړی وو، خو الله د دوی پاڅېدل کرکجن وګڼلو نو سست او منصرف ئې کړل او (ورته) وويل شو چې له ناستو سره کښېنئ.

دا آيت څو لارښوونې لري:

- وايي که منافقينو په جهاد کې د برخې اخيستو اراده درلودی نو هرومرو به ئې د هغه لپاره ضروري سامان برابر کړی وو، يعني منافقين له دې هم پېژندی شئ چې هغوی په جهاد کې نه د برخې اخيستو اراده لري او نه تياری ورته نيسي، د جهاد لپاره چې کومو وسائلو او وسلو ته ضرورت دئ او کومه روزنه او تياری غواړي دوی به ترې بې برخې ومومئ. د وسلو په استعمال نه پوهېږي، د ټوپك په ليدو سره وېره پرې راشي!!
- د (ارادې نشتوالی) او د (جهادي سامان نه برابرول) د دې باعث شو چې الله تعالی دوی ته په جهاد کې د برخې اخيستو سعادت ورپه برخه نه کړي او سستي او لټي ئې په شور او شوق بدله نه کړي او دې ته ئې پرېږدي چې د خپل نفس، خپل شيطان او خپلو منافقو ملګرو دا خبره ومني چې ورته ويل ئې: له نورو ناستو کسانو سره تاسو هم کښېنئ او په جهاد کې برخه مه اخلئ.

د نهضت برياوې د منافقينو د خفګان باعث کېږي او له مصائبو او متاعبو سره د مجاهدينو مخامخېدا ئې د خوشحالۍ سبب کېږي، قرآن په دې اړه فرمايي:

إِن تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۖ وَإِن تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ يَقُولُوا۟ قَدْ أَخَذْنَآ أَمْرَنَا مِن قَبْلُ وَيَتَوَلَّوا۟

وَّهُمۡ فَرِحُونَ ۝٥٠ التوبه

که کومه ښېګڼه دروررسېږي ناراضه کوي ئې؛ او که کوم مصيبت دروررسېږي نو وايي: موږ لادمخه د خپل کار (واګي په خپل لاس کې) نيولې دي؛ او په داسي حال کې مخ اړوي چي خوشحالي کوونکي دي.

دا مبارك آيت د منافقينو او د جهاد د مخالفينو څو خصلتونه په ګوته کوي:

- که مسلمانانو ته کومه ښېګڼه ورسېږي دوی پرې ناراضه کېږي، پر مسلمانانو ئې خېر او برى نه لورېږي.
- او که مسلمانانو ته کوم مصيبت ورسېږي نو پرې خوشحالېږي او وايي: موږ لادمخه خپله چاره کړې ده، دښمن ته د دوستۍ پيغامونو په لېږلو سره مو دا بندوبست کړی چي د هغوی له غچ خوندي پاته شو.
- دوی وايي: موږ د خپلو احساساتو مهار په خپل لاس کې ونيو او په دې ناکام جنګ کې مو د برخي اخيستو غلطي ونه کړه.
- په سختو شېبو کې به مسلمانان يوازي پرېږدي، مخ به ترې اړوي او په دې بې مروتۍ به د شرم او خجالت پر ځای فخر کوي او په ډېره خوشحالۍ سره به له دوی مخ اړوي.

قرآن په بل ځای کې فرمايي:

وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ أَنۡ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ۝٨٦ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ۝٨٧ التوبه

او کله چي کومه داسي سوره نازله شي چي (وايي) په الله ايمان راوړئ او د ده له پيغمبر سره يوځای جهاد وکړئ؛ نو د دوی وسي او توانمن به اجازه درنه غواړي او وايي به: موږ پرېږده چي له ناستو سره وو. په دې راضي شول چي له وروسته پاته ښځو سره وي! او پر زړونو ئې مهر لګول شوی نو ځکه نه پوهېږي.

کله چي داسي سوره نازله شي چي د الله تعالی په لار کې د جهاد حکم کوي، يعني د جهاد وخت راورسېږي، حالت د دې تقاضا وکړي چي مسلمانان جهاد ته ملا وتړي، هر پر دين پوه مؤمن ته دا جوته شي چي اوس نو د دين غوښتنه دا ده چي وسلې ته لاس کړو او د الله تعالی په لار کې وجنګېږو، نو د منافقينو شتمن او توانمن به وګورې چي غواړي په جهاد کې له برخي اخيستو معاف شي، په دې راضي کېږي چي د هغو ښځو په څېر وروسته پاته شي چي له جهاد معافي دي، د مېړنو مجاهدينو په څېر جهاد ته ملا نه تړي، بلکي دا پېغور مني چي د وروسته پاته ښځو په قطار کې محسوب شي، د دې بې همتۍ او منافقت وجه دا ده چي د منافقتونو په سبب ئې پر زړونو مهر لګول شوی او پر حقيقت له

پوهېدا عاجز دي. معيارونه ئې بدل شوي، دوی سره له دې چې شتمن او توانمن دي په جهاد کې برخه نه اخلي او همدا د بې همتۍ کار ته د پوهې او زيرکتيا نوم ورکوي، دا ځکه چې د دوی معيارونه بدل شوي او دا ځکه چې د قرآن د معيارونو له مخې دوی هوښيار او پوه نه بلکې کمعقله دي او نه پوهېږي.

دا ذليله ډله نه يوازې په خپله په جهاد کې له برخې اخيستو ډډه کوي او په خپل منافقانه دريځ او تګلارې راضي وي بلکې سعي کوي نور هم له ځان سره ملګري کړي او له جهاد ئې منع کړي، لکه چې قرآن کريم فرمايي:

فَرِحَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلۡحَرِّۗ قُلۡ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوۡ كَانُواْ يَفۡقَهُونَ ﴿٨١﴾ التوبه

شا ته پرېښودل شوي (وګړي) د الله د رسول په خلاف په خپلې ناستې خوشحال شول او له دې ئې کرکه وکړه چې د الله په لار کې په خپل مال او ځان جهاد وکړي او وئې ويل: په ګرمي کې مه وځئ، (ورته) ووايه: د دوزخ اور تر ټولو زيات ګرم دئ؛ کاش دوی پوهېدی.

د دې آيت په اړه څو خبرې ضروري برېښي:

- د آيت له فحوی داسې معلومېږي چې د سورې دا برخه د تبوك له غزوې وروسته او هغه مهال نازله شوې چې رسول الله صلی الله عليه و سلم له تبوك بېرته د مدينې په لوري خوځېدلی او لا مدينې ته نه وو رسېدلی، ځکه په دې آيت کې ويل شوي چې منافقين په دې خوښ شول چې وروسته پاته شي او په دې غزوې کې برخه وانخلي، ورپسې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې که الله تعالی هغوی ته ورستون کړې او دوی درنه وغوښتل چې په نورو غزواتو کې له تا سره برخه واخلي نو د رد ځواب ورکړه.
- په دې مبارك آيت کې منافقين په دې نامه ياد شوي: مخلَّفين: شا ته پرېښودل شوي، يعني دوی د دې وړتيا نه درلوده چې مخکې ولاړ شي او په جهاد کې د برخې اخيستو سعادت ئې په برخه شي، الله تعالی د دې سعادت وړ ونه ګڼل او دا توفيق ئې ورپه برخه نه کړ، که څه هم دوی په خپلې ناستې خوښ دي او دا خپله زيرکتيا او هوښياري ګڼي چې په جهاد کې ئې له برخې اخيستو ځان ګوښه کړ او داسې حيلې او بهانې ئې وړاندې کړې چې له جهاد د وروسته پاته کېدو اجازه او رخصت تر لاسه کړي، دا ئې د کمعقلۍ نښه ګڼله چې څوك په جهاد کې برخه واخلي، ځان له خطرونو سره مخامخ کړي، د جهاد ستونزې او کړاوونه وګالي او خپل سر او مال د يوه مجهول هدف لپاره قرباني کړي، دوی په خپله هم له جهاده ډډه کوي او نورو ته هم وايي چې په جهاد کې له ګډون ډډه وکړئ، کله ورته وايي چې ګرمي ده او شرائط د جنګ لپاره مناسب نه دي، کله ورته وايي: دښمن ډېر ځواکمن دئ او موږ ئې لا د مقابلې توان نه لرو، بايد څه وخت نور صبر وکړو او هغه

مهال له دښمن سره د مقابلې پرېکړه وکړو چې کافي وسائل مو ورته برابر کړي وي!! خو الله تعالى د دوى په ځواب کې فرمايي: تاسو خو د دوبې ګرمي بهانه کوئ خو د دوزخ د تاوده اور به څه چاره کوئ؟!! له جهاد د مخ اړولو او مخنيوي سزا خو د دوزخ اور دئ چې تر هر څه ئې تودوخه زياته ده؛ کاش پوهېدی.

د محمد سورې د څلورم آيت وروستۍ فقره داسې ده:

... وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴿٤﴾ محمد

او هغه چې د الله په لار کې وژل شوي نو هيڅکله به د دوى عملونه ضائع نه کړي.

د دې فقرې دوه دقيق تعبيرونه مخې ته راځي:

- هغه چې د الله په لار کې شهيدان شوي نه به الله تعالى هيڅکله د دوى عملونه ضائع کړي او نه به ئې آرمانونه بې تحققه پرېږدي. د کومو آرمانونو د تحقق لپاره چې هغوى هڅې کړې او قربانۍ ئې ورکړې الله تعالى به دا آرمانونه تر سره کړي.
- کوم ولس چې شهيدان ئې ورکړې الله تعالى به هيڅکله د دوى قربانۍ ضائع او هدر نه کړي، هرو مرو به د دوى سپېڅلې هيلې بشپړې کړي.

دوه وروسته آيتونه ښيي چې په دې فقرې کې دا دواړه مطالب مضمر دي، څکه ورپسې آيت وايي: حتماً به ئې هدايت کړي او حالت به ئې غوره او سم کړي، دا آيت په وضاحت سره ښيي چې مراد ئې هغه ولس دئ چې شهيدان ئې ورکړي، الله تعالى به دوى مزيد هدايت کړي او حالت به ئې لازيات غوره او سم کړي؛ او ورپسې بل آيت وايي: هغه جنت ته به ئې ننباسي چې دوى ته ئې معرفي کړی؛ او دا ښيي چې مراد ئې شهيدان دي.

د دې آيتونو مطلب دا دئ: که له کفري ځواکونو سره د نښتو په ترڅ کې ستاسو همسنګران شهيدان کېږي نو ګمان مه کوئ چې د دوى په شهادت سره به ستاسو او ستاسو د شهيدانو هڅې او مبارزه بې نتيجې پاته شي او قربانۍ به مو حبط او هدر شي، د مبارزې تداوم به متوقف شي؛ او ستاسو هدف به تحقق ونه مومي، د شهيدانو او شهيدپال قوم قربانۍ به هيڅکله ضائع نه شي، د شهيدانو لار به تداوم مومي، هغه سپېڅلي اهداف به حتماً تحقق مومي چې دغو شهيدانو د هغه لپاره خپل ژوند قرباني کړ، د شهيدانو او شهيدپال ولس عملونه له هغو ژور توپير لري چې د کفر لار ئې غوره کړې او د الله د لار خنډ کېږي او الله تعالى د هغوى د هڅو د حبط کولو پرېکړه کړې، دوى داسې تګلاره غوره کړې چې لاروي ئې حتماً خپل هدف ته رسېږي او برياليي کېږي، نه ئې د عملونو دنيايي اجر ضائع کېږي او نه اخروي اجر او بدله، هغه ولس چې د الله لار ئې غوره کړې او په دې لار کې ئې شهيدان ورکړي بايد ډاډه او مطمئن وي چې د سرتېرو زامنو شهادت به ئې نه يوازې د دوى د ضعف او ناتوانۍ باعث نه شي او جهاد به ئې په نيمه لار کې نيمګړی او بې نتيجې پاته نه شي بلکې بر عکس دا شهادتونه به د دوى متې لازياتې پياوړې او د دوى

سنګرونه لازيات مضبوط کړي؛ او د وروستي بري لار به ورته پرانيزي.

د الله په لار کې د شهادت معنی هيڅکله دا نه ده چې د شهيدانو قرباني به دوی ته نه بلکې يوازې هغو ته ګټه رسوي چې تر دوی وروسته ژوندي پاته کېږي، بريا ئې په برخه کېږي او د قربانيو نتائج تر لاسه کوي، حقيقت دا دئ چې شهادت تر ټولو زيات او تر هر چا وړاندې په خپله شهيد ته د بې شميرو ګټو او منافعو زېری له ځان سره لري چې قرآن ئې دلته په اختصار سره داسې يادونه کوي:

الف: الله تعالی به دوی هدايت کړي: د دې هدايت مراد يا دا دئ چې الله تعالی به هغه ولس هدايت کړي چې د الله په لار کې ئې شهيدان ورکړي، الله تعالی به د دوی په وړاندې د هدايت دروازې پرانيزي؛ او يا ئې مراد دا دئ چې شهيدان به د جنت لوري ته هدايت کړي.

ب: الله تعالی به د دوی وضعيت ته غوره والی ورکړي او حالت به ئې لازيات ښه کړي، د دې وينا مراد هم يا دا دئ چې الله تعالی به د شهيدپال ولس حالت اصلاح کړي او يا دا چې په خپله د شهداوو حالت به اصلاح او غوره کړي، په دې معنی چې جنت ته تر ننوتو وړاندې به دوی تزکيه کړي، سيئات به ورته عفو کړي، خطاګانې او ګناهونه به ئې وبخښي، د رحمت او پېرزوينو په خلعت مزين به ئې د هغو تلپاته جنتونو په لوري هدايت کړي چې نعمتونه ئې د دنيا تر نعمتونو ډېر ډېر غوره دي.

يعنی د شهيد په شهادت سره نه د ده عمل متوقف او راکد پاته کېږي او نه ئې ژوندۍ روح سکون او رکود مني، هغه به تل او په مسلسله توګه د هدايت پراخ افق کې وړاندې درومي او د سعادت لوړو څوکو ته به الوزي، شهادت هيڅکله د مرګ او مړينې او ختمېدو په معنی نه دئ، بلکې له تلپاتې ژوندون او سعادت سره پيوستون دئ، شهيد تل ژوندی دئ او د خپل رب په خوا کې له ځانګړي امتيازي رزق برخمن کېږي، هغه د رشد او ارتقاء په لوري درومي، همغسې لکه چې د ده لار او هدف به ادامه مومي او عمل به ئې ثمر او حاصل ورکوي، د شهيدانو د شهادتونو ژوندۍ او حماسي خاطرې به تل د دوی د لارې لاروو ته تحرك او نشاط بخښي، د شهيدانو وارث ولس احساسات به ژوندي ساتي، د ټولو هغو عملونو په ثواب کې به شريکېږي چې د دوی په پل تلونکي ئې تر سره کوي. قرآن د دوی په اړه فرمايي:

وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا۟ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾ آل عمران

او هغه کسان مړه مه ګڼئ چي د الله په لار کي شهيدان شوي، دوی ژوندي دي او د الله په خوا کي ورته روزي ورکول کېږي. الله چي له خپل فضل څه د دوی په برخه کړي، په هغه خوشحالي کوي او د هغو کسانو لپاره هم چي لاتراوسه له دوی سره نه دي يوځای شوي او د دوی تر شا دي، په دې خاطر خوشحالي کوي چي نه به پر دوی څه وېره وي او نه به غمجن شي. د الله په نعمتونو او فضل به خوشحالي کوي او په دې هم چي الله د مؤمنانو اجر نه ضائع کوي.

د دې آيتونو اساسي مطالب دا دي:

- د الله د لاري شهيدان مړه مه ګڼئ.
- دوی ژوندي دي خو تاسو د دوی د ژوند په څرنګوالي نه پوهېږئ.
- دوی نه يوازي ژوندي دي بلکی الله ورته په خپلي خوا کي روزي هم ورکوي.
- دوی په خپل وضعيت او د الله جل شأنه په هغه فضل چي د دوی په برخه شوی راضي او خوشحال دي.
- د خپلو هغو ملګرو د مستقبل په اړه هم خوشحالي کوي چي لاتراوسه له دوی سره نه دي يو ځای شوي، له دې کبله چي ګوري د ايمان په لار کي نه وېره شته او نه غمجن کېدل.
- د الله پر نعمتونو، فضل او په دې چي الله د مؤمنانو اجر نه ضائع کوي، خوشحالي کوي.

په بل ځای کي فرمايي:

وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَن يُقْتَلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتٌۢ ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَـٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾

البقرة: ١٥٤

او هغو ته چي د الله په لار کي وژل کېږي، مړه مه واياست، بلکي ژوندي دي خو تاسو نه پوهېږئ.

يعني نه به شهيدان مړه ګڼئ او نه به هغوی ته مړه واياست، نه به په ذهن کي دا خبره درګرځوئ چي هغوی مړه شوي او نه به په خوله دا خبره کوئ چي هغوی مړه شول، دوی ژوندي دي، تاسو د دوی د دې ژوندون په کيفيت نه پوهېږئ.

مؤمن انسان په دې حقيقت باور لري چي شهادت د تلپاتي ژوند پيل دئ، هغه شهادت ته د داسي وسيلې په سترګه ګوري چي دی له خپل معبود او مسجود سره وصل کوي او تلپاتی ژوند وربخښي، نو ځکه له مرګ وېره نه لري، د ايمان په لاري له وېري او خوف پرته وړاندي درومي، مشکلات او موانع نه شي کولی د ده اراده متزلزله کړي.

په شپږم آيت کي ويل شوي: هغه جنت ته به ئې ننباسي چي دوی ته ئې معرفي کړی، د دې معرفي مراد يا په قرآن کي د جنت معرفي ده؛ او يا دا چي د شهداوو ارواح تر قيامت وړاندي جنت ته د سير لپاره درومي او له نعمتونو ئې برخمن کېږي، لکه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي:

إِنَّ لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللهِ تِسْعَ خِصَالٍ أَوْ قَالَ: عَشْرَ خِصَالٍ: يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دُفْعَةٍ مِنْ دَمِهِ، وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَيُحَلَّى حِلْيَةَ الإِيمَانِ، وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَيَأْمَنُ يَوْمَ الْفَزَعِ الأَكْبَرِ، وَيُزَوَّجُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ، وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ: الْيَاقُوتَةُ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ إِنْسَانًا مِنْ أَقَارِبِهِ. المعجم الكبير للطبرانى

يقيناً د شهيد لپاره نه يا لس خصلتونه دي: د وينې له لومړي ځاڅكي سره ئې بخښنه ورته كېږي، په جنت كې د خپلې ناستې ځاى ګوري، د ايمان په ګاڼې سينګار كېږي، د قبر له عذاب خوندي كېږي، د لويې وېرې له ورځې مأمون كېږي، حورې به ورسره جوړه كړى شي، پر سر به ئې د وقار هغه تاج كښېښودى شي چې يو ياقوت به ئې تر دنيا او څه چې په دنيا كې دي غوره وي، د اوياوو خپلوانو په اړه به د ده شفاعت قبول شي.

عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَأَلْنَا عَبْدَ اللهِ عَنْ هَذِهِ الآيَةِ (وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ) قَالَ أَمَا إِنَّا قَدْ سَأَلْنَا عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ « أَرْوَاحُهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِى إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمُ اطِّلاَعَةً فَقَالَ هَلْ تَشْتَهُونَ شَيْئًا قَالُوا أَىَّ شَىْءٍ نَشْتَهِى وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا فَفَعَلَ ذَلِكَ بِهِمْ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِنْ أَنْ يُسْأَلُوا قَالُوا يَا رَبِّ نُرِيدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِي أَجْسَادِنَا حَتَّى نُقْتَلَ فِي سَبِيلِكَ مَرَّةً أُخْرَى. فَلَمَّا رَأَى أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوا ». رواه مسلم

له مسروق رضى الله عنه روايت دئ چې له عبدالله رضى الله عنه مو د دې آيت په اړه وپوښتل (وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ: هغه كسان مړه مه انګېره چې د الله په لار كې شهيدان شوي، بلكې دوى ژوندي دي او د خپل رب خوا ته روزي وركول كېږي)، وئې ويل: موږ په دې اړه پوښتنه كړې ده نو وئې ويل: "د دوى ارواح به د شنو مرغانو په كالبوت كې وي، داسې قناديل به ئې وي چې تر عرش لاندې به راځوړند وي، د جنت هر ځاى ته چې وغواړي ځي به او بېرته به دغو قنديلونو ته ستنېږي، يو ځل به الله تعالى هغوى ته په يوه ډول ځرګند شي او وبه وايي: آيا كوم څه مو زړه غواړي؟ وبه وايي: زړه به مو نور څه وغواړي په داسې حال كې چې د جنت هر ځاى ته چې وغواړو درومو؟!! درې ځلې به همداسې وكړي نو كله چې وګوري موږ نه پرېښودل كېږو او بيا بيا به پوښتل كېږو نو وبه وايي: اې زموږ ربه! غواړو زموږ ارواح زموږ جسدونو ته راوګرځوې چې يو ځل بيا ستا په لار كې ووژل شو! كله چې د دوى حالت داسې وليدلى شي چې هيڅ څه ته حاجت نه لري نو پرې به ښودى شي.

له دې روايت دغه خبرې معلومېږي: ١- شهيدان به تر قيامت وړاندې جنت ته تللى شي،

٢- د دوی ارواح ته به نوی کالبوت ورکړی شي، ٣- استوګنځی به ئې تر عرش لاندي وي، ٤- له دې پرته به بله هیله او آرمان نه لري چي ارواح ئې مخکیني جسد ته وګرځول شي او بیا د الله تعالی په لار کي وجنګېږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ﴿٧﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَتَعۡسٗا لَّهُمۡ وَأَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴿٨﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴿٩﴾

٧- اې هغو چي ایمان ئې راوړی! که د الله ملتیا وکړئ ستاسو ملتیا به وکړي او ستاسو ګامونه به ټینګ کړي، ٨- او هغه چي کفر ئې کړی نو دوی ته پړمخي لوېدل دي او عملونه ئې بې لاري (هدر) کړل. ٩- دا د دې لپاره چي دوی له هغه څه کرکه وکړه چي الله نازل کړی نو د دوی عملونه ئې حبط کړل.

(٧-٩)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

• مؤمنانو ته ویل شوي: که تاسو په رښتیني توګه د الله تعالی ملتیا وکړئ نو الله تعالی به حتماً ستاسو مرسته کوي، تاسو باید هغه مهال الهي نصرت ته طمع ولرئ او د راتلو انتظار ئې وکړئ چي عملاً ثابته کړئ پاڅون او جهاد مو د الله تعالی لپاره دئ، د حق او عدالت مدافع، د الله تعالی د مظلومو بندګانو مرستندوی او د حق دین رښتیني پلویان یئ، یوازي په دې صورت کي به الله تعالی ستاسو مرسته کوي؛ او ستاسو ګامونه به له حق د دفاع او د باطل د مقابلې په سنګر کي مضبوطوي.

• د هغو څواکونو برخلیك چي کفر ئې کړی له دې پرته بل څه نه دئ چي په هرګام کي به تیندکونه خوري، پړمخي به پرېوځي او هڅي به ئې معکوس نتائج ورکوي، مطمئن اوسئ چي په دې صورت کي به ستاسو دښمنان داسي وي چي که هره تیره ستاسو لوري ته د رغړولو په موخه پورته کوي پر خپلو پښو به ئې پرېوځي، هر ګام چي اخلي له مانع سره به تصادم کوي او پړمخي به لوېږي او ټولي هڅي او هلي ځلي به ئې هدر ځي.

• دوی له دې کبله له داسي برخلیك سره مخامخ کېږي چي له هغه دین ئې مخ اړولی او کرکه ترې کوي چي الله تعالی نازل کړی، طبیعي ده چي د دوی عملونه به بې ثمره او بې حاصله وي. دوی د الله تعالی د لاري خنډ دي، د هغو په وړاندي خنډونه راولاړوي چي غواړي خپل رب ومانځي، دا د الله د لاري مانع ډله به نه له خپل کفر او انکار څه تر لاسه کړي او نه د مؤمنانو په وړاندي د خنډونو له راولاړولو کومه لاسته راوړنه لري، باید پوه شي چي هڅي به ئې نه یوازي هدر شي بلکي بدي پایلي او معکوس او د دوی په ضرر نتائج به په لاس ورکړي.

- هغه چې د ایمان او صالح عمل لار ئې غوره کړې د کمال په لوري به مخکې ولاړ شي، د دوی اخلاقي او اجتماعي حالت به لازيات غوره والی او ښه والی مومي، که څه هم نن ئې حالت پرېشان دئ او دښمن ئې کمزوري او ضعيف ګڼي او خپل زور او ځواك ورښيي، خو دا د ضعف، کمزورۍ او پرېشانۍ حالت به ډېر ژر پای مومي او ستري ستري بریاوي به ئې په برخه شي.
- د کفري ځواکونو د ماتې اصلي عامل باید په هغې کړنلارې کې ولټوو چې دوی د ځان لپاره غوره کړې، دوی به له دې کبله له ماتې او سپکاوي سره مخامخ کېږي چې د (باطل) په کږې لار درومي؛ او مؤمنان به له دې کبله لوړ درومي او بریاوي به تر لاسه کوي چې د (حق او حقیقت) متابعت کوي.

لکه څنګه چې په دې آیت کې د الله د لارې مجاهدینو ته اطمئنان ورکړی شوی چې تر کله دوی د الله ملتیا کوي الله تعالی به د دوی مل وي او پر دښمن به برې ورکوي او د دښمن په وړاندې به د دوی ګامونه مضبوطوي، د قرآن په ګڼ شمېر نورو آیتونو کې هم په بېلو بېلو الفاظو دې الهي وعدې ته اشاره شوې، لکه چې فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُوٓاْ أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ لِلۡحَوَارِيِّـۧنَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٞۖ فَأَيَّدۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمۡ فَأَصۡبَحُواْ ظَٰهِرِينَ ﴿١٤﴾ الصف

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! د الله انصار شئ، همغسې لکه چې د مریمې زوی عیسی حواریونو ته وویل: څوك مې د الله لوري ته مل دئ؟ حواریونو وویل: موږ د الله انصار یو، نو د بني اسرائیلو یوې ډلې ایمان راوړ او بلې ډلې کفر وکړ، نو هغه مو د خپلو دښمنانو په خلاف تأیید کړل چې ایمان ئې راوړی وو، نو دوی غالب شول.

په بل ځای کې فرمايي:

... وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾ الحج

... او الله به هرو مرو هغو ته نصرت ورکوي چې د ده ملتیا کوي، یقیناً چې الله عزتمن ځواکمن دئ.

د دې الهي پرېکړې معنی دا ده:

- الله تعالی به هرو مرو هغو ته نصرت ورکوي چې د ده ملتیا کوي، دا د هغه الله قطعي او حتمي وعده ده چې عزتمن ځواکمن دئ، نه د چا زور او ځواك د ده د پرېکړو د پلي کېدو مخنیوی کولی شي او نه د چا ضعف او کمزوري د ده د وعدو د عدم تحقق سبب کېدی شي.
- الله تعالی د مظلومو باایمانه مجاهدینو جهاد داسي ګڼي لکه څوك چې د ده ملتیا

کوي، يعني د ظالمانو په ضد جنگ د الله تعالی له لوري جنگ دئ او په دې جنگ کې مجاهد د الله تعالی داسي سپاهي دئ چي غواړي د خپل رب ملتيا وکړي او د هغه چا په ضد وجنگېږي چي الله تعالی د هغه د ځپلو او ماتولو اراده کړې.

ځيني مفسرين داسي انگېري چي د انصار الله په ترکيب کې د (دين) لفظ مقدر دئ او معنی ئې د الله د دين انصار دي، دوی استدلال کوي چي الله تعالی د چا ملتيا او مرستي ته اړ نه دئ، خو محققين له دوی سره موافق نه دي او د دې ترکيب اصلي معنی له کوم تزئيد پرته صحيح او غوره گڼي او وايي: دا هغه لقب دئ چي الله تعالی د خپلي لاري مجاهدينو ته ورکړی، دلته ئې د انصار الله په نامه ياد کړي او په بل ځای کې ئې د جند الله لقب ورکړی، په داسي حال کې چي الله تعالی جند او لښکر ته هم ضرورت نه لري. د دې محتوم الهي تأييد په اړه فرمايي:

إِن يَنصُرۡكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمۡۖ وَإِن يَخۡذُلۡكُمۡ فَمَن ذَا ٱلَّذِي يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١٦٠﴾ آل عمران

که الله مو مرسته وکړي نو هيڅ غالبېدونکی (حريف ځواك) نه لرئ او که مو يوازي پرېږدي نو هغه به ځوك وي چي له ده وروسته مو مرسته وکړی شي؟ او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي.

دا مبارك آيت وايي: که په تاسو کې دا اهليت او وړتيا وي چي د الله د مرستي مستحق وئ او الله تعالی ستاسو مرسته وکړي نو د زمکي پر سر داسي ځواك نشته چي پر تاسو غالب شي او که دا اهليت او وړتيا له لاسه ورکړئ او د الله له مرستي او ملاتړ محروم شئ، بيا داسي ځوك نه شئ موندلی چي ستاسو مرسته وکولی شي. د ايمان تقاضا دا ده چي الله به ځان ته کافي گڼئ او پر هغه به توکل کوئ او له هغه څه به ځان ساتئ چي د ده له مرستي مو محروموي.

هغه چي په حقيقي معنی ايمان لري بايد يوازي پر خپل رب تکيه وکړي او د الله تعالی له تأييد پرته پر هيڅ څه اتکاء او اتکال ونه کړي، بايد مطمئن وي چي خير الناصرين خدای د دوی د بري او برلاسي ضامن دئ او پر دښمن به دوی ته غلبه ورکوي؛ او که ټولواك رب د چا مرسته ونه کړي او د هغه په اړه اعتناء ونه کړي هيڅوك نه شي کولی د هغه سعادت او بريا تضمين کړي، قرآن د هغه چا حالت ډېر ښکلی انځور کړی چي گمان کوي الله تعالی به د ايمان په لار کې د ده مرسته ونه کړي او پر دښمن به ده ته بری ورنه کړي، کله چي د لاري په اوږدو کې له خنډونو او کړاوونو سره مخامخ شي مأيوس کېږي او له الله تعالی پرته د بلي مرجع لټه کوي او بل درشل ته پناه وړي، فرمايي:

مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ فَلۡيَمۡدُدۡ بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ

لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُۥ مَا يَغِيظُ ﴿١٥﴾ الحج

څوك چې گمان كوي الله به ئې په دنيا او آخرت كې مرسته ونه كړي نو په كوم پړي سره دې د آسمان لوري ته لوړ شي بيا دې وشلوي او ودې گوري چې د ده تدبير هغه څه له منځه وړي چې دی ئې غصه كړی؟

يعني څوك چې پر الله تعالى ايمان راوړي، بيا د الله په لار كې له كوم كړاو سره مخامخ شي، خو د دې پر ځای چې صبر وكړي، مأيوس نه شي، هيله من وي چې الله تعالى به ئې په دنيا او آخرت كې مرسته كوي، برعكس مأيوس شي، د خپل رب د مرستې په اړه شك وكړي، طمع ئې وشلېږي، خپله رابطه وشلوي، بېرته د كفر لوري ته مخه كړي، د ده مثال هغه چا ته ورته دئ چې د كومې رسۍ په مرسته د لوړ تلو هڅه كوي، خو په نيمايي لار كې ستړی شي، نو د دې پر ځای چې هغه مهال دا رسۍ لازياته ټينگه ونيسي او د مرستې راتلو ته انتظار وكړي، برعكس د رسۍ د پرې كولو اراده كوي، كه دا كار وكړي نو طبيعي ده چې پايله به ئې له دې پرته بل څه نه وي چې له لوړ ځای به لاندې پرېوځي او په مرگ به ئې منتج كېږي، څوك چې په نيمې لارې كې ستړی او ستومانه شي او د وړاندې تلو پر ځای تر شا شي نو يا به د هغو ښكاريانو په منگولو كې پرېوځي چې په هر گام كې ئې ورته كمين نيولی او يا به په داسې ژورې كندې كې نسكورېږي چې له هغې روغ رمټ وتل محال وي.

قرآن دا سقوط په بل ځای كې داسې توضيح كوي:

حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِۦ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ أَوْ تَهْوِى بِهِ ٱلرِّيحُ فِى مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴿٣١﴾ الحج

او څوك چې د الله په اړه شرك وكړي نو دا داسې ده لكه چې له آسمان لاندې راپرېوځي نو بيا ئې يا مارغان وتښتوي او يا ئې باد پر سر واخلي او په ژورې كندې كې ئې وغورځوي.

كله چې انسان د الله تعالى له تأييد محروم شي نه شي كولی ځان ته بل ولي او نصير ومومي، لكه چې قرآن په دې اړه فرمايي:

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٠٧﴾ البقرة

آيا په دې نه پوهېږې چې د آسمانونو او زمكې واكمني د الله ده او له الله پرته نه كوم مولا لرئ او نه كوم مرستندوی.

همدا راز فرمايي:

... فَإِن يَتُوبُوا۟ يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۖ وَإِن يَتَوَلَّوْا۟ يُعَذِّبْهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۚ

وَمَا لَهُمْ فِي ٱلْأَرْضِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٧٤﴾ التوبه

نو كه ئې توبه وكړه ورته غوره ده او كه ئې مخ واړاوو نو الله به ئې په دنيا او آخرت كې په دردناك عذاب سره تعذيب كړي او په زمكې كې به ئې نه كوم دوست وي او نه كوم مرستندوى.

وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن يُدْخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحْمَتِهِۦ ۚ وَٱلظَّٰلِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٨﴾ الشورى

او ظالمان داسې دي چې دوى ته نه كوم مل شته او نه كوم مرستندوى. همدا راز فرمايي:

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ ۖ وَمَن يَلْعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾ النساء

دوى همغه دي چې الله رټلي دي او الله چې څوك ورټي نو هيڅ ملاتړى به ورته ونه مومې.

د بدكارۍ او فساد له كبله انسان د الله تعالى له تأييد او نصرت محروم كېږي؛ او په سيئاتو سره ډاډمن پناه ځى او حمايت تر لاسه كول ممكن نه دي، قرآن په دې اړه فرمايي:

لَّيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ ۗ مَن يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدْ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٢٣﴾ النساء

نه ستاسو په هيلو ده او نه د اهل كتاب په هيلو، څوك چې بد كار وكړي په هغه به مجازات شي او ځان ته به له الله پرته نه كوم دوست وومي او نه كوم مرستندوى.

يعني دلته د هيلو او تمنياتو له مخې پرېكړه نه كېږي، له ډېرو سره كاذب اميدونه وي، ځان ورته ترټولو غوره برېښي، جنت خپل مسلم حق ګڼي، ګمان ئې دا وي چې يوازې دى او د ده د مسلك پلويان به جنت ته درومي، خو كېدى شي دا هسې په شيطاني تلقيناتو ولاړ كاذب تمنيات وي، شيطان د دې لوړه كړې چې دغسې هيلې به په انسانانو كې راولاړوم. خبره دا ده چې ګنهګار به هرومرو خپله سزا ګوري، هيڅوك ئې له دې سزا نه شي ژغورلى، له الله پرته چې له هر چا دا طمع او هيله لري چې د ګناه له سزا به د هغه په طفيل ژغورل كېږي، اشتباه ئې كړې، دا هسې خوشې او واهي هيله ده.

جهاد پر دې سربېره چې د الله تعالى تأييد او نصرت درپه برخه كوي او د ايمان په سنګر كې ستا ګامونه مضبوطوي او د مجاهدينو د مزيد ثبات او اسقامت باعث كېږي، د مزيد تدريب، تمحيص، رشد او هدايت دروازې د دوى پر مخ پرانيزي او د دوى ايمان ته ځلا بخښي، لكه چې په دې آيتونو كې ورته اشاره شوې:

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾ العنكبوت

او هغه چې زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلې لارې وروښيو او يقيناً چې الله له دغو محسنينو سره دئ.

... وَلِيَبْتَلِيَ ٱللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمْۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٥٤﴾ آل عمران

... او چې ستاسو د سينو خبرې وآزمويي او ستاسو د زړونو شته عيار کړي او الله د زړونو په شته وو ښه پوه دئ.

إِذْ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ ٱلشَّيْطَٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلْأَقْدَامَ ﴿١١﴾ الانفال

هغه وخت چې له خپل لوري ئې پرمښکی د ډاډېيني په توگه درباندې غوړولو او له آسمان ئې اوبه درباندې ورولې چې پرې پاك مو کړي او شيطاني اضطراب له تاسو لرې کړي، زړونه مو مضبوط او په دې سره ستاسو قدمونه ټينگ کړي.

د مؤمنانو د دعاء په صيغه داسې فرمايي:

... وَلَمَّا بَرَزُواْ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُواْ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ٢٥٠ البقرة: ٢٥٠

... اې زموږ ربه! پر موږ صبر نازل کړه او گامونه مو ټينگ کړه او پر دې کافر قوم برى را،

په بل ځای کې فرمايي:

يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْأٓخِرَةِۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ وَيَفْعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ﴿٢٧﴾ ابراهيم

الله مؤمنان په دنيوي ژوند کې هم په مضبوطې وينا سره ټينگ او ثابت ساتي او په آخرت کې هم؛ او ظالمان بې لارې کوي او همغه څه کوي چې غواړي ئې.

د پاکې کلمې او هغه چا چې په دې کلمې باور لري مثال داسې بيانوي:

تُؤْتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۭ بِإِذْنِ رَبِّهَاۗ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ ابراهيم

آيا پام دې نه دئ چې الله د سپېڅلې کلمې مثال څنگه بيان کړی، د هغې پاکې ونې په څېر چې جرړې ئې مضبوطې دې او څانگې ئې د آسمان (په غېږ) کې، د خپل رب په حکم هر وخت خپله مېوه ورکوي، الله خلکو ته دا مثالونه بيانوي چې پند واخلي.

په دې مبارکو آيتونو کې د پاکې کلمې مثال په ډېرې ښکلې او زړه راکښونکې بڼې کې

وړاندي شوی، د هغي وينا مثال انځورويٍ چي د ايمان له سمسوري زمکي راټوکېدلې، په دې توگه:

• ايمان د هغي پاکي وني په څېر دئ چي جرړي ئې مضبوطي دي او څانگي ئې د آسمان په غېږ کي، زمکي په خپل زړه کي ځای ورکړی او جرړي ئې په هغې کي ژوري ننوتې او څانگي ئې آسمان ته لوړي شوې او آسمان په خپلي غېږ کي نيولې، د خپل رب په حکم هر وخت خپله مېوه ورکوي، يعني ايمان داسي ونه ده چي جرړي ئې مضبوطي دي، د عالم هر څه ئې ملاتړ او تأييد کوي، پر مضبوطو بنسټونو ولاړه ده، څانگي ئې هر لوري ته لوړي ځي، تل او په خپل وخت خپله مېوه ورکوي، مؤمن ته ثبات او دوام ورپه برخه کوي، مېوه ئې د مؤمن د نېك او صالح عمل په توگه راڅرگندېږي.

بلي خوا ته د هغي وينا مثال چي د کفر او شرك له گنده ډنډ خړوبه شوې داسي انځوروي:

وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ٱجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ ٱلْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴿٢٦﴾ ابراهيم

او ناپاکه کلمه هغه پليت بوټي ته ورته ده چي د زمکي له سره ايستل شوی، هيڅ ټيکاو ئې نشته.

کفر د هغه پليت بوټي په څېر دئ چي نه ئې جرړي په زمکي کي ننوځي او نه ئې څانگي د آسمان په لور لوړېږي، نه ئې زمکه جرړي په خپلي سينې کي قبلوي او نه ئې آسمان څانگي په خپلي غېږ کي نيسي، د هر څه له تأييد او ملاتړ محروم، د يوې سپکي او آرامي سيلۍ په وړاندي هم مقاومت نه شي کولی، په معمولي باد سره ئې جرړي وځي او د زمکي پر سر رغړي.

په اتم آيت کي د کفري ځواکونو بده پايله د تعس په نامه ياده شوې، تعس هغه پېرمخي پرېوتو ته وايي چي له کوم خنډ سره د پښې د لگېدو له کبله رامنځته کېږي، مطلب ئې دا دئ چي کافران به گام په گام تيندکونه خوري او پېرمخي به پرېوځي، دا ځکه چي دوی داسي تگلاره غوره کړې چي د عالم د هر څه له تگلاري سره مغايرت لري، د عالم ټول مخلوقات په يوه لوري او يوې لاري روان دي او دوی د ټولو خلاف په بل لوري، د عالم هر څه د خپل رب په عبادت بوخت دي، هر څه ئې په همغه مسير درومي چي الله تعالی ورته ټاکلی، په دې پراخ او بې انتهاء عالم کي يوازينی مخلوق چي د خپل رب له عبادت سرغړاوی کوي کافر دئ، د دې سرغړاوي او بغاوت طبيعي پايله له تعس او په هر گام کي تيندونکو خوړلو پرته بل څه نه شي کېدی.

قرآن فرمايي:

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١﴾ الصف

هغه چې په آسمانونو کې دي او هغه چې په زمکې کې دي الله ته تسبيح کوي او هغه باحکمت عزتمن دئ.

د تسبيح معنى په پاکې اعتراف، په پاکې گواهي او شهادت او په عبادت او اطاعت کې سريع سعي او هڅه ده، نو د دې آيت مفهوم دا دئ چې د آسمانونو او زمکې هر څه د الله تعالى په سپېڅلتيا او پاکې اعتراف کوي، خپل رب له هر عيب او نقص منـزه گڼي، د حال او قال په ژبه په دې مسلم حقيقت گواهي او شهادت ورکوي؛ او ټول په سرعت، انهماك او جديت سره په عبادت او بندگۍ بوخت دي او د خپل رب د احکامو اطاعت او امتثال کوي.

د کافرانو په اړه په حيرت سره پوښتنه کوي:

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾ آل عمران

آيا د الله له دين پرته (بل دين) لټوي، حال دا چې د آسمانونو او زمکې هرڅه طوعاً اوکرهاً، ( په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه ايښې او د ده لوري ته ورگرځول کېږي.

د زمکې او آسمان هر څه الله ته تسليم دي، د ټولو دين اسلام دئ، هغه څه کوي چې الله پرې گمارلي، په همغه لار درومي چې الله ورته ټاکلې، لمر، سپوږمۍ، ستوري په خپل خپل مدار کې خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځايه راخېژي او پرېوځي، ونې، بوټي او حيوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لگيا دي، په ټولو مخلوقاتو کې يوازې کافر او عاصي انسان داسي دئ چې د الله له دين پرته د بل څه په لټه کې شي، هم د الله د دين په نسبت کافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت، دی ستر باغي دئ، له هغه دين ئې بغاوت کړی چې د زمکې او د آسمان د هر څه دين دئ.

دې حقيقت ته په پام سره چې د قرآن په گڼ شمېر آيتونو کې ويل شوي چې نه يوازې د آسمانونو او زمکې هيڅ څه د کافرانو د کافرانه دريځونو تأييد او ملاتړ نه کوي بلکې بر عکس د دوی مقابله کوي او هر يو ئې د يوه مطيع جندي او سپاهي په توگه د شيطان د جنودو مقابله کوي، لکه چې قرآن فرمايي:

وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٧﴾ الفتح

او د آسمانونو او زمکې لښکري د الله دي او هغه باحکمت عزتمن دئ.

همدا وجه ده چې گورو الله تعالى د عاصي او باغي ځواکونو د تعذيب او مجازات لپاره د آسمانونو او زمکې دغه مطيع جنود کارولي، په طوفانونو، سېلابونو، زلزلو... سره ئې دوی ته سزا ورکړې، لکه چې قرآن فرمايي:

فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنۢبِهِۦ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ ٱلصَّيْحَةُ

وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٠﴾ العنكبوت

نو هر يو مو د خپلې ګناه له کبله ونيو، نو د دوی ځيني هغه ول چې تونده سيلۍ مو پرې ولېږله، ځيني ئې هغه چې لوړې چيغې ونيول، ځيني ئې هغه چې په زمکې کې مو خسف کړل او ځيني ئې هغه چې غرق مو کړل، په داسې حال کې چې الله ظلم نه پرې کولو بلکې دوی په خپله پر خپل ځان ظلم کولو.

الله تعالی دا هر قوم د خپلې ګناه له کبله ونيو، پر ځينو ئې تونده ويجاړوونکې سيلۍ ولېږله چې هر څه ئې پر دوی رانسکور کړل، ځيني ئې له درنې چاودنې او هيبتناکې چيغې سره مخامخ کړل، ځيني ئې په زمکې کې خسف او ښخ کړل او ځيني ئې په سمندر کې غرق کړل، دوی چې له کوم دردناك برخليك سره مخ شوي په دې کې الله تعالی پر هغوی کوم ظلم نه دئ کړی بلکې دوی په خپله پر خپل ځان ظلم کولو او داسې ظالمانه تګلاره ئې غوره کړې وه چې پايله ئې له دې پرته بل څه نه وه.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ ٱلْعِمَادِ ﴿٧﴾ ٱلَّتِى لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِى ٱلْبِلَٰدِ ﴿٨﴾ وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُوا۟ ٱلصَّخْرَ بِٱلْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِى ٱلْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ طَغَوْا۟ فِى ٱلْبِلَٰدِ ﴿١١﴾ فَأَكْثَرُوا۟ فِيهَا ٱلْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾ الفجر

ودې نه ليدل چې ستا رب له عاديانو سره څه وکړل؟ د ارم (عاد)، آ د جګو ستنو خاوند. آ چې په ښارو کې دوی ته ورته نه وو پيدا شوي. او له ثمود سره چې تيږې ئې درو کې وتراشلې. او له فرعون سره آ د مېخونو خاوند. هغه (خلك) چې په ښارونو کې ئې سرکښي وکړه. په هغو کې ئې ډېر فسادونه کړي. نو رب دې د عذاب متروکه پرې راپرېښوده. بې شکه چې ستا رب په کمين کې دئ.

لکه چې ګورئ دلته د دريو باغي قومونو بد برخليك ته اشاره شوې: عاد چې ځواکمن قوم وو، هيچا ئې سيالي نه شوی کولی، جګ او دنګ قدونه، له پياوړو او مضبوطو متو سره، چې له لوړو لوړو ستنو جوړ شوي قصرونه ئې وو، د ثمود قوم چې په تمدن کې تر ټولو وړاندې ول، فرعون او فرعونيان چې سياسي قوت ئې هومره وو چې خپل مخالفين ئې په اوسپنيزو مېخونو تعذيبول، د هغوی په لاسونو او پښو ئې مېخونه ټك وهل. که دا قومونه له خپل هغه مادي پر مختګ، برلاسۍ، ترقي، تمدن، قوت او ځواکمنۍ چې هيچا ورسره سيالي نه شوی کولی، خو د فساد، طغيان، ظلم او له پيغمبرانو عليهم السلام سره د مخالفت په وجه له هغه دردناك برخليك سره مخامخ شول او د ټولو متمدنو ظالمانو او

ستمگرانو لپاره د عبرت وسیله شول اوسني ستمگران باید د دغو قومونو د بد برخلیك په هنداره کې خپل برخلیك او راتلونکی وگوري، د دوی د ظلم توره شپه به هم پای ته رسي او الهي عذاب به ئې رانیسي. ستا د رب د عذاب متروکه ئې پر سر سر راپرېوته، نو اې ستمگرانو! اې د شر او فساد مغرورو ځواکونو! په دې پوه شئ چې ستاسو د طغیان او فساد پایلې له دې پرته بل څه نه شي کېدی، د منتقم خدای متروکه به خامخا ستاسو پر سر هم راپرېوځي.

الله تعالی ظالمانو ته په کمین کې دئ، مهلت ورکوي، تر خاصې نېټې ورته انتظار کوي، ستمگران چې د خپل ظلم له پایلو بې خبره او په بې باکۍ او جسارت مخکې درومي، الهي مهلت غولولي، په طغیان او سرکښۍ کې له وروستۍ پولو هم د تېرېدو تکل کوي، خو ناڅاپه له الهي کمین سره مخامخ شي او د عذاب متروکه په سر وخوري.

قرآن عظیم الشأن په بل ځای کې فرمايي:

فَعَتَوۡاْ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ﴿٤٤﴾ الذاريات

نو د خپل رب له امر ئې سرغړاوی وکړ چې په نتیجه کې ئې په داسې حال کې تندر ونیول چې (ورته) کتل ئې.

همدا راز فرمايي:

فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ بِٱلۡحَقِّ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ غُثَآءٗۚ فَبُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾ المؤمنون

نو هغې چیغې په رښتینې توگه ونیول، نو دوی مو شاوړي (د سېل د سر ځگ او خاشاك) وگرځول، نو دغه ظالم قوم ته دې لرېوالی (رټنه او شړنه) وي.

په نهم آیت کې ویل شوي چې د کافرانو د عملونو او هڅو د ابطال وجه دا ده چې دوی د الله له لوري له نازل شوي کتاب اعراض او انکار کړی، دغه مطلب د قرآن په گڼ شمېر آیتونو کې راغلی، لکه چې فرمايي:

ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعۡيُهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّهُمۡ يُحۡسِنُونَ صُنۡعًا ﴿١٠٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ وَلِقَآئِهِۦ فَحَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فَلَا نُقِيمُ لَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَزۡنٗا ﴿١٠٥﴾ الكهف

هغه چې د دنیا په ژوند کې ئې هڅه بې لارې وه خو دوی داسې انگېرله چې ښه کار کوي، دوی همغه دي چې د خپل رب د آیتونو او له هغه سره د مخامخ کېدو په اړه ئې کفر کړی وو، نو عملونه ئې حبط شول، نو د قیامت په ورځ به هیڅ وزن ورنه کړو.

په بل ځای کې راغلي:

وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡۚ هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ

(۱۴۷) الاعراف
او هغه چې زما آیتونه او اخروي ملاقات ئې تکذیب کړل عملونه ئې حبط شول، آیا یوازې د خپلو کړنو سزا نه ده ورکړی شوې؟
لکه چې په یوه لابراتوار کې د فیزیکي او کیمیایي قوانینو له مراعات او د عناصرو خصوصیتونو ته له پام پرته د هیڅ توکي او ترکیب رامنځته کول او جوړول ممکن نه دي او له اړوند قوانینو د انکار په صورت کې د هر ترکیب د جوړولو هره هڅه حبط او هدر کېږي او هیڅ نتیجه نه ورکوي، همداسې د رب العالمین لارښود کتاب هغه قوانین زموږ مخې ته ږدي چې د هغوی له مراعات پرته د انسان هیڅ هڅه او هیڅ عمل مطلوب نتائج نه شي ورکولی، یوازې د الهي کتاب په رڼا کې کولی شو د انسان او د ده د فطرت او هغه چاپېریال او ماحول په اړه دقیق معلومات تر لاسه کړو چې انسان ئې احاطه کړی.

أَفَلَمْ يَسِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْۖ دَمَّرَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْۖ وَلِلْكَٰفِرِينَ أَمْثَٰلُهَا ﴿١٠﴾

۱۰- نو آیا په ځمکه کې نه دي ګرځېدلي چې لیدلي ئې وی د هغو پایله څنګه وه چې تر دوی وړاندې ول، الله (هر څه) پرې راوران کړل؛ او دغو کافرانو ته د همغو په څېر عقوبتونه دي.

(۱۰)- په دې مبارك آیت کې د قرآن مخاطبینو ته ویل شوي: آیا هغه چې د کفر لار ئې غوره کړې له مخکینیو تاریخي پېښو پند نه دئ اخیستی؟! مګر نه پوهېږي چې د دوی له سلف سره څه شوي؟ دا الهي ثابت او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چې د زمانې په هر پړاو کې به د حق د دښمنانو برخلیك همغسې وي لکه تر دوی وړاندې د دوی د سلف برخلیك، د تاریخ پاڼې واړوئ او وګورئ چې د دوی د سلف عاقبت څنګه وو؟ آیا الله تعالی هر څه پر دوی رانسکور نه کړل او د دوی اقتدار ئې پای ته ونه رسولو؟ د باطل د ټولو پلوي ځواکونو لپاره دې ته ورته برخلیك انتظار کوي که څه هم په ظاهر کې مجهز او تلپاتي برېښي.
قرآن د دې حقیقت د اثبات لپاره تاریخي شواهد زموږ مخې ته ږدي، خپل مخاطب ته بلنه ورکوي چې په ځمکه کې سیر وکړي، د تاریخ پاڼې واړوي او هنداري کې ئې د کفري ځواکونو بد عاقبت مشاهده کړي؛ او د ظالمانو د مجللو ماڼیو له ورانو پاته شونو په خپل برخلیك او عاقبت پوه شي، لکه چې په ماضي کې پر کفري ځواکونو خپلې ماڼۍ رانسکورې شوې او د دوی د ځواکمنۍ او واکمنۍ ټغر ټول شوی د هغوی د اخلافو عاقبت او د هغو برخلیك به هم داسې وي چې د دوی پر پل ګام ږدي او د هغوی پر کړنلارې او تګلارې

درومي، د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې پر تېرو تاريخي پېښو او حوادثو استناد شوی، قرآن يوازې په دې موخه تاريخي حوادث د خپل مخاطب په وړاندې نه ږدي چې له مخکينيو پېښو ئې خبر کړي، بلکې غواړي د دې حوادثو په هنداري کې د سعادت، فلاح او نجات سمه لار او عزت او سرلوړي ته د رسېدو رمز وروښيي، د قرآن په تاريخي بحثونو کې د الهي ثابتو سننو تاريخي بېلګې څېړل شوې، هغه الهي سنن چې د تاريخ په هري مقطع او د زمانې په هر پړاو کې ټاکلي نتائج او پايلي لري. لکه چې فرمايي:

قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٣٧﴾ آل عمران

يقيناً چې تر تاسو وړاندې هم ځيني سنن تېر شوي، نو په زمکې کې وګرځئ او وګورئ چې د مکذبينو عاقبت او پايله څنګه وه؟

له تاسو مخکې ډېر ملتونه تېر شوي، هر يوه ځان ته د ژوند بېله بېله طريقه غوره کړې وه، تاريخ ته رجوع وکړئ او وګورئ چې د هغو ملتونو عاقبت څنګه وو چې د الله د دين او د پيغمبرانو د تکذيب لپاره ئې ملا تړلې وه؟ او څومره ملتونه د همدې جرم په سزا له سخت الهي عقوبت سره مخامخ شوي؟

يا فرمايي:

قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلُ ۚ كَانَ أَكْثَرُهُم مُّشْرِكِينَ ﴿٤٢﴾ الروم

ووايه: په زمکې کې وګرځئ او وګورئ چې د هغو پايله څنګه وه چې تر دې وړاندې ول، د دوی ډېری مشرکان ول.

قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٦٩﴾ النمل

ووايه: په زمکې کې وګرځئ او وګورئ چې د مجرمينو پايله څنګه وه!!

د کفري ځواکونو د استئصال او پر کفر او عصيان د ولاړو بنسټونو د نسکورېدو څرنګوالی د قرآن په ډېرو آيتونو کې انځور شوی، څو بېلګې ئې دا دي:

وَأَوْرَثْنَا ٱلْقَوْمَ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ يُسْتَضْعَفُونَ مَشَـٰرِقَ ٱلْأَرْضِ وَمَغَـٰرِبَهَا ٱلَّتِى بَـٰرَكْنَا فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُوا۟ ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُۥ وَمَا كَانُوا۟ يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾ الاعراف

او هغو خلکو ته مو چې په بې وزلۍ کې ئې د ساتلو هڅه کېده، د هغې زمکې ختيځې او لوېديځې برخې په ميراث ورکړې چې برکت مو په کې اچولی وو او ستا د رب نېکه وينا د

بني اسرائيلو په اړه له دې امله بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ او هغه څه مو هم ويجاړ کړل چې فرعون او د ده قوم جوړول او هغه څه هم چې دوی لوړول.

د فاسقو مترفينو د سپېره برخليك په اړه فرمايي:

وَإِذَآ أَرَدْنَآ أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا ٱلْقَوْلُ فَدَمَّرْنَٰهَا تَدْمِيرًا ﴿١٦﴾ الإسراء

او کله چې د کوم کلي د تباه کولو اراده وکړو نو مترفينو ته ئې امر وکړو؛ او هغوی هلته سرغړاوی وکړي، نو د دوی په اړه (د عذاب) وينا محققه شي او په ځانګړې ورانېدا سره ئې وران کړو.

د عذاب ملائکې د هغو د تدمير لپاره ګمارل شوې چې الهي آيات ئې تکذيب کړي:

فَقُلْنَا ٱذْهَبَآ إِلَى ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَدَمَّرْنَٰهُمْ تَدْمِيرًا ﴿٣٦﴾ الفرقان

او يقيناً چې موسی ته مو هغه کتاب ورکړ او د ده ورور هارون مو ورسره مرستيال وګرځاوو، دواړو ته مو وويل: هغه وګړو ته ورشئ چې زموږ آيتونه ئې تکذيب کړي، نو تباه تباه مو کړل.

او د هغو په اړه چې په خپل مکر او تزوير مغرور ول، ګمان ئې کولو چې په خپل تدبير او درايت سره به له ګواښونو او خطرونو خوندي وي داسې فرمايي:

قَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنْيَٰنَهُم مِّنَ ٱلْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ ٱلسَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾ النحل

يقيناً چې هغو هم پټ تدبيرونه وکړل چې تر دوی مخکې ول؛ او الله د دوی ماڼيو ته د بنسټونو له لوري ورغی؛ نو چتونه پر دوی د پاسه پرېوتل؛ او عذاب له هغه لوري ورته راغی چې تصور ئې نه شو کولی.

قرآن د تاريخ په بېلو بېلو پړاوونو کې د کفري ځواکونو د ورته او مشابه برخليك او عاقبت په اړه فرمايي:

فَهَلْ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثْلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوْاْ مِن قَبْلِهِمْ قُلْ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿١٠٢﴾ يونس

نو آيا د هغو خلکو له (سختو) ورځو پرته د بل څه انتظار لري چې تر دوی مخکې تېر شوي؟ (ورته) ووايه: نو انتظار وکړئ چې موږ هم له تاسو سره د منتظرينو په لړ کې يو.

وَقَالَ ٱلَّذِىٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُم مِّثْلَ يَوْمِ ٱلْأَحْزَابِ ﴿٣٠﴾ غافر

او هغه چې ايمان ئې راوړی وو وويل: اې زما قومه! زه پر تاسو د دغو ډلو د (بدي) ورځې

په څېر (ورځې راتلو) وېرېږم، د نوح د قوم او د عاد، ثمود او هغو حالت ته ورته چې تر دوی وروسته ول، په داسې حال کې چې الله پر خپلو بندګانو د ظلم اراده نه لري.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَأَنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ لَا مَوۡلَىٰ لَهُمۡ ﴿١١﴾

۱۱- دا د دې لپاره چې الله د هغو مولا دئ چې ایمان ئې راوړی او دا چې کافرانو ته هیڅ مولا نشته.

(۱۱)- دا مبارك آیت وایي: دا چې مؤمنان به له ځلانده او روڼ برخلیك سره مخامخ کېږي او کافران له تیاره او سپېره سره؛ د دې وجه دا ده چې د آسمانونو او زمکې پالونکی رب د مؤمنانو مولا، حامي او مرستندوی دئ او کافران هیڅ مولا او مرستندوی نه لري.

قرآن په دې اړه فرمایي:

... فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ هُوَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ فَنِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٧٨﴾ الحج

نو لمونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ او له الله سره خپلې اړیکې مضبوطې کړئ، هغه مو مولا دئ، څومره غوره مولا او څومره غوره مرستندوی.

همدا راز فرمایي:

وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٤٠﴾ الانفال

او که ئې مخ واړاوو نو پوه شئ چې الله مو مولا دئ، غوره مولا او غوره مرستندوی.

.... وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٤٠﴾ آل عمران

... داسې نه ده بلکې الله ستاسو مل دئ او هغه تر ټولو غوره مرستندوی دئ.

د الله له مرستې مه ناهیلي کېږئ، د بل د مرستې طمع مه کوئ، مبادا ماتې د دې باعث شي چې له الله پرته بل ته او مخصوصاً د الله کوم دښمن ته د مرستې لاس اوږد کړئ!! الله تر ټولو غوره مرستندوی دئ.

د دې ټولو آیتونو مطلب دا دئ چې مؤمنان پوه شي چې د دوی د غلبې یوازینی عامل او بریا او سرلوړۍ اساسي رمز له الله تعالی سره د دوی اړیکې او په الهي لارښوونو د دوی تمسك دئ، نه ښایي بل چا ته د احتیاج لاس اوږد کړي، پر بل څه تکیه وکړي؛ او له بل استعانت وغواړي، ښایي جدي هڅه وکړي چې د ایمان او صالح عمل له لارې له خپل یوازیني مولا او نصیر سره خپلې اړیکې مضبوطې وساتي، که نه نو د خیرالناصرین رب له ولایت او تأیید به محروم شي، نه به بل پناځی ومومي او نه بل یار او مرستیال. لکه چې قرآن فرمایي:

وَمَن لَّا يُجِبۡ دَاعِيَ ٱللَّهِ فَلَيۡسَ بِمُعۡجِزٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَيۡسَ لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءُۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٣٢﴾ الاحقاف

او څوك چي د الله د بلونكي اجابت ونه كړي نو نه په زمكي كي عاجزوونكى دئ او نه له ده پرته بل پالونكي ورته شته، همدا دوى په ښكاره ګمراهۍ كي دي.

څوك چي د الله د بلونكي اجابت ونه كړي نو نه په زمكي كي داسي برلاسي تر لاسه كولى شي چي له الهي عذاب ځان وژغوري او نه له الله تعالى پرته داسي اولياء او پالونكي موندلى شي چي مرسته ئې وكړي، همدا دوى په ښكاره ګمراهۍ كي دي.

وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَهُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمُونَ مَا لَهُم مِّن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٨﴾ الشورى

او ظالمان داسي دي چي دوى ته نه كوم مل شته او نه كوم مرستندوى، آيا له ده پرته ئې اولياء نيولي؟! نو همدا الله پالونكى دئ او همدا دى مړي ژوندي كوي او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ.

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡتَنكَفُواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ فَيُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿١٧٣﴾ النساء

نو هغه چي ايمان ئې راوړى او صالح عملونه ئې كړي؛ اجر به ئې پوره پوره وركړي او له خپل فضل به مزيد څه وركړي او هغه چي ننګ او لويي ئې كړې وي، نو په دردناك عذاب به ئې تعذيب كړي او له الله پرته به نه كوم ولي ځان ته ومومي او نه كوم مرستندوى.

وَلَوۡ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوَلَّوُاْ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ﴿٢٣﴾ الفتح

او كه هغه چي كفر ئې كړى له تاسو سره وجنګېږي حتماً به شاګاني واړوي بيا به هيڅ ولي او نصير ونه مومي. د الله هغه سنت چي وړاندي تېر شوى او د الله سنت ته به هيڅ بدلون ونه مومې.

---

إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَتَمَتَّعُونَ وَيَأۡكُلُونَ كَمَا تَأۡكُلُ ٱلۡأَنۡعَٰمُ وَٱلنَّارُ

مَثۡوًى لَّهُمۡ ﴿١٢﴾

١٢- یقیناً چې الله به هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي داسي جنتونو ته ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي؛ او هغه چې کفر ئې کړی داسي متمتع کېږي او خوري لکه چې څاروي خوراك کوي او اور به د دوی ځمځی وي.

(١٢)- مؤمنان به په دنیا کې بریا تر لاسه کوي او عزت ته به رسي او په آخرت کې به جنت ته ننوځي، خو کافران چې په خپل ژوند کې له خوراك څښاك او له دنیایي لذائذو متمتع کېدو پرته بل هدف نه لري، دوی د حیوان په څېر ژوند کوي او د حیوان په څېر مري او په پای کې به دوزخ ته ورومي.

دا مطلب په بل ځای کې په دې صیغه راغلی:

ذَرۡهُمۡ يَأۡكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ﴿٣﴾ الحجر

هغه چې کفر ئې کړی ډېر ځلې به دا خوښوي چې کاش مسلمانان وی. پرې ئې ږده چې وخوري او متمتع شي او هیلې ئې مشغول کړي، ژر به پوه شي.

هغه مخالفین چې نن ئې د حق دښمنۍ ته ملا تړلې، تا ګواښي، بلنه دي نه مني او ستا د دعوت په وړاندي خنډ کېږي، هغه ورځ لري نه ده چې دوی به له خپل مخالفت او دښمنۍ نادم وي او دا ارمان او هیله به کوي چې کاش لا د مخه ئې ایمان راوړی وی او مسلمان شوي وی. پرې ئې ږده چې وخوري او متمتع شي او هیلې ئې مشغول کړي، ژر به پوه شي. دوی له خوراك، څښاك او د دنیا له مال متاع خوند اخیستو پرته نه بله مشغولتیا لري او نه کوم سپېڅلی هدف، د بې ځایه او غیر واقعي هیلو په خیالي بڼ کې مشغول وي او په هوا کې ځان ته قصرونه جوړوي.

وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّن قَرۡيَتِكَ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَتۡكَ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡ فَلَا نَاصِرَ لَهُمۡ ﴿١٣﴾

١٣- او د کلیو څومره داسي ول چې ستا تر دغه کلي چې ته ئې وایستلې د ځواك له پلوه ډېر مضبوط ول؛ هلاك مو کړل او هیڅ مرستندوی ئې نه وو.

(١٣) ـ په دې مبارك آیت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده له لاري مؤمنانو ته دا ډاډېینه ورکړی شوې چې که ستا دښمن ځواکمن برېښي، ته ئې له خپل ټاټوبي تبعید کړی یې؛ مطمئن اوسه چې الله تعالی تر دوی ډېر ځواکمن دښمنان له منځه وړي، څومره پر لویو لویو ښارونو او ملکونو مسلط ځواکونه، له خپل غولوونکي او هیبتناك ظاهر سره؛

د خپل عصيان، فساد او ظلم له کبله له الهي مؤاخذې سره مخامخ شوي او د اقتدار ټغر ئې ټول شوی!! کله چې د دوی د هلاکت او زوال نېټه رارسېدلې نو هیڅ څه نه دي توانېدلي چې د دوی مرستي ته راوړاندي شي او د زوال مخه ئې ونيسي!!

دا مطلب هم د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې راغلی، لکه چې فرمايي:

أَوَلَمْ يَسِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ مِن قَبْلِهِمْۚ كَانُواْ هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِي ٱلْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٢١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ فَكَفَرُواْ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ قَوِيٌّ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٢﴾ المؤمن

آيا په زمکې کې نه دي ګرځېدلي چې ليدلي ئې وی د هغو پايله څنګه وه چې تر دوی وړاندي ول، تر دوی د ځواك او په زمکې کې د آثارو له پلوه ډېر مضبوط ول؛ نو الله په داسي حال کې د خپلو ګناهونو له کبله ونيول چې له الله هيڅ ساتونکی ورته نه وو، دا له دې کبله چې خپلو پيغمبرانو ئې څرګندي نښي وروړلې خو دوی کفر کولو؛ نو الله ونيول، يقيناً چې هغه سخت تعذيبوونکی ځواکمن دئ.

قرآن په دې مبارکو آيتونو کې د خپلو مخاطبينو پام د هغو ځواکمنو او متمدنو قومونو بدو پايلو ته اړوي چې د کفر لار ئې غوره کړې وه، وايي: آيا دوی په زمکې کې نه دي ګرځېدلي، د تاريخ پاڼې ئې نه دي اړولې، دې ته ئې پام نه دئ کړی چې د هغو پايله څنګه وه چې تر دوی وړاندي ول، تر دوی د ځواك او په زمکې کې د آثارو له پلوه ډېر مضبوط ول؛ خو د خپلو ګناهونو له کبله الله تعالی ونيول؛ په داسي حال کې چې د الله تعالی په وړاندي ئې هيڅ مدافع او ساتونکی نه درلود، له دې بد برخليك سره له دې کبله مخامخ شول چې هر يوه ته خپل خپل پيغمبر له څرګندو نښو سره ورتلل خو دوی کفر کولو نو الله تعالی مؤاخذه کړل او په الهي عذاب اخته شول، دغه تاريخي پېښي ښيي چې يقيناً الله تعالی هم ځواکمن دئ او هم سخت تعذيبوونکی.

په دې مبارك آيت کې هغه دوه وسيلې په ګوته شوې چې کفري ځواکونه د حقپالو مؤمنانو په ضد پرې تکيه کوي خو په دې سره هيڅکله نه دي توانېدلي خپل تور برخليك بدل کړي او له الهي مؤاخذې ځان وژغوري: (هغه ځواك چې ظاهر ئې مضبوط او هيبتناك برېښي) او (غولوونکی تمدن).

په بل ځای کې دا مطلب له مزيد تفصيل سره راغلی:

أَفَلَمْ يَسِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْۚ كَانُوٓاْ أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِي ٱلْأَرْضِ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ

رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرِحُواْ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٨٣﴾

المؤمن

نو آيا په زمكې كې نه دي گرځېدلي چې ليدلي ئې وى؛ د هغو پايله څنگه وه چې تر دوى وړاندې ول، تر دوى زيات ول؛ او د ځواك او په زمكې كې د آثارو له پلوه ډېر پياوړي، نو هغه څه له دوى كوم څه دفع نه كړى شو چې دوى تر لاسه كول. او كله چې د دوى پيغمبرانو څرگندې نښې وروړې په خپلې هغې پوهې ئې خوښې وكړه چې ورسره وه او هغه څه د دوى په اړه تر سره شول چې دوى ملنډې پرې وهلې.

په دې مباركو آيتونو كې دا حقائق ځلېږي:

- آيا د حق دښمنان په زمكې كې نه دي گرځېدلي چې د هغو پايله ئې په خپلو سترگو ليدلې وى چې تر دوى وړاندې ول؛ هغه چې هم د ځواك له پلوه تر دوى پياوړي او ځواكمن ول او هم د آثارو او هغه څه له پلوه چې هغوى جوړ كړي او ترې پاتې شوي، خو د خپل كفر او انكار له كبله له داسې بدې پايلې سره مخامخ شوي چې د دوى امكاناتو او هر هغه څه چې په واك كې ئې وو هيڅ گټه نه ده وررسولې او د الهي عذاب په وړاندې ئې د دوى مرسته نه ده كړې.
- كله چې مخكينيو كافرانو ته د دوى پيغمبرانو څرگندې نښې وروړې نو هغوى په خپلې هغې پوهې او علم مغرور شوي او هغه ئې غوره گڼلې چې ورسره وو، هغه علم او پوهه چې په مټ ئې توانېدلي ول په صنعت او مدني چارو كې تر نورو وړاندې شي، زمكه آباده كړي او دنگې بنگلې جوړې كړي، د خپلو پيغمبرانو پر دې وينا ئې ملنډې وهلې چې د خپل كفر، شرك، فساد او ظلم له كبله به له الهي عذاب سره مخامخ شئ، په پاى كې له همغه څه سره مخامخ شوي چې ملنډې ئې پرې وهلې.

گورئ چې د حق دښمنان په دغو پنځگونو وسائلو او امكاناتو مجهز ول او د هغوى په مټ ئې د حقپالو مقابله كړې خو نتيجه ئې نه ده تر لاسه كړې:

١ـ د پلويانو ډېرښت.

٢ـ د وسائلو او امكاناتو له پلوه ځواكمني.

٣ـ تمدن او مدني پرمختگ.

٤ـ فنون او تخنيك.

٥ـ سطحي او غولوونكى علم.

په بل ځاى كې د زر، زور او تزوير ځواكونه چې د قارون، فرعون او هامان په څېرو كې ئې تمثيل او انځوروي د هغه موسى عليه السلام په مقابل كې ږدي او پايله ئې څېرې چې يوازې دئ او فقط بينات په واك كې لري، د نښتې پايله داسې گڼې:

وَقَٰرُونَ وَفِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا

كَانُواْ سَٰبِقِينَ ۝٣٩ العنکبوت: ۳۹

او قارون، فرعون او هامان، چې موسی له څرګندو نښو سره ورغی، خو دوی په زمکې کې د خپلې لويي لټه وکړه، په داسې حال کې چې وړاندې کېدونکي نه ول.

يعنې د مصر دريو ځواکونو قارون، فرعون او هامان، (چې يو ئې د شتمنو ممثل دئ، بل ئې د واکمنو او دربېم ئې د نظام د فکري او ديني حاميانو)، د موسی عليه السلام مخالفت وکړ، د ټولو د مخالفت او دښمنۍ وجه او موخه دا وه چې د موسی عليه السلام دعوت ئې د خپلې لويي لپاره ګواښ ګڼلو او غوښتل ئې خپله برلاسي، لويي او امتيازات خوندي وساتي. خو ومو ليدل چې په دې سيالۍ کې برلاسي نه شول او مسابقه ئې ونه ګټله.

په بل ځای کې د قارون وينا راوړي او وايي:

قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمٍ عِندِيٓۚ أَوَ لَمۡ يَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَهۡلَكَ مِن قَبۡلِهِۦ مِنَ ٱلۡقُرُونِ مَنۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرُ جَمۡعٗاۚ وَلَا يُسۡـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ۝٧٨ القصص

وئې ويل: له دې پرته بل څه نه دي چې ما ته راکړل شوی (مال او دولت) زما د هغې پوهې او هنر نتيجه ده چې زه ئې لرم، آيا په دې نه پوهېدو چې الله تر ده د مخه ډېر داسې خلك هلاك کړل چې زور ئې تر ده زيات او راټول کړی (مال او دولت) ئې تر ده ډېر وو؟ او له مجرمانو د دوی د ګناهونو (د څرنګوالي او املونو) پوښتنه نه کېږي.

د قارون ځواب دا وو: څه چې لرم زما د هنر او کمال؛ او زيار او زحمت نتيجه ده، په لاس ته راوړو کې ئې نه د چا د احسان او پېرزويني مرهون او پوروړی يم او نه ئې چا ته په څه ورکولو مکلف!! الله تعالی ده او ده ته ورته مغرورو او بخيلو شتمنو ته په ځواب کې فرمايي: آيا نه پوهېږي چې تر ده د مخه مو داسې شتمن خلك هلاك کړل چې هم ئې ځواك او قوت تر ده زيات وو او هم ئې شتمنۍ، خپل قوت او شتمنيو مغرور کړي ول او غرور او بخل باعث شو چې د الله تعالی په سخت عذاب اخته شي، هغه مهال چې د الله تعالی عذاب پرې نازلېدو نو د ګناهونو (د څرنګوالي او املونو) پوښتنه نه ترې کېده، دا ورته نه ويل کېدل چې شتمني دې څنګه او له کوم هنر او کمال په استفادې سره او د کومې ګناه د ارتکاب له لارې تر لاسه کړه؟!! له هر مجرم بډای سره به همدا معامله کېږي.

همدا راز فرمايي:

أَوَ لَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ

قُوَّةً وَأَثَارُواْ ٱلْأَرْضَ وَعَمَرُوهَآ أَكۡثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٩﴾ الروم

آيا په زمكې كې نه دي ګرځېدلي چې ليدلي ئې وی د هغو پايله څنګه وه چې تر دوی وړاندې ول، تر دوی د قوت له مخې ډېر مضبوط ول او زمكه ئې تر هغه زياته سپړلې (ودانه كړې) وه چې دوی سپړلې؛ او پيغمبرانو ئې څرګندې نښې وروړې، نو الله پر دوی ظلم نه كاوو بلكې دوی پر خپلو ځانونو ظلم كاوو،

د عاديانو د تكبر او لويي پايله داسې انځوروي:

فَأَمَّا عَادٌ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴿١٥﴾ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِيٓ أَيَّامٖ نَّحِسَاتٖ لِّنُذِيقَهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَخۡزَىٰۖ وَهُمۡ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾ فصلت

او عاديانو خو په ناحقه په زمكې كې لويي غوښتنه او جاه طلبي وكړه او وئې ويل: څوك به تر مونږ د قوت له پلوه ډېر پياوړی وي؟ آيا دې ته ئې پام ونه كړ چې هغه الله تر دوی ډېر قوي دئ چې دوی ئې پيدا كړي او زمونږ له آيتونو ئې انكار كاوو. نو په سپېرو ورځو كې مو توند سيلۍ پرې راوستله، چې په دنيايي ژوند كې سپك عذاب وروڅكو؛ او د آخرت عذاب خو هرومرو ډېر سپكوونكی دئ، په داسې حال كې چې مرسته به ئې نه كېږي.

---

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّهِۦ كَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُم ﴿١٤﴾

۱٤- نو آيا هغه چې د خپل رب پر يوه څرګند دريځ وي د هغه چا په څېر دئ چې بدي كړني ئې ورته ښايسته كړی شوې او د خپلو هوسونو متابعت ئې كړی؟!

---

(۱٤)- دا آيت دوې متفاوتې څېرې انځوروي: يوه د هغه چا چې خپله تګلاره په بصيرت سره غوره كوي، د بيناتو په رڼا كې د واضح او څرګندو اهدافو په لوري په دقت او احتياط سره درومي، بله د هغه چا چې نه د خپلې تګلارې او كړنلارې په انتخاب كې د خپل عقل ږغ ته غوږ نيسي او نه د خپل ژوند د موخې او هدف په ټاكلو كې د خپل ضمير او وجدان حكم ته اعتناء كوي، د هوی او هوس بنده دئ او خپلې بدې او كرغېړنې كړنې ښايسته او ښكلې ګوري!! قرآن خپل مخاطب پوښتي: آيا دا دواړه سره برابر دي؟!!

دا مطلب له هغه وروسته زموږ مخې ته ږدي چې تر دې وړاندې ئې ويلي: او د کليو څومره داسې ول چې ستا تر دغه کلي چې ته ئې وايستلې د ځواك له پلوه ډېر مضبوط ول؛ هلاك مو كړل او هيڅ مرستندوى ئې نه وو. د دې معنى دا ده چې د مخكينيو هلاك شوو ولسونو د استئصال او ورکې عوامل او د حقپالو د بريا او فلاح اسباب بايد په هغې تګلارې کې ولټوو چې دوى غوره کړې وه، د حق پالو او باطل پالو په تګلارو او كړنلارو کې ژور توپيرونه دي، دا تفاوتونه او امتيازات د دوى د بېلو او متفاوتو پايلو باعث شوي، د انسان د برخليك په ټاكلو کې پرېكنده او قاطع ونډه د انسان هغه انتخاب لري چې دى ئې د خپلې فكري او عملي تګلارې په اړه كوي نه هغه وسائل او امكانات چې دى ئې په واك کې لري او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ئې كاروي، دا وسائل او ذرائع يوازې هغه مهال مفيد او مؤثر ګرځي او ګټه رسولى شي چې په سالم جهت کې او په غوره توګه وكارول شي، د يوه صالح او هدفمن انسان په واك کې وي، خو كه هغوى د مفسدينو په واك کې وي او كارونه ئې د هوى او هوس په حكم وي او د فساد، ظلم، بدكارۍ او رذائلو په ګټه استخدام شي او د شر او فساد د تقويې په خدمت کې وي نو د هلاكت او تباهۍ په اسبابو بدلېږي، د هر نهضت بريا او ماته د هغه په فكري او عملي تګلارې او د اهدافو او سياستونو په څرنګوالي پورې مربوطه ده نه د هغو وسائلو او امكاناتو په څرنګوالي پورې چې د نهضت غړي ئې په واك کې لري، يا ئې دښمن پرې سمبال دئ، د دې مسلم حقيقت مصداق په هر ټولنيز انقلاب او تحول کې په څرګنده توګه كتلى شو، جابر واكمنان ګورو چې ظاهر ئې ځواكمن او مستحكم برېښي او د دوى د جابرانه واكمنۍ په ضد به د داسې كمزورو وګړو پاڅون پيل شي چې سنګر ئې ضعيف او كمزورى، شمېر ئې لږ، وسائل او امكانات ئې محدود، خو له لنډې مودې وروسته به ګورو چې د دغو مغرورو واكمنانو اقتدار به د همدغو كمزورو انقلابيونو په لاس پاى ته ورسېږي. قرآن د دغو پېښو په توجيه او تفسير کې وايي: چا چې خپل تګلورى د بيناتو په رڼا کې وټاكو او د همدې مشعل په رڼا کې د سپېڅلي هدف په لور وخوځېدو په هيڅ توګه له هغه چا سره نه شي برابرېدى چې خپل تګلوري د هوى او هوس په غوښتنه ټاكي، په تياره کې له كوم مشعل پرته د نامعلوم او مجهول هدف په لوري درومي، د ښه او بد له تمييز او تفكيك عاجز وي او خپلې بدغونې كړنې ورته ښايسته برېښي.

دا مطلب هم د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې راغلى، لكه دا:

أَوَ مَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَٰهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِى بِهِۦ فِى ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِى ٱلظُّلُمَٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾ الانعام

آيا هغه چې مړ وو، بيا مو راژوندى كړ او داسې رڼا مو ورپه برخه كړه چې په هغې سره په خلكو کې تګ كولى شي، هغه چا ته به ورته وي چې په داسې تيارو کې وي چې ترې

وتونکی نه وي، کافرانو ته همداسې هغه څه ښایسته شوي چې دوی ئې کوي.

په دې مبارك آیت کې څو ډېرې مهمې او اساسي خبرې په ایجاز او اختصار سره شوې:

- کفر داسې دئ لکه مرگ او ایمان داسې دئ لکه ژوند، کافر د مړي په څېر دئ او مؤمن د ژوندي په څېر.
- څوك چې كافر وو او الله تعالی ایمان ورپه برخه کړ داسې دئ لکه چې مړ وو او الله تعالی راژوندی کړ.
- د الله تعالی لارښود کتاب داسې دئ لکه روڼ څراغ چې په تیاره کې انسان ته لار ښيي.
- د دې روڼ څراغ په رڼا کې انسان کولی شي د خلکو په منځ کې د تلو لار ځان ته روښانه کړي، دوست او دښمن، صالح او طالح، مؤمن او منافق، ښه او بد وپېژني، لوړې او ژورې ووینې، خنډونه او گړنگونه ورته جوت شي.
- بې ایمان انسان په یوې کفري ټولنې کې هغه چا ته ورته دئ چې په پرېړو تیارو کې پروت وي او د وتلو ټولې لارې پرې بندې وي.
- دا تیاره په حقیقت کې د جهل، شرك او کفر هغه تیاره ده چې د ده پر زړه، دماغ او سترگو ئې سیوری غوړولی، د ده معیارونه ئې مختل کړي، د ده احساسات او مشاعر ئې ځپلي، خپلې بدې کړنې ئې ورته ښایسته کړې.
- آیا دا دواړه سره برابر دي؟ کوم د عقل او وجدان خاوند به دا دواړه برابر وگڼي؟!

قرآن په دې اړه په بل ځای کې فرمايي:

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ ... الحدید

او یقیناً چې خپل پیغمبران مو له بیناتو سره ولېږل او له دوی سره مو کتاب او میزان نازل کړ چې وگړي په عدل او انصاف قائم شي...

هو؛ یوازې د الله د کتاب د څرگندوونکو آیتونو په رڼا کې او د هغه میزان په مرسته د عدل او قسط د اقامې او پلې کولو امکان تر لاسه کولی شو چې الله تعالی د خپلو پیغمبرانو په لاس موږ ته رالېږلی، یوازې له دې لارې کولی شو د ظلم او تېري مخه ونیسو، له الهي معیارونو پرته د عدل او ظلم او د حق او باطل تشخیص او تفکیك ممکن نه دئ، هر هغه ملاك او معیار چې د الهي معیارونو او موازینو مطابق نه وي یا له هوا او هوس راټوکېدلی او یا د ظلم او تجاوز د توجیه لپاره وړاندې شوی.

قرآن د بدر په جگړې کې د مؤمنانو بریا داسې تعبیروي:

إِذۡ أَنتُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلۡقُصۡوَىٰ وَٱلرَّكۡبُ أَسۡفَلَ مِنكُمۡۚ وَلَوۡ تَوَاعَدتُّمۡ لَٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡمِيعَٰدِ وَلَٰكِن لِّيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗا لِّيَهۡلِكَ مَنۡ هَلَكَ عَنۢ

بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَنۢ بَيِّنَةٍۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ الانفال

کله چي تاسو په نژدې څنډې کې وئ او دوی په لرې څنډې کې او کاروان له تاسو کښته، که مو په خپلو کې وعده کړې وی حتماً به مو په دې وعدې کې تخلف کړی وو، خو د دې لپاره چي الله هغه کار تر سره کړي چي کېدونکی وو، د دې لپاره چي هغه څوك هلاك شي چي د بینه (عقیدې) له پلوه هلاك شوی او هغه څوك ژوندی پاته شي چي د (بینه) له لحاظه ژوندی دئ او یقیناً چي الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

يعني الله تعالی غوښتل په دې جګړي سره هغه لوری هلاك شي چي له فکري او اعتقادي پلوه د مړو په څېر دئ او هغه چا ته ژوندون ورپه برخه شي چي له فکري او اعتقادي پلوه د ژوندي پاته کېدو وړ دئ، د بدر په میدان کې دوه داسي لوري سره مخامخ شوي چي یو ئې د نظامي تجهیزاتو او د جنګیالیو د شمېر له پلوه برلاسی دئ خو له اعتقادي او فکري پلوه سخت پرېوتی او وروسته پاته، بل لوری له نظامي لحاظه کمزوری، تجهیزات ئې لږ او د جنګیالیو شمېر ئې کم، خو له فکري او اعتقادي لحاظه برلاسی او پرمخ تللی، جګړه د هغه لوري په ګټه پای ته رسي چي په فکري لحاظ ژوندی دئ او هغه څوك له ماتي سره مخامخ کېږي چي له اعتقادي پلوه مړو ته ورته دئ، الله تعالی غوښتل چي دغه حقیقت خلکو ته عملاً وښيي.

د قرآن له نظره د ماتي، ذلت او په الهي عذاب د اخته کېدو اساسي عوامل او دلائل دا دي:

## الف ـ په معيارونو کې مغالطه:

د بقاء او تداوم امکان په هغي تګلاري کې مضمر او میسر دئ چي پر مضبوطو اعتقادي او فکري بنیادونو او بنسټونو مبتني وي، کافر وګړي چي د ښه او بد د تشخیص لپاره څرګند او روښان معیار او ملاك نه لري د خپلو بدو کړنو په اړه په ژوري مغالطې کې وي، د خپلو بدو عملونو قباحت نه شي درك کولی، په دې نه پوهېږي چي له خپلي فطري انساني لاري ئې انحراف کړی، د ګنده عملونو په ناولي ډنډ کې پرېوتي، د دې متعفن ډنډ بد بوی نه شي احساسولی، پر خپلي بدي وضعي راضي وي، پر هغه څه فخر کوي چي باید پرې شرمېدلی، دا مغالطه د دې باعث کېږي چي هغوی د خپلي غلطي تګلاري او ناسمي کړنلاري په اړه بیاکتنه او تجدید نظر ونه کړي او خپل شخصیت د هغو انساني معیارونو مطابق اصلاح او عیار نه کړي چي فطري انساني معیارونه دي. دا مطلب د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې څېړل شوی، لکه دا:

فَلَوْلَآ إِذْ جَآءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُواْ وَلَٰكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ الانعام

نو ولې ئې هغه مهال زاري ونه کړه چې زموږ عذاب ورته راغی، خو زړونه ئې سخت شول او شیطان هغه څه ورته ښایسته کړل چې دوی به کول.

دا مبارك آیت ښیي چې کله کله انسان داسي پړاو ته ورسېږي چې زړه ئې سخت شي، شیطان ئې پر زړه او دماغ سپوری وغوړوي، معیارونه ئې وربدل کړي، ټول غلط کارونه ورته ښایسته کړي، په دې حالت کې که مصیبتونه هم ورباندي راشي نو خپل رب ته رجوع نه کوي. په دې سره موږ ته لارښوونه کېږي چې یوازي په تبلیغ سره د هر چا د هدایت کېدو طمع ونه لرو، ځکه داسي خلك هم شته چې ستر ستر مصیبتونه هم دوی له ګناهونو نه شي راګرځولی.

وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَٰدِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُواْ عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾ الانعام

او همداسي ډېرى مشرکینو ته د دوی شرکاوو د خپلو زامنو وژل ښایسته کړ، د دې لپاره چې په هلاکت کې ئې وغورځوي او خپل دین ورته شکمن کړي؛ او که الله غوښتلی نو دوی به دا کار نه وو کړی، نو دوی په خپلو افتراءاتو کې پرېږده.

دلته ویل شوي چې مشرکینو ته د دوی شرکاوو د اولاد وژنه ښایسته کړې وه، په دې اړه لاندي خبري په پام کې وساتئ:

- د دې وینا مراد یا دا دئ چې شرك دوی دې حد ته رسولي وو چې د خپل اولاد وژنه ورته سم کار معلوم شي او یا دا چې د دوی هغو مذهبي مشرانو، پیرانو او مشائخو چې د شرك حامي او مبلغ او د قبر او بت مجاورین ول، دې وژني ته چمتو کړي وو.
- دغه شرك او دغو شرك پالو مذهبي مشرانو په دې هلاکت کې غورځول او د حقیقي دین په اړه ئې دوی ته شکوك او شبهات راولاړول.

د فرعون په اړه فرمایي:

أَسْبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبًا ۚ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ۚ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِى تَبَابٍ ﴿٣٧﴾ مؤمن

او فرعون ته د ده بد عمل همداسي ښایسته کړی شو او له سمي لاري واړول شو؛ او د فرعون تدبیر له تباهۍ پرته په بل څه کې نه وو.

فرعون ته خپل ټول کرکجن او بدغوني اعمال، د مظلومانو زامن وژل، لوڼي ئې د وینځو په توګه ساتل، طبقاتي نظام حاکمول، ځان د مصر د ټولو شتمنیو خاوند ګڼل ... او ټول نور ظالمانه کارونه ورته ښایسته برېښېدل!!!

## ب ـ هوسپالنه:

کافر هغه څوك دئ چې خپل هدف او جهت د هوس په حکم ټاکي، نه د عقل وینا ته

غوړ يږدي، نه د علم پرېکړه مني او نه د عدل غوښتني ته اعتناء کوي، نه په خپلو کړنو کې عادلانه انساني ضوابط او مقررات مني، په هر کار کې له هوی او هوس تبعيت کوي، په هر دريځ کې او هر اقدام کې سپېڅلي انساني اهداف په پام کې نه لري او نه منحطو اوپرېوتو اهدافو ته د رسېدو په لار کې د هيڅ ضابطې او حد التزام کوي، لکه چي قرآن کريم فرمايي:

فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُواْ لَكَ فَٱعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَآءَهُمْۚ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾ القصص

نو که ئې ځواب درنه کړ (ستا بلنه ئې ونه منله) نو پوه شه چي دوی د خپل هوی او هوس متابعت کوي؛ او تر هغه چا به زيات بې لاری څوك وي چي له الهي لارښووني پرته ئې د خپل هوس متابعت کړی، يقيناً چي الله داسي ظالم وګړي نه هدايتوي.

همدا راز فرمايي:

وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ٱلَّذِىٓ ءَاتَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ ٱلشَّيْطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلْغَاوِينَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ أَخْلَدَ إِلَى ٱلْأَرْضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۚ فَٱقْصُصِ ٱلْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾ الاعراف

او دوی ته د هغه چا قصه ولوله چي خپل آيتونه مو ورکړل، خو ترې ووت او شيطان ورپسې شو او له لار ورکو شو. که مو غوښتی نو په دې سره به مو لوړ کړی وو خو هغه د زمکي په لور تلپاتی شو (ونښت)؛ او په خپل هوس پسې شو، نو مثال ئې سپي ته ورته دئ، که بريد پرې کوې هم ژبه راباسي او که ئې پرېږدې هم ژبه راباسي، دا د هغو خلکو مثال دئ چي زما آيتونه ئې تکذيب کړي، نو قصې ورته بيان کړه چي فکر وکړي.

دلته يو ځل بيا د علماء سوء په اړه يوه جامع وينا شوې، د هغه چا په اړه چي د الله تعالی د کتاب څه علم ورکړی شوی، خو د دې په ځای چي عمل پرې وکړي او د الهي لارښوونو په رڼا کې ژوند وکړي، له دې رڼا وتلی، شيطان ورپسې شوی، يعني د شيطان لارښود او استاد ترې جوړ شوی، د دې په ځای چي دی په شيطان پسي ولاړ شي، شيطان په ده پسي روان شوی، په خپله تېروتی وو او نور ئې تېرايستلي. که الله تعالی غوښتلی او په ده کې د دې ورتيا وی نو په دې علم سره به ئې ده ته لوړې درجې ورکړې وې، په دنيا کې لوړ عزت او په آخرت کې د جنت لوړ مقام، خو هغه په زمکي پورې ونښت، د لوړ تګ لپاره ئې پياوړي او مضبوط وزرونه نه درلودل، بې همته وو، اوس ئې د حق مخالفت او د الله تعالی د آيتونو تکذيب ته کلکه ملا تړلې ده، که ئې په دې کار ملامت کړې او وئې

رټې هم خپله خوله نه بندوي او که ئې خپلې مخې ته پرېږدې او څه ورته ونه وايې هم، مثال ئې هغه سپي ته ورته دئ چې که ورته ووايې: چغه! ژبه ئې راوتلې وي او که ئې پرېږدې هم. د آيت له وروستۍ برخې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا مثال د هغو خلکو لپاره راوړل شوی چې په خپلو اوړدو او تېرو ژبو سره د الله تعالی د دين مخالفت کوي.

هو؛ داسې کس سپي ته ورته دئ، هغه سپي ته چې له ظاهري وضعې او راوتلې ژبې ئې داسې معلومېږي چې تږی دئ او له ډېرې تندې ئې ژبه راوتلې حال دا چې دا د ده طبيعت دئ او له تندې سره هيڅ تړاو نه لري، هوسپال انسان هم دې ته ورته وي، سپك، لوړو انساني اهدافو ته له اعتناء عاجز، له اوچت او شريف انساني مقام لاندې پرېوتی، د دنائت، طمع او حرص په حضيض کې نسکور شوی، هوی او هوس ئې نه پرېږدي چې يوه شېبه له کچه وينا، طمعې او حرص منصرف شي او له غلطو ويناوو او غوښتنو خپله خوله بنده کړي.

قرآن په بل ځای کې فرمايي:

أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾ الفرقان

آيا هغه ته دې پام نه دئ کړی چې خپله هوی او هوس ئې ځان ته اله (معبود) گرځولی، نو آيا ته پرې وکيل يې؟

دا مبارك آيت موږ ته وايي چې له حق او حقپالو سره د ځينو د مخالفت وجه دا وي چې هغوی د خپل هوس بندگان وي، د نفس او هوس بندگي ئې دې ته نه پرېږدي چې حق ومني، د حقپالو په لار روان شي او د هغوی ملگرتيا وکړي،

په بل ځای کې بني اسرائيلو ته په خطاب کې فرمايي:

... أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾ البقرة

نو آيا هر کله چې کوم پيغمبر درته هغه څه راوړل چې ستاسو نفسونو نه خوښول، کبر او لويي غوښتنه مو وکړه، نو ځينې مو تکذيب کړل او ځينې وژنئ!!

يعنې له پيغمبرانو او له زړه سواندو داعيانو سره د مخالفت يوه لويه وجه دا وي چې ځان غوښتونکي او د هوی او هوس بندگان د دوی په بلنې او دعوت کې د خپلو نفسي غوښتنو خلاف لارښوونې گوري. د دوی د مخالفت وجه دا نه وي چې په حقيقت نه پوهېږي يا دعوتگرانو کافي او مقنع دلائل د دوی مخې ته نه وي ايښي. عيسی عليه السلام بني اسرائيلو ته څومره څرگندې نښې راوړې، خو د دې پر ځای چې ايمان پرې راوړي، د ده د وژلو لپاره ئې ملا وتړله، د ده ياران ئې په صليب وځړول، په اور کې ئې واچول او د دوی د ځورولو لپاره ئې له هيڅ جنايت ډډه ونه کړه.

همدا راز فرمايي:

وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَـٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ ٱلَّذِى جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٢٠﴾ البقرة

او نه به يهودان هيڅکله له تا راضي شي او نه نصارى، تر هغه چي د دوى په دين پسي روان نه شې، (ورته) ووايه: يوازي د الله لارښوونه لارښوونه ده او که د دوى په هوى او هوس پسي له هغه وروسته ولاړې چي تا ته د علم څه برخه راغله، نو له الله به نه کوم مولا تر لاسه کړې او نه کوم مرستندوى.

مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۖ فِيهَآ أَنْهَـٰرٌ مِّن مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ وَأَنْهَـٰرٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُۥ وَأَنْهَـٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّـٰرِبِينَ وَأَنْهَـٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۖ وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ ۖ كَمَنْ هُوَ خَـٰلِدٌ فِى ٱلنَّارِ وَسُقُوا۟ مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ﴿١٥﴾

١٥- د هغه جنت مثال چي متقيانو ته ئې وعده ورکړى شوې (داسي دئ): په هغه کي د داسي اوبو ويالې دي چي نه گنده کېږي؛ او د داسي شيدو ويالې چي خوند ئې نه بدلېږي؛ او د داسي شرابو ويالې چي څښونکو ته خوندور دي؛ او د داسي شاتو ويالې چي صفا کړى شوي؛ او دوى ته په هغه کي هر ډول مېوې دي او د خپل رب بخښنه، آيا (دا به) د هغه چا په څېر وي چي په اور کي تلپاته دئ او داسي گرمي اوبه به پرې څښل کېږي چي کولمې به ئې ټوټې ټوټې کړي؟!!

(١٥)- دا دواړه ډلي؛ د متقيانو او د هوس د بندگانو؛ نه په دنيا کي سره برابري دي او نه په آخرت کي، په آخرت کي به يو په جنت کي تلپاتې وي او بل په جهنم کي، يو د دې وړ چي د جنت پراخ نعمتونه ئې په برخه وي او نيمگړتياوي او اشتباهات ئې وبخښل شي او بل د دې مستحق چي د تل لپاره په دوزخ کي وي. يوه له حرامو او گنده وو ډډه کوله نو د جنت پراخ پاکيزه نعمتونه به ئې په برخه شي، بل له ناولو او حرامو ډډه نه کوله، د فتنو اورونه ئې بلول، نو اوس به په دوزخ کي وي او څښاك ئې داسي گرمي اوبه چي کولمې ئې قطع کړي.

لکه څنگه چي په دنيا کي د دغو دواړو ډلو کړني او نتائج ئې ژور توپيرونه لري په

قیامت کې او هغه مهال چې د عملونو بشپړ او کامل نتائج جوت کېږي او متناسبه بدله پرې مرتب کېږي د دواړو ډلو تر منځ پراخ توپیرونه مشاهده کېږي. دواړه به خپلو کړنو ته ورته بدله تر لاسه کوي.

قرآن دا مطلب په بل آیت کې داسې توضیح کوي:

مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا تِلْكَ عُقْبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا وَّعُقْبَى ٱلْكَٰفِرِينَ ٱلنَّارُ ﴿٣٥﴾ الرعد

د هغه جنت مثال چې متقیانو ته ئې وعده ورکړی شوې (داسې دئ چې) ترې لاندې ویالې بهېږي، خواړه (مېوې) ئې تلپاته دي او سیورى ئې هم، دا د هغو وګړو پایله ده چې تقوى ئې وکړه؛ او د کافرانو پایله اور دئ.

په بل ځاى کې فرمايي:

إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ ﴿٤١﴾ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٤٢﴾ كُلُوا وَٱشْرَبُوا هَنِيٓـًٔا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾ المرسلات

بې شکه چې پرهېزګاران به د چینو خوا ته وي او سیورو کې. او هرراز مېوې چې غواړي ئې. د هغو عملونو په وجه ئې په خوند خوند وخورئ وڅښئ چې تاسو به کول. مونږ خو نېکانو ته داسې بدله ورکوو. افسوس په دې ورځ د مکذبینو په حال.

پرهېزګاران به په جنت کې وي، د ونو تر سیورې لاندې، د چینو شاوخوا کې، ډول ډول هغه مېوې ئې مخې ته چې زړه ئې غواړي، دوى د مکذبینو په مقابل کې ول، هغوى قیامت دروغ ګڼو، دوى پرې ایمان درلود، هغوى له دې کبله جرم او خیانت ته لاس کاوو چې په آخرت او الهي محاسبې ئې باور نه وو، دوى له دې کبله له ګناه او خیانته ځان ساتو او پرهېزګار ول چې په قیامت، د الله تعالى په وړاندې ودرېدو او الهي محاسبې ئې باور وو، نو ځکه به ئې پایله له هغوى بېله وي، هغوى د دوزخ په لوخړو کې او دوى د جنت د ونو تر سیورې لاندې، د چینو شا وخوا کې او هرراز مېوې ئې مخې ته!! نېکانو ته د الله تعالى بدله داسې وي!! په جنت کې به په دوى دا غږ کېږي چې په خوند خوند وخورئ وڅښئ، تاسو د همدې مقام او دغو نعمتونو وړ یاست. افسوس افسوس د مکذبینو په حال.

همدا راز فرمايي:

هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْغَٰشِيَةِ ﴿١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ ﴿٢﴾ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾ تَصْلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ﴿٤﴾ تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ ءَانِيَةٍ ﴿٥﴾ لَّيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ﴿٦﴾ لَّا يُسْمِنُ وَلَا

يُغۡنِي مِن جُوعٖ ۞ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ نَّاعِمَةٞ ۞ لِّسَعۡيِهَا رَاضِيَةٞ ۞ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٖ ۞ لَّا تَسۡمَعُ فِيهَا لَٰغِيَةٗ ۞ فِيهَا عَيۡنٞ جَارِيَةٞ ۞ فِيهَا سُرُرٞ مَّرۡفُوعَةٞ ۞ وَأَكۡوَابٞ مَّوۡضُوعَةٞ ۞ وَنَمَارِقُ مَصۡفُوفَةٞ ۞ وَزَرَابِيُّ مَبۡثُوثَةٌ ۞ الغاشيه

آيا تا ته رسېدلی دئ خبر د آ پوښونکې؟ څه څېرې به په دې ورځ وي وېرېدونکې. ستړې او ستومانه. ننوځي به سره اور کې. خړوبېږي به له يوې تودې چينې. نه به وي خوراك دوی ته پرته له اغزن بوټي. نه به څوربولی شي او نه خو به د لوږې چاره کړلی شي. په دغه ورځ به ځيني څېرې خوښې وي. راضي په خپلو هڅو. عالي شأنه جنتونو کې. نه به اوري هلته بېهوده وينا. په دې کې وي جاري چينې. په دې کې لوړ تختونه. او جامونه هري خوا ته اېښودلي. او په ليکه ږدول شوي بالښتونه. او خواره نفيس فرشونه.

لکه چې گورئ قرآن کريم د کفارو پايله داسې انځوروي: د دوزخ په اور کې به وي، څېرې ئې توري، سپېرې او د يأس توره پرده پرې غوړېدلې، په سپکوونکي او مهين عذاب اخته او معذب؛ او د دوی په مقابل کې د مؤمنانو حالت داسې انځوروي: په لوړو لوړو جنتونو کې به وي، له هر ډول رفاه او سوکالي برخمن، د جنت د ونو تر سيوري لاندي، پر تختونو ناست، ډول ډول نعمتونو احاطه کړي، قرآن دا بېل بېل انځورونه زموږ په وړاندي ږدوي او په مکرره توگه دا يادوني راته کوي چې مؤمنان د کفري ځواکونو د کاذب شأن او شوکت تر اغېز لاندي رانه شي، د مترفينو او مستکبرينو رفاه، راحت، پراخ وسائل او نعمتونه ئې ونه غولوي، د هغوی په وړاندي د حقارت احساس ونه کړي، ذلت او دنائت ته تسليم نه شي؛ او متيقن وي چې په پای کې به دا غولوونکی او د څو ورځو کاذب جاه او جلال پای مومي، پای به ئې ذلت، سپکاوي او شديد الهي عذاب وي، بايد تل د عزت، سعادت او سرلوړۍ هغه حالت په پام کې ولري چې په آخرت کې به ئې په برخه کېږي، هيڅکله او په هيڅ حالت کې دي ځان حقير او بې چاره نه گڼي.

وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُ إِلَيۡكَ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُواْ مِنۡ عِندِكَ قَالُواْ لِلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مَاذَا قَالَ ءَانِفًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡ ۞

١٦- او د دوی ځيني داسې دي چې تا ته غوږ نيسي تر هغه چې ستا له خوا ووځي؛ نو هغو ته چې پوهه ئې په برخه شوې وايي: همدا اوس ئې څه وويل؟ دوی هغه وگړي دي چې الله د هغوی پر زړونو مهر لگولی او په خپلو هوسونو پسې تللي.

(١٦) ـ کافر په اصل کې يو سفيه او ناپوه انسان دئ چې خپل عقل ئې وزگار پرېښی، د هوی او هوس بنده شوی، هوسپالني د ده پر زړه او دماغ خپل تور وزر غوړولی، د

حقیقت له درك او پر هغه له ایمان ئې عاجز کړی، چې کله د کوم زړه سواند مبلغ او فکور دعوتگر ویناوو او نصیحتونو اورېدو ته اړ شي؛ که څه هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر اغېزمن مبلغ او دعوتگر وي؛ نه یوازي څه اغېز پرې نه کوي او د زړه او دماغ دړه ئې ورته نه پرانیستل کېږي بلکې د تبلیغ او نصیحت په پای کې له نورو پوښتي: ده څه وویل؟!! زه خو پرې پوه نه شوم!!

لکه چې گورئ کافر وگړي د غرور، تکبر، د هوی او هوس بندگي، د خپلو گنده کړنو بدوالی نه احساسول او غوره ئې گڼل او له نعمتونو د څارویو په څېر تمتع؛ او گڼ شمېر نورو خصلتونو تر څنگ سفیه او کمعقل دي، د څرگندو حقائقو له درك عاجز دي، دومره ناپوه چې د دعوت له یوې مهمې غونډې له وتلو او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر د یوه اغېزمن داعي او مبلغ د اغېزناکې وینا له اورېدو وروسته له نورو پوښتي: دا څو شېبې وړاندې رسول الله صلی الله علیه و سلم څه وویل؟!! یعني له دې اغېزناکې وینا ئې هیڅ څه نه دي تر لاسه کړي، تش لاس او په داسې حال کې له غونډې وځي چې له نورو د وینا د مطالبو په اړه پوښتنې کوي!! د قرآن په گڼ شمېر آیتونو کې د کافرانو دغه سفاهت ته گوته نیول شوې، لکه چې فرمایي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ۝٦ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡۖ وَعَلَىٰٓ أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ۝٧ البقرة

یقیناً هغه چې کافران شوي؛ په دوی برابره ده چې وئې وېروې یا ئې ونه وېروې، ایمان نه راوړي. الله د دوی پر زړونو او د دوی پر غوږونو مهر لگولی او پر سترگو ئې څانگړې پرده ده او دوی ته ستر عذاب دئ.

په بل ځای کې فرمایي:

وَلَقَدۡ ذَرَأۡنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ لَهُمۡ قُلُوبٞ لَّا يَفۡقَهُونَ بِهَا وَلَهُمۡ أَعۡيُنٞ لَّا يُبۡصِرُونَ بِهَا وَلَهُمۡ ءَاذَانٞ لَّا يَسۡمَعُونَ بِهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ۝١٧٩ الاعراف

او یقیناً چې د دوزخ لپاره مو له پېریانو او انسانانو ډېر پیدا کړي، دوی زړونه لري خو پرې پوهېدی نه شي، سترگې لري خو پرې لیدی نه شي، غوږونه لري خو پرې اورېدی نه شي، دوی د څارویو په څېر دي بلکې لازیات لار ورکي، همدا دوی غافل او بې خبره دي.

دا آیت موږ ته ښیي: جهنم د هغه چا ځای دئ چې: د زړه دړه ئې حقیقت ته نه پرانیستل کېږي، په عالم کې له خورو نښو عبرت نه اخلي، د حق وینا اورېدو ته چمتو نه دئ، زړه، سترگې او غوږونه لري خو هغه کار ترې نه اخلي چې په دغو غړو سره باید تر سره شي، د حیواناتو په څېر او تر هغوی هم په فهم او بصیرت کې ټیټ دي.

وَٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ زَادَهُمۡ هُدٗى وَءَاتَىٰهُمۡ تَقۡوَىٰهُمۡ ﴿١٧﴾

۱۷- او هغه چې هدايت شوي هدايت ئې ورزيات کړ او د دوی تقوی ئې ورپه برخه کړه.

(۱۷) ـ د مخکينۍ سفيه او ناپوه ډلې په مقابل کې هغه مؤمن وګړي ګورو چې ويښ ضمير او حساس وجدان ئې د دې باعث کېږي چې د هرې وينا ژورو ته رسېږي، له هر نصيحت په پراخه پيمانه برخمن کېږي، د معرفت دړې ئې پر مخ پرانيستل کېږي، فکری او اخلاقي رشد او کمال ئې په برخه کېږي او تقوی او پرهيزګاري ئې زياتېږي.

هغه وګړي چې د ايمان په پلوشو کې د حق او حقيقت لورې ته هدايت شوي او مصمم دي چې د دغو ايماني لارښوونو په رڼا کې به په مستقيمې لار درومي، دا عزم او هوډ ئې باعث شي چې د داعي او واعظ مواعظ او ارشادات ئې لازيات هدايت کړي او ورو ورو ئې د تقوی لوړ او ارفع مقام ته ورسوي.

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې دا مطلب توضيح شوی، لکه چې راغلي:

وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ فَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمۡ زَادَتۡهُ هَٰذِهِۦٓ إِيمَٰنٗاۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَزَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَهُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿١٢٤﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ فَزَادَتۡهُمۡ رِجۡسًا إِلَىٰ رِجۡسِهِمۡ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿١٢٥﴾ التوبه

او کله چې کومه سوره نازله کړی شي نو د دوی ځيني وايي: دې (سورې) ستاسو د کوم يوه ايمان ورزيات کړ؟ نو هغه چې ايمان ئې راوړی ايمان ئې ورزيات کړ؛ په داسې حال کې چې خوشحالي کوي. او هغه چې په زړونو کې ئې بيماري ده؛ د دوی پر پليتي ئې پليتي ورزياته کړه او په داسې حال کې مړه شول چې کافران ول.

همدا راز فرمايي:

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٦٩﴾ العنکبوت

او هغه چې زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلې لارې وروښيو او يقيناً چې الله له دغو محسنينو سره دئ.

دلته د الله د لارې له مجاهدينو سره دوه وعدې شوې: د (هدايت) او (معيت) وعدې، يعني د هدايت دروازې به د دوی پر مخ پرانيزي، د بريا، عزت او سعادت په لارو د تلو توفيق به ورکوي، په هر ګام کې به د دوی لارښوونه کوي، د هدايت او رشد لوړو پوړو ته د رسېدو سعادت به ئې په برخه کوي؛ او د (احسان) لوړې څوکې ته به ئې رسوي؛ او له خپلې ملتيا او معيت به ئې برخمن کوي.

او فرمايي:

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٢﴾ الانفال

مؤمنان خو هغه دي چی کله د الله يادونه وشی زړونه ئی وربېږدي او چی د ده آيتونه پرې ولوستل شی ايمان ئی ورزيات کړی او په خپل رب توکل کوي.

په بل ځای کې فرمايي:

وَلَمَّا رَءَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ قَالُواْ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥۚ وَمَا زَادَهُمۡ إِلَّآ إِيمَٰنٗا وَتَسۡلِيمٗا ﴿٢٢﴾ الاحزاب

او کله چې مؤمنانو هغه ډلې ډلې (لښکري) وليدلې وئې ويل: دا همغه څه دي چې الله او پيغمبر ئې له موږ سره ژمنه کړې وه؛ او الله او د هغه پيغمبر رښتيا ويلي؛ او زيات ئې نه کړ مگر د دوی ايمان او انقياد.

هغه چې د ايمان په ځلاندي کرښې وړاندې درومي؛ د تقوی او پرهيزگارۍ تر لوړو څوکو رسي او هادي او نصير رب خپل تأييد او معيت د دوی مل کوي او خپل عنايات او برکات ورپه برخه کوي، د دښمن له کيد او مکر ئې ساتي، په چارو کې ئې آسانتيا رامنځته کوي او عاقبت ئې ورته احسن او غوره گرځوي.

لکه چې قرآن فرمايي:

إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ ﴿١٢٨﴾ النحل

يقيناً چې الله له هغو سره مل دئ چې تقوی (ځان ساتنه) ئې وکړه او هغه چې محسنين (احسان کوونکي) دي.

يا دا:

وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٩٦﴾ الاعراف

که کليوالو ايمان راوړی وی او تقوی ئې درلودی نو موږ به حتماً د آسمانونو او د ځمکې د برکاتو (دروازې د دوی پر مخ) پرانيستې وې، خو دوی دروغ وگڼلو، نو په هغه څه مو ونيول چې دوی کول.

په بل ځای کې فرمايي:

إِن تَمۡسَسۡكُمۡ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡ وَإِن تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٞ يَفۡرَحُواْ بِهَاۖ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ﴿١٢٠﴾ آل عمران

که کومه ښېګڼه درورسېږي دا ئې خفه کړي او که کوم کړاو درورسېږي پر دې خوښ شي او که صبر او ځان ساتنه وکړئ د دوی دسیسې هیڅ تاوان نه شي دررسولی، بې شکه چې الله د دوی په کړنو محیط دئ.

یعني د صبر او تقوی په نتیجه کې به د دښمن تدابیر او دسایس له دې کبله شنډ او بې اغېز او خنثی کېږي چې ستاسو ساتونکي او پالونکي رب پر کافرانو احاطه کړې، د دوی هڅي داسي نه دي چې د الله تعالی د واکمنۍ له دائرې بهر وي او الله تعالی پرې احاطه نه وي کړې، د مالك الملك رب د واکمنۍ او اقتدار کرسۍ پر ټولي زمکي او ټولو آسمانونو محیط ده، نه پربېږدي چې د جندالله په ضد د شیطان د لښکرو هڅي نتیجه ورکړي.

همدا راز د تقوی د نتائجو په اړه فرمايي:

... وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ۝٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ ... ۝٣ الطلاق

... او څوك چي له الله ځان ساتنه وکړي هغه ته به (له هم او غم) د وتلو لار برابره کړي او په داسي توګه به رزق ورکړي چي ګمان ئې نه کوي...

... وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ يُسۡرٗا ۝٤ الطلاق

او څوك چي له الله ووېرېږي هغه ته به په خپلو چارو کې آساني رامنځته کړي.

الله تعالی له متقیانو سره د زمکي د وراثت ژمنه کړې ده، لکه چي قرآن فرمايي:

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْۖ إِنَّ ٱلۡأَرۡضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ۝١٢٨ الاعراف

موسی خپل قوم ته وویل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، زمکه خو له شك پرته د الله ده، له خپلو بندګانو ئې چي چا ته غوښتي وي په میراث ئې ورکوي او نېکه پایله د پرهېزګارانو ده.

همدا راز فرمايي:

تِلۡكَ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ نَجۡعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوّٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فَسَادٗاۚ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ۝٨٣ القصص

دا اخروي کور خو د هغه چا لپاره ټاکو چي په زمکي کي نه لویي غواړي او نه فساد؛ او غوره پایله د متقیانو ده.

---

فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗۖ فَقَدۡ جَآءَ أَشۡرَاطُهَاۚ فَأَنَّىٰ لَهُمۡ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ ذِكۡرَىٰهُمۡ ۝١٨

۱۸- نو آیا له دې پرته بل څه ته انتظار کوي چې د قیامت ورځ په ناڅاپي توګه ورته راشي؟!! یقیناً چې نښې ئې راغلې دي، نو کله چې ورته راشي پند اخیستل به ئې څنګه په برخه شي؟!

(۱۸) ـ هیڅ څه نه شي کولی د دې سفیه دلې ویده ضمیر راویښ کړي، پرېږده چې د قیامت ناڅاپي راتګ او هیبتناك غږ ئې راویښ کړي.

د کافرانو او مؤمنانو د هغو پایلو له څېړنې وروسته چې دوی ئې د خپلو تګلارو په اوږدو کې تر لاسه کوي؛ او له هغه بشارت او انذار، وعد او وعید، د مضبوطو او اغېزمنو دلائلو او حججو له وړاندې کولو وروسته که بیا هم د قرآن کافر مخاطبین له خپلو کړو لارو نه راګرځي نو معلومه ده چې د دوی د لارښوونې او هدایت لپاره بله اغېزمنه طریقه نه موندل کېږي، مګر دا چې قیامت په خپلو سترګو وګوري، خو د قیامت له لیدو وروسته د توبې دروازې تړل کېږي، نه ندامت ګټه رسوي او نه تجدید عهد. هغه چې د زړه سواندو پیغمبرانو دعوت ئې له دې کبله تکذیب کړی چې پر آخرت باور او اعتقاد ورته ګران وو، دا ئې نه منل چې په پای کې به د محاسبې لپاره د خپل رب په وړاندې ودرېږي او د خپلو ګناهونو سزا به ګوري، کله چې په ناڅاپي توګه د قیامت له هولناکې پېښې سره مخامخ شي او ټول هغه څه په څرګنده او مشهود توګه په خپلو سترګو وګوري چې پیغمبرانو علیهم السلام ورته ویل، نو له خپلو ټولو کرغېړنو کړنو او غلطو باورونو به پښېمان او نادم وي، د جبران لټه به کوي، په تضرع او زارۍ سره به غواړي د جبران فرصت ورکړی شي خو دا تضرع او زاري به ئې بې ګټې وي.

قرآن کریم فرمايي:

وَجِاْىٓءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ ۚ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾ الفجر: ۲۳

او په دې ورځ به دوزخ راوستی شي او وریاد به شي انسان ته په دې ورځ، خو له کومه به ئې وي پند اخیستنه؟

له الهي عذاب سره د کافرانو د مخامخېدو په وخت کې د دوی حالت داسې انځوروي:

رَّبَّنَا ٱكْشِفْ عَنَّا ٱلْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾ أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكْرَىٰ وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْاْ عَنْهُ وَقَالُواْ مُعَلَّمٌ مَّجْنُونٌ ﴿١٤﴾ الدخان

اې زموږ ربه! دا عذاب له موږ لرې کړه؛ موږ حتماً ایمان راوړونکي یو، څنګه به ئې پند اخیستل په برخه وي حال دا چې څرګندونکی پیغمبر ورغی بیا دوی مخ واړاوو او وئې ویل: یو پوه کړی شوی لېونی دئ!!

دوی الهي عذاب نه مني او د پیغمبر ګواښونو او انذار ته اعتناء نه کوي، په خپلو سترګو به دا عذاب وګوري، دا عذاب به خپل وزر پرې وغوړوي، د څرګند لوګي په بڼې کې

به ئې وګوري، هغه مهال به دا په عذاب اخته شوي کافران وايي: اې زموږ ربه! دا عذاب له موږ لرې کړه؛ موږ له دې وروسته مؤمنان يو. خو هغه مهال به دا ايمان راوړل هيڅ ګټه نه وررسوي، دا ځکه چې تر دې وړاندې پيغمبر ورغی، له څرګند پيغام سره، دا حقيقت ورته جوت شوی وو چې هغه د الله تعالی له لوري لېږل شوی خو هغوی مخ واړاوو او وئې ويل: يو پوه کړی شوی لېونی دئ، پيغمبر ته ئې د مجنون خطاب وکړ او د هغه وينا ئې د کوم انسان له لوري ده ته ښودل شوې وينا وګڼله!!

د آخرت منکرين د خپل انکار او کفر د توجيه لپاره پر دې استناد کوي چې ولې د الهي عذاب په راتلو کې ځنډ راځي؟ ولې هغو کسانو ته فوري سزا نه ورکول کېږي چې تاسو ئې د عذاب مستحق ګڼئ، دا ځنډ او تأخير ښيي چې د آخرت د راتلو ادعاء حقيقت نه لري، که په رښتيا ظالمان او کافران د الهي عذاب مستحق وي او حتماً به له شوم برخليك او محتوم عذاب سره مخامخ کېږي ولې دا د قيامت د ورځې موعود عذاب نه واقع کېږي؟ قرآن د دوی دا استدلال په دې توګه بيانوي:

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى ۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَآ إِلَّا هُوَ ۚ ثَقُلَتْ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً ۗ يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِىٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾ الاعراف

د دې نېټې (قيامت) په اړه تا پوښتي چې د وقوع وخت ئې کله دئ؟ ووايه: علم ئې فقط زما له رب سره دئ، له ده پرته ئې بل څوك په خپل وخت کې نه راښکاره کوي، په آسمانونو او زمکې کې درنه شوې، درته نه راځي مګر ناڅاپي، تا داسې پوښتي چې ګواکې ترې خبر يې، ووايه: علم ئې يوازې له الله سره دئ، خو اکثر خلك نه پوهېږي.

د دوی د پوښتنې معنی دا نه ده چې غواړي د قيامت دقيقه نېټه ورته معلومه شي، بلکې دا د انکار په توګه پوښتنه ده، د انکار په موخه دا پوښتنه کوي، مقصد ئې دا دئ چې د قيامت راتګ محال دئ، که ئې حقيقت درلودی نو تر اوسه به راغلی وو او نښې به ئې څرګندې شوې وې!!

قرآن د دې وينا مزيد وضاحت کوي او فرمايي:

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ ۚ وَلَوْلَآ أَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ ٱلْعَذَابُ ۚ وَلَيَأْتِيَنَّهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٣﴾ يَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٤﴾ العنكبوت

او په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي؛ او که ټاکلې نېټه نه وی نو حتماً به دا عذاب ورته راغلی وو؛ او حتماً به په داسې حال کې ناڅاپي ورباندې راشي چې دوی به بې خبره وي، په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي په داسې حال کې چې جهنم حتماً پر دغو کافرانو راتاوېدونکی دئ.

فَٱعۡلَمۡ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مُتَقَلَّبَكُمۡ وَمَثۡوَىٰكُمۡ ١٩

١٩- نو پوه شه چې يقيناً له الله پرته بل معبود نشته؛ او د خپلې گناه لپاره بخښنه غواړه او د مؤمنو نارينه وو او ښځينه وو لپاره هم؛ او الله ستاسو د گرځېدو راگرځېدو پر ځای هم پوهېږي او پر مېشت ځای مو هم.

(١٩) ـ د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- د جاهل او سفيه مخاطب مخالفت او د لجوج او متعصب خصم لجاجت په دې اړه ستا اعتقاد کمرنگی نه کړي او ستا باور ته صدمه ونه رسوي چې الله تعالی يوازينی معبود دئ.
- بايد تل او په ډېرو سختو شرائطو او د دښمن د سختو مخالفتونو په حالت کې هم ځان جوړوني، د خپل فکري او اخلاقي شخصيت ارتقاء، د خپل قصور او نيمگړتياوو رفع کولو ته اهتمام وکړې، د خپلو همسنگرانو او همسفرو تربيې او روزنې ته توجه کوه.
- دې ته په پام سره چې د دنيا او آخرت په اړه الهي لارښووني پر جامع او کامل الهي علم ولاړې دي، بايد دا الهي لارښووني په دقيقه توگه مراعات کړې او په رڼا کې ئې پر مخ ولاړ شې.

دا مبارك آيت د مخکيني بحث جامع تتمه ده او د مطالبو خلاصه ئې په دغو دريو عنوانو کې زموږ مخې ته ږدي:

- توحيد او په دې اعتقاد او باور چې له الله تعالی پرته بل معبود نشته.
- ځان جوړونه او د مخکينيو اشتباهاتو جبران.
- پر دې حقيقت د زړه له کومې باور چې الهي لارښووني د انسان د دنيا او آخرت په اړه پر جامع او کامل علم مبتني دي.

دغه اساسي او مهم موضوعات تر دغو دريو عنوانونو لاندې په نسبتاً تفصيلي توگه څېړو:

- توحيدي ليدلوری.
- مستمره ځان جوړونه.
- د دنيا او آخرت په اړه الهي لارښووني.

## توحيدي ليدلوری

د مؤمنانو د اعتقاداتو، باورونو، انگېرنو او نظرياتو بنسټ پر توحيد ايښودل شوی، هره قضيه له همدې زاويې څېړي، هري پېښې ته په همدې هنداري کې گوري، د ارزښتونو

د ټاکلو او تعیین په اړه د همدې باور موازین او معیارونه کاروي، هره اړیکه او تعلق ئې پر همدې بنسټ ولاړ وي، د ژوند په ټولو ابعادو کې د دغه باور لارښووني کاروي؛ او له هر هغه څه ډډه کوي چې له دې باور سره تصادم کوي، یوازې یو الله لمانځي، د بل چا او بل څه له عبادت او لمانځنې ډډه کوي، بل څه او بل ذات ته د معبود په سترګه نه ګوري، نه ئې لمانځي او نه مرسته ترې غواړي، بل درشل ته د احتیاج لاس نه اوږدوي.

قرآن موږ ته وایي چې د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت محوري او اساسي موضوع توحید ته بلنه ده، قرآن چې د هر پیغمبر یادونه کوي نو هغه د توحید لوري ته د بلونکي او داعي په توګه معرفي کوي، لکه چې فرمایي:

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓۖ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴿٥٠﴾ هود

او د عاد په لوري (مو) د دوی ورور هود (ولېږه)، وئې ویل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود درته نشته، تاسو یوازې افتراء کوونکي یئ.

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَٱسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيْهِۚ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾ هود

او د ثمودیانو لوري ته مو د دوی ورور صالح (ولېږه)، وئې ویل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود نه لرئ، ده له زمکې راپاڅولئ او په همدې کې ئې آباد او استوګن کړئ، نو بخښنه ترې وغواړئ بیا د ده لوري ته مخه کړئ، یقیناً چې زما رب د دعاګانو منونکی نژدې دئ.

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥۖ وَلَا تَنقُصُواْ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَۖ إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴿٨٤﴾ هود

او د مدین (والو) په لوري مو د دوی ورور شعیب (ولېږه)، وئې ویل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود درته نشته؛ او په پیمانې او تلې کې کمی مه کوئ، زه خو تاسو په ښه حالت کې ګورم؛ او زه د راتاوېدونکې عذاب له ورځې درباندې وېرېږم.

ټولو بني آدمانو ته په خطاب کې فرمایي:

أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعْبُدُواْ ٱلشَّيْطَٰنَۖ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ ٱعْبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ يس

اې د آدم بچیانو! آیا فرمان مې نه وو درلېږلی چې د شیطان بندګي مه کوئ؛ یقیناً چې هغه ستاسو څرګند دښمن دئ؟ او زما عبادت وکړئ، همدا مستقیمه لار ده.

همدا راز لارښوونه کوي:

وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾ القصص

او له الله سره بل معبود مه بله (د ده تر څنګ د بل معبود عبادت مه کوه)، له ده پرته بل معبود نشته، هر څه هلاکېدونکي دي مګر د ده ذات، حکم ده لره دئ او د ده په لور ګرځول کېږئ.

وَمَن يَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرْهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿١١٧﴾ المؤمنون

او څوک چي د الله خوا کې بل معبود لمانځي (او مرستي ته ئې وربلي)؛ د دې (بلني او لمانځني) په اړه هيڅ برهان او حجت نه لري، له دې پرته بل څه نه دي چي حساب ئې له خپل رب سره دئ، حقيقت دا دئ چي کافران نه بريالي کېږي.

همدا راز فرمايي:

فَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ ٱلْمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾ الشعراء

نو له الله سره بل معبود مه دربله، که نه نو له معذبينو به شې.

په دې اړه د مؤمنانو مؤکد تعهد داسي ښيي:

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿٥﴾ الفاتحه

يوازي تا لمانځو او يوازي له تا مرسته غواړو.

او مؤمن ته لارښوونه کوي چي که د نړۍ ټول وګړي له تا مخ واړوي، تا يوازي پرېږدي او له تا سره دښمنۍ ته ملا وتړي؛ هيڅ پروا مه کوه، رب العرش العظيم ځان ته کافي وګڼه، پر هغه توکل ولره او خپل راتلونکي ته هيله من اوسه:

فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١٢٩﴾ التوبه

که ئی ډډه وکړه نو ورته وو‌ايه: الله راته کافی دئ، له ده پرته بل معبود نشته، په ده مي توکل وکړ؛ او دی د ستر عرش واکمن دئ.

مؤمنانو ته لارښوونه کوي او فرمايي:

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَلَهُۥٓ أَسْلِمُوا۟ وَبَشِّرِ ٱلْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾ الحج

نو ستاسو معبود يوازينی معبود دئ نو هغه ته تسليم اوسئ؛ او دې تواضع کوونکو ته زېری ورکړه.

همدا راز فرمايي:

... وَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَأُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمۡ وَٰحِدٞ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ۝٤٦ العنکبوت

... او ووايئ: پر هغه څه مو ايمان راوړی چي موږ ته نازل شوی او تاسو ته نازل شوی؛ او زموږ معبود او ستاسو معبود يو دئ او موږ ورته تسليم يو.

د هغه فرعون په اړه چي له خلکو ئې غوښتل دی د اله په توگه ومني، يوازې د ده اوامرو ته غاړه کښېږدي او د ده په درشل کې د بندگۍ سر ټيټ کړي، داسي فرمايي:

قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذۡتَ إِلَٰهًا غَيۡرِى لَأَجۡعَلَنَّكَ مِنَ ٱلۡمَسۡجُونِينَ ۝٢٩ الشعراء

وئې ويل: که له ما پرته دې بل اله ونيو نو حتماً به دې له (نورو) زندانيانو سره يوځای کړم.

په داسي حال کې چي الله تعالی د ټول عالم څواکمن ټولواک دئ، د ټولو برخليك د ده له لوري ټاکل کېږي، د چارو عاقبت، د عالم اداره، ساتنه او حفاظت د ده په واك کې دي، په ټولو برخو کې د ده حکم حاکم دئ او سلطه او جبروت ئې مستولي، آيا تر دې به ستر حماقت پيدا شي چي څوك له ده پرته په بل څه اتکاء او اتکال وکړي؟!!

قرآن کريم فرمايي:

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِىُّ ٱلۡعَظِيمُ ۝٢٥٥ البقرة

الله هغه ذات دئ چي له ده پرته بل معبود نشته، همغه ژوندی قيوم ذات، نه ئې پرکالي نيسي او نه خوب، هر هغه څه د ده دي چي په آسمانونو کې دي او چي په زمکې کې دي، دا به څوك وي چي د ده له اجازې پرته د ده په وړاندي سپارښتنه او شفاعت وکړی شي، په داسي حال کې چي دی په هر هغه څه پوهېږي چي د دوی مخې ته دي يا ئې شاته دي او دوی د ده د علم يوازې په دومره څه احاطه کولی شي چي دی ئې وغواړي، (د قدرت او واکمنۍ) کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکې حاوي ده او د دوی دواړو (زمکې او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه ستر لوړ ذات دئ.

قرآن خپل مخاطب پوښتي: که الله تعالی له خپلو هغو پراخو نعمتونو چي ستاسو په

برخه شوي کوم يو ببرته واخلي او تاسو ترې محروم کړي آيا داسي څوك مومئ چي دا حرمان جبران کړي او ستاسو مرستي ته راوړاندي شي؟! لکه چي فرمايي:

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ۖ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴿٧١﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٧٢﴾ القصص

ووايه: آيا دې ته مو پام شوی چي که الله دا شپه د قيامت تر ورځي دربآندي تلپاته کړي، له الله پرته بل معبود څوك دئ چي رڼا درته راوړي؛ نو آيا نه اورئ؟! ووايه: آيا دې ته مو نه دي کتلي چي که الله دا ورځ د قيامت تر ورځي درباندي تلپاته کړي، له الله پرته بل معبود څوك دئ چي شپه درته راوړي چي په کي آرام وکړئ، آيا نه ګورئ؟! او د خپلي پېرزويني له امله ئې شپه او ورځ درته جوړه کړه چي په کي آرام وکړئ او چي د ده فضل ولټوئ او چي شکر وکړئ.

قرآن په دې اړه د يوه موحد له ژبي داسي حکايت کوي:

ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدْنِ ٱلرَّحْمَـٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّى شَفَـٰعَتُهُمْ شَيْـًٔا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ يس

او څه راباندي شوي چي د هغه ذات عبادت ونه کړم چي زه ئې پيدا کړی يم او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ، آيا له ده پرته داسي معبودان ونيسم چي که رحمن رب د کوم تاوان اراده راته وکړي نه د دوی شفاعت کوم څه رانه دفع کولی شي او نه مي ژغورلی شي، يقيناً چي زه به هغه مهال په څرګندي تېروتني کي وم، نو له ما ئې واورئ چي ما په يقيني توګه ستاسو پر رب ايمان راوړی.

## مستمره ځان جوړونه

د ايمان، توحيد او خدای پالني په کرښي د ګام اېښودو په صورت کي انسان په داسي مسير کي تګ پيلوي چي له پيل تر پای او په مسلسله توګه د ځان جوړوني او معنوي او اخلاقي ارتقاء غوښتنه کوي، په دې لار يوازي هغه څوك د تلو سعادت او توفيق تر لاسه کوي چي له رکود او توقف پرته، په دائمي او مستمري هڅي او په بشپړ دقت او اهتمام سره د لوړ تلو کلك هوډ لري، د دې ګران سفر توښه برابروي؛ او له عملي او عقيدوي پلوه خپل شخصيت داسي عياروي چي د دې لوړ تلو جوګه شي، نه يوازي هڅه کوي خپل کمښت، قصور، خبط او خطأ جبران کړي بلکي د ارتقاء او لوړ تللو په هيڅ پړاو کي په خپل موجود حال او پړاو او معنوي پانګي اکتفاء نه کوي، د مزيد ارتقاء تلوسه ئې وړاندي تګ

ته هڅوي، قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر لوړ معنوي شخصیت ته وايي:

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِبۡكَٰرِ ﴿٥٥﴾ غافر: ﴿٥٥﴾

نو صبر کوه چې يقيناً د الله وعده رښتینې ده؛ او د خپلې ګناه لپاره بخښنه غواړه او سبا او ماښام د خپل رب د ستاینې تسبیح وایه.

په دې مبارك آیت کې رسول الله صلی الله علیه و سلم او د قرآن هر مؤمن مخاطب ته څو لارښوونې شوې:

- صبر کوه.
- د الله تعالی وعده رښتینې ګڼه.
- د خپلې ګناه لپاره بخښنه غواړه.
- سبا او ماښام د خپل رب حمد او تسبیح وایه، یعنې تل ئې د ټولو ستاینو وړ او له هر عیب او نقص منزه ګڼه.

دا پوښتنه راولاړېږي چې دلته ولې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر شخصیت ته چې د تقوی، هدایت او رشد بېلګه او معصوم دئ دا توصیه شوې چې د خپلو اشتباهاتو او (ذنب) لپاره بخښنه غواړه؟

ځواب ئې دا دئ:

لومړی: هغه هم مکلف دئ چې د بې انتهاء کمال په لوري وړاندې ولاړ شي، هر ګام چې په دې لوري اخلي او وړاندې درومي نوی پړاو ئې تر مخکیني کمال ته ورنږدې دئ، نن تر پرون یو ګام لوړ تللی، طبیعي ده چې د دې موقعیت په پرتله به مخکیني ته د یوه قصور په سترګه ګوري، نو ځکه به بخښنه غواړي، د رسول الله صلی الله علیه و سلم عملي ژوند د همدې خبرې ګواهي ورکوي، د مبارك ژوند په وروستیو کې تر هر وخت زیات د خپل رب په ذکر، تسبیح او عبادت لګیا او تر وړاندې ئې زیات له خپل رب بخښنه غوښتله.

پر دې سربېره رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: (تخلقوا بخلق الله) په الهي اخلاقو ځان سمبال کړئ، په دې سپارښتنې کې دومره لوړ هدف ټاکل شوی چې هیڅ انسان هغه ته نه شي رسېدی، دې لوري ځوکې ته نږدې کېدل د دائمي او مسلسل او ستړیا نه منونکې هڅې او لوړ تللو غوښتنه کوي.

دوهم: هر څومره چې انسان د خپلو مسئولیتونو له زیاتوالي او دروندوالي په ښه توګه او تر نورو زیات مطلع وي او بصیرت او معرفت ئې زیات وي همدومره به په ده کې دا احساس ځواکمن او قوي وي چې په ښه توګه ئې خپل مسئولیتونه نه دي اداء کړي، تر نورو به زیات خپلې خطأ او خبط ته متوجه او د خپل رب بخښنې ته هیله من وي، دا ځکه چې هیڅ انسان ته مقدور نه ده چې د خپل رب په لمانځنې او د هغه د اوامرو په

تعميل کې هيڅ ستره يا وړه اشتباه ونه کړي، داسې ئې وړانځې لکه فرشتې، لکه د عالم هغه مخلوقات چې په بشپړه توګه خپل رب ته مطيع او منقاد وي.

قرآن رسول الله صلی الله عليه و سلم ته لارښوونه کوي چې د خپل رسالت په پای کې او هغه مهال چې خلك ډله ډله د دين غيږې ته راځي د خپل رب تسبيح وايه او بخښنه ترې غواړه:

﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ۝٢ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ۝٣﴾ النصر

هغه وخت چې الهي بريا او فتح راشي؛ او خلك وګورې چې د خدای په دين کې فوځ فوځ ننوځي، نو د خپل رب په ثناء لګيا شه او بخښنه ترې غواړه، بې شکه چې هغه د توبې ښه قبلوونکی دئ.

## د دنيا او آخرت په اړه الهي لارښوونې

د دنيا او آخرت په اړه د قرآن لارښوونې او د عزت او ذلت او سعادت او شقاوت د عواملو په اړه الهي پرېکړې پر جامع او کامل الهي علم مبتني دي، دا لارښوونې او پرېکړې د انسانانو د قضاوتونو او پرېکړو په څېر نه دي چې له احساساتو او محدود او سطحي علم او معرفت راټوکېدلې وي.

د انسان په اړه قضاوت، د هغه لپاره تګلاره او کړنلاره ټاکل، په عالم کې د هغه د موقعيت او د عالم له مخلوقاتو او خالق سره د هغه د اړيکو د څرنګوالي په ارتباط څه ويل، د هغه د ژوند د ټولو اړخونو د تنظيم لپاره ضوابط وضع کول او د کمال په لوري د هغه لارښوونه داسې جامع علم ته ضرورت لري چې هم انسان په دقيقه توګه معرفي کړی شي او هم هغه چاپېريال چې انسان په کې ژوند کوي، له داسې جامع او کامل علم پرته د انسان او د هغه د کړنو د پايلو په اړه هر قضاوت نه يوازې بې بنسټه دئ او هيڅ ارزښت نه لري بلکې بد عواقب لري.

قرآن فرمايي:

﴿وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡۚ قَالُواْ خَيۡرٗاۗ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۚ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞۚ وَلَنِعۡمَ دَارُ ٱلۡمُتَّقِينَ ۝٣٠﴾ النحل

او کله چې هغو ته وويل شي چې تقوی ئې کړې: ستاسو رب څه نازل کړي؟ وايي: يو خير (له ښېګڼو ډك غوره پيغام)، هغو ته چې ښېګڼې کوي په دې دنيا کې ښېګڼه ده؛ او د آخرت کور خو ډېر غوره دئ؛ او څومره غوره دئ د دغو متقيانو استوګنځی.

دا تر ټولو غوره پيغام او کلام د مؤمنانو د دنيا او آخرت په اړه فرمايي:

إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِى ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ ﴿٥١﴾ يَوۡمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعۡذِرَتُهُمۡۖ وَلَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٥٢﴾ غافر

يقيناً چې موږ د خپلو پيغمبرانو او هغو چې ايمان ئې راوړی په دنيايي ژوند کې هم او په هغې ورځې هم مرسته کوو چې گواهان به ودرېږي، هغه ورځ چې ظالمانو ته به د دوی عذرونه گټه نه رسوي او دوی ته به لعنت ورپه برخه وي او بد استوگنځی به ئې وي.

په دې مبارکوآيتونو کې د الله تعالی دا نه بدلېدونکی او دائمي سنت بيان شوی چې په دنيا او آخرت کې د خپلو پيغمبرانو او مؤمنانو مرسته کوي، په دنيا کې به هم وروستۍ بريا د دوی وي او د قيامت په هغه ورځ به هم دوی بريالي وي چې ټول انسانان به د الله تعالی په وړاندې ولاړ وي، الهي محاکمه به پيل شوې وي او د هر چا د کړنو په اړه به گواهان وړاندې کېږي، هغه ورځ چې ظالمانو ته به د دوی عذرونه هيڅ گټه نه رسوي، په الهي لعنت به اخته وي او د دوزخ بد استوگنځی به ئې په برخه وي.

په بل ځای کې فرمايي:

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِى ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْ لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِى ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةًۖ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾ النحل

او هغو چې د الله په لار کې ئې له هغه وروسته هجرت کړی چې ظلم پرې شوی، هرومرو به ئې په دنيا کې په غوره توگه ځای پر ځای کړو او د آخرت اجر خو تر ټولو ستر دئ، کاش پوهېدی. همغه چې صبر ئې وکړ او پر خپل رب توکل کوي.

همدا راز فرمايي:

أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٦٢﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰ فِى ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِى ٱلۡأٓخِرَةِۚ لَا تَبۡدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٦٤﴾ يونس

پام چې بې شکه د الله دوستان داسي دي چې نه څه وېره پرې شته او نه به غمجن شي. هغه چې ايمان ئې راوړی او ځان ساتنه ئې کوله. دوی ته په دنيايي ژوند کې او په آخرت کې زېري دي، د الله په ويناوو کې تبديلي نه راځي، همدا ستره بريا ده.

الله تعالی د دنيا ټول پاکيزه او شايسته توکي د مؤمنانو لپاره پيدا کړي، که څه هم د الله عاصي او باغي بندگان هم په ضمني توگه او د مؤمنانو په طفيل ترې استفاده کوي، خو په آخرت کې به دا نعمتونه يوازې متقيانو ته مختص وي، لکه چې قرآن فرمايي:

قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِىٓ أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِۚ قُلۡ هِىَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ

فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٣٢﴾ الاعراف

ووايه: چا هغه زينتي شيان چي الله خپلو بندگانو ته راايستلي او پاکيزه رزق حرام کړي؟ ووايه: دا په دنيوي ژوند کي هم د مؤمنانو لپاره دي او د قيامت په ورځ په مختصه توگه (د دوی لپاره دي)، دغسي هغو ته نښي په تفصيل سره بيانوو چي پوهېږي.

له دې مبارك آيت څو اساسي خبري معلومېږي:

الله تعالی نه ښايسته او زينتي شيان حرام کړي او نه پاکيزه رزق، څوك چي دا حرام گڼي هيڅ دليل ورته نه لري.

دا دواړه په اصل کي د مؤمنانو لپاره پيدا شوي، د دوی په طفيل نورو ته هم ورکول کېږي، که د زمکي پر سر مؤمنان نه وي نو الله تعالی به د خپلو نعماتو او پېرزوينو لړۍ بندوي.

د قيامت په ورځ به په مختصه توگه يوازي د مؤمنانو په برخه کېږي.

له دې حقائقو يوازي ناپوه کسان انکار کولی شي، د پوهي او علم خاوندان پوهېږي چي الله تعالی به ولي هغه څه حراموي چي په خپله ئې د خپلو بندگانو لپاره پيدا کړي؟!

هغه چي د عصيان او بغاوت له کبله له مصيبتونو سره مخامخ او په سپکوونکي الهي عذاب اخته شوي کله چي هغوی ايمان راوړی له ذلت او رسوايي ژغورل شوي او عزت ته رسېدلي، لکه چي فرمايي:

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ ءَامَنَتْ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُوا۟ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٩٨﴾ يونس

کله چي هغوی ايمان راوړ نو د سپکاوي عذاب مو په دنيايي ژوند کي ترې لري کړ او تر يوه وخته مو له خپلو پېرزوينو برخمن کړل.

هغه چي د الله کتاب ئې تجزيه کړی، په ځينو برخو ئې د ايمان تر څنگ عمل کړی او له ځينو ئې انکار کړی په دنيا کي له سپکاوي سره مخامخ شوي او په آخرت کي به په شديد عذاب اخته شي، لکه چي قرآن فرمايي:

...أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْىٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلْعَذَابِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾ البقرة

... آيا د کتاب په يوې برخي ايمان راوړئ او په بلي برخي ئې کافران کېږئ؟! او له تاسو چي هر څوك دا کار وکړي؛ نو سزا ئې په دنيا کي له سپکاوي پرته بل څه نه ده او د قيامت په ورځ به د شديد عذاب په لور گرځول کېږي او الله له هغه څه چي تاسو ئې کوئ غافل

نه دئ.

د هغو برخليك دردناك عذاب ګڼي چي د كفر لار غوره كوي، له پيغمبرانو سره مخالفت كوي او د عدل او قسط لوري ته بلونكي وژني:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَيَقۡتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡقِسۡطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٢﴾ آل عمران

يقيناً هغه كسان چي د الله په آيتونو كافران كېږي او د الله پيغمبران په ناحقه وژني او د خلكو هغه كسان هم وژني چي د عدل كولو امر كوي، نو د دردناك عذاب زېرى وركړه. دوى هغه دي چي عملونه ئې په دنيا او آخرت كې حبط او تباه شوي او هيڅ مرستندوى ورته نشته.

---

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡلَا نُزِّلَتۡ سُورَةٞۖ فَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ مُّحۡكَمَةٞ وَذُكِرَ فِيهَا ٱلۡقِتَالُ رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ نَظَرَ ٱلۡمَغۡشِيِّ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَأَوۡلَىٰ لَهُمۡ ﴿٢٠﴾ طَاعَةٞ وَقَوۡلٞ مَّعۡرُوفٞۚ فَإِذَا عَزَمَ ٱلۡأَمۡرُ فَلَوۡ صَدَقُواْ ٱللَّهَ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ ﴿٢١﴾

۲۰- او هغه چي ايمان ئې راوړى وايي: ولې كومه سوره نازله نه شوه (چي د جګړې اجازه وركړي) خو كله چي پرېكنده سوره نازله شوه او په هغې كې د جګړې يادونه وشوه نو د بيمارو زړونو خاوندان دي ليدل چي ستاسو لوري ته ئې داسي هك پك كتل لكه د مرګ له هيبته د بې سده كس ليدل، ۲۱- دوى ته خو اطاعت او د منلو وړ خبره په كار وه؛ او كله چي كار مصمم شو كه ئې له الله سره صداقت كړى وى دا حتماً ورته غوره وو.

---

(۲۰-۲۱)- د دې مباركو آيتونو په اړه لاندي خبري په پام كې ولرئ:

• په دې آيت سره د سورې دوهمه برخه پيل كېږي، دا ټوله برخه د منافقينو په اړه بحث ته مختص شوې، په لومړۍ برخي كې مؤمنان او كافران د دوو متخاصمو ډلو په توګه د مبارزې په حال كې ښېړل شوي او د دې مبارزې پايلي په ګوته شوې، خو په دوهمه برخه كې يوازې د منافقينو په اړه بحث شوى، تاسو پوهېږئ چي منافق يو دوه مخى، مذبذب، رياكار او له روحي پلوه بيمار انسان دئ چي سعي كوي په غوړه مالۍ، غولوونكو وينااو

او حرکاتو سره د مبارزې دوارو خواوو کې په زړه پورې موقعیت تر لاسه کړي، د دوارو خواوو له ضرر په امان کې شي؛ او د دوارو لوریو له امتیازاتو برخمن شي، د وسله والې مبارزې د مناسب وخت تر رارسېدو وړاندې په دې ټینگار کوي چې باید دا مرحله او د ستومانه کوونکي انتظار دا پړاو ژر پای ته ورسوو، وسلې ته لاس کړو، په یوه پرېکنده اقدام سره ستونزه حل کړو، تر کله به صبر کوو او توري به په تېکو کې ساتو او وسلې ته به لاس نه وروړو؟! ولې د نهضت مشرتابه د وسله والې مبارزې پیل نه اعلانوي؟ خو کله چې دا مرحله راورسېږي او د دښمن په خلاف د وسله والې مبارزې پرېکړه وشي، ناڅاپه به گورې چې دا دوه مخي او بیمار زړي منافقین داسې وېري او خوف نیولي لکه چې د مرگ په لوري بېول کېږي، سنگر به داسې گڼي لکه د مرگ کومی، د سنگر په لوري هر گام به داسې گڼي لکه د مرگ او قبر په لوري تگ.

- کله چې د جگړې اصلي وخت راورسېږي او پدې اړه وروستۍ پرېکړه وشي او د قرآن صریح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي، د دوی او د دوی د لافو باټو او دروغجنو ادعاگانو حقیقت ټولو ته څرگند شي، سخته وېره ئې په څېرو کې راڅرگنده شي، وېره ئې هغه چا ته ورته وي چې د مرگ له هیبته بې سدې ورباندې راغلې وي.
- دوی نه مخکې له خپل رب سره صداقت کړی او نه وروسته.
- دا دوی ته غوره او د دوی په خیر وه چې د جگړې د ورځو له رارسېدو مخکې او وروسته ئې له خپل مولا سره په خپلو ژمنو صادقانه عمل کړی وی.
- د دې صداقت دوې غوښتنې دي: اطاعت او معروف قول.

دې ته مو پام وي چې د شلم آیت د پای او د یویشتم آیت د لومړۍ فقرې په ارتباط گڼ شمېر آراء او تعبیرونه وړاندې شوي، تر ټولو دقیقه رأیه دا ده چې دا دواړه فقرې سره تړلې دي او معنی ئې دا ده: دوی ته اطاعت او نېکه وینا غوره وه، نور تعبیرونه ډېرې ستونزې لري او د آیتونو له سیاق سره اړخ نه لگوي.

منافقین د نهضت په هر پړاو او د مبارزې په هرې مرحلې کې په خپلو منافقانه دریځونو سره اسلامي صف ته صدمه رسوي، دا ځله چې نه اصولو ته تعهد او التزام لري، نه د نهضت فکري بنسټونو او معتقداتو ته ژمن او متعهد دي؛ او نه ئې تگلارې او سیاستونو ته اهتمام او اعتناء لري، کله چې د مسالمت او عدم تصادم تگلاره غوره شي او یوازې په فکري کار او دعوت بسنه کېږي او همدا د ظروفو او شرائطو تقاضا وي، همغسې لکه د رسول الله صلی الله علیه و سلم د مکې دور ظروف او شرائط او په وړاندې ئې د مسلمانانو دریځ؛ او لا د وسله والې مبارزې شرائط او امکانات نه وي برابر شوي، دوی به گورئ چې د وسله والې مبارزې موضوع په داسې بڼې کې مطرح او تبلیغات ورته کوي چې په بشپړه توگه د نهضت په ضرر وي، له یوې خوا په صفوفو کې اختلافات راولاړوي او له بلې خوا دښمن هڅوي چې د نهضت په ضد په مخاصمانه اقداماتو لاس پورې کړي، د دوی

د تبليغاتو موخه نه دا وي چي نهضت په خپلي تګلاري کي تجديد نظر وکړي او مشرتابه په دې قانع کړي چي د مجرد دعوت مرحله تېره شوې او د بلي مرحلې د پيل پړاو رارسېدلی او لازم شرائط او امکانات تأمين شوي بلکي په چالاکۍ او زيرکۍ سره غواړي د نورو توجه ځان ته راوګرځوي او کاذب اعتبار او حيثيت تر لاسه کړي.

قرآن کله منافقين د ايمان د مدعيانو په نامه يادوي او د ( الذين آمنوا) صيغه ورته کاروي، کله ئې د کافر شوو په نامه يادوي او د (الذين کفروا) اصطلاح ورته کاروي او کله ئې صريحاً د منافق په نامه يادوي، دلته په ٢٠ آيت کي هم له (الذين آمنوا) هماغه د ايمان دروغجن مدعيان مراد دي، دوی داسي معرفي شوي چي د وسله والي مبارزې د پړاو له رارسېدو وړاندي وايي: ولي داسي سوره نه نازلېږي چي د قتال او وسله والي مبارزې اجازه راکړي، تر کله به دا روان حالت زغمو، د دښمن په ضد به د وسلې له کارولو ډډه کوو، ولي کومه لنډه لار غوره نه کړو؛ او د اوږده مزل له پلي کولو او بې ځايه ستومانه کوونکي انتظار ځان ونه ژغورو، بايد د دښمن په ضد جګړه پيل کړو، ولي د نهضت مشرتابه او زعامت دې خبرو ته اعتناء نه کوي او مناسب تصميم نه نيسي؟!!! ولي به وروستي هدف ته د رسېدو لپاره دا اوږده، له لوړو ژورو او کړلېچونو ډکه لار پلي کوو؟!! ولي د دښمن په ضد کوم قاطع او پرېکنده اقدام نه کوو؟!! خو کله چي د وسله والي مبارزې مرحله راورسېږي، امکانات ئې برابر شي، حالت د دې تقاضا وکړي، يا دښمن د نهضت په ضد جنګ پيل کړي؛ او مسلمانان له تحميلي جنګ سره مخامخ شي؛ د دغو منافقينو د دروغجنو ادعاګانو حقيقت څرګند شي، بې همتي، جبن او بې زړه توب به ئې جوت شي، نه يوازي دا چي په خپله به په دفاع او جنګ کي له برخي اخيستو ډډه کوي بلکي نور به هم هڅوي چي شرکت ونه کړي؛ او دا د دې لپاره چي د اعتراضاتو په وړاندي يوازي نه وي او د اعتراض ګوتي يوازي ده ته متوجه نه وي. هغه مهال به د دواړو لوريو تر منځ د قواوو عدم توازن، د دښمن نظامي برلاسی، د شرائطو عدم مساعدت، د جنګياليو او جنګي وسائلو کمښت ... د داسي دلائلو په توګه وړاندي کوي چي د دفاع سياست ناسم او د جنګ پرېکړه غلطه ثابته کړي، کله چي نهضت له کومي ماتي سره مخامخ شي، که څه هم په دې ماتي کي د دوی د منافقانه دريځونو او کړنو لويه ونډه وي، په ماتي او تلفاتو به استناد کوي، جنګي تګلاره به غندي، د مجاهدينو د جهادي روحيې د ځپلو په موخه به تبليغات کوي، خپل هغه دريځ به توجيه کوي چي په جنګ کي ئې له برخي اخيستلو، له احتمالي خطر سره له ډغرو وهلو ئې ډډه کړې، قرآن په دې اړه فرمايي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوٓاْ أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ ٱلنَّاسَ كَخَشْيَةِ ٱللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا ٱلْقِتَالَ لَوْلَآ أَخَّرْتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ قُلْ مَتَٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ وَٱلْءَاخِرَةُ

خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾ أَيۡنَمَا تَكُونُواْ يُدۡرِككُّمُ ٱلۡمَوۡتُ وَلَوۡ كُنتُمۡ فِي
بُرُوجٖ مُّشَيَّدَةٖۗ وَإِن تُصِبۡهُمۡ حَسَنَةٞ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٞ
يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِكَۚ قُلۡ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلۡقَوۡمِ لَا يَكَادُونَ
يَفۡقَهُونَ حَدِيثٗا ﴿٧٨﴾ النساء

هغو ته دې ونه کتل چې ورته وويل شو: لاسونه مو راټم کړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، خو کله چې پر دوی جهاد فرض کړی شو نو يوه ډله ئې له خلکو داسې وېرېده لکه له الله او يا تر دې هم سخته وېره او ويل ئې: اې زموږ ربه! ولې دې پر موږ جنګېدل فرض کړل؟ ولې دې تر يوې نژدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووايه: د دنيا متاع خو وړوکی شی دئ او آخرت غوره دئ؛ د هغه لپاره چې تقوی ئې غوره کړه او د بڅرکي په اندازه به پر تاسو تېری ونه شي. چې هرځای وئ مرګ به مو بيا مومي، که څه هم په دنګو کلکو ماڼيو کې وئ؛ او که کومه ښېګڼه ئې په برخه شي نو وايي: دا خو د الله له لوري ده، خو که کړاو ئې په برخه شي نو وايي: دا خو ستا له لوري دئ، ورته ووايه: ټول د الله له لوري دي، په دې خلکو څه شوي چې په هيڅ خبري نه پوهېږي.

د دې آيتونو لارښووني دا دي:

- ځيني خلك داسې وي چې له دښمن سره د جګړو د وخت له رارسېدو مخکې په جګړې ټينګار کوي؛ او وايي: بايد له دښمن سره د يوې پرېکندې نښتې له لارې خبره پای ته ورسوو او ستونزه د تل لپاره حل کړو، خو دا ټينګار ئې له قوی ايمان او د الله په لار کې د قربانۍ له جذبې نه وي راولاړ شوی، بلکې له بيمار زړه راخوټېدلی وي، په دې بې وخته ټينګار سره غواړي چې ځان مخلص او انقلابي وښيي او په خپلو غلطو عملونو او غلطلو ويناوو پرده واچوي او خلکو ته وښيي چې که اوس او د سختې ورځې له رارسېدو مخکې هغوی څه قصور لري او په عمل کې تر نورو شاته پاتې دي او د خپلو ديني او مذهبي دندو په اداء کولو کې لټې کوي، کله چې په دې اړه ورباندې اعتراض وشي نو وايي: که له دښمن سره د نښتې او له دين د دفاع وخت راورسېدو نو موږ به ترټولو مخلص ومومئ، زموږ په اخلاص او صداقت به هلته پوه شئ چې په لومړي خط کې مو توره په لاس او متې بروهلې وګورئ!! وبه ګورئ چې تر هر چا مخکې يو او په لومړي خط کې د دښمن مقابله کووا!! خو کله چې د جګړې اصلي وخت راورسېږي او په دې اړه صريح او واضح فيصله وشي او د قرآن صريح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي نو دا کسان به داسې ومومئ چې سخته وېره به ئې په څېرو کې څرګنده وی، خړې سترګې؛ د هغه چا په څېر چې د مرګ له وېرې او هيبته بې سده شوی، له خلکو به داسې وېرېږي لکه له الله او حتی له خلکو به ئې وېره هومره وي چې له الله به دومره نه وېرېږي!!

- بیا به وایي: اوس خو د جګړې مناسب وخت نه دئ، ضروري وسائل نه دي برابر شوي، څه نور وخت ته ضرورت لرو، باید جګړه وځنډېږي!!
- دوی جګړه او له دښمن سره مخامخېدل داسې ګڼي لکه د مرګ په لوري چې خوځول کېږي، لکه مرګ چې تیار دوی ته خپل کومې پرانیستی وي او د مرګ نېټه ئې رارسېدلې وي!! وایي به: خدای ولې موږ ته د څه نورې مودې لپاره د ژوندي پاتې کېدو موقع رانه کړه او داسې ژر ئې له جګړو سره مخامخ کړو!!
- دې خلکو ته فقط یو ځواب په کار دئ او هغه دا چې: له دنیا سره افراطي مینه مو له مرګ وېروي، آخرت مو هېر کړی، دنیا ته په آخرت ترجیح ورکوئ، د همدې لپاره له مرګ وېرېږئ او له جنګه ډډه کوئ. د الله په عدالت باور نه لرئ، ګمان کوئ چې الله به د مسلمانانو هلې ځلې او قرباني ضائع کړي، حال دا چې الله د وړې ذرې په اندازه هم په خپلو بندګانو ظلم نه کوي.
- په دې پوه شئ چې په کور کې ناستې سره او کلکو مورچلو او دنګو کلاګانو ته په پناه وړلو سره هم له مرګ نه شئ خلاصېدی، په هر صورت به د مرګ داعي ته لبیك وایئ.

قرآن په همدې اړه د بني اسرائیلو حالت زموږ په وړاندې انځوروي او وایي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰٓ إِذْ قَالُوا۟ لِنَبِىٍّ لَّهُمُ ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُوا۟ ۖ قَالُوا۟ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَٰتِلَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْا۟ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٤٦﴾ البقرة

آیا د بني اسرائیلو هغه ډله دې ونه لیده چې له موسی نه وروسته وه، کله چې ئې خپل پیغمبر ته وویل: موږ ته یو پاچا وټاکه، د دې لپاره چې د الله په لار کې وجنګېږو، ورته وئې ویل: آیا داسې خو به نه وي چې جنګېدل درباندې فرض شي نو ونه جنګېږئ؟ وئې ویل: نو په موږ به څه شوي وي چې د الله په لار کې به نه جنګېږو، په داسې حال کې چې له خپل کور کلي او ټبر ایستل شوي یو؟ خو کله چې جنګېدل پرې فرض کړی شو نو ټول په شا شول غیر له لږ شمېر ئې او الله خو د ظالمانو په حال ښه پوه دئ.

په جهاد کې برخه نه اخیستل به توجیه کوي او دروغجن دلائل او بهانې به وړاندې کوي، لکه چې قرآن فرمایي:

وَمَآ أَصَٰبَكُمْ يَوْمَ ٱلْتَقَى ٱلْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ وَلِيَعْلَمَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٦٦﴾ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُوا۟ ۚ وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ قَٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدْفَعُوا۟ ۖ قَالُوا۟ لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّٱتَّبَعْنَٰكُمْ ۗ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَٰنِ ۚ يَقُولُونَ بِأَفْوَٰهِهِم مَّا لَيْسَ فِى قُلُوبِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ

أَعۡلَمُ بِمَا يَكۡتُمُونَ ١٦٧ آل عمران

او هغه څه چې د دوو فوځونو د مخامخ کېدو په ورځ درورسېدل، دا خو د الله په حکم او د دې لپاره وو چې مؤمنان معلوم کړي؛ او د دې لپاره چې هغه کسان هم معلوم کړي چې منافقت ئې کاوو او چې ورته وويل شو: راشئ يا د الله په لار کې وجنګېږئ يا دفاع وکړئ! وئې ويل: که د کوم جنګ پوهه مو وی حتماً مو ستاسو متابعت کاوو!! دوی په دغه ورځ کفر ته ډېر ورنژدې وو، تر هغه واټن چې له ايمانه ئې درلودو، په خوله ئې هغه څه ويل چې په زړونو کې ئې نه وو او الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چې دوی ئې پټوي.

دا مبارك آيتونه وايي: د احد د ماتې او د هغو تلفاتو پرېکړه الله کړې وه چې تاسو ته درورسېدل، املونه ئې تاسو په خپله برابر کړي وو، هر څه د الله د سننو مطابق واقع کېږي، الله غوښتل چې په دې ستري ابتلاء سره د واقعي مؤمنانو او منافقينو تر منځ تفکيك وشي، هغه منافقين راڅرګند شي چې نه د الله په لار کې جنګ ته تيار وو او نه له مدينې دفاع ته، د دوی پېژندنه ضروري وه، د دې لپاره چې په راتلونکي کې نه د الله په لار کې د جنګ په اړه په دوی حساب وکړئ او نه له مدينې د دفاع په اړه، تاسو په خپلو سترګو وليدل چې د جهاد او دفاع په اړه د منافقينو ځواب څه وو؟ انکار، خو دا انکار په داسي الفاظو سره چې د دوی په څېر دوه مخی دئ، په ظاهر کې ئې معنی يو څه او په حقيقت کې ئې معنی بل څه، په ظاهر کې د دوی د وينا معنی دا ده: که پوهېدی چې جنګ واقع کېږي نو حتماً مو ستاسو په څنګ کې برخه اخيسته، د دې الفاظو يوه بله توجيه هم شوې خو مخکينۍ ترې غوره او دقيقه ده او هغه دا چې: که موږ په جنګ پوهېدی نو زموږ مشورو ته به مو اعتناء کړې وه او د مدينې له داخله به مو د دښمن مقابله کړې وه، که داسي شوي وی موږ به هم ستاسو په څنګ کې وو. د دوی د الفاظو ظاهر ښه برېښي او ساده لوح کسان پرې غولولی شي، خو الله تعالی ته د دوی د زړونو هغه نفاق څرګند دئ چې دوی ئې پټوي.

هو؛ د جنګ حالت له اسلام او ايمان سره د يوه انسان د تړاو څرنګوالی جوتوي، کله چې په سختو او حساسو شرائطو کې او هغه مهال چې اسلام او اسلامي نهضت له ګواښونو او بريدونو سره مخامخ وي، د اسلام بقاء له مسلمانانو او مؤمنانو د قربانۍ او ايثار غوښتنه کوي، څوك چې په داسي وخت کې له اسلام د دفاع پر ځای د ځان په فکر کې وي، د عافيت ګوښه لټوي، د خپلې راتلونکې هم او غم پرېشانه کړی وي، اسلام او نهضت په معرکه کې يوازې پرېږدي، دې ته نه چمتو کېږي چې کوم ضرر او خطر قبول کړي او د کوم سنګر او مورچلي ساتنه وکړي، دا د ايمان دروغجن مدعيان له شك پرته هيڅ ايمان نه لري او د کفر او نفاق په ډنډ کې پرېوتي.

د شهادتونو او شهيدانو په اړه د دوی تبليغات داسي انځوروي:

﴿ٱلَّذِينَ قَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ وَقَعَدُواْ لَوۡ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُواْۗ قُلۡ فَٱدۡرَءُواْ عَنۡ أَنفُسِكُمُ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٦٨﴾ آل عمران

هغه چې خپلو ورونو ته ئې وويل؛ په داسې حال کې چې په خپله کښېنستلي وو: که ئې زموږ خبره منلې وی؛ نه به وژل کېدل، ورته ووايه: له خپله ځانه مرگ دفع کړئ که رښتيني يئ.

دا همغه منافقين دي چې په خپله ئې هم په جنگ کې برخه وانخيسته او نور ئې هم له برخې اخيستو منع کول او له جگړې وروسته ئې ويل: که دوی زموږ خبره منلې وی او په جگړې کې ئې له برخې اخيستو ډډه کړې وی، نو له دې مرگ ژوبلې سره به نه وو مخامخ شوي، دوی ته لنډ خو ډېر قاطع او خوله ماتوونکی ځواب ورکړی شوی: که په رښتيا ستاسو منافقانه تدبيرونه د چا د مرگ نېټه بدلولی شي نو لومړی د خپل مرگ چاره وکړئ!! که په خپلو منافقانه تدبيرونو سره د نورو د مرگ مخه نيولی شئ نو کوم داسې تدبير هم وکړئ چې ستاسو خپل مرگ د تل لپاره وځنډوي!!

دا په غرض او مرض اخته ډله هر څه ته د د نيايي گټې له زاويې گوري، که د کوم تصميم او اقدام لازمه له گواښونو او خطرونو سره مخامخېدا وي، د مالي او ځاني تلفاتو احتمال په کې وي، که څه هم دا اقدام د ايمان واضح تقاضا او يوه څرگنده منصوصې فريضه وي، ترې ډډه کوي؛ او پر دې راضي وي چې دا کار ئې نه دئ کړی، خو که په همدې اقدام کې مالي او مادي منافع او مطامع مضمر وي، نورو تر لاسه کړې وي او دی ترې محروم شوی وي، نو سخت حسرت او ندامت ئې ستونی نيسي او په هغه کار کې له برخې نه اخيستو پښېمان وي، لکه چې قرآن عظيم الشأن فرمايي:

﴿وَإِنَّ مِنكُمۡ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنۡ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَالَ قَدۡ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيَّ إِذۡ لَمۡ أَكُن مَّعَهُمۡ شَهِيدٗا ٧٢﴾ النساء

او يقيناً چې په تاسو کې ځيني هرو مرو لټې کوي، نو که کوم مصيبت درورسېږي وايي: واقعي چې الله پر ما هغه وخت فضل وکړ چې له دوی سره حاضر نه وم؛ او که د الله کوم فضل مو په برخه شي حتماً به داسې وينا کوي لکه چې ستاسو او د ده تر منځ هيڅ دوستي نه وي: ای کاش له دوی سره وی او لويه بريا مې په برخه شوې وی.

په بل ځای کې فرمايي:

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِيَ فِي ٱللَّهِ جَعَلَ فِتۡنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِۖ وَلَئِن جَآءَ نَصۡرٞ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمۡۚ أَوَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَعۡلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٠﴾ العنكبوت

او له خلکو ځيني داسي دي چې وايي: پر الله مو ايمان راوړی، خو کله چې د الله په اړه وځورول شي د خلکو فتنه داسي ګڼي لکه د الله عذاب؛ او که ستا د رب له لوري نصرت راشي حتماً وايي: يقيناً چې موږ له کوم شك پرته له تاسو سره وو، آيا الله په هغه څه ښه پوه نه دئ چې د عالميانو په سينو کې دي؟!! او الله به حتماً هغه معلوم کړي چې ايمان ئې راوړی او حتماً به منافقين معلوم کړي.

په دې مبارکو آيتونو کې ويل شوي:

● ځيني خلك د ايمان دعوی کوي او وايي: پر الله مو ايمان راوړی، خو کله چې د الله په اړه او د خپل ايمان له کبله د خلکو له لوري وځورول شي نو همدا د خلکو په لاس ځورونه داسي ګڼي لکه د الله تعالی عذاب. د دې فقرې په اړه مفسرينو بېل بېل تعبيرونه وړاندي کړي، ځينو ويلي چې د الله تعالی د عذاب له وېري ئې ايمان راوړی او د خلکو د عذاب له کبله ئې ايمان پرېښی او د کفر لوري ته اوښتی؛ او ګواکي همدا د خلکو عذاب د الله تعالی د عذاب په څېر ګڼل دي، ځينو ويلي د خلکو عذاب دومره ورته ستر برېښي لکه د الله عذاب!! غوره او دقيق تعبير دا دئ چې ځيني خلك هغو طبيعي آزموينو ته چې هر مؤمن د الله تعالی په لار کې ورسره مخامخ کېږي؛ د الهي عذاب په سترګه ګوري؛ او د هغو مؤمنانو په اړه چې له داسي آزموينو او ځورونو سره مخامخ شوي دا تبليغات کوي چې دوی حتماً د الهي عذاب مستحق ول او حتماً ئې داسي اشتباهات او غلطۍ کړې چې الله تعالی ترې ناراض شوی او له دغو مصيبتونو او عذابونو سره ئې مخامخ کړي. د خلکو له لوري د دوی ځورونو ته د الهي عذاب نوم ورکوي او په دې توګه د مظلومو مؤمنانو پر زخمونو مالګي دوړوي. ورپسې فقره د دې مزيد وضاحت کوي او د برياوو په وخت کې د مؤمنانو په اړه د دوی وينا داسي انځوروي:

● او که ستا د رب له لوري نصرت راشي نو بيا په ډېر تأکيد سره وايي: يقيناً چې موږ له کوم شك پرته له تاسو سره وو!! يعني د مصيبتونو، هزيمتونو او ځورونو په وخت کې د مؤمنانو په ضد غلط او ظالمانه تبليغات کوي؛ او دوی ګرم او ملامت ګڼي، خو د برياوو په وخت کې ځان د دوی خواخوږی، ملګری او همسنګر معرفي کوي!!

● دوی ته ويل شوي چې تاسو په دې منافقانه دريځونو سره يوازي خپل ځان غولوئ، هيڅ څه مو له الله تعالی پټ نه دي، ستاسو او د هر چا د سينو له اسرارو خبر دئ، الله تعالی به حتماً داسي حالت راولي چې په ترڅ کې ئې هم واقعي مؤمنان جوت شي او هم مکار او حيله ګر منافقين. له ستونزو او کړاوونو سره د مؤمنانو د مخامخ کولو يوه لويه موخه دا ده چې واقعي مؤمنان او دوه مخي چالاك منافقين جوت او سره تفکيك شي.

له جهاد د دې ډلي امتناع د عدم استطاعت له کبله نه ده بلکي له استطاعت او استعداد سره سره ډډه کوي، لکه چې قرآن فرمايي:

وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ أَنۡ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ﴿٨٦﴾ التوبه

او کله چې کومه داسې سوره نازله شي چې (وايي) په الله ایمان راوړئ او د ده له پیغمبر سره یوځای جهاد وکړئ؛ نو د دوی وسې او توانمن به اجازه درنه غواړي او وايي به: موږ پرېږده چې له ناستو سره وو.

کله چې داسې سوره نازله شي چې د الله تعالی په لار کې د جهاد حکم کوي، يعنې د جهاد وخت راورسېږي، حالت د دې تقاضا وکړي چې مسلمانان جهاد ته ملا وتړي، هر پر دين پوه مؤمن ته دا جوته شي چې اوس نو د دين غوښتنه دا ده چې وسلې ته لاس کړو او د الله تعالی په لار کې وجنګېږو، نو د منافقينو شتمن او توانمن به وګورې چې غواړي په جهاد کې له برخې اخيستو معاف شي، په دې راضي کېږي چې د هغو ښځو په څېر وروسته پاته شي چې له جهاد معافې دي، د مېړنو مجاهدينو په څېر جهاد ته ملا نه تړي، بلکې دا پېغور منې چې د وروسته پاته ښځو په قطار کې محسوب شي، د دې بې همتۍ او منافقت وجه دا ده چې د منافقتونو په سبب ئې پر زړونو مهر لګول شوی او پر حقيقت له پوهېدا عاجز دي. معيارونه ئې بدل شوي، دوی سره له دې چې شتمن او توانمن دي په جهاد کې برخه نه اخلي او همدا د بې همتۍ کار ته د پوهې او زيرکتيا نوم ورکوي، دا ځکه چې د دوی معيارونه بدل شوي او دا ځکه چې د قرآن د معيارونو له مخې دوی هوښيار او پوه نه بلکې کمعقله دي او نه پوهېږي.

قرآن فرمايي:

فَرِحَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلۡحَرِّۗ قُلۡ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوۡ كَانُواْ يَفۡقَهُونَ ﴿٨١﴾ التوبه

شا ته پرېښودل شوي (وګړي) د الله د رسول په خلاف په خپلې ناستې خوشحال شول او له دې ئې کرکه وکړه چې د الله په لار کې په خپل مال او ځان سره جهاد وکړي او وئې ويل: په ګرمۍ کې مه وځئ، (ورته) ووايه: د دوزخ اور تر ټولو زيات ګرم دئ؛ کاش دوی پوهېدی.

همدا راز فرمايي:

لَوۡ كَانَ عَرَضٗا قَرِيبٗا وَسَفَرٗا قَاصِدٗا لَّٱتَّبَعُوكَ وَلَٰكِنۢ بَعُدَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلشُّقَّةُۚ وَسَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسۡتَطَعۡنَا لَخَرَجۡنَا مَعَكُمۡ يُهۡلِكُونَ أَنفُسَهُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّهُمۡ

لَكَٰذِبُونَ ﴿٤٢﴾ التوبه

که نژدې متاع او لنډ سفر وی نو هرومرو به تا پسې درتلل خو واټن ورته لرې وبرېښېدو، ژر ده چې د الله په نامه به لوړه کوي چې که توانېدلی حتماً درسره وتلو، خپل ځان هلاکوي؛ او الله پوهېږي چې يقناً دوی دروغجن دي.

دا آيت د نيمې لارې ملګرو په اړه دئ، هغه کسان راښيي چې که مزل نژدې، سفر لنډ او خپلو موخو او اغراضو ته ژر رسېدل وي نو ستا ملګرتيا کوي، خو که مزل لرې، سفر اوږد؛ او مقصد ته رسېدل ګران وبرېښي؛ له ملګرتيا لاس اخلي او تا يوازې پرېږدي، په خپلې اشتباه اعتراف هم نه کوي بلکې د الله په نامه قسمونه کوي او وايي: کمزورې، بې وسي او ناتواني باعث شوه چې ملګرتيا په نيمايي کې پرېږدو او تر آخري منزل تګ ونه شو کړی!! خو الله تعالی فرمايي چې دوی دروغجن دي، مالي او جسمي ناتواني له ملګرتيا نه دي محروم کړي بلکې عدم صداقت او د اخلاص ضعف او د ايمان کمزورتيا منع کړي. دوی د نيمې لارې او آسان سفر ملګري ول، په دې موخه له تا سره يوځای شوي وو چې ډېر ژر به ډېر څه په لاس ورځي: غنيمت، دولت، شهرت، نوم، کرسۍ؛ او ډېر نور څه چې ستا په ملګرتيا کې ئې ترسترګو کېدل. دوی له جهاد په پاته کېدو او دروغجنو قسمونو سره ځان هلاکوي.

منافقين په جهاد کې شرکت او له ګواښونو او خطرونو سره ډغرې وهل د هلاکت سبب ګڼي خو قرآن د البقرة سورې په ١٩٥کې مؤمنانو ته وايي:

وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ وَأَحۡسِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٩٥﴾ البقرة

او د الله په لار کې انفاق وکړئ او په خپل لاس ځان په هلاکت کې مه اچوئ او احسان وکړئ چې الله محسنين خوښوي.

په يويشتم آيت کې د منافقينو په اړه ويل شوي: که دوی اطاعت کړی وی، وينا ئې سمه وی او د جهاد په ارتباط له پرېکړې وروسته ئې له الله سره په خپلو ژمنو صادقانه عمل کړی وی، نو همدا ورته غوره وو. په دې سره د مؤمنانو وجائب او مسئوليتونه په داسې توګه بيان شوي چې په ضمن کې ئې د منافقانو د ښه پېژندو څو نښې هم زموږ په وړاندې ږدي؛ په دې شرح:

الف: له دوی د ايمان غوښتنه دا وه چې د الله تعالی او د هغه د رسول د اوامرو او لارښوونو او د مشرتابه د پرېکړو په وړاندې ئې اطاعت کړی وی، مقررات ئې مراعاتولی، ضوابط او حدودو ته ئې التزام درلودی، له خپل سرۍ ئې ډډه کولی، دا ځکه چې ديانت او ايمان يوازې يوه مجرده نظريه نه ده چې يوازې د باور او اعتقاد غوښتنه کوي او بس، بلکې دين د باور او اعتقاد تر څنګ د اطاعت غوښتنه کوي، دين د هغو لارښوونو مجموعه ده

چي مؤمن انسان به ئې په رڼا کې درومي او د ژوند په ټولو چارو کې به عمل پرې کوي، د دين دغه خصوصيت او ځانګړتيا ته په پام سره ده چي هر پيغمبر خپل امت د توحيد او خدای پالني په لوري د دعوت تر څنګ عملي اطاعت ته بللی، لکه چي قرآن د عيسی عليه السلام وينا او دعوت ته اشاره کوي او فرمايي:

وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ ٱلَّذِى حُرِّمَ عَلَيْكُمْ ۚ وَجِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾ آل عمران

او د هغه تورات تصديقوونکی چي تر ما وړاندي وو او چي ځيني هغه شيان درته حلال کړم چي پر تاسو حرام کړی شوي او ستاسو د رب له لوري مي څرګنده نښه درته راوړې، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

د نوح عليه السلام په اړه فرمايي:

إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ الشعراء

زه درته امين استازی يم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

د صالح عليه السلام په اړه فرمايي:

فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيعُوٓا۟ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ الشعراء

زه درته امين استازی يم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

په عامه توګه د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام په اړه فرمايي:

وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُوا۟ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿٦٤﴾ النساء

او هيڅ پيغمبر مو له دې پرته د بل څه لپاره نه دئ لېږلی چي د الله په حکم سره ئې اطاعت وشي او که دوی هغه وخت درته راغلي وی چي پر خپل ځان ئې ظلم کړی وو، بيا ئې له الله مغفرت غوښتی وی او پيغمبر هم ورته بخښنه غوښتې وی، نو الله به ئې مهربان توبه منونکی موندلی وو.

د مؤمنانو وينا داسي بيانوي:

... وَقَالُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾ البقرة

... او وئې ويل: واموورېدل او اطاعت مو وکړ، ستا غفران او بخښنه اې زموږ ربه! او ستا په لور درتګ دئ.

ګورئ چي په ايمان کې صادق مؤمن له تعلل او ځنډ پرته اطاعت کوي، که د احکامو په تعميل او د لارښوونو په پلي کولو کې په غيرعمدي توګه اشتباه وکړي او له کافي اهتمام او

توجه سره سره د کوم قصور مرتکب شي نو د جبران لپاره کوي او له خپل بخښونکي رب بخښنه غواړي. خو منافق داسي وي چي ظاهر ئې د مطيع او منقاد فرد په څېر وي، د اطاعت ژمنه کوي، خو په خفاء کې او د خپلو همرازو ملګرو په غونډي کې د يوه داسي عصيانګر او ياغي په توګه راڅرګند شي لکه چي نه له مسلمانانو سره کوم تعهد لري او نه کوم تړاو، داسي څه وايي چي حتى دښمن ئې له ويلو ډډه کوي، قرآن کريم فرمايي:

وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُواْ مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ ٱلَّذِى تَقُولُ وَٱللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾ النساء

او وايي: اطاعت (کوو)، خو کله چي ستا لخوا بهر ووځي نو يوه ډله ئې په شپه کې د هغه څه خلاف مرکې کوي چي دلته ئې وايي او الله د دوی دا د شپې مرکې ليکي، نو له دوی مخ واړوه او پر الله توکل وکړه او الله د وکيل په توګه کافي دئ.

منافقينو به د پيغمبر عليه السلام په وړاندي د ايمان او اطاعت دعوی کوله، خو له خپلو ملګرو سره به ئې د شپې په غونډو کې د خپلي مخکينۍ وينا خلاف نور څه ويل، دلته د دوستۍ خبره او هلته د دښمنۍ، دلته د اطاعت او هلته د بغاوت، دلته د اخلاص او هلته د نفاق، هر څوك چي مخامخ يو څه وايي او تر شا بل څه؛ هغه منافق دئ.

په بل ځای کې فرمايي:

وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ قُل لَّا تُقْسِمُواْ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٥٣﴾ النور

په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چي که امر ورته وکړې نو حتماً به (د جهاد لپاره) ووځي، ووايه: لوړه مه کوئ، پېژندل شوی اطاعت دئ (ستاسو دنده)، يقيناً چي الله په هغه څه ښه پوهېږي چي تاسو ئې کوئ.

مؤمنان پر دې هم مکلف شوي چي وينا به ئې روغه او سمه وي او له غلطو، ناوړو او فساد پاروونکو ويناوو به ډډه کوي، معروف قول: روغه وينا د هر مؤمن يوه ديني وجيبه ده، تاسو د وينا له مخي کولی شئ يو مؤمن له يوه منافق تفکيك کړئ. قرآن په دې اړه فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٧٠﴾ الاحزاب

اې هغو چي ايمان ئې راوړی! د الله پروا وکړئ او په صفا او سمي وينا سره وينا کوئ.

او د منافقينو په اړه فرمايي:

قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ وَٱلْقَآئِلِينَ لِإِخْوَٰنِهِمْ هَلُمَّ إِلَيْنَا وَلَا يَأْتُونَ ٱلْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾ الاحزاب

بې شکه چې الله ستاسو خندۍ کېدونکي وګرځي او هغه ښه پېژندلي چې خپلو ورونو ته (د دې وینا) ویوونکي وو: زموږ لوري ته راشئ په داسي حال کي چې په جګړي کي برخه نه اخلي مګر ډېر لږ، پر تاسو (د هري ښېګڼي) په اړه بخل کوونکي، کله چې د وېري حالت راشي نو دوی به ووينې چې ستا په لوري به داسي ګوري چې سترګی به ئې رغړي، د هغه چا په څېر چې د مرګ (د وېري او هيبت) له کبله بې سده شوی، خو کله چې وېره (او د خوف حالت) له منځه ولاړ شي له تاسو سره به په تېرو ژبو مخامخ کېږي، د مال ډېر حرص لرونکي، دوی ايمان نه دئ راوړی، نو الله د دوی عملونه حبط کړل او دا کار الله ته آسان دئ.

فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ أَن تُفْسِدُواْ فِي ٱلْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾

٢٢- نو آيا دې ته نژدې يئ چې که (د چارو) متولي شئ په زمکي کي به فسادونه کوئ او د خپلوۍ اړيکي به شلوئ؟!

(٢٢)- د دې مبارك آيت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

د (تولی) صيغه کله د شا اړولو او اعراض په معنی راځي او کله د ولايت او د چارو د متولي کېدو په معنی، مضمون ته په پام سره د دې صيغې معنی جوته کېږي، دلته په مخکينيو آيتونو کي د هغو منافقينو په اړه بحث شوی چې د جهاد تر فرض کېدو وړاندي ئې ويل: ولي دا اجازه نه راکول کېږي چې د دښمن په خلاف وسلې ته لاس کړو! خو کله چي جهاد فرض کړی شو د دوی د دروغجنو ادعاګانو حقيقت جوت شو، سنګر ته تګ ئې داسي ګڼلو لکه د مرګ کومي ته تګ!! په همدې ارتباط دلته ويل شوي چې که تاسو له جهاد پرته له کومي بلي لندې لاري قدرت تر لاسه کړئ او د خلکو د چارو متولي شئ نو له دې پرته بله هيله نه شي کېدی چې په زمکي کي به فسادونه کوئ او د خپلوۍ اړيکي به شلوئ؟! يعني چا چې د سنګر سختي ورځي نه وي ليدلې، د مبارزې په لوړو ژورو او کړلېچونو کي نه وي روزل شوی، د بريا ډالۍ ئې د ستونزو او کړاوونو له ګاللو وروسته نه وي تر لاسه کړې، بلکي وړيا ئې تر لاسه کړې وي، له لنډې لاري او په آسانۍ سره قدرت ته رسېدلی او د خلکو د چارو متولي شوی وي، تاريخي تجربو ښودلې چې داسي خلك له يوې خوا مفسد واکمنان جوړ شوي او له بلي خوا قسي القلب او بې رحم چارواکي، نه ئې د مبارزې لاسته راوړنو ته څه ارزښت او اهميت ورکړی او د هغوی ساتني ته ئې اعتناء کړې، نه ئې له اقتدار او صلاحيتونو د استفادې په څرنګوالي کي احتياط او دقت کړی او نه ئې خلکو ته اهميت ورکړی او د زړه سوي او ترحم له مخي ئې له هغوی سره چلن کړی.

الله تعالی د دې مبارك آيت په ترڅ کي لارښوونه کوي چې له هغه چا د يوه صالح چارواکي او د خلکو د چارو د زړه سواند متولي طمع نه شي کېدی چې د جهاد په لوړو

ژورو کې نه وي روزل شوی، هغه طبيعي پړاوونه ئې نه وي پلي کړي چې يو نهضت ئې بري ته د رسېدو په لار کې بايد پلي کړي، د مبارزې ستونزې ئې نه وي گاللې، د پېښو په ترڅ کې نه وي تربيه شوی او ضروري تجارب ئې نه وي په برخه شوي؛ نه شي کولی د يوه صالح او زړه سواند واکمن په توگه عمل وکړي، دا آسان دئ چې سياسي قدرت له يوه لاس بل ته انتقال شي خو د يوه نهضت د مبارزې سخت او ستونزمن پړاو هغه مهال پيل کېږي چې قدرت تر لاسه کړي خو د خپلو اهدافو د پلي کولو لپاره مستعد او روزل شوي غړي ونه لري، د مستعدو او صالح افرادو د روزلو اصلي او اساسي مرحله تر انقلاب او بري وړاندې مرحله ده، له بري وروسته که څه هم وسائل او ذرائع تر وړاندې زيات او امکانات پراخ شي خو د ټولنې د اصلاح او رغونې کار د هغو بنسټونو او شخصيتونو له لارې تر سره کېږي چې تر انقلاب وړاندې تعبيه شوي، له دې پرته که د ټولنې اصلاح او رغونه محال نه وي نو يقيناً چې گران کار دئ.

قرآن کريم په دې اړه فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُفۡسِدَ فِيهَا وَيُهۡلِكَ ٱلۡحَرۡثَ وَٱلنَّسۡلَۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتۡهُ ٱلۡعِزَّةُ بِٱلۡإِثۡمِۚ فَحَسۡبُهُۥ جَهَنَّمُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾ البقرة

او له خلکو ځيني داسي دي چې د دنيا په اړه د ده وينا دي حيرانوي او په هغه څه الله شاهد نيسي چې په زړه کې ئې دي، په داسي حال کې چې دی ترټولو کلك دښمن دئ. خو کله چې متولي شي نو په زمکه کې د دې هڅه کوي چې فساد په کې خور کړي او فصل او نسل تباه کړي او الله خو فساد نه خوښوي. او چې ورته وويل شي: له خدايه ووېرېږه! عزت النفس ئې گناه ته وپاروي، نو جهنم ورته کافي دئ او څومره بد ټاټوبی!

دلته د منافقينو هغه ډله معرفي شوې چې ظاهر ئې د دوست، وينا ئې حيرانوونکې، د دنيوي چارو په اړه وينا ئې ډېره جالبه او جاذبه، خو په حقيقت کې تر بل هر دښمن خطرناك او کينه کښ، له مسلمانانو سره د مخامخ کېدو په وخت کې ځان د دوی له ډلې ښيي، قسمونه خوري چې په زړه کې ئې پوخ ايمان دئ او له مسلمانانو سره کلکه مينه، خو کله چې قدرت په لاس ورشي او د خلکو د چارو متولي شي، نو بيا ئې ټوله هڅه دا وي چې فساد خور کړي، د جگړو اور ته لمن ووهي، کافران پر مسلمانانو بريد ته وهڅوي او د وينو تويولو او د فصلونو د تباهۍ باعث شي، دوی الله د خپل زړه په حال شاهد نيسي حال دا چې د دوی زړونه له فساد ډك دي او الله فساد نه خوښوي. کله چې د دوی پر کړنو انتقاد وشي او دا ورته وويل شي چې له گناه لاس واخله او له الله ووېرېږه، نو دا

انتقاد پر خپل عزت تېرى ګڼي، له خپلي ګناه دفاع کوي او مزيد ګناهونو ته هڅول کېږي. له دې مبارك آيت معلومېږي چي د نصيحت په مقابل کې حساسيت ښودل او سالم انتقاد په خپل عزت تېرى ګڼل د نفاق نښه ده.

دوى ځان ته مصلح وايي خو په حقيقت کې مفسدين دي، لکه چي قرآن فرمايي:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُواْ فِي ٱلْأَرْضِ قَالُوٓاْ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ﴿١٢﴾ البقرة

او کله چي ورته وويل شي: په زمکي کې فساد او تباهي مه کوئ، وايي: موږ خو په يقين سره مصلحين يو. پام چي همدا دوى مفسدين دي خو نه پوهېږي.

الله تعالى د دوى برخليك داسي ګڼي:

ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي ٱلْأَرْضِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٢٧﴾ البقرة

هغه (فاسقان) چي الهي ژمني له ټينګولو وروسته ماتوي او هغه څه غوڅوي چي الله ئې د وصلولو امر کړى او په زمکه کې فساد کوي، همدا دوى خاسر او تباه شوي دي.

د ٢٢ آيت د (تولى) لفظ نورو معانيو ته په پام سره دا آيت دوه نور تعبيرونه هم لري، په دې توګه:

الف: که د الله په لار کې له قتال ډډه وکړئ ستاسو دا اعراض به په دې حالت منتج شي چي مفسد، قسي القلب او بې رحم وګړي لازيات جري او جسور شي، د فساد لمن خوره شي؛ او په ټولني کې د صلح، امنيت، رأفت او رحمت ټغر ټول شي.

ب: که د ايمان له لاري په شا شئ نو بېرته به د کفر هغه مخکيني سپېره حالت ته ستانه شئ چي فساد او قساوت ئې ځانګړتياوي وې، د هغه حالت په اړه قرآن فرمايي:

ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِي ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾ الروم

د هغه څه له کبله چي د خلکو لاسونو حاصل کړي په وچه او سمندر کې فساد راڅرګند شو، د دې لپاره چي دوى ته د ځينو هغو عملونو خوند وروڅکو چي دوى کړي؛ په دې هيله چي راوګرځي.

---

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰٓ أَبْصَٰرَهُمْ ﴿٢٣﴾

٢٣- دوى همغه دي چي الله لعنت کړي او له کبله ئې کاڼه کړي او سترګي ئې ورړندې کړې.

(۲۳)- دا مبارك آيت وايي: هغه چې له ايمان وروسته د نفاق لوري ته ښويېږي؛ په ځانګړې توګه ځوك چې اقتدار ته له رسېدو وروسته د ايمان له تګلاري منحرف کېږي؛ الله تعالی دا خلك د لعنت وړ ګڼي، په الهي لعنت له اخته کېدو وروسته د حقائقو له درك داسې عاجز او محروم شي چې نه د نورو پند او نصيحت پرې څه اغېز کوي او نه داسې بصيرت ورته پاته کېږي چې په خپله سمه لار تشخيص او د حق لوري ته راوګرځي، داسې لکه چې پر سترګو او غوږونو ئې پرده غوړېدلې وي، ورو ورو له سمې لارې دومره کاږه ولاړ شي چې د بېرته ستنېدو امکان ئې له منځه ولاړ شي، لکه چې قرآن فرمايي:

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَمَن يَلۡعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾ النساء

دوی همغه دي چې الله رټلي دي او الله چې ځوك ورټي نو هيڅ ملاتړی به ورته ونه مومې.

په بل ځای کې فرمايي:

كَيۡفَ يَهۡدِي ٱللَّهُ قَوۡمٗا كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ وَشَهِدُوٓاْ أَنَّ ٱلرَّسُولَ حَقّٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٦﴾ أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمۡ أَنَّ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةَ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴿٨٧﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٨٨﴾ آل عمران

څنګه به الله هغه قوم هدايت کړي چې له خپل ايمان وروسته کافران شول، په داسې حال کې چې د پيغمبر د حقانيت شاهد ول او څرګندې نښې ورته راغلې وې او الله داسې ظالم قوم نه هدايت کوي. د دوی سزا دا ده چې د الله، ملائکو او ټولو خلکو لعنت به پرې ورېږي. په هغه کې تلپاتي، نه به عذاب ترې سپك کړی شي او نه به مهلت ورکړی شي.

همدا راز فرمايي:

وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٢٥﴾ الرعد

او هغه چې د الله عهد له هغه وروسته ماتوي چې ژمنه ئې پرې کړې او هغه څه قطع کوي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او په زمکې کې فساد کوي، دوی ته لعنت دئ او دوی ته بد ټاټوبی دئ.

قرآن وايي: د ځينو انحراف له دې کبله وي چې ګمان کوي د ايمان په لار کې به آزمويني نه وي او هغه به په الهي عذاب نه اخته کېږي چې په دې آزموينو کې ماته وخوري، لکه چې فرمايي:

وَحَسِبُوٓاْ أَلَّا تَكُونَ فِتۡنَةٞ فَعَمُواْ وَصَمُّواْ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ ثُمَّ عَمُواْ وَصَمُّواْ كَثِيرٞ مِّنۡهُمۡۚ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ﴿٧١﴾ المائده

او دا گمان ئې وکړ چې څه عذاب (یا آزموینه) به نه وي، نو ړانده او کاڼه شول، بیا الله پرې ورحمېدو، خو بیا ئې ډېر ړانده او کاڼه شول او الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې دوی ئې کوي.

په بل ځای کې د دوی حالت داسې انځوروي:

مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ ٱلَّذِي ٱسۡتَوۡقَدَ نَارٗا فَلَمَّآ أَضَآءَتۡ مَا حَوۡلَهُۥ ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمۡ وَتَرَكَهُمۡ فِي ظُلُمَٰتٖ لَّا يُبۡصِرُونَ ﴿١٧﴾ صُمُّۢ بُكۡمٌ عُمۡيٞ فَهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴿١٨﴾ البقرة

مثال ئې د هغه چا مثال ته ورته دئ چې اور ئې بل کړ، خو چې کله ئې د ده ماحول روښانه کړ؛ الله د دوی (د بصیرت) نور ختم کړ او په داسې تیارو کې ئې پرېښودل چې څه نه ویني. کاڼه، گونگیان او ړانده، نو بېرته راگرځېدی نه شي.

دوی داسې دي چې رڼا وگوري خو خپل حالت ئې داسې دئ چې له رڼا د گټې اخیستو پر ځای د سترگو مخکینی نور هم له لاسه ورکړي، الله تعالی د دوی د سترگو نور ختم کړي، دا د الله سنت دئ چې بیماري سترگې د رڼا په لیدو سره خپل نور له لاسه ورکړي. خو داسې ړانده دي چې د بل خبره هم نه اوري، له بله د لارې په اړه د پوښتنې ژبه هم نه لري.

---

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ أَمۡ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقۡفَالُهَآ ﴿٢٤﴾

٢٤- نو آیا په قرآن کې تدبر نه کوي یا ئې پر زړونو خپل کلپونه دي.

---

(٢٤)ـ دلته د منافقینو د مخکیني چلن د عواملو په اړه دوه احتماله وړاندې شوي: په قرآن کې عدم تدبر او د هدایت په وړاندې د دوی د زړونو د دړې بندېدل، یعني یا خو د قرآن په هغه الهي کتاب کې له تدبر محروم شوي چې دوی د ایمان ادعاء پرې لري؛ او یا ئې د بیمارو زړونو دروازې د دې الهي کتاب د معارفو په وړاندې تړل شوې.

## الف- په قرآن کې عدم تدبر

د قرآن له لارښوونو بې خبرې، د ایماني مسئولیتونو په اړه ناقص او نیمگړی معرفت، د هغې لارې له لوړو ژورو او کړلیچونو بې خبرې چې د الله تعالی په لورې درومې، د اسلامي نهضت د تگلارې او د هغې د مقتضیاتو په اړه جهل؛ او د کفر او ایمان تر منځ وروستۍ پوله او فاصل حد نه پېژندا د دې باعث شوي چې دا ډله د خپلې تگلارې او

دريځونو په ټاکلو او د وسائلو په غوراوي کې د خبط او خطأ مرتکب شي او په هرګام کې د نفاق داعي ته لبيك ووايي.

دا موضوع د رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه حديث کې په دې توګه راغلې:

عن ابن مسعود رضى الله عنه: قال: إِنَّ رسولَ الله صلى الله عليه و سلم قال: « ضَرَبَ اللهُ مَثلاً صراطًا مُستقيمًا، وعن جَنَبتى الصِّراط سورانِ فيهما أَبْوابٌ مُفَتَّحةٌ، وعلى الأَبْوابِ ستُورٌ مُرْخَاةٌ، وعندَ رَأْسِ الصِّراطِ داعٍ يقول: استقيموا على الصراط ولا تَعْوَجُّوا، وفوقَ ذلك داعٍ يَدْعو كُلَّما همَّ عَبْدٌ أَنْ يَفْتَحَ شيئًا من تلك الأَبواب، قال: ويْحَكَ، لا تفْتَحْهُ، فإِنك إِن تفتحه تَلِجْهُ. ثم فسَّره فأَخبر: أَنَّ الصّراط: هو الإِسلام، وأَن الأبواب المفتَّحة، محارمُ الله، وأَنَّ السُّتورَ المُرْخاةَ: حُدودُ الله، والدَّاعى على رَأْسِ الصراطِ: هو القُرآنُ، وأَنَّ الدَّاعِى منْ فوقِهِ: هو واعظُ الله فى قلْبِ كُلِّ مؤمنٍ ». مسند احمد

له ابن مسعود رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: الله تعالى د مستقيمي لاري مثال داسي بيان کړی چي په دواړو کنارو کې ئې دېوالونه دي، چي په هغوی کې خلاصي دروازې دي او پردې پرې راځړېدلې دي، د لاري پر سر يو داعي دئ چي په لوړ غږ وايي: په دې لاري مخامخ او سيده ولاړ شئ او يوه بل لوري ته مه کاږه کېږئ؛ او تر هغه بر بل داعي دئ چي ټولو ته بلنه ورکوي، کله چي يو بنده د کومي دروازې د پرانيستلو اراده وکړي ورته وايي: افسوس ستا پر حال، دروازه مه پرانيزه که نه نو ورداخل به شې (له لاري به منحرف شې)، بيا ئې هغه داسي تفسير کړ او وئې ويل: مستقيمه لار د اسلام لار ده، دروازې محارم (هغه څه چي الله تعالى تحريم کړي) دي، ځوړندي پردې الهي حدود دي، د لاري پر سر داعي قرآن دئ؛ او هغه لوړ داعي هغه الهي او فطري واعظ دئ چي د هر مؤمن په زړه کې ايښودل شوی.

هو؛ ځوك چي د دې لارښود داعي بلنه وانه وري او لارښوونه ئې د لاري په اوږدو کې ونه کاروي حتماً به له ډېرو دروازو کومه يوه پرانيزي او له سمي لاري به منحرف کېږي.

الله تعالى د قرآن په اړه فرمايي:

إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿٩﴾ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٠﴾ الإسراء

يقيناً چي دا قرآن هغه څه ته لارښوونه کوي چي تر ټولو سمه او سيده ده؛ او هغو مؤمنانو ته زېری ورکوي چي نېك عملونه کوي، (دا زېری) چي ستر اجر به ئې په برخه شي.

او دا چې هغو ته دردناك عذاب دئ چې پر آخرت ایمان نه راوړي.

د قرآن له لارښوونو د بې خبرۍ له کبله ده چې ځيني تلوار کوي او له خپل وخت وړاندي برى غواړي، لکه چې قرآن فرمايي:

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِكُم ۖ مَّسَّتْهُمُ ٱلْبَأْسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوا۟ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصْرُ ٱللَّهِ ۗ أَلَآ إِنَّ نَصْرَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ ﴿٢١٤﴾ البقرة

آيا داسي مو انګېرلې چې جنت ته به داخل شئ حال دا چې لاتراوسه پر تاسو هغو کسانو ته ورته حالت نه دئ راغلى چې ترتاسو مخکې تېر شوي؛ ستونزي او کړاوونه وروررسېدل او ولړزول شول، هومره چې پيغمبر او د ده په خوا کې مؤمنانو به ويل: دالله نصرت او مرسته به کله راځي؟ خبردار چې د الله مرسته نژدې ده.

له دې آيت په ډېر صراحت سره دا خبره معلومېږي چې د ايمان لار له آزموينو او ابتلاءاتو ډکه لار ده، جنت ته د رسېدو او پر دښمن د بريا تر لاسه کولو طمع، يوازي په هغه صورت کې پر ځاى طمع ده چې له ابتلاءاتو بريالى تېر شې او له دې مخکې داسي طمع هسي يو اټکل، ګمان او هيله ده.

همدا راز فرمايي:

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَـٰهَدُوا۟ مِنكُمْ وَيَعْلَمَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿١٤٢﴾ آل عمران

آيا داسي مو انګېرلې چې جنت ته به له هغه د مخه داخل شئ چې لا الله نه ستاسو مجاهدين معلوم کړي او نه ئې صابران معلوم کړي؟!!

په بل ځاى کې فرمايي:

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تُتْرَكُوا۟ وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَـٰهَدُوا۟ مِنكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾ التوبه

آيا ګمان مو کړى چې همداسي به پرېښودل شئ، حال دا چې تراوسه الله ستاسو هغه کسان نه دي معلوم کړي چې جهاد ئې کړى او له الله او د ده له رسول او مؤمنانو پرته ئې د اسرارو بل محرم ځانته نه دئ غوره کړى. او الله ستاسو له کړو وړو ښه خبر دئ.

يعني تر هغه چې الله جل شأنه د مؤمنانو په ډلي کې دغه کسان نه وي تفکيك کړي، مجاهدين ئې نه وي معلوم کړي او هغه ئې نه وي ښېل کړي چې له الله تعالى، د هغه له پيغمبر او له مؤمنانو پرته بل څوك د پټ دوست په توګه نه نيسي، ګمان مه کوئ چې الله جل شأنه به تاسو همدغسي خپلي مخي ته پرېږدي او له ابتلاءاتو او آزموينو سره به مو

مخامخ نه کړي!!

## ب ـ مسخ شوی زړه

د منافقانه مواقفو بله وجه مسخ شوی زړه دئ، هغه سپېره او بې احساس ضمیر چي د سپېڅلي ملکات او محرکات په کي ځپل شوي، د شرارتونو، تفتین، بدکاریو او خدعو د تکرار له کبله د دوی زړونه داسي تور شوي چي د (حق) او (هدایت) لپاره په هغه کي هیڅ ځای نه دئ پاته، د زړه صفحه ئې داسي زنګ وهلې ده چي هیڅ صیقل ئې نه شي صفا کولی.

لکه چي قرآن فرمایي:

فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُۥ بِمَآ أَخْلَفُواْ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُواْ يَكْذِبُونَ ﴿٧٧﴾ التوبه

نو په پایله کي ئې داسي نفاق ورپه برخه کړ چي تر هغي ورځي به د دوی په زړونو کي وي چي ورسره مخامخ شي، له دې امله چي له الله سره ئې په کړو ژمنو کي مخالفت وکړ او له دې امله چي دروغ ئې ویل.

په بل ځای فرمایي:

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ لَعَنَّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً ۖ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَنَسُواْ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱصْفَحْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾ المائدة

نو د خپلو ژمنو د ماتولو له کبله مو ورټل او د دوی زړونه مو سخت کړل، کلمې له خپل خپل ځایه کږوي او له هغه څه ئې برخمن کېدل هېر کړل چي پند پرې ورکول کېدو او تل به د دوی له یوه او بل خیانت خبرېږې، مګر لږ ئې، نو ترې تېر شه او مخ ترې واړوه، بې شکه چي الله داسي محسنین خوښوي.

په بل ځای کي د همدې بیمارزړو وینا داسي راوړي:

يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُۥٓ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٥﴾ السجدة

او وئې ویل: زموږ زړونه د هغه څه په وړاندي په پردو کي دي چي ته مو وربلې او په غوږونو کي مو درونداوالی دئ او زموږ او ستا تر منځ ځانګړی حجاب دئ نو ته (خپل) کار کوه چي موږ ئې هم کوونکي یو.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرۡتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِم مِّنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَى ٱلشَّيۡطَٰنُ سَوَّلَ لَهُمۡ وَأَمۡلَىٰ لَهُمۡ ﴿٢٥﴾

۲۵- يقيناً هغه چي پر خپلو شاګانو واوښتل له هغه وروسته چي هدايت ورته څرګند شو؛ شيطان دا ورته سينګار کړی او هيلي ئې ورته تلقين کړې.

(۲۵)ـ دلته د دې ډلي د ارتداد لپاره دوه دلائل وړاندي شوي:

- شيطان د دوی منافقانه وضع ورته ښايسته کړې.
- د خپلي منافقانه تګلاري د پايلو په اړه ئې د دوی په زړونو کي هيلي راټوکولې.
- نامرئي شيطان او د انسان په څېرې کي شيطان چي په ګډه د خلکو د اضلال او ازلال په کار بوخت وي هڅه کوي منافقين له ايمان ارتداد ته او له صف انشعاب ته وهڅوي، دواړه شيطانان يو بل ته لاس ورکوي، منافقين په منافقانه مواقفو او دريځونو تأييدوي، د دوی ارتدادي او انشعابي کړني ورته سمي او صحيح انځوروي، مزيد ارتداد او انشعاب ته ئې تشويقوي، هغه ورته ښکلی برېښوي، د هغه په ګټه توجيهات او مبررات تعبيه کوي، ورته وايي چي ارتداد او انشعاب ئې ډېري ګټي لري، د نفاق راتلونکی ورته ځلانده او نتائج ئې مثبت ښيي، د منافقانه دريځونو پايلو ته ئې هيله من کوي، همدا سبب دئ چي دوی منافقت، دروغ، خدعې، دوکې، مکر، له ژمنو تر شا کېدل او نورو منافقانه خصلتونو ته په بده سترګه نه ګوري او کرکجن ئې نه ګڼي، بلکي له صداقت او اخلاص کرکه لري او هغه څوك سفيه او جاهل ګڼي چي د سپېڅلو اهدافو په لار کي قربانۍ ته چمتو وي، پر خپلو ژمنو ودرېږي او اخلاص او صداقت لري.

قرآن کريم په دې اړه فرمايي:

يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢٠﴾ النساء

وعدې ورسره کوي او هيلي په کي راولاړوي او شيطان خو له تېر ايستو پرته څه وعده نه ورسره کوي.

د عاد او ثمود په اړه فرمايي:

وَعَادًا وَثَمُودَاْ وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمۡۖ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَكَانُواْ مُسۡتَبۡصِرِينَ ﴿٣٨﴾ العنکبوت

او عاد او ثمود چي له استوګنځيو ئې درته جوته شوې؛ او شيطان خپل عملونه ورته ښايسته کړل نو له لاري ئې واړول، په داسي حال کي چي سترګور ول.

په بل ځای کي د هغو په اړه چي شيطان هڅولي او له مؤمنانو سره جنګ ته ئې تشويق کړي فرمايي:

وَإِذۡ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَإِنِّي جَارٞ لَّكُمۡۖ فَلَمَّا تَرَآءَتِ ٱلۡفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكُمۡ إِنِّيٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوۡنَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٤٨﴾ الانفال

او کله چې شيطان خپل عملونه ورته ښايسته کړل او وئې ويل: نن په خلکو کې هيڅ غالبېدونکی (حريف) نه لرئ، په داسې حال کې چې زه مو ملګری يم، خو کله چې دواړو ډلو سره وليدل؛ په خپلو پوندو واوښت او وئې ويل: زه له تاسو بې زاره يم، زه هغه څه ګورم چې تاسو ئې نه ګورئ، زه له خدايه وېرېږم؛ او الله خو شديدالعقاب دئ.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لِلَّذِينَ كَرِهُواْ مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ سَنُطِيعُكُمۡ فِي بَعۡضِ ٱلۡأَمۡرِۖ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِسۡرَارَهُمۡ ﴿٢٦﴾

دا له دې کبله چې دوی هغو ته چې د الله له لوري نازل شوي (کتاب) په اړه ئې کرکه وښوده؛ وويل: حتماً به په څينو چارو کې ستاسو اطاعت وکړو او الله د دوی په اسرارو (په پټو ويناوو او کړنو) پوهېږي.

(٢٦)- دا مبارك آيت وايي چې د منافقانه دريځونو وجه دا ده چې دوی له دښمن سره پټې اړيکې پالې، دښمن ته د دوستۍ پيغامونه لېږي، اطمئنان ورکوي چې په ډېرو مواردو کې له دوی سره موافق دي او دې ته چمتو دي چې د دوی ملتيا وکړي، په دې باور دي چې په څينو برخو کې د کافرانو تګلاري او کړنلاري د تأييد او متابعت وړ دي!!

تر دې وړاندې چې د دې مبارك آيت لارښوونې ستاسو مخې ته کښېږدو بايد يوه ځانګړې مطلب ته ستاسو توجه راواړوو، دې ته مو پام وي چې تر دې وړاندې او وروسته آيتونه په داسې صيغو پای ته رسېدلې چې (أعمالهم او أخبارهم...) ته ورته دي، په ټولو کې الف زور لري، خو دلته د (اسرارهم) په صيغې کې الف ته زېر ورکړی شوی، دغه صيغه په بل معروف قرائت کې د (أسرارهم) په بڼې کې راغلې، د (سر) مشهوره او معروفه جمع (أسرار) ده. کاش هغو خلکو چې په لومړي ځل ئې د قرآن الفاظو ته د زېر او زور علائم ورکړل دغه قرائت ته ترجيح ورکړې وی.

په دې مبارك آيت کې د ارتداد څينې نور اړخونه هم بيان شوي لکه دا:

- له دښمن سره پټ روابط.
- د کفر له جبهې او کافرانه کړنلارو او تګلارو سره خپلې اړيکې نه شلول.

منافقين له يوې خوا د کفر له جبهې سره پټې اړيکې لري او اطمئنان ورکوي چې حاضر دي د دوي منصوبې د مسلمانانو په ليکو کې پلې کړي، له بل لوري ئې خپل تعلق په

بشپړه توګه له کفر سره نه دئ قطع کړی او داسي انګېري چي د کافرانو ځيني کړنلاري د تبعيت او منلو وړ دي، نو ځکه د دې جبهې په اړه په خپلو دريځونو کې متردد او مذبذب وي، کله د کفر لوري ته متمايل کېږي او کله د ايمان لوري ته، کله دې ته ترجيح ورکوي اوکله بل ته، په ظاهر کې د مسلمانانو په ليکو کې ځای نيسي خو په خفا کې له دښمن سره اړيکي لري، دې ته متوجه نه دي چي په خدعې او تزوير سره نه شي کولی د تل لپاره ټول وغولوي، په دې باور نه دي چي خبير خدای د دوی له اسرارو، له دښمن سره د دوی له پټو اړيکو، د دوی له موخو؛ او هغو اطلاعاتو چي دښمن ته ئې ورکوي خبر دئ، الله تعالی به حتماً د دوی د تزوير پرده څيري کړي او د دوی سپېرې څېرې به ټولو ته افشاء کړي او مناسبه سزا به ورکړي. لکه چي قرآن فرمايي:

بَشِّرِ ٱلْمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣٨﴾ النساء

منافقينو ته د دې زېری ورکړه چي دوی ته دردونکی عذاب دئ، همغو ته چي له مؤمنانو پرته کافران په دوستۍ نيسي، آيا د دوی خوا ته عزت لټوي؟ نو عزت خو ټول الله لره دئ.

همدا راز فرمايي:

إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾ مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴿١٤٣﴾ النساء

بې شکه چي منافقين له الله سره خدعه کوي او هغه ئې هم په خدعه کې اچوونکی دئ او کله چي لمانځه ته پاڅي نو لټ پاڅي، خلکو ته ځان ښودنه کوي او الله نه يادوي مګر ډېر لږ. په دې کې مذبذب او متردد، نه د دغو په لوري دي او نه د هغو په لوري او الله چي څوك بې لاري کړي هيڅ لار به ورته ونه مومې.

دلته د منافق لاندي خصلتونه په ګوته شوي:

- له الله سره خدعه کوي، د خپل نفاق او ناوړه عملونو لپاره داسي توجيهات برابروي چي هغه جائز ثابت کړي.
- په لمانځه کې لټ وي او د خپلو ديني وجائبو په تر سره کولو کې سستي کوي.
- رياکار وي، هر کار ئې نورو ته د ځان ښودني لپاره وي، هيڅ عمل ئې د عقيدې او ايمان په حکم نه وي.
- له الله سره ئې اړيکي سستي وي، ډېر لږ ئې يادوي، هم ئې په ژبه لږ يادوي او هم په خپلو تبصرو او تحليلونو کې لږ د ده نوم په خوله اخلي او هم په خپلو تصميمونو کې ډېر کم په الله حساب کوي.

فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ ﴿٢٧﴾

٢٧- نو هغه مهال به څنګه وي چې فرشتې د دوی روح قبضوي او پر مخ او شا ئې ګوزارونه ورکوي.

(٢٧)ـ دلته د منافقينو د نزعي او روح قبضېدو حالت انځور شوی او ويل شوي چې ملائکې به په داسي حال کې د دوی روح قبضوي چې پر مخ او شا به ئې وهي؛ او دا ځکه چې د دوی ظاهر يو ډول او باطن ئې بل ډول وو، اکثراً د دوی ظاهر د باطن مغاير وي، دوه مخي دي، د مسلمانانو په وړاندي ځان مسلمان څرګندوي او د دوی په غياب کې او د کافرانو په څنګ کې کافر وي، کله خپلي ګټي د مؤمنانو په څنګ کې لټوي او دې لوري ته راځي؛ او کله د ايمان لار او د مؤمنانو ملګرتيا خطر ناکه مومي، تر شا کېږي او د کفر جبهې ته پناه وړي، الله تعالی هم دوی ته داسي سزا ورکوي چې د دوی له منافقانه کړنو سره ورته وي، فرشتو ته امر کوي چې د دوی د روح قبضولو پر مهال پر شا او مخ ئې ګوزارونه ورکړئ. ځکه به ئې پر مخ وهي چې دوی له دښمن سره د پټ او له ذلته ډک سازشونو سره خپل مخ سپېره کړی وو، خپل ايماني وقار او اسلامي عزت ئې د دښمن په پښو کې ذبح کړی وو، ذلت او دنائت ته تسليم شوي وو، ځان ئې حقير او ذليل ګڼلی وو او کفر او ارتداد ته ئې مخه کړې وه. او ځکه به ئې پر شا وهي چې حق دين ته ئې شا کړې وه، د ايمان له مسيره په شا شوي وو، بېرته د کفر لوري ته ګرځېدلي وو.

هغه کسان چې په قدير خدای د ايمان له دعوی سره سره، د ضعف او ناتوانۍ احساس کوي، ذلت او اسارت ته غاړه ږدي او د دې په ځای چې د خپلي آزادۍ لپاره هجرت وکړي او په بل ځای کې د سرلوړي او آزاد ژوند تر لاسه کولو هڅه وکړي، د سپکاوي او ذلت ژوند غوره کوي او دښمن ته د اسارت سرټيټوي، کله چې ملائکې د داسي کسانو روح قبضوي، د دوی د دې استدلال په ځواب کې چې د ضعف او ناتوانۍ په وجه ئې هجرت ونه کړ، داسي وايي: آيا د الله زمکه پراخه نه وه چې هجرت مو کړی وی؟

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْۖ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي ٱلْأَرْضِۚ قَالُوٓاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَاۚ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ النساء

بې شکه هغه کسان چې ملائکې ئې روح قبضوي، په داسي حال کې چې دوی پر خپلو ځانونو ظلم کوونکي وي، ورته وايي به: تاسي په څه حالت کې وئ؟ وايي: موږ په زمکه کې کمزوري او مستضعف وو، ورته وبه وايي: آيا د الله زمکه پراخه نه وه چې هجرت مو په کې کړی وی؟ نو دوی همغه دي چې مېشت ځای ئې دوزخ دئ او د ورګرځېدو څومره بد

ځای!

قرآن د داسي خلکو په اړه فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١١﴾ الحج

او له خلکو ځيني داسي دي چي په يوې ژۍ کي د الله عبادت کوي، نو که کومه ښېگڼه ورورسېږي په هغې ډاډه شي او که د آزمويني (کومه ستونزه) وروورسېږی خپل مخ اړوي، دنيا او آخرت ئې تاواني شو او دا ځرگنده تباهي ده.

په دې مبارك آيت کي د هغه چا حالت انځور شوی چي مسلمانېدا ئې مشروطه ده، که اسلام د دوی غرضونه تر سره کړي نو پر اسلام او خپلي مسلمانۍ راضي وي، خو که اسلام د دوی د اغراضو په وړاندي خنډ شي، د مسلمانانو په څنگ کي خپل غرضونه تر لاسه نه کړی شي، له گواښونو او خطرونو سره مخامخ شي، دين او ايمان د قربانۍ غوښتنه ترې وکړي، نو خپل دين او ايمان ته لته ورکړي، په شا ولاړ شي او له مسلمانانو سره خپلي اړيکي وشلوي!! هغه له داسي چا سره تشبيه شوی چي د اسلام د دائرې له مرکزه ډېر لري؛ په هغي کرښي چي اسلام او کفر سره بېلوي؛ ولاړ دئ او هملته د خدای عبادت کوي، د کفر له دائرې يو گام دې لوري ته رااوښتی، له مخکي تلو ئې ډډه کړې، هملته ودرېدلی او په همدومره څه ئې اکتفاء کړې، که دلته کومه گټه او منفعت تر لاسه کړي، نو په خپلي گټي او دغه يو قدم رااوښتو خوښ وي، خو که له کومي ستونزي او خطر سره مخامخ شي، بېرته يو گام په شا ولاړ شي او خپل مخکيني حالت ته وروگرځي. دا د خپل هوس بنده دئ، له الله تعالی سره ئې معامله د يوه بازاري سوداگر ده، ايمان او عقيده هم د مادي گټې په تله تلي، هغه عقيده ورته د منلو وړ ده چي مادي اغراضو ته په رسېدو کي د ده مرسته وکړي، له هري هغي عقيدې کرکه لري چي د سپېڅلو اهدافو په لار کي د قربانۍ مطالبه ترې وکړي. د مادي گټې په طمع د داسي چا خوا ته درومي او له هغه مرسته غواړي چي له معنوي او اخلاقي پلوه ئې تباه کوي او دومره تاوان وررسوي چي په دنيا کي سپك شي او په آخرت کي د دوزخ وړ!! په دې نه پوهېږي چي د گټې او تاوان پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، له الله تعالی پرته نه څوك د گټې رسولو توان لري او نه د تاوان رسولو، د الله تعالی پر ځای داسي چا ته مخه کړي چي تاوان وررسولی شي خو گټه نه؛ څومره بد مولی او څومره بد ملگری.

---

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱتَّبَعُواْ مَآ أَسۡخَطَ ٱللَّهَ وَكَرِهُواْ رِضۡوَٰنَهُۥ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴿٢٨﴾

٢٨- دا له دې کبله چي دوی د هغه څه متابعت وکړ چي الله ئې په قهر کړی او د ده له رضاء ئې کرکه وکړه، نو د دوی عملونه ئې حبط کړل.

(۲۸)ـ دلته د منافقينو په اړه ويل شوي:

- په هغه څه پسې تللي چې د الله تعالی د غضب باعث کېږي، يعني دوی د الله د غضب په بيع د خپل نفس د ارضاء لټه کړې، له کافرانو سره دوستي هغه څه دي چې د الله تعالی د غضب او قهر باعث دي.
- له هغه څه کرکه لري چې بدله ئې د الله رضاء ده، دوی له جهاد کرکه لري او دا په داسي حال کې چې په جهاد سره د الله تعالی رضاء تر لاسه کېدی شي.
- د دغو دوو منافقانه کړنو له کبله د دوی عملونه حبط کېږي.

ګورئ چې منافقين د خپل هوس په غوښتنه او د خپل نفس د ارضاء لپاره له هغه څه هم ډډه نه کوي چې د الله تعالی د قهر او غضب باعث کېږي، دې ته چمتو نه دي چې د الله تعالی د رضاء تر لاسه کولو لپاره يو ګام د خپل نفس د رضاء او خوښي خلاف واخلي، د هر هغه څه له کولو ډډه نه کوي چې د دوی هوس ئې وغواړي که څه هم دا له الله تعالی سره دښمني او د الله له دښمنانو سره دوستي وي، يعني د الله د غضب په بيع د خپل نفس د ارضاء لټه کوي، خو په هيڅ توګه دې ته حاضر نه دي چې د الله رضاء د خپل طماع نفس او بې مهاره شهواتو په مخالفت کې ولټوي. دوی له داسي خلکو سره دوستي کوي چې د الله تعالی په غضب اخته شوي، لکه چې قرآن فرمايي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْاْ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ عَلَى ٱلْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾ المجادله

آيا هغو ته دې پام نه دئ کړی چې له داسي وګړو سره ئې دوستي کړې چې الله پرې غضب کړی، نه دوی ستاسي له ډلي دي او نه د هغوی له ډلي، په داسي حال کې په درواغو لوړه کوي چې پوهېږي (چې درواغ وايي)، الله دوی ته شديد عذاب تيار کړی، يقيناً چې هغه څه ډېر بد دئ چې دوی کولو.

وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٦﴾ الانفال

اې مؤمنانو! کله چې د کافرانو له کومي ډلي سره (په جګړي کې) مخامخ شئ، نو شا مه وراړوئ. او څوک چې په دې ورځ شا وراړوي، مګر د جنګ په موخه لوری بدلوونکی او له بلي ډلي سره يو ځای کېدونکی، نو يقيناً چې په الهي عذاب اخته شو او ځای ئې دوزخ دئ؛ او څومره بد دئ دا د ورتلو ځای.

همدا راز فرمايي:

مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرٗا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١٠٦﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٠٧﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿١٠٩﴾ النحل

چا چي له خپل ایمان وروسته د الله په اړه کفر کړی، مګر هغه چي په زور اړ کړی شوی؛ په داسي حال کي چي زړه ئې پر ایمان ډاډه دئ، خو هغه چي کفر ته ئې سينه پرانيستې، نو پر دوی د الله له لوري غضب دئ او دوی ته ستر عذاب دئ. دا له دې کبله چي دوی د دنيا ژوند پر آخرت غوره وګڼلو او د دې لپاره چي الله دا کافر وګړي نه هدايتوي. دا هغه وګړي دي چي الله د دوی پر زړونو، غوږونو او سترګو مهر لګولی او همدا دوی غافلان دي، شك نشته چي همدا دوی به په آخرت کي زيانمن وي.

او فرمايي:

وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۖ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَلَعَنَهُمۡ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرٗا ﴿٦﴾ الفتح

او د دې لپاره چي هغه منافقين او منافقاني او مشرکين او مشرکاني تعذيب کړي چي د الله په اړه بدګماني کوونکي دي، بده راچورلېدا پر دوی ده؛ او الله دوی په خپل غضب اخته کړي او دوی ئې رټلي او جهنم ئې ورته تيار کړی، د ورتګ څومره بد ټاټوبی!!

---

أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخۡرِجَ ٱللَّهُ أَضۡغَٰنَهُمۡ ﴿٢٩﴾

٢٩- آيا هغه چي په زړونو کي ئې بيماري ده داسي انګېري چي الله به هيڅکله د دوی کينې رابهر نه کړي؟!

---

(٢٩)ـ منافقين داسي انګېري چي په زرنګي او څېرکي سره کولی شي دواړه لوري وغولوي؛ او په زړه پوري موقعيت تر لاسه کړي، کولی شي خپله اصلي څېره او ماهيت له نورو پټ وساتي، ګمان نه کوي چي خبير خدای به د دوی د نفاق پرده څيري کړي او ماهيت به ئې ټولو ته جوت کړي او هغه کينه چي د دوی په سينو کي ئې د رښتيني ايمان په خلاف ځای نيولی، هغه حساسيت چي دوی ئې په وينا او عمل کي د صداقت او شفافيت په اړه لري،

هغه کرکه چې دوی ئې د الله تعالی په لار کې د قربانۍ او په خپلو ژمنو وفا او التزام په اړه لري؛ او د دوی پر زړه او دماغ ئې سیوری غوړولی، الله تعالی به دا ټول څرګند کړي.

لکه چې قرآن فرمایي:

فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِىَ بِٱلْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِۦ فَيُصْبِحُوا۟ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ نَٰدِمِينَ ﴿٥٢﴾

المائده

نو هغه چې په زړونو کې ئې بیماري ده، ته به ئې ګورې چې د دوی په دوستۍ کې به تلوار کوي، وائي به: د کومې حادثې له رارسېدو وېرېږو!! نو ښايي چې الله به له خپل لوري فتح او یا کوم بل څه راولي او په دې سره به په هغو خبرو پښېماني کوونکي شي چې په خپلو زړونو کې ئې پټولې. دوی له دې وېرېدل چې دښمن به غالب شي او مؤمنان به له ماتې سره مخامخ شي، د همدې له کبله ئې د منافقت تګلاره غوره کړې وه، خو الله تعالی به د دوی د زعم او انګېرنې خلاف داسې حالت راولي چې مؤمنان بریالي شي او دا منافقان به په خپلو غلطو انګېرنو او دریځونو پښېمان شي.

---

وَلَوْ نَشَآءُ لَأَرَيْنَٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَٰهُمْ ۚ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِى لَحْنِ ٱلْقَوْلِ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَٰلَكُمْ ﴿٣٠﴾

۳۰- او که وغواړو حتماً به دوی دروښیو چې بیا به ئې حتماً له خپلو څېرو پېژنې؛ او هرومرو به ئې د وینا له طرز او بڼې وپېژنې او الله ستاسو پر عملونو پوهېږي.

---

(۳۰)ـ په دې مبارك آیت کې د منافق د پېژندو درې معیارونه په ګوته شوي:

الف: د دوی په څېرو کې د نفاق علائم او آثار.

ب: د بیان په طرز او د وینا په لحن او لهجې کې د نفاق نښې.

ج: منافقانه کړنې.

## د منافق په څېرې کې د نفاق نښې

په قرآن کې د بیان په طرز او د وینا په لحن او لهجې کې د نفاق د نښو او هغو کړنو په اړه تفصیلي بحثونه شوي چې له منافقانه باورونو نشأت کوي، د دغو بحثونو او څېړنو په هنداري کې کولی شو په ښه توګه او په آسانۍ سره منافقین وپېژنو، خو د څېرې له نښو او علائمو د دوی د پېژندو علم او لارښوونې نه دې څېړل شوي، که الله تعالی غوښتی نو د منافقینو د پېژندو دا اړخ به ئې هم څېړلی وو او داسې لارښوونې به ئې د قرآن هر

مخاطب ته په واك کې ورکړې وې چې له مخې ئې مکار او رياکار منافق ژر او په آسانۍ پېژندی شي خو د خاص حکمت له کبله ئې دا علائم او نښې نه دي ښودلي.

د قيامت په ورځ او د الهي محاسبې په دوران کې به هغه پردې لرې شي چې ځينو خپل تور او سپېره مخ پرې پټ کړی وو، هر کس به له خپلي څېرې پېژندل کېږي، لکه چې قرآن فرمايي:

وَٱلَّذِينَ كَسَبُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةِۭ بِمِثۡلِهَا وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ مَّا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۖ كَأَنَّمَآ أُغۡشِيَتۡ وُجُوهُهُمۡ قِطَعٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مُظۡلِمًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧﴾ يونس: ﴿٢٧﴾

او هغو چې بد کارونه ئې کړي د هرې بدۍ سزا به هغې ته ورته وي او سپکاوی به (وزر پرې) خوروي، له الله به هيڅ ساتونکی ورته نه وي، داسي به وي لکه چې مخونه ئې د تيارې شپې په (تيارو) ټوټو پټ شوي وي، دوی دوزخيان دي چې په هغه کې به تلپاتي وي.

په بل ځای کې فرمايي:

وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسۡوَدَّةٌۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴿٦٠﴾ الزمر: ﴿٦٠﴾

او د قيامت په ورځ به هغه خلك چې د الله په اړه ئې دروغ ويلي وو وګورې چې مخونه به ئې تك تور وي، آيا د دغو کبرجنو (مناسب) مېشت ځای دوزخ نه دئ؟

او د مؤمنانو په اړه فرمايي:

مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ فِي وُجُوهِهِم مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمۡ فِي ٱلۡإِنجِيلِ كَزَرۡعٍ أَخۡرَجَ شَطۡـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسۡتَغۡلَظَ فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ يُعۡجِبُ ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلۡكُفَّارَۗ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنۡهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمَۢا ﴿٢٩﴾ الفتح: ﴿٢٩﴾

محمد چې د الله رسول دئ او هغه کسان چې له ده سره دي پر کافرانو شديد او په خپل منځ کې رحم کوونکي دي. دوی به په داسي حال کې ګورې چې رکوع کوونکي او سجده کوونکي دي، د الله فضل او رضاء لټوي، د سجدو له امله د دوی په مخونو کې د دوی څېرې څرګندي، دا په تورات کې د دوی مثال راغلی؛ او مثال ئې په انجيل کې هغه کر ته ورته دئ چې له زمکې خپل تېغ (نوغی) راوباسي، بيا ئې مضبوط کړي، بيا پرېړ شي، بيا پر خپل ډډ

ودرېږي، داسي چې کرونکي حيران کړي، د دې لپاره چې کافران پرې غضبناك کړي، الله د دوی له هغو سره چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د بخښني او ستر اجر وعده کړې ده.

يعني الله تعالی د مؤمنانو مولا دئ، د مؤمنانو ټولی د ده تر رعايت او عنايت لاندي په ټولني کي سر رااوچت کړی، ورو ورو ئې وده ورکړې، د دوی د لازيات سمسورتيا لپاره ئې شرائط برابر کړي، د يوه مضبوط ځواك په توگه راڅرگند شوی، اوس ئې نه تېزه سيلۍ ماتولی شي او نه توند باران او ږلۍ، ډېر ورته حيران دي او ډېر پرې غضبناك.

## د منافقينو د وينا طرز او لحن

د منافقينو د پېژندو دوهم ملاك د وينا منافقانه طرز او بڼه دئ، د دوی تبصرې، قضاوتونه او تحليلونه تر جنگ وړاندي پړاو کي، د پرېکړې او تصميم په وخت کي، له دښمن سره د نښتو پر مهال، د بري او ماتي په صورت کي، له ځواکمن دښمن او ضعيف دښمن سره د مقابلې په صورت کي، د هغو مخلصو مؤمنانو په اړه چې خپل هر څه د الله په لار کي وقف کوي او تل او په ټول توان طاقت د اسلام په خدمت کي وي؛ او د هغو مسلمانانو په اړه چې بې وزلي او نېستمن دي او د قربانۍ لپاره لږ څه په واك کي لري، د مشرتابه او قيادت په اړه، د لاندي کچې غړو په ارتباط، د مطيع افرادو په باب او د ياغي او سرغړاندو په اړه ... په ټولو دغو مواردو کي د دوی له لهجې او لحن قول د دوی منافقت پېژندی شو، قرآن په دې اړه موږ ته کافي لارښووني کړې دي.

لکه چې د بدر د هغي جگړې په اړه د دوی ويناوې زموږ مخې ته ږدي چې د شرك او کفر له مجهز ځواك سره د مسلمانانو لومړۍ نښته وه، له مخلصو مؤمنانو پرته هيچا ته دا نښته د فهم او توجيه وړ نه وه، منافقينو د دغو مخلصو مؤمنانو په اړه ويل: دوی خپل دين او ايمان غولولي، هغو وعدو داسي احساساتي او جذباتي کارونو ته هڅولي چې د حتمي بري په اړه ورکړی شوې، گمان کوي چې الله تعالی به حتماً پر شرکي او کفري ځواکونو دوی بريالي او برلاسي کوي، که څه هم د وسائلو له پلوه تر دښمن ډېر کمزوري دي، دغو انگېرنو او غولوونکو وعدو مؤمنان د قريشو په څېر مجهز ځواك سره مقابلې ته هڅولي، قرآن په دې اړه فرمايي:

إِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ هَٰٓؤُلَآءِ دِينُهُمْ ۗ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٩﴾ الانفال: ﴿٤٩﴾

کله چې منافقينو او هغو چې په زړونو کي ئې بيماري وه ويل: دغه خلك خپل دين دوکه کړي، په داسي حال کي چې څوك پر الله توکل وکړي نو يقيناً چې الله با حکمته عزتمن دئ.

د مجاهدينو ضعف، د شمېر لږوالی، د کافي او ضروري تجهيزاتو نشتوالی او په همدې

حالت کې د ځواکمن او مجهز دښمن مقابلې ته د دوی وتل، د منافقینو، د بیمارو زړونو خاوندانو او ضعیف الایمانه وګړو له نظره غرور، جنون او تهور معلومېدو، ویل ئې: دا خلك خپل دین غولولي، د دین دغو خبرو مغرور کړي چې حق به حتماً غلبه مومي او باطل به له منځه ځي، دلته د دوی په ځواب کې ویل شوي چې دا غرور نه بلکې پر خپل رب توکل دئ، څوك چې پر الله توکل وکړي نو وبه ګوري چې عزیز او حکیم رب ئې څنګه مرسته کوي او پر دښمن برى ورپه برخه کوي.

تل او د زمانې په هر پړاو کې به وګورئ چې منافقین او ضعیف الایمانه وګړي به د واقعي مؤمنانو او متوکلو مجاهدینو په ضد دغه خبره تکراروي، همدا به وایي چې دوکه شوي او د دین په حقیقت سم نه دي پوه شوي، تل به د دوی توکل ته د غرور په سترګه ګوري.

همدا راز فرمایي:

ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ التوبه: ٧٩

هغه چې د مؤمنانو پر ایثارګرو (په پراخ زړه انفاق کوونکو) نیوکې کوي او پر هغو د دې لپاره ملنډې وهي چې د خپل زیار (له حاصل علاوه) څه نه مومي، الله پر دوی تمسخر کړی او دوی ته دردوونکی عذاب دئ.

دا آیت د منافقینو یو بل کرغېړن خصلت داسې بیانوي: دوی پر هغو ایثارګرو مؤمنانو نیوکې کوي چې په پراخ زړه او خلاص لاس خپلې شتمنۍ د الله تعالی په لار کې وقف کوي، وایي: دوی د ریاء او ځان ښودنې لپاره دا کار کوي او زیات مال وقف کوي!! له بلې خوا پر هغو بې وزلو مؤمنانو د دې لپاره ملنډې وهي چې د نیستمنۍ په وجه ډېر لږ څه د الله تعالی په لار کې وقف کولی شي، څوك د کجورو یو وړی، څوك یو سېرلی، څوك څو درهمه او څوك د خپل ورځني زیار او کار د مزد او اجورې یوه برخه، نور څه نه مومي چې د الله تعالی په لار کې ئې قرباني کړي، منافقینو به پرې خندل چې دوی غواړي د مړز په ورون سره روم فتح کړي، خو الله تعالی فرمایي چې د منافقینو حالت د تمسخر وړ دئ نه د دغو مخلصو مؤمنانو!! دا ځکه چې نفاق ئې له هغه دردناك عذاب سره مخامخ کوي چې الله تعالی منافقینو ته ټاکلی.

همدا راز فرمایي:

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنۢ بَعۡدِ ٱلۡغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغۡشَىٰ طَآئِفَةً مِّنكُمۡۖ وَطَآئِفَةٌ قَدۡ أَهَمَّتۡهُمۡ أَنفُسُهُمۡ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ ظَنَّ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ ٱلۡأَمۡرِ مِن شَيۡءٖۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَمۡرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِۗ يُخۡفُونَ فِيٓ أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبۡدُونَ لَكَۖ يَقُولُونَ لَوۡ كَانَ لَنَا مِنَ

ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٞ مَّا قُتِلۡنَا هَٰهُنَاۗ قُل لَّوۡ كُنتُمۡ فِي بُيُوتِكُمۡ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَتۡلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمۡۖ وَلِيَبۡتَلِيَ ٱللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمۡ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١٥٤

آل عمران: ١٥٤

بيا ئې له دې غمونو وروسته پرتاسو د پرکالۍ په بڼه کې هغه ډاډېينه نازله کړه چې ستاسو پر يوې ډلې به غوړېدله او بله ډله بيا داسې وه چې خپلو ځانونو په اندېښنه کې غورځولې وو، د الله په اړه ئې د جاهليت د دور ناروا گمانونه کول، ويل ئې: د دې کار څه زموږ په برخه دي؟ ورته ووايه: کار خو ټول د الله (په واك کې) دئ، دوی په خپلو زړونو کې هغه څه پټوي چې تا ته ئې نه ښکاره کوي، وايي: که د دې کار څه زموږ په برخه وی نو دلته به نه وژل کېدو، ورته ووايه: که په خپلو کورونو کې هم وئ نو هغه کسان به هرومرو د خپلې مړينې ځای ته راوتلي وو چې وژنه ئې مقرره شوې وه او چې ستاسو د سينو خبرې وآزمويي او ستاسو د زړونو شته عيار کړي او الله د زړونو په شته وو ښه پوه دئ.

په دې مبارك آيت کې څو مهمې لارښوونې زموږ مخې ته ايښودل شوې:

د جگړې په هغه سخت او له اضطرابه ډك حالت کې د ځينو مجاهدينو وضعيت داسې وو چې په وار وار وربانديې پرکالې راتله، د خوب دا حالت په هغه چا راځي چې هيڅ وېره ئې نه وي، ممکنه نه ده چې د وېرې په حالت کې په انسان خوب راشي، په دوی باندې د پرکالۍ راتگ ښيي چې دوی هيڅ وېره نه درلوده، زړونه ئې ډاډه وو او الله تعالی خپله سکينه او ډاډېينه پرې نازله کړې وه.

د دوی په مقابل کې بله ډله داسې وه چې له ځان پرته د بل هيڅ څه په فکر کې نه وو، ټول هم او غم ئې دا وو چې څنگه ځان وژغوري، نه ئې د دې پروا کوله چې په پيغمبر عليه السلام او نورو مسلمانانو به څه راځي او نه د دې چې د اسلام او د مدينې راتلونکی به څنگه وي، د الله تعالی په اړه ئې عقيده بدله شوې وه او داسې گمانونه ئې په ذهن او زړه کې گرځېدل چې د جاهليت د دور باورونو او گمانونو ته ورته وو، له الله ناهيلي شوي وو او د الهي نصرت وعدو ته ئې د شك په سترگه کتل.

ځينو به ويل: له دې جگړو به څه تر لاسه کړو، که څه گټه په کې وی نو دلته به نه وژل کېدو، ځينو نورو به ئې ويل: که د دې جگړې قيادت او قومنده زموږ په لاس کې وی او زموږ مشورو ته اعتناء شوې وی نو له دې حالت سره به نه مخامخ کېدو، قومنده سمه نه وه، د جنگ پلان صحيح نه وو، لازم ترتيبات نه وو نيول شوي، د ماتې او تلفاتو مسئوليت د هغه چا په غاړه دئ چې دا جگړه ئې اداره کوله.

د دوی لپاره تر ټولو غوره ځواب دا دئ: کارونه ټول د الله په واك کې دي، هر څه د ده په اراده تر سره کېږي، د کارونو پايله او نتيجه د ده له لوري ټاکل کېږي.

دوی په خوله یو څه وايي خو په زړه کې ئې بل څه دي، د زړونو پټه خبره ئې دا ده چې وايي: که د جنگ قومنده زموږ په لاس کې وی نو له دومره مرگ ژوبلې سره به نه مخامخ کېدو.

دوی په اصل کې په دې باور نه لري چې مرگ په خپل وخت راځي، نه ئې ځای بدلېږي او نه ئې وخت. دوی ته ووایه: که ستاسو رأیه منل شوې وی، جنگ ته نه وی راوتلي، بیا به هم هغه کسان په خپلو پښو هغه ځای ته تلل چې د دوی د وژل کېدو لپاره له مخکې ټاکل شوی وو، داسې خو نه ده چې په بې غیرتۍ سره خلك له مرگ ژغورل کېږي، د جگړو له میدان بهر هم خلك مري، بې غیرتان هم مري، هغه بې همته قومونه چې د دښمن له مقابلې ئې ډډه کړې او دښمن ته تسلیم شوي او دښمن له کوم خنډ او مقاومت پرته د دوی په کور کلي مسلط شوی، د دوی مړي په هیڅ صورت کې تر هغو کم نه وو چې په مېړانه ئې د دښمن مقابله کړې ده.

دا آزموینه د دې لپاره وه چې له یوې خوا د منافقینو د سینو اسرار رابرسېره کړي او له بلې خوا د مؤمنانو د زړه اخلاص او صداقت لا پسې مضبوط او پیاوړی کړي او د دوی پوخ ایمان ته مزید پوخوالی او ځلا ورکړي.

## منافقانه اعمال د منافقینو د پېژندو بل ملاك

قرآن دا د هدایت ځلانده مشعل د خپلو څرگندو لارښوونو په ترخ کې د هري ډلې عملي مشخصات په واضح توگه زموږ په وړاندې ږدي، د دې لارښوونو په رڼا کې په ډېرې آسانۍ سره کولی شو هره ډله وپېژنو او یو له بل تفکیك کړو، دا لارښوونې په کامل الهي معرفت ولاړې دي، د هرې ډلې افکار او اطوار په دقیقه توگه توضیح کوي، له نورو سره ئې تفاوتونه په گوته کوي، دا څرگنده خبره ده چې د چا عمل له حقیقي ایمان نشأت کوي د هغه چا له کړنو حتماً ژور توپیرونه لري چې منشأ ئې کفر او نفاق وي، علیم او خبیر رب دا توپیرونه په بشپړ وضاحت سره په خپل لارښود کتاب کې بیان کړي، لکه چې د منافقینو د لمانځه او انفاق په اړه فرمایي:

وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَٰتُهُمْ إِلَّآ أَنَّهُمْ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأْتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَٰرِهُونَ ﴿٥٤﴾ التوبه: ٥٤

او له دې چې نفقات ئې قبول شي بل څه نه دي منع کړي مگر دې چې د الله او د ده د پیغمبر په اړه ئې کفر وکړ، لمانځه ته نه راځي مگر په داسې حال کې چې لټ وي او انفاق نه کوي مگر په داسې حال کې چې کرکه کوونکي وي.

دلته د جهاد د هغو مخالفینو څو خصلتونه په گوته شوي چې غواړي له جهاد پاته کېدا په داسې انفاق جبران کړي چې محرك ئې اخلاص او صداقت نه بلکې یا ریاء وي یا د مسلمانانو له گواښ ځان ژغورل، وایي چې د دوی انفاق له دې امله نه منل کېږي چې:

دوی نه پر الله تعالی ایمان لري او نه د هغه پر پیغمبر،
ځانځه ته په داسې حال کې ودرېږي چې لټ او کسل وي او
له داسې انفاق ډډه کوي چې ایمان او د الله تعالی رضاء لټول ئې تر شا وي، که څه انفاق کوي نو په نه زړه او له کرکې سره وي.

دا مبارك آیت د منافق ستري نښې زموږ په واك کې راکوي: په لمانځه کې لټي او کسالت او له داسې انفاق کرکه کول چې له شوق او مینې سره توأم وي. قرآن په دوو خبرو ډېر تأکید کوي او هغه د نورو الهي وجائبو د اداء کولو لپاره مقدمه ګڼي: لمونځ او مالي قرباني چې کله ئې د زکات په نامه یادوي او کله د صدقې په نامه، هو؛ لمونځ ترټولو مهم او ستر عبادت دئ، په اسلام کې تر بل هر عبادت پر لمانځه زیات تأکید شوی، هومره تأکید چې پرېښودل ئې له اسلام د وتلو نښه او په اداء کولو کې ئې کسالت او لټي د نفاق علامت ګڼل شوې، ګواکې دا لمونځ دئ چې مسلمان له کافر او مؤمن له منافق بېلوي. تل د لمانځه تر څنګ د زکات یادونه کېږي او د ایمان نښه ګڼل کېږي، دا ځکه چې زکات او صدقات هغه څه دي چې مسلمان د الله تعالی په لار کې نورو قربانیو ته چمتو کوي.

همدا راز فرمایي چې منافقین د مجاهدینو په وړاندې د عائق او مانع په توګه عمل کوي:

قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ وَٱلْقَآئِلِينَ لِإِخْوَٰنِهِمْ هَلُمَّ إِلَيْنَا ۖ وَلَا يَأْتُونَ ٱلْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾ الاحزاب: ١٨

بې شکه چې الله ستاسو خنډ کېدونکي وګړي او هغه ښه پیژندلي چې خپلو وروڼو ته (د دې وینا) ویوونکي وو: زموږ لوري ته راشئ په داسې حال کې چې په جګړې کې برخه نه اخلي مګر ډېر لږ.

په بل ځای کې راغلي:

ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ۚ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ۗ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٦٧﴾ التوبه: ٦٧

منافقین او منافقاني ځیني د ځینو نورو له ډلې دي، د منکر سپارښتنه کوي، له ښېګڼو مخنیوی کوي، خپل لاسونه (د خیر له کار او د مال له انفاق) بندوي، دوی خدای هېر کړی او خدای دوی هېر کړي، یقیناً چې منافقین فاسقان دي.

دلته د منافقینو څو ستر ستر خصلتونه په ګوته شوي:

- منافقین (نارینه او ښځې) ځیني د ځینو نورو له ډلې دي، د مسلمانانو په لیکو کې ځانګړې ډله جوړوي او یو د بل خوا ته ودرېږي، خو الفاظ داسې دي چې ښیي هسې ډله ئې یوه ده، نه ئې تر منځ خواخوږي شته، نه یو د بل مرسته کوي، نه یو له بل سره مینه

لري. د دوی په مقابل کې کله چې د مؤمنانو یادونه کېږي نو الله تعالی فرمایي چې دوی یو د بل دوستان دي، د دوی تر منځ مینه او موالات وي.

- د منکر سپارښتنه کوي، د داسي کارونو سپارښتنه او ملاتړ کوي چې بدوالی ئې څرګند وي او هر د سالم طبیعت خاوند ترې کرکه لري.
- له ښېګڼو مخنیوی کوي، په خپلو تبلیغاتو سره هم، په خپلو کړو وړو سره هم او له خپلو امکاناتو په استفادې سره هم.
- د خیر له کار او د مال له انفاق ډډه کوي، د خیر لوري ته لاس نه غزوي، د خیر په کار کې له انفاق خپل لاسونه راټموي.
- دوی خدای هېر کړی، نه به ئې په وینا کې د خدای نوم واورئ، نه په خپلو تبصرو او تحلیلونو کې د قدیر خدای د وعدو یادونه، نه به ئې عمل داسي ومومئ چې ښیي خدای ئې په یاد دئ نو ځکه ئې دا عمل وکړ.
- خدای دوی هېر کړي، نه ئې دعاء او عبادت ته اعتناء کوي او نه ئې له کړاوونو او ستونزو د وتلو په لار کې مرسته کوي.
- دوی فاسقان دي، د ژوند په ډېرو برخو کې به وګورئ چې دوی د الله تعالی له اوامرو سرغړاوي کوي.

منافقین به طماع او حریص ومومئ، داسي چې له هر چا سره ئې دوستي او دښمني پر طمعي او غرض ولاړه وي، که ئې خپل غرض تر لاسه کړ له هر ډول انسان راضي وي او ستاینه ئې کوي او که نه نو ترې ناراض وي او بد پرې وایي که څه هم صالح او غوره انسان وي، قرآن فرمایي:

وَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَأَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾ التوبه: ٥٨

او د دوی ځیني هغه دي چې د صدقاتو په اړه پر تا نیوکه کوي؛ نو که څه ترې ورکړی شي راضي کېږي او که ترې ورنه کړی شي نو ناڅاپه غصه کېږي.

دلته د منافقینو بل خصلت په ګوته شوی: د صدقاتو د وېش په اړه به د مسلمانانو پر مشرتابه نیوکې کوي، حتی که دا مشر په خپله پیغمبر علیه السلام وي؛ او وېش هم کاملاً عادلانه، د نیوکو وجه ئې دا نه وي چې عدالت نه دئ مراعات شوی، بلکې وجه ئې دا وي چې دوی ته په زړه پوري برخه نه ده ورکړی شوې، که داسي څه ئې په برخه شي نو بیا کاملاً راضي وي او د عدالت د نه مراعات خبره نه کوي، خو که ئې برخه د دوی د غوښتنو مطابق نه وي نو غصه کېږي که څه هم عدالت مراعات شوی وي او دوی ته د عدالت له مخي خپله برخه ورکړی شوې وي!! د دوی قضاوت هم د وېش په اړه د هوی او هوس له مخي وي او هم د مشرتابه د تصرفاتو په اړه.

منافقین د مسلمانانو په تولني کې ځان ته بېله ډله جوړوي، د تفرقې او اختلاف باعث کېږي، د دښمن په گټه کار کوي، د خپل اصلي هویت د پټولو او اخفاء لپاره خپلو منافقانه کړنو ته غولوونکې بڼه ورکوي، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًۢا بَيْنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبْلُ ۚ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّا ٱلْحُسْنَىٰ ۖ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٠٧﴾

التوبه: ١٠٧

او هغه چې جومات ئې د ضرر، کفر، د مؤمنانو تر منځ د تفریق (وسیله) او هغه چا ته مورچل گرځولی چې تر دې مخکې له الله او د هغه له پیغمبر سره جنگېدلی؛ او حتماً په تأکید سره لوړه کوي چې له ښېگڼې پرته مو د بل څه اراده نه وه کړې؛ او الله گواهي ورکوي چې دوی له شك پرته دروغجن دي.

دلته د هغو کسانو په اړه بحث شوی چې د اسلام او مسلمانانو په ضد او د دښمن په گټه د جنگ سنگر او مورچل پرانیزي خو د جومات په څېر تر یوه غولوونکي نامه لاندې، موخه ئې دا وي چې دښمن ته گټه ورسوي، مسلمانان متضرر کړي، د اسلام په ضد د کفر مرسته او خدمت وکړي، د مسلمانانو تر منځ تفرقه او اختلافات راولاړ کړي او د هغو خلکو لپاره پناه ځی او مورچل جوړ کړي چې له اسلام او مسلمانانو سره جنگېدلي، خو له دې ټولو سره سره به د الله په نامه لوړه کوي چې کوم بد نیت نه لري، د اسلام او مسلمانانو د ښېگڼې لپاره ئې دا کار کړی، دا په داسې حال کې چې الله تعالی گواهي ورکوي چې دوی دروغجن دي، نه ئې نیت او اراده سمه ده او نه ئې دا کار د اسلام او مسلمانانو په گټه.

پیغمبر علیه السلام د منافقینو د خصلتونو په اړه فرمايي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضی الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه و سلم قَالَ (أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقاً خَالِصاً وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا: إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ) متفقٌ عَلَيْهِ

له عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: څلورگوني (خصلتونه) داسې دي چې په چا کې وي بشپړ منافق دئ؛ او په چا کې چې له دغو څلورو یو وي په هغه کې د نفاق یو خصلت دئ، تر هغه چې پرې ئې ږدي: کله چې امین ونیول شي خیانت کوي، کله چې خبري کوي دروغ وايي، کله چې وعده وکړي غدر کوي؛ او کله چې شخړه کوي سپکې سپورې وايي.

وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ حَتَّىٰ نَعۡلَمَ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ مِنكُمۡ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَنَبۡلُوَاْ أَخۡبَارَكُمۡ ﴿٣١﴾

او حتماً به تاسو وآزمويو تر هغه چې ستاسو مجاهدين او صبركوونكي معلوم كړو او ستاسو خبري وآزمويو.

---

(٣١)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- د آزموينو په ترڅ کې مخلص او صابر مجاهدين پېژندل كېږي؛ او د هر چا د ادعاگانو حقيقت جوتېږي، الله تعالی د همدې لپاره مؤمنان له ډول ډول آزموينو سره مخامخ کوي.
- پر پورتنيو دوو معيارونو او ملاکونو سربېره د ابتلاءاتو او کړاوونو په دوران کې د دې ډلې له مواقفو هم کولی شو دوی وپېژنو، له ستونزو، کړاوونو او موقتي ماتو سره د مؤمنانو د مخامخېدو يو حکمت همدا دئ چې په ترڅ کې ئې مخلص او صابر مجاهدين له دوه مخو، بې ثباتو او مذبذبو منافقينو تفکيك كېږي او د دوی د هغو ادعاوو څرنگوالی جوتوي چې تر کړاوونو او ابتلاءاتو وړاندي ئې کولې او ماهيت ئې ټولو ته جوتېږي.

منافقين نه يوازي له خپلو ورځنيو عادي کړنو، ويناوو او اړيکو پېژندل كېږي بلكې د جهاد او مبارزې په ستونزمنو مراحلو کې په ډېري آسانۍ سره له هغو مخلصو افرادو تفکيك کېدی شي چې د ايمان لپاره له هر گواښ سره ډغري وهلی شي او هر ضرر او خطر منلی شي، په جهاد کې فعاله برخه او د اسلام لپاره د سر او مال قرباني د هر بې همته او جبون انسان کار نه دئ، يوازي د مضبوط ايمان خاوندان په دې لار تللی شي، په سختو شرائطو او خطرناکو پړاوونو کې مذبذب ايمان او کمزوری اعتقاد نه شي کولی انسان وړاندي تلو ته چمتو کړي، له همدې کبله ده چې په داسي مراحلو کې مخلص او صابر مجاهدين او د قوي ايمان خاوندان له منافقينو تفکيك كېږي، قرآن په دې اړه فرمايي:

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَيَعۡلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٢﴾ آل عمران

آيا داسي مو انگېرلې چې جنت ته به له هغه د مخه داخل شئ چې لا الله نه ستاسو مجاهدين معلوم کړي او نه ئې صابران معلوم کړي؟!!

الله تعالی د امامت او قيادت جليل منصب هغه چا ته سپاري چې په آزموينو کې ئې د صبر لمن کلکه نيولې او بريالی شوی:

وَجَعَلۡنَا مِنۡهُمۡ أَئِمَّةٗ يَهۡدُونَ بِأَمۡرِنَا لَمَّا صَبَرُواْۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ السجده

او له دوی مو ځيني داسي امامان وگرځول چې زموږ د امر مطابق ئې (د خلکو) لارښوونه کوله، (دا) هغه مهال چې دوی صبر وکړ او زموږ پر آيتونو ئې باور کولو.

د بني اسرائيلو په اړه فرمايي:

وَأَوْرَثْنَا ٱلْقَوْمَ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ يُسْتَضْعَفُونَ مَشَـٰرِقَ ٱلْأَرْضِ وَمَغَـٰرِبَهَا ٱلَّتِى بَـٰرَكْنَا فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُوا۟ ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُۥ وَمَا كَانُوا۟ يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾ الاعراف

او د هغې زمکې ختيځې او لوېديځې برخې چې برکتونه مو په کې اېښي وو هغه قوم ته په میراث ورکړې چې په استضعاف کې ساتل کېدل او ستا د رب غوره وینا د بني اسرائیلو په اړه په دې سبب بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ او هغه څه مو ویجاړ کړل چې فرعون او قوم ئې جوړول او لوړول.

رحمن رب د غفران او رحمت وزر پر هغه چا غوړوي چې په ابتلاءاتو کې د صبر لمن کلکه نیسي او جهاد کوي، لکه چې قرآن فرمايي:

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ مِنۢ بَعْدِ مَا فُتِنُوا۟ ثُمَّ جَـٰهَدُوا۟ وَصَبَرُوٓا۟ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٠﴾ النحل

بیا یقیناً چې ستا رب د هغو وګړو په اړه له شك پرته ډېر مهربان بخښونکی دئ چې په آزمېښتونو کې له اچول کېدو وروسته ئې هجرت کړی، بیا ئې جهاد او صبر کړی.

په بل ځای کې فرمايي:

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ فِى ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا۟ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَأَجْرُ ٱلْـَٔاخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾ النحل

او هغو چې د الله په لار کې ئې له هغه وروسته هجرت کړی چې ظلم پرې شوی، هرومرو به ئې په دنیا کې په غوره توګه ځای پر ځای کړو او د آخرت اجر خو تر ټولو ستر دئ، کاش پوهېدی. همغه چې صبر ئې وکړ او پر خپل رب توکل کوي.

---

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَشَآقُّوا۟ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْهُدَىٰ لَن يَضُرُّوا۟ ٱللَّهَ شَيْـًٔا وَسَيُحْبِطُ أَعْمَـٰلَهُمْ ﴿٣٢﴾

٣٢- یقیناً هغه چې کفر ئې وکړ او د الله له لارې ئې امتناع وکړه او له پیغمبر سره ئې مخالفت وکړ؛ او دا له هغه وروسته چې هدایت ورته جوت شو؛ هیڅکله به الله ته کوم ضرر ونه رسوي او حتماً به د دوی عملونه حبط او شنډ کړي.

---

(٣٢)ـ منافقین ورو ورو په خپل نفاق کې وړاندې درومي او هغه پړاو ته رسېږي چې کاملاً کافرانه کړنلاره او دریځ غوره کوي، له الله تعالی سره خپلې اړیکې شلوي، په قول او عمل

کي د اسلام له دائرې وځي، انشعاب کوي او عملاً د دښمن له جبهې سره يو ځای کېږي، خو
په دې کار سره يوازې خپل ځان ته صدمه رسوي، نه دې دوی دا ګمان کوي او نه دې
مؤمنان داسې تصور کوي چې منافقين به په خپلو منافقانه کړنو او دريځونو سره الله تعالی
او د ده دين ته تاوان ورسوي، بلکې بايد په دې باور وي چې د دوی ټولې هلې ځلې او
مساعي به حبط او هدر کېږي او معکوس او د دوی د زعم خلاف نتائج به د دوی مخې
ته ږدي.

لکه چې قرآن فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزْدَادُواْ كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ ٱللَّهُ
لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا ﴿١٣٧﴾ بَشِّرِ ٱلْمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣٨﴾ النساء

يقيناً هغه چې ايمان ئې راوړ، بيا کافر شول، بيا ئې ايمان راوړ، بيا ئې کفر وکړ، بيا ئې په
کفر کې زياتوالی وکړ، نو دوی ته خو نه الله بخښنه کوي او نه ئې په سمه لار هدايت کوي.
منافقينو ته د دې زېری ورکړه چې دوی ته دردونکی عذاب دئ.

همدا راز فرمايي:

يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ وَلَقَدْ قَالُواْ كَلِمَةَ ٱلْكُفْرِ وَكَفَرُواْ بَعْدَ إِسْلَٰمِهِمْ وَهَمُّواْ بِمَا لَمْ
يَنَالُواْۚ وَمَا نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنْ أَغْنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضْلِهِۦۚ فَإِن يَتُوبُواْ يَكُ خَيْرًا لَّهُمْۖ
وَإِن يَتَوَلَّوْاْ يُعَذِّبْهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِۚ وَمَا لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مِن وَلِىٍّ وَلَا
نَصِيرٍ ﴿٧٤﴾ التوبه

د الله په نامه لوړه کوي چې ويلي ئې نه دي، حال دا چې يقيناً ئې د کفر وينا کړې، له
خپلې مسلمانۍ وروسته (ښکاره) کافران شوي او د هغه څه هڅه ئې کړې ده چې نه
ورورسېدل؛ او نيوکې ئې يوازې په دې وجه وې چې الله او پيغمبر ئې دوی له خپل فضل
برخمن کړل، نو که ئې توبه وکړه ورته غوره ده او که ئې مخ واړاوو نو الله به ئې په دنيا
او آخرت کې په دردناك عذاب سره تعذيب کړي او په زمکې کې به ئې نه کوم دوست وي او
نه کوم مرستندوی.

د دوی د مخالفت او انشقاق سزا داسې ښيي:

وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ ٱلْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا
تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾ النساء

او څوك چې له پيغمبر سره له هغه وروسته مخالفت وکړي چې سمه لار ورته څرګنده
شوې او له مؤمنانو پرته د بلې لارې متابعت وکړي، همغه لوري ته به ئې مخه کړو چې

ده ورته مخ اړولی او په دوزخ کې به ئې ننباسو او د ورګرځېدو څومره بد ځای.
لکه چې د محمد د سورې په ۳۲ آیت کې منافقین د (الذین کفروا) په نامه یاد شوي په ځینو نورو آیتونو کې هم دغه نوم د دوی لپاره کارول شوی، لکه دا:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَوۡ كَانُواْ غُزّٗى لَّوۡ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجۡعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسۡرَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١٥٦ آل عمران

اې مؤمنانو! د هغو په څېر مه کېږئ چې کافران شول او د خپلو وروڼو په اړه ئې چې په سفر تللي وو او یا ئې غزا کوله (او هلته یا مړه یا وژل شوي وو) وویل: که زموږ په خوا کې وی، نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو!! د دې لپاره چې الله دا خبره د دوی په زړونو کې د حسرت باعث وګرځوي، حال دا چې د ژوند، مرګ پرېکړه الله کوي او الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبۡطِلُوٓاْ أَعۡمَٰلَكُمۡ ٣٣

۳۳- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! د الله اطاعت وکړئ او د پیغمبر اطاعت وکړئ او خپل عملونه مه باطلوئ.

---

(۳۳)ـ د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

- دا مبارك آیت مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې د الله تعالی او د هغه د پیغمبر اطاعت وکړي.
- د الله تعالی د اوامرو عدم اطاعت او د ده د رسول د لارښوونو عدم متابعت سره انسان د نفاق په ګنده ډنډ کې پرېوځي او هځي ئې حبط کېږي.
- د دې آیت معنی دا ده چې کوم عمل د الله او د هغه د پیغمبر د اطاعت له مخې نه وي، هغه عمل د الله په وړاندې باطل دئ، هر څه چې کوې باید په دې اساس او له دې احساس سره ئې وکړې چې په دې سره د الله او د الله د پیغمبر اطاعت کوې، یعنې کوم عمل چې د الله او د پیغمبر د اطاعت په بنا نه وي هغه باطل دئ او د الله تعالی په وړاندې هیڅ ارزښت او اعتبار نه لري.
- د هغه چا هڅې او کړنې له ضائع کېدو او بې نتیجې پاته کېدو ژغورل کېږي چې عمل ئې د الله او د هغه د رسول د اطاعت له مخې وي، قرآن په دې اړه فرمایي:

... وَإِن تُطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَا يَلِتۡكُم مِّنۡ أَعۡمَٰلِكُمۡ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٤

الحجرات

... او که د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ نو ستاسو د عملونو هيڅ څه به کم نه کړي، يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ.

د الله او د هغه د رسول اطاعت د بريا او فلاح ضامن ګڼي او فرمايي:

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخۡشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقۡهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ۝٥٢ النور

او چا چي د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړ او له الله ووېرېدو او (د هغه) له (مخالفت) ئې ځان ساتنه وکړه، نو همدغه کسان بريالي دي.

همدا راز فرمايي:

... وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ۝٧١ الاحزاب

... او چا چي د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړ نو يقيناً چي په ستري بريا سره بريالی شو.

قرآن د پيغمبرانو عليهم السلام دعوت په دوو مطالبو کې خلاصه کوي: (تقوی او اطاعت)، لکه چي فرمايي:

كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوحٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ۝١٠٥ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ۝١٠٦ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٌ ۝١٠٧ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۝١٠٨ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝١٠٩ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۝١١٠ الشعراء

د نوح قوم پيغمبران تکذيب کړل، هغه مهال چي د دوی ورور نوح ورته وويل: آيا ځان ساتنه نه کوئ؟ زه درته امين استازی يم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. او له تاسو هيڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر يوازي پر رب العالمين دئ، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

د هود عليه السلام دعوت په همدغو دوو خبرو کې خلاصه کوي او فرمايي:

كَذَّبَتۡ عَادٌ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ۝١٢٣ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ۝١٢٤ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٌ ۝١٢٥ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۝١٢٦ الشعراء

عاديانو پيغمبران تکذيب کړل، هغه مهال چي د دوی ورور هود ورته وويل: آيا ځان ساتنه نه کوئ؟ زه درته امين استازی يم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

هر اطاعت بايد د الله تعالی او د هغه د پيغمبر پر اطاعت مبتني وي له دې پرته اطاعت د تېروتني او بې لاري کېدو باعث کېږي، لکه چي قرآن فرمايي:

وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ۝١١٦ الانعام

او که ته د ډېرى هغو خلکو اطاعت وکړې چې په زمکې کې اوسي نو د الله له لارې به دې تېرباسي، دوی خو يوازې په گمانونو پسې روان دي او يوازې په خوشو دروغجنو خبرو کې لگيا دي.

دلته د يوې مهمې او اساسي خبرې لارښوونه شوې: په يوې جهل وهلې او شرك ځپلې ټولنې کې دا د معيار او ملاك په توگه مه نيسه چې ځومره خلك د يوې خبرې ملا تړ کوي، دلته به اکثريت داسې وومې چې متابعت ئې تا د حق له لارې منحرف کوي. د دغو خلکو ډېرى داسې دي چې د علم په ځاى په گمانونو پسې درومي او د بامقصده او جدي خبرو په ځاى په خوشو دروغجنو خبرو کې لگيا دي، د دوی مذهب، مسلك، د ژوند طريقه، اصول او ضوابط په قياس او تخمين ولاړ دي.

دې ته مو بايد پام وي چې دغې خبرې ته عموميت ورکول او په يوې اسلامي ټولنې ئې هم اطلاق کول صحيح نه دهٔ، د مسلمانانو اجماع، سواد اعظم او اکثريت اعتبار لري، البته په ټولو هغو مواردو کې چې صريح نص نه وي او پرېکړه د مسلمانانو خوښې ته پرېښودل شوې وي.

په بل ځاى کې فرمايي:

فَلَا تُطِعِ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿٨﴾ وَدُّواْ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ﴿٩﴾ وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ ﴿١٠﴾ هَمَّازٍ مَّشَّآءِۭ بِنَمِيمٍ ﴿١١﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴿١٣﴾ أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ﴿١٤﴾ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٥﴾ القلم

نو د دغو دروغجنو اطاعت مه کوه. خوښوي چې کاش ته مداهنت وکړې چې بيا دوی هم مداهنت وکړي. او اطاعت مه کړه د هر سپك قسم خور. عيب لټونکي، نمامت گر، د خير مانع، متجاوز، گنهگار، بدخوی، سربېره پر دې بدنام، د دې لپاره چې د مال او د اولاد خاوند دئ، کله چې زمونږ آيتونه پرې ولوستی شي وايي به: د مخکينيو قصې دي!!

په بل آيت کې دا لارښوونه شوې چې د چا په څنگ کې به وو او د چا له اطاعت به ډډه کوو:

وَٱصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ ۖ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُۥ عَن ذِكْرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمْرُهُۥ فُرُطًا ﴿٢٨﴾ الكهف

د هغو خلکو په څنگ کې صبر وکړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعاء کوي، په داسې حال کې چې رضاء ئې لټوي او له دوی دې ستا سترگې بل پلو وانه وړي، د دنيوي ژوند د زينتونو په لټه کې؛ او د هغه چا متابعت مه کوه چې د ده زړه مو له خپل ذکر غافل کړی

او د خپل نفس او هوس متابعت کوي او کار ئې زياتى او افراط دئ.

همدا راز فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ١﴾ الاحزاب

اې نبي! له الله وېره لره او د کافرانو او منافقينو اطاعت مه کوه، يقيناً چې الله ښه باحکمت پوه دئ.

همدا راز لارښوونه کوي چې د کافرانو او منافقينو تګلاري او کړنلاري مه خپلوه او د دوی اطاعت مه کوه:

﴿وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَدَعۡ أَذَىٰهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ٤٨﴾ الاحزاب

او د کافرانو او منافقينو متابعت مه کوه، ځوروني ئې له پامه وغورځوه؛ او پر الله توکل وکړه؛ او الله د وکيل په توګه کافي دئ.

پيغمبر په دې ګمارل شوی چې د کافرانو او منافقانو اطاعت به نه کوي، له کافرانو او منافقينو به ځان لرې ساتي، د هغوی تګلاري او کړنلاري به مردود شمېري، د ژوند په هيڅ برخي او هيڅ کار کې به د دوی کړنلاره نه غوره کوي، هدف ته د رسېدو لپاره به هغه لاري چاري او تدبيرونه نه غوره کوي چې کافران او منافقان ئې غوره کوي، د دوی د اذيتونو او ځورونو، تبليغاتو او غوغاوو پروا به نه کوي.

ځوك چې نه شي کولی په خپله د دين د اصلي مراجعو په رڼا کې د الله او د هغه د پېغمبر د اطاعت په غوښتنو او څرنګوالي پوه شي او مور پلار ئې هم داسي وي چې د ده لارښوونه نه شي کولی او حتی غواړي بې لاري ئې کړي، هغه ته داسي لارښوونه کوي:

﴿وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشۡرِكَ بِي مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ فَلَا تُطِعۡهُمَاۖ وَصَاحِبۡهُمَا فِي ٱلدُّنۡيَا مَعۡرُوفٗاۖ وَٱتَّبِعۡ سَبِيلَ مَنۡ أَنَابَ إِلَيَّۚ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٥﴾ لقمان

او که دوی دواړو ستا په اړه دا هڅه کوله چې له ما سره داسي څه شريك کړې چې د هغه په اړه علم نه لرې نو اطاعت ئې مه کوه؛ او په دنيايي چارو کې په ښه توګه مصاحبت ورسره کوه؛ او د هغه چا متابعت کوه چې زما لوري ته ئې انابت کړی، بيا مو بېرته ګرځېدا زما په لوري ده نو په هغه څه به مو خبر کړم چې تاسو کول.

اسلام لکه څنګه چې د لمانځه په اړه مونږ ته لارښوونه کوي چې هره ورځ پنځه ځلي په جومات کې په يوه امام پسي اقتداء وکړو همدا راز په اجتماعي او سياسي چارو کې مونږ

ته لارښوونه کوي چي له يوه امير او زعيم سره بيعت وکړو، موږ ته وايي لمونځ مو له امام سره يو ځای پيل کړئ او يو ځای ئې پای ته ورسوئ، د هغه تر شا په منظمو ليکو کې ودرېږئ، له ده سره يو ځای رکوع او سجده وکړئ، د قعدې او قيام په وخت کې مه تر ده وړاندي کېږئ او مه وروسته کېږئ که نه نو لمونځ مو فاسد کېږي.

قرآن په دې اړه فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ﴿٥٩﴾ النساء

اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پيغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کې مو په خپلو کې شخړه وکړه، نو الله او پيغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لرئ، دا ډېر غوره دئ او د پايلي له پلوه ډېر شايسته.

رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغه چا په اړه چي له اسلامي صف بېلېږي فرمايي:

عَنْ أَبِى ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم-: « مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الإِسْلاَمِ مِنْ عُنُقِهِ ». سنن ابی داؤد

له ابوذر رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: څوك چي د يوې لوېشتي په اندازه له جماعت لري شو د اسلام کړی ئې له خپلي غاړې وايستله.

له دې مبارك حديث معلومېږي چي له جماعت وتل او تفرق او انشعاب داسي دئ لکه د اسلام له حريم وتل.

قَالَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- « وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ اللهُ أَمَرَنِى بِهِنَّ بِالْجَمَاعَةِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَالْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ فِى سَبِيلِ اللهِ فَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ الْجَمَاعَةِ قِيدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الإِسْلاَمِ مِنْ عُنُقِهِ إِلاَّ أَنْ يَرْجِعَ وَمَنْ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَاءِ جَهَنَّمَ ». قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَإِنْ صَامَ وَإِنْ صَلَّى قَالَ « وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ فَادْعُوا الْمُسْلِمِينَ بِأَسْمَائِهِمْ بِمَا سَمَّاهُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ الْمُسْلِمِينَ الْمُؤْمِنِينَ عِبَادَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ » مسند احمد و الترمذی

رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: په پنځګونو مو ګمارم چي الله زه پرې ګمارلی يم: جماعت، سمع، اطاعت، هجرت؛ او د الله په لار کې جهاد، حقيقت دا دئ چي څوك د يوې لوېشتي په اندازه له جماعت لري شو د اسلام کړی ئې له خپلي غاړې وايستله مګر دا چي بېرته راوګرځي؛ او چا چي د جاهليت د کومي بلني بلنه وکړه هغه د دوزخ خاشاك

دئ، ځينو وويل: يا رسول الله که څه هم لمونځ ئې کړی او روژه ئې نيولې؟ وئې فرمايل: که څه هم لمونځ ئې کړی او روژه ئې نيولې او گمان ئې کړی چې مسلمان دئ، نو مسلمانان په خپلو هغو نومونو ياد کړئ چې الله پرې ياد کړي: مسلمانان، مؤمنان او د الله بندگان.

همدا راز فرمايي:

عَنْ مُعَاذِ بن جَبَلٍ أن نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ:"الشَّيْطَانُ ذِئْبُ الإِنْسَانِ كَذِئْبِ الْغَنَمِ يَأْخُذُ الشَّاةَ الشَّارِدَةَ وَالْقَاصِيَةَ وَالنَّاحِيَةَ". المعجم الكبير للطبرانى

له معاذ بن جبل رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: شيطان د انسانانو لېوه دئ داسې لکه د مېږو لېوه چې ترېدلې، لرې شوې او ډډې ته شوې مېږه نيسي (خوري ئې).

همدا راز فرمايي:

عن مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ « إِنَّ الشَّيْطَانَ ذِئْبُ الإِنْسَانِ كَذِئْبِ الْغَنَمِ يَأْخُذُ الشَّاةَ الْقَاصِيَةَ وَالنَّاحِيَةَ فَإِيَّاكُمْ وَالشِّعَابَ وَعَلَيْكُمْ بِالْجَماعَةِ وَالْعَامَّةِ والْمَسْجِدِ ». مسند احمد

له معاذ بن جبل رضی الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: شيطان د انسانانو لېوه دئ داسې لکه د مېږو لېوه چې يوازې شوې مېږه، هغه چې د تنفر له کبله له رمې بېله شوې، له انشعاب او اختلاف ډډه وکړئ او جماعت، اکثريت او جومات سره اوسېدا پر ځان لازم کړئ.

رسول الله صلی الله عليه و سلم مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې که دوی دوه او درې هم وي بايد يو تن د امير په توگه وټاکي او له هغه اطاعت وکړي.

د هغه چا په اړه چې سرغړاوی کوي او بېله ډله جوړوي فرمايي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه و سلم « مَنْ بَايَعَ إِمَاماً فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ فَلْيُطِعْهُ مَا اسْتَطَاعَ فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَ الآخَرِ ». مسند احمد

له عبد الله بن عمرو بن العاص روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: چا چې له يوه امير سره بيعت وکړ، خپل لاس ئې د هغه په لاس کې کېښېښود، د خپل زړه ثمره ئې ورکړه (په اخلاص سره ئې بيعت وکړ) نو په کار ده چې د خپل وس په اندازه د هغه اطاعت وکړي، بيا که بل راغی او له هغه سره ئې نزاع پيل کړه، نو د دې بل غاړه ووهئ.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُواْ وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ﴿٣٤﴾﴾

٣٤- يقيناً هغه چې کفر ئې وکړ او د الله له لارې په ډېره شول بيا په داسې حال کې مړه شول چې کافران ول؛ الله به هيڅکله دوی ته بخښنه ونه کړي.

(٣٤)ـ دا مبارك آيت وايي: منافق داسې گنهکار دئ چې له الهي بخښنې او مغفرت محروم دئ. منافقين چې په لومړي سر کې د کفر او ايمان تر منځ مذبذب او متردد ول، نتوانېدل يو لورى په پرېکنده او صادقانه توگه انتخاب کړي، وروسته ئې منافقانه مواقف غوره کړل او غوښتل ئې د دواړو لوريو امتيازات تر لاسه کړي، بيا په خپل نفاق کې دومره وړاندې ولاړل چې د اسلام له دائرې ووتل او په بشپړه توگه ئې کافرانه دريځونه او کړنلارې غوره کړې، له اسلام او مسلمانانو سره ئې عداوت او دښمنۍ ته ملا وتړله، په خپلو منافقانه مواقفو سره ئې هڅه وکړه د الله په لار کې خنډونه راولاړ کړي، د ژوند تر پايه هدايت نه شول، له منافقتونو ئې لاس وانه خيست؛ او د کفر په حالت ئې سا وخته، دوی له الهي مغفرت او بخښنې محروم دي او په الهي عذاب به اخته کېږي، مؤمنان پر دې گمارل شوي چې له داسې وگړو سره به د دوستۍ اړيکې شلوي، د دوی له درناوي به ډډه کوي، له دوی سره به ئې چلن قهرجن او پر شدت او غلظت ولاړ وي، د دوی له مړيني وروسته به هم نه د مغفرت دعاء ورته کوي او نه به زړه سوی او همدردي څرگندوي، لکه چې قرآن فرمايي:

﴿ٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٨٠﴾﴾ التوبه

بخښنه ورته وغواړه او يا بخښنه مه ورته غواړه؛ که اويا ځله هم بخښنه ورته وغواړې الله به هيڅکله بخښنه ورته ونه کړي، دا د دې لپاره چې د الله او د ده د پيغمبر په اړه ئې کفر کړی او الله داسې فاسق وگړي نه هدايتوي.

دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه کوي چې ځينې منافقين داسې هم وو چې د تقوى دعوى به ئې کوله، پيغمبر عليه السلام ته به راتلل او ويل به ئې: له موږ قصور او غلطي شوې، پرې پښېمانه يو، د جبران په لټه کې يو، بل ځل به وگورې چې داسې څه وکړو چې ستا سترگې پرې روښانه شي او موږ مخکينۍ گناه پرې جبران کړو!! الله تعالی د دغې منافقې ډلې د دې ادعاء په رد کې فرمايي: اې پيغمبره! خوښه دې چې بخښنه ورته غواړې که نه؛ خو پوه شه چې که اويا ځله هم بخښنه ورته وغواړې نو الله به هيڅکله بخښنه ورته ونه کړي، دا ځکه چې دوی د الله او د ده د پيغمبر په اړه کفر کړی او دا د الله

سنت دئ چي داسي فاسق وګړي نه هدايتوي.

په بل ځای کي فرمايي:

سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ أَسۡتَغۡفَرۡتَ لَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ لَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ۝٦ المنافقون

پر دوی برابره ده چي بخښنه ورته غواړې که بخښنه نه ورته غواړې؛ الله هيڅکله دوی ته بخښنه نه کوي، يقيناً چي الله دا فاسق وګړي نه هدايتوي.

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٖ مِّنۡهُم مَّاتَ أَبَدٗا وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ إِنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُواْ وَهُمۡ فَٰسِقُونَ ۝٨٤ التوبه

او چي ومري پر هيڅ يوه ئې (د جنازې) لمونځ مه کوه او پر قبر ئې مه ودرېږه، يقيناً چي دوی پر الله او پيغمبر ئې کفر کړی او په داسي حال کي مړه شوي چي فاسقان ول.

---

فَلَا تَهِنُواْ وَتَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلۡمِ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ وَلَن يَتِرَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ ۝٣٥

٣٥- نو مه سست کېږئ؛ او روغي جوړي ته بلنه مه ورکوئ، په داسي حال کي چي تاسو لوړ يئ او الله له تاسو سره دئ او هيڅکله به ستاسو عملونه درته ضائع نه کړي.

---

(٣٥)ـ دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه کوي چي وهن او سستي، صلحي او روغي جوړي ته د دښمن بلل، د دښمن په وړاندي د حقارت او ضعف احساس، له الهي تأييد او نصرت يأس او ناهيلي، په دې اړه ټينګ او ثابت باور نه درلودل چي د الله تعالی په لار کي هيڅ عمل او هېڅ هڅه او هاند نه ضائع کېږي، د نفاق هغه سپېرې نښې دي چي بايد په کلکه ترې ډډه وکړو.

دا آيت لاندي اساسي مطالب افاده کوي:

- د دښمن په وړاندي د ضعف او ناتوانۍ احساس مه کوئ، د دښمن په ضد د خپلي مبارزې شور او شوق له لاسه مه ورکوئ، لټي او کسالت مه کوئ.
- دښمن ته د صلحي او روغي جوړي پيغامونه مه لېږئ او تفاهم او سازش ته ئې مه رابلئ.
- تاسو لوړ ياست، لوړ تر دې چي د دښمن په وړاندي د ضعف او کمزورۍ احساس وکړئ او د سازش او روغي جوړي لاس وراوږد کړئ.

- گمان مه کوئ چې تجرید شوي يئ او دښمن توانېدلی چې تاسو محاصره او تجرید کړي او له ولسه مو منزوي کړي، گمان مه کوئ چې یوازې پاته شوي يئ، د یوازیتوب احساس باید تاسو له دښمن سره جوړ جاړي ته اړ نه کړي، د زمکې او آسمانونو لوی رب له تاسو سره او ستاسو مل دئ.
- گمان مه کوئ چې له روغې جوړې پرته به ستاسو ټولې هلې ځلې هدر شي، قرباني به مو ضائع شي او هغه نتائج به پرې مرتب نه شي چې الله تعالی ئې له تاسو سره وعده کړې، الله تعالی به هیڅکله ستاسو قرباني ضائع نه کړي او ستاسو هلې ځلې به بې نتیجې پرې نږدي.

لکه چې گورئ په دې آيت سره مؤمنانو ته امر شوی چې دښمن ته به د روغې جوړې او مصالحې لاس نه اوږدوئ، خو د الانفال په سورې کې ویل شوي چې که دښمن روغې جوړې ته متمایل شو تاسو هم متمایل شئ او پر الله توکل وکړئ... راشئ وگورو چې دا د صلحې په اړه بېل بېل او متفاوت احکام څنگه تلفیق کولی شو؟ او په کوم یوه به کله عمل کوو؟ کله له دښمن سره صلح کول جائز دي او کله ناجائز؟ آیا دا قضیه د نهضت مشرانو ته پرېښودل شوې چې مصلحت ته په پام سره مناسب تصمیم ونیسي؟ آیا دا سمه ده چې ووایو: د دې آیتونو په حکم سره مسلمانان له دې منع شوي چې دښمن ته د روغې جوړې پیغامونه ولېږي، خو که د صلحې پیغام د دښمن له لوري وي او تفاهم او جوړ جاړي ته تیاری وښيي بیا نو مسلمانان کولی شي مثبت ځواب ورکړي؟ ښایي ځینو ته دا استدلال معقول وبرېښي او د آیت له ظاهر سره ئې سم وگڼي!! خو دا انتباه په څو دلیله سمه نه ده:

۱- د دې استدلال له مخې چې د صلحې وړاندیز د دښمن له لوري وي نو مسلمانان کولی شي روغه جوړه وکړي، پرته له دې چې وگوري د دښمن وړاندیز د ضعف له دريځه دئ که د قوت او برلاسي له دريځه او پرته له دې چې وگوري مسلمانان د قوت په دريځ کې دي که د ضعف او کمزورۍ په دريځ کې!! که دا استدلال سم او د منلو وړ وی نو پیغمبر علیه السلام به حتماً په مکي دور کې د دښمن د صلحې وړاندیزونو ته مثبت ځواب ويلی وو!! حال دا چې د مکي دور په دیارلسو کلونو کې او د مدینې په شپږو کلونو کې د حدیبیې تر صلحې پوري ئې نه له دښمن سره روغه جوړه وکړه، نه ئې انعطاف او نرمي وښوده او نه خبرو آترو ته کښېناست، په داسي حال کې چې د قریشو سردارانو تل د هغې غوښتنه کوله او ډول ډول وړاندیزونه ئې لرل. قرآن په گڼ شمېر آیتونو کې دې حقیقت ته اشاره کوي.

۲- که له دښمن سره د روغې جوړې مربوط آیتونو د نزول ترتیب ته لږ ځیر شو وبه گورو چې د مقاطعې، عدم انعطاف، له مداهنت ډډه کول او روغې جوړې ته د نه رابللو آیتونه په هغې مرحلې کې نازل شوي چې د مکې دیارلس او د مدینې شپږ لومړني کلونه احتواء

کوي. همغه مرحله چې دښمن د برلاسي احساس کاوو او نهضت ئې ضعيف او کمزورى ګاڼو. خو کله چې نهضت له تدافعي حالته ووت، د دښمن ټول بريدونه ئې په شا وټمبول او په ټولو نښتو کې ئې خپله وړتيا او قوت اثبات کړ، اوس د دښمن په پرتله د برلاسۍ او قوت احساس کوي، دغه وخت دئ چې له دښمن سره د تفاهم او روغي جوړي اجازه ورکول کېږي. د قرآن په آيتونو کې د غور په نتيجه کې به دا وګورئ چې د (وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا) آيت د بدر په جګړي کې له بريا وروسته نازل شوى، حال دا چې له تفاهم او روغي جوړي د اجتناب آيتونه ټول تر دې د مخه نازل شوي، د حديبيې صلح هغه وخت وشوه چې د دښمن وروستى لوى بريد د خندق په جګړي کې له ماتي سره مخامخ شو او له ماتي وروسته پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له دې وروسته به قريش د حملې توان تر لاسه نه کړي. ګورئ چې د حديبيې صلح د نهضت د قوت او برلاسي او د دښمن له مسلسل ماتو ووسته د حرم خوا کې د دښمن تر سلطې لاندي سيمي کې امضاء شوې.

د دې آيتونو په رڼا کې او د هر يوه د نزول د زمانې شرائطو ته په پام سره په وضاحت او آسانۍ سره دا حقيقت درك کولى شو چې صلح د نهضت د قوت او ځواکمنۍ د وخت کار دئ، د هغه وخت کار چې دښمن د عجز او ضعف احساس وکړي او نهضت عملاً خپله برلاسي او ځواکمني ثابته کړي، هغه وخت چې دښمن صلحي ته اړ شوى وي او له دې پرته بله چاره نه ګوري چې د مسلمانانو شرائطو ته تسليم شي. عجيبه ده چې څوك دا ټول حقائق له پامه غورځوي او صلح د ضعف او ناتوانۍ د مرحلې کار ګڼي او ادعاء کوي چې نهضت کولى شي د ضعف په وخت کې له دښمن سره روغه جوړه وکړي!!!

څوك په دې حقيقت نه پوهېږي چې د دوو ښکېلو خواوو تر منځ روغه جوړه تل د برلاسي او غالب لوري د شرائطو په اساس رامنځته کېږي، د غالب لوري شرائط منل کېږي او مغلوب لورى د ده د شرائطو منلو ته غاړه ږدي، يوازي په دې صورت کې ده چې د صلحي معاهده د دوو خواوو تر منځ امضاء کېږي، اسلام هيڅکله مسلمان ته د دې اجازه نه ورکوي چې ذلت ته سر ټيټ کړي، د دښمن شرائطو ته تسليم شي، د همدې لپاره د ضعف او ناتوانۍ په وخت کې عدم مداهنت او صلحي ته په عدم دعوت تأکيد کوي، خو د برلاسۍ په وخت کې اجازه ورکوي چې تفاهم وکړي او د صلحي بلنې ته مثبت ځواب ووايي. کوم کسان چې د قرآنکريم په تفسير کې د آيتونو شأن نزول او د هر آيت د نزول شرائطو ته پام نه کوي او هر آيت بېل بېل او له نورو سره ئې تړاو ته له پام پرته تر بحث لاندي نيسي، کله چې د يوې قضيې په اړه دوه متباين احکام ګوري او په توجيه کې ئې له ستونزي سره مخامخ کېږي او له تلفيق ئې عاجز کېږي نو د دې پر ځاى چې ووايي: د يوه حکم په يوې مرحلې پوري او بل ئې په بلې پوري مربوط دئ، برعکس د دغو پورتنيو آيتونو په څېر ئې تعبيروي! يا ئې يو ناسخ او بل منسوخ ګڼي!!

د دوی د تعبیر له مخې مسلمانان مکلف دي چې د دښمن له لوري د صلحې وړاندیز ته له ځنډه پرته مثبت ځواب ووایي، ګواکې مسلمانان له دښمن سره له روغې جوړې نه بلکې یوازې له دې منع شوي چې دښمن ته په خپله د روغې جوړې وړاندیز وکړي، خو که دا ابتکار د دښمن له لوري وو او د روغې جوړې پیغام هغه ورولېږو نو بیا کولی شي له ځنډه پرته روغه جوړه وکړي!! په داسې حال کې چې مسئله کاملاً د دې عکس ده، د قرآن آیتونه او عملي مصادیق ئې د پیغمبر علیه السلام په ژوند او له دښمن سره ئې په معامله کې په ډېر وضاحت سره ښیي چې صلح ځان ته خاص وخت او شرائط لري، له دښمن سره صلح او تفاهم د قوت او ځواکمنۍ د مرحلې کار دئ نه د ضعف د مرحلې، د مدني مرحلې کار دئ نه د مکي مرحلې.

لکه چې ګورئ د دې سورې په پیل کې هغه بهرنی دښمن معرفي شو چې د نهضت په وړاندې ودرېږي، په لارې کې خنډونه راولاړوي؛ او د نښتې شرائط برابروي، هغه دښمن چې پېژندا ئې آسانه ده، د دې بحث په ضمن کې د مؤمنانو داسې یادونه کېږي چې له دې دښمن سره په نښتې کې ښکېل دي، د دواړو تر منځ نښته او د دې نښتې پایلې وځېړل شوې، مؤمنانو ته اطمئنان ورکړی شو چې د دې نښتو پایله به د دوی بریا او برلاسي او د خدای پالو بری وي، بیا د ځېږنې مخ د کورني دښمن لوري ته واوښت، بحث له ضعیف الایمان وګړو پیل او ورو ورو هغه ځای ته ورسېدو چې منافقین او د دوی کړنې وځېړل شي، په پای کې ئې دا ډله د (الذین کفروا و صدوا عن سبیل الله) په نامه یاده کړه؛ او مسلمانانو ته لارښوونه وشوه چې دوی د خپل صف غړي ونه ګڼي، ارزښت ورنه کړي، پروا ئې ونه لري او حتی له مړیني وروسته ئې مغفرت ورته ونه غواړي. دا دئ د همدې بحث په دوام کې مؤمنانو ته ویل شوي: که له یوې خوا د بهرني دښمن له ګواښونو سره مخامخ یئ او له بل لوري کورنی دښمن کړاوونه او ستونزې راولاړوي، د دښمن په ګټه ستاسو د تضعیف هڅه کوي، له دې ټولو ګواښونو او ستونزو سره سره په ډاډه زړه او ښې کینې لوري ته له انحراف او انعطاف پرته وړاندې ولاړ شئ؛ او مطمئن اوسئ چې وروستۍ بریا ستاسو ده.

دا مطالب په بېلو بېلو الفاظو د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې راغلی، لکه چې فرمايي:

وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحْزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ آل عمران

نو مه سست کېږئ او مه غمجن کېږئ او همدا تاسو لوړ یئ که مؤمن وئ.

همدا راز فرمايي:

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَآ أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا ٱسْتَكَانُواْ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٦﴾ آل عمران

او ډېر پیغمبران داسې وو چې ډېر خدای پالونکي ئې په څنګ کې جنګېدلي، خو د الله په

لار کې د وررسېدلو مصيبتونو له امله نه سست شول، نه ئې د ضعف احساس وکړ او نه ئې"د دښمن په وړاندې" ذلت ومنلو او داسې صبر کوونکې په الله گران وي.

په دغه مبارك آيت کې څو اساسي لارښوونې گورو:

- تر محمد عليه السلام مخکې ډېر پيغمبران راغلي او تللي، د هر يوه په څنگ کې ډېر خدای پالونکې راغونډ شوي او د الله په لار کې جنگېدلي.
- د دغو پيغمبرانو خدای منونکې ملگري داسې وو چې د الله په لار کې له مصيبتونو سره د مخامخېدو په وجه نه سست شوي، نه ئې د ضعف او ناتوانۍ احساس کړی او نه د دښمن په وړاندې ذلت او سپکاوي ته تسليم شوي. مبادا تاسو د الله په لار کې له مصيبتونو سره د مخامخېدو له امله سست شئ، شور شوق او جذبه مو له لاسه ورکړئ، د دښمن قوت تاسو ووېروي او د هغه په وړاندې د ضعف او ناتوانۍ احساس وکړئ، د دښمن شرائطو ته تسليم شئ او د هغه لوبې ومنئ.

په بل ځای کې فرمايي:

وَلَا تَهِنُواْ فِي ٱبۡتِغَآءِ ٱلۡقَوۡمِۖ إِن تَكُونُواْ تَأۡلَمُونَ فَإِنَّهُمۡ يَأۡلَمُونَ كَمَا تَأۡلَمُونَۖ وَتَرۡجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرۡجُونَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٠٤﴾ النساء

او د دې قوم په لټه کې لټې او سستي مه کوئ، که تاسو دردمن کېږئ نو دوی هم ستاسو په څېر دردمن کېږي، په داسې حال کې چې تاسو له الله هغه هيلې لرئ چې دوی ئې نه لري او الله باحکمت پوه دئ.

يعني د دښمن په تعقيب کې کسالت او لټې مه کوئ، ماتې، تلفات او زخمونه بايد تاسو سست نه کړي او د دښمن له مسلسل او سترېا نه منونکې تعقيب مو وانه ړوي، که تاسو ته درد او زخم دررسي، دوی هم تلفات گوري، مړي او زخميان لري، تاسو له خپلو قربانيو دا طمع لرئ چې الله تعالی به ئې په خپل دربار کې قبولې کړي او تاسو ته به ئې عوض او بدله درکړي، خو هغوی دا هيله هم نه لري، دا به ډېره عجيبه وي چې تاسو تر دوی د مخه سترې او ستومانه شئ!! دا د دښمن د مسلسل تعقيب لارښوونه د هغه ذات لخوا ده چې په هر څه ښه پوه دئ او په هرې پرېکړې او حکم کې ئې حکمتونه او مصالح مضمر دي.

کوم مطلب چې د محمد د سورې د (۳۵) آيت په پای کې راغلی او په ترڅ کې ئې مجاهدينو ته اطمئنان ورکړی شوی چې د مقاومت پر دوام ټينگار او له روغې جوړې د ډډې کولو په صورت کې نه ستاسو بريا ځنډېږي او نه مو مخکينې فعاليتونه او جهادونه ضائع کېږي، دا مطلب د قرآن په گڼ شمېر آيتونو کې راغلی، لکه دا:

وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ﴿١٧٠﴾

الاعراف

او هغه چې په کتاب تمسك كوي او لمونځ اقامه كوي، يقيناً چې د دغو مصلحينو اجر نه ضائع كوو.

په دې مبارك آيت كې د هغې ډلې يادونه شوې چې قرآن ئې د مصلحينو په نامه يادوي او دا ئې ځانګړتياوې ګڼي:

- دوی په الهي كتاب تمسك كوي، په هر څه كې د دوی مستمسك د الله تعالی كتاب وي، په وينا، قضاوت او عمل كې، دا كتاب ئې هم خپل لارښود وي او هم نورو ته په همدې كتاب لارښوونه كوي.
- لمونځ اقامه كوي، هم خپلې اړيكې له الله تعالى سره ټينګوي او هم نور دې ته رابلي چې په لمانځه سره خپلې اړيكې له الله تعالى سره ټينګې كړي.

يا دا:

... إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٩٠ يوسف

... ځوك چې تقوى غوره كړي او (د مصائبو په وړاندې) صبر وكړي، نو خدای هيڅكله د دغو نېكانو اجر نه ضائع كوي.

په بل ځای كې په عامه صيغه فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا ٣٠ الكهف

او بې شكه هغو چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې كړي، مونږ د هغه چا اجر نه ضائع كوو چې د عمل له مخې ښه وي.

همدا راز فرمايي:

فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ١٩٥ آل عمران

نو الله په ځواب كې ورته وفرمايل چې زه د هيڅ عمل كوونكي عمل نه ضائع كوم، كه نارينه وي او كه ښځينه، تاسو ټول يو له بل يئ، نو هغه چې هجرت ئې وكړ، له خپل كور كلي وايستل شول، زما په لار كې وځورول شول، وجنګېدل او ووژل شول، نو هرو مرو به ئې سيئات محو كړم او حتماً به ئې په هغو جنتونو كې داخل كړم چې ويالې ترې لاندې بهېږي، د الله له لوري يوه بدله او له الله سره خو ښايسته بدله شته.

إِنَّمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۚ وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ يُؤۡتِكُمۡ أُجُورَكُمۡ وَلَا يَسۡـَٔلۡكُمۡ أَمۡوَٰلَكُمۡ ٣٦

٣٦- يقيناً چې د دنيا ژوند خو يوازې لوبه او بېهوده مشغولتيا ده؛ او كه ايمان راوړئ او تقوی ولرئ نو ستاسو اجرونه به دركړي او مالونه به مو نه درنه غواړي.

---

(٣٦)ـ داسې نه چې د دنيا په مال او متاع پورې داسې ونښلئ چې ايمان مو زيانمن شي، داسې نه چې پرېوتې دنيايي اهداف مو په خپلو منګولو كې داسې ونيسي چې لوړو او سپېڅلو معنوي اهدافو ته د اعتناء او التفات فرصت درنه سلب كړي، كه خدای مه كړه داسې وشول نو ستاسو ژوند او ستاسو هڅې به د ماشومانو بې محتوی لوبو ته ورته شي، داسې مه انګېرئ چې د الهي لارښوونو په اړه التزام او د ايمان په رڼا كې ژوند به تاسو د ژوند له نعمتونو محروم او د ژوند مجال به درته تنګ كړي او هر څه به له لاسه وركړئ، نه؛ بلكې د ايمان په نتيجه كې به هم په دنيا كې او هم په آخرت كې د الله تعالی پېرزويني، پراخ نعمتونه، ستر الهي اجر، غوره او په زړه پورې نتائج تر لاسه كړئ، په حقيقت كې ايمان ستاسو ژوند ته ارزښت وركوي او اهميت ئې لوړوي.

د دې مبارك آيت لارښوونې دا دي:

• كه د ايمان په لار كې له ګواښونو سره مخامخ شوئ، په مرګ تهديد شوئ، ژوند مو له خطرونو سره مخامخ شو نو صبر وكړئ، داسې نه چې له ګواښونو او خطرونو د ځان ژغورنې په موخه له لارې كاږه شئ، دښمن ته تسليم شئ او په وړاندې ئې سر ټيټ كړئ؛ او د خپلې دنيا لپاره هغه څه وكړئ چې آخرت مو تباه كړي او له جنت محروم شئ، دنيوي ژوند د آخرت په پرتله داسې دئ لكه د ماشومانو لوبې او مشغولتياوې. خو كه له دغو ګواښونو سره سره د ايمان په خط صابر او صامد پاته شوئ، له انحراف او كږېدو مو ډډه وكړه او د تقوی او صبر لمن مو كلكه ونيوله، نو د خپلو هڅو او عملونو بدله به هرو مرو تر لاسه كړئ، ستاسو د قربانيو نتائج په خپله تاسو ته درګرځي، الله تعالی ستاسو قربانيو ته اړ نه دئ، هغه له هر څه مستغني دئ، كه تاسو ته د جهاد او قربانۍ سپارښتنه كوي نو هغه ستاسو په ګټه دئ.

• كه د مرګ له وېرې د ايمان له مسير منحرف شوئ او له دښمن سره مو د مصالحې داسې لار غوره كړه چې د هغه شرائطو ته تسليم شئ نو پوه شئ چې په دې صورت كې ستاسو دا ژوند د ماشومانو تر لوبې او بېهوده مشغولتيا زيات ارزښت نه لري. بې ايمانې او بې هدفې د ژوند ارزښت له منځه وړي، هغه چې لرې ليد ئې د زمكې محدوده او څو ورځنی ژوند دئ، سپېڅلې اهداف نه لري، د ژوند پرېوتې طموحات او منحط مادي اهداف ئې د ژوند غايه وي هغو ماشومانو ته ورته دي چې لرې ليد ئې له څو ګامونو آخوا نه

اوړي؛ او حاصل ئې له هر مصروفيت او لوبې يوازې ستړيا او ستوماني وي.

خو هغه چې د ايمان او هدفمنۍ له زاويې دنيا ته ګوري، هڅې ئې د سپېڅلو اهدافو په خدمت کې وي، ليد واټن ئې د منحطو مادي طموحاتو له افق لوړ وي، د دنيا زرق و برق د هغه معنوي عطش نه شي راکمولی، له مسلسلو هڅو او تحرك ئې نه شي متوقف کولی، لوړو او سپېڅلو اهدافو ته د رسېدو لپاره د هر څه قرباني کولو ته چمتو وي، هغه چا ته د ماشومانو په سترګه ګوري چې په زمکې پوري داسې نښتي چې د مادي ټيټو اغراضو لپاره هر ذلت او دنائت مني.

ايمان انسان له بې هدفۍ او ټيټ هدفۍ ژغوري، د هغه هڅو ته هدف ټاکي او جهت ورکوي، الله تعالی د هغه پر هڅو پراخ نتائج مرتب کوي، د ايمان دا غوښتني د ده تر توان او استعداد نه لوړې دي او نه درنې، پر داسې کار ئې نه ګماري چې له وسه ئې پورته وي، دا مطالبه نه ترې کوي چې له هر څه لاس واخلي، ايماني مکلفيتونه ئې د وس او توان په اندازه دي، دا مطالب د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې بيان شوي، لکه چې وايي:

وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٦٤﴾ العنكبوت

او د دې دنيا دا ژوند له لهو (خوشې مشغولتيا) او لعب (لوبې) پرته بل څه نه دئ؛ او يقيناً چې د آخرت کور داسې دئ چې همدا (واقعي) ژوندون دئ، کاش پوهېدی!!

همدا راز فرمايي:

وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۖ وَلَلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٣٢﴾ الانعام

او دنيوي ژوند خو (د آخرت په پرتله) له لوبو او ساعت تېرۍ پرته بل څه نه دئ؛ او د آخرت کور هغو ته ډېر غوره دئ چې تقوی کوي، نو آيا تعقل نه کوئ؟

دا آيت ښيي چې د عقل خاوندان په دې حقيقت پوهېدی شي چې (تقوی) ژوند ته ارزښت ورکوي، د تقوی خاوندان به د آخرت هغه لوړ ژوند تر لاسه کوي چې د دنيا ژوند د هغه په پرتله داسې دئ لکه د ماشومانو بې مقصده او بېهوده لوبې. په دې کې هيڅ شك نشته چې د ژوند ارزښت په هغو کارونو پوري تړلی دئ چې انسان ئې په خپل ژوند کې کوي، که نه نو هسې ژوند خو يوه سپره او مچ هم لري، که داسې نه وی نو د جاني ژوند به مضر نه ګڼل کېدو او د لېوني ژوند بې ارزښته.

دې ته مو بايد پام وي چې د اسلام له نظره د دنيا ژوند د آخرت د ژوند مقدمه ده، ښه ژوند د ښه آخرت او بد ژوند د بد آخرت پيلامه ده، د چا چې دنيا خرابه وه آخرت به ئې خراب وي او د چا چې دنيا ښه وه آخرت به ئې ښه وي، خو اسلام د ښه او بد لپاره

ځانګړې معيارونه لري، دا معيارونه د هغو خلکو له معيارونو سره ژور توپيرونه لري چې ښه او بد ته د ايمان له زاويې نه ګوري، د اسلام له نظره ښه ژوند هغه دئ چې له سپېڅلو افکارو او عقائدو او لوړو موخو او اهدافو سره توأم وي، په فساد، ظلم، د بل په حق تېري او ګناه نه وي لړل شوی، داسې ژوند د جنت مقدمه ګڼي او هغه ژوند ته د دوزخ د پيلامې او مقدمې په سترګه ګوري چې د ځناورو د ژوند په څېر وي، بې مقصده، له غلطو افکارو او عزائمو سره، په ګناه، ظلم او فساد لړلی، د انسان موخې او اهداف د ده د ژوند ارزښت ټاکي، د انسان عقائد او عزائم د ده ژوند ته ارزښت ورکوي، د چا چې اهداف ټيټ او پرېوتې وي ژوند ئې د ماشومانو په څېر لهو و لعب دئ، د پرېوتو اهدافو خاوند که د ستر هېواد پاچا وي، واکمني ئې داسې ده لکه د ماشومانو په لوبو کې چې يو ئې د څو شېبو لپاره پاچا وي، پر سر ئې کاغذي تاج ورکښېږدي، د تخت پر سر ئې کښېنوي، امرونه صادروي، د يوه د نيولو، د بل د وهلو او د بل د بخښلو پرېکړې کوي، خو څو شېبې وروسته دا لوبه پای ته ورسېږي، په بلې کې مخکينی غل د پاچايي پر تخت ناست وي، مخکينی پاچا د غلا په تور نيول شوی وي، د پاچا په وړاندې ئې لاس تړلی ودروي او خپلې سزا ته انتظار کوي!!

قرآن په دې اړه فرمايي:

ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا لَعِبٞ وَلَهۡوٞ وَزِينَةٞ وَتَفَاخُرُۢ بَيۡنَكُمۡ وَتَكَاثُرٞ فِي ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَوۡلَٰدِۖ كَمَثَلِ غَيۡثٍ أَعۡجَبَ ٱلۡكُفَّارَ نَبَاتُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصۡفَرّٗا ثُمَّ يَكُونُ حُطَٰمٗاۖ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٞ شَدِيدٞ وَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٞۚ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ۝٢٠ الحديد

په دې پوه شئ چې د دنيا ژوند يوازې لوبه، بېهوده مشغولتيا، سينګار، ستاسو تر منځ يو پر بل فخر کول، د مال او اولاد په اړه يو تر بل زيات درلودل دي، لکه هغه باران چې بوټي ئې کروندګي حيران کړي، بيا وچ شي چې ته ئې زېړ شوی ګورې، بيا مات مات شي؛ او په آخرت کې هم شديد عذاب دئ او هم د الله مغفرت او رضاء؛ او د دنيا ژوند له غولوونکې متاع پرته بل څه نه دئ.

پر دنيايي مطامحو اکتفاء او په همدې مستوی کې توقف د دې باعث کېږي چې انسان د دنيا ژوند خپل وروستی معراج وګڼي، نه يوازې له وړاندې او لوړ تللو ډډه کوي بلکې له هر هغه څه متنفر او منـزجر وي چې د ده ژوند ګواښي، لکه چې قرآن د الله په لار کې له جهاد د اجتناب باعث همدا له ژوند سره افراطي علاقه ګڼي او فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ

أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾ التوبه

اې مؤمنانو! څه درباندې شوي چې کله درته وويل شي: د الله په لار کې ووځئ! نو د زمکې په لور درنېږئ؟!! آيا تر آخرته د دنيا پر ژوند راضي شوي يئ؟! د دنيايي ژوند مال متاع خو د آخرت په پرتله له ناڅيزه شي پرته بل څه نه دي.

که څه هم ديني مسئوليتونه او مکلفيتونه د انسان د وس او توان په اندازه دي او الله تعالى هيڅوک تر خپل وس او توان په زيات شي نه ګماري او ورته وايي:

وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومًا مَّحۡسُورًا ﴿٢٩﴾ الإسراء

مه دې لاسونه تر خپلې غاړې تړلي ساته (له ورکړې لاس مه راټموه) او مه ئې په بشپړ پرانيستو سره پرانيزه، داسې چې (سبا ته) ملامت وګنل شې او حسرت درباندې وشي.

د ورکړې او له بل سره د مرستو په دوران کې اعتدال مراعات کړه، مه بخل کوه دومره چې له مستحقينو سره له لازمي او ضروري مرستو هم لاس راټم کړې او مه اسراف کوه، داسې چې له مستحق او غېر مستحق سره په خلاص لاس دومره مرستې وکړې چې سبا په خپله د بل مرستې ته اړ شې او هر څوک دې ملامتوي او ستا په حال تأسف کوي.

خو د دې حکم او د استثنائي حالت د هغو احکامو په اړه بايد له مغالطې ځان وساتو چې د زياتې قربانۍ غوښتنه کوي، کله چې دښمن تېرى کوي، مسلمانان د جنګ له حالت سره مخامخ کېږي، که داسې شرائط رامنځته شي چې له اسلام دفاع د مال او ځان د قربانۍ مطالبه وکړي بايد داسې قربانۍ ته چمتو وو، قرآن عظيم الشأن په داسې شرائطو کې د مؤمنو مجاهدينو مسئوليت په دې توګه انځوروي:

فَلۡيُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشۡرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَن يُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقۡتَلۡ أَوۡ يَغۡلِبۡ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمًا ﴿٧٤﴾ النساء

نو د الله په لار کې دې هغه کسان وجنګېږي چې د دنيا ژوند پر آخرت پلوري او څوک چې د الله په لار کې وجنګېږي، ووژل شي، يا بريالى شي، نو ژر به ستر اجر ورکړو.

د الله په لار کې هر څوک د جنګېدو وړتيا نه لري، الله تعالى هر څوک د دې لپاره اهل نه ګڼي، يوازې هغه څوک د دې وړ دئ چې هدف ئې د الله رضاء تر لاسه کول وي، خپل ژوند د الله په لار کې قرباني کوي او دې ته تيار وي چې له خپلو ټولو دنيوي ګټو د اخروي فلاح او سعادت لپاره تېر شي. داسې مجاهد ته به شکور خداى ستر اجر ورکوي، که شهيد شي هم او که غازي او غالب شي هم.

إِن يَسۡـَٔلۡكُمُوهَا فَيُحۡفِكُمۡ تَبۡخَلُواْ وَيُخۡرِجۡ أَضۡغَٰنَكُمۡ ﴿٣٧﴾

٣٧- كه د هغې غوښتنه درنه وکړي بیا ټینګار درباندې وکړي بخل به وکړئ او ستاسو کینې به رابهر کړي.

(٣٧)ـ دا مبارك آيت وايي: الله تعالی تاسو په دې نه يئ ګمارلي چې ټول مالونه مو په بشپړه توګه د الله په لار کې وقف کړئ، د ايمان په دائره کې ستاسو وجائب او مسئوليتونه ستاسو له توانمنيو او استعدادونو سره متناسب دي، ايمان مو هيڅکله داسې مطالبه نه درنه کوي چې ستاسو له توان او ظرفيت لوړ وي او تر سره کول ئې ګران؛ که نه نو بخل به مو کړی وو او ستاسو د زړونو هغه کرکه به ئې رابرسېره کړي وه چې د داسې مطالبې په اړه ئې لرئ.

قرآن په دې اړه فرمايي:

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٤٢﴾ الاعراف

او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، (په داسې حال کې چې) موږ هيڅوك تر خپل وس په زيات څه نه مکلف کوو، دوی جنتيان دي، په هغه کې تلپاتي.

همدا راز فرمايي:

لِيُنفِقۡ ذُو سَعَةٖ مِّن سَعَتِهِۦۖ وَمَن قُدِرَ عَلَيۡهِ رِزۡقُهُۥ فَلۡيُنفِقۡ مِمَّآ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُۚ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا مَآ ءَاتَىٰهَاۚ سَيَجۡعَلُ ٱللَّهُ بَعۡدَ عُسۡرٖ يُسۡرٗا ﴿٧﴾ الطلاق

توانمن دې د خپلې توانمنۍ مطابق لګښت وکړي؛ او هغه چې رزق ئې پرې محدود کړی شوی بايد د هغه څه مطابق انفاق کړي چې الله ورپه برخه کړي، الله هيڅوك تر هغه په زيات څه نه ګماري چې ورکړي ئې دي، الله به حتماً له کړاو وروسته آساني رامنځته کړي.

هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ تُدۡعَوۡنَ لِتُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبۡخَلُۖ وَمَن يَبۡخَلۡ فَإِنَّمَا يَبۡخَلُ عَن نَّفۡسِهِۦۚ وَٱللَّهُ ٱلۡغَنِيُّ وَأَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُۚ وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ يَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓاْ أَمۡثَٰلَكُم ﴿٣٨﴾

٣٨- اې تاسو دغو وګړو! بلل کېږئ چې د الله په لار کې انفاق وکړئ نو ستاسو ځيني بخل کوي؛ او څوك چې بخل وکړي له خپل ځان ئې سپما وی او بخل کړی، په داسې حال کې چې الله غني دئ او تاسو نېستمن؛ او که ډډه وکړئ نو ستاسو پرځای به بل

قوم غوره کړي بيا به هغوی ستاسو په څېر نه وي.

(۳۸)ـ دا مبارك آيت د سورې شکلي، جامع او دقيقه اختتاميه ده چي نه يوازي د سورې د دوهمي برخي له ټولو مضامينو سره ژور او موزون مناسبت لري بلکي د سورې د ټولو مطالبو خلاصه زمونږ په وړاندي ږدي. مهمي مهمي لارښووني ئي دا دي:

هغه وګړي چي په مخکينيو آيتونو کي ئې مواصفات بيان شول د الله په لار کي انفاق ته بلي او ورته وايي چي ستاسو ځيني بخل او سپماوی کوي، څوك چي بخل کوي او د الله په لار کي له انفاق ډډه کوي په حقيقت کي له خپل ځان سره جفا کوي او پر خپل ځان ئې هغه پېرزويني نه دي لوربډلي چي د انفاق په نتيجه کي ئې الله تعالی ورپه برخه کوي. له دې معلومېږي چي د نفاق يوه لويه وجه همدا بخل او د الله په لار کي له انفاق ډډه کول دي، دې ته په پام سره چي انفاق يوازي د مال په انفاق کي نه خلاصه کېږي بلکي پراخ ابعاد لري او د مال تر څنګ د وخت، فرصتونو، امکاناتو، وسائلو، استعدادونو او توانمنيو لګول او مصرفول هم احتواء کوي.

لکه چي ګورئ د دې سورې لومړی آيت هغه ډله معرفي کوي چي په خپل کفر او انکار سره د الله په لار کي خنډونه راولاړوي (الذين كفروا و صدوا عن سبيل الله) او په وروستي آيت کي هغو ته خطاب شوی چي مکلف دي په انفاق في سبيل الله؛ او په قربانيو او د مايملك (مال، امکانات، توانمنيو) په لګولو سره د الله د لاري دا موانع او عقبات له منځه يوسي او د دې لاري د بنديدو مخنيوی وکړي (هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ تُدۡعَوۡنَ لِتُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ)، د سورې په څلورم آيت کي د هغو دوو ډلو محتوم تصادم او نښتي ته اشاره شوې چي يوه د ايمان په خط کي وړاندي درومي او بله هغه چي هوډمنه ده چي دا لار مسدوده کړي، دا تصادم د قربانۍ او ايثار مستلزم دئ او له دې پرته ممکنه نه ده دا لار پرانيستی شي او وړاندي تګ وکړی شي، د همدې لپاره د څلورم آيت په پای کي د الله د لاري شهداوو ته اشاره شوې (وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ) او په وروستي آيت کي مؤمنان انفاق ته بلل شوي (هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ تُدۡعَوۡنَ لِتُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ)، لکه په آخري آيت کي چي ويل شوي انفاق او ايثار ستاسو په ګټه دئ همدا مطلب د سورې په څو آيتونو کي راغلی، لکه دا:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ٧ محمد

اې هغو چي ايمان ئې راوړی! که د الله ملتيا وکړئ ستاسو ملتيا به وکړي او ستاسو ګامونه به ټينګ کړي.

يا:

إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَٱلَّذِينَ

كَفَرُواْ يَتَمَتَّعُونَ وَيَأۡكُلُونَ كَمَا تَأۡكُلُ ٱلۡأَنۡعَٰمُ وَٱلنَّارُ مَثۡوٗى لَّهُمۡ ﴿١٢﴾ محمد

يقيناً چي الله به هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي داسي جنتونو ته ننباسي چي ترې لاندي ويالې بهېږي.

يا:

وَٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ زَادَهُمۡ هُدٗى وَءَاتَىٰهُمۡ تَقۡوَىٰهُمۡ ﴿١٧﴾ محمد

او هغه چي هدايت شوي هدايت ئې ورزيات كړ او د دوی تقوی ئې ورپه برخه كړه.

بيا د سورې له (٢٠) آيت د هغو په اړه بحث پيل شوی چي د ايمان له ادعاء سره سره د الله په لار كې له قربانۍ او ايثار امتناع كوي او ايمان ئې مشروط په دې دئ چي د قربانۍ غوښتنه به نه ترې كوي، له ستونزو، كړاوونو، آزموينو، گواښونو او خطرونو سره به نه مخامخ كېږي، دوی نه يوازي منافقانه تگلاره غوره كوي او د قضاياوو په اړه ئې مواقف او دريځونه منافقانه وي، بلكې ورو ورو ئې منافقت داسي مرحلې ته ورسېږي چي په خپله د الله له لاري منحرف شي او هم د نورو په وړاندي خنډ شي او د الله لوري ته د دوی د تگ مانع شي، په وروستي آيت كې دوی ته په دې صيغه اشاره شوې (فَمِنكُم مَّن يَبۡخَلُۖ)، په اختتاميه كې ويل شوي چي د بخل او عدم انفاق ضرر په خپله بخل كوونكي ته رسېږي (وَمَن يَبۡخَلۡ فَإِنَّمَا يَبۡخَلُ عَن نَّفۡسِهِۦۚ وَٱللَّهُ ٱلۡغَنِيُّ وَأَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُۚ) او همدا مطلب د سورې په څو آيتونو كې راغلی، لكه دا:

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَشَآقُّواْ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗا وَسَيُحۡبِطُ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴿٣٢﴾ محمد

يقيناً هغه چي كفر ئې وكړ او د الله له لاري ئې امتناع وكړه او له پيغمبر سره ئې مخالفت وكړ؛ او دا له هغه وروسته چي هدايت ورته جوت شو؛ هيڅكله به الله ته كوم ضرر ونه رسوي او حتماً به د دوی عملونه حبط او شنډ كړي.

بالآخره د اختتاميه په پای كې د يوه نصيحت او انذار په توگه ويل شوي: اې د ايمان مدعيانو! كه د الله په لار كې له انفاق او ايثار ډډه وكړئ، له دښمن سره د مخامخېدو په دوران كې شا واړوئ، له هغو خنډونو سره چي ستاسو لار بندوي له ډغرو وهلو په شا شئ او له وړاندي تگ لاس واخلئ؛ نو پوه شئ چي په دې صورت كې به تاسو دا وړتيا او سعادت له لاسه وركړئ چي د ديني رسالت حاملان او د الله د جند سپاهيان وئ او د خلكو د امامت او لارښووني جليل منصب ستاسو په برخه وي، له دې لوړ مقام او منصب به عزل شئ او الله تعالی به دا ستر مأموريت ستاسو پر ځای داسي ډلي ته سپاري چي د حملولو او تر سره كولو وړتيا ئې لري.

په دې اختتاميه كې دوه اساسي لارښووني شوې:

الف: د ایمان له خاوندانو غوښتل شوي چي د الله په لار کي قرباني او ایثار ته چمتو وي. د الله په لار کي انفاق تر هر څه وړاندي په خپله د دوی په ګټه دئ، الله تعالی د دوی انفاق ته اړ نه دئ، هغه مستغني او بې نیاز دئ، تاسو د ده لطف، مرحمت او عنایت ته محتاج یئ، د ده رعایت او عنایت یوازي د الله په لار کي د انفاق په نتیجه کي تر لاسه کولی شئ، دا مطلب د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي راغلی، لکه دا:

لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَىٰهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ ۗ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ ٱللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾ البقرة

پر تا د دوی هدایت کول نه دئ فرض شوی او دا خو الله دئ چي څوك وغواړي هدایت کوي ئې؛ او له مال چي څه انفاق کړئ نو دا په خپله ستاسو (په ګټه) دئ او تاسو خو د الله د رضاء له لټولو پرته د بل څه لپاره انفاق نه کوئ او له مال چي څه هم تاسو انفاق کړئ؛ پوره به (بېرته) درکړی شي او پر تاسو به ظلم ونه شي.

همدا راز امر کوي چي پر الله تعالی او د هغه پر پیغمبر د ایمان تر څنګ د انفاق صفت په ځان کي راپیدا کړو چي په دې توګه به د ستر اجر مستحق شو:

ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُوا۟ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَأَنفَقُوا۟ لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾ الحدید

پر الله او د هغه پر پیغمبر ایمان راوړئ او له هغه څه انفاق وکړئ چي تاسو ئې په هغه کي ځای ناستي (د نورو وارث) کړي یئ، نو چا چي ستاسو له ډلي ایمان راوړ او انفاق ئې وکړ دوی ته ستر اجر دئ.

همدا راز فرمایي چي له انفاق پرته د ابرارو او احرارو مقام ته رسېدل ممکن نه دي:

لَن تَنَالُوا۟ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا۟ مِمَّا تُحِبُّونَ ۚ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِن شَىْءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٩٢﴾ آل عمران

هیڅکله به ښېګڼي ته ونه رسئ چي له خپلو محبوبو شیانو څه انفاق نه کړئ او څه چي انفاق کوئ نو الله وربانديي ښه پوه دئ.

یعني د ابرارو مقام ته هغه وخت رسېدی شئ چي قرباني ته چمتو شئ، د عادي او معمولي شیانو قرباني نه بلکي د هغو شیانو قرباني چي تاسي ورسره مینه لرئ. او چي څه هم د الله په لار کي قرباني کړئ، ښه یا بد، لږ یا زیات، ستاسو د خوښي غوره شي یا هغه چي نه مو خوښېږي، الله پرې پوهېږي.

باید د دښمن د وېرولو او د هغه د بریدونو او ګواښونو د مخنیوي لپاره د خپل توان

او استطاعت په اندازه جنګي ځواك او وسائل تيار كړئ او په دې لار كې خپلې شتمنۍ ولګوئ، څه چې په دې لار كې ولګوئ الله تعالى به ئې بشپړ اجر په دنيا او آخرت كې دركړي، په دې اړه فرمايي:

وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ٦٠ الانفال

او د دوى لپاره له (قوت) او (له تړلو آسونو) چې څومره ستاسو په وس كې وي برابر كړئ، د دې لپاره چې د الله دښمن او خپل دښمن او له دوى علاوه هغه (دښمنان هم) ووېروئ چې تاسو ئې نه پېژنئ؛ خو الله ئې پېژني؛ او څه چې تاسو د الله په لار كې خرڅ كړئ، تاسو ته به په بشپړه توګه بېرته دركړى شي او پر تاسو به هيڅ ظلم نه كېږي.

په داسې حال كې چې د خپل ژوند په پاى كې به هر څه الله ته په ميراث پرېږدئ؛ ولې اوس د ده په لار كې له انفاق ډډه كوئ:

وَمَا لَكُمۡ أَلَّا تُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَا يَسۡتَوِي مِنكُم مَّنۡ أَنفَقَ مِن قَبۡلِ ٱلۡفَتۡحِ وَقَٰتَلَۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡظَمُ دَرَجَةٗ مِّنَ ٱلَّذِينَ أَنفَقُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَقَٰتَلُواْۚ وَكُلّٗا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١٠ الحديد

او څه دربانديې شوي چې د الله په لار كې انفاق نه كوئ په داسې حال كې چې د آسمانونو او زمكې ميراث د الله دئ، ستاسو هغه چې تر فتحې وړاندې ئې انفاق كړى او جنګېدلې (له نورو سره) برابر نه دي، دوى د درجې له پلوه تر هغو ستر دي چې ترې وروسته ئې انفاق كړى او جنګېدلي؛ او الله له هر يوه سره غوره وعده كړې؛ او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې كوئ.

قرآن وايي چې فقط بخيل او كنجوس منافقين دي چې د الله په لار كې له انفاق ډډه كوي:

وَمِنۡهُم مَّنۡ عَٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنۡ ءَاتَىٰنَا مِن فَضۡلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٧٥ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضۡلِهِۦ بَخِلُواْ بِهِۦ وَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعۡرِضُونَ ٧٦ فَأَعۡقَبَهُمۡ نِفَاقٗا فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ يَلۡقَوۡنَهُۥ بِمَآ أَخۡلَفُواْ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ ٧٧ التوبه

او د دوى ځينو له الله سره ژمنه وكړه چې كه له خپل فضل څه وركړي هرومرو به صدقې وركوي او د صالحانو له ډلې به وي. خو كله چې ئې له خپل فضل څه وركړل؛ بخل ئې پرې وكړ او په داسې حال كې ئې مخ واړولو چې ډډه كوونكي ول. نو په پايله كې ئې داسې نفاق

ورپه برخه کړ چې تر هغې ورځې به د دوی په زړونو کې وي چې ورسره مخامخ شي، له دې امله چې له الله سره ئې په کړو ژمنو کې مخالفت وکړ او له دې امله چې دروغ ئې ویل.

دا منافقین چې له انفاق د اجتناب له کبله د منافقت په بیمارۍ اخته دي هڅه کوي چې نور هم د الله په لار کې له انفاق منع کړي:

هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُواْ عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّواْۗ وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَفۡقَهُونَ ۞ المنافقون

دوی هغه دي چې وايي: پر هغو مالي لګښتونه مه کوئ چې د پيغمبر په خوا کې دي، چې خواره واره شي، په داسې حال کې چې د آسمانونو او زمکې خزانې د الله دي خو منافقين نه پوهېږي.

قرآن د هغه انفاق په اړه چې منشأ او محرك ئې ایمان نه بلکې رياء او ځان ښودنه وي، له اکراه سره توأم وي او د الله تعالی د حکم د تعميل له مخې تر سره نه شي داسې فرمايي:

وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ إِلَّآ أَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمۡ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ۞ التوبه

او له دې چې نفقات ئې قبول شي بل څه نه دي منع کړي مګر دې چې د الله او د ده د پيغمبر په اړه ئې کفر وکړ، لمانځه ته نه راځي مګر په داسې حال کې چې لټ وي او انفاق نه کوي مګر په داسې حال کې چې کرکه کوونکي وي.

دلته د جهاد د هغو مخالفينو څو خصلتونه په ګوته شوي چې غواړي له جهاد پاته کېدا په داسې انفاق جبران کړي چې محرك ئې اخلاص او صداقت نه بلکې يا رياء وي يا د مسلمانانو له ګواښ ځان ژغورل، وايي چې د دوی انفاق له دې امله نه منل کېږي چې:

- دوی نه پر الله تعالی ايمان لري او نه د هغه پر پيغمبر،
- لمانځه ته په داسې حال کې ودرېږي چې لټ او کسل وي او
- له داسې انفاق ډډه کوي چې ايمان او د الله تعالی رضاء لټول ئې تر شا وي، که څه انفاق کوي نو په نه زړه او له کرکې سره وي.

دا مبارك آيت د منافق ستري نښې زموږ په واك کې راکوي: په لمانځه کې لټې او کسالت او په شوق او مينې سره له انفاق کرکه درلودل. قرآن په دوو خبرو ډېر تأکيد کوي او هغه د نورو الهي وجائبو د اداء کولو لپاره مقدمه ګڼي: لمونځ او مالي قرباني چې کله ئې د زکات په نامه يادوي او کله د صدقې په نامه.

له انفاق ډډه کول په تهلکه منتج کېږي، قرآن فرمايي:

وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ وَأَحۡسِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٩٥﴾ البقرة

او د الله په لار کې انفاق وکړئ او په خپل لاس ځان په هلاکت کې مه اچوئ او احسان وکړئ چې الله داسې محسنين خوښوي.

هغه چې مال دولت ذخیره کوي او د الله په لار کې د خپلو شتمنيو له انفاق ډډه کوي نه يوازې په دنيا کې به له دردناك عذاب سره مخامخ کېږي بلکې د قيامت په ورځ به د سرو او سپينو زرو په سيکو داغل کېږي، قرآن فرمايي:

... وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ﴿٣٥﴾ التوبه

او هغه چې سره او سپين زر ذخيره کوي او د الله په لار کې ئې نه مصرفوي نو د دردناك عذاب زېرى ورکړه. هغه ورځ چې د دوزخ په اور کې به سرې شي او بيا به ئې تندي، اړخونه او شاګاني پرې وداغل شي، دا هغه څه دي چې د ځان لپاره مو زېرمه کړي وو، نو د هغه څه خوند وڅکئ چې زېرمه کول مو.

قرآن وايي: د الله تعالی د لارښود کتاب له لارښوونو هغه څوك مستفيد کېدى شي چې د نورو صفاتو تر څنګ انفاق ته چمتو وي:

ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾ البقرة

دا همغه کتاب دئ، شك په کې نشته، د متقيانو لپاره هدايت، هغه چې په غيب ايمان راوړي او لمونځ کوي او له هغه څه چې موږ ورروزي کړي انفاق کوي.

همدا راز فرمايي: د الله په لار کې هر څوك د جنګېدو وړتيا نه لري، الله تعالی هر څوك د دې لپاره اهل نه ګڼي، يوازې هغه څوك د دې وړ دئ چې هدف ئې د الله رضاء تر لاسه کول وي، خپل ژوند د الله په لار کې قرباني کوي او دې ته تيار وي چې له خپلو ټولو دنيوي ګټو د اخروي فلاح او سعادت لپاره تېر شي. داسې مجاهد ته به شکور خدای ستر اجر ورکوي، که شهيد شي هم او که غازي او غالب شي هم.

فَلۡيُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشۡرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَن يُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقۡتَلۡ أَوۡ يَغۡلِبۡ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿٧٤﴾ النساء

نو د الله په لار کې دې هغه کسان وجنګېږي چې د دنيا ژوند پر آخرت پلوري او څوك چې

د الله په لار کې وجنګېږي، ووژل شي، یا بریالی شي، نو ژر به ستر اجر ورکړو.

اسلام خپل صادق متعهدین په مستمره توګه او د ژوند په ټولو برخو کې قربانۍ او ایثار ته بلي، پر ځانځه ئې ګماري چې د ورځې لږ تر لږه پنځه ځلې خپل قیمتي وخت چې د ژوند تر ټولو ستره او ارزښتناکه پانګه ده؛ د دې الهي مسئولیت د اداء کولو لپاره وقف کړي، ډول ډول مهم کارونه پرېږدي او د خپل رب په عبادت بوخت شي، ورته امر کوي چې هر کال به لږ تر لږه یوه بشپړه میاشت روژه نیسي، په ټولو دغو ورځو کې به له سحر تر ماښام له خوراك، څښاك او جائز جنسي نژدېکت ډډه کوي، په دې ئې ګماري چې د توانمنۍ په صورت کې به په خپل عمر کې یو ځل هرو مرو د حج مناسکو اداء کولو لپاره مکې ته درومي؛ او د دې معنوي سفر لګښت او تکلیفونه به ګالي؛ او موقتاً به له اهل او عیال لرې پاته کېدا مني، د زکات په ورکړې ئې ګماري چې د خپل لاس په تناکو او د بدن په خولو تر لاسه کړې حلالې شتمنۍ یوه معینه برخه د الله په لار کې وقف کړي، د دین د غلبې او د مظلومانو د ژغورنې لپاره ئې په داسې جهاد ګماري چې نه به د خپل مال له وقفولو ډډه کوي او نه د ځان، مالي او ځاني قربانۍ ته به چمتو وي. د قربانۍ او ایثار د دې اوږد تربیتي بهیر په ترڅ کې هغه د روحي او معنوي ارتقاء لوړو څوکو ته رسوي او د دې وړ ئې ګرځوي چې د خلیفة الله في الارض او تر ټولو غوره امت لقب ئې په برخه شي. د اسلام له نظره تر ټولو غوره انسان هغه دئ چې د الله په لار کې په خپل مال او ځان جهاد کوي او تر ټولو غوره عبادت د الله په لار کې مالي او ځاني جهاد دئ.

الله تعالی زموږ جهاد ته اړ نه دئ، موږ انسانان دې جهاد ته اړ یو او همدا زموږ د نجات لار او وسیله ده، که جهاد نه وي تل به د شر او فساد ځواکونه پر انساني ټولنې مسلط وي. قرآن فرمایي:

وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفۡسِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٦﴾ العنکبوت

او چا چې جهاد وکړ نو د خپل ځان لپاره جهاد کوي، یقیناً چې الله له ټولو عالمیانو بې نیاز دئ.

که د زمکې د سر ټول استوګن د کفر او انکار لار غوره کړي او د الله له عبادت او بندګۍ سرغړاوی وکړي الله تعالی ته هیڅ زیان نه شي رسولی:

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكۡفُرُوٓاْ أَنتُمۡ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعًا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٨﴾ ابراهیم

او موسی وویل: که تاسو او ټول هغه چې په زمکې کې دي کفر وکړئ نو یقیناً چې الله ستایل شوی بې نیاز دئ.

په بل ځای کې راغلي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿١٥﴾ فاطر

اې خلکو! تاسو الله ته حاجتمن یئ او الله ستایلی غني دئ.

همدا راز فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبۡتُمۡ وَمِمَّآ أَخۡرَجۡنَا لَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِۖ وَلَا تَيَمَّمُواْ ٱلۡخَبِيثَ مِنۡهُ تُنفِقُونَ وَلَسۡتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغۡمِضُواْ فِيهِۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾ ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغۡفِرَةً مِّنۡهُ وَفَضۡلًاۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦٨﴾ البقرة

اې مؤمنانو! له خپلو لاسته راوړو شيانو او له هغه چې موږ له زمکې درته راايستلي، پاکيزه پاکيزه ئې انفاق کړئ او د هغه ناپاکو قصد ئې مه کوئ چې بل ته ئې ورکوئ خو په خپله ئې اخيستونکې نه يئ، مګر دا چې سترګې پرې پټې کړئ او په دې پوه شئ چې الله ستايلی غني دئ. شيطان د فقر وعده درکوي او په فحشاء مو ګماري او الله د خپل مغفرت او پېرزويني وعده درکوي او الله ښه پوه د وسعت خاوند دئ.

يعني شيطان مو له خوارۍ او فقر وېروي، په بخل مو ګماري او همدا درته ښايسته کوي، خو الله تعالی تاسو انفاق ته رابلي، د انفاق په بدله کې د مغفرت او بخښنې او د خپلې پراخې پېرزوينې وعده درکوي، الله پوهېږي چې څوك د شيطاني القاءاتو تر تأثير او اغېز لاندې درومي، له فقر وېرېږي او له انفاق ډډه کوي او څوك د الله بلنې ته لبيك وايي او په انفاق سره د ده د مغفرت او فضل تر لاسه کول غواړي.

قرآن مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې که د دښمن له لوري په اقتصادي محاصرو وګواښل شوئ؛ او له دښمن سره مقاطعې او پرېکون دا وېره درسره راپيدا کوله چې ښايي له فقر، لوږې او اقتصادي ستونزو سره به مخامخ شئ، هيڅ پروا ئې مه کوئ، ډاډه اوسئ چې الله تعالی به ستاسو ستونزې او مشکلات حل کوي، فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةً فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦٓ إِن شَآءَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٨﴾ التوبه

اې مؤمنانو! مشرکين ناولي او پليت دي، نو له سږکال وروسته دې مسجدالحرام ته نه نژدې کېږي؛ او که له نادارۍ وېرېږئ نو که الله وغواړي له خپل فضل به مو شتمن کړي، يقيناً چې الله باحکمت پوه دئ.

دا آيت مسلمانانو ته څو لارښوونې لري:

- مشرکان پليت او ناولي دي، له دې کال وروسته به هغوی مسجدالحرام ته (د حج او عمرې د مراسمو اداء کولو په موخه) نه نژدې کېږي.
- که د دې حکم له پلي کېدو نه دا انديښنه لرئ چې په دې سره به د مکې ستر تجارتي

بازار سوړ شي او تاسو ته به له اقتصادي پلوه تاوان ورسېږي، نو پوه شئ چې که الله تعالی وغواړي نو نه یوازې د دې حکم پلې کېدا او مسجدالحرام ته د مشرکینو په ننوتو بندیز به تاسو ته کوم تاوان ونه رسوي بلکې د پراخ فضل له خزانو به تاسو ته هومره څه درکړي چې شتمن شئ او هیڅا ته اړ او محتاج نه وئ.

ب ـ د اختتامي آیت دوهمه لارښوونه دا ده:

اوس الله تعالی د ولسونو د امامت، هدایت او لارښوونې جلیل او دروند منصب تاسو ته سپارلی، تاسو ئې پر دې ګمارلي یئ چې د دې لوړ منصب او ستر امانت تر سره کولو لپاره له قربانۍ او ایثار ډډه مه کوئ، له دې پرته او په خپلې ستري الهي دندې کې د اهمال او له ایثار او قربانۍ د اجتناب په صورت کې د دې جلیل منصب اهلیت او وړتیا له لاسه ورکوئ؛ او له دې سعادت او افتخار محروم کېږئ، الله تعالی به تاسو له دې مقام عزل کړي او داسې څوك به د دې ستر الهي مأموریت د اداء کولو لپاره غوره کړي چې اهلیت او وړتیا ئې لري، د دې مقام پاس ساتي او د ساتلو لپاره ئې هرې قربانۍ ته چمتو وي، لکه چې قرآن فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٤﴾ المائده

اې مؤمنانو! که له تاسو څوك له خپل دین په شا شو نو الله به ډېر ژر داسې قوم راپیدا کړي چې دوی پر ده ګران وي او دی پر دوی ګران وي، پر مؤمنانو تواضع کوونکي او پر کافرانو څان برګنبونکي، د الله په لار کې به جهاد کوي او د هیڅ ملامتوونکي له ملامتولو به نه وېرېږي، دا د الله فضل دئ، هغه چا ته ئې ورپه برخه کوي چې دئ ئې غواړي او الله پوه د وسعت خاوند دئ.

په بل ځای کې فرمایي:

إِلَّا تَنفِرُواْ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَيَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـٔٗاۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ التوبه

که ونه وځئ نو په دردناك عذاب سره به مو تعذیب کړي او ستاسو پر ځای به بل قوم راوړاندې کړي، هیڅ ضرر نه شئ وررسولی او الله په هر څه ښه قادر دئ.

په دې مبارك آیت کې له جهاد د لاس اخیستو بد عواقب په دې توګه په ګوته شوي:

- که د الله تعالی په لار کې د جهاد لپاره ونه وځئ په دردناك عذاب به مو اخته کړي، دردناك عذاب عام دئ، هم دنیوي عذابونه احتواء کوي او هم اخروي عذاب، دنیوي عذابونه لکه د دښمن په لاس له ذلت او سپکاوي سره مخامخېدل، په داخلي جګړو اخته

کېدل، له فقر او لوږي او بې امنیو سره مخامخېدل. او اخروي عذاب د جهنم په اور کې لوېدل.

- د هغو خلکو ټغر به ټول کړي چې د الله تعالی په لار کې له جهاد ډډه کوي، د دغو بې همتو او ډارنو وګړو پر ځای به داسي مجاهدین راوړاندي کړي چې د الله په لار کې د جهاد وړتیا لري او الله تعالی به د دوی په لاس خپل دین غالبوي.
- تاسو له جهاد په لاس اخیستو سره نه الله ته زیان رسولی شئ او نه د ده غوره دین ته، فقط خپل ځان ته تاوان رسوئ، په دې سره به تاسو له سپکاوي او ذلت سره مخامخ کېږئ.
- الله تعالی په دې کار توانمن او برلاسی دئ، له تاسو پرته له خپل دین دفاع کولی شي، دښمن ته ماته ورکولی شي، ستاسو پر ځای بل مجاهد او قربانیو ته چمتو ډله رامنځته کولی او هغوی ته پر دښمن بریا ورکولی شي.

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷